ولقد یسرنا القرآن للذکر

تفسیر

جواهر القرآن

پښتو

مع ترمیم و اضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

وحیدی کتبخانه

پشاور

القرآن الحکیم

مع

تفسیر جواهر القرآن پښتو

افادات شیخ التفسیر حضرت مولانا حسین علی صاحب رحمة الله علیه

ترجمه شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب دیوبندی رحمة الله علیه

مع

ترمیم و اضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

فوائد موضح قرآن:- از مولانا شاه عبدالقادر صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه

فوائد فتح الرحمن:- از مولانا شاه ولی الله صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه

پښتو مترجم:- حضرت مولانا عبدالمالک صاحب عفی عنه

لا یحب الله ۶	واذا سمعوا ۷	ولو اننا ۸	قال الملا ۹	واعلموا ۱۰

وحیدی کتب خانه

قصه خوانی بازار پشاور فون ۲۵۶۴۹۹۱

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا

الله ته خوښ نه دے چا بده خبره ظاهرول لیکن چه په

مَنْ ظُلِمَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۸﴾ اِنْ تُبْدُوْا

چا ظلم شوے وی الله او الله اوریدونکے خبردار دے ۱ کچرے تاسو په

خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ

ښکاره کومه نیکی کوئی یا هغه پټه کوئی ۹۷ یا معاف کړئی بدی نو الله هم

كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ﴿۱۴۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ

معاف کولو والا پیر قدرت لرونکے دے ۳ کوم خلق چه منکر دی د

بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ

الله او د هغه د رسولانو نه ۹۸ او غواړی چه فرق اوکړی د

اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّ

الله او د هغه رسولانو کښے ۱ او وائی مونږ ته مونږ منو بعضے او

نَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ

نه منو بعضے او غواړی چه را اوباسی دد ے په مینځ کښے

ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿۱۵۰﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ

یوه لار داسے خلق هغوئی اصلی کافران دی

وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۱۵۱﴾ وَ

او مونږ تیار کړیدے کافرانو د پاره د ذلت عذاب ۳ او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا

کوم خلقو چه ایمان راوړو په الله باندے او د هغه په رسولانو باندے او جدائی

بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ

ئے اونکړه د دوئی نه د هیچا ۹۹ هغوئی ته به زر ورکړی د هغوئی

أُجُوْرَهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٥٢﴾ ع يَسْـَٔلُكَ

ثواب　او الله　بخونکے　مهربان　دے　تاند درخواست

أَهْلُ الْكِتٰبِ أَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ

کوی اهل کتاب چه نه هغوئ ته راوړے لیکلے شوے کتاب له

السَّمَآءِ

آسمان نه

نکات:- ؎ دا متعلق دے لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ سره ؎ یعنی دشرک خبره ؎ یعنی اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ ؎ خطاب لپاره دَ مخلص مؤمنانو ؎ زجر اهل کتاب دپاره ؎ سره د تخویف اخروی نه ؎ زیرے مؤمنانو دپاره ۱۲ ؎ زجر یهودیانو دپاره د هغوئ دعناد د وجه نه سوال کولو باندے د سوال جواب په را تلونکے رکوع کښے اِنَّا اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ سره ورکړے شوے دے ۱۲

موضح القرآن ف۱ یعنی په چا کښے چه څه عیب دینی یا دنیاوی معلوم کړئ نو هغه مه شرموئ ځکه چه الله تعالیٰ اوریدونکے خبردار دے هغه به هر چاته جزا ورکوی دے ته غیبت وئیلے شی دے کښے مظلوم دپاره روا ده چه د ظالم ظلم بیان کړی دا شان نور هم ډیر ځایونه دی چه په هغے کښے غیبت روا دے دا حکم ئے دلته شاید د دے وجه نه اوفرمائیلو چه د منافق نوم مشهور نه کړئ لکه چه نبی علیه السلام مشهور نه کړل دے کښے د هغهٔ زړهٔ زیات خرابیږی پرلټ پسے نصیحت کوه منافق به په خپله پوه شی کیدے شی دے سره هدایت بیا مومی ۱۲ ف۲ یعنی که غواړئ چه منافق صادق جوړ کړئ نو د ظاهر طعن نه په پته پوهول بهتر دی او نفوره بنه ده الله تعالیٰ سره د علم نه بنده ګانو ته درګذر کوی ۱۲ ف۳ دلته ذکر دے د یهودیانو قرآن کریم کښے اکثر د دوئ او د منافقانو ذکر یو ځائے کړیدے او الله تعالیٰ منل دا دی چه د وخت د پیغمبر حکم او منئ د دینه بغیر د الله تعالیٰ منل غلط دی ۱۲

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په خدائے تعالیٰ ایمان راوړئ او په پیغمبرانو باندے ایمان نهٔ راوړئ ف۲ مترجم وائی دے ځائے نه خدائے تعالیٰ د یهودو شبه رد کوی چه قرآن ولے په یو ځل د موسیٰ علیه السلام د الواح (تختو) پشان نازل نهٔ شو او دا خبره اوږده شوے ده تر یَا اَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ. والله اعلم

تفسیر ؎ ۹۶ دا آیت يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ سره متعلق دے السوء من القول نه د کفر کلمه مراد ده او اِلَّا مَنْ ظُلِمَ کښے د ظلم نه اکراه او زور مراد دے مطلب دا دے چه اول ئے منافقان د کافرانو

د دوستو لره هم نه ول چه د دوی به مقصود دا وو چه مخالص ایمان راوړی دلته ئے
او فرمائیل هغوی ا چه کافران په تا سره ورسره نه او کړی او په تاسو باندے د
کفر کلمه او وائی نو هغه په حقیقت د خلاف چه کولو د پاره د کفر کلمه په ژبه او وا
لیکن د زړه تصدیق او خالص ایمان کښے د ذرے برابر فرق رانه ولی لکه چه ئیل
هغه کښے ئے او فرمائیل إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ (نحل ع ۱۴)
و قال المنير معناه الا من اكره على ان يجهر بالسوء كفر او نحوه فذالك مباح
والاية في اكراه (بحر ج ۳ ص ۳۸۲)

۹۷ د اخطاب مؤمنانو ته دے یعنی که چرے تاسو ښکاره په چا باندے احسان
کوئ یا په پټه یا د چا د غلطونه عفوه او کړئ نو دا ډیره ښه خبره ده لکه چه الله
سره د دے چه کامل قدرت لری لیکن بیا هم گنهگارانو ته عفوه کوی د دے وجه
نه بیشکه چه منافقان د کافرانو سره دوستی ساتی لیکن دے بنا باندے تاسو د
دوی خلاف په خپلو زړونو کښے د بغض او دشمنئ او بدلے اخستلو جذبه مه پیدا
کوئ بلکه معاف کوئ او د عفو نه کار واخلئ ممکن ده چه ستاسو دا قسم رویه
د هغوی د اخلاص باعث شی.

۹۸ دا اهل کتاب یعنی یهودو د پاره زجر دے ویُرِیْدُوْنَ کښے واؤ تفسیریه
دے یعنی هغوی غواړی چه په الله ج خو ایمان راوړی لیکن د هغه په ټولو انبیاو ع
ایمان نه راوړی وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ط بلکه هغوی وائی چه
مونږ بعض رسولانو باندے خو ایمان راوړو او بعض نه منو داخلق د ایمان او کفر
مینځ کښے لاره ویستل غواړی لیکن یاد ساتئ چه داخلق پاخه کافران دی د دوی
په کفر کښے د اوړے د دانے برابر شک شبه گنجائش نشته او هغوی د دے کافرانو په
شان پوره او کامل کافران دی کوم چه د ټولو پیغمبرانو نه منکر دی ۔ والمعنی اولئك هم
الكافرون كفرا كاملا ثابتا حقا يقينا (كبير ج ۳ ص ۳۹۶) وَأَعْتَدْنَا سره تخویف
اُخروی دے .

۹۹ دا هغه خلقو د پاره بشارت اُخروی (د آخرت زیرے) دے څوک چه په الله ج
باندے او د هغه په ټولو رسولانو باندے ایمان راوړی په آخرت کښے نجات او اجر
ثواب حاصلولو د پاره په ټولو ایمان راوړل ضروری دی لکه چه په سورت بقره (ع ۴۰)
کښے او فرمائیل كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ قف.

۱۰۰ دا هم د یهودیانو د پاره زجر دے یهودیانو به د ضد او عناد په وجه سره د نبی
علیه السلام نه تپوس کولو چه هغوی ۳ د دوی نه د الله ج له طرفه نه په یو ځل ټول کتاب راوړی
لکه چه حضرت موسیٰ علیه السلام تورات راوړے وو نو بیا به هغوی ایمان راوړی
د آیت د دے حصه کښے د دے سوال ذکر دے د دے نه روستو پوره رکوع کښے د یهودیانو
د پاره زجر دے او د دوی د نفس د باطنی شرارت او خراب والی ذکر دے چه د دوی

داسوال څهٔ نوے خبره نهٔ ده بلکه د دوئ پوره تاریخ د دے قسم شرارتونو نه ډک دے
بیا اِنَّآ اَوْحَیْنَآ اِلَیْکَ (ع ۲۳) سره د اصل سوال جواب ورکړے شوے دے.

فَقَدْ سَاَلُوْا مُوْسٰۤی اَکْبَرَ مِنْ ذٰلِکَ فَقَالُوْٓا اَرِنَا

نو غوښتے دی دوئ له موسیٰ ؑ د دے نه هم لوئے خیز اُناو اووے وښیل چه مونږ

اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ

ته اوښایه الله ج بالکل مخامخ نو را پریوتے په هغوئ تندر په سبب د ګناه د هغوئ

اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَیِّنٰتُ

بیائے جوړ کړو سخے (معبود) د ډیرو معجزو راتللو نه روستو بیا

فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِکَ ۚ وَاٰتَیْنَا مُوْسٰی سُلْطٰنًا مُّبِیْنًا ﴿١٥٣﴾ وَ

مونږ هغوئ هم معاف کړل او ورکړه مونږ موسیٰ ؑ ته غلبه ښکاره او

رَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِیْثَاقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا

مونږ پورته کړو د دوئ باندے غر د پاسه د وجه د وعدے د دوئ او مونږ اووئیل دوئ ته

الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوْا فِی السَّبْتِ وَ

داخل شئ دروازے ته چه سجده کونکی یئ او مونږ اووئیل چه زیاتے مهٔ کوئ د هفتے په ورځ

اَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّیْثَاقًا غَلِیْظًا ﴿١٥٤﴾ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّیْثَاقَهُمْ

کښے او مونږ واخسته د هغوئ نه وعده مضبوطه دوئ ته چه کومه سزا ملاو شوه نو د دوئ

وَکُفْرِهِمْ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِیَآءَ بِغَیْرِ حَقٍّ

په وعده ماتولو باندے او منکریدلو باندے د الله ج د آیتونو نه او په وژلو د دوئ پیغمبرانو لره ناحق

وَّقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَیْهَا بِکُفْرِهِمْ

او د دوئ د وینا په وجه باندے چه څمونږ په زړونو باندے پرده ده ګټلے نو داسے نهٔ ده بلکه الله

فَلَا یُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿١٥٥﴾ وَّبِکُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ

مهر وهلے دے د دوئ په زړونو باندے د کفر په سبب نو ایمان نهٔ راوړی لیکن کم او د دوئ د کفر په سبب او د

عَلٰی مَرْیَمَ بُهْتَانًا عَظِیْمًا ﴿١٥٦﴾ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا

په مریم باندے د لوئے طوفان (بهتان) تړلو په سبب او د دوئ دے وینا په وجه چه مونږ قتل

الْمَسِیْحَ عِیْسَی ابْنَ مَرْیَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ

کړو مسیح ﷺ عیسیٰ ځوئے د مریم چه رسول وو د الله ؟ او نه خو هغوئ دے وژلے

وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰکِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَاِنَّ الَّذِیْنَ

او نه ئے په دار کړے لیکن هغه شکل جوړ شو د دوئ په مخکښے او کوم خلق چه د دیکښے

اخْتَلَفُوْا فِیْهِ لَفِیْ شَکٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ

مختلفے خبرے کوی نو هغه خلق دے ځائے کښے په شک پریوتے دی هغوئ ته د دے هیڅ

اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ یَقِیْنًا ﴿١٥٧﴾

علم نشته صرف په اټکل باندے روان دی او نه ئے دے وژلے بیشکه

نکات سلے یهودیانو به دغنا د په وجه د حضرت موسیٰ ع نه هم داسې سوالونه کول ۱۲
سلے ثُمَّ تعقیب ذکری د پاره دے ۱۲ سلے دے ځائے نه د اسبابو ذکر دے په طور د
زجر او دے اسبابو حکم په طور د سزا په حَرَّمْنَا عَلَیْهِمْ الطَّیِّبٰتِ کښے ذکر شوے دے ۱۲
حاشیه بله دا د یهودیانو د یو شرارت ذکر دے یعنی ستاسو نه خو دوئ دا
سوال کړے چه په یو ځل کتاب راوړئ خو مخکښے د موسیٰ علیه السلام نه خو دوئ تر دے دا
مطالبه کړے وه چه تر څو پورے خدائے په خپلو سترګو ونه وینو تر هغے پورے نه منو
او هغوئ د موسیٰ علیه السلام په عدم موجودګئ کښے د سامری د سخی عبادت هم کړے
وو حال دا دے چه د توحید مسئله په هغوئ باندے واضح کړے شوے وه ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ کښے ثُمَّ ترتیب د پاره
نه دے بلکه د تعقیب ذکری د پاره دے ځکه چه د سخی د عبادت واقعه د مذکوره
سوال (ارنا الله جهرة) نه مخکښے شوے وه وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ دا د هغوئ د
انتهائی سرکشئ او نافرمانئ بیان دے هغوئ ډیر زیات سرکش وو مونږ په هغوئ
کوه طور پورته کړو هغوئ نه مو د اطاعت وعده واخستله. مونږ هغوئ ته او وئیل
چه تاسو ښار ته لاړ شئ او د الله په کور کښے د هغه عبادت په ځائے راوړئ. دا
شان مونږ د خالق په ورځ د ښکار کولو نه منع کړی وو او د دے ټولو خبرو مونږ
د هغوئ نه پخه وعده اخستے وه لکن هغوئ نه صرف دا وعدے ماتے کړے
بلکه د نورو لوبو جرمونو کونکی هم اوګرځیدل چه د هغے په نتیجه کښے هغوئ
ته قسم قسم سزاګانے ورکړے شوے.

ف۱۰۲ باء سببیه او ما زائده ده دلته د یهودو د هغه شرارتونو بیان دے چه د هغوئ د سزا سبب اوګرځیدل د کوم ذکر چه مخکښے په حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طیبات کښے راغلے دے. فبما نقضهم . و بکفرهم . وقتلهم . و قولهم . و بصدهم . و اخذهم الربو و اکلهم اموال الناس . دا ټول په فَبِمَا نَقْضِهِمْ باندے معطوف دے او ټول حَرَّمْنَا سره متعلق دے یعنی د دوئ دا ټول شرارتونه دده خبرے سبب اوګرځیدل چه مونږ په طور د سزا ځنے حلال خیزونه په دوئ حرام کړل.

ف۱۰۳ غُلْفٌ د غِلَافٌ جمع ده چه دده معنیٰ ظرف ده یهودیانو به ویل چه مونږ په خپله د کتاب خاوندان یو او ځمونږ زړونه د علوم او معارف نه ډک دی او مونږ کافی نیکونکی لوستونکی یو او د اول نه په هدایت باندے یو دده وجه نه مونږ ته د قرآن ضرورت نشته ای اوعیة للعلم فنحن مستغنون بما عن غیره قاله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما وعطاء (روح ج ۶ ص ۹) بَلْ طَبَعَ اللَّهُ عَلَيْهَا . بَلْ ترقی د پاره دے یعنی الله تعالیٰ د دوئ په زړونو مهرد جباریت وهلے دے دده وجه نه اوس د هدایت او علم کومه خبره د دوئ زړونو ته نه داخلیږی.

ف۱۰۴ دا هم د یهودیانو یو دروغژنه دعوی وه چه مونږ عیسیٰ علیه السلام وژلے دے. وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ دلته یے دده غلطے دعوی تردید اوکړو د عیسیٰ علیه السلام وژل خو پریږده دوئ هغه په دار ځړولے هم نه دے بلکه الله پاک هغه د دوئ د خبیثو لاسونو نه بچ کړیدے وَلَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ط دده دوه معنیٰ دی ۱ اول دا چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام شکل په بل یو سړی باندے واچولے شو او هغه یے د هغوئ هم شکل او شبیه اوګرځولے شو چه یهودیانو هغه مسیح اوګڼړلو او پهانسی یے کړو لکه چه ابن عباس رض فرمائی چه کله یهودیان د حضرت مسیح علیه السلام پهانسی کولو د پاره لاړل چه یے اونیسی نو یو سړے طیطانوس نومے یے د هغه مکان ته داخل کړو کوم کښے چه حضرت عیسیٰ علیه السلام وو کله چه طیطانوس داخل شو (د ننه لاړو) نو مسیح علیه السلام یے هلته اونه موندلو ځکه چه الله تعالیٰ هغه آسمان ته اوچت کړو او طیطانوس یے د هغه هم شکل اوګرځولو نو هغه بهر ته راغلو یهودیانو هغه مسیح اوګڼړلو په سولیٔ زوړند کړو چونکه دا سړے ډیر شرارتی وو او حضرت مسیح علیه السلام ته دده نه سخت تکلیف رسیدلے وو دده وجه نه الله تعالیٰ دا شان هغهٔ ته د هغهٔ د شرارتونو سزا ورکړه ۲ دویم دا چه لَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ یعنی معامله د دوئ د پاره مشتبه کړے شوه) دا د هغه یهودیانو باره کښے دے کوم چه د خپلو پلارانو او نیکونو په تقلید کښے راچلیږی او وائی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ته پهانسی ورکړے شوے ده او دا شبه اچونکی د مسیح علیه السلام د زمانے علماء سوء وو چه کله حضرت عیسیٰ علیه السلام د هغوئ د لاس نه اووتلو نو هغوئ ظلماً یو تن راونیولو پهانسی یے کړو او هغه یے د چا لیدلو ته پرے نښخود او نه یے خوک هغهٔ ته نژدے راتللو ته پریخودل او بیا یے هغه ښخ کړو او خلقو کښے یے دا مشهوره کړه چه دوئ حضرت مسیح

ته پېدا شي وركړي دے سره خلقو كښې شبه پريوتله چه كيدے شي دا سے شوے وي او د
معاملے چونكه ښځېنو سترګو څوك ليدلے نه ؤ كواه نه وو د دے وجه نه دا خبره د شبه نه خالي نه
تللو سره يقين ته اونه رسيدله د اقول حضرت مولانا انورشاه صاحب دا امام ابن حزم
د كتاب الملل والنحل نه عقيدة الاسلام (ص) كښې نقل كړے دے او حضرت شيخ رحمة
الله عليه دے ته ترجيح وركړے ده -

بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾

بلكه هغه اوچت كړو الله ج خپل طرف ته ف او الله ج دے زبردست حكمت والا دے

وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ

او څوك هم نه دے چه دي د اهل كتاب نو په عيسى عليه السلام به يقين اوكړي د هغه د

مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ﴿۱۵۹﴾ ج

مرګ نه مخكښې ف او د قيامت په ورځ به وي په دوي باندے ګواه ف

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ

نو د يهوديانو د ګناهونو په وجه سره ف موږ حرام كړل دوي باندے

طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

ډير پاك څيزونه كوم چه دوي باندے حلال وو او د دے وجه نه چه بندول به ئے د الله ج د

كَثِيْرًا ۙ﴿۱۶۰﴾ وَّاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ وَ

لارے نه ف او د دے وجه نه چه سود به ئے اخستلو او دوي ته د دے ممانعت شوے وو

اَكْلِهِمْ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ؕ وَاَعْتَدْنَا

او د دے وجه نه چه د خلقو مال به ئے خوړلو ناحق او تيار كړے دے موږ

لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶۱﴾ لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ

كافرانو د پاره كوم چه د دوي كښې دي عذاب دردناك ف ليكن څوك چه مضبوط دي

فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ

په علم كښې د دوي نه ف او ايمان والا نو مني هغه كوم چه

أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيمِينَ

نازل شوے دے په تا باندے او ستا نه مخکښې او مبارک باد وے وی دوی قائمونکو

الصَّلٰوةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ

لره او هغوی چه زکوٰة ورکوی او یقین لرونکی دی په الله ﷻ باندے

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أُولٰٓئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٦٢﴾

او د قیامت په ورځ باندے نو دا ئے (خلقو) ته به موږ ورکوو لوئے ثواب

نکات: ‌‌سلے د لفظ سره د قتلو ذکرشوو اسبابو اعاده کړے شوے ده بَعْدِ عهد (ډیر وخت تیریدلو د وجه نه. سلے دا د قتلو اسبابو مذکوره ؤ حکم دے په طور د سزا سلے دا په بما نقضهم باندے معطوف دے سلے بشارت (زیرے) د پاره د مؤمنانو د اهل کتاب نه ته

موضح القرآن: ف۱ یهود وائی چه موږ عیسیٰ علیه السلام وژلے دے او مسیح او د خدائے رسول به ئے ورته نهٔ ویلو د الله ﷻ د هغوی د خطائی ذکر اوکړو او وئے فرمائیل چه هغه ئے هرګز نهٔ دے وژلے الله تعالیٰ د هغه یو شکل د دوی کښې جوړ کړو هغه صورت ئے د پهانسئ په تخته اوخیجولو بیائے اوفرمائیل چه نصاریٰ هم دا وائی چه مسیح موږ نهٔ دے وژلے هغه ژوندے دے۔ لیکن حقیقت ورته معلوم نهٔ دے ډیرے خبرے کوی څنې وائی چه بدن ئے اووژلو او روح ئے الله ته اوختلو څنې وائی وژلے هم دے بیا درے ورځې روستو ژوندے شو بدن سره اوختلو هرشان سره دا خبره ثابت نهٔ ده چه هغه ئے اووژلو نو دا خبر الله ﷻ ته دے هغه بیان اوکړو چه هغه صورت (شکل) ئے اووژلو او د هغوی دینولو په وخت نصاریٰ تللے وو او نصاریٰ نهٔ وو رارسیدلے د هغه وخت خبر نه دوی ته نه هغوی ته۔

ف۲ حضرت عیسیٰ علیه السلام اوس هم ژوندے دے کله چه په یهودیانو کښې دجّال پیدا شی هغه وخت به زمکے ته راکوز شی هغه به قتل کړی او یهودیان او نصاریٰ به ټول په هغهٔ ایمان راوړی چه دے نهٔ وو مړ شوے۔

ف۳ یعنی د بره چه کوم ټول شرارتونه د دوی ذکرشوی دی څنې څکښې شول او څنې روستو لیکن مجمل (خلاصه) دا چه په ګناه زړور وو د دے وجه نه ئے د دوی د پاره شریعت سخت اوګرځولو چه د دوی سرکشی ختمه کړی۔

فتح الرحمٰن: ف۱ مترجم وائی یعنی یهودیان چه حاضر شی د عیسیٰ علیه السلام د نزول په وخت نو ضرور به ایمان راوړی په هغهٔ باندے۔ والله اعلم ف۲ مترجم وائی ګجرے په اعتراض کښې او وائی د عیسیٰ علیه السلام نه انکار خوئے روستو د نزول

توریت نه کړے وو او د اوښ د غوښو حرام والے او د ذی ظفر (چه نوکان ئے پو یل نه جدا وی لکه اېلئ او بطه) حرام والے په تورات کښے ذکر وو نو خنګه به جزا د انکار عیسیٰ وی نو وایم چه د دے بنده په نزد ظاهر دا دے چه مراد د تحریم طیبات نه بندول د هغه نعمتونو دی کوم چه ئے د دوئی نه مخکښے ورکړے له بادشاهئ او نبوت او نصرت وغیره او دا د دے آیت سره مشابه دے ضربت علیهم الذلة والمسکنة الایة او د دے آیت سره وحرام علی قریة اهلکناها. او د دے وخت کښے به دا کلام مینځ کښے جمع او ربط پیدا کیږی. والله اعلم.

حاشیه ۱۵۵ وَمَا قَتَلُوْهُ دوباره ذکر تاکید دپاره دے یعنی هیڅ قسم ته قتل نهٔ دے واقع شوے نه په پهانسی کولو او نه په غیر د پهانسی کولو نه ځکه چه نفی د مطلق قتل ده او یقیناً د قتل د نفی تاکید دے او مطلب دا دے چه هغوئی مسیح علیه السلام هرګز نهٔ دے قتل کړے او عدم قتل ډیر زیات مضبوط او ثابت شوے حقیقت دے حضرت حسن بصری رح فرمائی: وما قتلوه حقاً. دے باندے علامه ابوحیان رح لیکی فانتصابه علی انه مؤکد لمضمون الجملة المنفیة کقولك وما قتلوه حقاً ای حق انتفاء قتله حقاً (بحر ج ۳ ص ۳۹۱) دا شان امام نسفی لیکی وما قتلوه حقاً فیجعل یقیناً تاکیداً لقوله وما قتلوه ای حق انتفاء قتله حقاً (مدارک) ج ۱ ص ۲۰۳ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَیْهِ یعنی هغوئی چه څوك قتلول غوښتل نو هغه الله تعالیٰ آسمانونو ته اوخیژولو او هغه غالب او حکمت والا دے هغه دا سے کولے شی او د هغهٔ هیڅ یو کار د حکمت نه خالی نهٔ وی د دے آیتونو د ظاهر نه معلومیږی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ژوندے سره د جسد عنصری نه آسمانونو ته خیژول شوے دے. د مسیح علیه السلام په جسمانی خیژولو کښے د نبی علیه السلام احادیث د تواتر حد ته رسیدلے دی لکه چه مولانا شاه انورشاه صاحب رح التصریح کښے دے ذکر کړیدے او بیا دے عقیده باندے د امت اجماع هم ده کما فی البحر المحیط وعقیدة الاسلام. د دے مسئلے د زیات تحقیق او تفصیل دپاره عقیدة الاسلام د مولانا سید انورشاه رح مطالعه اوکړئی.

۱۰۶ د دے آیت دوه معنی دی اول دا چه د بِهٖ ضمیر حقیة د ما قال محمد صلی الله علیه وسلم (یعنی د نبی علیه السلام د صداقت پیغام) طرف ته راجع دے او د مَوْتِهٖ ضمیر مجرور مرجع اهل کتاب دی او یَكُوْنُ عَلَیْهِمْ شَهِیْدًا کښے د یَكُوْنُ اسم محمد صلی الله علیه وسلم دے مطلب دا دے چه اهل کتاب به د خپل مرګ نه مخکښے د نبی علیه السلام په صداقت باندے ایمان راوړی لکه چه د بل یو آیت نه د دے تائید کیږی سَنُرِیْهِمْ اٰیٰتِنَا فِی الْاٰفَاقِ وَفِیْٓ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰی یَتَبَیَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ (حٰمٓ السجده ع ۶) او نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د قیامت په ورځ ګواهی کوی په اسے الله ج ما دوئی ته د حق پیغام رسولے وو لیکن دوی او نه منلو د حضرت شیخ رح په نزد هم دا معنی راجح ده.

دوهم دا چه په دواړو ځایونو کښې د داړه ضمیرونه حضرت عیسیٰ علیه السلام طرف ته راجع دی او د ټولو اسم هم حضرت عیسیٰ دے او مطلب دا دے چه هغه آسمان نه نازلیدلو نه روستو او د هغه د مرګ نه مخکښې به ټول اهل کتاب په هغه ایمان راوړی چه بیشکه هغه د الله بنده او د هغه رسول دے او ابن الله نه دے او د قیامت په ورځ به حضرت عیسیٰ علیه السلام د دوی باندے ګواهی هم کوی د کوم ذکر چه په سورة مائده آخر کښې ذکر شوے دے۔

فبما نقضهم او قولهم و کفرهم، و قتلهم سره دے د یهودیانو خباثتونه بیان کړی دی او د هغے جزاء ئے نه ده بیان کړے د دے وجه نه ئے د بعدنا عهد (د پروخت تیریدلو) په وجه فبظلم جامع تعبیر سره د دوی د خباثتونو ذکر اعاده اوکړه او بیا ئے حرمنا علیهم سره د هغوی سزا بیان کړه یعنی دا د طیبات د حرام والی حکم دے ذکر شوو اسبابو په وجه سره نافذ کړے شو او هغه شرارتونو د دوی ته دا سزا ورکړے شوه چه څه حلال او پاک څیزونه د دوی باندے حرام کړے شو۔ لیکن حضرت شیخ فرمائی چه د لته د طیبات نه هغه څیزونه مراد نه دی کوم چه د سورة انعام دے آیت کښے ذکر شوی دی وعلی الذین هادوا حرمنا کل ذی ظفر الایة (انعام ع ١٨) ځکه چه دا څیزونه خو د انجیل نه مخکښې حرام شوے وو لهٰذا د دے حرمت د حضرت عیسیٰ علیه السلام د انکار سزا څنګه کرځولے شی د دے وجه نه د لته مراد دا دے چه حکومت او باقی انعامات د دوی نه واخستل شو واعتدنا للکفرین الخ دا د هغوی د پاره تخویف اخروی دے۔

لکن دا د اهل کتاب هغه عالمانو د پاره بشارت اخروی دے چا چه په آخری پیغمبر او آخری کتاب باندے ایمان راوړے وو دا د تیرو شوو زجرونو سره متعلق دے یعنی دے یهودیانو دا قسم خباثتونه مخکښې هم کړی دی او په آینده کښې به ئے هم کوی د نبی علیه السلام په رسالت باندے به ئے ایمان نه راوړلو او قرآن کریم به ئے نه منلو لیکن د دوی کښے چه کوم راسخ او مضبوط علم والا عالمان دی هغوی ټول هرڅه منلی دی هغوی چه څنګه په حضرت موسیٰ علیه السلام باندے ایمان راوړی او په تورات باندے دا شان په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او قرآن کریم باندے هم هغوی ایمان راوړے دے۔

إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ

مونږ وحی اولیږله ستا طرف ته لکه چه وحی مونږ اولیږله نوح علیه السلام باندے او هغه نبیانو ته

مِنْ بَعْدِهٖ ۚ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَ

باندے کوم چه د هغه نه روستو وو او وحی موږ اولیږله ابراهیم باندے او اسمعیل

اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَعِيْسٰى وَاَيُّوْبَ

باندے او اسحاق باندے او یعقوب باندے او د هغه په اولاد باندے او عیسیٰ باندے

وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ۚ وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ

او ایوب باندے او یونس باندے او هارون باندے او سلیمان باندے او موږ ورکړو داؤد ته

زَبُوْرًا ۚ ﴿۱۶۳﴾ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ

زبور او وموليږل داسے رسولان چه د هغوئ احوال موږ تاته واورول

قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۭ وَكَلَّمَ اللّٰهُ

مخکښے او داسے رسولان چه د هغوئ احوال موږ نه دے اورولے تاته د دے نه مخکښے

مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ۚ ﴿۱۶۴﴾ رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ

او خبرے او کړے الله موسیٰ سره خبرے کول سره وموليږل پيغمبران زيرے ورکونکی او ويرونکی

لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ ۢ بَعْدَ الرُّسُلِ ۭ

دے دپاره چه پاتے نشی خلقو لپاره په الله د الزام موقعه د رسولانو نه روستو دا

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۶۵﴾ لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ

او الله ج غالب دے حکمت والا دے لیکن الله ج گواه دے

بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

په هغے چه دے په تا نازل کړو چه دا ئے نازل کړيدے خپل علم سره الله او فرښتے هم

يَشْهَدُوْنَ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۱۶۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

گواه دی او الله ج کافی دے حق ظاهرونکے دا کوم خلق چه

كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا

کافران شول او منع ئے کړل د الله د لارے نه هغوئ گمراه شول

ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۱۶۷﴾

په ډیر لرې لار (ګمراهۍ) کښې

نکات: سلہ دا د هغه سوال جواب دے کوم چه د تیر شوے رکوع په
اول کښې ذکر شو **سلہ** یعني د داود علیه السلام عظیم الشان کتاب زبور هم لږ لږ
نازل شو **سلہ** یعني د تورات نه علاوه باقي وحی حضرت موسیٰ علیه السلام
باندے هم جدا جدا طور باندے نازل شوه **سلہ** اګرچه قرآن کریم لږ لږ
نازل شوے دے لیکن بخپله قرآن کریم په دے ګواه دے چه دا د الله ج له طرفه
نازل شوید ے.

موضح القرآن: ف۱ یعني د عذر ځائے پاتے نشي کیږے مونږ ته ستاسو
مرضي او غیر مرضي معلومه وے نو په هغې باندے به تللي دا د الله حکمت او تدبیر
دے او زبردستۍ ظلم ته څه حاجت نشته **ف۲** یعني دحی هر پیغمبر ته راځي څه
نوے کار نه دے بیا دے کلام کښے الله ج خپل علم نازل کړو او الله ج به دا حق
ظاهر کړي لکه چه ظاهر شو څومره اندازه هدایت چه دے نبی ؑ سره او شو
بل هیڅ نبی سره او نه شو.

فتح الرحمن: ف۱ یعني دے د پاره چه او نه وائي چه څو مونږ تقصیر نه
دے هیڅ یو پیغمبر مونږ ته نه دو راغلے.

حاشیه: ف۱ دا یَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ سره یهودیانو ته د زجر او تخویفونو
نه روستو اوس دلته د هغه سوال جواب ورکړے شوید ے کوم چه د دے نه مخکښے
رکوع کښے تیر شوید ے یعني په مزه مزه وحی رالیږل یو نځے تا پورے خاص نه
ده بلکه ستاسو نه مخکښے چه څومره پیغمبران هم راغلي دي د حضرت نوح علیه
السلام نه تر عیسیٰ علیه السلام پورے ټولو ته دا شان لږه لږه وحی رالیږلے شوه
هٰذَا مُتَّصِلٌ بقوله يَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ
فاعلم تعالیٰ الیه امر محمد صلی الله علیه وسلم کامر من تقدمه من الانبیاء
(قرطبی ج ۶ ص۱۵) فالله تعالیٰ اجاب عن هذه الشبهة بان هؤلاء الانبیاء الاثنی
عشر کلهم کانوا انبیاء ورسلا مع ان واحدا منهم ما اتی بکتاب مثل التورٰة
دفعة واحدة (کبیر ج ۳ ص۵۰۰) او زَبُوْرًا کښے تنوین تعظیم د پاره دے او د زبور
ذکرے ځانله اوکړو دے طرف ته ئے اشاره اوکړه چه د زبور پشان لوئے شان
والا کتاب هم لږ لږ جدا جدا نازل شو د یوولس پیغمبرانو نومونه ئے واخستل
دینه روستوئے او فرمائیل چه د دوئ نه علاوه ډیر پیغمبران داسے هم تیر
شوي دي چه د هغوئ ذکر مونږ تا سره ته نه دے کړے هغوئ باندے هم ټول
احکام په یو ځل نه وو نازل شوے وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا. باقي پاتے ستاسو

حضرت موسیٰ علیه السلام سره دلیل نیول چه په هغه باندے په یو ځل نازل شوے وو نو دا دے جواب دا دے چه د حضرت موسیٰ علیه السلام وحی په تورات کښے منحصر (راګیره) نه وه بلکه د تورات نه علاوه هم هغه باندے وحی راغلې وه او هغه لږه لږه نازل شوے وه.

لٰکِنِ اللّٰہُ دوئم مجیب قرآن کریم نه منی او دے باندے اعتراض کوی نو دے سره د ده په صداقت (رښتینوالی) کښے هیڅ فرق نه راځی د دے خبرے ګواهی خو الله ج په خپله ورکوی چه دا هغه نازل کړیدے ځکه چه دا سے جامع او اوچت مضامینو والا کتاب او معجز کتاب د غیر الله له طرفه نشی کیدلے دا شان قرآن مجید په خپله مشهود علیه دے بیا اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَصَدُّوْا سره تخویف اُخروی دے یعنی اے یهودیانو او س هم وخت دا دے د کفر او انکار او ضد، عناد نه منع شئ او ایمان راوړئ کنی نو یاد لرئ د الله ج د قبضے نه نشئ بچ کیدے ځکه چه ټول کائنات د هغه په تصرف او اقتدار کښے دی هغه به تاسو ته د دے سخته سزا درکړی یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَکُمُ الرَّسُوْلُ سره ئے عام خطاب اوکړو حضور صلی الله علیه وسلم باندے ئے د ایمان راوړلو ترغیب ورکړو چه هغوئ په باندے ایمان راوړئ او د توحید مسئله اومنئ او الله ج نه سوا حضرت عزیر او حضرت عیسیٰ علیهما السلام ته آواز او رابلل پریږدئ ځکه چه هغه اِلٰہ نه دے اِلٰہ خو صرف الله تعالیٰ دے.

اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَظَلَمُوْا لَمْ یَکُنِ اللّٰهُ لِیَغْفِرَ

کوم خلق چه کافران شول حق ئے د خپو لاندے کړے دے هرګز الله ج بخښونکے

لَهُمْ وَلَا لِیَهْدِیَهُمْ طَرِیْقًا ﴿۱۶۸﴾ اِلَّا طَرِیْقَ جَهَنَّمَ

نه دے د هغوئ او نه به او ښائی هغوئ ته سمه لار لیکن لار د دوزخ

خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ؕ وَکَانَ ذٰلِکَ عَلَی اللّٰهِ یَسِیْرًا ﴿۱۶۹﴾

او سیږی به هغے کښے همیشه، او دا په الله ج آسان ده.

یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَکُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّکُمْ

اے خلقو! تاسو ته پیغمبر راغلے صحیح خبره ئے راوړه ستاسو د رب له طرفه

فَاٰمِنُوْا خَیْرًا لَّکُمْ ؕ وَاِنْ تَکْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ

نو وئے منئ کوم چه ستاسو فائده او شی او که چرته تاسو ئے منئ نو د الله دی ټول هغه څه چه په آسمانو نو کښے دی

بِالله

وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۷۰﴾ يٰۤاَهْلَ

او زمکه کښې دی ، او دے الله هرڅه پاندے خبردار حکمت والا دے . اے

الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ

کتاب والا مه کوئ مبالغه د خپل دین په خبره کښې ۱۰ او مه وائی د الله په شان کښې

اِلَّا الْحَقَّ ؕ اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

لیکن ریښتیا خبره ، بیشکه مسیح چه دے عیسیٰ ځوئے د مریم

رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ اَلْقٰهَاۤ اِلٰى مَرْيَمَ

هغه د الله رسول دے ۱۱ او د هغه کلام دے چه غورځولے دے د مریم طرف ته

وَرُوْحٌ مِّنْهُ ؗ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ قف

او روح له جانبه د الله نه نو اومنئ الله او د هغه رسولان

نکات : ۱ تخویف اخروی د اهل کتاب کافرانو دپاره ۲ د توحید ترغیب ۳ زجر یهودیانو دپاره یعنی نه خو دے پیغمبر نه سوال اوکړئ د عناد په طور او نه عیسیٰ علیه السلام ته بد اووائی دواړه د الله رسولان دی .

فتح الرحمن : ۱۰ مترجم وائی دے ځائے نه د نصاریٰ شبهات رد شروع کوی ـ والله اعلم .

حاشیه : ۱۱ حضرت شاه ولی الله رحمة الله علیه فرمائی چه دا خطاب نصاریٰ ته دے ځکه چه حضرت مسیح علیه السلام الله هغوئ جوړ کړے وو لیکن امام نسفی فرمائی چه دا خطاب یهود او نصاریٰ دواړو ته دے او هم دا راجح دے ځکه چه تیر شوی نول زجرونه یهودو سره متعلق دی یعنی اے یهودیانو د عیسیٰ علیه السلام په حق کښې بده او خرابه خبره مه کوئ او هغه معبود نه دے او آخری پیغمبر باندے هم اعتراض مه کوئ دواړه اومنئ . د دریے خدایان مه وائی ـ وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ د غلو معنیٰ د حد نه تجاوز کول دی او دا دواړه ډلے د حضرت عیسیٰ علیه السلام باره کښې د حد نه تیر شوے وے یهودیانو به د هغه په شان کښې ګستاخی کوله او ویئل به ئے چه العیاذ بالله هغه د زناکارے ځوئے دے او نصاریٰ وُ به هغه د خپلے رتبے نه اوچتولو د خدائے ځوئے او د هغه نائب به ئے ګڼړلو نو دے آیت کښې الله تعالیٰ دواړه ډلے د دوئ باره کښې د غلو او تجاوز عن الحد نه منع کړل ویئ فرمائیل : لا تجاوزوا الحد فغلت الیهود فی حط المسیح عن

[illegible] فی رفعه عن مقدارہ حیث جعلوه
[illegible] ورګ [illegible]

مريم [illegible] مطابقه شوے دو چه معجزانه طور باندے محض
[illegible] حضرت مسیح د مریم [illegible] خپیتے نه پیدا شو او هغه د
[illegible] پیدا [illegible] نه د حضرت مریم د
الله [illegible] نه هغهٔ ته د زانیه شوے مهٔ وائی بلکه
[illegible] پیغمبر [illegible] وجه نه هغهٔ [illegible]
[illegible] السلام پشان په هغهٔ هم ایمان راوړئ او عیسایانو ته ئے
[illegible] ثلثة یعنی درے خدایان مهٔ وائے الٰه خو یو دے هغه
[illegible] شریک [illegible] د دے وجه نه حضرت عیسیٰ علیه السلام ته اِله
[illegible] الله تعالیٰ پیغمبر ئے او منئ۔

وَلَا تَقُولُوا ثَلٰثَةٌ ؕ اِنْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ؕ اِنَّمَا اللّٰهُ
او مه وائی چه خدایان درے دی د اخبرو نه ودریږی دا بهتره به وی ستاسو دپاره بیشکه

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ سُبْحٰنَهٗۤ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ۘ لَهٗ مَا
الله معبود دے یواځے هغه سرة دے نه دے چه د هغه اولاد وی هغهٔ لپاره دی

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿١٧١﴾
هر څه چه په آسمانونو کښے دی او څه چه په زمکه کښے دی او کافی دے الله ج کارساز

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا
مسیح د دے نه هیڅ شرم نه کوی چه هغه بنده وی د الله ج ﷻ او نه

الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ
فرښتے چه الله ته نزدے دی او چا ته چه ننګ (شرم) راشی د الله ج د

عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿١٧٢﴾
بندګئ نه او تکبر اوکړی نو هغه به د ا تول راجمع کړی ځان ته

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ
بیا چه کوم خلقو ایمان راوړے او عملونه ئے نیک کړے دی نو هغوئ ته به پوره ورکړی

أُجُورَهُمْ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِۦ ۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ

د هغوی ثواب او زیات به ورکړی د خپل فضل نه — او چا چه

ٱسْتَنكَفُوا۟ وَٱسْتَكْبَرُوا۟ فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ۙ

شرم اوکړو او تکبر یې اوکړو نو هغوی ته به عذاب ورکړی عذاب دردناک

وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَ

او بیا به نه مومی خپل ځان د پاره — د — الله ج نه سِوا څوک حمایتی او

لَا نَصِيرًا ﴿١٧٣﴾

امداد — کونکے

نکات: سك خطاب نصاری وُته ضمنا یعنی عیسٰی علیه السلام ته به هم مهٔ وائی او هغه معبود هم مهٔ جوړوئ ١٢ سك یعنی د عیسٰی علیه السلام معبود نه منلو کښې د هغهٔ توهین (سپکاوے) نشته سك تخویف اُخروی سك بشارت اُخروی سك تخویف اُخروی

موضح القرآن: فل دا خطاب نصاری وُته دے چه خدایان یې درې منل پلار، ځوے، روح القدس۔ ورته یې فرمائیل چه د دین په خبره کښې مبالغه عیب دے چه دیو سړی سره عقیدات (محبت) لری نو د هغهٔ په تعریف کښې د حد نه تجاوز مهٔ کوئ څومره خبره چه ثابت وی هغومره کوئ او ورته یې فرمائیل چه الله ج د پاره ځوے کیدل په حقیقت کښې لائق نه دی ځوے به کار کوی نو د هغهٔ خو کار کونکے ته حاجت نشته یوازې هغه د خلقو کار جوړونکے دے۔

حاشیه: سلله دا د وَلَا تَقُولُوا ثَلٰثَةٌ سره متعلق دے د استنکاف معنیٰ ده پوزه (د سترګو) بڼړو طرف ته خیژول (پوزه تریوول) یعنی دے کښې د حضرت عیسٰی علیه السلام توهین یا سپکاوے نشته ځکه چه هغه خو پخپله د الله ج د عبادت نه نفرت نهٔ کوی او د هغه د بندګئ نه مخ تندے نهٔ تریوه وی بیا تاسو هغه معبود جوړوئ هم دا حال د فرښتو دے وَمَن يَسْتَنكِفْ زجر دے فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ بشارت اُخروی دے او وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسْتَنكَفُوا۟ الخ تخویف اُخروی دے۔

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُم بُرْهَـٰنٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَ

اے خلقو! تاسو ته را اورسیدلهٔ تاسو د رب له طرفه سند (دلیل) سلله — او

أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا ﴿١٧٤﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا

مونږ نازل کړه په تاسو باندې رڼا ښکاره او هغو لو کوم خلقو چه ایمان راوړه

بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَ

په الله باندې او هغه یې مضبوط اونیولو نو هغوی به داخل کړي خپل رحمت کښې او

فَضْلٍ وَّيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿١٧٥﴾

فضل کښې او به یې روی هغوی خپل طرف ته لاره سمه ښائي

يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ إِنِ امْرُؤٌا

حکم غواړي ستا نه ووایه الله حکم بیانوي تاسو ته د کلاله کله چه یو

هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَهٗٓ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ

سړے مړشي او د هغه څوک نه وي او د هغه یوه خور وي نو هغې ته رسیږي نیم د هغه کوم

وَهُوَ يَرِثُهَآ إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ فَإِنْ كَانَتَا

چه مړي پرېښو دي او هغه ورور وارث دے د دے خور کچرے د هغې څوک نه وي نو بیا کچرے

اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ وَإِنْ كَانُوٓا

خویندے دوه وي نو هغوي ته رسیږي دوه حصے (د دریو نه) د هغې مال کوم چه مړي پرېښودلے

إِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ

دے او کچرے ورېر وارثان وي د دې رشته څخه سړي څخه ښځے نو سړي ته به حصه برابر

الْأُنْثَيَيْنِ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوا وَاللّٰهُ

د دوه ښځو وي بیانوي الله تعالی ستاسو دپاره چه تاسو ګمراه نه شئ او الله

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٧٦﴾ ع

د هر څه نه خبر دے

نکات: سلـ آخري رسول او آخري کتاب باندې د ایمان راوړلو ترغیب سلـ بشارات مؤمنانو دپاره سلـ په آخر کښې د میراث حکمونو نه یو حکم باندې رانبا اچول دي سلـ د سورت

په آخر کښې هم د احکامو ذکر اوکړے شو دے د پاره چه معلومه شي چه د دے سورت کښې اصلي مقصد د احکامو بيان وو.

موضح القرآن: ف۱ د کلاله معنیٰ ده کمزورے ، دلته هغه چاته وئیلے شوے دے چه د چا په وارثانو کښې پلار او ځوئے نه وی چه اصلي وارثان هم دا دی نو هغه وخت چه د سکه خور ، رور حکم د لور او ځوئے دے که سکه نه وی هم دا حکم د ناسکه دے چه ځانله يو خور وی هغې د پاره نيم مال دے او دوو د پاره دوه ثلث او چه رونړه خوينډے ګډ وي نو سړي ته به د ښځې نه دوچند حصه ملاويږی او ښځې ته به يوه او چه ځانله رونړه وی نو هغوئی د پاره ئے او فرمائيل چه هغه د خور وارثان دی يعنی په حصه کښې معين نه دی ۱۲ **فائده:-** کچرے لور وی او خور وی نو حصه لور د پاره ده او خور عصبه ده يعنی د حصه دار و نه چه کوم پاتے شی نو هغه دے واخلی.

فتح الرحمٰن:- مترجم وائی يعنی اعيانی (سکه) او کچرے نه وی نو علاتی (چه پلار ئے يو وی مياندے بيلے بيلے وی) قائم مقام د اعيانی دے

حاشيه:- ف۱۴ دلته نبی علیه السلام او قرآن کريم باندے د ايمان راوړلو ترغيب دے او بيا فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا سره ايمان راوړونکو د پاره د آخرت زيرے (بشارت اُخروی) دے. بُرْهَانٌ نه نبی علیه السلام او نور نه قرآن مجيد مراد دے ای رسوله يبهر المنكر بالاعجاز (وانزلنا اليكم نورا مبينا) قرانا يستضاء به فی ظلمات الحيرة (مدارک ج ۱ ص ۲۰) يعنی بُرْهَانٌ نه نبی علیه السلام مراد دے چه د معجزاتو په ذريعه په منکرينو باندے غالب شو او د نور مبين نه مراد قرآن کريم دے د کوم په ذريعه چه د شکوک او شبهات او حيرانتيا په تيارو کښې رڼا حاصليدلے شي دا شان د امام ثوری رح او امام حسن رح نه نقل دی (بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ يعنی محمد صلی الله علیه وسلم ..... والنور المنزل هو القرآن (قرطبی ج ۶ ص ۲۷) حضرت ابن عباس رض ، مجاهد، قتاده سدی نه هم دا نقل شوے دے (روح ج ۶ ص ۴۳)

ف۱۵ دا د سورت خاتمه ده او د رعيت د حکمونو نه حکم وراثت باندے رڼا اچول دی يعنی د کلاله په مسئله - چونکه د کَلَالَة ځنې صورتونه تير شوی آيت کښې نه وو ذکر شوی د دے وجه نه د هغې باره کښې خلقو تپوس اوکړو نو د هغې په جواب کښې تفصيلی شقونو سره دا آيت نازل شو - دا شان د آيت په ابتداء کښې د احکامو بيان وو د دے وجه نه په خاتمه (آخر) کښې ئے هم احکام بيان کړل دے طرف ته ئے اشاره اوکړه چه د دے سورت اصلي مقصد د احکامو بيان دے او د دے سورت ربط د آل عمران سره دا هم دے چه هلته په اعتبار د عدم اعتقاد د عبادت سره د شرک نفی وه دلته د احکامو اعتقاد نه لرلو اعتبار سره د شرک نفی ده - هم دا وجه ده چه

د میراث د احکامو مخالفت او قتل عمد باندې دوزخ کښې د همیشه اوسیدو وعید واورولې شو لکه چه د وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا الخ لاندې بیان شویدي د کلاله حکم مخکښې په رکوع ۲ کښې هم تیر شوې دې - دلته بیا د هغه حکم بیان شوې دې په ظاهر کښې دواړو حکمونو کښې تضاد معلومیږي لیکن په حقیقت کښې تضاد نشته ځکه چه کَلٰلَه (یعني چه دچا د فروع او اصول نه څوک موجود نه وي) کپرې مړ شو نو د هغه درې صورتونه دي.

اول دا چه د هغه د مور له طرفه نه رونړه خویندې وارثان وي. دویم دا چه د پلاره وي دریم دا چه عیني (د مور او پلار دواړو نه) وي د درې واړو احکام مختلف دي دویم صورت کښې د اول صورت حکم بیان شوې دو اوس دلته د باقي دوه صورتونو حکم بیان کړې شوې دې وجه دلته اُخْتٌ نه عیني (د مور پلار دواړو له طرفه) او خور د پلار له طرفه مراد دې والمراد بالاخت الاخت من الابوین والاب لان الاخت من الام فرضها السدس قد مر بیانه في صدر السورة الکریمة (روح ج ۶ صـ۴۴) دې آیت کښې د کلاله د میراث څلور صورتونه ذکر شوي دي - اول صورت وَّلَهٗٓ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ یعني کپرې د کلاله په وارثانو کښې صاحب فرض صرف د هغه پورتنۍ ذکر شوې خور وي نو د ترکه نیم به هغې ته په ترکه د فرض ملاویږي باقي به په عصبات تقسیمیږي کپرې عصبات نه وي نو باقي نیم به هم په طور د رد کلاله خور ته ملاویږي.

۱۶ دا دویم صورت دې کپرې رور وارث وي او د هغه خور مړه شي او د هغې څوک اولاد نه وي نو رور به د هغې د ټول مال وارث وي اي الاخ یرث الاخت جمیع مالها ان قدر الامر علی العکس من موتها او بقائه (مدارک ج ۱ صـ۲۰۶) دریم صورت فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ او کپرې د کلاله دوه خویندې وي نو هغوئ ته به په مذکوره طریقه د مړي پاتې مال دوه ثلث (⅔) ملاویږي. څلورم صورت وَاِنْ كَانُوْٓا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً او کپرې د کلاله وارثان د هغه رونړه او خویندې ګډ وي نو د پاتې مال تقسیم به فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ط طریقه باندې وي یعني ترکه به په دې طریقه تقسیمولې شي چه خور ته به د رور نیم ملاویږي.

۱۷ دلته اَنْ تَضِلُّوْا نه مخکښې كَرَاهَةَ مضاف مقدر دې او دا د يُبَيِّنُ مفعول له دې د بصرې د نحویانو او امام مُبَرِّد رائې هم دا ده فقدره البصري والمبرد وغیره کراهة ان تضلوا (بحر ج ۳ صـ۴۰۹) یعني الله تعالی دا شان ستاسو د پاره صفا واضح بیان کوي ځکه چه هغه ستاسو د سمې لارې نه بې لارې کیدل نه خوښوي. د کوفیانو، امام فراء، زجاج، او کسائي په نزد باندې دلته د اَنْ نه مخکښې لام او دې نه روستو لا مقدر دې اي لِئَلَّا تَضِلُّوْا (روح) یعني الله تعالی

احکام ځکه بیا نوی چه تاسو خطاء او بے لارے نشئ۔

۱۵۸ الله تعالیٰ ستاسو د ژوند او مرګ متعلق ټول احوال او واردات ښهٔ پیژنی او د هغهٔ علم په هرڅهٔ احاطه کونکے دے د دے وجه نه هغه ستاسو د پاره احکام بیا نوی چه په هغے کښے ستاسو مصلحت او ستاسو دینی او دنیاوی فائده دی۔

سورهٔ نساء کښے د توحید آیتونه سره د مختصر خلاصو نه

(۱) وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا (ع ۶) نفی د شرک فی الدعاء (۲) اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا (ع ۷) د شرک د ټولو اقسامو نفی (۳) اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط (ع ۱۱) د شرک د ټولو اقسامو نفی (۴) اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ط وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا (ع ۱۸) د شرک د ټولو اقسامو نفی (۵) اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اِنٰثًا ۚ وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ۙ لَّعَنَهُ اللّٰهُ م (ایضًا) نفی د شرک اعتقادی (۶) وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا - تا - وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا (ایضًا) نفی د شرک فعلی (۷) يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ط اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ اَلْقٰهَآ اِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ ز فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ قف وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ط اِنْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ط اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ط سُبْحٰنَهٗٓ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ م لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ط وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا (ع ۲۳) نفی د شرک اعتقادی او فعلی۔

(۸) لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ط وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا (ع ۲۴) نفی د شرک اعتقادی او فعلی۔

نن دخالی ورځ ادم د رمضان المبارک سنه ۱۴۲۴ھ مطابق ۱۵ جون سنه ۲۰۰۳ء د سورهٔ نساء تفسیر (پښتو ترجمه) ختم شوه او د لوئے اختر د میاشتے په دریم سنه ۱۴۲۶ھ کتابت اوشو فالحمد لله اولاً و آخراً والصلوٰة والسلام دائماً ابداً وعلی سائر عباده الصالحین لیلاً و نهاراً۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سُورَةُ مَائِدَه

نوم :- د دې سورت نوم مائده دې چه د دې سورت رکوع ۱۵ آیت ۱۱۲ او ۱۱۴ نه اخیستې شوې دې یعنې هَلۡ یَسۡتَطِیۡعُ رَبُّكَ اَنۡ یُّنَزِّلَ عَلَیۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ او اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اَنۡزِلۡ عَلَیۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ.

ربط :- مخکښې سره د سورة مائده ربط درې طریقو سره دې:

اول :- اسمي نکته چه په سورة فاتحه وغیره کښې تیر شوې دې.

دوئم :- سورة بقره کښې هغه ټول مضامین ذکر شوې دي کوم چه قرآن کریم کښې تفصیل سره ذکر کړې شوې دي توحید، رسالت، جهاد فی سبیل الله، امور انتظامیه وغیره سورة بقره کښې نفی د شرك اعتقادي یا نفی د شرك فعلي او نفي د شفاعت قهري نقلي او عقلي دلیلونو سره اوشوه بیا سورة آل عمران کښې صرف شرك اعتقادي او شرك فی الدعاء نفی اوکړې شوه او توحید او رسالت باندې د علماء اهل کتاب د شبهات رد اوکړې شو دې نه روستو په سورة نساء کښې امور انتظامیه د رعیت متعلق او د حکام متعلق (احکام رعیت او احکام سلطانیه) تفصیل سره بیان کړې شول او ضمنًا کښې نفی د شرك اعتقادي هم څه قدر ذکر اوکړې شو او س سورة مائده کښې او د دې نه روستو سورة انعام کښې ئې نفی د شرك فعلي تفصیل سره بیان کړې ده او د دې په ضمن ضمنًا کښې د شرك فی التصرف نفی هم ذکر شوې ده.

دریم : د سورة نساء په آخر کښې ئې اوفرمائیل وَیُبَیِّنُ اللّٰهُ لَکُمۡ اَنۡ تَضِلُّوۡا یعني الله تعالٰی خپل احکام واضح او ښکاره د دې دپاره بیانوي چه تاسو بې لارې نشئ د دې وجه نه ئې د شرك او کفر د ګمراهئ نه د بچ کولو دپاره سورة مائده کښې د شرك فعلي او شرك اعتقادي تفصیل سره رد اوکړو.

خلاصه : د سورة مائده دوه حصې دي اول حصه د سورت د ابتدا نه واخله تر رکوع ۶ وَاللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ پورې ده د دې حصې کښې د شرك پورتني ذکر شوي دوازده قسمونه رد کړې شوي دي. د شروع نه واخله د رکوع ۳ کښې وَسَوۡفَ یُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ بِمَا کَانُوۡا یَصۡنَعُوۡنَ پورې د شرك فعلي د نفی بیان دې او د دې پورې متصل (پیوست) روستو یٰۤاَهۡلَ الۡکِتٰبِ قَدۡ جَآءَکُمۡ رَسُوۡلُنَا یُبَیِّنُ لَکُمۡ الخ نه واخله د اول حصې تر آخر پورې د ې

کښې د شرک اعتقادي د نفې ذکر دے ۔ د شرک فعلي د رد په دوران کښې يَٰٓأَيُّهَا
الَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَوٰةِ سره ئے د يو امر مصلح يعنې ما تحته ذکر
کړے دے د اول حصے نه روستو يَٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ الخ نه واخله د رکوع
۹ آخر وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ پورے دے کښې حضور صلی الله علیه
وسلم د مشرکانو او منافقانو، یهودیانو معاندانه رویه بیان دے د غم کولو نه منع
کړے شوے دے او هغوئ ته ئے تسلي ورکړے ده او دے نه روستو ئے د یهودیانو
او نصارٰی و ملایانو او پیرانو ته زجرونه (تنبیهات) ورکړی دی چه د الله ج
په کتاب کښې به ئے بدلول کول، او بخیله به ئے هم دواړه قسمه شرک کولو
هغوئ به غیر الله ته آوازونه کولو او د غیر الله نذر نیازونه (منښتې) به ئے حلال کڼلے
او خوړلے به ئے هم او خلقو ته به ئے هم شرک ښودلو او هغوئ به ئے بے لارے کول
دے نه روستو يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ الْيَهُودَ وَالنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ
سره ئے مسلمانانو ته حکم ورکړو چه کله هغوئ ته معلومه شوے ده چه یهود
او نصارٰی د خپلو خواهشاتو د وجه نه توحید نه مني او د شرک خوړلو نه منع
کیږی نو هغوئ سره تعلقات کټ کول پکار دے ځکه چه هغوئ سره تعلقات
نه کټ کوی او د هغوئ سره هم هغه شان دوستي کوی دوئ به هغوئ نه شمارے
شي ۔ دے نه روستو يَٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ الخ (رکوع ۱۰) نه د
سورت دوئمه حصه شروع کیږی چه د سورت تر آخره پورے چلیدلے ده
دے حصه کښې هم د دے دواړو مضمونونو اعاده په طور د لف ونشر غیر مرتب
سره شوے ده ۔ د دوئمې حصې د شروع نه واخله د رکوع ۱۱ تر ختمیدلو پورے
یعنې أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ الْجَحِيمِ پورے د شرک اعتقادي نفې ذکر شوے ده او د
رکوع ۱۲ د شروع یعنې يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُحَرِّمُوا۟ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ الخ
نه واخله د سورت تر آخره پورے د شرک فعلي نفې مذکوره ده د دے حصه کښې
الله تعالٰی تفصیل سره بیان اوکړو چه د الله تعالٰی تحریمات باقی اوساتئ او د
غیر الله تحریمات ختم کړئ د اشان د الله تعالٰی نذر او نیاز حلال اوګڼړئ او خورئ
لیکن د غیر الله منښتې حرام اوګڼړئ او هغه مه خورئ او په آخر کښې لِلَّهِ مُلْكُ
السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ الخ سره ئے د ټول سورت خلاصه مختصرًا بیان کړے ده
یعنې د زمکے او آسمان حکومت د الله تعالٰی په قبضه کښې دے نه چه د حضرت عیسی
علیه السلام په قبضه کښې دے لکه چه د نصارٰی خیال دے چه حضرت مسیح
علیه السلام هم متصرّف او مختار دے. دے سره بالذات د شرک فی التصرّف نفې
ده او بالتبع د شرک فعلي۔ چه کله د زمکے او آسمان حکومت د الله ج په قبضه
کښې دے نو د هغه نه سوا څوک متصرّف او مختار او څوک د عبادت او آواز مستحق
هم نشته ۔

سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّسِتَّةَ عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة مائده په مدینه کښے نازل شوه او دے کښے یو سل شل آیتونه دی او شپاړس رکوع

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر مهربان او ډیر رحم کونکے دے

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ؕ اُحِلَّتْ لَكُمْ

اے ایمان والاؤ! پوره کړئ وعدے خپلے حلال شو ستاسو دپاره

بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّى الصَّيْدِ

څاروی سوا د هغے چه کوم به تاسو ته اورولے شی ښکار حلال

وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ ① يٰۤاَيُّهَا

مه ګڼړئ ښکار د احرام په حالت کښے شه الله حکم کوی څه چه اوغواړی اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ

مؤمنانو! بے عزتی مه کوئ د الله د نښانو او نه د ادب والاؤ

الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْىَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ اٰمِّيْنَ

میاشتو او نه د ساه والا کوم چه د کعبے نذرانه وی او نه هغه د کوم په غاړه

الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ

کښے چه پټه وا چول شی کعبے ته بوتلے شی او نه د هغه عزت والا کور ته څوک چه لټوی

رِضْوَانًا ؕ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ

فضل د خپل رب او د هغه رضا کول هم او کله چه د احرام نه وځئ ښکار کوئ او باعث دے

شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

نه وی تاسو باندے ښه د هغه قوم دشمنی څوک چه تاسو منع کوی د عزت والا جومات نه دے

اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۪ وَلَا

دے باندے چه زیاتے اوکړئ او خپل مینځ کښے امداد کوئ نیک کار باندے او پرهیزګارئ

تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ص

بانده او امداد مه کوئ گناه او ظلم بانده

نکات: سله دسورت په اوله حصه کښے مضمون (نفی د شرک فعلی) سله مراد د احکام الهی التزام دے لکه چه شاه ولی الله رحمة الله علیه لیکلی دی سله داول دعوی بیان تحریمات مشرکین (مثلاً د بحیره، سائبه لرے کولو حکم) سله اضافت بیانی دے سله ددویمے دعوی بیان (د تحریمات الٰهیه باقی ساتلو حکم) غیر محلی الصید دکان محذوف خبر گرځول د حال گرځولو نه بهتر دے دپاره چه دا دعوی مستقل شی او د ماقبل تابع پاتے نشی سله دا د مذکوره دوارو دعوو علت دے او تفصیلی علت رکوع ۱۳ کښے لیعلم الله من یخافه بالغیب سره بیان کړے شوے دے سله دریمه دعوی د الله د منښتو بیان سله د الله د منښتو سپکاوے مه کوئ د شعائر الله څه خیال نه ساتل، تعظیم کونکو لره بدگنړل، څوک چه هدایا بیائے هغوی ته بدوئیل، وژل، د هغوی قدر نه کول ټول سپکاوے او بے حرمتی ده سله اے ذات القلائد والا سله هغه نوی مسلمانان څوک چه د صلح حدیبیه په وخت کافران وو یعنی چه کله مشرکان او یهودیان وغیره هغوی ته تکلیف رسوی (ظلم کوی) ستاسو چپ پاتے کیدل به په سپکاوی او بے حرمتی (هتک حرمت) کښے داخل وی دینه مشرکان مراد نه دی. لهٰذا دا آیت منسوخ نه دے سله جمله معترضه سله مراد نوی مسلمانان دی څوک چه د مشرکانو سره د حدیبیه په ورځ یو ځائے شول او حضور صلی الله علیه وسلم ئے بند کړے وو سله ای لان صدوکم دا د بغض سبب دے سله یعنی د یهودیانو د تکلیف ورکولو په وخت هغوی لره ستاسو چپ پاتے کیدل به ظلم وی.

موضح القرآن: ف یعنی کله چه سړے مسلمان شو نو هغه د الله ج د ټولو حکمونو قبلولو اقرار اوکړو اوس وړاندے ئے حکم ورکړو چه دا قبول کړئ ف مواشی هغه ځاروی دی کوم چه خلق ساتی خوراک دپاره لکه غوایان، چیلئ، گډے، ځنگلی هوسئ او غویان وغیره دے کښے داخل دی چه جنس ئے یو دے دائے د احرام په وخت او د اشان د حرم په مکان کښے حرام اوگرځول دے سره ئے نور هم د حرم اداب اوفرمائیل.

فتح الرحمٰن: ف یعنی هغه وعده چه د الله ج سره موکړے ده په التزام د احکامو د الله تعالیٰ ف مترجم وائی یعنی اوښ او غویا، اوگډ او دے درے قسمونو ته انعام وائی حلال دی لیکن مرداره او موقوذه (په کتبه ټکول شوے) او دکوم چه روستو بیان راځی والله اعلم ف مترجم وائی یعنی مسلمانانو حاجیانو او عمره کوونکو ته تعرض نه دے پکار او ددوئی پریوتے خیز او ورک شوے خیز اخستل نه دی پکار والله اعلم ف مترجم وائی یعنی د فتح مکه نه مخکښے او مخکښے د هغے نه چه مسلمانان

شي . والله اعلم .

اوله حصّه

۱- د شرك فعلي نفي - ۲ - د شرك اعتقادي (شرك في التصرف) نفي

حاشيه: (نوټ) حاشيه علا مخكښے ليكل شوے ده .

۵۲ د سورت د ابتداء نه د سورت د اول حصے شروع كيږي دا حصه ركوع ۲ كښے وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ پورے ختميږي دے حصه كښے د شرك د دوو قسمونو يعني شرك فعلي او شرك اعتقادي رد دے د شروع نه واخله ركوع ۳ كښے وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ پورے دے كښے د شرك فعلي د مضمون نفي ذكر شوے ده او دے نه روستو متصل يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا نه واخله د اولے حصے آخر پورے د شرك في التصرف د نفي بيان دے .

۵۳ العقود جمع د عقد ده چه د دے معنٰى په اصل لغت كښے مضبوط شوے تړل دي ليكن په طور د استعاره دا لفظ پوخ او مضبوط وعدے كولو ته وئيلے شي او اخستلو، خرڅولو معاملات د پاره عام استعماليږي دے آيت كښے د عقود نه څه مراد دے د دے باره كښے د مفسرينو رائے مختلف دي څينو د اسلام نه مخكښے وعدے او قسمونه مراد كړي دي او څنے وائي د دينه بيع او شراء (خرڅول اخستل) نكاح وغيره عقود مراد دي څو دے سره خپل مينځ كښے كړے شوے وعدے هم شامل كړيدي . يا څو مفسرينو دا آيت د اهل كتاب مؤمنانو پورے خاص كړے دے او د عقود نه ئے هغه ميثاق مراد كړے دے كوم چه په تورات او انجيل كښے د نبي عليه السلام د تصديق او د هغوئ د تائيد باره كښے د دوئ نه اخستے شوے وو دا ټول اقوال تفسير ابن جرير ص ۲۸/۶ ، قرطبي ص ۳۲/۶ او روح المعاني ص ۴۸/۶ وغيره كښے كتلے شي ليكن دے ټولو صورتونو كښے د دے جملے ما بعد سره كوم واضح تعلق او ربط په ذهن كښے نه راځي او دا جمله د ما بعد نه بے جوړ او بے تعلق شان معلوميږي ليكن د محققين علماء په نزد الذين امنوا عام دے او دے نه ټول مؤمنان مراد دي خواه هغوئ د اهل كتاب نه ايمان راوړے وي يا د عرب مشركانو نه . قال ابن جريج هو خاص باهل الكتٰب وفيهم نزلت وقيل هي عامة وهو الصحيح (قرطبي) دا شان محققين مفسرين چه د هغوئ نه عبد الله ابن عباس رض هم دے د هغوئ رائے دا ده چه د عقود نه مراد د اسلام هغه ټول احكام او معاملات او عقود مراد دي چه د هغے د پابندئ او د پوره كولو هر سړے د قبول اسلام يا د بلوغ حد ته د رسيدلو په وخت د الله تعالى سره عهد كوي او ټول فرائض او واجبات ، حلال ، حرام ، ټول حدود مراد دي . علامه خازن د ينقضون

عهد الله من بعد میثاقه (بقره ع ۳) په تفسیر کښې فرمائی: ای عهد الله بوصیة الله تعالٰی واحکم بما انزل الله فی کتابه من ایاته الدالة علٰی توحیده (خازن ج ۱ ص ۳۰)
حضرت شیخ رحمة الله علیه به دېته ترجیح ورکوله، ځکه چه د قرآن مجید د نورو ایتونو نه د دے مفهوم تائید کیږی مثلاً د دے سورت کښې رکوع ۲ کښې ارشاد دے وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمِيْثَاقَهُ الَّذِيْ وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ اِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا - دے آیت کریمه کښې الله تعالٰی صفا طور باندے مسلمانانو ته هغه وعده وریاد کړه چه هغوئ سَمِعْنَا (مونږ واوریدل) او اَطَعْنَا (مونږ قبول کړل) وئیلو سره کړے وه د شان د مفهوم د لویو لویو اصحابو او تابعینو نه منقول دی
حضرت ابن عباس رض او مجاهد رح فرمائی: اوفوا بالعقود معناه بما احل وبما حرم وبما فرض وبما حد فی جمیع الاشیاء (قرطبی) اوفوا بالعقود یعنی یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ التزمتم بایمانکم انواع العقود والعهود فی اظهار طاعة الله اوفو بتلک العقود (کبیر ج ۳ ص ۵۵۱ نیشاپوری ج ۶ ص ۳۲) المراد بها ما یعم جمیع ما الزمه الله تعالٰی عباده وعقد علیهم من التکالیف والاحکام الدینیة وما یعقدونه فیما بینهم من عقود الامانات والمعاملات ونحوهما الخ (روح ج ۶ ص ۴۲) شاه ولی الله رحمة الله علیه د دے آیت ترجمه د ا شان کوی (مؤمنانو وفا اوکړئ په وعدو یعنی هغه وعدے چه د خدائے سره مو کړیدی د هغه احکامو په التزام باندے) د دے مفهوم په بناء د ده تعلق او ربط د مابعد سره بالکل واضح دے او د دے آیت د حصه د پوره سورت د پاره په منزله د تمهید ده. د دے کښې ئے اوفرمائیل اے ایمان والاؤ تاسو چه د کوم فرائضو، واجباتو، او حلال، حرام وغیره احکامو په ځانځ راوړلو او د هغے د التزام وعده د الله ج سره کړیده هغه پوره کړئ او بیا د دے نه روستو ئے اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ سره د حلال او حرام احکامو بیانول شروع کړل د دے نه مقصود د شرک فعلی نفی ده.

۴ د وعدو پوره کولو او د احکامو د التزام د عام حکم ورکولو نه روستو ئے د ځناورو د حلت او حرمت ذکر اوکړو چه د دے نه اصلی مقصد د شرک فعلی رد دے یهودیانو او نصارٰی او مشرکین عرب څخه حلال څیزونه د خپلو معبودانو د تعظیم او خوشحالولو د پاره محض خپل ګمان او اټکل سره حرام کړی وو مشرکانو د دے قسم کوم ځناروی چه حرام کړی وو هغه دوئ کښې بحیره، سائبه او وصیله او حام نومونو سره مشهور او پیژندلے شو چه د هغے تفصیلی ذکر په سورت مائده رکوع ۱۴ کښې راځی هغوئ سره د دے په حرمت باندے هیڅ دلیل نه وو د دے حلال څیزونو تحریم الله تعالٰی په خپل ذات باندے افتراء کړځولے ده وَحَرَّمُوْا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَآءً عَلَى اللّٰهِ (انعام ع ۱۶) یهودیانو د اوبن غوښه په خپل ځان حرام کړے وه او هم د اقسم ډیر تحریمات نصارٰی و د ځان نه کړی وو د دے تحریماتو

حکم دا دے چه هغه باطل دی هغه ختمول پکار دی او دد ے نه کوم حلال څیز حرام نهٔ دے مذکوره څیزونه څنګه چه د مشرکانو دحراموالو نه مخکښے حلال وو د شان اوس هم حلال دی چنانچه لکه چه په اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ کښے ذدے تحریمات مشرکین یاد تحریمات لغیرالله حکم بیان کړو چه دا خاروی ستاسو دپاره حلال دی دا خوړئ او دا حرام مه ګڼړئ کانت للعرب سنن فی الانعام من البحیرة والسائبة والوسیلة والحام یاتی بیانها فنزلت هٰذه الاٰیة رافعة لتلك الاوهام الخالیة والاٰراء الفاسدة الباطلة (قرطبی ج ۶ ص۳۴) ومقتضٰی هٰذین التاویلین انه تعالیٰ اراد تحلیل ما حرم اهل الجاهلیة علیٰ انفسهم من الانعام کالبحیرة والسائبة (مظهری ج ۳ ص۴) شرك فعلی سره شرك اعتقادی هم ضرور دی ځکه چه کله د چا په زړهٔ کښے د غیرالله متعلق دا اعتقاد پیدا شو چه هغه مختار متصرف او غیب دان دے نو بیا د هغهٔ د رضا کولو دپاره هغه حلال خاروی حرام ګرځوی د دے وجه نه الله تعالیٰ اوفرمائیل هغه خاروی حلال دی دا حلال هم اوګڼړئ او خوړئ هم دے دپاره چه د شرك فعلی او شرك اعتقادی دواړه جرړے هم پریکړے شی. دا مضمون قرآن مجید کښے په ګڼړ آیتونو کښے ذکر شوے دے مثلاً ۱. كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا (بقره ع ۲۱) ۲. لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ (مائده ع ۱۳) ۳. مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ (مائده ع ۱۴) ۴. قَالُوا هَٰذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لَا يَطْعَمُهَا إِلَّا مَنْ نَشَاءُ الخ (انعام ع ۱۶) ۵. قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ (اعراف ع ۴) بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ کښے اضافت بیانی دے. د اضافتها الی الانعام للبیان کثوب خز ای احل لکم اکل البهیمة من الانعام (روح ص۶۹ ج ۶) یعنی ستاسو دپاره د څلورو څیزو الا خاروی حلال دی هغه خوړئ د چا حراموالو سره هغه نه حرامیږی دینه مراد اوښان، غویان او ګډے چیلئ دی لکه چه په سورهٔ انعام رکوع ۱۷ کښے تفصیل سره ذکر دی د غیرالله د تحریمات په مقابله کښے د الله تحریمات دی د هغے حکم د آیت په راتلونکے حصه کښے ذکر دے.

۵ دا د ماقبل نه استثناء ده او دے کښے د الله د تحریمات د حکم طرف ته اشاره ده چه دا حرام اوګڼړئ او دا مهٔ خوړئ یعنی ستاسو دپاره ټول خاروی حلال دی لیکن د دے نه چه د کوم ذکر وړاندے راځی هغه حرام دی مهٔ ئے خوړئ مایتلیٰ نه د تحریم آیت مراد دے کوم چه د دے رکوع کښے مخکښے راځی اٰیة تحریمة و هو قوله حرمت علیکم المیتة الاٰیه (مدارك ج ۱ ص۲۰۸)

۶ دا دویمه دعوی ده د دے کښے د الله تعالیٰ د تحریماتو بیان دے د دے حکم دا دے چه دا قائم اولرئ او دا حلال مهٔ ګڼړئ عامو مفسرینو دا د لَكُمْ ضمیر

خطاب نه حال گرځولے دے او مقصد ئې احسان باندے خبر ورکول بیان کړی دی چه د احرام په حالت کښې صرف ښکار حرام کړے دے باقی څاروی ئې نه دی حرام کړی كما فی الکشاف (ج ۱ ص ۳۱۲) دا شان به تحریمات الله مسئله محض تبعی جوړه شی حال دا دے چه هغه مقصودی مسئله ده دے وجه نه دا د کُمْ نه د حال گرځولو په ځائے د کَانَ محذوف خبر او گرځولے شی ای کونوا غیر محلی الصید او کَانَ سره د اسم نه حذف کول او خبر باقی ساتل د عربو په کلام کښې شائع دے لکه چه امام ابن مالك په الفیه کښې لیکلی دی یحذفونها ویبقون الخبر بعد لو وان کثیرًا ذا اشتهر - دینه معلومه شوه چه لو او ان نه روستو د کان حذف کثرت سره کیږی او د دینه علاوه هم حذف جائز دے.

۷ه دا مُحِلِّي الصَّيد کښې د ضمیر مستتر نه حال دے. حُرُمٌ د حَرَامٌ جمع ده چه معنیٰ ئې مُحْرِم احرام والا ده. مطلب دا دے چه د احرام په حالت کښې ښکار حلال مه گڼئ. اِنَّ اللهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ. دا د مخکښې دواړو دعوو اجمالی دلیل دے یعنی الله تعالیٰ چه د هر څیز مالك دے هغه چه کوم حکم صادروول او غواړی نو په هغه باندے څهٔ اعتراض نشته.

۸ه دا دریمه دعوی ده د لته د الله ج د نذر او نیاز (منښتو) او د بیت الله د منښتو د حرمت او عزت قائم ساتلو حکم ورکړے شوے دے. شعائر الله نه د الله تعالیٰ د دین یادگارونه مراد دی. قال الشیخ الانور. مثلاً صفا، مروه، بیت الله او د بیت الله طرف ته تلونکی قربانیانے او هدایا عن مجاهد قول الله شعائر الله الصفا والمروة والهدی والبدن کل هذا من شعائر اللهِ (ابن جریر ج ۶ ص ۳۱) حضرت شیخ فرمائی: شعائر اللهِ ما کان معلما بقربان یتقرب به الی الله من صلوٰة او دعاء او ذبیحة او غیرها - امام رازیؒ فرمائی: قَالَ بعضهم الشعائر هی الهدایا تطعن فِیْ اسنامها و تقلد لیعلم انه هدی (کبیر ج ۳ ص ۵۲۱) وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ. الف لام جنس د پاره دی او دینه مراد څلور د عزت والا میاشتې دی په کوم کښې چه جنګ او قتال ممنوع وو. یعنی رجب، ذی القعده، ذی الحجه، محرم الحرام، وَلَا الْهَدْيَ دا د هَدْيَة جمع ده او دینه هغه څاروی مراد دی چه د تقرب الی الله په نیت د بیت الله طرف ته د نذر او منښتې په طور باندے بوتللے شی. وَهو ما اهدی الی البیت وَ تقرب به الی الله تعالیٰ من النسائك وهو جمع هدیة (مدارك ج ۱ ص ۲۰۵) الهدی ما اهدی الی بیت الله تعالیٰ من ناقة او بقرة او شاة الخ (قرطبی ج ۶ ص ۳۹) وَلَا الْقَلَآئِدَ دا د قَلَادَةٌ جمع ده او قلادة هغه نښه ده کومه چه به د هَدْيِ څاروو په غاړه کښې ځوړوند ولے شوه د دے د پاره چه کتونکو ته معلومه شی چه دا د بیت الله هدی ده او هغې ته څوك تعرض

او نهٔ کړی د قلادو بے حرمتیٔ کولو نه ئے د مبالغے په طور منع او کړه. دا دے چه بحیله د هدایا بے حرمتی خو ډیر لرے خبره ده د هغوئ په کښے چه کوم څیزونه بنے دی د هغے بے حرمتی هم او نهٔ کړئ یا قلائد نه مخکښے ذوات مضاف محذوف دے ای ذوات القلائد یعنی د قلادو والا څاروو بے حرمتی مهٔ کوئ. المراد منه الهدی ذوات القلائد ...... الثانی انه نهی عن التعرض القلائد الهدی مبالغه فی النهی عن التعرض للهدی (کبیر ج ۳ ص).
وَلَا آمِّيْنَ الْبَيْتَ الخ دینه د مکے د اطراف هغه خلق مراد دی څوک چه مشرکینو سره یو ځائے شول د حدیبیه په ورځ ئے رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغوئ ۴ ملګری د بیت الله د طواف نه منع کړے وو لیکن روستو ئے اسلام قبول کړو او محض د الله د رضا د پاره ئے هدایا ځان سره کړی حج د پاره راتلل د هغوئ د تکلیف ورکولو او بے حرمتیٔ نه ئے منع او کړه. حاصل دا چه د ایمان والا ئے د دینه منع کړل چه هغوئ د شعائر الله او د الله د کور د نذرونو او د حجاج کرام بے عزتی او کړی یا د هغوئ سره څهٔ قسم ناجائز تعرض او کړئ. حضرت شاه ولی الله رحمة الله علیه د دے آیت تفسیر کښے فرمائی: مترجم گوید یعنی تعرض حاجیان و معتمران مسلمانان نباید کرد و لفظ را ایشان نباید گرفت والله اعلم د حضرت شیخ رحمة الله علیه په نزد هم دا راجح ده چه د دینه مسلمانان حاجیان مراد دی. څینو مفسرینو آمِّيْنَ الْبَيْتَ نه هغه مشرکان مراد کړی دی چا چه د صلح حدیبیه په ورځ نبی علیه السلام د بیت الله نه منع کړے وو او نهٔ وو مسلمانان شوی یعنی چه کله دا خلق حج له راشی نو هغوئ باندے تعرض مهٔ کوئ او د مشرکانو په خیل خیال کښے د حج کولو نه مقصود د الله ج رضامندی حاصلول وو اګرچه د شرک په وجه سره هغوئ د الله ج رضامندی نشوه حاصلولے د دوئ په نزد دا آیت فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ (توبه) سره منسوخ دے لیکن کوم مفسرین چه دا آیت د مسلمانانو په حق کښے منی د هغوئ په نزد دا آیت منسوخ نهٔ دے. و قال بعض المفسرین ان الآیة فی المسلمین فهی محکمة وحکمها باق فلم تنسخ (المنار ج ۶ ص ۱۲۶) وکذا فی الکبیر ج ۳ ص ۳۵۳) لیکن د حضرت شیخ په نزد باندے اول معنیٰ راجح ده

ف ۹ دا د غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ الخ سره متعلق دے هلته ئے د احرام په حالت کښے د ښکار کولو نه منع فرمائیلے وه دلته ئے او فرمائیل چه د احرام نه بهر ته راشئ نو د ښکار کولو اجازت دے. فالامر للاباحة بعد الحظر (روح ج ۶ ص ۵۵)

ف ۱۰ د جَرَمَ معنیٰ ده راپارول او تیزول ای لا یحملنکم عن ابن عباس رض و قتادة (قرطبی ج ۶ ص ۴۲) شَنَآنُ بغض او دشمنی شَنَآنُ قَوْمٍ ای بغضهم (مفردات

۲۶۸ حضرت شیخ رح فرمائی دلته هم هغه جدید (نوی) مسلمانان مراد دی دکوم چه محکښې آمِّیْنَ الْبَیْتَ الْحَرَامَ کښې ذکر شوی دی۔ اَنْ صَدُّوْکُمْ د اَنْ نه مخکښې لام تعلیل مقدر دے ای لِاَنْ صَدُّوْکُمْ او دا د ماقبل علت دے۔ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ دا د صَدُّوْکُمْ سره متعلق دے اَنْ تَعْتَدُوْا اَنْ مصدریه دے او د لَا یَجْرِمَنَّکُمْ دپاره مفعول ثانی دے (من القرطبی والکشاف) دے آیت کښې الله تعالیٰ مسلمانانو ته تنبیه ورکړے ده چه کوم مشرکانو دحدیبیه په ورځ هغوئ د بیت الله د طواف نه منع کړی وو هغوئ نه چه کوم خلقو اسلام راوړے وو دمذکوره واقعه په بناء باندے هغوئ سره بغض مه ساتی او هغوئ باندے دځه قسم نه ظلم زیاتے مه کوئ او د هغوئ نه بدله وانه خلئ او نه چه د هغوئ حرم طرف هدایا بوتلل او هغوئ دحج کولو نه منع کړئ۔ ای لا یحملنکم بغض قوم لصد هم ایاکم عن المسجد الحرام علی اعتدائکم علیهم وانتقامکم منهم للتشفی (روح ج ۶ ص ۵۶) عام مفسرین د آمِّیْنَ الْبَیْتَ الْحَرَامَ پشان دلته هم د قوم نه مشرکین مراد کړے دی لیکن د حضرت شیخ په نزد اول معنیٰ راجح ده وَتَعَاوَنُوْا عَلَی الْبِرِّ وَالتَّقْوٰی الخ اول ئے اوفرمائیل چه تاسو پخپله هغوئ باندے زیاتے مه کوئ دلته ئے اوفرمائیل چه کچرے بل خوك په هغوئ باندے ظلم او زیاتے اوکړی نو تاسو تول په جمع د ظالم مخ نیوے اوکړئ او د احسان او تقوی په معاملاتو کښې د یو بل سره تعاون کوئ۔ لیکن د ظلم او ګناه په کارونو کښې د چا سره مدد مه کوئ پخپله هم د شعائر الله بے عزتی مه کوئ او نه خو بل خوك بے عزتئ کولو ته پریږدئ هغوئ لره بے عزتی کونکی لیدل اوچپ پاتے کیدل او د مکے په اطراف کښې په نوؤ مسلمانانو باندے د یهودو ظلم او زیاتے لیدل او هغوئ نه منع کول او د مسلمانانو امداد نه کول داهم په بے حرمتئ کولو او تَعَاوَنُوْا عَلَی الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ کښې داخل دی۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعِقَابِ ۝۲

او وویریږئ د الله ج نه بیشکه د الله ج عذاب سخت دے ف ۱

حُرِّمَتْ عَلَیْکُمُ الْمَیْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِیْرِ

حرام شو په تاسو باندے مړشوے خاروے او وینه او غوښه د خنزیر

وَمَآ اُهِلَّ لِغَیْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ

او په کوم حیوان چه نوم واخستلے شی د الله نه سوا دبل چا او کوم چه مړشی ساه خپه کولو سره یا د هلو سره

وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا

او رغړېدلې او ښکر وهلې او کوم چه خوړلے وي ځناور (درنده) مګر هغه چه

ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا

تاسو حلال کړي دي او حرام دے کوم چه ذبح شو د بتانو په نوم او دا چه تقسیم او

بِالْأَزْلَامِ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ

د جوارۍ په غشو باندے دا د ګناه کار دے نن نا امیده شو

كَفَرُوا مِنْ دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ

کافران ستاسو د دین نه نو د دوی نه مه وېرېږئ او زما نه او وېرېږئ

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ

نن ما پوره کړو ستاسو دپاره دین ستاسو او پوره مې کړو په تاسو باندے

نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ

احسان خپل او غوره کړو ما ستاسو دپاره اسلام دین . بیا چه څوک مجبور شو

فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ

په لوږه کښے لیکن ګناه ته مائل نه وي نو الله بخښونکے

رَحِيمٌ ③ يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ

مهربان دے ③ ستا نه تپوس کوي چه کوم څیز هغوی دپاره حلال دے ورته اووایه

لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ

ستاسو دپاره حلال دي پاک څیزونه او کوم چه تاسو ښودل کړے وي ښکاري ځناوران

تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ

تاسو ئې ښودل کوئ هغه چه الله تاسو ته ښودلي دي

نکات: ... شاوره دعوی - یعني د غیر الله د منښتو بیان دے حرمت باقي

او ... احتمالات دي د ما نه مراد حیوان ، ما نه مراد حیوان او

غیرحیوان ، مآ نه مراد کلمه د احلال اول دواړو احتمالونو کښے به ب به معنیٰ دعلیٰ ده . او دریم احتمال باندے ب بخپل اصل باندے باقی ده لغیر الله نه مراد لتقرب غیرالله دے ۳ داد والمنخنقة او ضغ نه روستو سره متعلق دے او ومَا اُهِلَّ سره متعلق نهٔ دے ۴ دے نه صرف مذبوحه مراد ده دا تخصیص بعد لتعمیم دے ۵ یعنی تیر شوی محرّمات د فسق نه کامله درجه مراد ده یعنی کفر ځکه چه د قرآن پاك دستور دے چه کامله درجه ذکر کوی ۶ یعنی تاسو به ذکر شوو خلورو دعوو باندے مضبوط شئ ۷ یعنی ددے خلورو واړو دعوو بیان د کمال دین نه دے ۸ غیر مُتَجَانِفٍ ای غیر مائل ۹ یعنی باوجود د حرام والی نه د ضرورت بهٔ اندازه سره اوخوړله نو ګناه نشته ۱۰ بهترین قول دا دے چه ددے تعلق اُحِلَّت لَکُم بَهِیمَةُ الاَنعَام سره دے ۱۱ یهٔ اصل کښے احل لنا وو کما فی الرضی ۱۲ یعنی د غیر الله بیان نهٔ وی ۱۳ ای صید ماعلمتم ۱۴ ای الکواسب ۱۵ ای مسلطین

موضح القرآن : ف۱

حلال مهٔ ګڼړئ یعنی لاس مهٔ وروړئ د الله د نوم څیزونو ته یعنی کافرهم کچرے د کعبے منښته راوړی نو مهٔ ئے لوټ کوئ او بهٔ عزتمند و میاشتو کښے هغوئ مهٔ وژنئ او د غاړه کو والاهم څنه د قربانئ خاروی دی کوم چه هلکے ته بوتلے شی چه نښه دار ګرځولے شویدی او دے فرمائیل چه کافرانو تاسو منع کړی وئ د مسجد حرام نه تاسو زیاتے مهٔ کوئ یعنی راتلونکی مهٔ منع کوئ باقی دوړاندے نه ئے منع اوکړئ چه کافر راشئ نو دا روا ده دینه معلومه شوه چه کافر کوم کار کښے د الله ج تعظیم کوی هغه کار مهٔ رسوا کوئ لیکن ځوك چه د بت تعظیم اوکړی نو د هغے سپکاوے اوکړئ .

ف۲ د خاروو نه ئے دا څیزونه حرام اوګرځول . خنزیر : او د هر څیز (بهیانګی) وینه او بخپله مړ شوے . یا بغیر د حلالولو نه په بله کومه طریقه وژلے شوے او کوم چه د خدائے ج د نوم نه بغیر ذبح کړے شوے او کوم چه د یو مکان د تعظیم بهٔ خاطر ذبح شوے دی سوا د الله ج د کور نه لیکن دا څیزونه مضطر د پاره معاف دی او تقسیم کول د جوارئ په غشو دا د کافرانو یوه جواری وه چه یو خاروے به لس کسانو برابر واخستلو او ذبح به ئے کړلو او لس غشے وو بهٔ چا به ئے لیکلے وو ، نیم ، بهٔ چا پاؤ ، کم ، زیات او څنے به ئے خالی (تش) پریخودلے وو بیا به ئے تقسیم شروع کړو نو د هر یو بهٔ نوم به چه کوم غشے راغے هغه حصه به هغهٔ ته ملاو شوه یا به خالی راووتلو . شرطونه تړل ټول حرام دی داهم بهٔ هغے کښے داخل دے دے نه معلومه شوه چه د خدائے ج د نوم نه بغیر چه کوم خاروے حلال شی یا د خدائے ج د تعظیم نه بغیر نو هغه مردار دے دا ئے چه کوم او فرمائیل چه نن ورځ م تاسو ته پوره دین درکړو دا آیت آخری نازل شوے دے چه ټول احکام د الله ج نازل شوی وو دے نه روستو نبی کریم صلی الله علیه وسلم درے میاشتے ژوندے وو .

فتح الرحمن: ف۱ مترجم وائی حکم د تحریم قتال په اشهر حرم کښې خاص دے مسلمانانو پورے په دلیل د آیت سورۂ بقره او منع د تعرض کولو نه حاجیانو نه هم مسلمانانو پورے خاص دہ په دلیل د آیت د سورۂ برأت او دا آیت آخری نازل شوے کرخول او ناسخ گرځونکے د هغه آیتونو لکه څنګه مفسرین وائی نو صحیح شریعه نه دہ ۔ والله اعلم ۔ **ف۲** مترجم وائی یعنی صورت او قبر بانداے **ف۳** مترجم وائی یعنی د سختے لوږے په حالت کښې د مردارے خوړل جائز دی او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د لفظ غیر مائل فائدہ دادہ چه د ضرورت نه زیات او نه خوری او د امام مالک رح او امام شافعی رح په نزد دادہ چه قاطع طریق (لاره شوکونکے) نه وی او ظالم نه وی ، دوئی ته رخصت نشته او دا آیت آخری آیت د قرآن کریم دے دے نه روستو بل کوم آیت نه دے نازل شوے والله اعلم **ف۴** یعنی هغه چه عذاب ئے پاکیزه گنړی ۔ والله اعلم

حاشیه: ۔ ۱ لله دا څلورمه دعوی دہ دے کښې د غیرالله د منسوبتو او نورو محرماتو ذکر دے د دے حکم دا دے چه دا حرام دی د دے حرمت باقی او ساتی او دا مه خوری اَلْمَیْتَةَ هغه حلال څاروے چه د ذبح شرعی نه بغیر مړشی وَالدَّمُ بهیدونکی وینه کومه چه د حلالے په وخت ووځی وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ ۔ د خنزیر غوښه ۔ خنزیر نجس العین دے او د دہ ټول اجزاء نجس او پلیت دی او د دینه نفع اخستل جائز نه دہ د غوښے تخصیص صرف د دے د پاره شویدے چه د څاروی مقصودی حصه غوښه دہ چه کله غوښه حرام شوه نو باقی اجزاء به په طریق اولی حرام وی انما خص اللحم بذکر مع کونه نجسا بجمیع اجزائه بالنص والاجماع لانه معظم المقصود من الحیوان (مظهری ص ۱۴۲ ج ۲) وَ مَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۔ اُهِلَّ ۔ اِهْلَالٌ نه اخستے شویدے د ماضی مجهول صیغه دہ ۔ د اهلال معنی آواز اوچتول دی وَ اَصْلُهٗ الرفع الصوت لکه چه په محاورات کښے ویلے شی اهل الرجل واستهل اذا رفع صوته یعنی هغه آواز اوچت کړو داشان ویلے شی اهل المعتمر اذ ارفع صوته بالتلبیة ۔ یعنی عمره کونکی اوچت آواز سره تلبیه اووئیله (لسان العرب ص ۷ ج ۱۱) لِغَيْرِ اللّٰهِ په حذف د مضاف سره ای لتعظیم غیرالله او په بِهٖ کښې ب په معنی د علی سره دہ مَآ اُهِلَّ الخ دغا نه څهٔ مراد دے دے کښې درے احتمال دی (۱) مَآ نه مراد هغه څاروے دے کوم چه د غیرالله (پیغمبر، ولی، یا فرښته، یا جن وغیره) متصرف او کارساز، غیب دان او مافوق الاسباب حاجت روا مشکل کشا لو سره د هغه د تعظیم پیش نظر او د هغه د خوشحالولو په غرض د نذر او منتے په طور متعین کړے شی او بیا نو ورباندے بخودے شی دا نذر د غیرالله دے او دا حرام دے داشان هغه څاروی حرام گرځی کچرے دالله ج په نوم هم ذبح کړے شی نو بیا هم حرام دے او

حلالیږی د دۀ حکم بالکل هغه دے کوم چه د مردارے دے. د نظر لغیر الله مسئله قرآن مجید کښے مختلف انداز سره بیان شوے ده مثلاً: إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ (بقره رکوع ۲۱)

(۲) د سورۂ مائده دا زیر بحث آیت (۳) أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ (انعام ع ۱۸) (۴) إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ (نحل ع ۱۵) (۵) وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا (نساء ع ۱۸)

(۶) وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَٰذَا لِشُرَكَائِنَا (انعام ۱۶) (۷) قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللَّهُ افْتِرَاءً عَلَى اللَّهِ (انعام ع ۱۶)

(۸) وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ (نحل ع ۷) دا شان د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے. لَعَنَ اللَّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللَّهِ (مظهری ج ۳ ص ۱۳) کوم سړے چه د غیر الله د رضا حاصلولو او د هغهٔ د تعظیم دپاره ځاروے حلال کړے هغه ملعون دے. مسند امام احمد کښے دی. لعن الله من ذبح لغیر الله ای لتعظیم غیر الله (تفسیر کبیر ج ۳ ص ۱۲، تفسیر نیشاپوری ج ۲ ص ۱۱۲) او د فتاوی عزیزی (ج ۲ ص ۵۶) عبارتونه جواهر القرآن کښے ص ۸۳ کښے نقل شویدی د دے عبارتونو نه حاصل دا دے چه کوم ځاروے د غیر الله په نوم یاد کړے شی نو هغه حرام کرځی حرمت او نجاست په هغه کښے داسے ننوځی چه د الله تعالیٰ نوم اخستلو سره او حلالولو سره هم هغه ځاروے نه حلالیږی او نه پاکیږی او د غیر الله د نوم تعظیم نیت کولو سره ذبح کونکے سړے هم مرتد کرځی او س ځنے نورے حوالے ملاحظه کړئ. مخدوم علی بن احمد مهائمی المتوفی ۸۳۵ھ د دے آیت د لاندے لیکی چه کوم ځاروے د الله د نوم نه په غیر منلے شوے وی د پاره د تقرب دپاره هغه حرام دے اګرچه هغه د الله په نوم ذبح کړے شی (وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ) فانه وان ذکر معه اسم الله فقد عارض المطهر فیه المنجس مع نجاسة بالموت وان لم یذکر فقد زید فی تنجیسه (تبصیر الرحمٰن ج ۱ ص ۱۸۱) د نذر غیر الله باره کښے د عهد قریب اکابر علماء او محققینو هم دا مسلک پاتے شوے دے. د ځنو بزرګانو ارشادات ملاحظه کړئ. حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رح فرمائی "کوم ځاروے چه د غیر الله په نوم وی هغه د دے نیت سره بسم الله وئیلو سره ذبح کولو سره هم حرام دے کچرے نیت وی چه ثواب لوجه الله چاته اورسیږی نو دے کښے څهٔ حرج نشته د غیر تعظیم باندے ذبح کولو سره حرام کرځی نه مالک کیدلو سره د کوم یو انسان د واړو کښے فرق دے.

فقط رشید احمد ګنګوهی عفی عنه (فتاوی رشیدیه مبوب ص ۴۸۰)

مولانا عبد الحی فرنگی محلی رحمه الله فرمائی:

ما اهل به لغیر الله نه مراد هغه څاروے دے کوم چه د تقرب په قصد غیر الله د پاره ذبح کړے شی او مقصود د دینه تعظیم د غیر الله وی او ساتل د پاره ذبح کړے شی هغه څاروے حرام دے اگرچه د ذبح په وخت خالص د غیر الله په لحاظ سره وی دا هسے څاروے حرام دے. کواحد من العظماء بسم الله په هغه او وئیلے شی ذبح لقدوم الامیر و نحوه کواحد من العظماء لا یحرم انتهی. ما اهل به لغیر الله ولو ذکر اسم الله علیه ولو ذبح للضیف لا یحرم انتهی (مجموعه فتاوی ج ۲ ص)

مولانا اشرف علی تهانوی رح فرمائی:

مولانا ... د پاره ذبح کړے شی چه هغه بزرگانو د نذر نیاز څاروے کچرے دے د پاره ذبح کړے شی چه هغه بزرگانو او هغه متصرف فی التکوین اوګڼړی او هغه خوشحال شی او خوښ نه کاز اوکړی او هغه متصرف فی التکوین اوګڼړی او د هغوی نزدیکت د پاره ذبح اوکړی او د ذبح مقصود هم دا وی لکه چه دے زمانه کښے اکثر جاهلانو هم دا عقیده وی نو دا عقیده ساتونکے مشرک دے او هغه حلال بالحق حرام دی اگرچه د ذبح په وخت د الله نوم واخستلے شی وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِ اللّٰهِ اوګوره د الله تعالی د پاره دے هغه څاروے حلال کړو او د الله تعالی په رضا ئے ورکړو هغه ثواب ئے دیو بزرګ په روح او ښښلو نو دا جائز دے فقط ۵ / ربیع الثانی ۱۳۲۲ھ (فتاوی امدادیه ج ۳ ص)

د مَآ په تفسیر کښے دوئیم احتمال دا دے څنګه چه شاه عبد العزیز په تفسیر عزیزی کښے فرمائیلی دی چه مَا عام دے او دده مراد هم عام دے خواه څاروے وی یا غله، متهائی وی یا بل کوم څیز وی چه د غیر الله د تقرب د پاره ورکړے شی تول دیکښے شامل دی کچرے د مَآ نه صرف ذبیحه مراد واخستلے شی نو بیا د دینه روستو د مَا ذبح علی النصب ضرورت نه پاتے کیږی. لهٰذا چه کوم خلقو د مَا نه مراد صرف ذبیحه اخستے ده هغوی د مَآ اُهِلَّ صرف یو صورت بیان کړیدے چه په مشرکانو کښے هغه وخت رائج وو کنی نو دا خبره هغوی هم منی چه مشرکانو به د څاروو نه علاوه د غلے وغیره نذرونه هم کول لکه چه وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِیْبًا الخ نه معلومیږی د دے وجه نه بهتره دا ده چه وَمَا ذُبِحَ عَلَی النُّصُبِ نه صرف ذبیحه مراد وی او د مَآ اُهِلَّ نه مراد عام وی یعنی غله وغیره د اول او دوئیم دواړو تفسیرونو په صورت کښے به په کښے باء په معنی د علی سره وی.

دلته یو سوال پیدا کیږی چه مَا کله عام دے نو څنګه مفسرینو د دینه ذبیحه واله مراد کړے ده نو د دے جواب دا دے چه د اهل عرب په نزد لفظ اهلال زیات استعمال په مذبوحه باندے کیدلو د دے وجه نه د دے پیش نظر هغوی د مَا نه مذبوحه مراد کړے ده د دینه د هغوی مطلب هرګز دا نه دے چه د مذبوحه نه

علاوه باقي څيزونو سره د غير الله نذر جائز دے بلکه دده مفسرينو په نزد څنګه چه ځاروو سره د غير الله نذر حرام دے داشان باقي څيزونو غلّه، کپړه وغيره سره هم حرام دے.

حضرت شيخ قدّس سره اوفرمائيل چه د آيت په مفهوم کښے يو دريم احتمال هم شته دے هغه دا چه دما نه مراد هغه کلام شي کوم سره چه د غير الله د تقرب دپاره ځاروے مقرر ولے شي مطلب دا دے چه دا سے کلمه هم حرام او مشرکانه ده کوم چه د غير الله د نذر او منښتے په وخت اوچتولے شي. خلاصه مطلب د دے هم هغه دے کوم چه حضرت شاه عبد العزيز صاحب رح ليکلے دے. د دے صورت کښے به د بِهٖ ب پخپل اصل باندے پاتے وي او ددے علی معنیٰ اخستلو کښے ضرورت نشته لکه چه وئيلے شي اهللت بالتلبية و اهللت بالتسمية على الذبيحة صراح کښے دي اهل المحتم ذا رفع صوته بالتلبية وبالتسمية على الذبيحه لکه چه مخکښے د لسان العرب نه منقول شويدي فحرٌ الباء هو لفظ يرفع به الصوت اي اسم الله مثلاً فالمراد من قوله تعالیٰ و ما اهل اي لفظ رفع به الصوت لتعظيم غير الله المقرب اليه حاصل دا شو چه د هغه کلام تکلم او هغه کلام باندے ئے خولهٔ خوځول حرام کړل کوم سره چه د غير الله تقرب مقصود وي او د دے وجه نه به هر هغه څيز هم حرام وي کوم سره چه د غير الله تقرب مطلوب وي او بعينه اِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ (انعام ع ۱۸) کښے فِسْقًا نه هم کلمه د تقرب مراد ده د کوم په ذريعه چه د غير الله نذر او منښته کولے شي.

تنبيه:- ځنے علماء اسلام ليکلي دي چه د اولياء کرام نذرونه حلال دي حرام نهٔ دي د دے مطلب باندے پوهيدلو کښے ډير خلق دهوکه شويدي کوم علماؤ چه ليکلي دي چه د اولياء کرام نذرونه حلال دي د هغوئي مراد دا دے چه کوم مسلمانان د اولياء الله نذرونه مني هغوئي خو نه دوئي په غيب عالمان ګڼړي نه ئے مافوق الاسباب متصرّف او مختار او نه هغوئي ته په حاجتونو کښے غائبانه آواز کوي او نه دے نذرونو سره د اولياء الله تقرب (نزديکت) حاصلول مقصود وي بلکه دده نذرونو مقصد د الله تعالیٰ عبادت او درضا طلب کول کوي او د اولياء الله روحونوته ثواب رسول مقصود وي. دے مسئله کښے هيڅ جګړه نشته دا په اتفاق سره جائز دے ليکن دده نيت باوجود ديته نذر غير الله وئيل د کراهيت نه خالي نهٔ دے. داشان د ټولو علماء اسلام په نزد دا مسئله هم متفق عليه ده چه کوم نذر او منښته د غير الله د تقرب دپاره ورکړے شي هغه حرام ده. باقي پاتے د عوامو فعل نو د دے باره کښے چه ترڅو پورے ښکاره دلائلو نه او واضح قرائن نه معلومه شوے نهٔ وي چه د دهٔ

نیت د تقرب الی غیر الله دے نو هغه وخت د حرام والی حکم نه شی لګیدلے
۱۲ هغه ښاروے چه د هغهٔ مرئ خفه کړے شی او وژلے شی لکه چه د
جاهلیت په زمانه کښے خلقو د ښاروی مرئ خفه کړه او وژل به ئے او خوړل
به ئے۔ قال ابن عباس رضی الله تعالٰی عنهما کان اهل الجاهلیة یخنقون البهیمة
ویاکلونها فحرم ذٰلك علی المؤمنین (روح ج ۶ ص۵۰) وَالْمَوْقُوْذَةُ۔ کوم
ښاروے چه وهلو او ګذار سره مړشی۔ وَالْمُتَرَدِّیَةُ۔ کوم ښاروے چه داوچت
ځائے نه پریوځی او مړشی۔ وَالنَّطِیْحَةُ کوم ښاروے چه بل په ښکرا ووهی
او مړ ئے کړی۔ وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ او کوم ښاروے چه ځناور خیرے کړی دا ټول
حرام دی۔ اِلَّا مَا ذَكَّیْتُمْ دا د ماقبل نه استثناء ده د ځینو په نزد دا استثناء
د وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ سره مختص ده لیکن لوئے لوئے صحابه او تابعین او جمهور مفسرین
دا د الْمُنْخَنِقَةُ نه واخله تر وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ پورے د ټولو نه استثناء ګرځوی۔ انه
استثناء من جمیع ما تقدم من قوله وَالْمُنْخَنِقَةُ الی قوله وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ وهو
قول علی وابن عباس والحسن وقتادة الخ (کبیر ج ۳ ص۵۲۵) والاستثناء یرجع
الی المنخنقة ومابعدها (مدارك ج ۱ ص۲۰۹) قال علی وابن عباس والحسن
وقتادة و ابراهیم وطاؤس وعبید ابن عمیر والضحاك وابن زید والجمهور
هو راجع الی المذکورات ای من قوله وَالْمُنْخَنِقَةُ الخ (بحر ج ۳ ص۴۲۳)
لهٰذا مَآ اُهِلَّ لِغَیْرِ اللهِ بِهٖ سره دا استثناء هیڅ تعلق نشته او هغه دالله تعالٰی
نوم اخستلو ذبح کولو سره هم نه حلالیږی۔ د مَآ اُهِلَّ لِغَیْرِ اللهِ حرمت په
قرآن مجید کښے د دینه علاوه نورو درے ځایه ذکر شوے دے لیکن هلته هیڅ
یو ځائے کښے دا استثناء موجود نه ده ځکه چه هلته د باقی څیزونو ذکر
نشته نو معلومه شوه چه دا استثناء تعلق محکښے خلورو څیزونو سره نه دے
صرف روستو ذکر شوو څیزونو سره دے مطلب دا دے چه د دے مذکورو
ځناورونه کوم چه لا تر اوسه ژوندی وی کچرے په وخت هغه حلال کړے
شی نو حلال دے۔ د ژوند علامه دا ده چه هغه د حلال کړے شو ښاروږ
شان تو پونه لګے وهی۔ اِلَّا مَا ادرکتموه وفیه بقیة حیات یضطرب
اضطراب المذبوح وذکیتموه (روح)
۱۳ النُّصُبِ د نصاب جمع ده او دے نه هغه بتان مراد دی د کوم د
تعظیم دپاره چه به د هغوی په ستانو (قبرونو) باندے مشرکانو ښاروی
ذبح کول (روح ج ۶ ص۵۸) یعنی هغه ښاروی چه د غیر الله په ستانو، د هغوی
خانقاهونو او قربان ګاهونو باندے د هغوی د تعظیم او د هغوی د تقرب
حاصلولو په غرض ذبح کړے شی هغه هم حرام دی د ذبح په وخت خواه د غیر
الله نوم واخستلے شی او ذبح کړے شی لکه چه نن صبا ځنے جاهل مسلمانان ئے

کوی ۔ د مړهٔ شوو بزرګانو نذر منسنته چیلے وغیره د عرسونو او میلو په ورځو کښے قبرونو ته بیا ئے او هلته ئے حلالوی لکه چه د شاه کوټ او بهری شاه رحمٰن ۔ او نورو بزرګانو عرسونو او میلو په ورځو کښے ئے قبرونو ته بیائی او هلته ئے حلالوی ۔ ځنے خلق څاروی قبرونو ته بیائی پخپله ئے نهٔ حلالوی بلکه منجاورانو او ګدی نشینانو ته ئے حواله کوی د داړو حکم یو دے او دواړه حرام دی ۔ دے نه معلومه شوه چه مَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ او مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ دواړه یو څیز نهٔ دے بلکه اول عام دے او دویم د هغے نه یو جزء دے یعنی اول نه هر هغه څیز مراد دے کوم چه د غیر اللّٰه د تقرب د پاره مقرر کړے شی خواه هغه څاروے وی یا غله یا نقد وغیره ۔ او دوئم نه مراد هغه څاروی دی کوم چه د غیر اللّٰه د تعظیم د پاره په ستانو باندے حلال کړے شی چونکه د بزرګانو د ستانو او خانقاهونو سره د خلقو په زړونو کښے ډیر زیات عزت او قدر وو او هغوئ به د دے تقدّس د وجه نه څاروی هلته بوتلل او حلالول به ئے د دے وجه نه ئے خصوصیت سره د دا سے حلال شوو څارووحرمت بیان کړلو مفسر ابن عطیه وائی مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ جزء مِمَّا اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ لکن خص بالذکر بعد جنسه لشهرة الامر وشرف الموضع وتعظیم النفوس (بحر ج ۳ ص ۴۲۳)

۴ ۔ ان مصدریه دے او اَزْلَامْ جمع د زَلَمْ ده لکه (جمل او صرد) او زلم معنیٰ غشے دے یعنی د غشو په ذریعه حصته او مقدار معلومول هم حرام دی لکه چه مشرکانو به کول هغوئ به په غشو باندے څهٔ الفاظ لیکلی وو ۔ اِفْعَلْ (او کړه) په چا ئے لیکلی وو لَا تَفْعَلْ (مهٔ کوه) په چائے لیکلی وو لکه النصف (ستا نیم دے) په چا ئے لیکلی وو لک الربع (ستا څلورمه ده) د هغوئ عقیده وه چه د دوئ معبودان په غیب خبردار دی او متصرّف دی او هغوئ خپل تصرّف سره د دے غشو په ذریعه د دوئ د قسمت فیصله کوی د دے سره د دوئ مقصد د خپلو معبودانو نه صلاح او مشوره او د هغوئ منظوری حاصلول وو د دے استسقام بنیاد چونکه د غیر اللّٰه متصرف او غیب دان منلو باندے وو د دے وجه نه ئے دا حرام او ګرځول ۔ انه کان استشارة مع الاصنام واستعانة منهم کما یشیر الی ذالك ماروی عن ابن عباس رضی اللّٰه تعالیٰ عنهما من انهم اذا ارادوا ذالك اتوا بیت اصنامهم وفعلوا ما فعلوا فلهذا صار حرامًا (روح ج ۶ ص ۵۸) استقسام (په غشو تقسیم) چونکه حرام دے د دے وجه نه کوم مال چه به دے موقعه باندے د بتانو د نذرونو په طور د هغوئ خادمانو او منجاورانو ته ورکولے شو هغه هم حرام دے ۔

۵ ۔ ذٰلِكُمْ سره ذکر شوی ټول حرام څیزونه حلال ګڼړلو طرف ته اشاره ده او فسق نه مراد د فسق کامل درجه ده یعنی کفر مراد دے مطلب دا دے چه

مذکوره محرمات حرام نه گنړل او دا حرام گنړل او ددے خوړل او دا خوړل کفر دے او دا حرام گنړل او ددے خوړل
نه ځان بچ کول عین ایمان او اطاعت او په وعدو باندے وفاء ده دکوم حکم چه
په شروع د سورت کښے ورکړے شوے دے ۔ و قال مخشری اشارة الی الاستقسام
والی تناول ماحرم علیهم لان المعنی حرم علیهم تناول المیتة وکذا وکذا (بحر ج۳ ص۴۲۴)
وقیل یرجع الی جمیع ماذکر من الاستحلال لجمیع هذه المحرمات وکل
شیءٍ منها فسق وخروج من الحلال الی الحرام والانکفاف عن هذه المحرمات
من الوفاء بالعقود اذ قال اوفوا بالعقود (قرطبی ج ۶ ص۶۰)

ﷺ اَلْيَوْمَ نه هغه ورځ مراد ده په کومه ورځ چه ذکر شوو تحریماتو باندے
مشتمل دا آیت نازل شوا وهغه دجمعے ورځ د ذی الحجے ۹ تاریخ وو.
وقیل یوم نزول الآیة وروی عن ابن جریج و مجاهد و ابن زید وکان کما رواه
الشیخان عن عمر رضی الله عنه عصر یوم الجمعة عرفة حجة الوداع (روح ج۶ ص۶۰)
وبحر ص۴۲۵) مطلب دادے چه ددے محرمات نه روستو د مشرکانو اوس
امید ونه باقی پاتے نه شول چه تاسو به دوباره دهغوئ دین قبول کړئ او پوره
ذکر کړے شوو پلیت او حرام کړے شوو خیزونو خوراك به شروع کړئ : انقطع
رجاءهم من ابطال دینکم ورجوعکم عنه بتحلیل هذه الخبائث وغیرها (روح
وکبیر ج ۳ ص۵۲۶) فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ددے وجه نه اوس تاسو ددے
خبرے نه مه ویریږئ چه مشرکانو به تاسو باندے او ستاسو په دین باندے
غالب شی بلکه ځما نه او ویریږئ ځما د احکامو تابعداری اوکړئ او ځما نافرمانئ
نه ځان بچ اوساتئ ددے دپاره چه ځما تائید او امداد تاسو سره همیشه شامل
حال وی ۔

ﷺ تحریمات الله او تحریمات غیر الله دالله ج د نذرونو او دغیر الله د
نذرونو بیان سره د دین اسلام ټول فرائض او حدود او حلال او حرام تکمیل
اوشو او د نن ورځ نه مونږ دین مکمل کړو او خپل نعمتونه مو په تاسو پوره
کړل عن ابن عباس رضی الله عنهما والسدی ان المعنی الیوم اکملت لکم حدودی
وفرائضی وحلالی وحرامی بتنزیل ما انزلت (روح) اکملت لکم ما تحتاجون
الیه من تعلیم الحلال والحرام والتوقیف علی الشرائع وقوانین القیاس د
اصول الاجتهاد (بحر) د اتمام نعمت نه د اسلام غلبه دکفر او شرك مغلوب
کیدل د دین تکمیل، دعلم او حکمت ورکړه امن او دمال فراخی وغیره مراد
دی (روح، بحر، قرطبی وغیره) وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ط او د دنیا به
ټولو دینونو کښے مو دین اسلام ستاسو دپاره غوره کړو ځکه چه دا هغه دین دے
چه د انسانی فطرت عین مطابق دے او په دے ټول انبیاء علیهم السلام عمل
کوونکی پاتے شویدی ۔ دینه معلومه شوه چه الله جل جلاله ته خوښ دین صرف

اسلام دے او خلاصے به صرف د دین اسلام په تابعدارئ کښے حاصل وی کوم سړے
چه اسلام پریږدی د بل کوم یو دین تابعداری کوی هغه خلاصے نشی موندلے
او په آخرت کښے به هغه په تاوان کښے وی لکه چه بل ځائے ارشاد دے وَمَنْ
يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ؀
(آل عمران ع ۹) او اسلام سره به نجات صرف هغه چاته نصیب وی څوک چه د
ضروریات دین عقیده لرونکے وی۔ د نوم مسلمان کیدل کافی نهٔ دے۔ که چرے
یو مسلمان د مسلمان وئیل کیدلو سره د دین د ضروری عقائدو نه د کوم یو عقیدے
انکار اوکړی نو هغه مسلمان نشی پاتے کیدلے او هغهٔ ته به نجات نهٔ وی۔ مثلاً
د ختم نبوت نه انکار۔ د نبی علیه السلام د سنت د حجت کیدلو نه په دین کښے
انکار۔ د الله ج خاص صفتونو کښے بل څوک شریک منل وغیره۔

۱۵ه د محرمات ذکر کولو نه روستو ئے د اضطراری حالت حکم اوفرمائیلو
چه مذکوره بالا څیزونه خو قطعی حرام دی لیکن کچرے یو سړے د لوږے
نه بے طاقته شی او کوم یو حلال څیز ورته نهٔ ملاویږی او دومره خبره
ویره وی چه د حلال څیز پیدا کیدلو تر وخته پورے به هغه ژوندے پاتے
نشی یا په داسے عوارض کښے مبتلا شی چه تر مرګه به ئے اورسوی نو هغهٔ
دپاره جائز دا چه په هغهٔ د مذکوره محرمات نه په قدر د روح باقی ساتلو
یعنی دومره اندازه خوراک اوکړی چه هغے سره د دهٔ روح ژوندے پاتے شی
غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ د متجانف معنیٰ ده مائل یعنی دے شرط سره هغهٔ
ته د خوراک اجازت دے چه هغه د ګناه طرف ته مائل نهٔ وی۔ مطلب دا دے
چه د روح ژوندے پاتے کیدلو نه زیات د حرام څیز خوراک او نهٔ کړی ځکه
چه د حرام څیز د خوراک اجازت اضطرار سره مشروط دے چه کله هغه په
اندازه سد رمق (د روح باقی پاتے کیدلو) اوخوړلو د اضطرار حالت ختم شو او س
چه دے نه زیات خوری نو سخت ګنهګار به وی۔ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ؀
د اضطرار په حالت کښے حرام څیز خو حلال نهٔ ګرځی لیکن الله ج محض د خپل
شان رحمت سره د دے محرمات خوړلو اجازت ورکړو او د دے حالت کښے ئے د
حرام خوړلو ګناه معاف کړه۔

۱۶ه د دے کښے درے اقوال دی: (۱) امام زهری ؒ وائی چه صحابه کرام رض به اکثر
سوال کولو چه د دوئ دپاره کوم څیزونه حلال دی او کوم حرام دی نو دا آیت
نازل شو (۲) عدی ابن حاتم او زید بن مهلهل د نبی علیه السلام نه تپوس
اوکړو چه مونږ سپو او بازونو سره ښکار کوو څنے ښکار مونږ ژوندے
بیا مومو او ذبح کوو ئے او څنے څمونږ د رسیدلو نه مخکښے مړ شی د یکښے څمونږ
دپاره کوم حلال دے د دے سره دا آیت نازل شو چه د اصلی جواب نه په

زیات بانده مشتمل دے (۳) دا آیت د سورت د اول سره یعنی اُحِلَّتْ
لَکُمْ بَهِیْمَۃُ الْاَنْعَامِ سره متعلق دے هغې کښې اجمال وو دلته د هغې تفصیل
دے دا آخري قول د ټولو نه مناسب دے اُحِلَّ لَهُمْ کښې ضمیر د ضمیر منکم
لَنَا په ځائے د غائب ضمیر استعمال شوے دے ۔ علامه رضی لیکلی دی چرته
چه د دواړو ضمیرونو استعمال جائز وی هلته د متکلم په ځائے د غائب ضمیر
استعمالیدے شی ۔

فائده :- د شان نزول مطلب دا نه دے چه اول فلانکۍ واقعه شوے
وه او هغې نه روستو دا آیت نازل شو ځکه چه ډیر واقعات چه د کوم حکم دے
آیت کښې ذکر شوے دے د دے آیت نه روستو واقع کیږی ۔ آیت د اول واقعے
سره خاص کولو سره د قرآن په فهم کښې ډیر مشکلات پیدا کیږی ۔ حضرت
شاه ولی الله دهلوی قدس سره فرمائی چه د صحابه او تابعین داویل چه د
آیت فلانکۍ واقعه کښې نازل شو او دا آیت فلانکۍ حادثه کښې نو د هغې مطلب
داوی چه دا آیت فلانکۍ فلانکۍ واقعے ته شامل دے هغه واقعه د دے آیت
د نزول نه مخکښې پیښه شوے وی یا د دې نه روستو (الفوز الکبیر) حضرت
شیخ فرمائی د شان نزول باره کښې چه کوم دا راځی فَنَزَلَتْ دلته فاء
ترتیب زمانی د پاره نه ده بلکه د تعقیب ذکری د پاره ده ۔

ش۲ طیبات نه هغه څیزونه مراد دی کوم نه چه طبیعت سلیمه نفرت
نه کوی یا هغه څیزونه چه د هغې حرمت د کتاب او سنت او اجماع، قیاس نه
ثابت نه وی ای مالیس بخبیث منها او هو کل مالم یات تحریمه فی کتاب
الله او سنۃ او اجماع او قیاس (مدارک ج ۱ ص۲۱۱) ای مالم تستخبثه الطباع
السلیمة ولم تنفر عنه (ابوالسعود ج ۳ ص۵۲۳) طیبات حلال دی او خبائث
حرام لکه چه ئے او فرمائیل لَا تُحَرِّمُوْا طَیِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَکُمْ او بل
یو ځائے کښې ئے او فرمائیل وَیُحِلُّ لَهُمُ الطَّیِّبٰتِ وَیُحَرِّمُ عَلَیْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ
(اعراف ع ۱۹) دا د اصل سوال نه زیاتے دے مشرکین عرب ډیر پاکیزه
څیزونه د خپلو معبودانو د تقرب او تعظیم د پاره محض خپل ګمان سره حرام
کړی وو نو الله تعالی او فرمائیل چه هر پاکیزه څیز ستاسو د پاره حلال دے
لما کانت العرب تحرم اشیاء من الطیبات کالبحیرة والسائبة والوصیلة
والحام اذن من الله تعالی قررهنا ان الذی احل هی الطیبات (بحر ص۲۲۸ جلد ۳،
کبیر ص۵۳ جلد ۳).

ش۳ دا د دویم قول مطابق د اصل سوال جواب دے او دے کښې مضاف
محذوف دے ای صید ما علمتم یعنی د هغه ښکاری حیواناتو ښکار ستاسو
د پاره حلال دے کوم ته چه تاسو تعلیم ورکړی ګڼے درته ځناورو ته کچرے

تعلیم ورکړې شي نو د هغوئ ښکار حلال دے مثلاً سپے، بجو، پړانګ، باز، ماڼغه وغیره د دې د ښکار حلالیدلو دپاره څلور شرطونه دي چه دهغې ذکر به مخکښې راځي مِنَ الْجَوَارِحِ د جارحة جمع ده یعني زخمي کوونکے د جارحة معنیٰ کاسبه (ګټه کوونکے) هم راځي چونکه ښکاري ځناور مالکانو دپاره روزي ګټي ځکه وجه نه هغوئ ته جوارح (کواسب) اُوئیلے شو. مُكَلِّبِيْنَ اى مغرّين یعنی تعلیم یافته ښکاري سپے روستو پریخودونکي دا د علمتم ضمیر نه حال دے.

فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوْا اسْمَ اللّٰهِ

نو خورئ د هغې نه کوم چه اونیسي ۲۲ ستاسو دپاره دا او د الله نوم واخلئ په

عَلَيْهِ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ④

هغې باندې او وویریږئ د الله ج نه بیشکه الله زر اخستونکے دے د حساب ۵

اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ

نن ۲۳ حلال شول ستاسو دپاره پاک څیزونه او د اهل کتاب

اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ۪ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۪ وَ

خوراک ستاسو دپاره حلال دے او ستاسو خوراک هغوئ دپاره حلال دے ۳ او

الْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ

حلال دے ستاسو دپاره پاک لمنې ښځې ۲۴ د هغو نه چا ته

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ

چه ورکړې شوې دے ستاسو نه مخکښې کتاب چه کله ورکړئ هغوئ

اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ

ته مهر د هغوئ قید کښې راوستلو دپاره نه چه مستي ویستونکي یئ او نه پټ پټه

اَخْدَانٍ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ ؗ

یاران کوونکي او څوک چه منکر شو ۲۵ د ایمان نه نو ضائع شو محنت د هغه

وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ⑤ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او په آخرت کښې به هغه د تاوانیانو نه وی ۴۔ اے

اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ

ایمان والاؤ! کله چه کله تاسو مانځه ته پاځئ نو اودینځئ خپل مخونه

وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَ

او لاسونه تر څنګلو پورې او مسح اوکړئ خپلو سرونو باندې ۸ او

اَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ۭ وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا

خپې تر ګیټو پورې او کچرې تاسو په جنابت کښې ئې نو ځانونه ښهٔ پاک کړئ.

نکات:- ۱ داد ښکاری حیوانا تو د تعلیم یافته کیدلو علامه ده.
۲ دوباره ذکر د پاره د اظهارِ احسان دا شان د روستو راتلونکی زیاتی بیانونو د پاره ۳ مراد حلاله (ذبیحه) ده ۴ یعنی هغه ذبیحه چه څکښې دوئی باندې حرام وه ۵ مراد حورهٔ عفیفه ده (آزاده پاک لمنه) ۶ یعنی ظاهرًا په صورت د زنا ۷ باطنًا په پټه ۸ جواب د سوال مقدر ذبیحه او ښځو سره د نکاح کولو نه دا شبه کیدله چه کیدے شی د هغوئی مذهب هم صحیح وی ۹ امر مصلح یعنی اودس یا تیمم سره مونځ د هغې فرائض او اداب سره اداء کړئ دے سره به ستاسو خپل مینځ کښې بغض لرے شی.

موضح القرآن:- ف۱ د ځارو و حکم ئې اوفرمائیلو بیا خپلو تپوس اوکړو د نورو خیزونو نو وئې فرمائیل چه پاکیزه خیزونه ستاسو د پاره حلال دی نو نبی علیه السلام چه کومو خیزونو نه منع اوفرمائیله معلومه شو چه هغه پاکیزه نهٔ دی که څیری کونکی ځناور یا مرغان مثلاً زمرے یا پړانګ باز، شنده او د یکښې بقول مردار خوارهٔ داخل شول او لکه خر، خچر او لکه د زمکے چینجی مثلاً منګک وغیره او اول ئې حرام اوګرځول هغه کوم چه هغه ئې حلال اوګرځولو چه کله هغه د انسان خوئې زده کړو نو لکه چه هغه انسان حلال کړے وی او س د هغې نه چه ښکاری یا تعلیم یافته حیوان وژلے وی او بیائې مالک ته راوړی پخپله ئې نهٔ خوری او د الله نوم اخستل شرط دی د شپږلو په وخت ځکه چه د دے نه بغیر ذبح صحیح نهٔ ده لیکن که هیر شی نو معاف ده.

ف۱ وے فرمائیل چه نن ستاسو دپاره ټول پاکیزه څیزونه حلال شول یعنی د حضرت ابراهیم علیه السلام د وخت نه دا ټول څیزونه حلال وو چه کله تورات نازل شو نو یهودیانو ته د سزا ورکولو دپاره ډیر څیزونه منع او حرام شول او په انجیل کښے د حلال او حرام بیان اونشو اوس په قرآن مجید کښے هغه د دین ابراهیم علیه السلام موافق ټول حلال شول او وے فرمائیل چه د کتاب والاؤ طعام حلال دے یعنی د هغوئ ذبح اول ئے د ذبح شرط ذکر کړو چه د الله ج نوم ذکر شوے وی او د غیر الله تعظیم نه وی . دلته ئے دا شرط او فرمائیلو چه ذبح کونکے مسلمان وی یا اهل کتاب یعنی یهود یا نصاری د بل کوم مذهب یا دین والا ذبح حلال نه ده اگرچه نوم د الله واخلی د هغه نوم اخستل معتبر نه دے . او وے فرمائیل چه داشان مسلمان دپاره د هغوئ د ښځوسره نکاح حلال ده د نورو سره حلال نه ده نو چه کوم شرطونو سره د مسلمانانو خپل مینځ کښے نکاح صحیح ده داشان د هغوئ نکاح هم صحیح ده . بیا ئے او فرمائیل چه اهل کتاب د نورو کافرانو نه دوه حکمونو کښے مخصوص کړے شول دا صرف په دنیا کښے دی او په آخرت کښے هر کافر خراب دے کچرے نیک عمل هم او کړی نو قبول نه دے .

فتح الرحمٰن :- ف۱ مترجم وائی یعنی نه خوړلے شوے د درندہ وی د خپل خوراک دپاره . والله اعلم ف۲ مترجم وائی په وخت د لیږلو د ښکاری حیوانات والله اعلم ف۳ مترجم وائی یعنی کوم چه اهل کتاب دپاره حلال وو ستاسو دپاره هم حلال دی لکه ، چیلئ ، غوایان او هغه چه ستاسو دپاره حلال شوی دی د دوئ نه چه کوم مسلمانان شی هغه دپاره حلال دی لکه اوښ او ذی ظفر او د یهودیانو د نصاری قبیله د باب کښے څه اعتبار نه لری . والله اعلم ف۴ مترجم وائی محصنات دلته د امام صاحب په نزد باندے په معنیٰ نیکے سره ده او د امام شافعیؒ په نزد په معنیٰ د آزاد او د غَيْرَ مُسَافِحِيْنَ نه مفهوم شو که چه نکاح متعه صحیح نه شوه او د وَلَا مُتَّخِذِیٓ اَخْدَانٍ نه معلومه شوه چه پټه نکاح صحیح نه ده . والله اعلم .

حاشیه :- ۲۲ کله چه تاسو تعلیم یافته ښکاری حیوان ښکار پسے پریږدئ او هغه ښکار اونیسی وے ساتی او هغه نه څه خوراک اونه کړی نو بوره شی چه هغه تعلیم یافته دے د هغه وژلے شوے ښکار خورئ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ چه کله ښکار کونکے حیوان پریږدئ نو هغه وخت بسم الله وائی دے آیتونو نه د ښکار د حلال والی لاندینی شرطونه معلوم شول .

(۱) ښکاری حیوان به تعلیم یافته وی دا شرط عَلَّمْتُمْ او تُعَلِّمُوْنَهُنَّ کښے صراحتًا ذکر شوے دے . د حیوان تعلیم یافته کیدلو درے علامات دی اول دا چه هغه پخپله خوښه ښکار پسے نه ځی ترڅو چه مالک هغه ته اشاره نه وی کړی دویم دا

چه ښکار پسے د پریخودلو نه روستو کچرے مالك هغه واپس را وغواړی نو واپس راشی دا د دواړه تعبیرے د مُکَلِّبِیْنَ نه مفهوم کیږی دریم دا چه هغه ښکار د اوښتی نو ورے ساتی خوری ئے نه دا په کُلُوْا مِمَّآ اَمْسَکْنَ عَلَیْکُمْ کښے صراحت سره مذکور دے (۲) ښکاری حیوان ښکار پسے روستو پریخودل دا شرط په مُکَلِّبِیْنَ کښے صراحت سره مذکور دے کچرے ښکاری حیوان د مالك د اشارے نه بغیر ښکار پسے لاړ او مالك بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ اووئیل نو هغه ښکار به حلال نه وی (۳) د حیوان پریښودلو په وخت بِسْمِ اللّٰهِ وئیل دا شرط هم وَاذْکُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَیْهِ کښے صراحت سره ذکر شوے دے (۴) ښکاری حیوان ښکار زخمی کړی دا شرط د الجوارح تعبیر نه مفهوم کیږی کچرے ښکاری سپی سویه (خرگوش) د مری نه اونیوله او ساه ئے ورله خفه کړه او د ساه بندیدلو په وجه مړه شوه او څه زخم پرے رانغی نو هغه به حلال نه وی د دے مذکوره شرطونو سره شوے ښکار صرف هغه حالت کښے حلال دے چه کله د مالك ورسیدلو پورے هغه نه ساه ختلے وی کچرے د مالك ورسیدلو پورے هغه ژوندے وی نو په هغه به شرعی ذبح (حلاله) لازم وی کچرے مالك ښکار ژوندے بیا موندلو او هغه ذبح کولو مهلت هم ورته ملاو شو لیکن ذبح ئے نه کړو نو هغه ښکار به حرام وی.

۲۳ دا دوباره ذکر کول احسان باندے د خبر ورکولو د پاره شویدی یا تاکید د پاره لکه چه خازن لیکلی دی دا شان دا د راتلونکی حکم د پاره تمهید دے. وَطَعَامُ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ الخ دلته د طعام نه ذبیحه مراد ده ځکه چه د اهل کتاب باقی د خوراك څیزونو په حلال والی کښے هیڅ کلام نشته المراد به الذبائح لان غیرها لم یختلف فی حله وعلیه اکثر المفسرین (روح ج ۶ ص ۶۵) اهل کتاب نه دلته قول یهود او نصاری مراد دی لیکن د دوئ ذبیحه په دے شرط حلال ده چه د الله نوم اخستلو سره ذبح اوکړی کچرے یو یهودی د حضرت عزیر ؑ نوم واخستلو یا یو عیسائی د حضرت عیسیٰ علیه السلام په نوم ښاروے حلال کړو نو هغه به حلال نه وی وَطَعَامُکُمْ حِلٌّ لَّهُمْ دے کښے خطاب مؤمنانو ته دے او مطلب دا دے چه اے ایمان والاؤ کچرے تاسو خپله ذبیحه یا نور د خوراك څیزونو نه څه شے اهل کتابو ته ورکړئ خوراك د پاره نو په تاسو باندے د دیکښے څه تنګی نشته لیکن حضرت شیخ فرمائی یهود یا نو باندے محکښے نه ذی ظفر یعنی د نوکونو والا ښاروے حرام وو لکه چه ارشاد دے: وَعَلَی الَّذِیْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا کُلَّ ذِیْ ظُفُرٍ (انعام ع ۱۸) او س په قرآن کریم کښے دا قسم ښاروی هغوئ د پاره حلال کړے شول (شاه عبد القادر رح)

۲۴ مُحْصَنٰتُ نه عفیف او پاك لمنے ښځے مراد دی خواه ازاد وی یا وینځے دا اقوال ابراهیم نخعی، شعبی او حسن بصری رح نه منقول دے.

والمراد بهن عند الحسن والشعبي و ابراهيم العفائف (روح) او د عفائف قيد احترازي نهٔ دے بلکه محض د پاک دامن ښځو سره د نکاح ترغيب ورکولو دے. دے د پاره چه د دوئ نه چه پيدا کيږي نيکي اولاد پاکيزه اخلاقو سره متصف وي او د رذيل اخلاقو نه پاک وي (روح، خازن ج۲) وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ دلته هم مُحْصَنٰت نه عفيف او پاک دامن ښځې مراد دي خواه آزادې وي يا د ښځې يعني د يهوديانو او نصارىٰ ؤ ښځو سره د مسلمانانو نکاح کول حلال کړے شويدي. پاک دامن قيد دلته هم د پورتني ذکر شوي حکمت د پاره دے الخ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ اُجُوْر نه مراد مهرونه دي مهور جمع د مهر ده. مهر ورکولو نه شرط سره تعبير کولو کښې د مهر اداکولو تاکيد او د اداکولو د وجوب طرف ته اشاره ده. مُحْصِنِيْنَ دا د اٰتَيْتُمُوْهُنَّ د فاعل نه حال دے څنګه چه ئے ښځو کښې د احسان او پاک دامنۍ صفت ذکر کړے وو دا شان ئے په سړو کښې هم د عفيف او پاکدامن کيدلو قيد اولګولو او دے سره هم د سړو د پاکيزه او بے داغ ژوند تيرولو ترغيب ورکول مقصود دے. فکما شرط الاحصان في النساء وهي العفة عن الزنا كذلك شرطها في الرجال الخ (ابن کثير ج ۲ ص۲) غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ د دواړو هم د محکښې پشان حال واقع شوي دي دے دواړو لفظونو سره ئے د مُحْصِنِيْنَ د مفهوم تاکيد او توضيح کښې بې پاتے شي نه خو دے دا سے کوي چه د هر يو ښځې سره هم د بدکارئ موقع په لاس راشي او بدکاري اوکړي او نه دے مخصوص ښځو سره پټه دوستانه ساتلو سره دا سے اوکړي.

۲۵ دا د سوال مقدر جواب دے سوال دا وو چه کله د اهل کتاب ذبيحه حلال ده او د هغوئ ښځو سره نکاح هم صحيح ده نو ښايد چه د هغوئ مذهب صحيح وي نو د دے جواب ئے دا ورکړو چه د ايمان د پاره د ټولو احکامو د زړهٔ نه منل او ټولو شرائع باندے عمل کول ضروري دے اهل کتاب چونکه د اسلام ټول احکام او شرائع نهٔ مني د دے وجه نه د هغوي مذهب باطل دے د دے شبه اظهار پخپله د اهل کتاب ښځو هم مسلمانانو ته کړے وو چه کله الله تعالىٰ خمونږ سره ستاسو د نکاح کولو اجازت ورکړے دے نو دينه معلومه شوه چه هغهٔ ته خمونږ دين هم خوښ دے لما قال الله تعالىٰ والمحصنٰت من الذين اوتوا الكتٰب قال نساء اهل الكتٰب لولا ان الله رضي ديننا لم يبح لكم نكاحنا (قرطبي ج ۶ ص۷۹) کله چه الله تعالىٰ مسلمانانو ته د يهوديانو او عيسايانو ښځو سره د نکاح کولو اجازت ورکړو نو د يو بل سره د اختلاط او استوګنې سره دا خطره کيدله چه خاوند د غير مسلم ښځې د ځنې مذهبي خيالاتو نه متاثر شي هغه مذهب قبول کړي د دے وجه نه ئے د نکاح کولو سره او د ويرول چه خبردار په خپل ايمان قائم

کړي او د شیخ د خیالاتو نه متأثر کیدلو سره د ایمان سره غداري او نه کړي ارسیږي او د ټولو اعمال به موضائع او په آخرت کښې به په تاوان کښې پریوځي -

۲۷ دا یفاء د عقود عام حکم نه روستو دے خلور واړه مسئلے (تحریمات الله، تحریمات غیر الله، د الله ج نذرونه او د غیر الله نذرونه) بیان کړل او خپل مینځ کښې د بغض او دشمنۍ ساتلو نه منع اوکړه او س دلته ئے دیو امر مصلح (مونځ) ذکر اوکړو ځکه چه د مانځه په وجه سره د ظاهر او باطن پاکوالے کیږي دا شان مونځ د وعدو پوره کولو، حرام حرام ګنړلو او حلال حلال ګنړلو کښې او خپل مینځ کښې د بغض او دشمنۍ لرے کولو کښې امداد کونکے دے لکه چه د الله ج ارشاد مبارک دے إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ (عنکبوت ۴۵) او صحیح حدیث کښې دی سوّوا صفوفکم او لیخالفن الله بین قلوبکم یعنې مانځه کښې صفونه برابر کړئ کنې نو الله تعالیٰ به ستاسو زړونو کښې بغض او دشمني پیدا کړي ، مونځ سره ئے د طهارت (وضوء ، تیمم ، غسل) احکام هم بیان کړل ځکه چه طهارت د مانځه دپاره شرط دے د دهٔ نه بغیر د مانځه نه د ده متعلقه فائدے نشي حاصلیدے - مطلب دا دے چه مونځ د ټول آداب او شرائط سره ادا کړئ دے دپاره چه د دهٔ مطلوبه فائدو نه حصه حاصلولے شي -

۲۷ه أَرْجُلَكُمْ عطف دے وُجُوْهَكُمْ باندے او هغه د فاغسلو د لاندے داخل دے او د مخ لاسونو پشان د خپو وینځل هم فرض دی یو قرائت کښې وَأَرْجُلِكُمْ زیر سره راغلے دے نه شیعه ګانو دا مسئله راویستلے ده چه د جر په حالت کښې د دهٔ عطف په رُءُوْسِكُمْ باندے دے د دے وجه نه دسر په شان په خپو هم مسح فرض ده و وینځل فرض نهٔ دی د دے دوه جوابونه دی: (۱) أَرْجُلِكُمْ د جر قرائت په صورت کښې هم په اصل کښې منصوب دے او د دهٔ عطف په وُجُوْهَكُمْ باندے دے رءوسکم باندے نهٔ دے او د ارجلکم جر د جوار په وجه دے یعنې رُءُوْسِكُمْ سره ګاونډ کښې د واقع کیدلو په وجه مجرور دے او د ده حکم هغه دے کوم چه د وجوهکم دے یعنې وینځل (۲) د محققینو مسلك دا دے چه په یو آیت کښې دوه مختلف قراتونه د دوه مستقل آیتونو په حکم کښې وی او هر آیت یو ځانله مستقل حکم ثابتوي - دے آیت کښې هم چونکه دوه قراتونه دی لهذا دا به د دوه آیتونو په حکم کښې وی او د دینه د خپو باره کښې دوه مختلف حکمونه ثابتیږي یو د خپو وینځلو دویم په خپو باندے د مسح کولو د دواړه حکمونه متضاد دی او د یکښې جمع ممکن نهٔ ده د دے وجه نه به دا دواړه حکمونه مختلف حالتونه محمولولے شي اول قرائت کوم چه د خپو د وینځلو حکم ورکوي هغه په هغه حالت محمول دے چه کله خپے په موزو کښې نهٔ وي او دویم قرائت کوم چه په خپو باندے د مسح ورکولو حکم ورکوي نو هغه

چه کله چې موزو کښې وي يا په هغې باندې محمول دے دا شان په دواړو قرأتونو باندې
عمل کيدے شي فَاطَّهَّرُوْا د مجرد په ځائے د باب تفعل استعمال مبالغې دپاره
دے يعني د جنابت په غسل کښې مبالغه اوکړئ او د بدن هر هغه حصّه ته اوبه
اورسوئ کوم ځائے ته چه اوبو رسولو کښې سختي نه وي اى فاغتسلوا على اتم
وجه (روح ص۸۴ ج۶) دا شان دا آيت د جنابت په غسل کښې د مضمضه (خله
کښې اچول) او استنشاق (پوزه کښې اوبه اچول په وجوب باندے نص دے
ځکه چه په پوزه کښې اوبه اچولو کښې څه تکليف نشته بے تکليفه پرے عمل
کيدے شي۔

وَإِنْ كُنْتُمْ مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ

اوکه چرے تاسو بيمار ئے يا په سفر کښې يئ ۲۸ يا ستاسو نه څوک راغلے د

مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا

ضروري (اودس ماتي) ځائے نه يا تاسو ورغلي ئے ښځو ته فلا بيا اوبه نه مومئ

مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ

تاسو نو قصد اوکړئ د خاورے پاکے او مسح کړه خپل مخ

وَأَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ۭ مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ

او لاس د هغې نه الله ج نه غواړي چه په تاسو

مِّنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ

تنګي اوکړي ليکن غواړي چه تاسو پاک کړي او پوره کړي

نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۶﴾ وَاذْكُرُوْا

خپل احسان په تاسو باندے دے دے دپاره دے چه تاسو احسان ومنئ او ياد کړئ

نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمِيْثَاقَهُ الَّذِيْ وَاثَقَكُمْ

احسان د الله ۲۹ په خپل ځان باندے او وعده د هغه کوم چه تاسو سره کړے

بِهٖٓ ۙ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ز وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ

وه کله چه تاسو اوويئل چه مونږ واوريدل او اومومنل فلا او ووېريږئ د الله ج نه

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ⑦ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

الله ﷻ ښه پېژنی د ژړونو خبره ف۱ اې

آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ ۖ وَ

ایمان والاؤ ف۳ اودرېږئ د الله ﷻ دپاره دګواهئ ورکولو دپاره انصاف سره او

لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُوا ۚ اعْدِلُوا

د یو قوم د دشمنئ په وجه سره انصاف هوګز مه پرېږدئ عدل کوئ

هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ

دا خبره زیاته نژدې ده تقوای ته او وویرېږئ د الله ﷻ نه الله ﷻ

خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ⑧

ښه خبر دې په هغې کوم چه تاسو کوئ ف۱

نکات :- ف۱ سورت نساء کښې ددې تحقیق ذکر شوې دې ف۲ امرِ مصلح نه روستو ئې د سورت د ابتدائی مضمون (اوفوا بالعقود) اعاده اوکړه۔ ف۳ یعنی وعده او اقرار چه تاسو د بیعت په وخت کړې وو ف۴ دا آیت قرینه ده چه د اوفوا بالعقود نه التزام د احکام الٰهیة مراد دې ف۵ دا د لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ د مضمون اعاده ده یعنی په انصاف سره حکم کوئ کنی چوې ښې ظلم لیدلو سره ستاسو چپ پاتې کېدل به هم په ظلم کښې داخل وی۔

موضح القرآن : ف۱ الله تعالیٰ اهل کتاب ته یاد کېرنه ورکوی چه څنګه په وعده باندې قائم او سیږی دا شان ئې په مونږ تاکید اوکړو چه هغه وعده یاده کړئ کله چه به خلق مسلمانېدل نو حضور صلی الله علیه وسلم به ئې بیعت کولو یعنی د هغه لاس به ئې اونیولو او قول اقرار به ئې کولو د ټولو څیزونو کول لکه پنځه وخته مونځ کول او د رمضان روژه او زکوٰة او حج او د مسلمانانو خیرخواهی او د ډېرو څیزونو د پرېښودلو لکه قتل او زنا او غلا او تهمت لګول په بې ګناه باندې او د خپل سردار نه د مخالفت کولو د اقرار باندې او فرمائیل چه په دې قائم او سیږئ ف۲ اکثر کافرانو مسلمانانو سره لویه دشمنی کړې وه روستو مسلمانان شول نو دې ئې فرمائیل چه د هغوی د دشمنئ مه او باسئ او هر ځائې دا حکم دې حق خبره کښې دوست او دشمن برابر دې۔

فتح الرحمٰن : ف۱ مترجم وائی یعنی جماع مو کړے وی او د امام شافعیؒ په نزد بانده لاس رسیدل هم ناقض دی. تہ د اودس ماتونکے دے - والله اعلم
ف۲ یعنی هذه وعده چه د بیعت وخت کښے تاسو کړے ده

حاشیه : ۲۸ دلته د اَوْ لفظ بالکل هغه شان دے څنګه چه په سورهٔ نساء کښے د اودس په آیت کښے وارد شوے دے د دے پوره تحقیق سورهٔ نساء کښے تیر شوے دے - حاشیه نمبر ۳۴ صفحه نمبر ۲۵۔

ف۲۹ د امر مصلح نه روستو ئے د سورت ابتدائی مضمون یعنی د اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ دوباره ذکر کړے دے اول ئے د تمهید په طور د خپل نعمت یادګیرنه ورکړه. د نعمت نه مراد اسلام دے وَهِيَ نعمة الاسلام (روح ج ۶ ص۸۲، ابوالسعود ج ۳ ص۵۳) اسلام د الله تعالیٰ د ټولو نه لوے نعمت دے څکه چه د ټول بنی ادم دینی او دنیوی فائده او بهتری د دے سره تړلے شوے ده وَمِيْثَاقَهُ الخ دینه هغه وعده مراد ده چه هر مسلمان ئے د الله ج د حدود او احکام او فرائض او واجبات او د حلال، حرام په ځائے راوړلو د پاره د الله ج سره کوی - دا آیت قرینه ده چه د اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ نه د ټولو احکام او حدود پابندی مراد ده -

ف۳۰ دا هم د اول مضمون اعاده ده د الله تعالیٰ د عقود او حقوق د خپل امکانی طاقت مطابق په ځائے د راوړلو کوشش اوکړئ د عدل او انصاف لمن د لاس نه پریے نږدی او د بغض او عداوت په بناء بانده د حق او انصاف نه مخ مه اړوئ. د دے کښے وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ د مضمون اعاده ده. وَعَدَ اللهُ الخ د احکامو او حدودو بیانو لو نه روستو هغه خلقو ته اخروی بشارت ورکړے شو څوک چه دا په ځائے راوړی او د الله ج حدود قائموی. وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ دا د هغه خلقو د پاره وعید او تخویف اُخروی دے څوک چه د الله احکام د خپلو لاندے کړی او د هغه حدود مات کړی.

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

وعده اوکړه الله ج مؤمنانو سره او څوک چه نیک عمل کوی

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۹﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه هغوی د پاره بخشش او لوئے ثواب دے او کوم خلقو چه کفر اوکړو

وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۰﴾

او دروغ ئے اوګڼړل آیتونه زمونږ ده هغوی دوزخیان دی ۳۱

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ

اے ایمان والاؤ یاد اوساتئ د الله ج احسان خپل څانونو باندے

إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوٓا۟ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ

کله چه قصد اوکړو خلقو چه په تاسو لاسونه اوچلوی ولے

فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ وَعَلَى

بیاۓ بند کړو ستاسو نه دهغوئ لاسونه او ویریږئ د الله ج نه او په

ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ ع وَلَقَدْ أَخَذَ ٱللَّهُ

الله ج بهروسه پکار دہ مؤمنانو لرہ ۲ او اخستے دہ الله ج

مِيثَٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ ٱثْنَىْ

وعدہ ۳ د بنی اسرائیلو نه او مقرر کړو مونږ دوئ نه

عَشَرَ نَقِيبًا ۖ

دولس ۱۳ سرداران

نکات: ۔ ۱ وعدہ او اقرار پورہ کونکو دپارہ او آمرین بالقسط لپارہ بشارت اخروی دے ۲ وعدہ ماتونکو دپارہ تخویف اخروی ۳ یعنی وعدے پورہ کړئ او بے حرمتی کونکی بے حرمتی ته مه پریږدئ او هغوئ نه مه ویریږئ کچرے تاسو دهغوئ نه ویریږئ نو په الله ج بهروسه اوکړئ څنګه چه هغهٔ تاسو دینه مخکښے بچ کړی وُئ هغه به اوس هم ستاسو حفاظت کوی ۴ د وعدے ماتولو د دوہ نمونو اوله نمونه ۔ یعنی څنګه چه یهودو نه د وعدے ماتولو او د احکامو پریښودلو دوجه نه ځلوبر سزاګانے ورکړے شوے تاسو ته به هم د وعدے ماتولو په صورت کښے هغه سزاګانے درکولے شی۔

فتح الرحمٰن: ۔ ف ۱ مترجم وائی دا معجزه څو ځله ثابت شوے دہ دهغے نه یوہ دا دہ چه نبی علیه السلام د یهودیانو په محله کښے یو پروګرام ته تللے وو د هغوئ نه یو سړی دا غوښتل چه په نبی علیه السلام باندے یو ګټ را اوغورځوی الله پاک د هغه سړی لاس بند کړو او دهغے نه تولو نه یوہ بلا

دا ده چه د قریشو کافرانو په حدیبیه کښې د جنګ اراده لره خو الله تعالیٰ
هغوئ بند کړل او د هغې ځنې دا ده مسلیمه کذاب د دوستانو نه یو تن لاس
اوبړ دول غوښتل الله تعالیٰ د هغه لاس سخت او کړځولو ۳۰ یعنی جنګ
دے اوکړی . والله اعلم ۱۲

حاشیه :- ۳۱ نیر شوے حکم دوباره ذکر شوے دے د الله ج انعامُ
یاد کړئ او د انصاف حکم کونکی جوړ شئ د عدل او انصاف په لاره لاړ شئ د
الله تعالیٰ سره ټولے کړے وعدے پوره کړئ او د شعائر الله بے حرمتی
کونکی بے حرمتئ ته مه پریږدئ کچرے د یهودیانو نه   خوله چه د شعائر
الله بے حرمتی کوی ستاسو څه خطره وی نو د هغې پروا مه کوئ او الله ج نه
اوویریږئ د هغه ج د نافرمانئ نه ځان بچ کړئ او هغه باندے یقین اوساتی
ځنګه چه هغه په یوه موقعه باندے د کافرانو د حملے نه او د هغوئ د شر نه تاسو
محفوظ اوساتلئ هغه به اوس هم د یهودیانو د شرارت نه ستاسو حفاظت اوکړی
اِذْ هَمَّ قَوْمٌ دا یو واقعی طرف ته اشاره ده حضرت جابر رض فرمائی چه
نبی علیه السلام د صحابه کرامو رض سره مقام عسفان کښې د ماسپخین مونځ اداء
کړو نو چه مشرکانو دوئ اولیدل افسوس ئے اوکړو چه هغوئ په دوئ باندے
د مانځه په حالت کښې حمله وے اونکړه چه ختم کړی ئے وے . دے نه روستو
هغوئ منصوبه تیاره کړه پروا نشته د مازیګر مانځه په وخت کښې به دوئ
باندے حمله کوو الله تعالیٰ د صلوٰة خوف (د جنګ په حالت کښې د مانځه طریقه)
حکم نازل کړو د هغوئ منصوبے ئے خاورو سره ملاؤ کړے (روح ص۸۴ ج۶
مظهری ص۴۳ ج۳) ایمان والاؤ ته په خدائے یقین ساتل پکار دی د یهودیانو
او نصاراؤ له طرفه نه په زړه کښې څه خطره یا ویره ساتل نه دی پکار په یهودیانو
باندے مونږ لعنت مسلط کړے دے او ذلیل کړی موهم دی او په نصاراؤ کښې
مونږ اختلاف اچولے دے هغوئ به تاسو سره جنګ اونه کړے شی .

۳۲ د سورت په ابتداء کښې ئے د عقود په پوره کولو او د اسلام د حدود او
احکام د پابندئ حکم ورکړو دے نه روستو ئے د تحلیل او تحریم ځنې حدود بیانُ
کړل او په آخر کښې منونکو او د ذکر شوو وعدو پوره کونکو ته اُخروی
بشارت او نه منونکو ته او وعدو ماتونکو ته د اُخروی عذاب وعید واورولو .
اوس دلته ئے د وعدو ماتونکو د سزا دوه نمونے بیان کړے چه د دینه مسلمانانُ
عبرت واخلی او د وعدو ماتولو نه ځان بچ کړی اول ئے د بنی اسرائیلو یهودو
نه د وعدے اخستلو ذکر اوکړو د میثاق نه د الله ج د توحید قائمولو ، د شرک
نه د بچ کیدلو ، او د هغه په رسولانو باندے ایمان راوړل او د هغه د احکامو د
پیروئ کولو عهد مراد دے . دے طرف ته لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ الخ کښې اشاره

ده و معنی الایة إن الله اخذ میثاقهم ان یعبدوه و لا یشرکوا به شیئا و ان یعملوا بما فی التوراة من الاحکام و التکالیف (خازن ج ۲ ص ۲۱) وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ الخ د نقیب معنیٰ دقوم سردار (مشر) او دقوم له طرفه ذمه واری اوچتونکے۔ النقیب کبیر القوم (قرطبی ج ۶ ص ۱۱۲) قال ابن عباس رض النقیب الضمین (خازن) الله تعالیٰ حضرت موسیٰ علیه السلام ته حکم ورکړو چه هغه د بنی اسرائیلو ودولس ۱۲ قبیلو نه د هرې قبیلې یو مشر غوره کړو او د هر یو په ذریعه د هرې قبیلې نه بره ذکر شوې وعده او اقرار واخلی۔ امر جل شانه موسیٰ علیه السلام ان یاخذ من کل سبط کفیلا علیهم بالوفاء فیما امروا به فاخذ علیهم المیثاق الخ (روح ج ۶ ص ۸۵)



وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّیْ مَعَكُمْ ۭ لَىِٕنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ

او اووئیل الله جل جلاله زه ستاسو سره یم ۳۳ که چرې تاسو قائم کړئ مونځ ۳۴ ته

وَاٰتَیْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ

او ورکوئ زکوٰة او یقین اوکړئ حمایه رسولانو باندې او مدد کوئ دهغوئ

وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ

او قرض ورکړئ الله ته ښه طریقه باندې قرض ورله نو خامخا به زه لرې کړم

عَنْكُمْ سَیِّاٰتِكُمْ وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ

ستاسو نه ګناه ستاسو او داخل به کړم تاسو باغونو کښې چه دهغې د لاندې

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ

بهیږی به نهرونه بیا چه کله څوک کافر شو ستاسو نه د دینه

مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِیْلِ ﴿۱۲﴾ فَبِمَا

روستو ۳۵ نو هغه بیشکه ګمراه شو د سمې لارې نه ۱ نو د هغوئ

نَقْضِهِمْ مِّیْثَاقَهُمْ لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ

وعدہ ماتولو باندې ۳۶ مونږ په هغوئ لعنت اوکړو او سخت مو کړل

قٰسِيَةً ۚ يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ ۙ

دوی ئې ونه اړوی کلام د ځایونو ځنې نه

وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۚ وَلَا تَزَالُ

او هیره کړې ئې وه نفع اخستل دهغه نصیحت نه کوم چه دوی ته کړے

تَطَّلِعُ عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ

شوے وو او همیشه به ته خبریږے د دوی په فریب باندے لیکن ۳ لږ خلق د دوی نه

فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

نو معافی اوکړه او مخ واړوه دوی نه الله دوست لری

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳﴾

احسان کونکی

نکات: ۱ دا د نقض عهد اول سزا ده ۲ دا دوېمه سزا ده ۳ دا جمله د لعنّاهم ضمیر نه حال دے یعنی د خدائے مراد بدلوی ذلیل هم شو او دین ئې هم لاړو ۴ ما ذکروا نه توحید مراد دے ۵ دا خلورمه سزا ده.

موضح القرآن: ف ۱ دائے د بنی اسرائیلو نه دوعدے اخستلو بیان اوکړو د حضرت موسٰی علیه السلام په آخری عمر کښې دا اقرار اخستے وو دا سورت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په آخری عمر کښې نازل شو شاید چه مونږ ته ئې دے د پاره وا اوروِلو چه مونږ ته هم دا تاکید دے یو عهد (وعده) هغه اُمت سره وه چه کوم رسول روستو پیدا اکیږی (راځی) دهغه مدد اوکړئ دے بدل کښې ئې حُمونږ نه دا وعده اخستے ده چه د خلفاؤ طاعت کوئ دلته ئې چه د کوم دولس مشرانو ذکر اوکړو دے دپاره چه اشاره ئې کړے ده چه حضور صلی الله علیه وسلم بیان کړے دے چه څما په اُمت کښې به دولس خلیفه کان وی د قریش قوم نه او وئې فرمائیل چه کومه خرابی تیره شوه اُمتو نو کښې شوے وه هغه به تاسو کښې هم وی لکه چه هغوئ خراب شول د پیغمبرانو د مخالفت په وجه سره دا اُمت خراب شو خلیفه باندے د خروج کولو په وجه.

فتح الرحمٰن: ف ۱ یعنی په جهاد کښې ئې خرچ کړو د آخرت د ثواب

په اُمید . والله اعلم

حاشیه ۲۳ معیت نه دلته مراد معیت معنوی دے دے خطاب سره یا ټولو بنی اسرائیلو سره دے یعنی زهٔ ستاسو سره یم ستاسو عملونه وینم او ستاسو اقوال اورم کچرے تاسو وعده پوره کړئ نو څما د حمایت او نصرت به تاسو سره وی او کچرے وعدے ماتوئ نو زهٔ به سزا ورکولو باندے قادر یم والمعنی انی معکم بالعلم والقدرة فاسمع کلامکم وارٰی افعالکم واعلم ضمائرکم واقدر علی ایصال الجزاء الیکم (کبیر ج ۳ ص ۱۷۲)

۲۴ دا جمله شرطیه ده چه د میثاق مذکور سره متعلق پنځهٔ امورو باندے مشتمل ده (۱) کچرے تاسو مونځ کوئ (۲) وَاٰتَیْتُمُ الزَّکٰوةَ او واجب صدقه ورکوئ (۳) وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ او څما ټولو پیغمبرانو باندے ایمان راوړئ (۴) وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ او د دشمنانو مقابله کښے د هغوئ امداد کوئ او د هغوئ ملګرتیا کوئ (۵) وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ او نفلی صدقات سره د قوم د غریبانو امداد کوئ لَاُکَفِّرَنَّ عَنْکُمْ سَیِّاٰتِکُمْ دا د شرط مذکور جزاء ده یعنی که چرے تاسو مذکوره احکام په ځائے راوړئ نو مونږ به د هغے بدله درکوو چه ستاسو ګناهونه به معاف کړو او تاسو به جنت ته داخل کړو.

۲۵ چا چه د دے مؤکد او مضبوطے وعدے نه روستو د دے پوښتو والا هم مات کړو نو هغه بلا شبه د سمے لارے نه بے لارے شو او په نیکه ګمراهئ کښے پریوتلو او د هغهٔ هیڅ یو عذر به نشی قبلولے.

۲۶ د دے نه مخکښے ادماج دے ای فنقضوا عهد الله من بعد میثاقه یعنی سره د پخے وعدے نه روستو هغه ماته کړه الله تعالیٰ خالص د دے وعدے ماتولو په وجه سره هغوئ ته دا سزا کانے ورکړے . لَعَنّٰهُمْ مونږ هغوئ د خپل رحمت نه لرے کړل ذلیل او خوار هم کړل وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِیَةً او د هغوئ زړونه مونږ سخت کړل تردے چه د هغے نه مونږ د حق قبلولو استعداد او طاقت لرے واخسته چه هغه د حق خبرے اوریدلو ته نرم شی . یُحَرِّفُوْنَ الْکَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ لا دا د ماقبل د یاره صفت کاشفه دے . استئناف لبیان مرتبة قساوة قلوبهم فانه لا مرتبة اعظم مما یخشا عنه الاجتراء علی تحریف کلام رب العٰلمین والافتراء علیه عز وجل (روح ج ۶ ص ۹۱) د هغوئ د زړونو تور والے او سختی دے حد ته اورسیدله چه هغوئ د رب العلمین په کلام کښے تحریف کول شروع کړل او په هغهٔ ئے دروغ وئیل او بهتان شروع کړل . وَنَسُوْا حَظًّا الخ نَسُوْا په معنیٰ د تَرَکُوْا دے یعنی په تورات کښے چه د کوم احکامو نصیحت د دوئ ته شوے وو د هغے یو ډیر لوئے حصه باندے هغوئ عمل کول پریښودل دا د وعدے ماتولو عذاب وو چه

دهغوئ عوام او خواص کښے بدعملی خوره شوه او د دین دولت نے هم د لاس نه لاړو. وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰی خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ خائنه به معنی دخیانت سره دے دا هم د نقض عهد نتیجه دکه چه هر وخت به دین کښے خیانت کولو او دهوکه کولو ته نے ملا تړلے ده او خیانت وعده خلافی د دوئ همیشه عادت گرځیدلے دے او هغوئ د دے هیڅ یوه موقعه نه پریږدی به دهوکه او خیانت کښے هغوئ بالکل دخپلو مشرانو په قدم باندے روان دی والمعنی ان الغدر والخیانة عادة مستمرة لهم و لاسلافهم کما یعلم من وصفهم بالتحریف وما معه الخ (روح ج ۶ ص۹۰) ای هٰذه عادتهم ودینهم معك وهم علی مکان اسلافهم من خیانة الرسل وقتلهم الانبیاء فهم لا یزالون یخونونك وینکثون عهودك ویظاهرون علیك اعدائك ویهمون بالفتك بك (بحر ج ۳ ص۴۴۲) د موجوده زمانے علماء سوء کښے پورتنئ خلوره واړه خبرے پوره پوره موجود دی.

۳۷ دا د ماقبل نه استثناء ده او د دینه هغه خلق مراد دی چاچه د دوئ نه اسلام راوړه او خپل تیرو شوو گناهونو او تحریف خیانت نه توبه ویستونکی شول. وهم عبد الله بن سلام واصحابه الذین اسلموا من اهل الکتب (خازن جلد ۲ ص۲۳) فَاعْفُ عَنْهُمْ الخ عَنْهُمْ ضمیر نه هغه خلق مراد دی کوم چه د ماقبل نه مستثنیٰ کړے شویدی یعنی د اهل کتاب مؤمنان. وئ فرمائیل دوئ ته معافی اوکړه او د دوئ د تیرو شوو گناهونو او د دوئ مخکښے خیانت او وعده خلافی باندے د دوئ نیول مه کوئ. فاعف عن مؤمنیهم ولا تؤاخذهم بما سلف منهم (مدارك ج ۱ ص۲۱۳، بحر) اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ ۝ دا جمله د ماقبل دپاره علت به منزله ده الله تعالیٰ احسان کونکی خوښوی د دے وجه نه تاسو د دوئ سره د احسان او د حسن سلوك معامله اوکړئ. دا د نقض اوله نمونه وه کوم سره چه اهل اسلام ته تنبیه ور کول مقصود دی یعنی څنګه چه یهودیان دوعدے ماتولو او خپلو د احکامو او حدود پامال کولو د وجه نه موږ ذلیل کړل ترد دے چه د هغوئ د لاس نه د هغوئ دین هم لاړو. بچ دے تاسو هم نقض عهد (وعده ماتول) کوئ نو ستاسو سره به هم دا سلوك کولے شی.

وَمِنَ الَّذِیْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓی اَخَذْنَا مِیْثَاقَهُمْ

او هغه خلق چه وائی څان ته نصارٰی د هغوئ نه هم اخستے ده موږ وعده

فَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ

دوی هیر کړو لوی برخه (لویه برخه) د هغې نصیحت نه کوم چه هغوی ته شوی وو بیا مونږ واچوله د هغوی بیا ئې هیر کړه لوی اخستنل د هغې نصیحت

الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۚ وَسَوْفَ

دوی مینځ کښې دشمنی او کینه تر ورځې د قیامت پورې او آخر به خبر ورکړی

يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴿١٤﴾ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ

دوی ته الله تعالی د هغې کوم چه دوی کول ای د کتاب والاؤ

قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِّمَّا كُنتُمْ

راغلی دے تاسو ته رسول زمونږ ښکاره کوی تاسو ته ډیر څیزونه کوم چه تاسو

تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ ۚ قَدْ

پټول د کتاب نه او معافی کوی د ډیر څیزونو نه بیشکه

جَاءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ يَهْدِي بِهِ

راغلی دے تاسو ته د الله ج د طرفه رڼا او کتاب ظاهرونکے لکه کوم سره چه الله

اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُم

هدایت کوی هغه ته چه تابع وی د هغه د رضا د سلامتئ لارے ته او هغوی راوباسی

مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ

د تیارونه رڼا ته خپل حکم سره روانوی ئې په

صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٦﴾ لَّقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ

سمه لاره باندے بیشکه کافران شول هغه چا چه او وئیل چه

اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۖ

الله خو هم دا مسیح دے د مریم څوئے

نکات: ۔ سل د نقض عهد د سزا دویمه نمونه یعنی چه څنګه به نصاری کښې بغض او عداوت اچول شوید ے دا شان به تاسو کښې هم واچول شی

سے د حصه اول دوئم مضمون یعنی نفی د شرک اعتقادی یا نفی د شرک فی التصرف
سے د نور نه قرآن مجید مراد دے د کِتٰبٌ مُّبِیْنٌ عطف تفسیری دے د قرآن
دوه متغایر صفتونه بیانول مقصود دی سے یهدی به من ینیب ویهدی الیه
من اناب (شوری) سے یٰۤاَهْلَ الْکِتٰبِ قَدْ جَآءَکُمْ رَسُوْلُنَا متعلق دے یعنی اے
اهل کتاب تاسو ته آخری نبی راغلے دے چه صفا صفا وائی هغه خلق کافران دی
څوک چه وائی الله ج د مسیح په شکل کښے راغلے دے یا الله عیسیٰ ؑ ته خیل څنے د
دخدائی اختیار سپارلے دے . دا شرک فی الاعتقاد دے . ددینه منع شی .

موضح القرآن : ف دینه معلومه شوه چه کله د الله تعالیٰ د کلام نه
اتړیتول او د شرع حکم باندے محبت سره قائم پاتے کیدل پریخودل شی او فقط
د مذهب جګړه او حمیت پاتے شی نو دلارے نه او خوځیږی.

فتح الرحمٰن :- ف یعنی ده کښے ئے حلول کړے دے .

حاشیه :- ۳۸ وَمِنَ الَّذِیْنَ قَالُوْۤا اِنَّا نَصٰرٰۤی الخ دا دوعدے ماتولو د سزا
دویمه نمونه ده یعنی مونږ په نصاری کښے د وعدے ماتولو په وجه سره عداوت
واچولو او دهغوئی په زړونو کښے مونږ خپل مینځ کښے بغض پیدا کړو کچرے تاسو
هم وعدے ماتوئی نو تاسو ته به هم سزا ملاویږی. فَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُکِّرُوْا
بِهٖ څنګه چه د بنی اسرائیلو نه د توحید او رسالت او نورو احکامو په ځائے راوړلو
وعده مونږ اخستے وه دا شان نصاراؤ نه هم مونږ وعده اخستے وه لیکن هغوئی هم
د یهودیانو پشان وعده ماته کړه او د الله ج حکمونه ئے د شا لاندے کړل د نبی
علیه السلام تکذیب ئے اوکړو حال دا دے چه په انجیل کښے نبی علیه السلام
باندے د ایمان راوړلو حکم وو او هغوئی د یهودیانو پشان په انجیل کښے هم تحریف
اوکړو . ای فی التوحید والایمان بمحمد صلی الله علیه وسلم اذ هو مکتوب فی
الانجیل (فَنَسُوْا حَظًّا) وهو الایمان بمحمد علیه الصلوٰة والسلام ای لم یعملوا
بما امروا به وجعلوا ذٰلک الهوی والتحریف سببًا للکفر بمحمد صلی الله علیه
وسلم (قرطبی ج ۶ ص ۱۱۷)

۳۹ فَاَغْرَیْنَا بَیْنَهُمُ الخ بَیْنَهُمْ کښے ضمیر نصاراؤ ته راجع دے او ددینه دهغوئی
مختلف ډلے مراد دی مثلاً یعقوبیه نسطوریه او ملکانیه وغیره یعنی نصاراؤ
څو مونږ وعده او میثاق مات کړو نو مونږ به دنیا کښے هغوئی ته دا سزا ورکړه
چه هغوئی مونږ په مختلفو ډلو کښے تقسیم کړل او د هغوئی مینځ کښے مونږ بغض
او عداوت اوږل کړو چه تر قیامته به باقی پاتے وی وَسَوْفَ یُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ
بِمَا کَانُوْا یَصْنَعُوْنَ ۝ د نقض عهد سزا د دنیا کښے خو هغه وه کومه چه مخکښے
ذکر شوه دلته ئے د اُخروی عذاب وعید واورولو چه دنیا کښے هغوئی کومه
وعده خلافی او خیانتونه کړی دی په آخرت کښے به هم هغوئی د دے سخته سزا ګالے

بيا موحي اي في القيامة بالجزاء والعقاب (مدارك ج ۱ ص ۲۱۴)

حضرت شيخ اوفرمائيل ديهوديانو عهد شكني بانديے دهغوئي دسزا ذكر كولو سره اهل اسلام ته تنبيه مقصود ده كه چرے هغوئي نقض عهد اوكړو د الله ج د احكامو نه ئے سرغړونه اوكړه نو هغوئي ته به دا پوړے سزا كانے وركولے شي كوم چه يهودو او نصارئ وُ ته جدا جدا وركړے شوے هم دا وجه ده چه نن مسلمانانو ته د نقض عهد سزا ملاويږي هغوئي په ډلو كښے تقسيم شويدي او د هغوئي مينځ كښے د بغض او دشمنئ داور شغلے وهلے شي تر دے ځائے پورے د سورت د اول حصے اول مضمون يعني د شرك فعلي د نفي بيان ختم شو۔

حصّه اوّل:۔ دوئيم مضمون د شرك اعتقادي يا شرك في التصرف نفي

۳۸ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ الخ دلته نه د اوّل حصے دوئيم مضمون (د شرك في التصرف نفي) بيا شروع كيږي اول ئے د تمهيد په طور باندے اهل كتاب ته نبي عليه السلام باندے د ايمان راوړلو ترغيب وركړو اهل كتاب نه دلته يهود او نصاريٰ دواړه دے مراد دي د دے آيت كريمه كښے ئے د حضور صلی الله عليه وسلم اوصاف بيان كړل اول ئے يُبَيِّنُ لَكُمْ الخ يعني د تورات او انجيل ډيرے خبرے چه كومے تاسو پټوئي نبي كريم صلی الله عليه وسلم هغه صفا صفا بيانوي۔ دوئيم وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ او ډيرو خبرو نه معافي كوي يعني كومے مسئلے چه تاسو پټوئي په هغے كښے ډيرے مسئلے داسے دي چه هغوئي هغه نه ظاهروي ځكه چه د هغے په اظهار كښے د دين څۀ فائده نشته دينه مقصود دا دے چه اهل كتاب ته معلومه شي چه د دوئ د غلا او خيانت پيغمبر عليه السلام ته علم شته دے د دے د پاره چه هغوئي د رسوائي نه د بچ كيدلو د پاره حق پټول او په تورات او انجيل كښے خيانت پريږدي۔

۳۹ قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ۝ د دے آيت كښے د نور نه مراد كتاب مبين دے يعني قرآن مجيد دے او عطف تفسيري دے والمراد به و بقوله كتٰب مّبين القران لما فيه من كشف ظلمات الشرك والشك وابانة ماخفي على الناس من الحق والاعجاز البين العطف لتنزيل المغايرة بالعنوان له المغايرة بالذات (ابو السعود ج ۳ ص ۵۴۳) يعني د نور او كتاب نه قرآن پاك مراد دے ځكه چه د دۀ سره د شرك او شبهاتو تيارے لرے كيږي او خلقو باندے حق واضح كيږي باقي پاتے دا خبره چه معطوف عليه او معطوف كښے تغائر ضروري دے نو د دے جواب دا دے چه تغائر في العنوان كافي دے۔ دينه روستو ئے د

کتاب د درے صفتونه بیان کړے دی - اول یَهۡدِیۡ بِهِ اللّٰهُ الخ مَنِ اتَّبَعَ رِضۡوَانَهٗ یهدی مفعول اول دے او سُبُلَ السَّلٰمِ دده دویم مفعول دے کوم خلق چه د الله تعالیٰ د رضا تلاش کونکی دی هغوئ لره الله د دے کتاب په ذریعه د سلامتی لارو ته رسوی چه په هغے باندے تللو سره هغوئ د الله رضا حاصلولے شی.
دویم وَ یُخۡرِجُهُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ او خپل تائید او توفیق سره هغوئ د شرک او گمراهئ د تیارو نه راوباسی د توحید او هدایت رڼا طرف ته ئے بیائی دریم وَ یَهۡدِیۡهِمۡ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ هغوئ ته صراط مستقیم (نیغه لار) ښائی چه په کوم باندے انبیاء علیهم السلام پخپله روان دی او د کوم طرف ته چه خپل امتونو ته دعوت ورکوی.

د لفظِ نور تحقیق

کښے خلق چه د علم او دیانت نه بے برخے دی او قرآن کریم د خپلو تحریفاتو نشانه گرځول دهغوئ د دین سرمایه ده وائی چه دے آیت کښے الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته نور وئیلے دے نو معلومه شوه چه هغوئ بشر نه دے او د هغوئ د جسد اطهر سورے نه وو ځکه چه د بشریت او نور تر منځ تضاد دے او د نور سورے نه وی - د دے جوابونه دوه دی - اول جواب: دے آیت کښے د نور نه د نبی علیه السلام ذات گرامی مراد نه دے بلکه دے نه قرآن مجید مراد دے لکه چه د سیاق او سباق نه معلومیږی ځکه چه د الله تعالیٰ له طرفه مونږ ته دوه څیزونه راغلی دی یو حضور صلی الله علیه وسلم دویم قرآن مجید. د حضور صلی الله علیه وسلم د راتلو ذکرئے د دے نه مخکښے یٰۤاَهۡلَ الۡکِتٰبِ قَدۡ جَآءَکُمۡ رَسُوۡلُنَا سره اوکړو او د دویم څیز قرآن مجید ذکرئے قَدۡ جَآءَکُمۡ مِّنَ اللّٰهِ نُوۡرٌ وَّ کِتٰبٌ مُّبِیۡنٌ ۙ سره اوکړو د کِتٰبٌ مُّبِیۡنٌ عطف په نور باندے عطف تفسیری دے ډیر مفسرینو د دے صراحت کړے دے.- د مفسرِ ابو السعود حواله مخکښے تیره شوے ده امام نسفی حنفی رح فرمائی: یرید القرآن لکشفه ظلمات الشرك والشك و لابانته ما كان خافيا على الناس من الحق (مدارک ج ۱ ص۲۱۲) قاضی ثناء الله رح فرمائی: وجاز ان یکون العطف تفسیرا وسمی محمدا صلی الله علیه وسلم والقرآن نورا لکونهما کاشفین لظلمات الکفر (مظهری ج ۳ ص۶۶ کذا فی البحر ج ۳ ص۴۴۸ وغیره) لکه چه په سورة حدید کښے ئے اوفرمائیل وَ اَنۡزَلۡنَا مَعَهُمُ الۡکِتٰبَ وَ الۡمِیۡزَانَ دلته هم عطف تفسیری دے او اَلۡمِیۡزَانَ نه کتاب مراد دے او کچرے واو عاطفه اوگرځولے شی نو د دے صورت کښے به هغه دیو څیز (قرآن) د دوه متغائر صفتونو (نور او کتاب مبین) بیانولو د پاره وی ځکه چه ده سره د کفر او شرک او د شکوک او شبهات تیارے لرے کیږی د اشان هغه کتاب

واضح بیانوی چه هر سړے په سنه طریق مبین هم دے یعنی حق او باطل دا سے دے کښے فرق کولے شی. قرآن مجید نه الله پاک ډیر ځله نور سره تعبیر کړیدے مثلاً ارشاد دے: وَاَنۡزَلۡنَاۤ اِلَیۡکُمۡ نُوۡرًا مُّبِیۡنًا (نساء ع ۲۴) دا شان سورۂ تغابن ع ۱ کښے ئے اوفرمائیل فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَالنُّوۡرِ الَّذِیۡۤ اَنۡزَلۡنَا. د دواړو آیتونو کښے د نور نه لا محاله (ضرور) قرآن مجید مراد دے۔

دویم جواب :- کچرے د سیاق سباق خلاف دے آیت کښے د نور نه مراد د نبی علیه الصلوٰة والسلام ذات گرامی مراد واخستلے شی نو هم د هغوئ مطلب نهٔ حاصلیږی نه د دینه د نبی علیه السلام د بشریت انکار ثابتیږی نه د هغوئ د سوري نفی کیږی چه د لفظِ نور اطلاق د نبی علیه السلام په ذات گرامی په طور د تشبیه او استعارے شویدے چه د دے سره د هغوئ د راهنمائی شان او د هدایت صفت ښکاره کول مقصود دے ځنګه چه نور (رڼا) سره تیاره لرے کیږی او هر څیز صفا په نظر راځی دا شان د حضور صلی الله علیه وسلم تعلیمات سره د کفر، شرک او ضلالت، جهالت تیارے لرے کیږی او صراط مستقیم صفا صفا ښکاره کیږی نو حضور صلی الله علیه وسلم ته ئے نور ددے وجه نه نهٔ دے وئیلے چه د هغوئ ذات نور دے بشر نهٔ دے بلکه هغوئ ته نور ځکه وئیلے دهٔ چه د هغوئ صفت نور دے د نبی علیه السلام په ذریعه د کفر، شرک، تیارهٔ لاړه او د حق لاره ښکاره ده لکه چه مفسرین کرام د دے تصریح کړے ده. علامه خازن لیکی یعنی محمد صلی الله علیه وسلم انما سماه نورًا لانه یهتدی بالنور فی الظلام (خازن ج ۲ ص ۲۱۴) امام نسفی فرمائی او النور محمد صلی الله علیه وسلم لانه یهتدی به کما یهتدی بالنور فی الظلام کما سمی سراجًا (مدارک ج ۱ ص ۲۱۴) د تفسیر مظهری حواله مخکښے تیره شویده. کومو مفسرینو چه د نور نه د نبی علیه السلام ذات گرامی مراد کړے دے په هغوئ کښے هم هیچا دے سره د نبی علیه السلام د بشریت یا د هغوئ د سورے نفی باندے استدلال نهٔ دے کړے بلکه هغوئ ټولو دا استعاره گرځولے ده دے سره ئے نورِ هدایت یعنی د هدایت رڼا مراد کړے ده.

۴۲ه لَقَدۡ کَفَرَ الخ دا د یٰۤاَهۡلَ الۡکِتٰبِ قَدۡ جَآءَکُمۡ رَسُوۡلُنَا الخ سره متعلق دے اے اهل کتاب ځمونږ آخری رسول تاسو ته راغلے دے چه هغه ربښتونے خبرے صفا صفا بیانوی کوم چه تاسو پټوئ ځنے د هغے نه دا وے چه کوم خلق د خدائے عین خدائے دے او الله تعالیٰ حضرت مسیح کښے حلول کړے دے (یعنی یا الله تعالیٰ د مسیح په صورت کښے دنیا ته راغلے دے (شاه عبدالقادر) دا سے خلق یقینًا کافر دی دا د هغه عیسایانو رد دے څوک چه حضرت مسیح کښے د الله د حلول

قائل دی یعنی یعقوبیه فرقه یعنی عیسا یانو حضرت مسیح د کارسازئ په صفاتو کښې (د ربوبیت صفات کښې) د خدائے ج شریك گنړلے وو هغوئ به حضرت مسیح عیب دان (عیب پیژندونکے) مافوق الاسباب متصرف او مختار گنړلو د هغوئ خیال وو چه الله تعالیٰ دهٔ ته ډیر د خدائے اختیارات ورکړی دی او هغوئ به د حاجت روائی او مشکل آسانولو دپاره غائبانه طور باندے هغهٔ ته آوازکولو د عقیده او عمل صریح شرك وو د دے وجه نه د داسے خلقو د کافر کیدلو اعلان ئے تاکید سره اوکړو۔ د دے آیت کریمه مابعد د حضرت شیخ قدس سرهٔ د بیان کړے شوے مفهوم تائید کوی.

د دے آیت ماقبل سره ربط دا دے چه مسلمانانو ته ئے اوفرمائیل د یهودیانو او نصارٰی نه مهٔ ویریږئ کوم چه مونږ ذلیل کړی دی او د چا په میځ کښے چه مونږ دشمنی اچولے ده بلکه هغوئ ته صفا اووائی تاسو کافران او مشرکان یئ۔

قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ

ته اووایه بیا د چا زور چلیږی ۴۳ د الله ج په وړاندے کچرے هغه اوغواړی

يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَ اُمَّهٗ وَمَنْ فِي

چه هلاك کړی مسیح د مریم ځوئے او د هغهٔ مور او ټوله خلق چه دی

الْاَرْضِ جَمِيْعًا ط وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

زمکه کښے ټول او الله ج د پاره ده بادشاهی د آسمانونو ۴۴ او د زمکے

وَمَا بَيْنَهُمَا ط يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ط وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

او کوم څهٔ چه د دے دواړو میځ کښے دی پیدا کوی څهٔ چه اوغواړی او الله ج په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۷﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ

څهٔ قادر دے او وائی یهود او نصارٰی ۴۵ مونږ

اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ط قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ

ځامن یُو د الله او د هغهٔ نیازبین یُو دے ته اووایه بیا ولے عذاب درکوی تاسو ته

بِذُنُوْبِكُمْ ط بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ط يَغْفِرُ

ستاسو گناهونو باندے هیڅ نهٔ ده بلکه تاسو هم د هغهٔ مخلوق کښے ۴۶ یو بشر یئ بخښنه کوی

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

چا ته چه اوغواړی او عذاب به ورکړی چا ته چه اوغواړی او الله د پاره ده بادشاهي د آسمان

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۡ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۸﴾ يٰۤاَهْلَ

او زمکے او څه چه د دے دواړو مینځ کښے دی او د هغه طرف ته واپس ورتلل دی اے

الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ

کتاب والاؤ راغلے دے ستا تاسو ته رسول زمونږ بیانوی تاسو ته د رسولانو د

مِّنَ الرُّسُلِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْ بَشِيْرٍ

انقطاع نه روستو سل چرته به تاسو اووائی چه مونږ ته نه دو راغلے زیری ورکونکے

وَّلَا نَذِيْرٍ ۡ

یا ویرونکے

نکات: ـ سلے یعنی کچرے الله تعالیٰ دا بول هلاکول غواړی نو هیڅوک هم څه نشی ویلے نو هغوی څنګه مختار شول سلے دے کښے حصر دے ای لا لعیسٰی وامه سلے په قرینه د ماقبل دلته هم حصر دے ای لا عیسٰی وامه سلے په قرینه د ماقبل دے کښ هم حصر دے ای لا عیسٰی سٹ شکوی په مشرک علماء باندے او په درویشانو د یهود او نصارٰی سلے جواب شکوی سل د دلیل دعوی دوباره ذکر کول یعنی لا عیسٰی د امه سٹ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا د سابق اعاده ده د بعد عهد د وجه نه سلو انقطاع سلے ای لئلا تقولوا

موضح القرآن: ـ فل الله تعالیٰ څنے ځایونو کښے د نبیانو په حق کښے دا سے خبرے کوی دے د پاره چه د هغه اُمت هغه د بندګئ د حد نه زیات پورته بوته ځی کښی نو نبی خود دے نه لائق نهٔ دے۔

فتح الرحمٰن: ـ فل مترجم وائی یعنی خدائے ج ته به ځے ځیل پلار وئیلو والله اعلم فل مترجم وائی یعنی د حضرت عیسیٰ علیه السلام نه روستو بغیر څمونږ د پیغمبر نه هیڅ اونه لیږل شو د دوی مینځ کښے پنځه سوه شپیته کلونه دو۔ والله اعلم

حاشیه: ـ سله قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ الخ دا د نصارٰی ګرد مذکوره بالا کفریه عقاید باندے عقلی دلیل دے یعنی اِلٰه (معبود) خو هغه کیدے شی چه د چا قدرت کامل وی او چه د چا اختیارات په هر څیز حاوی وی حضرت مسیح او

حضرت مریم علیهما السلام چه عیسایانو ئې معبود مني څنګه ئې د خدائې حق لري. دا خوبالکل عاجز او بې طاقته دي کچرې الله تعالیٰ دا دواړه او د دوئ سره ټول مخلوق او غواړي او هغوئ په مرګ او د کول او غواړي نو دوئ پخپله خوڅه کوې بلکه د دنیا هیڅ یو طاقت د دوئ د مرګ نه نشي بچ کولے چه څوک پخپله دومره انداز کړے وي (کمزوري) وي چه د خپل ځان نه هم کوم تکلیف نشي لرې کولے نو هغه به د نورو څهٔ کارونه سازه کړي. ځنې مفسرینو د دې آیت سره د حضرت مسیح علیه السلام په ژوند باندې استدلال کړې دې ځکه چه اِنْ اَرَادَ کښې اِنْ واقع دې چه په مستقبل کښې وقوع جزاء باندې دلالت کوي لیکن دې باندې اعتراض وارد یږي چه د دې نه خو به د حضرت مریم حیات (ژوند) هم ثابت شي نو د دې جواب دا ورکولے شي وَ اُمَّهٗ نه مخکښې وَ قَدْ اَهْلَكَ مقدر دې لیکن دا ټول تکلّفات څهٔ نتیجه نهٔ ورکوي. حضرت علامه انورشاه کشمیري رحمه الله فرمائیل چه د دې آیت د حضرت مسیح د حیات او ممات سره هیڅ تعلّق نشته د دې آیت موضوع مسیح او د هغه د والده د الوهیت نفي ده او په اُمَّهٗ کښې واو عاطفه نهٔ دې بلکه په معنیٰ د مَعَ دې او اُمَّهٗ مفعول معه دې د عطف په صورت کښې د فعل تعلّق معطوف علیه او معطوف دواړو سره مستقل طور باندې وي لیکن د مفعول معه په صورت کښې مفعول به او مفعول معه دواړو مجموعې سره فعل متعلق کیږي باقې دا خبره چه فعل دواړو سره فردًا فردًا (ځانله، ځانله) هم متعلق دې یا نهٔ دې نو د دې ترکیب د دې سره بحث نهٔ شو دا څیز خارجي قرائن او دلائل نه ثابت وي دا شان د لته دا هلاك تعلّق مسیح او اُمَّهٗ او من في الارض مجموعې سره دې. باقي دا خبره چه اهلاك د دې واړو سره ځانله ځانله په خارج کښې متعلق دې یا نهٔ دې نو د دې د لته بحث نهٔ دې. دا د شیخ انور رح خصوصي قیمتي ملفوظات نهٔ دي.

۴۴ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ الخ مبتداء باندې دا خبر تقدیم د حصر افاده کولو پاره دې یعني د آسمان او زمکې ټول اختیارات صرف الله تعالیٰ د پاره دي صرف هغه د هرڅهٔ مالك دې نه چه حضرت مسیح او د هغه والده کښې دا صفت نشته وَاللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝ هر څیز باندې قدرت هم الله تعالیٰ ته حاصل دې حضرت مسیح او د هغهٔ والده ته نشته نو بیا هغوئ څنګه معبودان کیدے شي چونکه د کلام په ابتداء کښې حصر د دې د وجه باقي په د وه حصو کښې به هم حصر وي تفصیل د پاره مقدّمه د تفسیر جواهر القرآن ص١١ اوګورئ.

۴۵ وَقَالَتِ الْیَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰی الخ دا د یهودیانو او نصارئ د هغه عالمانو او درویشانو باندې شکوئ ده چه پخپله هم مشرکان وو او عوامو ته ئې هم شرك ښودلو یو طرف ته خو هغوئ حضرت عزیر او حضرت مسیح او حضرت مریم علیهم السلام د خدائې شریکان ګرځوي - بل طرف ته د عوامو او جاهلانو په زړونو باندې

د خپلې پاکیزګۍ رعب کینولو د پاره وائی چه هغوئ د الله ځامن او د هغه دوستان ږی هغه خلقو حضرت عزیر او حضرت مسیح علیهما السلام ته د الوهیت درجه ورکړه خپل ځان د پاره ئې هم هغه مقام حاصلول لکه چه نن صبا په ګدو ناست پیرانو بنی علیه السلام، شیخ عبدالقادر رح او نورو اولیاؤ ته د الوهیت درجه ورکړه خپله هم هغه مقام حاصلولو د پاره د یهودیانو او نصاری وُ د مشرک احبار او رهبان (عالمانو او پیرانو) پشان بے سرا او بے پښو دعوی کوی قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ الخ دا د شکوه جواب دے او د یهود او نصاری د دعوی غلط او دروغ کیدلو باندے قاطع دلیل دے وئے فرمائیل کچرے واقعی تاسو د الله ج دوستان او محبوب ئے نو هغه به تاسو ته په آخرت کښے ستاسو د ګناهونو سزا ولے درکوی لکه چه ستاسو خپل اقرار دے لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً کچرے تاسو د الله ج دوستان وے نو هغهٔ به تاسو ته عذاب نهٔ درکولے ځکه چه محب خپل محبوب ته عذاب نهٔ ورکوی۔

۴۶ بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ الخ بلکه تاسو هم د الله ج د نورو مخلوق پشان ئې ځکه چه نورو انسانانو باندے د الله ج سزا جزاء قانون نافذ دے په تاسو هم هغه شان دے هغه چه چاته اوغواړی معاف ئے کړی او چه چاله اوغواړی سزا ورکړی د هغه قانون دا دے چه هغه به مؤمنان معاف کړی او کافرانو او مشرکانو ته به سزا ورکړی دا دواړه ولے خواه د هر خاندان او قبیلے سره تعلق لری وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ دا د یهود او نصاری وُ د باطل قول د ردکولو اعاده ده او د هغے تتمه ده یعنی د زمکے او آسمان د هر څیز مالک الله ج دے او ټول اختیارات هغهٔ دی نه چه د حضرت مسیح او د هغه د والدے او د رهبان او رهبان۔

۴۷ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ الخ دا د بعد عهد یهٔ وجه سره يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ الخ د تیر شوے اعاده ده او دینه دا بیانول مقصود دے چه د اهل کتاب د ومره اندازه خیانتونو او دینی خیانتونو او دهوکه کولو سره دوئ باندے عذاب نازلولو سره ولے هلاک نهٔ کړے شول۔ فترة معنیٰ ده انقطاع یعنی څمونږ رسول هغه وخت راغلے چه کله د عیسیٰ علیه السلام آسمان ته خیژولو نه روستو د رسولانو د رالیږلو سلسله سوونو کلونو د پاره منقطع شوے وه اَنْ تَقُوْلُوْا دلته د اَنْ نه مخکښے د لام تعلیل او اَنْ نه روستو لاء نفی مقدر دے په اصل لِئَلَّا تَقُوْلُوْا وو (روح ج ۶ ص ۱۰۱) لکه چه سورة نساء په آخر کښے يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا دا په اصل کښے لِئَلَّا تَضِلُّوْا وو دا د جَآءَكُمْ علت دے حاصل معنیٰ دا چه اے اهل کتاب څمونږ رسول تاسو ته راغلے دے کوم چه ستاسو په وړاندے حق صفا صفا بیانوی او ستاسو شکونه او شبهات لرے کوی دے د پاره چه کله ستاسو د نافرمانو او بد عملونو په وجه تاسو باندے د الله ج عذاب راشی نو چه تاسو دا عذر پیش نهٔ کړئ چه تاسو ته څوک

پیغمبر نهٔ وو راغلے چه تاسو ته ئے حق ظاهر کړے وے او تاسو ته ئے د حق قبلولو ترغیب درکړے وے منونکو ته ئے زیرے ورکړے وے او نهٔ منونکو ته ئے د عذاب نه ویره اوروله وے اوس تاسو ته د الله رسول راغلے او هغه د تبلیغ حق فرض اداء کړه د دے وجه نه اوس کچرے تاسو نهٔ منئ نو ستاسو هیڅ عذر قابل قبول نهٔ دے او نهٔ ستاسو جرم او گناه د معافئ قابل دهٔ۔

فَقَدْ جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

نو راغے تاسو ته زیرے ورکونکے او ویره اوروونکے او الله په هر څیز

قَدِيْرٌ ﴿١٩﴾ ع وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا

قادر دے ۲۸ ف او کله چه اووئیل ۲۹ ف موسی خپل قوم ته اے قومه! یاد کړئ

نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَ

احسان د الله خپل ځان باندے چه کله ئے پیدا کړل تاسو کښے پیغمبران او

جَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ

دے گرځولی تاسو بادشاهان او درئے کړو تاسو ته چه ئے نهٔ و کوو ورکړے هیچا ته

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ

دنیا کښے ف ۱ اے قومه! داخل شئ ف ۳ زمکے پاکے ته کوم چه مقرر

كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰۤى اَدْبَارِكُمْ

کړے ده الله ستاسو د پاره او مهٔ واپس کیږئ خپلو شا گانو طرف ته نو

فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢١﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰۤى اِنَّ فِيْهَا

بیا به بیرته وگرځئ په نقصان کښے ف ۲ وئے وئیل اے موسی ف ۳ هلته یو

قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا

قوم دے طاقتور او مونږ هرگز هلته نهٔ ځو تر هغے پورے چه هغوئ ووځی د

مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾ قَالَ

هغے نه بیا کچرے هغوئ اووځی د هغے نه نو مونږ به ضرور داخل شو او وئیل

رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِیْنَ یَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِمَا

دوه سړو دلے د الله ج نه ډیره ویریدونکو چه دخدائے انعام په دغے دواړو وو

ادْخُلُوْا عَلَیْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَاِنَّکُمْ

ننوځئ هغوئ باندے حمله کوئکي پۀ دروازه کښے بیا چه کله تاسو هغے ته ننوځئ نو تاسو به

غٰلِبُوْنَ ۬ۚ وَعَلَی اللّٰهِ فَتَوَکَّلُوْۤا اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۲۳﴾

غالب یئ او په الله بهروسه اوکړئ کچرے تاسو یقین لرئ

نکات :۔ سلـ ددلیل دعوی دوباره ذکرای لاعیسٰی وامه سلـ۳ دمسئلے بیانولونه روستوجهاد پرېخودلو سره د ذلت اوچتولو اوله نمونه۔

موضح القرآن :۔ فلـ حضرت عیسٰی علیه السّلام نه روستو کوم پیغمبر نۀ دو راغلے نو وئے فرمائیل تاسو به افسوس کوئے چه مونږ د رسول لا نو په وخت کښے نۀ ووچه د هغوئ تربیت موند لے وے اوس تاسو ته د ډیرے زمانے نه روستو د رسول صحبت حاصل شو دا غنیمت اوګڼرئ او الله ج قادر دے کچرے تاسوئے نۀ قبلوئ نو رخلق به ستاسو نه بهتر راپاڅوی لکه چه د حضرت موسٰی علیه السلام سره د هغه قوم جهاد کول قبول نۀ کړۀ الله ج هغوئ محروم کړل او د نورو خلقو په لاس ئے شام فتح کړو۔

فلـ۲ حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل پلار وطن پرېښودو د الله ج په لاره کښے اووتلو او د شام ملک ته راغے هلته اوسیدۀ او ډیره زمانه د هغهٔ اولاد نۀ وو بیا الله تعالٰی زیرے ورکړو چه ستا اولاد به زۀ ډیر زیات خور ووم او د شام زمکه به هغوئ ته ورکوم او نبوت، دین او کتاب او بادشاهی به هغوئ ته ورکوم بیا د حضرت موسٰیؑ پهٔ وخت ئے دا وعده پوره کړه بنی اسرائیل ئے د فرعون د بیګار نه خلاص کړل او هغه ئے غرق کړو او دوئ ته ئے اوفرمائیل چه تاسو جهاد کوئ د عمالقهٔ نه د شام ملک واخلئ بیا همیشه هغه ملک ستاسو دے حضرت موسٰی علیه السلام دولس سرې د بنی اسرائیلو دولس ډلو باندے سرداران (مشران) کړل هغه ئے اولیږل چه د دغه ملک خبر راوړی هغوئ چه خبر راوړۀ نو د ملکِ شام ډیر صفتونه ئے بیان کړل او هلته عمالقهٔ مسلط وو د هغوئ زور او قوت ئے هم بیان کړو حضرت موسٰیؑ دوئ ته اووئیل چه تاسو قوم ته د ملک خوبی بیان کړئ او د دشمن د قوت ذکر مۀ کوی دوی کښے دوۀ تنه دے حکم باندے قائم پاتے شول او لس پاتے نۀ شول قوم چه واوریدل نو بزدلی ئے اوکړه او غوښتل ئے چه بیرته واپس مصر ته لاړشی دے تقصیر سره خلویښت

کاله د شام فتح روستو شوه دا دومره وخت دوی په ځنګلو نو کښې سرګردان ګرځېدل چه کله د دغه قرن (صدۍ) خلق ټول مړه شول لیکن هغه دوه سړی چه هغوی د موسیٰ علیه السلام نه روستو خلیفه ګان شول د هغوی په لاس فتح او شوه۔

فتح الرحمٰن:- ف۱ یعنی لوئے معجزات دریاب شلول، کوهِ طور اوچتول والله اعلم ف۲ یعنی یوشع او کالب۔

حاشیه: ۴۸ه وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۰ دا هم د مخکښې دلیل دعوی دوباره ذکر دے یعنی الله تعالیٰ په هر څیز قادر دے نه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام او د هغه والده علیهما السلام۔

۴۹ه وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى الخ د جهاد نه کولو په صورت کښې د ذلت او چتولو او له نمونه یعنی چه کله تاسو اهل کتاب ته د مشرکانه عقائدو په بناء باندې صفا صفا کافر او وئیل نو اوس به چپ کینا ستل نه وی بلکه اوس به هغوی تاسو سره جنګ کوی او تاسو به هم جواباً جهاد کوئ ګڼړے تاسو د خپل ځان د حفاظت دپاره هغوی سره جهاد او نه کړو او خاموش کینا ستلئ نو څنګه چه بنی اسرائیلو د دشمن سره جهاد نه کولو د وجه نه ذلت پورته کړے وو داشان به تاسو هم ذلیل شئ۔

۵۰ه یٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الخ د حضرت ابن عباس، ابن زید او سدی قول دے چه د ارض مقدسة نه بیت المقدس مراد دے دے ته ارض مقدس (پاکه زمکه) ځکه او وئیلے شوه چه هغه د پخوانه دا نبیاء علیهم السلام مسکن (د اوسیدو ځائے) راچلیده لے دے او د شرک د نجاست نه پاکه وه ووصفت تلك الارض بذلك لانها مطهرة من الشرك حیث جعلت مسكن الانبیاء علیهم الصلوٰة والسلام (روح ج ۶ ص۱۰۵) اَلَّتِیْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ د کوم باره کښې چه د الله تعالیٰ فیصله شوے ده چه هغه به ستاسو د اوسیدو ځائے وی كتبها فی اللوح المحفوظ انها مسكن لكم (مدارك ج۱ ص۲۱۶) لیکن روستو کیږئ مه کنې د دین او دنیا دواړو تاوانونه به پورته کړئ ارض مقدسه کښې د داخلیدو حکم په حقیقت کښې د جهاد حکم وو ځکه چه په دے باندے دیو طاقتور قوم قبضه وه تر څو چه هغه قوم سره جهاد کولو سره هغه علاقه د دوی نه اخستل شوے نه وی تر هغې پورے بنی اسرائیل دے کښې آرام سره نشی اوسیدلے۔

۵۱ه قَالُوْا یٰمُوْسٰى الخ بنی اسرائیلو موسیٰ علیه السلام ته جواب ورکړو چه په پاکه زمکه (ارض مقدسه) باندے خو دیو مضبوط قوم عمالقه قبضه ده موږ خو په هغې کښې قدم هم نه ایږدو او نه موږ کښې د مقابلے طاقت شته دے لیکن ګڼړے هغوی پخپله دا زمکه خالی کړی او وو ځی چرته لاړ شی نو موږ هلته تللو ته تیار وو۔

۵۲ه قَالَ رَجُلٰنِ الخ رَجُلٰنِ نه یوشع بن نون او کالب بن یوقنا مراد دی د

یَخَافُوْنَ مفعول محذوف دے یعنی الله چه کله بنی اسرائیلو موسیٰ علیه السلام ته مذکوره بالا بزدلانه جواب ورکړو نو دوئ کښے چه کوم د الله نه ویریدونکی خلق وو او د حضرت موسیٰ علیه السلام حکم باندے جهاد د پاره تیار وو هغوئ نه دوه کسان یوشع او کالب چا نه چه الله تعالیٰ په ایمان کښے رسوخ (مضبوطتیا) او ثبات او استقلال نعمت ورکړے وو او هغوئ د موسیٰ علیه السلام په ژبه باندے د الله ج د امداد او فتح دعده باندے پوره پوره اعتماد لرلو هذان رجلان هما یوشع بن نون وکالب بن یوقنا وکان من الذین یخافون الله وانعم الله علیهما بالهدایة والمشقة بعون الله والاعتماد علی نصرة الله (کبیر ج ٣ ص ٥٢٣) هغوئ بزدل او د خدائے ج نه ناویریدونکو بنی اسرائیلو ته نصیحت شروع کړو چه اے خلقو د عمالقه قوم د طاقت او قوت نه دیریږئ مه کچرے تاسو واقعی په خدائے ج ایمان لرئ نو په هغه باندے اعتماد اوکړئ او د هغه نوم واخلئ د ښار دروازے نه ناڅاپه حمله په دشمن اوکړئ یقیناً تاسو به غالب شئ او فتح به ستاسو وی دے دواړو سړو د حضرت موسیٰ علیه السلام په رسالت باندے ایمان چونکه ډیر زیات مضبوط وو او د دوئ یقین وو چه د حضرت موسیٰ ع په ژبه چه کوم د فتح او نصرت وعده الله تعالیٰ کړے ده هغه به ضرور پوره کیږی دے وجه نه هغوئ پوره یقین او اعتماد سره اوویل چه کچرے تاسو جهاد کوئ نو فتح به یقیناً ستاسو وی۔ (کبیر)

قَالُوْا یٰمُوْسٰٓی اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِیْهَا

وئے ویل اے موسیٰ ٢٣ مونږ هرګز نه ځو په دغه ښار کښے تر څو چه هغوئ او سیږی هغے کښے

فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿٢٤﴾

نو ته لاړ شه او ستا رب او تاسو دواړه جنګ اوکړئ مونږ خو به دلته ناست یو

قَالَ رَبِّ اِنِّیْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِیْ وَاَخِیْ فَافْرُقْ

وئے ویل اے ربه ځما ځما په اختیار کښے خو نشته ٢٤ لیکن ځما خپل ځان او ځما ورور

بَیْنَنَا وَبَیْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِیْنَ ﴿٢٥﴾ قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ

نو جدائی اوکړے ته مونږ کښے او دے نافرمان قوم کښے ولے وئے فرمائیل تحقیق سره هغه زمکه

عَلَیْهِمْ اَرْبَعِیْنَ سَنَةً ج یَتِیْهُوْنَ فِی الْاَرْضِ فَلَا

حرام کړے شوے ده دوی باندے څلویښت کلونه ته به سرګردان ګرځی په ملک کښے نو

تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ

افسوس مه کوه په نافرمان خلقو باندې ولے او واوروه دوئی ته واقعې

ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ

حال د آدم ع د دوه ځامنو کله چه منښته اوکړه دواړو نذرانه منښتانه او مقبول شوه

اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ؕ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ

د یو نه او مقبول نه شوه د دویم دویم قسم دے چه ستا به قتل کړم

قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۷﴾

هغه اووئیل الله ج خو قبلوی د پرهیزګارانو نه

نکات: سلـ بے عزته او خوار به اوسی دا معنیٰ نه ده چه ډوبتلو لاره به نه ملاویږی ۔
سلـ۲ د دشمن په مقابله کښ خاموش کیناستو سره به او وژلے شی د دے دویمه نمونه لهٰذا جهاد او کړئ خپله هم مقتول مه جوړیږئ او مسلمانان هم مه وژنئ۔
سلـ۳ د دواړو روتو په مینځ کښ د حسد د وجے په باره کښ چه څه شاه ولی الله بیان فرمائیلی دی هم هغه صحیح دی۔

موضح القرآن: فـ۱ اهل کتاب ته ئے دا قصه د اوروله دے د پاره چه تاسو د پیغمبر منکر تیا نه کوئ نو دا نعمت به لوروته نصیب شی د راندے ئے هم په دے باندے د هابیل او قابیل قصه واوروله چه حسد مه کوئ حسد والا مردود دے ۔ فـ۲ د حضرت آدم علیه السلام اولاد کیدل شروع شول په یو حمل کښے به دوه تنه ځوئے او لور کیدل هغه وخت د رور خور نکاح روا وه د ضرورت په بناء ۔ حضرت آدم علیه السلام به هم احتیاط کولو د یو حمل رور خور به ئے نه یو ځائے کول ۔ یوه لور حضرت آدم ع هابیل ته ورکوله هغه قابیل غوښتله هغه د دواړو خیال او ساتلو وئے وئیل چه تاسو دواړه صدقه او کړئ هابیل چه د نبی په حکم چلیده د هغه صدقے د پاره د غیب نه اور راغے وئے سوځولو یعنی قبول شو د قابیل صدقه ئے پرېښودله قابیل د حسد په وجه هابیل قتل کړو تر اوسه پورے چه څومره ناحق مرګونه کیږی هغه باندے هم د دے وبال (سزا) خیژی۔

فتح الرحمٰن: فـ۱ یعنی موږ حکم اوکړو چه هغه زمکه تر څلویښت کالو فتح نشی فـ۲ مترجم وائی یعنی هابیل ډیر زیات ښائسته ګډ قربانی اوکړه چه د غیب نه داور لمبه راغله وئے خوړو او قابیل ډیر خراب غنم پیش کړل او اور د هغهٔ منښته قبول نکړه او دا د حسد سبب اوګرځیده ۔ والله اعلم۔

حاشیه: ۵۳ قَالُوْا يٰمُوْسٰی الخ د دے دواړو د خبرو په بنی اسرائیلو

څه اثر اونه شو بلکه هغوئ د دوئ وعظ او نصیحت ته هیڅ اهمیت ورنه کړو او هغوئ ئے د خطاب قابل هم اونه ګڼړل او په خپل ضد باندے ټینګ ولاړ وو او د حضرت موسیٰ ؑ په مخکښے ئے هم هغه مخکنئ جواب دوباره کړو او هغه سره زیاتے دا هم اوویئیل فَاذۡهَبۡ اَنۡتَ وَرَبُّكَ الخ څنو مفسرینو لفظ رب د دۀ خپل حقیقي مفهوم باندے حمل کړے دے یعني تاسو او ستاسو رب دے لاړشئ او جنګ دے اوکړئ مونږ خو به د دے ځائے نه او نه خوځیږو۔ د دے نه د هغوئ مطلب دا وو چه تۀ دا ړ شه هغوئ سره جنګ اوکړه الله ج به ستا ملګرے وی او ستا امدادی به وی۔ الوجه فيه ان يقال اذهب انت وربك يعينك على قتالك (مدارك ج ۱ ص۲۱۶) مونږ کښے خود هغوئ سره د مقابلے کولو جراءت نشته یا هغوئ دا الفاظ الله او د هغه رسول پورے استهزاء او سپکاوی په طور وئیلے وو وقالوا ذالك استهانة واستهزاءً به سبحانه وبرسوله عليه الصلوٰة والسلام وعدم المبالاة بهما (روح ج ۶ ص۱۰۸ وابو السعود ج ۳ ص۵۵۳) یا د رب نه مجازًا سردار یعني حضرت هارون ؑ مراد دے ځکه چه هغه د حضرت موسیٰ علیه السلام مشر رور وو او وربك اى سيدك وهو اخوك الاكبر هٰرون (مدارك) یعني مونږ د جهاد کولو نه یاتے یو او کچرے تاسو لازمي طور باندے جهاد کول وی نو خپل رور سره لاړ شه او جنګ اوکړه۔

۵۴ قَالَ رَبِّ الخ کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام د بني اسرائیلو کستاخانه جواب واوریدۀ او د ربانی احکامو نه ئے د هغوئ بے پروائی او مخ اړول اولیدل نو د دوئ نه نا امید شول الله ج ته ئے مناجات (عرض) اوکړو چه اے الله ج چه دے سرکش او نافرمان قوم باندے زما هیڅ طاقت نۀ رسیږی او دوی ستا احکام ډیر د سپکاوی طریقے سره ردکوی زما خو صرف په خپل ځان او خپل رور هارون باندے اختیار دے د دے وجه نه مونږ حاضر یو۔ په دعا کښے حضرت موسیٰ خپل ځان سره صرف د هارون ؑ ذکر کړے دے حال دا دے چه یوشع او کالب هم مخلص او فرمان بردار وو د هغوئ ذکر ئے اونه کړو نو د دے وجه دا ده چه د دوئ اخلاص چونکه د دوئ د خبرو نه ظاهر شوے وو د دے وجه نه هغوئ د دوئ د دوباره ذکر ضرورت اونه ګڼړلو فَافۡرُقۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ الۡقَوۡمِ الۡفٰسِقِيۡنَ ○ دا سرکش بني اسرائیلو بد دعائی ده یعني اے الله زمونږ او د دوئ مینځ کښے جدائی راوله او مونږ ته د دوئ د صحبت نه نجات راکړه مطلب دا دے چه زمونږ او د دوئ مینځ کښے هغه فیصله اوکړه چه د کوم مونږ او هغوئ مستحق دی یعني فافصل بيننا وبينهم بان تحكم لنا بما نستحق وتحكم عليهم بما يستحقون وهو فى معنى الدعاء عليهم ويحتمل ان يكون المراد خلصنا من صحبتهم۔

۵۵ قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ الخ دا د حضرت موسیٰ علیه السلام د مناجات جواب دے ورته ئے فرمائیل د دوئ د سرکشئ او نافرمانئ د وجه نه مونږ دوئ ته سزا ورکوله

چه اوس به هغوی ښلويښت کلونو پورے ارض مقدس (پاکے زمکے) ته ننوتي داخليد لے او نه شي او په زمکه کښے به ذلت او رسوائی سره در په در ګرځي. خوري کړي به حضرت شیخ قدس سرهٔ او فرمايل چه ييتهون معنیٰ ده هغوی به بے عزت او خواروی دا معنی نه ده چه هغوی به ښلويښت کاله په ځنګل کښے ګرځي او هغوی ته به لار نه ملاويږی لکه چه عامو مفسرينو ليکلی دی ځکه چه دے ځنګل اوږدوالے ښلويښت ميله او پلنوالے (عرض) يې پنځلس ميله نه څه زيات بيان کړے شوے دے بيا دے ميدان تيه کښے چه کله بنی اسرائيلو د غلے او سبزو مطالبه اوکړه نو هغوی ته حکم ورکړے شو اهبطوا مصرًا يعنی يو ښار ته ورشئ چه کله هغوی ته لار نه ملاويداله نو بيا مصرته د تللو حکم ولے ورکړے شو مفسر خازن وغيره ليکلی دی چه د بنی اسرائيلو تعداد د ميدان کښے شپږ لاکهه وو او روزانه به اويا زره مړهٔ کيدل دا هم خالص دروغ او اسرائيليات دی نواب صديق حسن خان د تفسير خازن باره کښے ليکلی دی چه هغه د تفسير لحاظ سره ښهٔ دے ليکن د واقعات په اعتبار سره "نصفة الاکاذيب" يعنی د هغه نيم دروغ دی ځکه چه هغه د يهوديانو ډيرے خبرے محض دروغ نقل کوی. د بنی اسرائيلو د ذلت او رسوائی دا واقعه ئے بيان کړه مسلمانانو ته ئے تنبيه ورکړه چه کچرے هغوی هم د دشمن په مقابله کښے بزدلی ښکاره کړی او د جهاد نه ئے انکار اوکړو نو هغوی به هم خوار او ذليل وی.

۵۲ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ الخ دا د دشمن مقابله کښے د خاموش کينا ستلو او د هغهٔ د حملے د مدافعت نه کولو د نتيجے دوېمه نمونه ده دلته ئے د حضرت آدم عليه السلام د دوه صلبی ځامنو هابيل او قابيل واقعه بيان کړه د قابيل د هابيل د قتلولو د پاره لاس اوچت کړو نو هابيل د هغهٔ مدافعت اونه کړو نتيجه دا شوه چه هغه شهيد کړے شو دے سره مسلمانانو ته تنبيه ورکول مقصود ده ځکه چه د دشمن په مقابله کښے چُپ مهٔ کينئ د دشمن مقابله کښے جهاد اوکړئ پخپله هم مقتول مهٔ جوړيږئ او نور مسلمانان هم قتل کيدلو ته مهٔ ورکوئ کچرے تاسو د دشمن سره جهاد اونکړو او خاموش پاتے شوئ نو وبه وژل شئ څنګه چه هابيل د چپ پاتے کيدلو په وجه د قابيل په لاس ووژل شو.

لَئِنْ بَسَطْتَّ اِلَیَّ یَدَكَ لِتَقْتُلَنِیْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ

کچرے ته لاس اوچلوے په ما باندے د وژلو د پاره زه لاس

یَّدِیَ اِلَیْكَ لِاَ قْتُلَكَ ۚ اِنِّیْۤ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ

ونهٔ چلوم تا باندے د وژلو د پاره زهٔ ويريږم د الله جَل نه پالونکے دے

الْعٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ
د ټول جهان ف زه غواړم چه ته حاصل کړے خما ګناه او خپله ګناه

فَتَكُونَ مِنْ أَصْحٰبِ النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا
بیا شے ته د دوزخ والا نه او هم دا سزا ده

الظّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَطَوَّعَتْ لَهُۥ نَفْسُهُۥ قَتْلَ أَخِيهِ
د ظالمانو ف۲ بیا هغه لره راضی کړو د هغه نفس ف۳ وژلو بانده دخپل ورور

فَقَتَلَهُۥ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِينَ ﴿٣٠﴾ فَبَعَثَ اللَّهُ
بیا ئے هغه مړ کړو نو شه د نقصان او چتو نکو نه ف بیا او لیږه الله ج یو

غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ لِيُرِيَهُۥ كَيْفَ يُوٰرِي
کارغه چه کنستل ئے زمکه د ے د پاره چه اوښائی ف۵ هغه ته چه څنګه پټوی

سَوْءَةَ أَخِيهِ ۚ قَالَ يٰوَيْلَتٰىٓ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ
لاش دخپل ورور وئے وئیل اے افسوس خما نه د ومره او نشوه چه شم

مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَأُوٰرِيَ سَوْءَةَ أَخِي ۖ فَأَصْبَحَ
برابر د ے مارغه چه زه پټ کړم لاش دخپل ورور بیا او ګرځیده

مِنَ النّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ ۛ كَتَبْنَا عَلٰى
پښیمانه ف۳ د ے سبب نه ف۵ اولیکه مونږ په

بَنِيٓ إِسْرٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ
بنی اسرائیلو بانده چه څوک د ے قتل کړی یو نفس بغیر د عوض د نفس

نکات: ۱ لام عاقبت د پاره د ے ۲ من اجلیه د ے یعنی دچه کینا ستلو د وجه نه ۳ د کتبنا مفعول به القتال محذوف د ے یعنی چپ نه کینی بلکه د ظالم د ظلم نه بچاؤ کوئی ۴ دا د قلنا محذوف مفعول به د ے یعنی نجرے تا سو یو تن بچ کړئ نو لکه چه ټول هم بچ کړل۔

موضح القرآن: ف۱ یعنی نجرے څوک چا لره ناحق وژنی نو هغه ته اجر

ـــے چه ظالم قتل کړی او کیږے صبر او کړی نو د شهید درجه ده **ف۲** یعنی ستاد ټول عمر ګناه به تا باندے ثابت پاتے وی او ځما د قتل ګناه به زیاتے وی او ځما د ټول عمر ګناه به لرے شی **ف۳** د دینه مخکښې څوک انسان نه وو مړ شوے چه معلومه شی چه د بدن سره څهٔ اوکړے قابیل چه هابیل مړ کړو نو ویریده چه که د دهٔ بدن (لاش) د اشان پروت وی نو چه خلق ئے او وینی نو مالوره به او نیسی آخر الله ج یو کارغهٔ را اولیږه هغه زمکه اوکنستله هغهٔ ته ئے اوښودله هغے سره دے پوه شهٔ چه د ده بدن دفن کول پکار دے او نقل کښے د اشان راغلی دی چه یو کارغهٔ زمکه اوکنستله د دویم کارغهٔ ئے دفن کړو هغه دفن هم اولیده او د رور خیرخواهی ئے دبل رور په حق کښے هم اولیدله هغه وخت پخپل فعل پښیمانه شو.

فتح الرحمٰن: ف۱ مترجم وائی روستو د وژلو نه پوهیده چه څنګه ئے خخ کړی د هغه لاش ئے په شا کړے وو ګرځیده. والله اعلم

حاشیه: ۵۷ فَطَوَّعَتْ لَهٗ الخ یعنی نفس هغه دخپل رور په قتل اماده کړو او د هغهٔ قتل ئے په دهٔ باندے آسان اوګرځولو ای فسهلته له و وسعته (روح ج ۶ ص۱۱۱) قابیل هابیل ولے قتل کړو اصل وجه د دشمنئ څهٔ وه د دے باره کښے صحیح هغه ده کوم چه حضرت شاه ولی الله رح فرمائیلی دی چه هابیل نهایت اعلیٰ درجه کښ د الله ج په نوم قربانی کړو هغه قبول شو او قابیل ردی قسم غنم د الله ج په نوم او منل هغه قبول نهٔ شول د دے وجه نه د هغهٔ په زړه کښے د هابیل خلاف حسد پیدا شو.

۵۸ لِيُرِيَهٗ الخ دے کښے لام تعلیلیه نهٔ دے بلکه دا لام عاقبت دے یعنی یو کارغهٔ الوتو نکے راغے او د قابیل په مخکښے ئے زمکه کښ کنده ویستل شروع کړل چه د هغے نتیجه او انجام دا شو چه هغهٔ ته د خپل مقتول رور د نعش پټولو ترکیب خیال ته راغے کنی نو مارغه غیب دان نهٔ وو چه د هابیل د قتل هغهٔ ته علم وو او نه قابیل ته د دفن کولو طریقے ښودلو دپاره راغلے وو لام عاقبت دپاره په قرآن مجید کښے عام مستعمل دے لکه چه قصص ع ۱ کښے دے فَالْتَقَطَهٗۤ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّحَزَنًا دلته لِيَكُوْنَ کښے لام عاقبت دپاره دے.

۵۹ مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ مِنْ اَجلیه دے یعنی د چپ پاتے کیدلو د وجه كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ د كَتَبْنَا مفعول محذوف دے یعنی القتال یعنی په چپ پاتے کیدلو کښے چونکه ذلت او رسوائی ده د دے وجه نه مونږ بنی اسرائیلو ته د دشمن سره د جنګ کولو حکم ورکړو او او موئیل چه چپ مهٔ کینئ بلکه د الله ج مخلوق د ظالم د ظلم نه بچ کړئ تا سو بچ کړے یو نفس (یو انسان) هم بچ کړو نو ګویا ټول مو هم بچ کړل اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ دا د فعل محذوف مفعول دے. ای قلنا قاله الشیخ روح الله روحه لیکن نورو مفسرینو د کتبنا مفعول القصاص مقدر کړے دے او ذٰلِكَ

نه يې مذکوره واقعه مراد اخستے ده يعنې قتل او دويمے تو پولو د بنديز د پاره موږ د
قاتل نه قصاص اخستل فرض کرځولی دی۔

اَوْ فَسَادٍ فِى الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ

يا په غير د فساد کولو نه په زمکه کښے نو ګويا چه هغه قتل کړل ټول خلق

وَمَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَا اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَ

او چا چه ژوندے اوساته يو نفس ګويا ژوندی يې کړل ټول خلق او

لَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا

راغلي دي دوی ته رسول زمونږ ښکاره حکم بيا ډير خلق

مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِى الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ﴿٣٢﴾ اِنَّمَا

د دوی نه دے باندے هم په ملک کښے له حد تيرے کوی دی مګر دا

جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَ

سزا د هغه د هغو خلقو چه جنګ کوی د الله ج سره او د هغه رسول سره او

يَسْعَوْنَ فِى الْاَرْضِ فَسَادًا اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا اَوْ

منډی وهي په ملک کښے فساد کولو د پاره مګر چه هغوی او وژلے شي او

يُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ

يا په سولئ او خيژول شي يا پريکړے د هغه لاسونه او خپے د

خِلَافٍ اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ

مخالف طرف نه مګر يا لرے کړے شي د دے ځائے نه دا د دوی رسوائی ده

فِى الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٣٣﴾

دنيا کښے او د دوی د پاره ده په آخرت کښے لوئے عذاب دے مګر

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ ۚ

ليکن چا چه توبه ستاسو د قدرت مونده لو نه مخکښے

فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۳۴﴾

نو پوهه شئ چه الله ج بخونکے مهربان دے ف۳ ف۴ ف۵

نکات: سله یعنی خاموش مه کینئ بلکه جنګ کونکو ته دا سزا ئے کا ورکړئ
سل۲ یعنی الله تعالیٰ به خپل حقونه معاف کړی او حقوق العباد کینبے به ئے را ونیسی
سل۳ یعنی نیک عملونو سره د الله ج نزدیکت حاصل کړئ او د محاربین (جنګ کونکو سره) جهاد کوئ۔

موضح القرآن: ف۱ یعنی د زمکے په مخ باندے لویه ګناه دا او شوه د دے سره به راتلونکی وخت کینبے رواج جوړ شو د دے وجه نه په تورات کینبے ئے دا سے اوفرمائیل چه یو ئے مړ کړو نو لکه چه ټول ئے مړه کړل یعنی دیو وژلو سره نور هم زړه ور شی نو د ټولو په ګناه کینبے هغه او لنے هم شریک دے او چه یو ئے ژوندے کړو نو لکه چه ټول ئے ژوندی کړل یعنی د ظالم د لاس نه ئے خلاص کړل ف۲ اول ئے اوفرمائیل چه قتل کول ګناه ده لیکن بدله کینبے یا د فساد په سزا کینبے۔ اوس ئے د دے بیان اوکړو چه کوم خلق جنګ اوکړی د الله او رسول ص سره یعنی د حاکم خلاف شی ملک لوټ کړی چه هغوئ لاس ته راشی نو په سولئ دے اوخیژولے شی او دے وژل شی یا دے قتل کړے شی یا دے ښے لاس او کینړه خپه پریکړے شی یا دے قید کینبے واچول شی څنګه چه ګناه دی هغه شان سزا دے ورکړے شی ف۳ مخکے یو سړی لاره شوکوله او س هغه پریخودله او د هغه کار اسباب الات ئے لرے کړل نو په هغه باندے حد نه راځی۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی لاره شوکوی ف۲ یعنی کله چه د قابیل نه قتل رسم پیدا شو نو دنیا کینبے چه هر قتل کیږی نو د هغه مواخذه (بنوکه) به هم کوی او همدا شان به هره زمانه کینبے چه څوک د نوی قتل رسم شروع کړی په حکم د مَنْ سَنَّ سَنَّةً سَیِّئَةً کَانَ لَهٗ کِفْلٌ مِّنْهَا کوم قتل چه د هغے نه روستو کیږی نو په هغے کینبے به دے و رسره شریک دی نو د بے ځائے کینبے مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ په ځائے د عَلٰی قِیَاسِ ذٰلِكَ واقع شوے دے ف۳ یعنی لاره شوکوی ف۴ یعنی ښے لاس کینړه خپه ف۵ یعنی حد ساقط دے او حقوق العباد نه ساقطیږی۔

حاشیه: سله اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِیْنَ - اَلَّذِیْنَ یُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ یعنی هغوی د الله ج او د هغه د رسول سره جنګ کوی دا تعبیر د دے باندے شاهد دے چه دیته مسلمان قطاع الطریق (ډاکوان) مراد نه دی بلکه دا آیت د یهود قطاع الطریق په حق کینبے دے یعنی د کافرا نو مقابله کوئ او د محاربین (یهود قطاع الطریق) سره جنګ کوئ دے د پاره چه هغوئ ته د خپل کړو سزا ماده شی وَلَا یَجْرِمَنَّکُمْ

شان ن قوم کښے دیهود قطاع الطریق ذکروو اوس دلته ئے دهغوئ د سزا بیان
اوکړو ان هذه الایة فی هؤلاء الذین حکی الله تعالیٰ عنهم من بنی اسرائیل انهم
بعد ان غلظ الله علیهم عقاب القتل العمد العدوان فهم مسرفون فی القتل مفسدون
فی الارض فمن اتی منهم بالقتل والفساد فی الارض فجزاءهم کذا وکذا (کبیر)
٦١ اَنۡ یُّقَتَّلُوۡۤا اَوۡ یُصَلَّبُوۡۤا یعنې هغوئ خو که قتل کړی نو هغوئ دے قتل کړې
شی یا دے په سولی وخیژولے شی او تُقَطَّعَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَاَرۡجُلُهُمۡ یعنې هغوئ قتل
نه وی کړے صرف مال ئے لوټ کړے وی نو دا سزا به وی اِلَّا الَّذِیۡنَ تَابُوۡا یعنې که
چرے هغوئ د گرفتارئ نه مخکښے د شرک د الله او د رسول الله د جنګ نه توبه وکړی
لکن الذین تابوا من شرکهم وحربهم لله ورسوله (خازن ج ۲ ص ۳) نو حقوق
الله به معاف شی لیکن د حقوق العباد اداکول به لازم وی فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ
رَّحِیۡمٌ ۝ یعنی الله تعالیٰ خپل حقوق معاف کوی لیکن حقوق العباد کښے به پوره کړی.

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابۡتَغُوۡۤا اِلَیۡهِ
اے ایمان والاؤ ویریږئ د الله او تلاش کوئ هغه ته
الۡوَسِیۡلَةَ وَجَاهِدُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِهٖ لَعَلَّکُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ۝٣٥
وسیله ۶۳ او جهاد کوئ د هغه په لاره کښے د دے دپاره چه تاسو فائده ورسیږئ
اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا لَوۡ اَنَّ لَهُمۡ مَّا فِی الۡاَرۡضِ
کوم خلق چه کافران دی ۶۴ که چرے هغوئ سره وی څه چه دی په زمکه کښے
جَمِیۡعًا وَّمِثۡلَهٗ مَعَهٗ لِیَفۡتَدُوۡا بِهٖ مِنۡ عَذَابِ
ټول او د دوئ سره د دے برابر نور هم وی چه په بدله کښے ورکړی د خپل ځان نه د
یَوۡمِ الۡقِیٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ
قیامت د عذاب نه نو د دوئ نه به قبول نه شی او د دوئ د پاره عذاب
اَلِیۡمٌ ۝٣٦ یُرِیۡدُوۡنَ اَنۡ یَّخۡرُجُوۡا مِنَ النَّارِ
دردناک دے غواړی به چه او وځی د اور نه ۶۵
وَمَا هُمۡ بِخٰرِجِیۡنَ مِنۡهَا وَلَهُمۡ عَذَابٌ مُّقِیۡمٌ ۝٣٧
او هغوئ به د دے نه وتونکی نه وی او د دوئ دپاره همیشه عذاب دے

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءً

او غلا کونکے سړے او غلا کونکے ښځه ٦٥ پریکړئ د هغوئ لاسونه سزا کښې

بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٣٨﴾

د دوئ د کړو و تنبیه دی د الله له طرفه نه او الله غالب دے او حکمت والا دے

فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ

بيا چه چا توبه کړه د خپل ظلم نه روستو او اصلاح ئے اوکړه نو الله ج قبلوی

يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣٩﴾

د هغهٔ توبه بیشکه الله ج بخونکے مهربان دے

نکات : ~~ا~~ اوخوئ چه جګړه کونکی نه دی بلکه غله دی هغوئ باندے هم حد جاری کړئ۔

موضح القرآن : ول یعنی د رسول کریم ص په اطاعت کښې چه کومه نیکی کوئ هغه قبول ده او د دینه بغیر چه خپل عقل سره ئے کوئ نو هغه قبول نه ده۔

حاشیه : ٦٢ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا الخ یعنی الله ج نه اوویرېږئ او نیک اعمالو سره د هغهٔ د قرب حاصلولو کوشش اوکړئ او جهاد اوکړئ او د الله ج حدود قائم کړئ دا کار د الله د تقرب (نزدیکت) لویه ذریعه ده اَلْوَسِيْلَةَ دا په وزن د فعیلة دے او دے نه مراد هر هغه عبادت او قربت دے د کوم په ذریعه چه د الله ج قرب حاصل شی خواه هغه مونځ روژه وی یا زکوٰة او حج یا جهاد او د حدود قائمول۔ ابو وائل، حسن، مجاهد، قتاده، سُدّی، ابن زید او عبد الله ابن کثیر فرمائی الوسيلة هي القربة (قرطبی ج ٦ ص ١٥٩) یعنی د وسیله معنیٰ عبادت ده علامه الوسی فرمائی هِيَ فَعِيْلَةٌ بمعنی مايتوسل به ويتقرب الى الله عز وجل من فعل الطاعات و ترك المعاصي (روح ج ٦ ص ١٢٣) امام نسفی رح فرمائی: هی كل ما يتوسل به فاستعيرت لمايتوسل به الى الله تعالىٰ من فعل الطاعات و ترك السيئات (مدارك ج ١ ص ٢١٩) حاصل دا دے چه د وسیله نه مراد نیک عمل دے خواه هغه د عمل صالح په ځائے راوړل وی یا د ګناه پرېښودل وی د وسیله پوره تحقیق به د سورهٔ بنی اسرائیل په تفسیر کښې راشی ان شاء الله تعالیٰ نو دلته ئے اوفرمائیل چه الله ج نه اوویرېږئ او نیک اعمال اوکړئ جهاد اوکړئ او د الله حدود قائم کړئ د اکوانو او غلو باندے مقرره حدود جاری کړئ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ٥ دے کښې بشارت اخروی طرف ته اشاره ده۔

۶۳ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ دا هغه خلقو د پاره تخویف اُخروی دے څوک چه د الله تعالیٰ د مذکوره بالا احکام او حدود خلاف ورزی کوی د قیامت په ورځ کچرے هغوئ ته د دنیا ټول دولت ملاؤ شی او هغه الله ج ته فدیه ورکړی د جهنم د عذاب نه بچ کیدل او غواړی نو بچ به نهٔ کړے شی۔

۶۴ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا الخ هغوئ به جهنم نه د وتلو خواهش کوی لیکن هغوئ ته به هیڅکله هم وتل نصیب نشی او جهنم کښے به همیشه عذاب کښے مبتلا وی۔

۶۵ وَالسَّارِقُ الخ د دے تعلق اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ سره دے هلته ئے د هغه خلقو سزا بیان کړه څوک چه قتل او شوکے او ډاکے کوی او جبرًا قهرًا د خلقو نه مال اخلی۔ دلته ئے د غل د سزا بیان اوکړو یعنی چا چه پټ په پټه مال واخستهٔ خواه هغه سړے وی یا ښځه د هغهٔ لاس پریکړی فَمَنْ تَابَ الخ د غلا کولو نه روستو چا چه رښتونے توبه ویستله او د غلا مال ئے مالک ته واپس کړو یائے د هغهٔ نه معافی اوغوښتله او کچرے مالک معلوم نهٔ دے نو مال ئے د الله په لاره کښے خرچ کړو نو د داسے خلقو توبه به الله ج قبوله کړی او په آخرت کښے به د دے گناه د وئ ته سزا نهٔ ورکوی۔ باقی پاتے د غلا حد یعنی لاس پریکول نو دا به توبه سره نهٔ ساقطیږی۔

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

تا ته معلوم نهٔ دی چه ۶۶ د الله ج د پاره ده بادشاهی د آسمانونو او د زمکے

يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى

عذاب ورکړی چا ته چه اوغواړی او بخښنه اوکړی چا ته چه اوغواړی او الله ج

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴۰﴾ يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ

هر څیز باندے قادر دے ف ۶۷ اے رسوله! غم مهٔ کوه د هغه چا

الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِى الْكُفْرِ مِنَ الَّذِيْنَ

خلق څوک چه منډه وهی او پریوځی په کفر کښے هغه

قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ

وائی مونږ مسلمانان یو په خپلو خولو سره او د هغوئ زړهٔ مسلمان نهٔ دے

وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۚ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ

او هغه کوم چه یهودیان دی جاسوسی کوی د دروغ ویلو د پاره ۞

سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ لَمْ يَاْتُوْكَ ؕ يُحَرِّفُوْنَ

هغوی جاسوسان دی د بل قوم چه تا ته نه دی راغلی ۞ بدلوی

الْكَلِمَ مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُوْلُوْنَ اِنْ اُوْتِيْتُمْ

خبرې ۞ د هغې ځائے پریښودلو سره وائی که درکړے شی تاسو ته دا

هٰذَا فَخُذُوْهُ وَاِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا ؕ وَمَنْ

دا حکم ملاؤ شی نو قبول ئے کړئ او که درکړے دا حکم ملاو نشو نو ځان او ساتی او چا له چه

يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا ؕ

الله ج ګمراه کول او غواړی له هغه نو ته هغه د پاره هیڅ نشې کولے د الله سره

موضح القرآن: ف داځے د دپاره او فرمائیل چه خوګ تعجب او نه کړی چه غل ته ئے په لږه خطا ډیره سزا ورکړه ف ځنے منافقان وو چه په زړه کښے د یهودیانو سره ملاو وو او ځنے یهودیان وو چه نبی علیه السلام ته به راتلل الله تعالیٰ او فرمائیل چه دا خلق جاسوسئ د پاره راځی چه ستاسو په دین کښے څه عیب را او باسی ځان سره ئے یوسی خپلو مشرانو (سردارانو) ته کوم چه دلته نه راځی او په حقیقت کښے عیب چرته دے لیکن خبرې غلطه بیانوی هنر عیب ګرځوی.

فتح الرحمٰن: ف مترجم وائی په تورات کښے د زانی رجم نازل شوے وو او یهودیانو تحریف کړے وو د زانی مخ به ئے تور کړو او خو دُرې به ئے او وهلو د نبی علیه السلام زمانه کښے دوئ کښے یو زنا واقع شوه زانی د نبی علیه السلام په وړاندے د منافقانو او ذمی یهودیانو سره اولیږه او دا فیصله ئے او کړه چه که چرے د دُرو وهلو حکم ئے اوکړو نو عمل به پرے اوکړو او که چرے د رجم حکم ئے اوکړو عمل به پرے نه کوو نبی علیه السلام د رجم حقیقت ظاهر کړو او رجم ئے کړل دے آیت کښے اشاره دے هغې قصې ته۔ والله اعلم۔

حاشیه: ٦٦ اَلَمْ تَعْلَمْ الخ د دے تعلق لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ سره دے شروع کښے د مسئله توحید او شرک فی التصرف د نفی بیان وو او هم دا د سورت اصل مقصد دے د دے دلاندے

ئې هغه عیسایانو باندې دکفر فتویٰ اولګوله چاچه حضرت مسیح علیه السلام د خدائے سره شریك فی التصرف ګرځولے وو دینه روستو ئې اوفرمائیل چه ګورې تاسو سره جنګ کوی نو تاسو هم دهغوئ سره جهاد اوکړئ ددې وجه نه اوس دبُعد عهد (ډیر وخت تیریدلو) په وجه سره الم تعلم تعبیر کولو سره د اصل مسئله توحید او نفی د شرك فی التصرف یادګیرنه اوکړے شوه لکه چه په سورهٔ بقره کښې د مختلف احکامو بیانولو نه وروستو د رکوع ۳۲ اَلَمْ تَرَ اِلَی الَّذِیْنَ خَرَجُوْا فرمائیلو سره ئې د هغه خلقو حال طرف ته توجه راوګرځوله چاچه د مرګ د ویرے نه خپل کورونه پریښودل تخته لی وو لیکن بیا هم د مرګ نه بچ نه شول. لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ د خبر تقدیم د حصر افاده کولو د پاره دې یعنی د آسمانونو بادشاهی د الله ج د پاره ده ټول تصرفات او اختیارات هم د هغه په قبضه کښې دی نه چه د حضرت مسیح او د هغه والده په قبضه کښې. وَاللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ دا هم په حصر محمول دې یعنی هرڅیز باندې قادر هم صرف الله ج دې نه چه حضرت مسیح او د هغه والده علیهما الصلوٰة والسلام د الله تعالیٰ دا صفات مختصه دې دعوې باندې واضح دلیل دې چه په ټولو کائناتو کښې مافوق الاسباب متصرف او مختار صرف الله دې او په تصرف کښې د هغه سره څوك شریك نشته.

فائده:- دلته اګرچه مقصود شرك فی التصرف نفی ده لیکن ددې په ضمن کښې د شرك فعلی نفی هم کیږی چه کله غیر الله مثلاً حضرت مسیح، د هغه والده او نور انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام هر څیز کښې متصرف او هر څیز باندې قادر هم نه دی نو بیا د دوئ په نوم منښتے هم مه کوئ او د دوئ د پاره تحریمات هم مه کوئ.

تر دې ځائے پورې د سورت اوله حصه ختم شوه دې نه روستو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته تسلّی او منافقانو او یهودیانو د پاره زجرونه ذکر شوی دی د یهودو عالمانو او پیرانو پخپله شرك اعتقادی او شرك فعلی کولو سره او د منافقانو ډله هم یعنی د سردارانو ډله هم د زړګه نه د دوئ طرفدار ده ده دا شان دا دواړه فریق (ډلے) د نبی علیه السلام مخالف وے چه په هغې زجرونه ورکړے شول دا سلسله یٰٓاَیُّهَا الرَّسُوْلُ الخ نه شروع شوے ده د رکوع ۹ آخر تر مَا یَحْكُمُوْنَ پورې چلیدلے ده.

۶۲ یٰٓاَیُّهَا الرَّسُوْلُ الخ حصه اول کښې د شرك فعلی او نفی شرك اعتقادی تفصیلی بیان نه روستو ئې نبی علیه السلام ته تسلّی ورکړه لَا یَحْزُنْكَ یعنی کوم خلق چه د کفر او شرك طرف ته په منډه منډه روان شول د هغوئ د روبه دے تاسو په غم کښې وانه چوی او تاسو دې پریشان نه کړی او دا خلق دوه

ډلے دی یو منافقان دویم یهود مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اٰمَنَّا الخ مِنْ بیانیه دے او
دا د اَلَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ د اولنی ټولی بیان دے یعنی دا هغه خلق دی چه
خپلو ژبو سره خو ایمان راوړی او اقرار کوی او د شرك فعلی او شرك اعتقادی
نه د بیزارئ اظهار کوی لیکن د دوئ په زړونو کښے ایمان نشته د دوئ په
زړونو کښے هم هغه د کفر او شرك پلیتی موجود ده د ژبے اقرار صرف د نفاق
په وجه سره دے. وَ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا دا معطوف دے په مِنَ الَّذِيْنَ
قَالُوْٓا باندے او دا د اَلَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ دویم فریق (ډلے) بیان دے کوم چه
دواړه قسمه شرك بنکاره کوی حضرت عزیر علیه السلام مختار او متصرف
گنړی او د هغوئ د خوشحالولو دپاره د هغوئ د نوم نذرونه مننتے ورکوی
۶۸ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ دا د هُمْ ضمیر محذوف خبر دے كذب (دروغ)
نه هغه شرکیه اعمال او عقائد مراد دی کوم چه احبار او رهبان (د یهودو د
عالمانو او پیرانو) بیانولو هغوئ دا دروغ خبرے اوری او د زړه نه هغه قبلوی
حضرت شاه عبد القادر رح فرمائی لوئے جاسوسان دی دروغ ویلو دپاره سَمّٰعُوْنَ
لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ دا د مبتلاء مقدر لپاره دویم خبر دے او قوم آخرین نه د
یهودو عالمان او رهبان (صوفیان) مراد دی دے خلقو به د یهودیانو عوام د
جاسوسئ په غرض د نبی علیه السلام مجلس ته لیږل دے دپاره چه هغوئ د
نبی علیه السلام خبرے واوری دوئ ته ئے بیان کړی المراد انهم عيون
علیه الصلوٰة والسلام لاؤلئك القوم (روح ج ۶ ص ۱۳۶) لَمْ يَأْتُوْكَ دا د قوم صفت
دے یعنی هغوئ دے خلقو (رهبان او رهبان) دپاره جاسوسی کوی خولے چه ستا
مجلس ته نه راځی.
۶۹ يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ الخ دا هم د قوم صفت دے الكلم نه كلام الله یعنی
تورات مراد دے د یهودیانو علماؤ په تورات کښے لفظی او معنوی تحریف کولو د هغوئ
د تحریف نه نه خود تورات هغه آیتونه محفوظ وو په کوم کښے چه عقائد منکوره
وو نه هغه کوم کښے چه احکام ذکر شوی وو هغوئ د توحید په ځائے باندے عوامو
د شرك تعلیم ورکولو او د تورات څخه احکام او حدود ئے هم بدل کړی وو مثلاً
تورات کښے د واده شوی زناکار او زناکارے سزا رجم یعنی په کانړو ویشتل وو
لیکن هغوئ د رجم حکم پټ کړے وو او د هغے په ځائے ئے د دُرو سزا راټج
کړے وه من بعد مواضعه ای وضعوا الجلد مكان الرجم (کبیر ج ۳ ص ۵۹۸)
۷۰ يَقُوْلُوْنَ الخ دا هم د قوم صفت دے د یهودیانو عالمانو او سجاده نشین
(په گدئ ناستو) به خپلو تابعدارانو ته د محرف او بدل کړے شوو احکامو او
عقائدو تعلیم ورکولو د نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښے به ئے لیږل او هغوئ
ته به ئے تاکید کولو چه کچرے په فلانکئ معامله کښے پیغمبر دا جواب درکړو

کوم چه مونږ تاسو ته ښودلے دے نو هغه قبول کړئ لیکن کچرے هغه د دے خلاف خبره اوکړی نو هغې نه ځان بچ اوساتۍ هرګز ئې مهٔ قبلوئ ان المحرفین والقائلین هم القوم الاخرون ای یقولون لاتباعهم السماعین لهم (روح ج ۶ ص ۱۳۷) ان اوتیتم هٰذا المحرف المزال عن مواضعه (مدارک ج ۱ ص ۲۲۳)

۸۲ وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ الخ دا دے نه مخکښې يَقُوْلُوْنَ او د دینه روستو سَمّٰعُوْنَ دا دواړه د قوم صفتونه دی په مینځ کښې دا ادخال الٰهی دے چه که الله تعالیٰ اوفرمائیل چه دا سے معاندین ته هدایت نه نصیب کیږی فِتْنَتَهٗ ای اضلاله قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ یعنی کوم سړی چه الله تعالیٰ ګمراه کول اوغواړی تاسو هغهٔ ته هیڅ نفع نشئ رسولے نفع، نقصان او هدایت او ضلالت د الله ج په قبضه کښې دے هغهٔ نه سوا دے څیزونو بانده هیچا ته اختیارات نشته لکه چه الله تعالیٰ اوفرمائیل قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ (اعراف ع ۲۳) ۲- قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا (جن ع ۲) ۳- لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا (رعد ع ۳) ۴- لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا (الفرقان ع ۱)

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ

دا هغه خلق دی چه الله ج نه غوښتل چه زړونه پاک کړی د هغوئ

لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۖۚ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

هغوئ د پاره شته دنیا کښې ذلت دے او هغوئ د پاره به آخرت کښې

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۴۱﴾ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ

لوئے عذاب دے ډیر جاسوسی کونکی، دروغ ویئلو د پاره شته او ډیر حرام

لِلسُّحْتِ ۭ فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ

خورونکی نو که چرے راشی هغوئ تا ته نو فیصله اوکړه د دوئ مینځ کښې شته یا مخ

عَنْهُمْ ۚ وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْـًٔا ۭ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ

واړوه د دوئ نه او کچرے مخ واړوے د دوئ نه نو هغوئ به تا ته هیڅ نقصان اونه رسوی

بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿۴۲﴾

او کچرے ته فیصله اوکړے نو فیصله اوکړه د دوئ کښې انصاف سره بیشکه الله دوست لری انصاف کونکی ته

وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ

او هغوئ به تا لره څنګه منصف او ګرځوی ﴿ځکه﴾ او هغوئ سره خو تورات دے په کوم کښې چه حکم

يَتَوَلَّوْنَ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ وَمَا أُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴿۴۳﴾

دے د الله ﴿ځکه﴾ بیا د هغې نه روستو ګرځی او هغوئ هرګز منونکی نه دی ﴿ف۲﴾

إِنَّآ أَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيهَا هُدًى وَّنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا

مونږ نازل کړو تورات ﴿ځکه﴾ چه په هغې کښې هدایت او رڼا ده په هغې حکم کولو

النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ وَ

پیغمبرانو څوک چه حکم منونکی وو د الله یهودو ته او حکم کولو عابدانو او

الْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ

عالمانو ځکه چه هغوئ نګهبانان ګرځول شوی وو د الله په کتاب باندے

موضح القرآن: ﴿ف۱﴾ یهودیانو کښے خو قصے داسے اوشوے چه خپلے قضایا (فیصلے) ئے رسول الله ﷺ ته راوړلے فیصلے ته به هغه د یهودو مشران نه راتلل د مینځګړو په لاس به ئے رالیږلے او ورته وئیل به ئے چه کچرے څمونږ د معمول موافق فیصله اوکړی نو قبول ئے کړئ کنی نو مه ئے قبلوئ غرض ئے دا وو چه د تورات د حکم خلاف ئے معمول ګرځولے وو یو بنی کچرے د دے موافق فیصله اوکړی نو څمونږ د پاره به د الله سره سند (حجت) اوګرځی او دا به ئے خیال کولو چه هغوئ ته خود تورات خبر نشته نو چه څمونږ معمول واوری حکم به کوی الله تعالیٰ نبی علیه الصلوٰة والسلام ته خبر ورکړو د تورات موافق ئے حکم اوکړو او د تورات ئے ثابته کړه هغوئ باندے ئے او منله یوه قصه د رجم وه چه هغوئ منکر شول بیا ئے تورات نه ثابته کړه او یوه د قصاص وه چه هغوئ به د کم ذات او اشراف فرق کولو او په تورات کښے ئے فرق نه وو ساتلے.

﴿ف۲﴾ د نبی علیه السلام په زړه کښے تردد وو چه د دوئ مقدمه کښے فیصله اونکړم نو خفه به شی او که فیصله په خپل دین اوکړم نو قبوله به ئے نه کړی او کچرے د هغوئ معمول جاری کړم نو د الله په نزد غلطی ده الله تعالیٰ اوفرمائیل چه تا ته اختیار دے یا خو تغافل (ځان بے پروا) کړه د دوئ د خفګان خطره مه کوه یا حکم اوکړه د خپل دین موافق بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه حکم اوکړو او هغوئ باندے ئے او منلو.

فتح الرحمٰن: ف۱ مترجم وائی اهل ذمه کچرے خپله فیصله امام (د مسلمانانو بادشاه) ته راوړی کچرے غواړی نو حکم دے اوکړی اوکه غواړی دهغوئ عالمانو ته ئے اوسپاری والله اعلم ف۲ یعنی کچرے د دوئ غرض د الله تعالیٰ رضا طلب کول وی نو په تورات با ندے به ئے عمل کولے لیکن فاسد غرض ئے لرو۔

حاشیه ۳۳ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ دا تخویف دنیاوی دے وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ○ دا تخویف اُخروی دے۔

۳۴ سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ دا داول سَمَّاعُونَ نه بدال دے اود أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ د زیاتی د پاره ئے اعاده کړے شوے ده السُّحْتُ ای الحرام هغه رشوتونه کوم چه د یهودو عالمانو په محرف مسائلو باندے دعوامونه اخستل او هغه نذرانے کومے چه احبار او رهبان (د یهودو عالمانو او صوفیانو) دعوامو په زړونو کښے نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ رُعب کینولو سره دهغوئ نه وصولول او دغیر الله نذر او منتے هول په حرام کښے دی لکه چه علامه شامی رح فرمائی ولم یثبت فی الشرع جواز الصرف للاغنیاء للاجماع علی حرمة النذر للمخلوق ولا ینعقد ولا تشتغل الذمة به ولانه حرام بل سحت (رد المختار حاشیة الدر المختار ج ۲ ص ۱۳۸ مطبوعه مجتبائی قبیل باب الاعتکاف) اکالون للسحت وهو ما یاکلونه بدینهم (روح ج ۶ ص ۱۴۲)

۳۵ فَإِنْ جَاءُوكَ الخ دجَاءُوا ضمیر نه هم هغه مذکوره یهود مراد دی یعنی دروغ خوښونکی دالله په کلام کښے تحریف کونکی رشوتونه او دغیر الله نذرونه او منتے خوړونکی۔ نردے ځائے پورے ئے دهغوئ حالات بیان کړل روستو ئے اوفرمائیل چه کچرے دا یهودیان د قصاص لاروهنے، غلا، زنا او د نورحدود جګړه فیصله کولو د پاره ستاسو خدمت کښے حاضرشی نو تاسو ته اختیار دے که غواړئ نو د فاحکم بینهم ای بالقصاص وغیره دے نه روستو ئے دلف ونشر غیر مرتب طور باندے دمذکوره دوه شقونو متعلق زیاتے دوه خبرے بیان کړی د دویم شق اعراض باره کښے ئے اوفرمائیل وَإِنْ تُعْرِضْ الخ کچرے تاسو د دوئ نه اعراض اوکړی نو هغوئ به تاسو ته هیڅ تکلیف او نه رسوی۔ کچرے د اعراض نه مراد داوی چه تاسو د دوئ میڅ کښے فیصله مه کوئ نو دے باندے یوه بله شبه هم کیږی هغه داچه د یهود و نه د ضرر خطره خو دے صورت کښے کیدے شی چه تاسو د دوئ معامله کښے فیصله اوکړئ او هغوئ د دے خلاف وی کړی نو بیا د خطرے څه سوال دے د دے وجه نه دلته د اعراض نه اعراض عن الحکم مراد نه دے بلکه اعراض عن ابقاء العهد مراد دے ای وان لم یسلمو حکمک فاعرض عنهم وعن معاهدتهم وقل لهم نحن نقاتل محکم یهودیانو به قتل او لوټ او لاره شوکول کول بیا به خپلو عالمانو

نه ورتلل فدیه او نذرانه وغیره به یٔ ورکړل خپل ځانونه به یٔ بچ کول او د قانون د
گرفت نه به گرځیدل اوس هغوئ د حضور علیه السلام په مخکښې هم فدیه وغیره ورکولو
سره یٔ د خپل ځانونو بچ کولو کوشش شروع کړو نو د ے باندے الله تعالیٰ او فرمائیل
کچرے هغوئ تاته راشی نو تاسو عین د شریعت مطابق فیصله اوکړئ بیا کچرے هغوئ
ستاسو فیصلے نه اعراض اوکړی او هغه اونهٔ منی نو تاسو صفا او وایئ چه ځما ستاسو سرهٔ
هیڅ معاهده نشته بلکه تاسو سره به مونږ جهاد کوو نو د ے صورت کښے به هغوئ
تاسو ته هیڅ نقصان اونهٔ رسوی الله ج به ستاسو حافظ او ناصر دے.

۷۵ وَاِنْ حَكَمْتَ الخ دا د ذکر شوو دوه خبرونه د اول خبرے سره متعلق دے
یعنی کچرے تاسو د دوی مینځ کښے فیصله کوئ نو همیشه عدل او انصاف سره کوئ د
دوئ د خواهشاتو پیروی هرگز مهٔ کوی او دینه هم هوښیار او سیږئ چرته هغوئ
تاسو خپلو فریبناکو او د چاپلوسئ خبرو او چالونو سره د حق او انصاف نه لرے
نهٔ باسئ لکه چه رکوع ے کښے یٔ د دے دواړو خبرو تفصیل بیان کړو:
(۱) فَاحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ او
(۲) وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ الخ
۷۶ وَكَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ الخ استفهام تعجب د پاره دے (روح) دلته یٔ
د یهودیانو رویٔ باندے د دوه تعجبونو سره اظهار اوکړو تعجب دے دا
خلق د خپلو معاملاتو مقدمے تاته وړے راوړی حال دا دے چه د دوئ سره د الله
کتاب تورات موجود دے په هغے کښے د دے مقدمات فیصلے هم موجود دی
بیا دے باندے د تعجب خبره دا ده چه هغوئ د دے باوجود کله تاسو ته خپل
مقدمات راوړی بیا د فیصلو نه اعراض کوی وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ د دوئ
خویهٔ تورات باندے هم ایمان نشته په کوم باندے چه د دوئ د ایمان راوړلو
لوئے دعوئ کونکی دی کچرے په تورات باندے د دوئ ایمان وے نو د هغے په
احکامو باندے به یٔ عمل کولے او په قرآن باندے به یٔ هم ایمان راوړلے
چه د قرآن د احکامو تصدیق کوی وما اولٰئك بالمؤمنين بشئ من كتاب الله
تعالیٰ لا بالتورٰة و الا لعملوا بها وامنوا بما یصدقه و یوافقه ولا بکتابك
(مظهری ج ۳ ص ۱۲۲)

۷۷ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ نه د قتل او قطع الطریق حکم یعنی قصاص
وغیره مراد دے لکه چه وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ الخ د ے باندے
شاهد دے.

فائده :- دے نه مخکښے د یهودیانو قطاع الطریق او د قتل او د ډاکه اچوونکو
زمکه باندے د فساد کونکو د سزاگانو ذکر وو د دے وجه نه د دے مناسبت
سره د حُكْمُ اللّٰهِ نه دلته ټول حدود مراد دی صرف د زنا سزا مراد نهٔ ده

او د دے آیتونو د شان نزول په طور باندے د یهودیانو د سری او ښځے د زنا کیسه
چه کومه واقعه بیانولے شی هغه هم د دے آیت د لاندے داخل ده لیکن
د آیت حل د دے واقعه باندے موقوف نه دے۔

۵۲ اِنَّآ اَنۡزَلۡنَا التَّوۡرٰىةَ اول ئے نبی علیه الصلوٰة والسلام ته حکم ورکړو
چه تاسو عدل او انصاف سره فیصلے اوکړی دلته ئے اوفرمائیل مونږ موسیٰ
علیه السلام باندے تورات نازل کړو چه ټول هدایت او رڼا وه دے د پاره
چه هغه او هغه نه روستو راتلونکی اسرائیلی نبیان، احبار او رهبان شمے
اوکړی او د هغے مطابق جګړے فیصله کړی لکه چه ټول اسرائیلی نبیانو او
ټول ربنتونی صوفیان، درویشانو او ټولو ربنتنو عالمانو کوم چه بنی اسرائیلو
کښے د موسیٰ علیه السلام نه روستو تیر شوی هغوئی د تورات په احکامو عمل
کولو ځکه چه د الله ج دکتاب تورات د تعلیما تو حفاظت او هغے نه د رواج ورکولو
ذمه داری هغوئی باندے اچول شوے وه او هغه د دے عالمان و او د دغه
تعلیما تو نګران وو اَلَّذِیۡنَ اَسۡلَمُوۡا دا د النَّبِیُّوۡنَ صفت مادحه دے یعنی
د الله فرمانبردار نبی۔ اَلَّذِیۡنَ اَسۡلَمُوۡا ههنا نعت فیه معنی المدح بسم
الله الرحمٰن الرحیم (قرطبی ج ۶ ص ۱۸۹) اَلَّذِیۡنَ هَادُوۡا دا د جار مجرور متعلق
دے د یَحۡكُمُ سره هادوا تابوا من الکفر (روح، مظهری، قرطبی) یعنی کوم
خلق چه د کفر نه تابت شوے وو مراد هغه خلق دی چا چه د تورات په
تعلیماتو عمل کولو۔ اَلرَّبّٰنِیُّوۡنَ د اَلرَّبَّانِیُّ جمع ده یعنی الله والا او دینه د
هغه وخت صوفیان، درویشان دنیا پریښودونکی مراد دی احبار د حَبر
جمع ده یعنی ډیر لوئے عالم۔ الربانیون ای الصوفیه الزهاد ...... والاحبار
جمع حبر ...... هو العالم المحکم للشیء (مظهری ج ۳ ص ۱۲۳) بِمَا كُتِبَ ب سببیه
ده دکتاب الله نه تورات مراد دے شُهَدَآءُ د شهید جمع ده چه د ده معنیٰ ده
نګران، خبردار او بیانونکے دے۔ شُهَدَآءُ رقباء یعلمونه ویبینونه (مظهری ج
ص ۱۲۴) رقباء یحمونه من ان یحوم حول حماه التغییر والتبدیل بوجه من الوجوه
(روح ج ۶ ص ۱۴۴).

وَكَانُوۡا عَلَيۡهِ شُهَدَآءَ ج فَلَا تَخۡشَوُا النَّاسَ
او و دے خبر اخستلو باندے مقرر ووپس نو تاسو مه ویریږئ د خلقو نه
وَاخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِاٰيٰتِىۡ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ
او ځما نه او ویریږئ او مه اخلئ ځما په آیتونو باندے قیمت لږ

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

او څوک چه حکم نه کوی له ۵ د هغې موافق کوم چه الله ۷ نازل کړی دی نو هم هغه خلق

الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ

دی کافران او اولیکه موږ په هغوئ باندے په هغه کتاب کښے له ۵ چه د

بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ

نفس په بدله کښے نفس دے او د سترګے بدله کښے سترګه او د پوزے بدله کښے پوزه

وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوْحَ

او د غوږ بدله کښے غوږ او د غاښ بدله کښے غاښ او د زخمو نو بدله د

قِصَاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ وَ

هغے برابر چه چا معاف کړو نو هغه د ګناه نه پاک شو او

مَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

څوک چه حکم نه کوی د هغے موافق ۳ له کوم چه الله نازل کړو نو هغه خلق

الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ

ظالمان دی او روستو موږ اولیږه د هغوئ په قدم مونو باندے عیسیٰ له ۴ د

مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ

مریم ځوئے تصدیق کونکے د تورات کوم چه مخکښے وو

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی یقین سره ئے معلوم کړے وه چه الٰهی حکم دے والله اعلم ف۲ یعنی د هغهٔ په عوض کښے وژل پکار دی

حاشیه: ف۹۶ دے کښے خطاب د یهودو علماؤ او مشرانو سره دے (روح) چه کله انبیاء علیهم السلام، ربانیین، احبار تورات باندے عمل کونکی راچلیدلے دی او هغوئ ته چا څهٔ نقصان او نه رسولو اے د یهودو عالمانو او مشرانو تاسو د خلقو نه ولے ویریږئ تاسو د چا نه مه ویریږئ او په تورات کښے چه ما کوم احکام نازل کړی دی په هغے عمل او کړئ او په هغے کښے تحریف تغیر او تبدیل مهٔ کوئ.

۸۰ څما د آیتونو د په هغی کښې تعریف کولو سره د هغې په عوض کښې د دنیا حقیر دولت مه حاصلوئ د حکومت د د باؤ په وجه یا د اقتدار او دولت په لالچ کښې څما د دین نه مخ مه اړوئ او د حق بیان او د صداقت اعلان مه پریږدئ ایصال ثواب د پاره د تلاوت قرآن د اجرت اخستلو منع هم د دے آیت نه مفهوم کیږی۔

۸۱ د یهودیانو د هغه عالمانو او مشرانو د پاره سخت وعید دے څوک چه په تورات باندے عمل نه کوی او د معاملاتو فیصله د تورات د احکامو مطابق نه کوی دا الله خلق ئے کافر اوګرځول حال دا دے چه عمل نه کول دا یو عملی کوتاهی ده چه دے سره انسان نه کافر کیږی د دے وجه نه د عمل نه کولو او د فیصلے نه کولو نه مراد دا دے چه د دے د احکامو د صداقت او حقانیت اعتقاد او نه لری دا شان دلته د عمل نه کولو کامل درجه مراد ده الحکمُ ان کان شاملا لفعل القلب والجوارح لکن المراد به هنا عمل القلب وهو التصدیق ولا نزاع فی کفر من لم یصدیق بما انزل الله تعالٰی (روح ج ۶ ص ۱۴۵) او مسند احمد کښې دی من لم یحکم ای لم یعتقد د احکم او د اشان راتلونکی احکام یعنی کوم خلق چه د الله تعالٰی نازل کړے شوو احکامو باندے عقیده او نه ساتی او په هغے عمل او نه کړی نو د هغوئ هم دا حال دے۔

۸۲ دا په تورات کښې د قصاص د حکم ذکر دے یعنی مونږ په تورات کښې یهودیانو باندے قصاص د نفس او په اعضاؤ کښې قصاص او د زخمونو قصاص فرض ګرځولے وو او حکم ئے ورکړے وو چه د مقتول بدله کښې دے قاتل قتل کړے شی او کچرے یو سړے د بل سړی اندام پریکړی نو د هغه دے هم اندام پریکړے شی او کچرے څوک چا لره زخمی کړی نو هغه دے هم زخمی کړے شی لیکن هغوئ حدود قائم نه کړل او د امیر غریب، شریف خسیس فرق ئے اوساتلو۔ والجروح قصاص۔ اصل کښې ذَاتُ قصاصٍ وو مضاف ئے حذف کړو مضاف الیه د هغه قائمقام اوګرځولے شو۔ فَمَنْ تَصَدَّقَ الخ چا چه خپل قصاص معاف کړو هغه د پاره به دا د ګناهونو کفاره وی۔

۸۳ دلته ئے هغه خلق ظالمان اوګرځول څوک چه په تورات کښې د نازل کړے شوو احکامو په قصاص باندے عمل نه کوی لکه چه د یهودو علماؤ به دا سے کول هغوئ به شریفان او سرداران د ادنٰی حیثیت خلقو او غریبانانو په قصاص کښې نه قتل کول دا شان به د مظلومانو حق تلفی کیدله یو خو هغه ظالمان وو چا چه په یو کمزوری انسان باندے ظلم اوکړو لیکن چه کله د یهودو عالمانو د مظلوم حق د ظالم نه نه اخستلو نو هغوئ هم ظالمان شول۔

۸۴ مخکښې یهودو ته د تورات ورکولو او د هغې په احکامو باندے سختی سره

د عمل کولو ذکر وو دلته ئې حضرت عیسیٰ علیه السلام باندې د انجیل نازلولو
ذکر اوکړو او ورسره ئې د نصارای علماو ته انجیل باندې د عمل کولو تاکید
اوکړو مُصَدِّقًا دا د عیسیٰ علیه السلام نه حال واقع دې وَاٰتَیْنٰهُ الْاِنْجِیْلَ
حضرت عیسیٰ علیه السلام یو طرف ته خود تورات تصدیق کونکے وو او بل
طرف ته پخپله هم د کتاب خاوند وو هغهٔ ته مونږ انجیل ورکړو چه په هغې کښې د
تورات پشان د هدایت رڼړا وه وَمُصَدِّقًا څنګه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام
د تورات تصدیق کولو دا شان انجیل هم د تورات تصدیق کونکے وو

وَاٰتَیْنٰهُ الْاِنْجِیْلَ فِیْهِ هُدًی وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا
او هغهٔ ته ورکړو مونږ انجیل چه په هغې کښې هدایت او رڼړا وه او تصدیق ئې کولو
لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًی وَّمَوْعِظَةً
د هغې کوم چه د هغهٔ نه مخکښې وو تورات او لاره ښودونکے او نصیحت وو
لِّلْمُتَّقِیْنَ ؕ ﴿۴۶﴾ وَلْیَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِیْلِ بِمَاۤ اَنْزَلَ
ویریدونکو لپاره او پکار ده چه حکم اوکړی ﴿۵۵﴾ انجیل والا موافق د هغې کوم چه
اللّٰهُ فِیْهِ ؕ وَمَنْ لَّمْ یَحْكُمْ بِمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓىِٕكَ
الله نازل کړو د پکښې او څوک چه حکم نه کوی موافق د هغې کوم الله نازل کړو نو هم دا
هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَاَنْزَلْنَاۤ اِلَیْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ
خلق نافرمان دی او په تا باندې نازل کړو مونږ کتاب د رښتونې
مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَیْمِنًا
تصدیق کونکے د تیرو شوو کتابونو او د هغې مضامینو حفاظت کونکے دے
عَلَیْهِ فَاحْكُمْ بَیْنَهُمْ بِمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ
نو ته حکم اوکړه د وی کښې ﴿۵۶﴾ موافق د هغې کوم چه الله نازل کړو او د دوی په
اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ؕ لِكُلٍّ جَعَلْنَا
خوښه مه څه ئې لاس پرېښودلو سره کوم چه تا ته راغله هر یو ته مونږ ورکړو

مِنكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ۚ وَلَوْ شَآءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ

ستاسو نه یو قانون او لاره ځه او که الله غوښتے وے نو تاسو به یے ګرځولي وي

أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ آتَاكُمْ

دین باندے کرځولے وے څه لیکن تاسو ازمایل غواړي خیل د رکړے شو حکمو نو کښے

نکات: ۱ یعنی د تورات او انجیل نه روستو د آخری کتاب تاسو باندے دے د پاره نازل کړے شو چه تاسو د الله حکم صفا صفا بیان کړی ۲ د پاره رکوع ۶ کښے مذکور بالقسط د پاره تفسیر دے ۳ ای معرضًا عمّا جاءك ۱۲
۴ یعنی جبری ایمان مطلوب نه دے کنی نو ثواب وعقاب او امتحان به نه وے داقید به باقی ځایونو کښے هم ملحوظ وی په قرینه دد ے مقام۔

فتح الرحمٰن: ۵ یعنی تحریف دغیر تحریف نه جدا کوی۔

حاشیه: ۸۵ اهل انجیل نه د نصارٰی علماء مراد دی څوک چه دانجیل عالمان وو وے فرمائیل د انجیل علماؤ ته یکاره ده چه هغوئ هغه تعلیماتو باندے عمل اوکړی کوم چه الله تعالیٰ په انجیل کښے نازل کړل کوم خلق چه په انجیل کښے د الله ج نازل کړے شوو احکامو باندے عمل نه کوی هغه فاسق او د الله نافرمان دی یا ددے کامل درجه مراد ده ای المتمردون الخارجون عن حکمه او عن الایمان (روح ص۱۵۱ ج۶)

۸۶ خطاب نبی علیه الصلوٰة والسلام ته دے علماءِ یهود او نصارٰی ته تورات او انجیل باندے دعمل کولو تاکید نه روستو ئے نبی علیه الصلوٰة والسلام ته اوفرمائیل چه په تا باندے ماهم یو کتاب نازل کړید ے چه هر لحاظ سره کامل وحق او صداقت بیانوی او په تیرو شوو کتابونو کښے د مذکور عقاید او اصولی احکامو او اخلاقو تصدیق کوی اَلْكِتٰب کښے الف لام دعهد د پاره دی دیته قرآن عظیم مراد دے ای الفرد الکامل الحقیق بان یسمی کتابا علی الاطلاق لتفوقه علی سائر الکتب السماویة وهو القرآن العظیم فاللام للعهد (روح) مِنَ الْكِتٰبِ۔ مِنْ بیانیه ده او دا د مَآ بیان دے دیته مراد هغه ټول آسمانی کتابونه دی کوم چه د قرآن نه مخکښے نازل شوے دی من الکتب ای کلّ کتاب نزل من السمآء سوی القرآن (کبیر ج ۳ ص۶۰۵)

۸۷ عَلَیْهِ کښے ضمیر مَآ طرف ته راجع دے مُهَيْمِنًا ای رقیبا وحافظا (روح، قرطبی، کبیر وغیره) چونکه قرآن مجید پخپله د هر قسم تحریف او تغیر نه محفوظ دے او د نسخ او تبدیلۍ نه مامون دے ددے وجه نه دا د مخکښنو ټولو آسمانی کتابونو محافظ او د هغوئ د تعلیماتو نګران دے قرآن یو آسمانی معیار دے ددے په ذریعه

د تېر شو کتابونو محرّف او غیر محرّف تعلیماتو او د احکامو یقیني فیصله کیدای شي قرآن کریم کښې چونکه اصولِ شرائع او عقائد محفوظ شوي دي د دے وجه نه د تیرو شو کتابونو د منسوخ او غیر منسوخ احکامو پته هم لګیدے شي قال الخلیل وابو عبیدة ای رقیبًا علی سائر الکتب السماویة المحفوظة عن التغییر حیث یشهد لها بالصحة والثبات ویقرر اصول شرائعها وما یتأبد من فروعها ویعین احکامها المنسوخة (روح ص۱۵۲ ج۶)

۸۸ داد وَاَنِ احۡکُمۡ فَاحۡكُمۡ الخ تفصیل دے یعني چه کله مونږ تاته دداسے اعلیٰ صفتونو والا کتاب درکړو نو چه کله اهل کتاب خپلے جګړے تاته راوړي نو تا سو دے عظیم الشان کتاب مطابق د دوئ فیصله اوکړئ او د دوئ د نفساني خواهشاتو تابعداري مه کوئ اَهۡوَآءَ نه مراد د علماء یهود د ځان نه جوړ کړي احکام دي کوم چه هغوئ تورات او انجیل کښے تحریف کولو سره د خپل ځان نه جوړ کړے وو ای اراءهم التی اصطلحوا علیها وترکوا بسببها ما انزل الله علی رسوله (ابن کثیر ص۶۶ ج۲) عَمَّا حرف جار چه متضمن دے معنیٰ د اعراض او عدول لره متعلق دے لَا تَتَّبِعۡ سره ای لَا تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَهُمۡ عادلًا (او معرضًا) عَمَّا جَآءَكَ ط (روح و مدارک ص۱۴۳ ج۱) یعني تاسو ته چه کوم حق راغلے دے د هغے نه اعراض کولو سره تاسو د دوئ د خواهشاتو تابعداري مه کوئ۔

۸۹ شِرۡعَةً وَّمِنۡهَاجًا ط دواړو لفظونه متحد المعنیٰ (یو معنیٰ لرونکي) دي د دواړو معنیٰ لاره ده او دواړو نه مراد دین دے دینه شرعة۔ د ظهور او وضوح اعتبار سره او د بانداے د تللو اعتبار سره منهاج ورته وئیلے کیږي بعضو مفسرینو په دواړو کښ فرق کړے دے چه شرعة نه مراد احکام فرعیه او د منهاج نه احکام اعتقادیه مراد دي لیکن علامه آلوسي دا نۀ ده خوښه کړے وقیل الشرعة الاحکام الفرعیة والمنهاج الاحکام الاعتقادیة ولیس بشيء (روح ص۱۵۶ ج۶) دلته ئې اهل کتابو ته د نبي علیه السلام د اتباع ترغیب ورکړو وئې فرمائیل هر اُمت د پاره مونږ دین مقرر کړو دے د پاره چه هغوئ دے باندے عمل اوکړي کوم خلق چه د یو پیغمبر په زمانه وي هغوئ ته د هغهٔ اُمت وائي او هغوئ باندے د هغهٔ د دین پیروي لازمیږي. دینه روستو چه کله دوئم پیغمبر راشي د هغهٔ راتللو سره اُمت بدل شي او اوس به د هغه دین واجب الاتباع وي۔ حضرت موسیٰ علیه السلام نه واخله تر عیسیٰ علیه السلام د بعثت د پورے خلقو د پاره تورات دین مقرر کړے شو دینه روستو حضرت مسیح علیه السلام نه واخله د نبي علیه السلام د بعثت پورے انجیل د دین دستور العمل وو بیا د حضور علیه الصلوٰة والسلام د بعثت سره تورات او انجیل منسوخ شول او ټولو انسانانو د پاره ئې قرآن مجید شرعة او منهاج اوګرځولے شو او ټولو باندے د نبي علیه السلام راوړے شوے قرآن او دین منل لازم او فرض شو یهودو او نصاراي ؤ باندے په تورات او انجیل باندے عمل کول هغه وخت ضروري چه کله هغه د قرآن راتللو نه مخکښے منسوخ شوي نۀ وو استئناف جيء

بہ لحمل اهل الکتٰب من معاصریه صلی الله علیه وسلم علی الانقیاد لحکمه علیه الصلوٰة والسّلام بما انزل الله تعالیٰ الیه من الحق (روح وابو السعود ج ۳ ص ۴۹)
نفع ۹ کچرې الله تعالیٰ غوښتې وې نو جبرًا به یې د ټولو خلقو په زړونو کښې ایمان
داخل کړې وې او هغوی به ټول په دین توحید باندې قائم کړې وې برامت
به یې کړخولې وې او دوی کښې به هیڅ قسم اختلاف نه وو لیکن دا خبره هغه
د حکمت خلاف وو ځکه چه په دې طریقه ازمایش نشو کیدې د دې وجه نه
هغه بندګانو ته اختیار ورکړو چه د خدای ورکړې شوې عقل او شعور سره
سوچ فکر او کړي خپل مرضۍ او خوښې سره چه کوم لاره اختیارول غواړي
هغه اختیار کړي په دې طریقه به د هغوی امتحان او کړې شي چه د دوی کښې څوک
د نیکۍ طرف ته په تلوار ځي او څوک بدی خوښوي د دې د دورِ ابتلاء (دنیا) نه
روستو به په آخرت کښې ټول د الله په مخکښې حاضر کړې شي او هغه به هر یو ته
د هغه د اعمالو موافق سزا ورکوي قرآن مجید کښې اکثر ځایونو کښې د ټولو خلقو په
یو دین باندې د جمع کیدو حکمت نه دې بیان شوې د دې مقام قرینه سره
به ټولو ځایونو کښې دا حکمت ملحوظ او مقدر وي مثلاً وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَ النَّاسَ
اُمَّةً وَّاحِدَةً (هود ع ۱۰) او سورۂ رعد (رکوع ۴) کښې دي وَلَوْ یَشَآءُ اللّٰهُ لَهَدَی النَّاسَ
جَمِیْعًا۔ دا شان سورۂ سجده ع ۲ کښې ارشاد دې وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَیْنَا كُلَّ نَفْسٍ
هُدٰىهَا۔ دې ټولو آیتونو کښې به وَلٰكِنْ لِّیَبْلُوَكُمْ قید ملحوظ وي۔

فَاسْتَبِقُوا الْخَیْرٰتِ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِیْعًا
نو تاسو تلوار او کړئ او نیکیٔ واخلئ طرف د الله ته ستاسو د ټولو ورتلل دي

فَیُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِیْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَاَنِ احْكُمْ
بیا خبر در کړي به کومه خبره کښې چه ستاسو اختلاف وو او دا یې او فرمائیل

بَیْنَهُمْ بِمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ
چه حکم او کړه ته د دوی کښې د هغې موافق کوم چه نازل کړې دې الله او مه ځه د دوی په خوښه باندې

وَاحْذَرْهُمْ اَنْ یَّفْتِنُوْكَ عَنْۢ بَعْضِ مَاۤ اَنْزَلَ
او ځان ساته د دوی نه چه تا وانه ړوي دیو د اسې حکم نه چه نازل

اللّٰهُ اِلَیْكَ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ
کړې دې الله په تا باندې بیا کچرې نه مني نو پوهه شه چه الله دا غواړي

أَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ؕ وَإِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ

چه او رسوی دوی ته څه سزا د دوی د ګناهونو او په خلقو کښې ډیر

النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ

دی نافرمان اوس ولې دوی حکم غواړی د کفر د حالت ۹۲

وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع

او الله نه غوره څوک دے ۹۳ حکم کونکے یقین کونکو د پاره ۲ف

يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَ

اے ایمان والاؤ مه جوړوئ ۹۴ یهود او

النَّصٰرٰى أَوْلِيَآءَ ؕ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ وَمَنْ

نصارٰی دوستان هغوئ خپل مینځ کښے دوستان دی یو تر بله او چاچه

يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَإِنَّهٗ مِنْهُمْ ؕ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى

ستاسو نه دوستی او کړه د دوی سره نو هغه هم د دوی نه دے الله هدایت نه کوی

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾

ظالمانو خلقو ته

نکات: سا ای د امرکے سے دلته دا قید زیاتے دے یعنی تا به په فتو کښے واچوی د حق نه به دے واړوی سے یعنی دقتل په بدله کښے فدیه ورکولو سره خپل ځان. بچ کول غواړی سے یعنی دوئ سره دوستی مه کوئ خپل مینځ کښے محبت کوئ.

فتح الرحمٰن: فا یعنی د الٰهی فرمان تا بعداری په شریعت د پیغمبر اخرزمان کښے فا مترجم وائی حاصل د دے آیتونو الزام دے په اهل کتابو باندے باوجود دکتاب التزام سره دهغے موافق عمل نه کوی او دے آیت کریمه کښے د دے بیان دے چه هرے دلے ته مونږ یو شریعت ورکړے دے او د نزول قرآن نه روستو بغیر د قرآن کریم د متابعت نه جائز نه دے والله اعلم۔

۹۱ دا د اُمِرُكَ محذوف مفعول دے یا دا اَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الْكِتٰبَ با نُدے معطوف
دے یعنی څنګه چه مونږ تا باندے کتاب نازل کړو دا شان دا امر هم نازل
کړو وَاحْذَرْهُمْ الخ نبی علیه الصلوٰة والسلام ئے خبردار کړو چه تاسو د
یهودو د مکر او فریب نه هوښیار اوسیږئ چرته هغوئ تاسو په کوم معامله
کښے د صحیح فیصلے نه بے لارے نۀ کړی فَاِنْ تَوَلَّوْا الخ کچرے هغوئ ستاسو
فیصله او نۀ منی نو تاسو یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ هغوئ ته په دنیا کښے
هغوئ دکنا هونو سزا ورکول غواړی لکه چه یهودو ته د خپلے سرکشئ او د نبی
علیه السلام د مخالفت سزا دنیا کښے هم ملاؤ شوه څنے قتل کړے شو او څنے
جلاوطن کړے شول او څنے ذلت او رسوایئ سره جزیه ورکولو باندے مجبور
کړے شول ای یعذبهم بالجلاء والجزیة والقتل وکذلک کان (قرطبی ج ۶ ص ۲۱۳)
فائدہ :- مخکښے رکوع ۶ کښے ئے اوفرمائیل فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بیا ئے دے آیت کښے
بِالْقِسْطِ زیات کړو فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ دینه روستو رکوع ۷ کښے د بِالْقِسْطِ
په ځائے بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اوفرمائیل واضحه ئے کړل چه قِسْط نه د الله تعالیٰ
نازل کړے شوی احکام مراد دی او دے سره ئے اوفرمائیل وَلَا تَتَّبِعْ
اَهْوَآءَهُمْ نبی علیه السلام ئے د یهودو د تابعدارئ نه منع کړو بیا د دینه
مخکښے راتلونکی آیت کښے ئے اوفرمائیل وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ اضافه
کولو سره ئے نبی علیه السلام خبر کړو چه تاسو د دوئ د مکر او فریب نه ځان
بچ ساتئ هغوئ به
تاسو د خپلو سرمایه دارانو او خپلو مریدانو او تابعدارانو په ذریعه په څۀ فتنه
او سازش کښے راګیرولو سره د حق نه خلاف فیصله کولو کښے کوشش کوی.
۹۲ یهودیانو قطاع الطریق به قتل اولارے شوکول کول او د قتل په بدله
کښے به ئے فدیه ورکولو سره د قصاص نه ځان بچ کولو د نبی علیه السلام په مخکښے
به ئے هم دا کوشش وو چه مال ورکړی او ځان قتل نه خلاص کړی نو الله پاک
اوفرمائیل چه دا خو بالکل هغه د جاهلیت فیصله ده وے دا خلق د آخرالزمان
پیغمبر په مخکښے هم هغه د جاهلیت فیصله غواړی.
فائده :- قال الشیخ قدس سره کچرے غور سره اوکتل شی نو د سورت د
شروع نه واخله تر دے ځائے پورے د یهود قطاع الطریق متعلق آیتونه وو په
ابتداء کښے اوونیل شو کچرے تاسو پخوانی بغض په بناء باندے د نورے مسلمانانو
معاونت او امداد اونۀ کړی د اقطاع الطریق د هغوئ نه بند نۀ کړئ نو دا به
معاونت علی الظلم کښے شمار وی او س دے آیتونو کښے هم د هغه قطاع الطریق
ذکر دے
۹۳ لِقَوْمٍ کښے لام په معنیٰ د عند سره دے کومه فیصله چه یهود غواړی هغه

توله د جاهلیت فیصله ده او کومه فیصله چه د خدائے پیغمبر صادر کړه هغه په حقیقت کښې د الله فیصله ده او کوم خلق چه په الله تعالیٰ باندے د الله تعالیٰ په رسول باندے د الله تعالیٰ په کتاب باندے او د آخرت په ورځ یقین لري د هغوی په نزد د الله تعالیٰ د فیصلے نه کوم چه د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په ذریعه صادریږي هیڅ یو فیصله بهتر نشي کیدے۔

۹۴ د یهودو او نصاریٰ و د خباثتونو او بد عملونو ذکر کولو نه روستو ئے مسلمانانو ته د هغوی سره د ترک موالات حکم ورکړو چه د هغوی سره دوستي مه کوی او نه ئے یو بل سره د تعاون او امداد کومه معاهده اوکړئ بلکه خپل مینځ کښې دوستي او محبت زیات کړئ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ هغوی خپل مینځ کښې د یو بل دوستان دی یهود خپل مینځ کښې او نصاریٰ خپل مینځ کښې لیکن ستاسو دشمنان دی د دے وجه نه د دوی نه د خیر خواهیٔ او نیکیٔ امید مه ساتئ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ الخ څوک چه دوی سره دوستي کوی هغه به هم د دوی نه وی دا ئے په طور د زجر او توبیخ اوفرمائیل وهو مخرج مخرج التشدید والمبالغة فی الزجر (روح ج ۶ ص ۱۵۵)

ځینو مفسرینو ویلی دی چه دا آیت د منافقانو باره کښې دے او مطلب دا دے چه هغوی به د یهودو او نصاریٰ ځ سره د موالات په وجه د هغوی په شان مجاهرین (ښکاره) کافران شي۔

فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُونَ

اوس به ته اووینې ۹۵ هغه چالره د چا په زړه کښې چه بیماري ده چه په منډه به ورځي

فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشٰى اَنْ تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ؕ

هغوی ته وائي چه خوږیږو ویره ده چه راتشي حادثه د زمانے فله

فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ

نو نزدے ده چه الله ظاهر کړي فتح ۹۶ یا یو حکم له خپل جانبه

فَيُصْبِحُوا عَلٰى مَآ اَسَرُّوا فِيْ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِينَ ؕ ﴿۵۲﴾

او دوی به کرځي د خپل زړه په پټه خبره باندے پښیمانه ف

وَيَقُولُ الَّذِينَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِينَ اَقْسَمُوا

او وائي مسلمانان چه آیا دا هغه خلق دی چه ۹۷ قسمونه به ئے خوړل

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لا اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ط حَبِطَتْ

د الله په ويرنيات چه موږ ستاسو سره يو برباد شول

اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

د دوئ عملونه بيا ياتے شول په نقصان كښے اے

اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ

ايمان والاو څوك چه ستاسو اوګرځي ځپل دين نه نو الله به نزدے دے

يَاْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗۤ لا اَذِلَّةٍ عَلَى

چه راولي داسے قوم چه هغوئ خوښوي اوهغوئ به د هٔ لره خوښوي نرم زړونو والا

الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ز يُجَاهِدُوْنَ

دي په مسلمانانو باندے زور آور دي په كافرانو جنګ كوي

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ط

د الله په لاره كښے او نه ويريږي د چا د الزام نه

نكات: ۱ شكوئ منافقانو د پاره ۲ يعني شرمندګي د دوئ د نفاق په وجه ۳ يعني چا چه د يهودو او نصارٰى ؤ سره دوستي اوكړه جهاد ئے ورسره اونه كړو هغه به مرتد اوګرځي۔

موضح القرآن: ف يعني منافقان كافرانو سره دوستي كوي چه موږ باندے ګردش راشي يعني چه مسلمانان مغلوب شي نو د دوئ دوستي به څموږ په كار راشي نو الله تعالىٰ اوفرمائيل چه اوس نزدے ده چه كافران هلاك شي يعني مسلمانان په هغوئ برے اومومي يا بل كوم يو حكم راشي يعني كافران د ملك نه اووېستلے شي آخر ئے حكم اوكړو يهودو ته د جلا وطنئ۔

فتح الرحمٰن: ف۱ يعني احتمال لري چه شكست مسلمانان اوخوري نو د كافرانو سره موافقت مصلحت دے۔

حاشيه: ۹۵ مَرَضٌ ۔ يعني د نفاق بيماري د دينه مراد منافقان دي او دا په منافقانو شكوه ده دَآئِرَةٌ يعني څه حادثه او مصيبت ۔ منافقان په منډه منډه د يهودو او نصارٰى ؤ طرف ته ځي او دوئ هغوئ سره پټه دوستانه جوړه كړے ده او عذر دا پيش كوي چه كه چرے هغوئ سره دوستي اونه ساتي نو دوئ ته د مالي

مشکلاتو او نورو دنیوي مصیبتونو سره د مخامخ کیدلو خطره ده ځکه چه د یهودو او نصارٰی د طرفه دوی ته مالي امداد ملاویده۔ لِاَنَّهُمْ کَانُوْا اَهْلَ ثَرْوَةٍ وَکَانُوا یعینونهم عَلٰی مُهِمَّاتِهِمْ و یقرضونهم (کبیر ج ۳ ص ۱۹)

۹۶ د عسیٰ نسبت چه کله الله ته اوشي نو دا د حتمي وعدے د پاره وي یعني دا به ضرور وي الله تعالیٰ به نفاق او د هغوئ د پټ رازونو ظاهر ولو حکم وکړي نو منافقان به د کافرانو سره خپله پټه دوستانه باندے سخت پښیمانه وي ځکه چه نو به د کافرانو مغلوب او مفتوح کیدلو د وجه نه هغوئ د دوئ د امداد او پشت پناهئ نه محروم شي او دویم به د نفاق ظاهریدلو د وجه نه شرمنده وي۔

۹۷ دا د مسلمانانو له طرفه د منافقانو په بدحال او د هغوئ په عذر باندے د تعجب اظهار دے د دے منافقانو به سخت قسمونه خوړلي وو نبي علیه الصلوٰة والسلام ته ئے یقین ورکړے وو چه هغوئ د ده په دین باندے دي او د هغه منکري دي او وخت راتلو سره به د یهودو په مقابله کښے د هغوئ ۱۲ امداد کوي لیکن د وخت راتللو سره هغوئ د مسلمانانو په ځائے د یهودیانو امداد اوکړو او مسلمانانو باندے حمله کونکي شول دے باندے مسلمانانو تعجب سره اووئیل چه آیا دا هغه خلق دي چا چه د خدائے په نوم قسمونه خوړلي وو او وعده ئے کړے وه چه هغوئ به د مسلمانانو ملګرتیا کوي لیکن د هغوئ د بدعملونو نه د هغوئ نفاق ظاهر شو حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ الخ د هغوئ ټول اعمال ضائع او بے نتیجے او هغے باندے به د آخرت هیڅ اجر مرتب نه وي ځکه چه دا عمالو فائده مند کیدلو او موجب ثواب کیدلو د پاره خالص ایمان شرط دے

۹۸ دا خطاب مسلمانانو ته دے او هغوئ باندے زجر دے چه هغوئ د یهود او نصارٰی د دوستئ سره او د هغوئ د حمایت کولو سره د مرتد کیدلو لاره اختیار نه کړي بین ان موالاتهم مستدعیة للارتداد عن الدّین (روح ج ۶ ص ۱۳۰) لیکن که چرے هغوئ د منافقانو پشان د هغوئ سره دوستي اوکړه نو دے سره به د الله د دین ته هیڅ نقصان او نه رسوي الله تعالیٰ به د خپل دین د خدمت لپاره داسے خلق میدان ته راولي چه د زړه نه به د هغه سره محبت کوي او په ظاهر او باطن کښے به د هغه تابعدار وي او د هغوئ د دے نیک صفتونو په وجه سره به الله تعالیٰ هم هغوئ سره محبت کوي او دین دنیا کښے به د هغوئ مدد کوي او هغوئ ته به خپل نعمتونه ورکړي اَذِلَّةٍ اَوْ اَعِزَّةٍ دا دواړه د قوم صفتونه دي اَذِلَّةٍ د ذلیل په معنیٰ د عاجز جمع ده او عَلٰی په معنیٰ د لام سره دے اَعِزَّةٍ د عزیز په معنیٰ د غالب او سختي کونکي جمع ده یعني هغوئ به په خپلو مؤمنانو رونړو مهرباني او د هغوئ په وړاندے به عاجزي کونکي وي لیکن د کافرانو په حق کښے به سخت وي او د هغوئ په وړاندے به هیڅکله هم نه ښکته کیږي هغوئ به د الله په لاره کښے

خالص د الله د رضا کولو د پاره ۲ او د هغهٔ د دین د او چتولو به خاطر جهاد کوی او د
هیڅ د ملامتیا پروا به نه کوی۔

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ

دا فضل د الله دے ورکوی چا ته چه او غواړی او الله فراخۍ والا دے

عَلِيْمٌ ﴿۵۴﴾ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ

خبردار ﴿ف۴﴾ ستاسو ملګرے خو بس الله دے او د هغه رسول ﷺ او هغه څوک چه

اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ

مؤمنان دی چه ولاړ دی په مانځه باندے تل او ورکوی زکوٰة

وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَ

او هغوئ عاجزی کونکی دی او څوک چه دوستی اوکړی د الله او د هغه د رسول

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۵۶﴾ ع ۱۲

او ایمان والاؤ سره نو د الله جماعت هغوئ به په هر حال غالب دی

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا

اے مومنانو تاسو مه جوړوئ هغه خلق څوک چه ګرځوی

دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ

ستاسو دین مسخرے او لوبے او هغه خلق چه کتاب ورکړے شو ستاسو نه

قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ

مخکښے او نه کافران خپل دوستان او او ویریږئ د الله نه که چرے

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ

یئ تاسو مؤمنان او کله چه تاسو آواز کوی مانځه د پاره

اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۵۸﴾

نو هغوئ ګرځوی دا مسخرے او لوبے ئے دا ځکه چه دا خلق بے عقل دی

نکات: ۱ یعنی خوک چه ستاسو د توحید واله دین پورے مسخرے کوی هغوی سره دوستی مه کوئ.

موضح القرآن: ف ۱ د نبی علیه الصلوٰة والسلام وفات سره عرب د دین نه اوګرځیدل نو حضرت ابوبکر صدیق رض د یمن نه مسلمانان راوغوښتل په هغوی باندے ئے جهاد اوکړو چه ټول عرب بیا مسلمانان شول د هغوی په حق کښے زیرے دے ف ۲ یعنی یهود او ځنے مشرکان د اذان په آواز پورے خندا ی دا د هغوی بے عقلی ده د الله تعالیٰ لوئی په هر دین کښے بهتر ده.

فتح الرحمٰن: ف ۱ مترجم وائی دا وعده د حضرت ابوبکر صدیق رض په زمانه کښے ثابت شوه او مهاجرین او انصار او د دوی ملګرو د مرتدا شوو خلقو سره جهاد اوکړو. والله اعلم ف ۲ مترجم وائی یعنی اذان پورے مسخرے کوی ۱۲ والله اعلم.

حاشیه: ۹۹ د یهود او نصاریٰ و د دوستئ منع کولو نه روستو ئے اوفرمائیل ستاسو د دوستئ خو صرف د الله او د هغه د رسول او ایمان والو سره پکار ده نو تاسو دوی سره دوستی او تعلقات جوړ کړئ بس دا ستاسو دوستان دی یهود او نصاریٰ خپل مینځ کښے یو د بل دوستان دی هغوی هیڅ کله ستاسو دوستان نشی جوړیدلے وجه النظم انه تعالیٰ لما نهیٰ فی الآیات المتقدمة عن موالات الکفار امر فی هذه الآیات بموالاة من یجب موالاته (کبیر ج ۳ ص ۴۱۷) د الله تعالیٰ د ولی کیدو مطلب دا دے چه هغه کارساز دی مؤمنان دی په هم هغه بهروسه کوی او هم هغه د کارسازئ ګنړی د الله او رسول د ولایت نه مطلب دا دے چه د حضورؐ اتباع اوکړیشی او د حضور ټول حقونه په محبت سره ادا کړیشی او د مؤمنانو سره د ولایت نه مراد دا دے چه خپل مینځ کښے دِ په محبت او اتفاق او سیرئ او د نیکئ کارونو کښے دے د یو بل مرسته کوی ۱۰۰ دا د مخکنی موصول اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا نه بدل دے وَهُمْ رٰکِعُوْنَ دا د یُقِیْمُوْنَ او د یُؤْتُوْنَ د فاعل نه حال دے او د رٰکِعُوْنَ په معنیٰ دے خاشعون متواضعون لله تعالیٰ (روح ج ۶ ص ۱۶۷) علامه خازن لیکلی دی چه د رکوع نه مراد دلته خضوع ده. المراد من الرکوع هنا الخضوع والمعنی ان المؤمنین یصلون ویزکون وهم منقادون خاضعون لاوامر الله ونواهیه (خازن ج ۲ ص ۵۵) دا د هغه ایمان والو صفتونه دی د چا سره چه دوستی ساتل پکار ده. یعنی هغوی مونځ زکوٰة او نور ټول اعمال پوره اخلاص او خشوع، تواضع سره په ځائے راوړی دا د هغوی اعمال د نفاق شائبه او ریاء نه پاک دی د مؤمنانو دا صفات ئے بیان کړل او د منافقانو نه د احتراز کولو تعلیم ورکول مقصود دے ځکه چه هغوی هم د مؤمن کیدو مدعیان وو. المراد بذکر هذه الصفات تمییز المؤمنین عن المنافقین لان المنافقین کانوا یدعون انهم مؤمنون (خازن وکبیر ج ۳ ص ۴۱۸).

۱۰۱ کوم خلق چه د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو سره د دوستئ او محبت رشته قائموی یعنی د الله او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم پوره پوره اطاعت او فرمانبرداری کوی او د ایمان والاؤ خلاف بغض او دشمنی نه ساتی بلکه هغوی سره اتفاق او اتحاد سره او سیږی نو دا خلق حزب الله یعنی د الله تعالیٰ جماعت دے او د الله تعالیٰ جماعت آخر کار غالب او کامیاب وی او د الله او د هغه د رسول او ایمان والاؤ سره د محبت او دوستئ کولو طرف ته ترغیب دے.

۱۰۲ اول ئے د یهودو او نصاریٰ و د دوستئ نه منع اوکړه او س دلته ئے د منافقینو

اهل کتابو او مشرکانو سره د دوستئ او محبت کولو نه منع اوکړه. اَلَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا دِیْنَکُمْ
هُزُوًا وَّ لَعِبًا الخ نه منافقین او اهل کتاب مراد دی چا چه دین اسلام یو لوبه او
مسخره ګرځولے وه ځکه چه کله به هغوئ مسلمانانو نه را تلل نو ویل به ئے موږ
مؤمنان یو او چه کله به خپلو مشرانو سره یو ځائے شول نو وئیل به ئے موږ
په دین باندے یو د مسلمانانو مونږ خو نو کښے مونږ خالص د استهزاء په غرض
شاملیږو. وَاِذَا نَادَیْتُمْ الخ دا د هغوئ د استهزاء بیان دے یعنی هغوئ په مونځ
کښے ستاسو سره محض د ټوقو مسخرو د پاره شریکیږی او د دینه د هغوئ مقصد
تاسو ته دهوکه ورکول مقصود دے چه تاسو هغوئ سره مؤمنان اوګڼئ. لانهم
عند اقامة الصلوٰة یقولون هذه الاعمال التی اتینا بها استهزاء بالمسلمین و
سخریة منهم فانهم یظنون انا علی دینهم مع انا لسنا کذلك (کبیر ج ٣ ص ...)

قُلْ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّاۤ اِلَّاۤ اَنْ
ته اووایه اے اهل کتابو تاسو کینه نه ساتئ (نه څه عیب لګوئ) زمونږ سره لیکن مونږ
اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَاۤ اُنْزِلَ اِلَیْنَا وَمَاۤ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ
ایمان راوړے په الله باندے او په هغه چه نازل شوے مونږ ته او په هغه چه نازل شوے
وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٥٩﴾ قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ
او دا چه تاسو کښے اکثر نافرمان دی ته اووایه زه تاسو ته اوښایم د دې نه بدتر
مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ
چا باندے په لحاظ د سزا د الله سره هغه خلق دی چا چه لعنت اوکړو الله او په هغه
عَلَیْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِیْرَ وَعَبَدَ
ئے غضب نازل کړو او هغوئ نه ئے ځنے بیزوګان اوګرځول او ځنے ئے خنزیران او دا
الطَّاغُوْتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ
چه بندګی اوکړه د شیطان دا خلق ډیر بد دی ځائے په درجه کښے او ډیر بے لارے دی د
السَّبِیْلِ ﴿٦٠﴾ وَاِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْۤا اٰمَنَّا وَقَدْ دَّخَلُوْا
نیغے لارے نه او چه کله تاسو ته راځی نو وائی مونږ ایمان راوړو او حالت دا دے

بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا بِهِ ۚ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا

چه کافران راغلی وو او کافران لاړه ٔ او الله ښه ٔ پیژنی څهٔ چه دوئ

يَكْتُمُونَ ﴿٦١﴾ وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُونَ فِي الْإِثْمِ

پټ کړی وو او ته ٔ به وینے ډیر له دوئ نه چه منډے وهی ګناه په ګناکښے

وَالْعُدْوَانِ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا

او ظلم کښے او حرام خوړلو کښے ډیر بد کار دے

يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾

کوم چه کوی

نکات: سلہ یعنی د الله د توحید د وجه نه تا سو موږ بد ګنړئ سلہ ای واعلموا سلہ دا د اهل کتابو د ناکاره قول جواب دے هغوئ مسلمانا نو ته وئیلی وو لا نعلم دینًا شرًا من دینکم وانتم شرًا مثوبة لان دینکم شر سلہ ای دین من لعنه الله بحذف المضاف سلہ د طاغوت دوه معنیٰ دی شیطان یا هر معبود غیر الله دواړه معنیٰ مراد کیدے شی سلہ یعنی هغه منافقان چه د کافرانو سره دوستی ساتلہ سلہ زجر اهل کتاب دپاره۔

فتح الرحمٰن: ف۱ مترجم وائی یعنی ډیر زیات بد د هغے عیب لرونکی نه کوم چه تاسو بیان کړو۔

حاشیه: سلہ اول ئے اوفرمائیل چه کوم اهل کتابو ستاسو دین یوه لوبه ګرځولے ده هغوئ سره دوستی مهٔ کوئ هلته خوئے اوفرمائیل چه دوئ نه خو تپوس اوکړئ چه څمونږ د دین کومه یوه خبره تاسو ته ناخوښه ده چه د هغے په وجه سره تاسو دا د مسخرو او ټوقو نشانه ګرځولے ده ولے تاسو ته دا خبره ناخوښه ده چه مونږ په الله تعالیٰ ایمان لرو د کوم کتاب چه په مونږ نازل شوے دے او کوم کتابونه چه څمونږ نه مخکښے نازل شویدی مونږ هغه ټول رښتونی منو څمونږ دین خو دا دے آیا تاسو دا خبرے نهٔ خوښوئ حال دا دے چه د دے خبرو نه خو یوه هم بده او ناخوښه نهٔ ده لیکن اصلی خبره دا ده چه اَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ٥ ستاسو اکثریت سرکش او نافرمان دی او تاسو بغض او عناد او سرکشی د وجه نه څمونږ دین پورے ټوقے کوئ۔ حضرت او فرمائیل دلته اعلموا محذوف دے ای واعلموا ان اکثرکم فٰسقون څنګه مفسرینو وئیلی دی چه واو زائده دے او جمله د ماقبل علت دے او په اصل کښے لام تعلیلی مقدر دے ای هل

تنقمون منا الا الایمان لان اکثرکم فسقون (روح ج ۶ ص ۱۷۴)

۱۰۴ یهودیانو مسلمانانو ته وئیلی وو چه عیاذاً بالله ستاسو دین نه ډیر خراب دین موږ نه دے لیدلے نو ددے په جواب کښے دا آیت نازل شو هذا جواب للیهود لما قالوا ما نعرف دینا شرا من دینکم (خازن ج ۲ ص ۵۵) یعنی تاسو یهودیانو ته او هغه چه ځموږ دین تاسو په خپل ګمان کښے د ټولو نه بد ګڼړئ راشئ چه زه تاسو ته او ښایم چه د ټولو نه بد دین دچا دے او د خدائے په نزد به د ټولو نه زیاته خرابه بدله د کوم دین والا ته ملاویږی مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ دے نه مخکښے مضاف محذوف دے ای دین من لعنه الله (مدارک ج ۱ ص ۲۲۵) یعنی د ټولو نه ډیر ناکاره دین د هغه چا دے څوک چه د الله په حضور کښے ملعون او شړلے شوے دے او په چا چه د خدائے غضب اوشو او چا لره چه الله تعالیٰ د سزا په طور مسخ کړل خنزیران او شادوګان ئے ترینه جوړ کړل او چا چه د شیطان عبادت اوکړو. د الطَّاغُوْتَ دوه معنیٰ دی:

(۱) شیطان (۲) هر معبود سوی د خدائے نه دلته دواړه معنیٰ اخستلے شی والطاغوت هو الشیطان وقیل هو العجل وقیل هو الکهان والاحبار وجملة ان کل من اطاع احدا فی معصیة الله فقد عبده وهو الطاغوت (خازن ج ۲ ص ۵۵) پورتنئ ذکر شوے ټولے خبرے یهودیانو کښے موندلے شی لهذا معلومه شوه چه ددوئ دین د ټولو نه بد دین دے یعنی من الیهود من لعنه الله وغضب علیه ومنهم من جعلهم قردة وخنازیر (خازن)

۱۰۵ اُولٰٓئِكَ سره اشاره بره ذکرشوو ملعونینو، مغضوبینو، ممسوخینو او د شیطان عبادت کونکو طرف ته ده هغه خلق د کوم حالات چه دا دی یعنی یهودیان هم دا د خدائے په نزد د ټولو نه خراب دی او د نیغے لارے نه ډیر لرے دی او په جهنم کښے د دوئ ځائے ډیر خراب دے.

۱۰۶ د جَآءُوْا فاعل هم هغه د یهود و منافقان دی څوک چه د کافرانو سره دوستی ساتی او دین اسلام پورے ټوقے کوی دلته د هغوئ د نفاق او د باطن خباثت بیان شو کله چه هغوئ تاته راځی نو د ایمان دعویٰ کوی وائی موږ خو د زړه نه ایمان راوړے وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ جمله د قَالُوْٓا ضمیر نه حال دے چه کله هغوئ تاته راځی نو د ایمان دعوای کوی حال دا دے چه د هغوئ په زړونو کښے کفر ځان سره راوړی د دے وجه د هغوئ د ایمان دعوای بالکل دروغ ده وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ دا هم د قالوا د فاعل نه حال واقع دے یعنی کله چه هغوئ ستاسو د مجلس نه ځی نو هغه وخت هم د هغوئ په زړونو کښے هغه کفر موجود (ځائے نیولے) وی او ستاسو د وعظ او تبلیغ او قرآنی آیتونو د دوئ په زړونو باندے هیڅ اثر نه کیږی بلکه هغوئ د الله ج آیتونه واوری او د هغے نه انکار اوکړی په کفر کښے نور هم مضبوط شی لکه چه بل ځائے کښے او فرمائیل

وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى (حٰمٓ السجدة ع ۵)

۱۰۲ د منافقینو یهودو خباثتونو بیانولو نه روستو ئے د دوئ عام غلط کار او بد عملو علماؤ او صوفیانو باندے شکوای اوکړه چه هغوئ د بدئ په هر میدان کښے مخکښے په نظر راځی هغوئ خلقو ته شرك زده کوی د الله تعالیٰ احکام او حدود ماتوی رشوتونه اخلی او د غیر الله منښتے خوری اَلْاِثْمَ نه مراد شرکیه کلمات دی. وقیل کلمة الشرك وهو قولهم عزیر ابن الله (ابوالسعود ج ۳ ص ۶۱۲) د اِثْمٌ نه مراد عام د دینه هره ګناه مراد ده. اَلْعُدْوَانُ د الله حدودو نه تجاوز کول السُّحْتُ یعنی رشوت او د غیر الله منښتے هغوئ چه کوم څهٔ کوی ډیر بد دی.

لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ

ولے نه منع کوی دوئ لره علماء او صوفیان ښله د ګناه د

الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿۶۳﴾

خبرو کولو نه او حرام خوړلو نه ډیر بد کار دے چه دوئ ئے کوی

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ؕ غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ وَ

او یهود وائی ښله د الله لاس بند شو ښله د دوئ لاسونه دے او ترلی شی او

لُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا ۘ بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ يُنْفِقُ كَيْفَ

لعنت دے په دوئ دے وئیلو باندے بلکه دهغهٔ خو دواړه لاسونه پرانستے دی

يَشَآءُ ؕ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

ښله خرچ کوی څنګه چه اوغواړی او دوئ کښے ډیرو ته ډیاتیږی ښله دهغے کلام نه کوم چه تا باندے نازل

مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ؕ وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ

شو ستا د رب له طرفه سرکشی او انکار او مونږ اچولے ده دوئ کښے دشمنی ۱۱۲ ښله

وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا

او نفرت تر ورځے د قیامت چه کله هم دوئ بلوی ۱۱۳ ښله اور

لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ

د جنګ دپاره الله هغه وژنی او منډے وهی په ملک کښے

فَسَادًا ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَلَوْ اَنَّ

فساد کونکی او اللہ نہ خوښوی فساد کونکی ف۱ او کہ چرتہ

اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ

اهل کتابو ش۱۱ ایمان راوړے او وېرېدلے نو موږ بہ لرے کړے وو دوی نہ

سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۶۵﴾

دوئ نہ د دوئ گناهونہ او دوئ بہ موږ داخل کړی وو د نعمت باغونو کښے

نکات: ۱ یعنی د غیر اللہ نذر خوړل ۲ شکوی ۳ جواب شکوی ۴ کثیرا مفعول اول دے د لَيَزِيْدَنَّ، مَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ فاعل او طُغْيَانًا وَّكُفْرًا مفعول ثانی ۵ یعنی څۀ بغض او دشمنی اوس هم موجود دہ کچرے تاسو پاخہ مسلمانان شئ نو د دوئ بغض بہ نور هم زیات شی.

موضح القرآن: ف۱ یهودو کښے دا قسم وینا رواج وہ چہ د اللہ تعالیٰ لاسونہ بند (تړلے) شویدی یعنی پۀ موږ باندے رزق تنگ شویدے دا دکفر لفظ دے وئے فرمائیل چہ د اللہ ج لاسونہ هیڅ کلہ نۀ دی بند شوی دواړہ لاسونہ ئے پرانستی دی د قهر او د مینے تاسو باندے اوس د قهر لاس دے او د مینے پۀ نورو (امت محمدیہ) باندے وئے فرمائیل چہ اللہ پاک د دوئ کښے اتفاق نۀ دے اچولے چہ کلہ دوئ اور بلوی یعنی فتنہ پورتہ کوی چہ خپل مینځ کښے تول راجمع کړی د مسلمانانو خلاف جنگ اوکړی هغہ اللہ پاک وژنی د دوئ مینځ کښے بے اتفاقی پیدا کوی.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی بخل لری ف۲ مترجم وائی یعنی چہ کلہ غواړی چہ د خپلو دشمنانو سرہ چہ یهودیت باندے نۀ دی جنگ اوکړی نو مقهور او مغلوب اوگرځی ۱۲ واللہ اعلم

حاشیہ: ش۱۰ د یهودیانو عامو عالمانو باندے د شکوی نہ روستوئے د دوئ پۀ لویو لویو عالمانو او پیشوایانو باندے شکوی او فرمائیلہ چہ دے خلقو تہ د ذکر شوو خرابیانو او د هغے د بد انجام پورہ پورہ علم وو هغوئ دوئ د دے کارونو نہ ولے منع نۀ کړل د هغوئ دا چپ پاتے کیدل او حق پټول ډیرہ بدہ خبرہ دہ. المراد هٰهنا تخصیص الذین یقتدی بهم افناءهم ویعلمون قباحة ما هم فیہ الخ (ابو السعود و روح ج ۶ ص۱۷۰)

ش۱۱ دا هم پۀ یهودیانو شکوی دہ د یهودیانو د بد اعمالو پۀ وجہ سرہ اللہ تعالیٰ پۀ هغوی قحط مسلط کړے وو دے مینځ کښے هغوئ د خپلے مشرکانہ عقیدے دلاندہ

د عم انس په قبر باندے چیلئ حلاله کړه چه باران اوشی چه الله تعالیٰ کله باران اوکړی د خپلے مرضی او تکوینی اسباب د لاندے نو یهودیانو ویل شروع کړه (معاذالله) الله تعالیٰ بخیل دے هغه مونږ ته رزق نه راکوی بلکه چه کله مونږ فقیرانو او صوفیانو ته آوازکوو او د هغوئ نذرونه منبتے ورکوو نو هغوئ څمونږ د رزق انتظام کوی حال دا دے چه الله تعالیٰ په هغوئ باندے د هغوئ د شرکیه او کفریه الفاظو د وجه نه د سزا په طور هغوئ باندے د رزق تنګی راوستلے وه کچرے هغوئ د الله په کتاب باندے عمل کولے او د هغه د تعلیماتو نه ئے انحراف نه ئے کړولے نو الله تعالیٰ به هغوئ باندے رزق نه تنګولے بلکه فراخئ سره به ئے ورکولے لکه چه وئے فرمائیل وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ (مائدة ع ۹) د یهودیانو د دے ګستاخئ ویناپه جواب دا آیت نازل شو غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا - وئے فرمائیل د دوئ د دے ناکاره قول د وجه نه د دوئ په زړونو کښے د بخل بیماری پیدا شوه او هغوئ د الله د رحمت نه لرے کړے شول دا په یهودیانو باندے ښیرے (بد دعائی) دی او د الله تعالیٰ بد دعائی د دوئ په زړونو کښے د بخل بیماری پیدا کولو نه عبارت دے دُعَاءٌ عليهم بالبخل المذموم كما قال الزجاج ودعاءه بذلك عبارة عن خلقه الشح فى قلوبهم والقبض فى ايديهم (روح ج ۶ ص ۱۸۰) نو د یهودیانو د خاص وعام دا حالت وو خواص یعنی عالمانو او صوفیانو به ئے صرف د عوامو نه نذرونه منبتے اخستلے د خپل لاس نه ورکړه د هغے خو بالکل سوال نه پیدا کیده او د عوامو دا حال وو چه هغوئ به د توحید او د الله تعالیٰ د دین په خاطر یو پیسه هم نه خرچ کوله هغوئ به چه هر څه خرچ کول نو هغه به ئے د غیر الله په نذر او د احبار ، رهبان نذرانو کښے خرچ کول.

۱۱۰ دا جواب شکوای ده او د یهودیانو د ناکاره قول رد دے یعنی الله تعالیٰ خو هرګز بخیل نه دے هغه خو ډیر کریم او سخی دے او څنګه چه غواړی د خپل حکمتِ بالغه مطابق خرچ کوی څنګه چه غَلِّ يَدٌ یعنی د لاس بندیدل د بخل او نه خرچ کولو نه کنایه ده دا شان بَسْطِ يَدٌ یعنی د لاس خورول د سخاوت او خرچ کولو نه کنایه ده غَلُّ الْيَدِ وبسطها مجاز عن البخل والجود اوكناية عن ذالك (روح ج ۶ ص ۱۲۹)

۱۱۱ كَثِيْرًا مفعول اول دے د لیزیدن او طغیانا او کفرا مفعول ثانی دے وما انزل الیك د هغه فاعل دے سرکشی او کفر ، انکار خو هغوئ د مخکښے نه کولو لیکن چه خومره د قرآن آیتونه نازلیدل نو د هغوی د انکار او بغض او حسد د وجه نه به د هغوئ په سرکشئ او کفر کښے نور هم زیاتوالے راتللو.

۱۱۲ یعنی بغض او دشمنی خو دوئ کښے د مخکښے نه موجود ده لیکن کچرے

تاسو بچپل ایمان او اسلام باندے ثابت قدم پاتے کیږئ نو مونږ به د هغوئ په
باهمی بغض او دشمنئ کښے نوره اضافه هم کوو۔

۱۱۳ اول ئے ارشاد اوفرمائیلو چه کچرے تاسو ربښتونی مسلمانان شئ نو د یهود او نصارٰی د هر شرنه به محفوظ شئ ځکه چه هغوئ به د خپل منځنی بغض او عناد په سبب ستاسو مقابلے ته نهٔ راځی دلته ئے د دے خبرے وضاحت اوکړو چه کله هم هغوئ د اسلام خلاف د جنګ اعلان کوی مونږ به د هغوئ منصوبے ناکامه کوو او هغوئ به ستاسو سره جنګ اونهٔ کړے شی د اور بلولو نه د جنګ اراده کول مراد دی ځکه چه په عربو کښے دستور وو چه کله به یو قوم د بل قوم خلاف د جنګ اعلان کولو نو په یوه اوچته دیره کی باندے به ئے اور بلولو او د اور وژل د هغوئ د شر نه محفوظ ساتلو نه کنایه ده۔

۱۱۴ دا خلق به هر وخت فتنه او فساد پورته کولو او د اسلام او مسلمانانو خلاف مکر او فریب کولو کښے مصروف وو الله تعالیٰ د اسے شکرا نګیز او فتنه پورته کونکی نهٔ خوښوی د دے وجه نه د ربښتونی مسلمانانو خلاف ئے د دوئ ټولے منصوبے او جنګی ند بیرونه ناکام کړل او مسلمانان ئے د هغوئ د شر نه بچ کړل

۱۱۵ الکتٰب : جنس دے او تورات او انجیل دواړه ته شامل دے د دے وجه نه اهل کتابو نه دلته یهود او نصارٰی دواړه ډلے مراد دی۔ دلته اهل کتابو ته په نبی علیه السلام باندے د ایمان راوړلو ترغیب ورکړے شوے دے او ورته د ایمان راوړلو په صورت کښے هغوئ ته بشارت اخروی هم اورولے شوید ے مخکښے (راتلونکی) آیت کښے دنیاوی بشارت ذکر دے۔

وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ

او کچرے هغوئ ۱۱۶ اودرولے وے تورات او انجیل او هغه کوم چه نازل شو

اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ

په دوئ د رب له طرفه نو خوړلے به ئے د پاسه خپل او د خپلو

تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ

خپو د لاندے نه ځنے خلق دوئ کښے دی په میانه لاره باندے ۱۱۷ او ډیر

مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۶﴾ يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ

دوئ کښے بد کارونه کوی دے ۲ اے رسوله ۱۱۸ اورسوه کوم چه

أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ وَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا

په تا نازل شوی ستا د رب له طرفه او کچیرې دا دې دې اونکړه نو
تا

بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ ۚ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ۚ

هیڅ اونه رسولو پیغام او الله به تا بچ ساتي
د خلقو نه[٤٠]

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِينَ ﴿٦٧﴾ قُلْ يٰٓأَهْلَ

بیشکه الله لاره نه ښائي قوم
کافرو ته[٣] او وایه اے

الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَيْءٍ حَتّٰى تُقِيمُوا التَّوْرٰىةَ وَ

کتاب والاؤ[٤] تاسو په هیڅ لاره نه ئے ترڅو چه قائم نه کړئ تورات
او

الْإِنْجِيلَ وَمَآ أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۚ وَ

انجیل او کوم چه نازل شو تاسو باندې ستاسو د رب له طرفه[٥] او

لَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ مَّآ أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ

د وئ کښې به ډیرو زیاتیږي هغه کلام سره کوم چه تا باندې نازل شو

رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۚ

ستا د رب له طرفه سرکشي او انکار

نکات: ۱ یعني شرك في التصرف ئې نه کولے او د غیر الله منتې ئې نه ورکولے ۲ د سورت د دویمه حصه اعاده د مضمون نفي شرك في التصرف علی طریق لف و نشر غیر مرتب ۳ دا د بَلِّغْ مَآ أُنْزِلَ إِلَيْكَ د لاندې داخل دے او د هغې بیان دے بَلِّغْ ای قل الخ یعني صفا اووایه چه تاسو کافر ئې ستاسو هیڅ یو دین نشته ترڅو چه د توحید مسئله اونه منئ.

موضح القرآن: ف۱ خوړلے به ئې له پاسه او لاندې یعني د آسمان نه به د وئ ته فراخ رزق راتللے ف۲ یعني دا غمګینئ خبر چه اهل کتاب وته صفا ګمراه اووایه ترڅو چه دا کلام الله قبول نکړي دے کښې اګرچه هغوئ دشمنان وي ستا ته بے فکره اوسه او خطره مه کوه

فتح الرحمن: ف۱ یعني تول تیر شوی کتابونه ف۲ حاصل دا دے چه کچیرے عمل ئې کړے وے د تورات په حکم باندې او د انجیل مخکښې د نزول د قرآن نه او

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او لیږلے شی دیر لوئے برکت ورته
ملگرے د هغې نه چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او لیږلے شی دیر لوئے برکت ورته
نصیب شو لیکن مخالفت ئے اوکړو نو په قسم قسم مصیبتونو کښے مبتلا شول
والله اعلم **ف۳** یعنی قرآن او ټول مخکښے کتابونه
ف۳ یعنی که یو آیت او نهٔ رسوی .

حاشیه: ف۱۱۶ اقامت تورات او انجیل نه په هغې باندے کما حقه عمل کول
مراد دے یعنی د تورات او انجیل په تعلیماتو باندے عمل اوکړئ د الله په توحید
باندے ایمان راوړئ د غیر الله نذر و نیاز او شرك فی التصرف نه احتراز
اوکړئ لَاَكَلُوْا الخ دا د وسعت رزق نه کنایه ده یا د من فوقهم نه باران مراد
دے ځکه چه د دهٔ په ذریعه د زمکے نه قسم قسم رزق پیدا کوی او وَمِنْ تَحْتِ
اَرْجُلِهِمْ نه د زمکے پیداوار میوے او غلے وغیره مراد دی قال ابن عباس رضی
الله عنهما وغیره یعنی المطر والنبات وقیل المعنی لو سعنا علیهم فی ارزاقهم و
اکلوا متوا سلا (قرطبی ج ۶ ص ۲۴۱)

ف۱۱۱ اهل کتاب ټول سرکش او معاند نهٔ دی بلکه ځنے خلق انصاف دوست
او اعتدال پسند هم دی د ینه هغه خلق مراد دی چا چه د یهود او نصاری نه اسلام
قبول کړے وو مثلاً عبد الله بن سلام او نجاشی وغیره . لیکن د دوئی اکثریت
معاند وو ضد او عناد سره د حق نه انکار کول او حق پټول د دوئی کار وو.
سَآءَ مَا یَعْمَلُوْنَ ۝ من العناد والمکابرة و تحریف الحق والاعراض عنه
(روح ج ۶ ص ۱۸۷)

فائده: حضرت شاه ولی الله رحمة الله علیه فرمائی چه په قرآن کریم
کښے چرته چه د یهود او نصاری ؤ د احبار او رهبان حالات ذکر دی هلته د
نن صبا علماء سوء او بدکار پیران هم د دے د لاندے داخل او چرته چه
د منافقانو ذکر دے هغې کښے د نن صبا سرمایه دار او برسر اقتدار طبقه هم
داخل ده .

دویمه حصه

(۱) نفی د شرك فی التصرف (۲) نفی د شرك فعلی

ف۱۱۱ اول جزء نفی د شرك فی التصرف - اوله حصه کښے د شرك فعلی د نفی
بیان وو او هغې نه روستو د نفی د شرك فی التصرف ذکر شوے وو هغې نه روستو
نبی علیه الصلوٰة والسلام ته تسلی وه او اهل کتاب او منافقانو باندے زجرونه
ذکر شوے وو اوس د دے ځائے نه روستو د سورت دویمه حصه شروع کیږی
دے کښے دا دواړه مضامین (نفی د شرك فی التصرف او نفی د شرك فعلی) په
طور د لف و نشر غیر مرتب دوباره ذکر شوی دی.

ف۱۱۹ مَآ موصوله ده چه د عموم دپاره ده او د ینه هغه ټول احکام

مراد دی چه د وحی جلی یا خفی په ذریعه نبی علیه الصلوٰة والسلام باندے نازل شوی دی دلته مَا اُنْزِلَ سره ټول څیزونه ذکر شوی دی کوم چه مخکښے راغی وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ الخ یعنی که تاسو یو څیز هم پټ کړو او د هغے تبلیغ مو اونه کړو نو تاسو د تبلیغ حق ادا نه کړو دا شان د حضور د جانشین علماؤ او صوفیانو هم دا فرض دی چه هغوی د قرآن او سنت د ټولو احکامو تبلیغ او اشاعت اوکړی کچرے هغوی دیے او نه کړل مثلاً د شرك او بدعت رد ئے اونه کړو او د غیرالله د نذرانو او نیاز مسئله ئے بیان نه کړه نو هغوی د تبلیغ حق اداء نه کړو او د هغوی د باقی احکامو تبلیغ به هم دالله په نزد قبول نه وی۔

۱۲۰ یعنی تاسو د الله ج د ټولو احکامو تبلیغ کوئ او د مشرکانو د لعن، طعن، بد ویلو ملامت کولو پرواه مه کوئ الله به تاسو د دوئ د شر نه محفوظ ساتی اِنَّ اللّٰهَ لَا یَهْدِیْ الخ تاسو تبلیغ کوئ اگر چه څوك ستا د تبلیغ نه متاثر کیږی او حق هدایت نه قبلوی تاسو د دے غم مه کوئ څوك چه ایمان نه راوړی هغه معاندین دی او د معاندینو په زړونو باندے د هغوی د ضد او عناد د وجه نه د جباریت مهر لګولے شی او هغوی ته د الله له طرفه د هدایت توفیق نه ملاویږی۔

۱۲۱ اهل کتاب نه یهود او نصاری مراد دی دا اوله مسئله ده چه د دے د تبلیغ حکم ورکړے شوے دے یعنی تاسو اهل کتابو ته صفا صفا اووائی چه ترڅو پورے تاسو د تورات او انجیل احکام نه قائموئ یعنی شرك او د غیرالله نذرونه او نیازونه پریږدی او توحید اونه منئ او د نبی علیه الصلوٰة والسلام نبوت او قرآن کریم باندے ایمان رانه وړئ تر هغه وخت پورے ستاسو هیڅ دین نشته او تاسو بنکاره بے دینه یئ ۔ ن مبلغ قرآن ته هم د تبلیغ په وخت مسلمانانو باندے دا حقیقت واضح کول پکار دی لَسْتُمْ عَلٰی شَیْءٍ حَتّٰی تُقِیْمُوا الْقُرْاٰنَ یعنی ترڅو چه تاسو د قرآن کریم ټول احکام قائم نه کړئ تر هغه وخت پورے تاسو دیندار نه شئ کیدے وَلَیَزِیْدَنَّ کَثِیْرًا الخ د دے تفسیر د پاره حاشیه ( ) اوګورئ۔

فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

نو ته افسوس مه کوه د دے کافر قوم باندے ف بیشکه خوك ۱۲۲ چه

اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ وَالنَّصٰرٰى

مسلمانان دی او خوك چه یهود دی او دغه د صابیانو او نصرانیانو

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا

خوك چه ایمان راوړی په الله او د ورځ د آخرت باندے او عمل اوکړی نیك

فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٩﴾ لَقَدْ أَخَذْ

نه به هغوی ویره تشته او نه به غمګین وی بے موږ اخستے

مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَأَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ رُسُلًا

وعده مضبوطه د بنی اسرائیلو نه او لیږلے هم وو هغوی ته رسولان

كُلَّمَا جَاءَهُمْ رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوَى أَنْفُسُهُمْ

کله چه راوړو هغوی ته یو پیغمبر هغه حکم چه خوښ نکړو د هغوی زړونو

فَرِيقًا كَذَّبُوا وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوا أَلَّا

ډیرے د دروغژن اوګڼل او ډیر به ئے وژل او خیال ئے اوکړو چه

تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا وَصَمُّوا ثُمَّ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ

څه ۱۲۶ هیڅ خرابی به نه وی نو ړانده شول او کانړه بیا توبه قبوله کړه الله د دوی نه

ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِنْهُمْ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا

بیا ړانده او کانړه شول د دوی نه ډیر ۱۲۷ او الله وینی کوی

يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ

څه چه هغوی کوی بیشکه کافر شول چا چه اوویل ۱۲۸ الله هغه

الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي

مسیح دے د مریم ځوئے او مسیح اوویل چه اے بنی

إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ

اسرائیلو بندګی اوکړئ د الله چه رب دے زما او ستاسو

نکات: ۱ شرک فی التصرف نه بچ کیدونکو دپاره بشارت ۲ زجر او تخویف اخروی
۳ د توحید مسئله وغیره ۴ د اهم د بلغ ما انزل د لاندے داخل دے او د خطبے
دے یعنی تبلیغ چه هغه خلق کافر دی څوک چه عیسیٰ علیه السلام ته متصرف فی
الامور۔ دویم تفسیر د شاه عبد القادر صاحب دے ۵ مراد وصف مشهور
لکه چه لکل فرعون موسیٰ ای مبطل محق۔ یعنی الله تعالیٰ حضرت عیسیٰ

نه اختیارات ورکړی دی دا دے عقیده والا کافر دی.

فتح الرحمٰن: ف۱ مترجم وائی حاصل دا دے چه موافق د خپل قول ملزم دی ځکه چه د شریعت التزام کوی او د هغے موافق نه ځی قطع نظر د قرآن مجید دانکار نه والله اعلم **ف۲** یعنی په اصل کښے د هرے فرقے نه چه وی چه کله ایمان راوړی نو د اهل نجات نه دے خصوصیت د فرقے له اعتبار نشته **ف۳** یعنی محمد صلی الله علیه وسلم ئے راولیږه.

حاشیه: ف۱۲۲ د دے آیت تفسیر سوره بقره کښے تفصیل سره تیر شوید ے ملاحظه کړئ ص حاشیه نمبر ۳۰.

ف۱۲۳ د میثاق نه هغه وعده او میثاق مراد دے کوم چه د بنی اسرائیلو نه تورات کښے اخستے شوے وه چه هغوئ د توحید او ټولو احکامو او شرائع پابندی اوکړی لکه چه په سورهٔ بقره ع ۱۰ کښے ئے اوفرمائیل وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَاءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا الآیة قد تقدم فی البقرة معنی المیثاق وهو لا یعبدوا الا الله وما یتصل به (قرطبی ج ۶ ص ۲۴۳) ای بالله لقد اخذنا میثاقهم بالتوحید وسائر الشرائع والاحکام المکتوبة علیهم فی التورٰة (ابوالسعود ج ۳ ص ۶۲۳، روح ج ۶ ص ۲۰۳)

ف۱۲۴ عهد اخستلو نه روستو مونږ هغوئ ته یو بل پسے ډیر پیغمبران لیږلی دے د پاره چه هغوئ ته د وعدے یادونه کوی او هغوئ ته د وعظ او نصیحت په ذریعه د وعدے پوره کولو تلقین کوی یَعْرِفونهم ذلك ویتعهدونهم بالعظة والتذکیر ویطلعونهم علی ما یاتون ویذرون فی دینهم (روح) بنی اسرائیلو سره هم تورات موجود وو او هغوئ ته چه څومره پیغمبرانو تشریف راوړه هغه ټولو د تورات نه د توحید مسئله بیانوله لیکن د بنی اسرائیلو عالمانو او صوفیانو به د دے مسئلے د وجه نه د دے مخالفت شروع کولو هم دا حال نن صبا د عالمانو سوء دے چه دوئ سره هم قرآن مجید موجود دے لیکن چه کله علماء ربانی د قرآن مجید نه د توحید مسئله بیانوی نو علماء سوء او ګدی نشین (پیران) د توحید د مسئلے د وجه د هغوئ دشمنان ګرځی او د هغوئ خلاف د دروغ پروپیګنډه شروع کوی.

ف۱۲۵ کومے خبرے چه د دوی د نفسانی خواهشاتو او د خپل ځان نه جوړ شوو خبرو خلاف وے مثلاً د توحید مسئله، د غیر الله نذر، نیاز حرمت وغیره.

ف۱۲۶ فِتْنَةٌ معنی ازمائش ابتلاء ده فَعَمُوا د دین چه کوم دلائل رسولانو هغوئ ته بنودلے وه هغے نه دوی محض د سرکشئ او عناد د وجه نه سره د لیدلو او پوهے نه ړانده شول وَصَمُّوا او د حق خبرے اوریدلو نه کانړه شول یعنی بنی اسرائیلو خیال اوکړو چه د الله له طرفه به دوئ باندے څه عذاب یا امتحان نه راځی ځکه چه هغوئ د نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ (مونږ د الله ځامن او نیازبین یو) په فخر

کښې مغرور او نشه وو (قرطبی) د دې وجه نه هغوئ د تورات د احکامو نه سترګې او غوږونه بند کړل او د دې باندې ئې د عمل کولو ضرورت او نه ګڼړلو۔

ف۱۲۷ بیا الله تعالیٰ د هغوئ توبه قبوله کړه او د هغوئ د توبه قبلولو سامان ئې پیدا طریقه هغوئ ته او رسولو چه نبی علیه السلام ئې پیغمبر او ګرځولو چه هغه بنی اسرائیلو ته د توبې لار او ښودله چه ګمراهې هغوئ د الله په توحید او د نبی علیه الصلوة والسلام په نبوت ایمان راوړی نو الله تعالیٰ به د هغوئ ټول ګناهونه معاف کړی (قرطبی) یا مطلب دا دې چه بنی اسرائیلو په حضرت عیسیٰ علیه السلام باندې ایمان راوړو توبه ئې اوویستله نو الله تعالیٰ د هغوئ توبه قبوله کړه تاب الله علیهم حین تابوا او اٰمنوا بعیسی علیه السلام (مظهری ج ۳ ص ۱۳۸)

ف۱۲۸ لیکن چه کله نبی علیه السلام پیغمبر او لیږل شو او هغوئ توحید او خپل نبوت طرف ته دعوت ورکړو نو په هغوئ کښې اکثر بیا د حق نه ړانده او کاڼړه شول او د ضد او عناد او بغض وحسد د وجه نه ئې حق نه انکار او کړو او په هغوئ کښې ډیرو لږو خلقو حق قبول کړو۔

ف۱۲۹ دا دویمه مسئله ده چه بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ کښې داخل ده یعنی تاسو د دې مسئلې هم تبلیغ او اشاعت اوکړئ چه کوم خلق حضرت مسیح علیه السلام د الله تعالیٰ صفات مختصه سره موصوف ګرځوی هغه متصرف فی الامور او مختار ګڼړی هغوئ بیشکه کافر دی شاه عبد القادر دهلوی فرمائی نصاریٰ ؤ کښې دوه قوله دی ځنې وائی الله هغه دې کوم چه د مسیح په صورت راغلی او ځنې وائی درې حصې شو یو الله پاتې شو یو روح القدس، یو مسیح دا دواړه خبرې بنکاره کفر دې

فائده:- حضرت شیخ قدس سره او فرمائیل دلته د اتحاد نه د صفاتو اتحاد مراد دې یعنی د نصاریٰ ؤ دا عقیده وه چه الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته اختیارات ورکړی وو او هغه متصرف فی الامور وو بهرحال لفظ الله نه وصف مشهور مراد دې لکه چه و ئیلې شی لکل فرعون موسیٰ ای لکل مبطل محق۔

ف۱۳۰ د عیسایانو پیران او پادریان وائی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام دوی نیکونو او پلارانو ته دا تعلیم ورکړې وو چه هغوئ دوی له متصرف او مختار اوګڼړی او رابلی ئې الله تعالیٰ د هغوئ خبره دروغ اوګرځوله او د خپل پیغمبر حضرت مسیح علیه السلام له طرفه ئې صفائی پیش کړه چه هغه خو بنی اسرائیلو ته دا تعلیم ورکړې وو چه هغوئ صرف الله ج متصرف او کارساز اوګڼړی هغه ته آواز کوی د هغه نذر او منښته کوی او هر قسم عبادت هغه د پاره اوکړی او شرك اونه کړی بلکه د شرك نه ډیر لرې او تښتی ځکه چه کوم سړې الله ج سره شرك کوی نو په هغه باندې جنت حرام دې او د هغه ځائې جهنم دې د قیامت په ورځ به د

خوک: مدادی نهٔ وی چه د الله د عذاب نه ئے بچ کړی او نه به د هغهٔ په حق کښې د کوم پیغمبر او پیر سفارش قبول شی ای وماله عند الله ناصر ولا معین ولا منقذ مما هو فیه (ابن کثیر ج ٢ ص ٨١) ای مالهم من احد ینصرهم بانقاذهم من النار وادخالهم الجنة اما بطریق المغالبة او بطریق الشفاعة (روح ج ٦ ص ٢٠٦)

إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ

بیشکه چا چه شریک اوګرځولو الله لره نو حرام کړو الله ج په هغهٔ باندے

الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾

جنت او د هغهٔ ځائے دوزخ دے او خوک نشته د ګنهګارانو امداد کونکے

لَّقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ ۘ وَ

بیشکه کافر شول ١٣١ چا چه اووئیل الله ج دے د دریو نه یو ٢ حال دا

مَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ وَإِن لَّمْ يَنتَهُوا عَمَّا

دے چه خوک معبود نشته بغیر د یو معبود نه ١٣٢ او که چرے منع نهٔ شول د هغے

يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ

خبرے نه چه وائی نو بیشکه او به رسیږی دوئی نه کفر باندے پاتے کید ونکو ته عذاب

أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ ۚ

دردناک ١٣٣ ولے ئے توبه نهٔ ویستله ١٣٣ د الله ج په مخکښے او بخښنه ئے د غوارئی د ګناهونو

وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٤﴾ مَّا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ

د هغهٔ نه او الله بخښونکے مهربان دے نهٔ دے مسیح ځوئے د مریم ١٣٤

إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ وَأُمُّهُ

لیکن رسول تیر شوی د دهٔ نه مخکښے ډیر پیغمبران او د هغه مور

صِدِّيقَةٌ ۖ كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَامَ ۗ انظُرْ كَيْفَ

ولیه ده دواړو به خوړله روټئ ١٣٥ ګوره مونږ څنګه

نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۷۵﴾

بیانوو دوئی ته دلیلونه بیا اوګوره چرته اړولې شي دوئ

قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ

ته اووایه آیا تاسو داسې څیز عبادت کوئ الله نه بغیر (۱۳) چه مالکان نه دی ستاسو

ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ؕ وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۷۶﴾

د ضرر او نه د فائدې او الله هغه دې اوریدونکې او خبردار

نکات: ۱ دا داخل دې د مَآ اُنْزِلَ د لاندې دهغې بیان دې ۲ دا د دې خبرې دلیل دې چه هغه دواړه مختار نه دي ځکه چه هغوئ محتاج دي چه کله محتاج دي نو بیا هغوئ مختار نه دي ۳ ثُمَّ دا د استبعاد دپاره دې ۴ دا هم په مَآ اُنْزِلَ کښې داخل دې ۵ مراد حضرت عیسی علیه السلام او مریم صدیقه ده په قرینه د ماقبل سره ۶ واو تعلیلیه دې: وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ کښې حصر دې یعنی سَمِيْعٌ لِكُلِّ شَيْءٍ او عَلِيْمٌ بِكُلِّ شَيْءٍ الله دې فقط حضرت عیسیٰ او مریم نه دي لهذا هغوئ د نفع او ضرر مالکان هم نه دي

موضح القرآن: ف۱ نصارٰی ؤکښې دوه قول دي ځنې وائي الله تعالیٰ هغه دو کوم چه د مسیح په صورت کښې راغلې او ځنې وائي درې حصې شو یو الله پاک شو یو روح القدس یو مسیح . دا دواړه خبرې صریح کفر دې د کا ملینو په حق کښې هم او وائي چه کوم چه ئې مخکښې ئې او فرمائیل ف۲ یعنی د دې نه زیاته څه مخبنه ده کوم سړې چه روټۍ خوري هغه ته ټول بشري حاجتونه د الله پاک ذات د دې لایق کله کیدې شي .

فتح الرحمٰن: ف۱ د حلول اعتقاد د شرک یو قسم دې ف۲ یعنی د الوهیت په مرتبه کښې درې تنان دي یو خدائے جل او بل عیسیٰ او دریم روح القدس ف۳ یعنی د اسرار خاوندانو لره د دوئ نه ف۴ یعنی د حق د معرفت نه .

حاشیه: ۱۳۱ دا دریم حکم دې چه د بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ د لاندې داخل دې ځنې نصارٰی د حضرت مسیح نه علاوه د هغه د والدې د الوهیت هم قائل وو د هغوئ په نزد باندې د الٰهه یعنی د معبودانو شمیر درې شو الله تعالیٰ حضرت مسیح او حضرت مریم علیهما السلام لکه چه د سورۂ مائده په آخر رکوع کښې راځي چه د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ حضرت مسیح ته اووائي ءَ اَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ . د دې آیت کښې

الله تعالیٰ دے عیسایانو ته هم کافرووئیل ځکه چه دا وائی چه الله تعالیٰ د درے معبودانو نه یو دے۔

۱۳۲ف حال دا دے چه معبود او د آواز کولو او رابللو لایق صرف یو دے او هغه الله تعالیٰ دے دا د ټولو انبیاء علیهم السلام تعلیم وو او بخپله حضرت مسیح علیه السلام هم بنی اسرائیلو ته دا تعلیم ورکړے وو وَاِنْ لَّمْ یَنْتَهُوْا بحرے دا خلق د خپل مشرکانه اقوال او افعال نه منع نه شی بلکه دے باندے اصرار (همیشه والے) کوی نو دوئی ته به دردناک عذاب ورکولے شی دا مشرکین نصاریٰ ته تخویف اُخروی دے۔

۱۳۳ف دا د مشرکین نصاریٰ ؤ ته د مشرکانه عقائد او اعمال نه د توبه کولو او د خپلو گناهونو د معافیٔ غوښتلو د سخت ویرے په انداز کښے ترغیب دے وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ہ دا د توبه قبلولو د معافیٔ کولو وعده ده یعنی بحرے هغوئی د شرك او کفر نه رښتونے توبه کړه او د خپلو اعمالو بخښنه او غواړی نو هغوئی به دئ لره معاف کونکی بیا مومی۔

۱۳۴ف دلته چونکه د هغه عیسایانو رد مقصود دے څوك چه حضرت مسیح او حضرت مریم علیهما السلام اِلٰه (معبود) او متصرف گنړی او هغوئی په حاجات او مشکلات کښے غائبانه طور باندے رابلی د دے وجه نه ئے د دے دوارو خصوصیت سره ذکر او کړو او د باقی رسولانو ذکر ئے اجمالاً او کړو مسیح علیه السلام چا ته چه عیسایان د خدائے اوتار او د خدائی صفاتو حامل او مختار او متصرف گنړی هغوئی نه د خدائے اوتار او نه بخپله خدائے وو هغه خود حضرت مریم ځوئے وو څوك چه د چا ځوئے وو هغه حادث او بخپل وجود کښے محتاج وی هغه اِلٰه نشی جوړیدے دا شان هغه د الله رسول وو چه د هغه کار دا وو چه هغه خلقو ته د توحید تعلیم ورکړی او د شرك نه هغوئی منع کړی دا شان د هغه نه مخکښے ډیر پیغمبران تیر شوی دی د هغوئی ټولو دا کار وو لهٰذا کوم خلق چه نور خلق د شرك نه منع کوی هغوئی څنګه د خدائے سره شریکیدے شی۔ وَاُمُّهٗ صِدِّیْقَةٌ اؤ د مسیح علیه السلام والده صدیقه وه صدیقت د ولایت د ټولو نه اوچته درجه ده چه د الله خالص عبادت او کامل اطاعت سره حاصلیږی نو معلومه شوه چه حضرت مریم بخپله د الله جل عبادت کونکے وه د دے وجه نه هغه د معبود جوړیدلو هرګز لایق نشی کیدے۔

۱۳۵ف تثنیه نه مراد حضرت مسیح او حضرت مریم علیهما السلام دی دیکښے د هغوئی د انتهائی احتیاج بیان دے او د هغوئی د الوهیت په نفی باندے یو واضح دلیل دے کله چه دا ثابته شوه چه هغوئی به روټئ خوړله نو معلومه شوه چه هغوئی نه صرف روټئ او اوبو ته محتاج وو بلکه د هر هغه

شان د خلو. خيز محتاج هم وو چه دکوم په روټۍ او او بو حاصلولو کښے معمولي شان د خلو. دچا د محتاج چه دا حال وی هغه هرګز د معبود جوړيدلو لائق نشي کيد لے. نه متصرف او کار ساز کيد ے شي ځکه چه متصرف او کار ساز هغه کيد شي خوک چه د هر خيز نه بے پروا او بے نياز وی إِنَّهُمَا كَانَا محتاجين الى الطعام اشد الحاجة والاله هو الذی يكون غنيا عن جميع الاشياء فكيف يعقل ان يكون الها (کبير ج ۳ ص ۴۲۳)

۳۶ ه د ا خلورمه خبره ده چه د بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ دلاندے داخل ده. تَعْبُدُوْنَ کښے خطاب نصارٰی ؤ سره دے او مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ نه مراد حضرت مسيح او د هغه والده مراد ده والخطاب للنصارٰی نهاهم عن عبادة عيسٰی (مدارك ج ۲ ص ۲۵) والمراد بما لا يملك عيسٰی وهو وامه عليهما الصلوة والسلام (بحر ج ۳ ص ۵۳۶) دا د نصارٰی ؤ د عقيدۀ الوهيتِ مسيح او مريم په بطلان باندے يو بل دليل دے مطلب دا دے چه تاسو د چا عبادت کوئ او چا ته غائب نه اوازو کئ هغوئ خو ستاسو د هيڅ نفع او نقصان اختيار نه لری او نه هغوئ عالم الغيب دی چه ستاسو د حال نه خبر شي او ستاسو آوازو نه واوری دا صفتونه صرف د الله دی. وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ه دے کښے واو تعليليه دے او دا د ماقبل علت دے يعنی د هرے خبرے آوريدونکے او د هر خيز پيژندونکے خو الله دے نه حضرت عيسیٰ او د هغۀ والده. د يکښے هو ضمير فصل او هو خبر معرّف باللام سره د حصر مفهوم پيدا شوے دے اى والله هو السميع لكل شئ لا عيسٰی وامه العليم بكل شئ اى لا عيسٰی وامه قال الشيخ قدس سره.

فائده: عامو مفسرينو اگرچه بلّغ ما انزل اليك کښے ما په عموم باندے محمول کړے ده او دينه ئے ټول احكام مراد کړی دی ليكن مذكوره څلور امور هغوئ مستقل احكام ګرځولی دی او د ما انزل دلاندے ئے نه دی داخل کړی د حضرت شيخ قدس سره په نزد ما عموم د پاره دے چه ټولو احكامو ته شامل دے او مذكوره څلور خبرے د ما انزل دلاندے داخل دی يعنی د څلور واړه خبرے د هغۀ امور نه دی کوم د تبليغ حكم چه نبی عليه السلام ته ورکړے شوے دے.

شيعه وائی دے آيت کښے د مَا أُنْزِلَ نه د حضرت علی د خلافت اعلان مراد دے او هغوئ په دے يو روايت هم پيش کوی چه د غدير خم په مقام باندے نبی عليه السلام خطبه (وعظ) او فرمائيلو په هغے کښے نبی عليه السلام و فرمائيل مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ يعنی د چا چه زۀ مولٰی يم علیؓ هم د هغه مولٰی دے د مولٰی نه هغوئ والی او خليفه مراد اخلی دا استدلال څو وجو سره صحيح نه دے.

(۱) دا حدیث د صحت درجے ته نۀ دے رسیدلے د ده اکثره طریقے ضعیفے او شاذ دی او څینے طریقے موضوع او مردود دی لکه چه علامه الوسی روح المعانی (ج ۶ ص ۱۹۳ تا ص ۱۹۸) کښے د دے باندے تفصیل سره خبره کړے ده.

(۲) لفظ مَوْلیٰ عربی لغت کښے د والی او حاکم پۀ معنیٰ نۀ استعمالیږی بلکه د مَوْلیٰ آقا، غلام، مدد گار، دوست وغیره راځی لکه چه علامه محمد طاهر فرمائی واسم المولی یقع علی الرب والمالك والسید والمنعِم والمعتِق والناصر والمحب والجار وابن العم والحلیف والعقید والصهر والعبد والمعتَق والمنعَم علیه الخ (مجمع بحار الانوار ج ۴ ص ۳۶۴) د دے معانیو کښے د والی یا حاکم هیڅ ذکر نشته د دے وجه نه د دینه د حضرت علی رضی الله عنه خلافت مراد کول قول غلطی ده او د تحکم پۀ زور دعوی ده.

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ

ته ووایه اے اهل کتابو [۳۷] د حد نه تجاوز مۀ کوئ د خپل دین خبره کښے

الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ

او مۀ ځئ د هغه خلقو خیالات باندے کوم چه گمراه شول

قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ

مخکښے او گمراه ئے کړل ډیر او گمراه شول د سمے

ع ۱۱ / ۱۳ السَّبِيْلِ ﴿۷۷﴾ لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ

لارے نه وه لعنت او شو کافرانو باندے بنی

اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ

اسرائیلو کښے د داود علیه السلام پۀ ژبه باندے او د عیسیٰ ځوئے د مریم

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۷۸﴾ كَانُوْا

دا ځکه چه هغوئ نافرمان وو او د حد نه تیر شوی وو خپل مینځ

لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ؕ لَبِئْسَ مَا

کښے ئے منع نۀ کوله [۱۳۹] د بد کار نه چه هغوئ کاوه خو مره بد کار دے

كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾ تَرٰى كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ

چه دوئ کولو ته وینے دوئ کښے ډیر خلق ۱۳۰ دوستی کوی

الَّذِينَ كَفَرُوا ط

کافرانو سره

نکات: سـ۱ زجر د پاره د اهل کتاب سـ۲ یعنی حضرت عیسی علیه السلام ته په غائبانه حاجات کښے متصرف مه وائی سـ۳ تخویف دنیاوی سـ۴ د هغهٔ بد دعائی سره شادوکان شول سـ۵
سـ۶ زجر منافقانو د پاره دے .

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی د یهودیانو او نصرانیانو پیشوایان چه دوئ د پاره ئے مذهب جوړ کړے وو.

حاشیه: ۱۳۷ د اهل کتاب د پاره زجر دے دین کښے غلو نه د الله مقرر کړے شوو حدود نه تجاوز کول مراد دی مثلاً حضرت مسیح او د هغهٔ والده او حضرت عزیر علیهم السلام ته د الوهیت درجه ورکول او هغوئ په حاجاتو کښے غائبانه طریقے سره رابلل وغیره. غَیْرَ الْحَقِّ د اَخِذِیْنَ مقدر د پاره دے مفعول به دے چه د لا تغلوا فاعل نه حال دے اَهْوَاءَ قَوْمٍ کښے د قوم نه مراد د یهود او نصاریٰ ز مشران او پلرونه نیکونه دی وے فرمائیل تاسو د خپل تیرو شوو پیرانو او د خپل پلار نیکه په تابعداری کښے د حق نه انکار مه کوئ کوم چه خپله ګمراه وو او چا چه په زرګونو لکونو د خدائے بندګان د توحید او صراط مستقیم نه بے لارے کړے وو ای اسلافکم وائمتکم الذین کانوا علی الضلال قبل مبعث النبی صلی الله علیه وسلم (مدارک ص ۱۳۰/۱) کوم خلق چه پخپله ګمراه او بے دینه دی د هغوئ تابعداری هیڅ شان سره جائز نهٔ ده د دوئ د تابعدارئ نه د حرمان او خسران نه سوا نور هیڅ حاصلیدل نشته.

۱۳۸ دا د مشرکینو اهل کتابو د پاره دنیوی تخویف دے. د حضرت داؤد علیه السلام په ژبه چه کوم خلق لعنتیان شول د هغوئ نه مراد اصحاب السبت (د خالی د ورځے ملګری) دی. هغوئ د خالی په ورځ د ماهیانو د ښکار نه منع کړے شول. لیکن هغوئ منع نهٔ شول او د الله ج د حکم پروا ئے او نکړه نو حضرت داؤد علیه السلام هغوئ ته خیرے (بد دعائی) اوکړه اللّٰهم العنهم واجعلهم آیة اے الله دوئ د خپل رحمت نه لرے کړه او دوئ د راتلونکو نسلونو د پاره د عبرت نشانه اوګرځوه نو الله تعالی مسخ کړل او شادوګان ئے ترینه جوړ کړل او کوم خلق چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام په ژبه لعنتیان شول د هغوئ نه اصحاب مائده مراد

دی چاچه د آسمان نه د دسترخوان نازلیدلو مطالبه کړے وه چه کله د دسترخوان نازل شو او هغوئ د ینه خوراک هم اوکړو لیکن ایمان ئے رانه وړو نو حضرت عیسیٰ علیه السلام دعاء اوکړه اللهم العنهم کما لعنت اصحاب السبت ۔ بے شکه دوئ باندے داسے لعنت اوکړه څنګه چه تا اصحاب السبت د دخانو وړے وو نو، باندے کړے دے هغوئ الله مسخ کړی خنزیران ئے ترینه جوړکړل اوبیرتئ د اسزا هغوئ ته د خداے ج د نافرمانئ او د هغه د حدود د ماتولو په وجه ورکړے شوه۔

ف ۱۳۹ دا د هغه ملعونینو العنتیانو د نافرمانئ او تجاوز عن الحد تفصیل دے یعنی کوم افعال او بدعملئ چه د دوئ په قوم کښے رائج وے او د کوم ارتکاب چه هغوئ کولو هغوئ نه دوئ نه منع کولو۔

ف ۱۴۰ دا د اهل کتابو منافقانو د پاره زجر دے دا خلق د کافرانو سره په پټه روغ کوی او په ظاهره کښے د مسلمانئ دعوی کونکی دی ان سخط الله الخ د بئس مخصوص بالذم دے یعنی هغوئ د کافرانو سره دوستی اوکړه او دا پرده خزانه توښه ئے مخکښے لیږلے ده چه د الله ج غضب ئے راخستلو او د جهنم په عذاب کښے د همیشه پاتے کیدلو مستحق شول یا د اَنْ نه مخکښے حرف جَرّ باب محذوف دے ای بِاَنْ یا بِاَنْ داشان به دا جمله د ماقبل سبب وی او د بِئْسَ مخصوص بالذم به محذوف وی مطلب به دا وی چه کومه توښه د عملو دوئ مخکښے لیږلے ده هغه ډیر بد شیز دے ځکه چه الله تعالیٰ په هغے ناخوښه او غصه شو۔

لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ

خامخا بد سامان او لیږلو هغوئ خپل ځان د پاره د هغه د چه د

اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَفِى الْعَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ۝٨٠

الله غضب اوشو په دوئ باندے او هغوئ همیشه عذاب کښے پاتے کیدونکی دی

وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِىِّ وَمَآ اُنْزِلَ

او که چرے هغوئ یقین لرلے په الله ج باندے او نبی باندے او کوم چه

اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا

نبی باندے نازل شو نو دوستان به ئے نه جوړولے کافران لیکن د دوئ کښے ډیر خلق

مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۸۱﴾ لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ

نافرمان دي — ته به بيا مومې ۱۴۲ يقولو خلقو نه زيات

عَدَاوَةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الْيَهُوْدَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا

دشمنان د مسلمانانو يهود او مشركان

وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

او ته به بيا مومې د ټولو نه زيات نزدې په محبت کښې د مسلمانانو سره

الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّ مِنْهُمْ

هغه خلق خوک چه وائي چه مونږ نصارىٰ يو دا ځکه چه ۱۴۳ دوئ کښې

قِسِّيْسِيْنَ وَرُهْبَانًا وَّاَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۸۲﴾

عالمان دي او صوفيان (زاهدان) دي او په دې وجه چه هغوئ تکبر نه کوي

نکات: ۱ اى بِاَنَّ ۲ مراد حبشه نصارىٰ دي چا چه ايمان راوړو

حاشيه: ۱۴۱ دا د هغوئ د ايمان د دعوىٰ کولو تکذيب (دروغ ثابتول) دي يعنې که چرې هغوئ واقعي د زړه نه په الله؟ او د هغه په رسول باندې ايمان راوړلې نو د کافرانو سره به ئې دوستانه تعلقات هرګز نه ساتلې د دې وجه نه د دوئ د ايمان دعوىٰ ټول دروغ او منافقانه ده.

۱۴۲ د نزول قرآن په وخت درې جماعتونه د قرآن مخالف وو يهود، نصارىٰ، مشرکان. دې آيت کښې الله تعالىٰ د ايمان والاؤ د سختې دشمنۍ درجه بندي اوفرمائيله. د دشمنۍ په سخت والي کښې يهوديان د ټولو نه اوله درجه باندې دي او هغوئ په دنيا کښې د مسلمانانو د ټولو نه لوئې دشمنان دي. دوېمه درجه کښې مشرکانو دوه جماعتونه ئې صراحت سره ذکر کړل او درېم جماعت يعنې د نصارىٰ ؤ حال پخپله معلوم شو چه درېمه درجه باندې نصارىٰ د مسلمانانو دشمنان دي.

۱۴۳ هُمْ ضمير اَلنَّاس ته راجع دې د مسلمانانو د رجه بندئ کولو نه روستو ئې مسلمانانو سره د محبت او دوستۍ کولو ذکر اوکړو. يعنې د نبي عليه السلام په زمانه کښې چه کوم خلق موجود وو د هغوئ نه د مسلمانانو سره د ټولو نه زيات محبت د حبشه د هغه عيسايانو په زړونو کښې وو چا چه د حبشه مهاجرين نه قرآن او د نبي عليه السلام تعليمات واوريدل او اسلام ئې قبول کړے وو د هغوئ د نرم دلۍ دا حال وو

چه کله دهغوئ مخکښې قرآن اولوستلے شو نو هغوئ دومره زیات متاثر شول چه د
هغوئ د سترګو نه اوښکے روانے شوے دے آیت کښې د نصارٰی نه د حبشے بادشاه
نجاشی او نور هغه عیسایان مراد دی چا چه اسلام قبول کړے وو د ے نه تول
عیسایان مراد نه دی ځکه چه باقی عیسایان هم داشان د مسلمانانو دشمنان وو
ځکه چه یهودیان او مشرکان وو لَمْ یُرِدْ بِهٖ جَمِیْعَ النصارٰی لانهم فی عداوة
المسلمین کالیهود فی قتلهم المسلمین و اسرهم و تخریب بلادهم و هدم مساجدهم
واحراق مصاحفهم لا وکرامة لهم بل الاٰیة فیمن اسلم منهم مثل النجاشی و
اصحابه (معالم ج ۲ ص۶۶)

۱۴۴ه داد ما قبل علت دے قِسِّیْسِیْنَ د قِسِّیْسٌ جمع ده چه د دے معنی عالِم
ده او دا لفظ د نصارٰی د لوئے عالِم د پاره وئیلے شی فی القاموس هو رئیس النصارٰی
فی العلم (مظهری ج ۳ ص۱۶۴) رُهْبَانًا د راهب جمع ده یعنی تارك الدنیا او عبادت
کونکے صوفی د حبشه عیسایانو نه چه چا ایمان راوړے دے په هغوئ کښې چونکه
لوئے لوئے علماء او صوفیان (بزرګان) شامل دی او د هغوئ په زړونو کښې تکبر
او غرور نشته د دے وجه نه هغوئ حق قبول کړے دے او هم دغه د ایمان والاؤ سره
د هغوئ د محبت وجه ده



وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ
او کله ۱۴۵ه چه آوری هغه کوم چه نازل شو په رسول باندے نو به وینے د دوئ سترګے
تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ
چه تویږی اوښکے د دے وجه نه چه هغوئ اوپیژندو حق خبرے لره وائی دوئ
رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۳﴾ وَمَا لَنَا
اے خښتنه زمونږه ایمان راوړو مونږ نو ولیکه ته مونږ د منونکو سره ۱۴۵ه او څه او شو مونږ له
لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ
چه یقین او نه کړو په الله جل جلاله باندے ۱۴۶ه او په هغه څیز باندے کوم چه راورسید مونږ
اَنْ يُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَاَثَابَهُمُ
ته حق نه او امید او ساتو د دے چه داخل کړی مونږ خښتن زمونږه سره د نیکبختونه ۱۴۷ه بیا هغوئ ته

جلد ۲

اللّٰهُ بِمَا قَالُوْا جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

په بدله کښې د هغه وينا د الله ورکړو باندې داسې باغ چه ځغلي د لاندې د ونو نهرونه

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَ ذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَ

هميشه به وي په هغو کښې او دا بدله ده د نيکي کونکو او

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

کوم خلق چه منکر شول او دروغ ئې اوګڼل زمونږ آيتونه هغوئ دي

الْجَحِيْمِ ﴿۸۶﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ

دوزخ اوسيدونکي ف ۱ اې د ايمان والاؤ مه ګرځوئ حرام هغه خوندناکې

مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَ لَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

خيزونه کوم چه الله حلال کړي دي ستاسو د پاره او د حد نه مه تيريږئ بيشکه الله

الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ۪

نه خوښوي د حد نه تيريدونکي او خورئ د الله در کړے شوے خيزونه کوم چه حلال او پاکيزه دي

نکات : سـ۱ بشارت سـ۲ تخويف اُخروي سـ۳ دوباره ذکرکول د مضمون نفي شرك فعلي په طريقه د لف ونشر غير مرتب سـ۴ اضافت بياني دے سـ۵ د دے تفسير د سورت په ابتداء کښې تير شوے دے سـ۶ د باطلو معبودانو په وجه سره تحريم مه کوئ لَا تُحَرِّمُوْا سره د اول مسئلې بيان دے سـ۷ د شرك په حالت کښې چه موکوم تحريمات کړي هغه حلال اوګڼړئ او خورئ.

موضح القرآن : ف۱ مکه کښې چه کله کافرانو په مسلمانانو باندې ظلم اوکړو نو نبي عليه السلام اجازت ورکړو چه بل کوم يو ملك ته لاړشئ تقريباً اتيا تنه مسلمانان ځنې يوازې او ځنې کورنۍ سره د حبشه ملك ته لاړل د حبشه بادشاه ډير انصاف کونکے وو بيا د مکې کافرانو هغه ته د دوئ باره کښې خبرې اوکړې چه دا قوم مه پريږده ځکه چه دوی حضرت عيسیٰ عليه السلام ته غلام وائي دغه وخت بادشاه مسلمانان راوغوښتل تپوس ئې ترينه اوکړو او قرآن ئې ترينه واوريدلو د هغوئ عالمانو ډير اوژړل او وئې وئيل حضرت عيسیٰ عليه السلام فرمائيلي دي ځما نه روستو د قيامت نه مخکښې به يو نبي بل راځي هغه بيشکه دا نبي دے هغه بادشاه پټ مسلمان شو د هغوئ په حق کښې دا آيتونه نازل شوي دي.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی هغه جماعت چه اکمل دے اُمت کښے ف۲ یعنی جنت
ته ف۳ مترجم وائی په ذکر شوو آیتونو کښے اشاره ده فضیلت د هغه قوم ته کوم
چه د حبشه د نصاریٰ ؤ نه د حضرت جعفر طیار په ملګرتیا کښے د نبی علیه السلام
په خدمت کښے حاضر شول او اسلام ئے راوړو۔ والله اعلم

حاشیه: ۱۴۵ دا د هغوئ د نرم دلئ او د خدائے نه د ویرے بیان دے
چه کله د هغوئ په مخکښے د قرآن کریم آیتونه اولوستلے شول نو هغوئ د خدائے د ویرے
نه په ژړا شول او هغوئ حق او پیژانده فوراً ئے قبول کړو ځکه چه هغوئ د تورات
او انجیل عالمان وو او د آخر الزمان پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اوصافو نه واقف
وو یَقُوْلُوْنَ الخ د قرآن آیتونو اوریدلو سره ئے ژړل اے ځمونږ پروردګاره
مونږ ستا په توحید باندے او ستا آخری پیغمبر باندے ایمان راوړو او س مونږ
خو هم د حضرت محمد صلے الله علیه وسلم په اُمت کښے اولیکه او د یکښے مونږ شامل
کړه اَلشّٰهِدِیْنَ نه اُمت محمدیه مراد دے ځکه چه دوئ به د قیامت په ورځ د
انبیاء علیهم السلام په حق کښے د حق تبلیغ ادا کولو ګواهی ورکوی مع امة محمد
علیه السلام الذین شهدوا علی سائر الامم یوم القیامة (مدارک ج ۱ ص ۲۳۱)
ای مع امة محمد ۳ الذین یشهدون بالحق الخ (قرطبی ج ۶ ص ۲۵۹)

۱۴۶ یعنی چه کله ځمونږ خواهش دے چه الله تعالیٰ به مونږ ته په آخرت کښے
د نیکو خلقو ملګرتیا راکړی بیا هیڅ وجه نشته چه مونږ په الله ج ایمان رانه وړو
او د هغه قوله رښتونی خبرے او نه منو کوم چه د الله ج له طرفه ته مونږ ته
رارسیدلے دی۔ فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ دا د هغوئ د پاره بشارت اخروی دے۔ وَالَّذِیْنَ
کَفَرُوْا الخ دا د منکرین او مکذبین د پاره تخویف اخروی دے تر دے ځایه پورے
د شرک فی التصرف نفی بیان وو۔

دویمه حصه

دویم جزء۔ نفی د شرک فعلی

۱۴۷ دلته نه د سورت د دویمے حصے دویم جزء شروع کیږی۔ چه په دے
کښے د لف و نشر غیر مرتب په طور باندے مسئله د شرک فعلی نفی اعاده کړے
شوے ده د شرک فعلی په سلسله کښے څلور خیزونه بیان کړے شوی دی:
(۱) تحریمات غیرالله یا تحریمات عباد یا تحریمات مشرکین (۲) د غیرالله
نذرونه (۳) تحریمات الله (۴) د الله نذرونه او د (۴) حکم دا دے چه
دا حلال دی او خوړل ئے پکار دی او د (۲-۳) حکم دا دے چه هغه

حرام دي او هغې خوړلو نه دے پکار. دے آیت کښې سره د تحریمات غیر الله نه
او ورته مثله مشرکانو د خپلو معبودانو د رضا حاصلولو دپاره مخصوص به خپل عرف خپل
حلال او پاک خیزونه په ځانونو حرام کړي وو مثلاً بحیره، سائبه وغیره نو په
تعانیه پاکې نو الله تعالی مسلمانانو ته حکم وکړو چه د شرک په دغه ...
حلال خیزونه چه تاسو حرام کړي وو هغه حلال وګڼئ او هغه خوړل وکړئ
خدم کړي طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ کښې اضافت بیانی دے وصف
داد ے چه پاکیزه خیزونه یعنی کوم خیزونه چه الله تعالی تاسو دپاره حلال کړي
دي هغه حرام مه ګرځوئ وَلَا تَعْتَدُوْا د حدونه مه تیریږئ د الله تعالی د
چه د خپل طرف نه د الله حلال کړے شوي خیزونه مه حراموئ ... ای لا تحرموا
ما احل الله وشرع (قرطبي ج ۶ ص ...)

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝ لَا يُؤَاخِذُ

او ویریږئ د الله نه په کوم چه تاسو یقین لرئ په هغه ... نه نیسي تاسو

اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا

الله تعالی ستاسو بیهوده قسمونو سره لیکن تاسو نیسي په هغه باندے

عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ

کوم قسم چه تاسو مضبوط کړے دے په هغه نو د هغې کفاره ده ډوډۍ ورکول د لسو

مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ

محتاجانو ته د درمیانه درجه طعام کوم چه تاسو ورکوئ خپلو کورنو ته

اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ

یا جامے ورکول لسو محتاجانو ته یا یو غلام آزادول دي ... چه دا ونه مومي

فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ۚ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا

نو روژے نیول دي د دریو ورځو دا کفاره ده ستاسو د قسمونو چه

حَلَفْتُمْ ۚ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ۚ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ

قسم اوکړئ او حفاظت وکړئ د خپلو قسمونو ... د اشان بیانوي

اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

الله ستاسو دپاره خپل حکم دے دپاره د چه تاسو احسان او منئ ف ۱ اے

اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ

ایمان والاؤ ۱۵۲ داچه کوم شراب او جواری او بتان او غشی دی

رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ

ټول گندہ کارونه دی د شیطانانو د دینه ځان او ساتئ دے دپاره چه

تُفْلِحُوْنَ ﴿۹۰﴾ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ

خلاصے بیا مومئ شیطان خو داغواړی ۱۵۳ چه واچوی ستاسو میځ کښے

الْعَدَاوَةَ

دشمنی

نکات: ۱ چونکه حلال حراموَل قسم گرځی د دے وجه نه ئے د یمین (قسم) مسئله ئے راوړله ۲ مراد متتابعات دی کما فی الحدیث عن عبد الله بن مسعود رض ۳ د دے دوه معنی دی (۱) قسم مه کوئ (۲) چه قسم پوره کړئ نو دما تولو نه ځان بچ کړئ او له معنی د قرآن د سیاق سره موافق ده ۴ د دویمے مسئلے بیان یعنی د غیر الله نذر نیاز گندگی ده د دینه ځان بچ کړئ ۵ دا صرف د شراب او جوارئ علت دے ځکه چه د انصاب او ازلام علت شرك فی التصرف او شرك فعلی وو هغه بالکل ظاهر وو د دے وجه نه هغه بیان نه کړے شو۔

موضح القرآن: ف ۱ کوم څیز چه صفا او حلال دے د هغے نه پرهیز کول ښۀ نه دی دا دوه قسمه وی یو دا چه د زهد په وجه سره ځان پابندے تنگی اوکړی چه دا قسم رهبانیت ځمونږ په دین کښے ښۀ کار نه دے بلکه تقوی پکار ده کوم چه منع شوے وی نو هغے ته د نزدے نه هم نۀ ورځی. دویم دا چه قسم ئے اوکړو په یو کار باندے نو دا بهتر نۀ دے کوم کار چه د شریعت موافق وی د هغے نه دے قسم نۀ کوی او که ئے اوکړو نو مات دے کړی او کفاره دے ورکړی دا ئے ځکښے او فرمائیل ف ۲ په کومه خبره چه ئے قصداً قسم اوکړو بیا په آینده کښے د هغے خلاف شو نو درے ۳ خبرونه دے یو اوکړی کوم چه ئے خوښ وی یا خود سے لس محتاجانو ته طعام ورکړی یعنی هر یو ته غله ورکول دوه سیره غنم یا ځلور سیره وربشے یا هغوئ ته جامے ورکول چه د بدن اکثره حصه پرے پټه شی ۲ یا یو

غلام (مریٔ) آزادول دے درے واړو کښے چه دچا دیو هم طاقت نه وی نو درے ورځے نیول، او خپل قسم مضبوطول پکار دی یعنی خومره چه کیدے شی نو قسم دے نه کوی او دږ بے عادت دے دا نه جوړوی۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی نکاح نه کول یا د اوبنانو غوښے نه خوړل زړه پشان نور صحیحونه دی **ف۲** مترجم وائی یعنی په لغوه کفاره نه لازمیږی لکه چه دلړے نه څه شبه او وینی او گمان سره وائی والله چه زید دے او زید نه وی ...
یمین منعقده کچرے حانث شی نو کفاره واجب ده لکه چه وائی والله ... نه خورم یا به دکور نه نه وځم وعلی هٰذا القیاس **ف۳** یعنی چه خومره کیدے شی نو حانث دے نشی۔

حاشیه: ۱۴۸ دا د ماقبل تاکید او تفصیل دے چه کوم حلال او طیب څیزونه الله ج تاسو ته درکړی دی هغے نه پوره پوره فائده واخلئ او په کوم الله جه تاسو ایمان راوړے دے د هغه نه اوویریږئ او د هغه د احکامو هرگز مخالفت مه کوئ چه نه خو حلال څیزونه حرام اوگرزئ او نه هغه بے ځایه خرچ کړئ۔

۱۴۹ دلته ئے د یمین قسم د دوه قسمونو یعنی یمین لغو او یمین منعقده بیان کړے دے د تحریمات عباد د ابطال نه روستوئے د قسم احکام بیان کړل د دواړو ربط او مناسبت دا دے چه لکه څنګه چه یو سړے دخپل طرف نه یو څیز په خپل ځان باندے حرام کرځوی د اشان په قسم سره هم حلال حرام کرځوی د دے وجه نه د تحریمات عباد سره ئے د یمین احکام بیان کړل۔

۱۵۰ د یمین لغو بیان تفصیل سره سورۂ بقره کښے ص باندے حاشیه ۴۴۵ کښے تیر شوے دے د یمین لغو حکم دا دے چه دے باندے څه مواخذه نشته نه دنیا کښے کفاره او نه په آخرت کښے سزا وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ الخ لیکن په یمین منعقده باندے به مواخذه وی یعنی کچرے دا ئے مات کړو نو کفاره ورکول به لازم وی۔ یمین منعقده دا دے چه په آینده زمانه کښے څه کار کولو یا نه کولو باندے د الله په نوم قسم اوکړی کچرے قسم ئے پوره کړو نو ډیره ښه ده کنه نو د هغے کفاره به واجب وی فَكَفَّارَتُهٗ الخ د قسم ماتولو کفاره دا ده چه لس مسکینانو ته به دوه وخته دا سے روټئ ورکوئ څنګه چه هغه عام طور باندے خپل کور کښے خوراک کوی د روټئ ورکولو په ځائے کچرے یو کس لس مسکینانو ته دوه سیره غنم یا غلور سیره وریشے ورکړی نو هم جائز ده یا لس مسکینانو ته د متوسط درجے جامے ورکړی فی کس دوه کپړے څادر او قمیص یا پرتوګ قمیص یا څادر او پټکے علی هٰذا القیاس یا غلام آزاد کړے کچرے دے مالی صورتونو کښے ئے د یو طاقت هم نه وی نو بیا به پرله پسے (متواتر) درے ورځے نیسی څکه چه د حضرت عبد الله بن مسعود رض په قرأت کښے دی فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ

امام ابن مسعود ... ابيحا ... دا قرائت مشهور ده (مظهري)

۱۵۱ دا ... ده دوه معنی دی اول دا چه قسم اوکړئ نو په هغې باندې ثابت والاړ او سیوري ... او نه ... ماتوی دوئم دا چه د سره (بالکل) قسم مه خوری فبروا فیها ولا تحنثوا ... بین الحنث خیرا او لا تحلفوا اصلا (مدارك ج ۱ ص ۲۲۳) حضرت شیخ ... سره به دوئم مفهوم ته ترجیح ورکوله ځکه چه هغه د سیاق قرآن سره مطابق ده.

۱۵۲ دا د دوئم مسئلې بیان ده یعنی د غیر الله نذر نیاز حرام او نجس ده ... والمیسر یعنی جواری دینه د جوارئ کوم مخصوص صورت مراد نه ده بلکه هغه ټول صورتونه او شرطونه مراد دی په کوم چه د جوارئ اطلاق کیده شی مثلاً لاټری د اسونو وغیره زغل بانده شرطونه لګول. الانصاب د نُصُب جمع ده یعنی لوئ لوئ بتان مراد د دوئ په نوم بانده ورکړه شوی نذرونه دی والازلام د بینه د غشو په ذریعه تقسیم مراد ده دا څیزونه ټول پلیت او شیطانی کارونه او کرځول شوا او وئ فرمائیل دینه اجتناب اوکړئ او لره اوسیږئ دیکښې ستاسو د کامیابئ او فلاح راز مضمر ده.

۱۵۳ دا ئ د شراب او جوارئ نه د اجتناب کولو علت بیان کړو د انصاب او ازلام نه د احتراز علت یعنی شرك فی التصرف او شرك فعلی چونکه ظاهر او واضح وو ده د وجه نه ئ هغه بیان نه کړو ان یوقع الخ یعنی د شراب نوشئ او جوارئ کولو په ذریعه شیطان تاسو کښې بغض او دشمنی پیدا کول او تاسو د الله د یاد نه خصوصاً د مونځ نه غافل کول غواړی و لے تاسو بیا هم د دے ګناهونو نه منع کیږئ.

وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ

او کینه په ذریعه د شراب او جوارئ او بند کړی تاسو د

ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿۹۱﴾

الله د یاد نه او د مانځه نه نو اوس به هم تاسو منع شئ ک

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ۚ فَاِنْ

حکم او منئ د الله ۱۵۴ او حکم او منئ د رسول او او ساتئ خپل ځانونه بیا

تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾

که تاسو او ګرځیدلئ نو پوه شئ چه څه بزد رسول په ذمه صرف رسول دی ښکاره

لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ

کوم خلق چه ایمان ئے راوړو او عمل ئے نیک اوکړو په هغوئی ګناه نشته

فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوا وَّآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

په هغې کښې چه کوم ئے مخکښې خوړلې دی ؎ چه کله په راتلونکی کښې او وېرېدل او ایمان

ثُمَّ اتَّقَوا وَّآمَنُوا ثُمَّ اتَّقَوا وَّأَحْسَنُوا ۗ وَاللَّهُ

ئے راوړو او عمل ئے نیک اوکړو بیا او وېرېدل او یقین ئے اوکړو بیا او وېرېدل او نیکی

ع ۱۲ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿۹۳﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَيَبْلُوَنَّكُمُ

ئے اوکړه او الله دوست لری نیکی کونکی ؎ اے ایمان والاو خامخا به ازمائی تاسو

اللَّهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهُ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ

الله یو خبرے سره په هغه ښکار کښې کوم ته چه رسیږی لاسونه ستاسے او نیزے

لِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدَىٰ

ستاسے ؎ د دے دپاره چه معلوم کړی الله هغه چه وېرېږی په غیر د لیدلو نه بیا چه چا زیاتے

بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۹۴﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

اوکړو د دینه روستو نو هغه دپاره عذاب دردناک دے ؎ اے د ایمان والاؤ ؎

آمَنُوا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ

مه وژنئ ښکار کوم وخت چه تاسو ئے په احرام کښې

نکات: ؎ یعنی د غیر الله منښتے پریږدئ او د الله او د هغهٔ د رسول اطاعت اوکړئ ؎ د مقدار (پته) سوال جواب یعنی ترا وسه پورے چه مو کوم د غیر الله نذرونه خوړلے دی د هغې څهٔ حکم دے ؎ اذا ما اتقوا من الشرك ؎ د دینه مراد اتقاء من الشرك باندے مضبوط پاتے کیدل دی لکه چه په سورهٔ حجرات کښې امنوا ثم لم یرتابوا ؎ مراد اتقاء کامل دے لکه چه په حدیث کښې د احسان د درجے بیان کښے راغلی دی ؎ د دریمے مسئلے بیان یعنی تحریمات الله قائم کړی ؎ دا تفصیلی علت دے یعنی الله تعالیٰ ظاهرول غواړی چه څوك هغه غیب دان ګنړی او د هغه نه وېرېږی چه الله تعالیٰ هر ځائے

حاضر او ناظر دے د هغه اطاعت سره به ثواب او مخالفت سره به عذاب ملاویږي او انبیاء علیهم السلام چونکه غیب دان نهٔ دي د دے وجه نه د هغوئ د پاره تحریمات مهٔ کوئ د سورت په شروع کښے ان الله یحکم ما یرید سره علت اجمالی بیان کړے شوے دے ښه دیکښے هم د دریمے مسئلے بیان دے۔

موضح القرآن : ف۱ شراب دکوم څیز او به چه سخا کړے شي چه نشه راوړل شروع کړي نو هغه ټول او ډیر حرام او پلیت دي باقي کوم څیز چه نشه راوړي او سخا شوے نهٔ وي نو هغه نجس (پلیت) نهٔ دے لیکن حرام دے او جواري شرط کیښودل په څهٔ څیز باندے چه په هغے کښے کټل او بایلل وي هغه محض حرام دے او دیو طرف نه شرط حرام نهٔ دے. باقي کومے لوبے چه په هغے کښے شرط تړل رواج دے کچرے په غیر د شرط نه وي نو جواري خو نهٔ شوه لیکن داچه شیطان دے بهانے سره د الله د یاد او د مانځه نه منع کول کوي نو هغه خواوشوه **ف۲** یعني دکفر په حالت کښے اګرچه حرام څیز یے خوړلے وو بیا مسلمان شو او ویریده او منع ورته اورسیده نو هغه یے اوهنله او ویریده او پرے یے بنود بیا دپاندے یے نیکي کوله د ایمان په اعمالو قائم پاتے شو نو د دے درے سببونو په وجه هغه ګناه پاتے نهٔ شوه. **ف۳** د ښیرے نوم یے واخسته دے کښے څو لے اسلحے داخل شوے بیا یے دا دوه طریقو سره ذکر کړو لاس سره او اسلحے سره د دے د پاره چه په احرام کښے دواړو طریقو سره ښکار وژل منع دي لرے نهٔ یے په اسلحے سره قتل کړو یا یے لاس سره صحیح سلامت ونیوه بیا یے حلال کړو او د ذبح په طریقه کښے د دے دواړو فرق دے چه د لرے نه یے اوویشته زخمي کیدلو سره مړ شو حلال دے او چه صحیح سلامت یے اونیولو نو د حیواناتو پشان حلالول پکار دي۔

فتح الرحمٰن : ف۱ یعني ځکښے د تحریم نه **ف۲** یعني هغه کوم چه یے د تحریم نه مخکښے او خوړ عفوه دے چه کله یے په تقوٰی کښے مضبوطوالے پیدا کړو او د اخبره هم هغه شان ده څنګه چه یو سړے واٸي ستا سره به احسان کوم او بیا به تا سره احسان کوم په دے معنیٰ چه پرله پسے به احسان کوم۔

حاشیه : ف۱۵۴ دا د پورتني حکم تاکید دے د الله اطاعت کوئ او د هغهٔ د رسول او د دوئ د نافرماني نه ځان اوساتئ کچرے تا د الله او د هغهٔ د رسول د احکامو نه اعراض اوکړو نو د یے سره تا سو ځمونږ رسول ته هیڅ نقصان نهٔ شي رسولے ځکه چه د هغوئ فرض ابلاغ (رسوُل) دو کوم چه هغوئ د پر ښکلے طریقه باندے اداء کړو د پیغمبر علیه السلام نافرماني سره تاسو خپل عاقبت (انجام) خرابوئ دا د الله تعالیٰ او د هغه د رسول[۳] د احکامو نه مخالفت کونکو د پاره سخت وعید دے وهٰذا تهدید عظیم ووعید شدید فی حق من خالف فی هٰذا التکلیف واعرض فیه

عن حکم الله (کبیر ج ۳ ص ۶۵۵)

۱۵۵ دا د سوال مقدر جواب دے یعنی کوم خلق چه تر او سه پورے ئے شراب څکل جواری ئے کوله او د غیر الله نذرونه او منبتے ئے خوړلے او د نزول تحریم نه مخکښے فوت شول د هغوئ به څه حکم وی نو د دے په جواب کښے ئے اوفرمائیل چه کوم مؤمنانو د نزول تحریم نه مخکښے پورته بیان شوی څیزونه خوړلے دی هغوئ باندے هیڅ گناه نشته إِذَا مَا اتَّقَوْا چه کله هغوئ د شرك نه بچ او سیږی او د زړه په صدق سره ئے ایمان راوړو او نیك اعمال ئے اوکړو ثُمَّ اتَّقَوْا وَّآمَنُوْا او بیا په دے اتقاء عن الشرك او ایمان خالص باندے قائم پاتے شول لکه چه بل ځائے کښے ئے اوفرمائیل اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا (حجرات ع ۲) ثُمَّ اتَّقَوْا وَّأَحْسَنُوْا بیا هغوئ د اتقاءِ کامل یعنی د احسان درجے ته اورسیدل اتقوا الشرك وآمنوا بالله ورسوله (قرطبی ص ۲۹۶ ج ۶) اذا ما اتقوا الشرك (مدارك ج ۱ ص ۲۳۳) قال محمد بن جریر الاتقاء الاول هو الاتقاء بتلقی امر الله بالقبول والتصدیق والدینونة به والعمل والاتقاء الثانی بالثبات علی التصدیق والثالث الاتقاء بالاحسان والتقرب بالنوافل (قرطبی)

دا ئے دریمه مسئله بیان کړه یعنی د الله ج تحریمات قائم کړی او دا حلال مه گڼړئ دلته ئے د احرام په حالت کښے د ښکار کولو نه منع اوکړه ښکار کول اګرچه حلال دے لیکن الله تعالیٰ خوك چه د تحلیل او تحریم مختار دے د احرام په حالت کښے ئے د ښکار کولو نه منع اوفرمائیله . لهٰذا د هغه د حکم تعمیل لازم دے . لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ دا د احرام په حالت کښے د ښکار کولو د ممانعت تفصیلی علت دے یعنی دے ممانعت سره الله تعالیٰ دا ظاهروی چه هغه عیب دان گڼړلو سره خوك د هغه نه ویریږی چه الله ج هر ځائے حاضر او ناظر دے او د هغه اطاعت سره ثواب او د هغه مخالفت سره عذاب وی پوهیږی په إِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ کښے د اجمالی علت بیان دے .

وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ

او خوك چه ستاسو نه دا قتل کړے قصدا سره **۱۵۶** نو په هغه باندے بدله د هغه

مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًا بٰلِغَ

وژل شوی برابر د چارپایانو نه چه تجویز کړے هغے لره دوه سړی معتبر ستاسو نه

الْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ أَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ

په دے طریقه چه هغه چارپائے د منبتے په طور **۱۵۸** او رسولے شی کعبے ته یا په هغه کفاره ده خوړ مسکینانو ته

صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ

روژې ورکول یا دهغې برابر روژې دي د پاره چه وڅکي ۹۵ سزا د خپل کار الله معاف کړو

وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيزٌ ذُو

کوم څه چه اوشول او څوک چه اوګرځي له دې نه نو بدله به واخلي الله د هغه نه او الله

انتِقَامٍ ﴿٩٥﴾ أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا

غالب دې بدله اخستلو والا ۹۵ حلال شو ستاسو دپاره ښکار ۱ په دریاب ښکار او د دریاب

لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا

طعام ستاسو فائده دې دپاره او د تللو مسافرو دپاره او حرام شو په تاسو باندې د ځنګل

دُمْتُمْ حُرُمًا ۗ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩٦﴾

ښکار ترڅو چه تاسو په احرام کښې یئ او ویریږئ د الله نه چا سره به چه تاسو جمع کیږئ ۲

جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ وَ

ګرځولې ده الله کعبه ۱ چه د بزرګۍ کور دې د قیام باعث خلقو دپاره او د

الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوا

بزرګۍ والا میاشتې ۲ او قربانۍ کوم چه د کعبه نذر ګرځولې شوې دي او دکوم په غاړه چه پټې اچولې

أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

شوې وي او بوتللې شي کعبه ته ۳ دا دې د پاره چه تاسو پوه شئ چه الله تعالیٰ ته معلوم دي هغه څیزونه چه په

آسمانونو کښې دي او په زمکه کښې دي

نکات: ۱ مراد هغه ماهي دې کوم چه دریاب غاړې ته غورځولې وي ۲ خلورمه مسئله یعني د الله د منبتو بیان ۳ یعني سبب د قیام کما في المدارک ۲ دا د نیازات الله علت دې یعني چونکه پتول ما في السمٰوٰت والارض الله تعالیٰ پیژني لهذا د هغه نیازات ورکول پکار دي دینه معلومه چه د انبیاء علیهم السلام وغیرهم نیازات حرام دي ځکه چه هغه د مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ عالم نه دي۔

موضح القرآن: ف۱ مسئله دا ده چه کچرې په احرام کښې ئې ښکار اونیولو نو بدلې ورکول ئې فرض دي او کچرې مړ ئې کړو نو د هغې په اندازه به بوچا رباڼې

د دے خاروونه چیلۍ یا غوا یا اوښ کیږي نو اولیږی او ذبح به ئے کړی او بیځنه به ئے نه خوری یا به د هغه قیمت غله واخلی په مسکینانو به ئے اوخوری هر مسکین ته به دوه سیره غنم چه خومره مسکینانو ته اورسیده یا د هغې په اندازه به روژے اونیسی او قیمت به ئے دوه مسلمانان عادلان مقرر کړی **ف۲** په احرام کښے د دریاب ښکار یعنی مهے حلال دے او د دریاب طعام کوم مهے چه د دریاب نه جُدا پاتے شی او مړ شی او هغه نه وی نیولے نو هغه هم حلال دے وے فرمائیل چه ستاسو فائدے د پاره ئے رخصت ورکړو بیا دے دا خول خیال نه کوی چه د حج په طفیل حلال دے بیا ئے اوفرمائیل چه د نورو خلقو مسافرو د فائدے د پاره هم اګرچه په تالاب کښے وی هغه هم د دریاب ښکار دے دا د ښکار حکم معلوم شو په احرام کښے او په احرام کښے قصد دے د مکے او د مکے ښار او خواوشا کښے همیشه ښکار کول حرام دے بلکه ښکار ویرول او زغلول (شړل) هم حرام دے.

فتح الرحمٰن: ف۱ د ښکار جزاء یو څیز د دے څیزونو نه دے د ښکار مماثل به ذبح کړی او مماثلت د امام شافعی رح په نزد په خلقت کښے دے او په شکل و صورت کښے او د امام ابوحنیفه رح په نزد په قیمت کښے دے یا به په قیمت د ښکار طعام واخلی او مسکینانو ته به ئے ورکړی د امام شافعی رح په نزد باندے به یو مسکین یو مُد (۶۸ توله ۳ ماشه) او د امام ابوحنیفه رح په نزد به هر مسکین ته نیم صاع ۱۳۵ توله د غنمو یا یو صاع ۲۷۰ توله د وربشو یا به د مسکینانو په شمار خومره مسکینانو ته چه رسیږی روژه اونیسی علی اختلاف المذهبین. والله اعلم

حاشیه: ۵۷ؔ مُتَعَمِّدًا د قتله فاعل نه حال دے او د فَجَزَآءٌ خبر محذوف دے ای فعلیه جزاء او مثل ما قتل د جزاءٌ نه بدل دے یا د هغه صفت دے او من النعم د ما بیان دے یعنی چا چه د احرام په حالت کښے عمدًا قصدًا ښکار اوکړو نو د هغه مثل د ده بانددے په طور د سزا واجب دے او د مثل نه مراد د امام ابو حنیفه رح په نزد معنوی دے یعنی د هغه قیمت لکه چه یحکم به ذوا عدل په دے قرینه ده ځکه چه د مثل صوری فیصله خو هر سړے کولے شی د هغې د پاره د دوه دیانتداره سړو ضرورت نشته۔

۵۸ؔ هَدۡیًا د به د ضمیر نه حال دے او بالغ الکعبة د هدیًا صفت دے کچرے د ښکار قیمت د ومره وی چه په هغې سره یو د هدیه چارپائے اخستلے شی نو هغه د واخلی او د حرم په حدودو کښے دے ذبح کړے شی اَوۡ کَفَّارَةٌ الخ د دے عطف په جَزَآءٌ بانددے دے او طعام مسٰکین د دهٔ نه بدل دے یا دے د هغه په قیمت غله واخلی په مسکینانو دے په دے طریقه تقسیم کړی چه د هر مسکین حصه د نیم صاع یعنی د دوه سیره غنمو نه کمه نشی یا د یو صاع خلور سیره وربشو نه کمه نشی اَوۡ عَدۡلُ ذٰلِكَ صِیَامًا دا هم په فَجَزَآءٌ بانددے معطوف دے او د یکښے د

کفاره د دریم صورت بیان دے یعنی یا دے دا سے اوکړی چه د غنمو هر دوه سیره یا دوه بشو د هر خلوص سیره په عوض کښے دے یوه روژه اونیسی۔
۱۵۹ دا د فعل مقدر اَوْحَیْنَا ذٰلِكَ الْجَزَآءَ سره متعلق دے یعنی مونږ دا جزاء حکه واجب کړه دے د پاره چه مجرم د خپلو کړو مزه اوڅکی او ددے حکم تحریم نه چه مخکښے تاسو د احرام په حالت کښے کوم ښکار کړے دے هغه معاف دے وَمَنْ عَادَ الخ لیکن چه کوم سړے ددے نه روستو ددے حکم مخالفت اوکړی او د تحریم نه روستو داکار بیا دوباره اوکړی نو الله تعالیٰ به د هغهٔ نه بدله واخلی یعنی هغهٔ باندے به جزاء واجب وی کچرے هغهٔ جزاء اداء نهٔ کړه نو هغهٔ ته به په آخرت کښے عذاب ورکولے شی (مظهری، مدارك)
۱۶۰ د ښکار دوه قسمه دی داوبو ښکار لکه مهٔ او دُوچے ښکار لکه مرغیٔ اوچارپایان دلته ئے تفصیل اوکړو چه داوبو ښکار د احرام په حالت کښے هم حلال لیکن ترڅو چه په احرام کښے یئے نو د اوچے ښکار تر هغه وخت پورے حرام دے وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِیْٓ اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ د الله ج نه اوویریږئ او د هغهٔ د حکم نه نافرمانی مهٔ کوئ په آخرت کښے به د هغهٔ په وړاندے حاضرولے شئ تخویف اُخروی طرف ته اشاره ده۔
۱۶۱ دا خلورمه مسئله ده یعنی د الله ج د نذرونو بیان دے اَلْبَیْتَ الْحَرَامَ د الکعبة نه بدل دے یا عطف بیان دے قِیٰمًا د جَعَلَ مفعول ثانی دے او قیام په معنیٰ د قوام دے یعنی د هغوئ د دین او د دنیا د امور د قائمولو او صحیح کولو ذریعه وَ هُوَ مَا یَقُوْمُ به امر دینهم و دنیا (مظهری) بیت الله سره د دین د امورو قیام دا شان دے چه د حج او عمرة او هدایا تعلق د ده سره دے او د دنیا د امورو دا شان چه اهل حرم د قتل او ډاکه وغیره نه محفوظ اوسیږی یا مطلب دا دے چه د بیت الله د وجه نه د ټولے دنیا د خلقو ژوند محفوظ دے او دا به ترهغے پورے وی چه ترڅو د دنیا خلق هلته حاضریدلو سره حج او عمرة ادا کوی۔ کچرے خلق حج پریږدی نو دے چه یو متنفس رساه اخستونکی هم حج نهٔ کوی نو الله تعالیٰ به فوراً دنیا تباه کړی۔ قیل لو ترکوه عامًا لم ینظروا ولم یؤخروا (مدارك ج ۱ ص ۲۳۵)
۱۶۲ دا په الکعبه باندے معطوف دے او الف لام جنس د پاره دے مراد رجب، ذوالقعده، ذوالحجة او محرم دے دے د عزت والا میاشتو کښے هم خلق د قتال نه محفوظ وی والهدی والقلائد۔ دا هم په الکعبه باندے معطوف دی د هدیٰ او قلائد تفسیر حاشیه (۵) کښے تیر شوے دے د دواړو نه مراد هغه چارپایان دی کوم چه د بیت الله نذر وی او محض د الله د رضا طلب کولو د پاره د حرم حدود کښے ذبح کولو د پاره بوتلے شی د بیت الله نذر کړے شوی چارپایان هم خلقو د پاره د امن او سلامتیا باعث دی حکه چه ددے په وجه به په اول کښے کوم غل ډاکو دے نه

ته تعرض نه کولو یا مطلب دا دے چه ترڅو پورے خلق د الله په نوم نذرونه او منتونه ورکوی تر هغه وخت پورے به الله تعالی هغوئی دهرے بلا نه او مصیبت نه په امن کښے ساتی۔

۱۶۳ دا د ماقبل علت دے یعنی چونکه ټول مافی السمٰوٰت والارض غیب خیزونه الله تعالی ته معلوم دی د دے وجه نه نذرونه هم د هغه په نوم ورکوی دینه معلومه شوه چه کله الله تعالی نه سوا بل څوک په غیب عالم نشته نو د هغه نه سوا د نذرانو او منتونو لائق هم څوک نشته (صنعتِ احتباك) یٰایها الذین اٰمنوا لا تحرموا طیبٰت ما احل الله لکم (ع ۱۱) د تحریمات غیرالله مسئله بیان شوے ده لیکن هغے سره دلیل نه دے ذکر شوے هغے نه روستو یا ایها الذین اٰمنوا انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام په کوم کښے چه د غیرالله د نذر، نیاز مسئله ذکر شوے ده لیکن هغے سره هم دلیل نه دے ذکر شوے بیا یا ایها الذین اٰمنو لیبلونکم الله (ع ۱۳) کښے د تحریمات الله بیان دے او هغے سره لیعلم الله من یخافه بالغیب سره د هغے دلیل هم بیان شوے دے هغے نه روستو ئے جعل الله الکعبة البیت الحرام الخ کښے دالله تعالی د نذرونو مسئله بیان کړے شوے ده او ورسره ئے ذٰلك لتعلموا ان الله یعلم الخ سره د هغے دلیل ذکر کړے دے۔ دلته صنعتِ احتباك دے یعنی د کومو مسئلو سره چه د هغوئی دلیل نه دے شوے د هغے دلیل هم هغه دے کوم چه د نورو مسئلو سره ذکر شوے دے. حاصل دا دے چه کله د اسمان او زمکے د ټولو غیب خیزونو پیژندونکے او هرځائے حاضر او ناظر صرف الله دے د دے وجه نه نذرونه هم د هغه په نوم ورکوئی او تحریمات هم د هغه باقی او ساتی ځکه چه د الله تعالی نه سوا څوک نبی یا ولی څوک فرښته یا پیرے غیب دان او حاضر او ناظر نه دے د دے وجه نه د الله نه سوا د بل چا نذرونه مه ورکوئی او نه د بل چا تحریمات کوئی۔

❁❁❁❁❁❁❁❁

وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۹۷﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

او الله د هر څه نه به خبر دے ول پوه شئ چه بیشکه د الله ج

شَدِیْدُ الْعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۹۸﴾ مَا عَلَى

عذاب سخت دے ۱۶۴ او بیشکه الله ج بخوونکے مهربان دے د

الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا

رسول په ذمه نشته مگر رسول او الله ج ته معلوم دی کوم څه چه ظاهروئ او کوم

تَكْتُمُوْنَ ﴿۹۹﴾ قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَ

خه چه پټوی ته ووايه چه برابر نهٔ دی
پلیت او پاک اګر

لَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰۤاُولِي

اګر که تا ته ښهٔ لګی د پلیت ډیر والے نو ویریږئ د الله نه
اے د عقل

۱۳ ع ۳ الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

خاوندانو دے د پاره چه تاسو خلاصے بیا موئ ف ۲ اے
اے

اٰمَنُوْا لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ۚ

ایمان والا! د الله تپوس مهٔ کوئ د داسے خبرو چه ښکاره شی نو تاسو بد خفه
نهٔ شی نو تاسو بد خفه

وَاِنْ تَسْـَٔلُوْا عَنْهَا حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَ لَكُمْ ۭ

کړی او که چرے تاسو تپوس کوئ د دے خبرو چه کله قرآن نازلیږی نو تاسو ته به ظاهر و لے

عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾ قَدْ سَاَلَهَا

شی الله د هغے معافی کړے ده او الله بخونکے صبر ناک دے ف ۲ د داسے خبرو تپوس

قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ اَصْبَحُوْا بِهَا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ مَا

کړے وو تاسو نه مخکښے یو جماعت بیا او ګرځیدل د هغے خبرو نه منکر ف ۳ نهٔ دے

جَعَلَ اللّٰهُ مِنْۢ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيْلَةٍ

مقرر کړے الله تعالیٰ بحیره او نهٔ سائبه او نهٔ وصیله

وَّلَا حَامٍ ۙ

او نهٔ حامی

نکات: ۱ـ تخویف هغه چا د پاره دے چه د غیر الله تحریمات کوی او د غیر الله منتیں ورکوی ۲ـ بشارت هغه چا د پاره خوک چه د غیر الله د تحریمات او منتونو منع شی ۳ـ یعنی د پیغمبر پهٔ ذمه باندے صرف د دے مسئلو تبلیغ دے خواه خلق ئے منی یا نهٔ منی ۴ـ خراب رسمونه مثلاً د غیر الله منتیں ۵ـ ښهٔ رسمونه مثلاً د الله منتیں ۶ـ اګرچه د غیر الله منتیں ډیرے وی بیا هم هغه پلیدی دی

ــک د شرك فعلي او شرك في التصرف نفي نه دے ستو اوفرمائیل چه کله توحید
مبادي بیانیږي نو هغه وخت بے موقع د جزوي مسائلو تپوس مه کوی ــ۸ دریم ځل د
تحریمات غیرالله ذکر۔ دا چارپائے الله نه دے حرام کړے بلکه مشرکانو د خپلو
پلرونو او نیکونو په اتباع کښے د خپل ځان نه حرام کړی دی۔

موضح القرآن : ف۱ د عربو ملك بے حاکم وو همیشه به په هغوئ کښے جنګونه او فتنے وے لیکن د کعبے احترام په هغوئ ثابت وو د دے وجه نه په عزتمند و میاشتو کښے به امن وو په دے کښے به هر سړی سفر کولو او خپل مطلب به ئے حاصلولو او قربانی سره به قافله تیریدله په دے طریقه به وخت تیریدلو
ف۲ یعنی د شرعی حکم د لاندے چه کوم څه په لاس راشی هغه پاك دے لږ هم بهتر دے او د شریعت خلاف چه څه په لاس راشی هغه پلیت دے د هغے ډیروالی ته نظر مه کوئ د چیلئ یو سیر غوښه بهتر ده د خنزیر د یو من غوښے نه۔
ف۳ یعنی نبی علیه السلام نه دا تپوس مه کوئ چه دا څیز روا دے یا نه دا کار اوکړی یا او نه کړی بلکه چه څه ئے تاسو ته اوفرمائیل په هغے عمل اوکړی او چه ئے حکم او نه کړو نو معاف ئے اوګنړئ د یکښے به دین آسان پاتے شي او چه د هرے خبرے جواب راشی نو دین کښے به تنګی راشی بیا به عمل او نه کړے شی لکه څنګه چه مخکښو او نه کړے شو بیا ئے د کفر رسمونه بیان کړل چه د تپوس حاجت نشته الله چه څه اوفرمائیل هغه بے اصل وی او دا شان ئے بے فائدے خبرے تپوس کولو چا خو تپوس اوکړو څما پلار څوك وو او چا تپوس اوکړو څما بنځه کوم کښے څنګه وه تجربے پیغمبر جواب ورکړی کیدے شی چه خراب جواب ورکړی بیا به پښیمانه وی۔

فتح الرحمن : ف۱ یعنی حرام او حلال مال برابر نه دے اګرچه حرام ډیر جمع کړے شی۔ والله اعلم **ف۲** مترجم وائی ځنے خلقو به د نبی علیه السلام نه بے ضرورته تپوس کولو یو تن اووئیل څما پلار څوك دے او بل اووئیل څما تلل به جنت ته وی یا دوزخ ته۔ د دے باره کښے نازل شو۔

حاشیه : ۱۶۴ دا هغه خلقو د پاره تخویف او خروی دے څوك چه د ځان نه جوړ کړے شوی تحریمات او د غیر الله د منښتونه منع نه شی۔ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِیْمٌ دا هغه خلقو د پاره بشارت اخروی دے کوم چه د دے نه منع شی مَا عَلَى الرَّسُوْلِ الخ څمونږ د پیغمبر په ذمه باندے صرف د هغه مسئلو تبلیغ دے کوم چه هغه په ښه طریقه باندے اورسولے خواه تاسو ئے منئ یا ئے نه منئ لیکن الله تعالی ستاسو ظاهر او باطن پیژنی او ستاسو هیڅ یو عمل د هغه نه پټ نه دے هغه به تاسو ته ستاسو د نیك او بد اعمالو پوره پوره جزاء درکوی۔
۱۶۵ د خبیث نه مراد خراب اعمال دی مثلاً شرك وغیره او حرام مال مثلاً

دغیر الله نذرونه وغیره او طَیِّبٌ نه مراد نیک اعمال او حلال مال دے مثلاً دالله نذرونه او منّتونه یعني نیک عملونه او بد عملونه او داشان حلال مال او حرام مال د خدائے په نزد برابر نه دے او د دواړو احکام او نتیجے یوشان نه دی اګرچه د شرك او بدعت کارونه ډیر زیات وي او د حرام کټه نذر دغیر الله وغیره په ډیرو ډیرو وي لیکن دالله سره ئے هیڅ قدر نشته او د شرك او بدعت او د پاك عملونه اګرچه کم وي او مال اګرچه لږ وي د الله ﷻ په نزد هغه غوره دے فَاتَّقُوا اللّٰهَ الخ اے د عقل خاوندانو! دالله نه اوویرېږئ او پاك عمل او پاك مال نه اګرچه کم وي پلیت عمل او پلیت مال باندے اګرچه زیات وي هغے ته غوره وا وركړئ دے دپاره چه د دنیا او آخرت کښے کامیابي حاصل کړي۔

۱۲۶ د شرك فعلي او شرك في التّصرف نفي کولو نه روستو ئے د ایمان والا د بے ځایه سوالاتو نه منع کړل د ماقبل سره د دے ربط دا دے چه کله د مسئله توحید اصول او مبادي بیانولے شي هغه وخت دا سے جزوي مسائل مه پتوس کوئ کوم چه د خلقو په زړونو کښے ځائے نیولے وي (پرانه وي) ځکه چه دا سے جزوي مسائل کچرے دوخت نه مخکښے او بے موقع بیان کړے شي نو دے سره به د منلو په ځائے اولټه انکار کوي او داشان به اشاعت توحید کښے رکاوټ پیدا شي لکه چه تیر شوو امتونو کښے هم داشان شوي دي د مثال په طور نن صبا کچرے د توحید ابتدائي اصول بیانولے شي نو دیوولسمے وغیره تپوس نه د پکار ځکه چه په شروع کښے دا سے کولو سره د توحید په تبلیغ کښے رکاوټ پیدا کیږي کله چه د توحید مبادي واضح شي او د خلقو په ذهن کښے راشي هغه وخت دے جزوي مسائل بیان کړے شي ځنے روایتونو کښے راځي چه یو ځل نبي علیه السلام خطبه (وعظ) ورکړو۔ وے فرمائیل خلقو تاسو باندے الله ﷻ حج فرض کړے دے لهٰذا تاسو حج کوئ یو تن اودرید ګو تپوس ئے اوکړو یا رسول الله! آیا هر کال حج کول فرض دي۔ دے سره نبي علیه السلام چُپ شو تردے چه هغه صحابي درے ځل خپل سوال مکرر کړو نبي علیه السلام اوفرمائیل ترڅو چه زۀ بخپله بیان اونۀ کړم تاسو د خپل طرفه هیڅ تپوس مه کوئ کوم چه بے موقع وي۔ داشان یو سړي تپوس اوکړو چه زما پلار څوك دے وغیره دا قسم بے موقع سوالونه ټول د دے دلاندے داخل دي ماقبل سره د آیت ربط هم هغه دے کوم چه مونږ مخکښے بیان کړو باقي پاتے پورتنۍ ذکر شوے واقعه او دا قسم نور واقعات نو هغه هم اګرچه د آیت په عموم کښے داخل دي لیکن د آیت ربط په هغے باندے موقوف نۀ دے۔

۱۲۷ دا د مضمون تحریمات غیر الله اعاده ده بَحِيرَه هغه اوښے ته وائي کوم چه د بتانو په نوم پرېښودے شوه او د هغے پیے به ئے نه استعمالول وَصِيلَه هغه

نو عمر او شه ته دائی چه پرله پسے دوه ښځې جونګړی او ځیږوی او مینځ کښې ئې
جونکړے نه وی پیداشوے داسے اوښ به مشرکانو د خپلو معبودانو په نوم خوشې
کوله او آزاده به ئې پریښوده سائبه هغه ژوندئ اوښه چه د بتانو په خاطر
د بار وړلو نه آزاده پریښودل شوه او به ئې وریاندے نه وړلو حام هغه اوښ
ته وائی چه د هغې د شا نه به لس بچې پیداشول مشرکانو به هغه د خپلو بتانو په نوم
پریښودله قال ابن المسیب انها (البحیرة) التی منع لبنها للطواغیت فلاتحلب...
(السائبة) هی الناقة تبطن عشرة البطن اناث فتهمل ولا ترکب ولا یجز وبرها...
الوصیلة من الابل وهي الناقة تبکر فتلد انثى ثم تثنی بولادة انثى اخرى لیس
بینهما ذکر فیترکونها لالهتهم.... الحام) الفحل یولد من ظهره عشرة البطن
فیقولون حمی ظهره فلایحمل علیه (روح ج ۷ ص ٤٢)

وَلٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

لیکن کافران ١٦٨ په الله باندے تړی

الْكَذِبَ ۭ وَاَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٠٣﴾ وَاِذَا قِيْلَ

دروغ او د دوئ کښے د اکثرو عقل نشته دے او کله چه وئیلے شی

لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ قَالُوْا

دوئ ته راشئ ١٦٩ د هغې طرف ته کوم چه الله نازل کړے دے او د رسول طرف ته

حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَاۗءَنَا ۭ اَوَلَوْ كَانَ اٰبَاۗؤُهُمْ

نو وائی حسبونږ د پاره کافی دے هغه په کوم چه مونږ بیاموندلے دی خپل پلرونه اونیکونه اګرکه د هغوئ پلار نیکونه

لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿١٠٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

نه څه علم لری او نه څه لار پیژنی نو بیا به هم د اشان کوی وئ اے د

اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا

ایمان والاؤ په تاسو لازم دے فکر د خپل ځان ١٧٠ تاسو ته هیڅ نقصان نشی

اهْتَدَيْتُمْ ۭ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ

درکولے څوک چه ګمراه وی چه کله تاسو په سمه لار یئ الله ته واپس ورتلل دی ستاسو د

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ

په هغو کارونو چه تاسو به کول خبر درکړي کوم څه چه تاسو کول ف ۱ اے دایمان والاؤ! ګواه ستاسو

بَيْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ

مینځ کښے چه کله او رسیږي یو ته ستاسو نه مرګ د وصیت په وخت

اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ غَيْرِكُمْ

دوه انصاف والا سړي بکار دي ستاسو نه یا دوه ګواهان نور وي ستاسو نه غیر

اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَاَصَابَتْكُمْ

کچرے تاسو سفر کړے وے په ملک کښے بیا درسیږي تاسو ته

مُّصِيْبَةُ الْمَوْتِ ط

مصیبت د مرګ

نکات: سلے یعنی کچرے تاسو دامر بالمعروف (تحریمات الله او نذر الله وغیره) او نهی عن المنکر (تحریمات غیر الله او نذر غیر الله) حق اداء کوئ او دا مسائل خپل (مسلمانانو) اهل دین ته رسوی نو کافران به تاسو ته هیڅ نقصان او نه رسوی سلے د شرک فعلی درد په دوران کښے ئے دا خبره واضح کړے شوه چه غیب بانده خبردار او کارساز صرف الله دے بل څوک نه دے د دے وجه نه قسم هم د الله ج په نوم ورکوی اګرچه کافر ولے نه وی.

موضح القرآن: ف ۱ یعنی دا د کفر رسمونه وو چه په چارپایانو کښے به ئے څخے بچی نذر ورکول د بتانو دپاره نو د هغے غوږونه به ئے پریکول د نښے کولو په توګه او دے ته به ئے بحیره وئیله او څخے چارپائے به ئے د بُت په نوم بانده آزادول هماغه به ئے خپلے خوښے ته پریخودل هغه سائبه وه او څخے خلقو مقرر کړه چه کوم بچے نر وی هغه د بُت په نوم پریږدم او چه کوم ښځه وی هغه به ذبحه کړم بیا به کچرے نر او ښځه جوړه وه نو نر به هم هغوئ ساتلو د ښځے سره دا وصیله وه او د کوم اوښ د شانه به چه لس بچی پوره کیدل د سورلئ لائق او د بار وړلو نو هغه پلاربه ئے د بار وړلو نه بند کړل دا ئے بوا وګیاله نه به ئے نه شړلو هغه حامی وو دا ټول غلط رسمونه ئے جوړ کړل او دا به ئے شرعی حکم ګڼړلو.

ف ۲ یعنی د پلار احوال چه معلوم شي چه د حق تابع وو او صاحب علم وو نو د

ف۳۱ يعني د اسې مثل تاسو ته معلوم شو چې هغه د زړه د شيطان کړو نو عبث دي. يعني د دين اصل نه منې هغه ته مثل شو دا د وې بانو معمول او کړ شو او غواړي چه د دين اصل نه منې هغه ته مثل شو دا ... حاصل د ے اول ئې په دين پوهه کړئ ځکه چې ... منی نو ... مسئله بيان کړئ۔

فتح الرحمن: ف۱ يعني تېر شي تاسو صلاح او کړه او د امر معروف شرط هو پورې ئې ادا کړو نو د مخالفينو مخالفت ضرر نشي درکولے۔

حاشيه: ف۱۳۸ يعني الله تعالى خو مذکوره بالا تحريمات اجازت هرګز نه دے ورکړے ليکن مشرکان دا ټول هر څه د خپل ځان له طرفه کوي او بيا ئې الله تعالى باندې بهتان تړي چه الله تعالى موږ ته د دې حکم راکړے دے حال دا دے چه الله تعالى د کفر او شرک حکم نه ورکوي او دا تحريمات غير الله خوصه شرک دے۔

فائده: مشرکانو څنګه چه د غير الله د رضا حاصلولو او د خپلو باطلو معبودانو د رضا طلب کولو د پاره نذرونه کول دا شان به هغوئ ځنې چارپايان د خپلو معبودانو په خاطر آزاد پريښودل نه به ئې د هغې غوښه خوړله نه به ئې پېۍ خوړل نه به ئې سورلي کوله او نه به ئې ورباندې بار وړلو دا تحريمات هغوئ د خپلو معبودانو د رضا کولو د پاره کول. بحيره، سائبه، وصيله او حام د کوم ذکر چه اوس شوے دے په تحريمات غير الله کښې داخل دي د غير الله نذرونه مشرکانو حلال ګنړل او کوم څيزونه چه هغوئ د خپل طرف نه حرام کړي دو هغه به ئې حرام ګنړل الله تعالى د دواړو حکم او فرمائيلو چه د غير الله نذرونه حرام دي هغه مه خورئ او بحيره، سائبه وغيره تحريمات غير الله حلال دي هغه خورئ او د خپل ځان نه جوړ کړي تحريمات ختم کړئ ځکه چه چارپايان الله تعالى خپلو بندګانو د پاره حلال کړي دي هغه به حلال پاتے وي او د بندګانو حرام ګرځولو سره به حرام نه ګرځي.

ځنې مفسرينو بحيره، سائبه، وغيره نذر غير الله کښې داخل کړي دي او حرام ئې ګرځولي دي ليکن دا صحيح نه ده ځکه چه الله تعالى يو طرف ته خو دا حکم ورکړے دے لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ يعني کوم پاکيزه څيزونه چه الله تعالى ستاسو د پاره حلال کړي دي هغه مه حراموئ او بل طرف ته ئې او فرمائيل مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْۢ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ الخ يعني الله تعالى د بحيره، سائبه وغيره د حرامولو حکم نه دے ورکړے او نه ئې د دې اجازت ورکړے دے مطلب دا چه دا چارپايان حلال دي او حلال به وي د بندګانو حرامولو سره حرام نه ګرځي.

ف۱۳۹ کله چه مشرکانو ته ... د خپل ځان نه تحريمات شو کوئ او د الله ...

او د هغه فیصله او منځ چه دا څیزونه حرام نهٔ دی ای هلموا الی حکم الله ورسوله بان هٰذه الاشیاء غیر محرمة (مدارک ج۱ ص۲۳۶) نو هغوئ وائی چه څمونږ الله او د رسول حکم ته ضرورت نشته څمونږ د پاره هغه کافی دے پهٔ کوم چه مونږ خپل پلار نیکه لیدلی دی څمونږ تیرو شوو مشرانو دا تحریمات کړی دی لهٰذا مونږ به هم داکوو اولو کان اٰباؤهم الخ د پلار نیکه تقلید او اقتداء خو هغه وخت کول پکار دی چه هغه عالمان وی او پهٔ هدایت باندے وی او د هغوئ هره خبره پهٔ حجت او دلیل باندے مبنی وی لیکن کچرے هغوئ جاهلان وی او گمراه وی نو بیا د هغوئ اقتداء جائز نهٔ ده د مشرکینو پلار نیکه بے علم او گمراه وو آیا دوئ به بیا هم د هغوئ پهٔ لار باندے ځی الاقتداء انما یجوز بالعالم المهتدی وانما یکون عالما مهتدیا اذا بنی قوله علی الحجة والدلیل (کبیر ج ۲ ص۶۸۰)

ف۱۷ آیت نه په ظاهره دا معلومیږی چه هر انسان له د خپل ځان فکر پکار دے او نورو خپل حال پریږدو دل پکار دی حال دا دے چه د قرآن او سنت نه ثابته ده چه هر سړی باندے د خپلے پوهے او علم مطابق تبلیغ فرض دے دا مشکل هغه وخت پیدا کیږی چه کله د اَنۡفُسَكُمۡ نه د هر سړی خپل ځان مراد شی لیکن د محققینو مفسرینو پهٔ نزد باندے دلته د اَنۡفُسَكُمۡ نه تمام اهل اسلام مراد دی او مطلب دا دے چه اے ایمان والاؤ! تاسو امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره ټول اهل اسلام د هلاکت او د الله ج د عذاب نه بچ کړئ چه کله تاسو هدایت موندونکی شی او ستاسو ایمان او عمل صحیح شی نو کافران او مشرکان به تاسو ته هیڅ نقصان او نهٔ رسوی لکه چه د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه قول دے باندے دال دے امام ابن جریر رح فرمائی و اصح التاویلات عندنا بتاویل هٰذه الاٰیة ماروی عن ابی بکر الصدیق رض فیها وهو یٰاَیها الذین اٰمنوا علیکم انفسکم الزموا العمل بطاعة الله وبما امرکم به وانتهوا عما نهاکم الله عنه لا یضرکم من ضل اذا اهتدیتم یقول فانه لا یضرکم ضلال من ضل اذا انتم لزمتم العمل بطاعة الله وادیتم فیمن ضل من الناس ما الزمکم الله به فیه من فرض الامر بالمعروف والنهی عن المنکر الذی ترکبه او تحاول رکوبه والاخذ علی یدیه اذا دام ظلما (ابن جریر ج۷ ص۶۰)

او حضرت عبدالله بن مبارک نه نقل شوے دے چه دا امر بالمعروف او نهی عن المنکر بارهٔ کښے دا آیت د ټولو نه زیات تاکید کوی قال عبدالله بن المبارک هٰذه اوکد اٰیة فی وجوب الامر بالمعروف والنهی عن المنکر فانه قال علیکم انفسکم یعنی علیکم اهل دینکم ... یعنی بان یعظ بعضکم بعضا ویرغب بعضکم بعضا فی الخیرات وینفره عن القبائح والسیئات الخ (کبیر ج۳ ص۶۸۱)

او س د دے آیت ماقبل سره دا ربط شو چه د تحریمات غیرالله د مضمون

تاکید اوکړو چه یو بل ته په توحید اهل ایمان ته تاکید اوکړو چه یو بل ته په توحید
اعاده کولو نه روستو تول اهل ایمان ته تاکید اوکړو چه یو بل ته په توحید
د باقی پاتے کیدلو او د نورو نیک اعمالو په ځائے راوړلو تعلیم کوئی او د شرک
او نورو خرابو عملونو نه هغوئی منع کړئی ۔

اوفوا ... شهادة بینکم ... دخبر نه مخکښے شهادة مضاف
الیه دا مبتداء ده او اِثْنٰنِ د دے خبر دے د خبر نه مخکښے شهادة مضا
محذوف دے په اصل کښے شَهَادَةُ اثْنَیْنِ وو مضاف ئے حذف کړو مضاف
الیه ته د هغهٔ اعراب ورکړے شو او د هغهٔ قائمقام اوګرځولے شو۔ من بعد
الصّلٰوة دا قید اتفاقی دے ځکه چه په ماځهٔ کښے مسلمانان جمع کیږی دګ وجه
چه شهادة ته حاضروی نو بهتر دے ۔ د شرك فعلی د نفی نه روستو د شهادت (ګواهی)
مضمون ذکر کول په ظاهره بے ربط معلومیږی لیکن داسے نهٔ ده دا الله کلام د دات
عیب نه پاك دے ۔ حضرت شیخ رح فرمائی چه د تحریمات غیر الله نذور الله او
نذور غیر الله ذکر شوی بیان نه دا واضح شوه چه غیب پیژندونکے او کارساز صرف
الله تعالیٰ دے د هغهٔ نه سوا بل څوك غیب پیژندونکے نشته او نه څوك متصرف
اوکارساز دے وجه نه قسم هم د الله په نوم خوړل پکار دی تردے چه غیر
مسلم نه دے هم د غیر الله قسم وانه اخستل شی ځکه چه په غیب عالم او کارساز
صرف الله دے بل هیڅوك نشته او د چا په نوم چه قسم کولے شی د هغهٔ غیب
پیژندل او کارساز کیدل ضروری دی د نبی علیه السلام په زمانه کښے یو واقعه
پیښه شو دوه عیسایان او یو مسلمان په تجارتی سفر روان شول مسلمان بیمار شو
هغهٔ په کاغذ باندے د خپل سامان فهرست تیار کړو او په هغه سامان کښے ئے
کیښودو او هغوئی ته ئے وصیت اوکړو چه دا سامان د هغهٔ وارثانو ته ورکړی هغه
وفات شو د هغهٔ ملګرو د هغهٔ د سامان نه یو ډیر قیمتی جام پټ کړو او باقی سامان
ئے وارثانو ته ورکړو وارثانو په سامان کښے کیښودے شوی فهرست کښے د جام
ذکر اولیدهٔ لیکن په سامان کښے ئے هغه اونهٔ موندهٔ نو دهٔ هغه دواړو نه ئے
د هغے مطالبه اوکړه هغوئی اوویل مونږ ته د دے علم نشته نو د مړی وارثانو
دا مقدمه د حضور علیه السلام په وړاندے پیش کړه نبی علیه السلام د وارثانو
نه ګواهان طلب کړه هغوئی سره ګواهان نهٔ وو د دے وجه نه نبی علیه السلام
وارثانو ته اوویل چه هغوئی د دے نه په یو داسے څیز قسم واخلی کوم چه د
دوئی په دین کښے لوئے ګڼړلے شی ۔ دے باندے الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو
چه قسم خو اګر چه غیر مسلم نه اخستلے شی صرف د الله په نوم کیدل پکار دی
نه چه د غیر الله دا روایت د ترمذی دے ۔ فسألهم البینة فلم یجدوا فامرهم
ان یستحلفوه بما یعظم علی اهل دینه فحلف فانزل الله یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ
بَیْنِکُمْ الخ (خازن ج ۳ ص ۸۶) دے آیت کښے فَیُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ مقصودی جمله ده
یعنی کچرے یو داسے صورت را پیښ شی او په هغے کښے د غیر مسلم نه قسم اخستل

ضروری نشی نو دهغه نه هم د الله ج په نوم باندے قسم اخستل پکار دی لکه چه
د فقه په کتابونو کښے ليکل شوی دی چه د یهودی نه به په دے طریقه قسم
اخستلے شی والله الذی انزل التوراة علی موسٰی علیه السلام او عیسائی نه به
والله الذی انزل الانجیل علی عیسٰی علیه السلام او د آتش پرست نه به والله
الذی خلق النار (هدایه وغیره)

تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْۢ بَعْدِ الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ

نو اودروئ هغه دواړه روستو د مانځه نه ف۱ هغه دواړه دے قسم اوکړی د الله ج

اِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى

که چرے تاسو ته شبه وی او وائی به چه مونږ نه اخلو په بدله کښے مال اګرچه د چا

وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ اِنَّاۤ اِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ﴿۱۰۶﴾

رشته هم وی حٔ حُونږ سره او مونږ نه پټوو د الله ګواهی ف۲ کنی مونږ بیشکه ګنهګار یوف

فَاِنْ عُثِرَ عَلٰۤى اَنَّهُمَا اسْتَحَقَّاۤ اِثْمًا فَاٰخَرٰنِ

بیا که چرے خبر کړے شی چه هغه دواړه وحق خبره ۲-۱ له پټه کړه ف۳ نو دوه ګواهان

يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ

دے نور اودرولے شی د هغوئ په ځائے د هغوئ نه چه د چا حق پټ کړے شوے

الْاَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَاۤ اَحَقُّ مِنْ

چه د تولو نه زیات نزدے وی ف۴ مړی ته بیا دے قسم اوخوری د الله چه حُونږ

شَهَادَتِهِمَا وَمَا اعْتَدَيْنَاۤ ۖ اِنَّاۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾

ګواهی رښتیا ده د هغوئ د ګواهئ نه او مونږ زیاتے او نه کړو کنی نو مونږ به بیشکه ظالمان یوف۵

ذٰلِكَ اَدْنٰۤى اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَاۤ

دے کښے امید دے ۲-۱ له چه ادا کړے شهادت په صحیح طریقه او

اَوْ يَخَافُوْۤا اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ ۗ وَاتَّقُوا

وویریږی چه واپس به کړے شی قسمونه حُونږ د هغوئ د قسم نه روستو ف۶ او وویریږئ

اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۱۰۸﴾

د الله نه او واورئ او الله ج نه بیائي په سمه لاره باندے نافرمان ډله

يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اُجِبْتُمْ ۭ

په کومه ورځ چه الله جمع کړي ټول پیغمبران بیا به اووائي چه تاسو ته څه جواب ملاؤ شوے وو

نکات: ۱ دا قید اتفاقي دے یا چونکه د مانځه نه روستو د مسلمانانو جمع کیدل وي د دے وجه نه ئے دا قید اولګولو **۲** یعني ذکر شوے طریقه اول د الله په نوم قسم اخستل او خیانت ظاهریدلو سره په وارثانو باندے قسمونه خوړل **۳** د جا په نوم چه نذرونه ورکولے شي په هغو ټولو کښے افضل انبیاء علیهم السلام دي هغوئ هم په غیب خبرنه دي لکه چه د قیامت په ورځ به هغوئ په خپله اووائي چه دا مونږ ته د خپلو امتونو د حالاتو هیڅ علم نشته. د يَوْمَ عامل قَالُوْا مؤاخر دے دا ذکر مقدره منلو ته ضرورت نشته.

موضح القرآن: ف۱ یعني مسلمان چه د مرګ په وخت چا ته ځان حواله کوي نو بهتره دا ده چه دوه معتبر انصاف والا مسلمانان ګواه کړي بیا کچرے وارثانو ته شک پریوځي چه دے سړي څه مال پټ کړے دے او وارث دعوی اوکړي او ګواه نشته نو دواړه سړي دے قسم اوخوري چه مونږ نه دے پټ کړے کچرے په سفر کښے مرګ راغے هلته خوك مسلمان پیدا نه شو نو دوه کافران هم جائز دي او قسم دے ورکړي د مازیګر مانځه نه روستو ځکه چه د دے وخت دعا نیك او بد زیاته قبلیږي کیدے شي چه اوویریږي چه دروغ قسم اونهٔ کړي **ف۲** یعني د وارثانو شك پیدا شو نو د قسم ورکولو حکم ئے اوکړو دے د پاره چه د قسم نه اوویریږي اول خو به دروغ اونهٔ وائي بیا کچرے خبره دروغ شوه نو وارث دے قسم اوکړي دا هم د دے د پاره چه هغوئ په قسم کښے خیانت اونه کړي پوه شي چه آخر ځمونږ دا قسم به هم واپس کړے شي دے ځائے کښے ئے اظهار ته ئے شهادت وئیلے دے مدعي اظهار اوکړي یا مدعی علیه لکه چه خپل ځان باندے اقرار ته وئیلے شي په خپل ځان ئے شهادت اوکړو. د نبي علیه السلام په زمانه کښے یو مسلمان تجارت ته لاړو په لاره کښے ورته مرګ راغے د قافلے نه ئے دوه نصرانیانو ته مال اوسپارلو چه ځما وارثانو ته ئے ورکړئ چه کله هغوئ راوړلو او ورئے کړلو وارثانو یو جام په هغے کښے اونهٔ لیدو چه هغے ته د سرو زرو اوبه ورکړے شوے وے د هغے دعوی ئے اوکړه هغوئ دواړو قسم اوکړو چه مونږ ته ئے دا سامان راکړے وو بیا وارثانو هغه جام د یو زرګر سره بیا موندلو هغوئ سره معلومه

شو چه د سپینوزرو وچه سره زر پرے چپاو شوے وو او هغه دواړو نصرانیانو خرڅ کړے وو او قیمت ئے اخستے دے بیا په وارثانو کښے چه کوم دوه تنه مړی ته زیات نزدے وو د دواړو له طرفه ئے قسم اوکړ چه مونږ ته خرڅول معلوم نه دی او د مړی د لاس فهرست هم سامان کښے راوو تلو د هغے نه جام هم په هغے کښے داخل وو آخر د نصرانیانو نه واپس واخستلے شو۔

فتح الرحمٰن: ف۱ د مازیگر مونځ ف۲ یعنی حق گواهی چه خدائے د هغے حکم کړے دے ف۳ یعنی په دروغ ئے گواهی ورکړه او په دروغ ئے قسم اوکړو ف۴ دوه تنه د وارثانو د مظلومانو نه به او درولے شی د دوئی په ځائے ف۵ مترجم وائی د آیت تاویل په مذهب د امام شافعیؒ دا دے چه د شهادت نه مراد وصیت دے او د مِنْكُمْ نه مِنْ اَقَارِبِكُمْ دے او د ذکر د اثنین احتیاط د پاره او قسم ورکول د منکر کیدلو په وجه دے د دے دعوی چه خیانت ئے کړیدے او د تعین د مانځه د ماخپکر د قسم سختولو په وجه دے او اختیار د اثنین د احتیاط د پاره دے او اقامت د اَوْلَیَان د وجه نه د مدعی کیدلو نه دے په دعوی کښے چه د خپل خیانت په وجه تقریر کوی لکه چه په ذکر شوے صورت کښے ئے د اشتراء د اخستلو دعوی کړے وه او اِنِ ارْتَبْتُمْ او فَاِنْ عُثِرَ اشاره ده توجه د دعوی د هغے کس ته او د امام ابوحنیفهؒ په مذهب باندے هم د دے پشان تاویل دے لیکن د ماخپکر د مونځ تعین د دے وجه دے چه قاضیان په محکمه د قضا کښے دا وخت کیناستل لکه چه او وئیل شو په محکمه د قضا کښے والله اعلم ف۶ یعنی بچرے یو سړے پوهیږی چه څما د قسم نه روستو مدعی ته قسم نشی ورکولے نو په دروغ به قسم اوکړی او بچرے پوهه شی چه کله دروغ ښکاره شی نو مدعیانو ته به قسم ورکولے شی او حق به د هغوئی قسم سره ثابت شی نو د دروغ قسم کولو نه به احتیاط اوکړی۔

حاشیه: ف۱ اِسْتَحَقَّآ اِثْمًا یعنی هغوئی د خیانت او د دروغ گواهئ کولو په وجه د گناه مستحق شول اَلَّذِیْنَ نه مراد د مړی وارثان او الْاَوْلَیٰنِ نه هغه دواړه سړی مراد دی چا چه د مړی په مال کښے خیانت اوکړو او بیا ئے په دروغ گواهی اوکړه او د مړی وارثانو ته ئے نقصان اورسولو المراد بالاولیان الوصیان اللذان ظهرت خیانتهما .... فمعنی استحق علیهم الاولیان خان فی مالهم وجنی علیهم الوصیان اللذان عثر علی خیانتهما (روح ج۷ ص۵۰) حاصل دا چه کله روستو معلوم شی چه په سفر کښے کوم دوه سړو ته مړی وصیت کړے وو هغوئی د مجرمانه خیانت مرتکب شوی دی او هغوئی غلط بیان کړے ده نو بیا به د مړی د وارثانو نه دوه کسانو نه قسم اخستلے شی هغوئی به په الله قسم اوخوری خپل بیان ئے ورکړی چه دے دواړو دروغ وئیلے دی او څمونږ بیان صحیح او قابل د قبلولو دے او مونږ په خپل بیان کښے د حق نه تجاوز نه دے کړے۔

۱۷۳ دا د شهادت مذکور بالا طریقې طرف ته اشاره ده یعنی اوّل خو د هغوی نه ګواهي واخستلے شي څوک چه
میت وصي جوړ کړي وي که د هغوی خیانت او کذب بیاني ظاهر شي نو بیا د میت وارثانو نه قسم واخستلے
شي دا طریقه د اصل مقصد حاصلولو لپاره قریب ترین ذریعه ده د سره خو به یا ګواهان د آخرت د عذاب
نه ویریږي و سره صحیح ګواهي به ورکړي یا بیا په دنیا کښې د رسوائۍ د ویرے صحیح ګواهي به ورکړي ځکه چه هغوی
ته به دا خطره وه چه د هغوی قسمونه به رد کړے شي. اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌ بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ یعني د هغوی د قسمونو
دروغ ثابتولو نه پس د قسم خوړلو حق به وارثانو ته ورکړے شي دلته یو شبه پیدا کیدے شي چه د شرعي قانون
مطابق قسم د دعوی منکر په ذمه باندے وي خو چه کله د دوؤمو ګواهانو خیانت ظاهر شي نو په وارثانو باندے
قسم راځي حالانکه هغوی خو مدعي دي نو د دے جواب دا دے چه په یو حیثیت سره وارثان هم منکر دي ځکه چه
هغوی د دوؤمو ګواهانو د دے دعوی نه انکار کوي چه هغوی د متوفی ټول سامان بغیر د خیانت نه د هغه وارثانو ته حواله کړے دے
۱۷۴ ځکښے د شرک فعلي د نفي په مسئله کښے دا خبره واضح شوے ده چه په غیب عالم صرف یو الله دے د
هغه نه سوا یو هیڅوک په غیب عالم نشته او س دلته ئے د قیامت د ورځے ځکښے راتلونکے یوه واقعه
ذکر کړه دا حقیقت ئے بیان کړو چه ته او مخبله انبیاء علیهم السلام چه الله تعالی هغوی ته په ټول مخلوق
باندے اوچتوالے او غوره والے ورکړے دے هغوی هم په غیب باندے خبر نه دی نه ئے په زړونو
کښے غیب پیژاندہ او نه د مرګ نه روستو خلق د غیر الله په نوم ندرونه او منتے صرف د دے دپاره
ورکوي چه هغوی څمونږ حاجتونو نه خبر دي او مونږ ته د نفع او نقصان رسولو قدرت لري لکه چه
د نن صبا د مشرکانو هم د خپلو پیرانو متعلق عقیده ده نو په آخر کښے الله تعالی دا معامله صفا او فرمائیله
چه انبیاء علیهم السلام خو په غیب عالمان نه دي چه د نورو نه غوره دي لکه چه هغوی به د قیامت
په ورځ صفا اووائي چه د هغوی نه روستو کوم څه کیږي هغوی ته د دے علم نشته بیا چه کوم خلق
انبیاء علیهم السلام نه په مرتبه کښے کم دي هغوی څنګه غیب دان کیدے شي د یَوْمَ ظرف عامل روستو
ذکر شوے یا قَالُوْا لَا عِلْمَ لَنَا. فیقول جمع یا ندے معطوف دے یعني په کومه ورځ کښے چه الله تعالی ټول رسولان
جمع کړي هغوی نه به دا سوال اوکړي چه تاسو ته د توحید د تبلیغ نه روستو د خپلو امتونو له طرفه څه
جواب ملاؤ شو د نه ورځ کښے به هغوی ټول اووائي چه مونږ ته خو د دے علم نشته دا خو د غیب خبره
ده او په ټول غیب باندے صرف ته عالم ئے بل هیڅوک نه دے دا آیت د انبیاء علیهم السلام نه
د علم غیب په نفي باندے قاطع دلیل دے. د دے آیت کښے د مَاذَآ اُجِبْتُمْ دوه معنے دي څنګه مفسرینو لیکلي دي
چه دا سوال به د تبلیغ د وخت سره متعلق وي چه کله تاسو ته تبلیغ کولو هغه وخت خلقو ستاسو خبره
قبوله کړه یا نه. نو هغوی به جواب ورکړي لَا عِلْمَ لَنَا بِبَاطِنِ مَا اَجَابَ اُممنا (قرطبي ج ۶ ص ۳۶۰) یعني د هغوی د باطن
علم مونږ ته نشته مونږ ته خو صرف د هغوی د ظاهر علم وو لیکن د یکښے مقصد د عبادت سره مطلب راوستلے
شي د دے وجے نه بهتره دا ده چه دا سے او ویلے شي چه دا سوال به د انبیاء علیهم السلام نه د هغوی د
وفات نه روستو حالاتو متعلق وي چه ستاسو د وفات نه روستو د دے خلقو حالات څه وو آیا دوی تاسو ابلي
تاسو ته ئے آواز کولو او آیا تاسو ته د دے علم شته نو د دے په جواب کښے به انبیاء علیهم السلام او وائي چه اے
الله د روستو حالاتو علم مونږ ته نشته لکه چه په ځکښے راتلونکي آیت کښے د دے تصدیق کیږي ځکه چه حضرت عیسیٰ ؑ به
هم د الله تعالی د سوال په جواب کښے دا وائي كُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ الخ دا شان سورة یونس ۲۶ کښے

دی چه کوم انبیاء او اولیاء ته خلق په دنیا کښې آوازونه کوی د قیامت په ورځ هغوی سفا او وائی چه مونږ ته خو د دوی د آواز وغیره هیڅ علم نشته اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ط ډیرو مفسرینو دا سوال د مرګ نه روستو حالاتو سره متعلق کړځولے دے امام رازی لیکی چه لا علم لنا الا ان علمنا جوابهم لنا وقت حیاتنا ولا نعلم ما کان منهم بعد وفاتنا (کبیر ج ۳ ص ۶۸۵) د اهل بدعت له طرفه د دے جواب دا ورکولے شی چه انبیاء علیهم السلام ته به ټول هرڅهٔ معلوم وی لیکن د قیامت د دهشت د وجه نه به جواب هغوی نشی ورکولے او د علم نفی به اوکړی دا جواب د دوه وجه نه غلط دے :

(۱) ځکه چه انبیاء علیهم السلام به د قیامت د هیبت او ګبرا هټ نه محفوظ وی او په هغوی به هیڅ قسم ویره نهٔ وی لکه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ (انبیاء ع ۷) یعنی کوم خلقو د پاره چه د حسنی (جنت) وعده کړے شوے ده هغوی به د قیامت د فزع اکبر (لوئے ګبرا هټ) نه به ویره کښې نهٔ وی۔

(۲) که چرے دا اومنلے شی چه هغوی ته ټول هرڅهٔ معلوم وو نو بیا خو د دے صورت کښې به لَا عِلْمَ لَنَا د واقعه نه صریح خلاف او دروغ وی۔



قَالُوْا لَا عِلْمَ لَنَا ط اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ (۱۰۹)

هغوی به اووائی مونږ ته خبر نشته صرف ته ئے د پټو خبرو پیژندونکے یے

اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِيْ

کله چه اووائی الله جل جلاله اے عیسیٰ د مریم ځویه یاد کړه زما احسان کوم چه شوے دے

عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ م اِذْ اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ قف

په تا باندے او ستا په مور باندے چه کله امداد اوکړو ما ستا په روح پاک سره تا به

تُكَلِّمُ النَّاسَ فِى الْمَهْدِ وَكَهْلًا ج وَاِذْ عَلَّمْتُكَ

خبرے کولے خلقو سره په ځنګون کښې او په بوډاوالی کښې او کله چه او ښودله ما تا ته

الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ج وَاِذْ تَخْلُقُ

کتاب او د حکمت خبرے او تورات او انجیل او کله چه به تا جوړولو ته

مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِاِذْنِيْ فَتَنْفُخُ فِيْهَا

دختې نه صورت د مارغه ځما په حکم سره بیا به دے پو کے وهلو

فَتَكُوْنُ طَيْرًا بِاِذْنِيْ وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ

په هغې کښې نو شو به الوتونکے ځما په حکم او جوړول به دے پیدائشي ړانده او برګې والا

بِاِذْنِيْ وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِاِذْنِيْ وَاِذْ كَفَفْتُ

ځما په حکم سره او چه کله به دے راویستل مړی له قبرونو نه ځما په حکم سره ف ۳ او کله چه بند کړل ما

بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ عَنْكَ اِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ

ستانه بني اسرائیل چه کله تا هغوی ته نشانے راوړے نو هغوی او وئیل

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۱۰﴾ وَ

کوم چه کافران وو نو هیڅ نه دی دا خو جادو دے ښکاره ف ۳ او

اِذْ اَوْحَيْتُ اِلَى الْحَوَارِيّٖنَ اَنْ اٰمِنُوْا بِيْ وَبِرَسُوْلِيْ

کله چه ما واچولو د حواریونو په زړه کښې چه ایمان راوړئ په ما او ځما په رسول باندے

قَالُوْۤا اٰمَنَّا وَاشْهَدْ بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

نو وئے وئیل چه مونږ ایمان راوړلو او ته ګواه شه چه مونږ تابعدار یو

نکات: سا د حضرت عیسیٰ علیه السلام تخصیص ئے ځکه اوکړو چه څنګے نصاری ورته دده په نوم ځان هم ذبح کول۔

موضح القرآن: ف دا به الله تعالیٰ پوښتنه اوکړی کافرانو ته او رسولو پاره چه ما تاسو د بیا طرف ته لیږلے وے هغوی قبول کړی یا نه او پیغمبر به حواله ورکړی د الله په علم باندے چه مونږ ته خو د زړه خبر نشته د ظاهر نشته دا ئے هغه چا ته واوروله څوک چه معزول (دهوکه کښې غورځیدلے) دی د پیغمبرانو په شفاعت باندے چه پته ورته اولیږی چه د الله په وړاندے څوک هم د چا په زړه ګواهي نشي ورکولے او څوک د چا شفاعت نشي کولے۔ **ف۲** بني اسرائیل هم بند کړل یعني قتل ته هم پرے نښودل۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعني اول به د عاجزئ او ادب په وجه دوئ او وائی ستا په مخکښې ستا د پوهے په نسبت خو ځمونږ د پاره هیڅ پوهه نشته دینه روسو

په ځواهي اوکړي په خپل اُمت باندې **ف ۲** د خطيرة القدس برکات **ف ۳** يعنې ځمونږ نه به دې ژوندې راويستل۔

حاشيه: ۱۷۵ د ټولو انبياء عليهم السلام اجمالي ذکر نه روستوئې د حضرت عيسىٰ عليه السلام ذکر خصوصيت سره اوکړو ځکه چه دغه وخت کښې د انبياء عليهم السلام غيب دان اوکارساز منونکې نصارىٰ دۀ لره وو چه دغه وخت کښې پۀ علم او پوهه کښې او پۀ عبادت او صوفيت کښې مشهور او معروف وو هغوئ به د حضرت عيسىٰ السلام نه روږه او منښتې ورکولې او د هغه په وجه به ئې چيلئ وغيره بلکه ځنې خلقو به خپل ځامن هم حلالول د دې وجه نه ئې د حضرت عيسىٰ عليه السلام ذکر خصوصي طور باندې اوکړو هغۀ نه د علم غيب او الوهيت نفي اوکړه د اول اذ قال الله يٰعيسىٰ نه واخله تر لآ اعذبه احدًا من العٰلمين پورې الله تعالىٰ حضرت عيسىٰ ؑ او د هغه مور باندې خپل انعامات او احسانات اوشميرل او اصلي سوال وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ (ع ۱۶) نه شروع کيږي۔

۱۷۶ ظرف نِعْمَتِیْ سره متعلق دے او نعمة دلته مصدر دے اى انعامى ظرف لنعمتى اى اذکر انعامى عليکما وقت تائيدى لکما روح القدس نه مراد حضرت جبرائيل ؑ مراد دے او د تائيد مطلب دا دے چه حضرت جبرائيل ؑ به هروخت هغۀ سره اوسيده تُكَلِّمُ النَّاسَ دا د اَيَّدْتُّكَ د ضمير منصوب نه حال دے د مهد نه د پېئ رودلو زمانه مراد ده چه پۀ هغې کښې حضرت مسيح عليه السلام معجزانه طور باندې خبرې اوکړې د والده مطهره پاکدامنئ ئې بيان کړه او کَهْلًا ديته وئيلې شي چه وېښته ئې سپين شي حضرت مسيح ؑ چونکه د دې عمر نه مخکښې پورته کړې شوې دے دا شان دا آيت د هغه د دوباره نازليدلو دليل دے ځکه چه د نزول نه روستو به هغه کهولت ته (بوډاوالي ته) رسيږي او خبرې به کوي وَاِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ دا پۀ اِذْ اَيَّدْتُّكَ معطوف دے الکتٰب نه قرآن مجيد مراد دے او الحکمة نه سنت مراد دے دا آيت کريمه د حضرت مسيح د دوباره نازليدلو دليل دے ځکه چه کله هغه نازل شي هغه وخت به الله تعالىٰ هغۀ ته د قرآن او سنت علم ورکوي او هغه به د دې دواړو مطابق فيصلې کوي د تورات او انجيل علم خو هغه ته د رفع الى السمآء (آسمان ته ختلو نه مخکښې حاصل وو۔

۱۷۷ او دا شان وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِیْۤ اِسْرَآءِيْلَ او وَاِذْ اَوْحَيْتُ دا ټول هم په وَاِذْ اَيَّدْتُّكَ باندې معطوف دي الله تعالىٰ چه کوم معجزات حضرت عيسىٰ عليه السلام ته ورکړي وو دلته ئې د هغې ذکر د انعام په طور باندې اوکړو يعنې د ماړغه صورت جوړول، پۀ هغۀ کښې روح اچول، ابرص والا پيدائشي ړوند بينا کول او مړي ژوندي کول هرې معجزې سره ئې د باذنى

صراحت اوکړو دے طرف ته ئے اشاره وکړه چه دا ټولے خبرے د حضرت
مسیح علیه السلام په اختیار کښے نه وے دا ټول امور غیر اختیاری وو او دا
ټول خپل قدرت سره د حضرت مسیح علیه السلام په لاس ظاهر کړل . د
اَوْحَیْتُ معنیٰ القیت فی روعهم ده یعنی ما د هغوئ په زړه کښے دا خبره
واچوله چه هغوئ په ما او زما په رسول باندے ایمان راوړی۔

إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ

کله چه اووئیل حواریون ف۱۱۲ اے عیسیٰ د مریم ځویه آیا ستا رب کولے شی

يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ

چه نازل کړے په مونږ باندے د که خوانچه د

السَّمَآءِ قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۱۲﴾

آسمان نه هغه اووئیل او ویریږئ د الله نه که چرے تاسو ئے ایمان راوړونکی ف

قَالُوا نُرِيدُ أَنْ نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَ

ف۱۱۳ هغوئ اووئیل مونږ غواړو چه اوخورو د هغے نه او مطمئن شی خونږ زړونه او

نَعْلَمَ أَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّٰهِدِينَ ﴿۱۱۳﴾

پوهه شو چه تا مونږ ته رښتیا اووئیل او مونږ شو دے باندے د ګواهانو ف

قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَآ أَنْزِلْ عَلَيْنَا

اووئیل عیسیٰ ځوئے د مریم ف۱۱۴ اے الله رب خونږ نازل کړه په مونږ باندے

مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَ

د که خوانچه د آسمان نه چه هغه وی د اختر شی خونږ د مخکنو او

ءَاخِرِنَا وَءَايَةً مِّنْكَ وَارْزُقْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّٰزِقِينَ ﴿۱۱۴﴾

روستنو د پاره او نښانه ستا د طرفه او روزی راکړه مونږ ته او ته ئے د ټولو نه بهتر

قَالَ اللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ فَمَنْ يَكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ

روزی ورکونکے ف۱۱۵ اووئیل الله بیشکه نازلوونکے یم هغه خوانچه په تاسو باندے بیا چه ستاسو نه

فَإِنِّيٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدًا مِّنَ

خوک ناشکری کوی د دینه روستو نو زه به هغه ته هغه عذاب ورکوم چه چاته به ئے هم نه ورکوم په

ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١١٥﴾ وَإِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ

مخلوق کښے ف۴ ئت۲ او کله چه به اووائی الله اے عیسیٰ ۱۸ لله ځویه د مریم

نکات: سل دا دبعد عهد (د یر وخت تیریدلو) د وجه نه د اولنی إِذْ قَالَ اعاده ده او ظرف قال روستنی سره متعلق دے.

موضح القرآن: ف۱ يَسْتَطِيعُ (کولے شی) دا معنیٰ چه ځمونږد پاره ستا دعا سره دومره خارق عادت (دعادت په خلاف) اوکړی یا اونه کړی هغه اوفرمائیل د الله نه اوویریږئ یعنی بنده ته پکار ده چه په الله امتحان اونه کړی چه ځما وینا منی یا نه منی اګرچه خدائے ورباندے ډیره مهربانی هم اوکړی **ف۲** یعنی دبرکت په امید سره ئے غواړو او معجزه همیشه مشهوره پاتے شی امتحان د پاره ئے نه غواړو **ف۳** وائی چه هغه خوانچه د اتوار په ورځ نازله شوه چه دا ورځ دعیسایانو د اختر ده لکه چه ځمونږ د پاره د ورځ دجمعے ده **ف۴** څنے وائی چه هغه خوانچه څلویښت ورځے نازله شوه بیا څنو ناشکری اوکړه یعنی حکم ورته شوے وو چه فقیر او مریض دے هغه اوخوری خود هغے نه مالدار او روغو جوړو هم خوراک شروع کړو بیا تقریباً اتیا سړی خنزیران اوشاد وګان شول دا عذاب مخکښے په یهودو کښے هم راغلے وو روستو هیچاته نه دے ورکړے شوے او څنے وائی هغه خوانچه نازل نه شوه د تهدید (ویرے ورکولو) نه روستو غوښتونکی اوویریدل لیکن د پیغمبر دعا عبث نه وی او دے کلام کښے نقل کول بے حکمته نه دی شاید چه د دے دعا اثر دا دے چه دحضرت عیسیٰ علیه السلام په اُمت کښے د مال فراخی همیشه پاتے شوے ده او هرڅوك چه د دوئي نه ناشکری کوی او د زړه په اطمینان سره په عبادت کښے مشغول نه شی بلکه په ګناه کښے ئے خرچ کړی نو شاید چه په آخرت کښے به د ټولونه زیات عذاب بیا مومی. دے کښے مسلمانانو ته عبرت دے چه خپله غوښتنه دے دخارق عادت دلاسه نه نه غواړی. شکر په ځائے راوړل ګران کار دے په اسباب ظاهری چه قناعت اوکړی دا بهتر ده دے قصه کښے هم ثابته شوه چه د الله تعالیٰ په وړاندے د هیچا حمایت او نورخه به کار نه ورځی (د هغه د اجازت نه پغیر)

فتح الرحمٰن: ف۱ حاصل دا دے چه الهام ئے راولیږه حواریون ته په کومه صورت کښے چه هغوئی د خپلے خوښے معجزه طلب کړه. **ف۲** د هغے نه روستو خوانچه

نازله شوه د اسمان نه په دوی باندے چه غوښته او روټۍ پکښے وه نو هغه ئے اوخوړله او ماړۀ شول۔

حاشیه : ۱۷۸ دا د اَیَّدْتُّكَ نه بدل دے دے ځائے نه واخله د (ع ۱۵) رکوع آخر پورے د مائده د نزول واقعه بیان شوے ده او دا هم په عیسیٰ علیه السلام باندے د الله تعالیٰ انعام وو ځکه چه کله د هغهٔ قوم د هغهٔ نه د آسمان نه د دسترخوان نازلیدلو مطالبه اوکړه نو هغهٔ د الله تعالیٰ نه سوال اوکړو نو الله تعالیٰ د هغه دعا قبوله کړه معجزانه طور باندے ئے د آسمان نه دسترخوان نازل کړو کوم حواریون چه د مائده د نزول مطالبه کړے وه هغه مخلص مؤمنان وو او د زیات یقین او عینی مشاهدے په خاطر د دے معجزے مطالبه کوله۔

۱۷۹ حضرت عیسیٰ علیه السلام اووئیل چرے واقعی تاسو مؤمنان ئے نو د الله تعالیٰ نه اووېرېږئ او د دے معجزے مطالبه مهٔ کوئ ځکه چه کله د طلب کړے شوے او د خپلے خوښے غوښتلے شوے معجزے انکار اوکړے شی نو په هغے باندے د الله گرفت ډیر زیات سخت وی قَالُوْا نُرِیْدُ الخ د دے په جواب کښے هغوئ اووئیل چه مونږ دا غواړو چه څهونږ په مخکښے د آسمان نه خوانچه نازل شی او مونږ د هغے نه خوراك اوکړو چه څهونږ یقین نور هم پوخ شی او ستاسو د صداقت مونږ مشاهده اوکړو او مونږ د دے واقعے گواهی د هغه خلقو په مخکښے اوکړو چه دا وخت موجود نهٔ وی۔

۱۸۰ دا د حضرت عیسی علیه السلام دعا ده چه په هغے کښے هغوئ د الله تعالیٰ نه د خوانچے نازلیدلو درخواست کړے وو الله تعالیٰ اوفرمائیل زهٔ یو ځل خو ربږ ده بیا بیا خوانچے نازلیدلو ته تیار یم لیکن یاد لرئ چه د مائده نازلیدلو نه روستو چه کوم انسان انکار کوی هغهٔ ته به داسے سخت عذاب ورکوم چه په دنیا کښے به داسے سخت عذاب بل هیچا ته نهٔ ورکوم نو مائده نازله شوه چا ته چه الله تعالیٰ توفیق ورکړو د هغه ایمان نور هم مضبوط شو او چا چه د دے نه روستو کفر اوکړو الله تعالیٰ د هغوئ نه په دنیا کښے خنزیران جوړ کړل او په آخرت کښے به هم هغوئ ته ډیر سخت عذاب ورکولے شی د څنو خلقو خیال دے چه کله مائده نازلیدلو نه روستو کفر کولو باندے د سخت عذاب د همکی نازله شوه نو هغوئ اووئیل بیا خو مونږ ته د مائده ضرورت نشته۔ د دے وجه نه الله ج مائده نازله نهٔ کړه۔ لیکن د جمهور مسلك دا دے چه مائده نازل شوے وه او هم دا صحیح ده واختلف العلماء فی المائدة هل نزلت ام لا فالذی علیه الجمهور وهو الحق نزولها الخ (قرطبی ج ۶ ص۳۶۹) والجمهور علی الاول وعلیه المعول (روح ج ۷ ص۶۲)

۱۸۱ دا د بعد عهد د وجه د مخکښی واذ قال اعاده ده او د ظرف متعلق قال مؤخر دے یعنی قال سبحٰنك د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ حضرت عیسیٰ علیه

السلام بانده به خپل انعامات او ثمیرې هغه نه به د اصل سوال تپوس او کړے.
ءَاَنْتَ قُلْتَ الخ یعنی ستا نه روستو ستا امت تا لره او ستا مور معبود گرځولے وو
هغوئ تا سو د دا ره عیب دان او کار ساز اوګڼل په حاجتونو کښے به ئے غائبانه
رابلل او ستا سو په نوم به ئے نذرونه او منتے ورکولے آیا تا سره د دے نظمونو
دوئ ته دا تعلیم ورکړے وو چه تا سو ما او څما مور لره د خدائے نه سوا معبود او
کارساز جوړ کړئ او په حاجتونو کښے مونږ رابلئ.



ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِیْ وَاُمِّیَ اِلٰهَیْنِ مِنْ

تا خلقو ته او ویل چه اوګرځوی ما لره او څما مور لره دوه معبودان سوا

دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا یَكُوْنُ لِیْ اَنْ اَقُوْلَ مَا

د الله نه هغه به اووائی ۱۸۲ ته پاک ئے ما سره لائق نه دی چه او وایم

لَیْسَ لِیْ ۗ بِحَقٍّ ؕ اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ؕ تَعْلَمُ

دا سے خبره د کوم حق چه ماته نشته که چرے ما ویلے وے نو تاته به ضرور معلوم

مَا فِیْ نَفْسِیْ وَلَاۤ اَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِكَ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ

وے تاته معلومه ده کوم چه څما په زړه کښے دی او زه نه پوهیږم کوم چه تاسره

عَلَّامُ الْغُیُوْبِ ﴿۱۱۶﴾ مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَاۤ اَمَرْتَنِیْ بِهٖۤ

دی بیشکه صرف ته ئے پیژندونکے د پټو خبرو ما هیڅ نه دی ویلی دوئ ته لیکن

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنْتُ عَلَیْهِمْ

تا چه د کوم حکم کړے دے چه بندګی کوئ د الله چه څما رب دے او ستا سو او زه

شَهِیْدًا مَّا دُمْتُ فِیْهِمْ ۚ فَلَمَّا تَوَفَّیْتَنِیْ كُنْتَ اَنْتَ

د دوئ نه خبر ووم ۱۸۳ ترڅو چه د دوئ سره ووم بیا چه کله تا زه پوره تره وخیژولم

الرَّقِیْبَ عَلَیْهِمْ ؕ وَاَنْتَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ شَهِیْدٌ ﴿۱۱۷﴾

نو ته د هغے خبر لرونکے وے او ته د هر څیز نه خبر یے.

إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ

که چرې ته عذاب ورکوې دوی ته نو هغوی ستا بندګان دی ۱۸۴ او که چرې ته

فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾ قَالَ اللَّهُ هَٰذَا

هغوی معاف کړې نو بس ته غالب حکمت والا ۔ الله تعالیٰ اوفرمایل ۱۸۵ دا

يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّاتٌ

ورځ ده چه ګټه به رسي رښتونو ته رښتیا ویل د هغوی ۔ هغوی د پاره دي باغونه

تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ

چه د هغې د لاندې بهیږي نهرونه او سیږي به په هغې کښې همیشه

رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ

الله ج راضي شوله هغوی نه او هغوی راضي شو د هغهٔ نه هم داده لویه

الْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا

کامیابي صرف الله ج د پاره دے حکومت ۱۸۶ د آسمانونو او د زمکې او کوم

فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٢٠﴾

څه چه د دے په مینځ کښې دی او هغهٔ په هر څهٔ قادر دے

نکات: ۱ اصل مقصود دا سوال دے یعنې دا دے انما ما توپهٔ موجود کړی کښې تا سو خلقو ته وئیلی وو چه تا سو ما لره او ځما مور لره معبود جوړ کړئ۔

۲ اول إِذْ قَالَ (ع ۱۵) د دے قال سره متعلق دے د دے وجه نه هلته اُذْکُرْ را ویستلو ته ضرورت نشته۔ دا د حضرت عیسیٰ علیه السلام جواب دے چه په پنځهٔ شقونو باندے مشتمل دے ۳ اول شق ۴ دویم شق ۵ دریم شق ۶ څلورم شق ۷ پنځم شق ۸ د سورت د دواړو مضمونو خلاصه د شرك في التصرف نفي بالذات او د شرك فعلي د نفي ذکر ضمنا۔

فتح الرحمٰن: ف۱ مترجم وائي الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ عیسیٰ علیه السلام ته خپل نعمتونه ور یاد کړي بیا به تپوس او کړي چه خپل ځان ته دے اِلٰه (معبود) وئیلے وو یا نه په طریقه د تاکید او نصارٰي وو د شبه ختمولو د پاره په کامل طریقه سره والله اعلم ف۲ یعنې زهٔ دے آسمان ته او خیژولم۔

حاشیه: ۱۸۲ دا په د حضرت عیسیٰ علیه السّلام له طرفه د مذکوره سوال جواب وی. جواب په پنځه شقونو باندے مشتمل دے اول شق سُبۡحٰنَكَ اے خدا الله! ته د دینه پاک ئے چه تا سره څوک شریک وی ستا نه سوا څوک عیب دان او کارساز نشته او ستا نه سوا د نذر او منتے حقدار شته دوئم شق مَا يَكُوۡنُ لِىۡۤ اَنۡ اَقُوۡلَ الخ خدا دپاره دا خبره هرګز جائز نه ده چه زه دا سے دعوی اوکړم د کوم چه ما ته هیڅ حق نشته ځکه چه معبود هغه څوک کیدیشی چه غیب دان متصرف او کارسازوی او په ما کښ دا صفتونه موجود نه وو. اِنۡ كُنۡتُ قُلۡتُهٗ فَقَدۡ عَلِمۡتَهٗ. دریم شق اے خدایه ته خو تول غیبونه پیژند و والائے تا ته زما د زړه خبرے هم معلومیږی که ما دا خبره کړیوی چه ما او خما مور د الله نه ما سوا کارساز جوړ کړے تو تا ته به د دے علم وی. څلورم شق مَا قُلۡتُ لَهُمۡ اے زما الله! تا ما ته نبوت او رسالت راکړو او ما ته دے د عبادت د اعلان کولو حکم راکړو نو ما هغوی ته څه او وئیل د کوم چه تا ما ته حکم کړے وو چه صرف د الله عبادت کوئ چه خما او ستا سو رب دے او صرف هغه غیب پیژندونکے او کارساز او کنړئ او هغه رابلئ.

پنځم شق وَكُنۡتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيۡدًا الخ خدا الله! ترڅو چه زه هغوی کښے موجود وم تر هغه وخت پورے ما د هغوی نګرانی کوله او هغوی ته مے ستا د توحید صحیح صحیح تعلیم ورکولو لیکن تا زه آسمان ته اوخیژولم هغے نه روستو ما ته علم نشته چه هغوی څه کار ونه کول هغه وخت ته د هغوی نګهبان وے دلته د تَوَفِّىۡ معنیٰ پوره پوره اخستل دی ځکه چه تَوَفَّيۡتَنِىۡ دلته د كُنۡتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيۡدًا مقابله کښے راغلے دے چه د دے خبرے دلیل دے چه د تَوَفِّىۡ نه دلته مرګ مراد نه دے قرآن مجید کښے د مرګ په مقابله کښے لفظ حیات نه دے استعمال شوے د توفی تحقیق د آل عمران په تفسیر کښے تیر شوے دے حاشیه ۸۸ اوګورئ.

۱۸۳ د لفظ شَهِيۡدًا پوره تحقیق د سورۂ بقره په تفسیر کښے تیر شوے دے حاشیه ۲۷۳ دلاندے.

۱۸۴ دا د ه جزاء محذوف ده او فَاِنَّهُمۡ عِبَادُكَ د دے دلیل دے ای لم یلحقك بتعذیبهم اعتراض لانك المالك المطلق لهم (روح ص ۸۷) داشان دا د اِنۡ تَغۡفِرۡ جزاء محذوف ده ای لم یلحقك عجز بذالك ولا استقباح فانك القادر القوی علی جمیع المقدورات (روح) یعنی که چرے ته دوئی ته عذاب ورکول غواړے نو په دے کښے تا باندے هیڅ اعتراض نشته ځکه چه هغه ستا بندګان دی او ته د هغوی مالک علی الاطلاق ئے او که چرے ته هغوی معاف کړے نو دا معاف کولو نه ته د دینه عاجز نه ئے او نه دیکښے څه بدی او قباحت شته ځکه چه ته قادر مطلق ئے او ټول مقدورات ستا په مشیت کښے دی او ستا د قدرت نه لاندے داخل دی.

۱۸۵ دا د ایمان والو او د توحید منونکو والو او نیک اعمال کونکو والو لپاره بشارت اخروی دے.

۱۸۶ لِلّٰهِ خبر مقدم دے او د خبر تقدیم د حصر افاده کولو دپاره دے یعنی د زمکے او آسمانونو بادشاهی او ټول اختیارات الله تعالیٰ دپاره دی لا یعبی و آم ا؟

نه چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام او د هغه د مور علیهما السلام د پاره د سے کښے د سورت خلاصه طرف ته اشاره ده د یکښے د شرك فی التصرف نفی بالذات ده او ضمنا د شرك فعلی نفی هم د یکښے راغله یعنی د زمکے او آسمان بادشاهی او ټول اختیارات او تصرفات الله تعالیٰ پورے مختص دی او بل هیڅوک د پاره ددی نو د نذرونیاز حقدار هم صرف الله تعالیٰ دے بل هیڅوك نه دے نه حضرت عیسیٰ علیه السلام او د هغه والده علیهما السلام نه د دوی نه سوا بل څوك.

۱۸۷ په قرینه د ماقبل سره دلته هم حصر دے صرف هغه په هر څیز قادر دے لا عیسیٰ و امه نه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام او د هغوی والده حضرت مریم صدیقه علیها السلام.

فائده: رکوع ۳ کښے د شرك فی التصرف په نفی باندے دا دلیل پیش کړے شوے وو وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَیْنَهُمَا یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ وَاللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ۝ بیا د سورت په آخر کښے لږ شان اختصاص سره ئے د دے دلیل اعاده او کړه د دے طرف ته ئے اشاره او کړه چه د سورة مائده محور او مرکزی نکته دا ده چه کله ټول هر څهٔ د الله جل په قبضه کښے دی نو بس هغه کارساز دے د حضرت عیسیٰ علیه السلام او مریم علیها السلام په قبضه او اختیار کښے هیڅ نشته د دے وجه نه کارساز هم نه دی او د نذر ونیاز مستحق هم نهٔ دی.

د سورة مائده خصوصیات

(۱) د دے سورت کښے دوه مضامین بیان کړے شوی دی نفی د شرك فعلی او نفی د شرك فی التصرف د شرك فعلی د نفی په سلسله کښے خلور مسلے بیان شوی دی تحریمات د غیرالله د دے عنوانات سره اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِیْمَةُ الْاَنْعَامِ (ع ۱) لَا تُحَرِّمُوْا طَیِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ (ع) او مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْۢ بَحِیْرَةٍ الخ (ع ۱۴) تحریمات الله د دے دوه عنوانات دی. غَیْرَ مُحِلِّی الصَّیْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ (ع ۱) او لَیَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَیْءٍ مِّنَ الصَّیْدِ الخ د غیرالله د دے هم دوه عنوان دی مَآ اُهِلَّ لِغَیْرِ اللّٰهِ بِهٖ (ع ۱) او مَا ذُبِحَ عَلَی النُّصُبِ وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ د الله نذرونه د دے هم دوه عنوان دی لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْیَ الخ (ع ۱) او جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَیْتَ الْحَرَامَ قِیٰمًا لِّلنَّاسِ الخ.

(۲) شرك فی التصرف کښے زیات زور حضرت مسیح او حضرت مریم علیهما السلام نه د غیب دانئ او کارساز کیدلو په نفی باندے ورکړے شوے

دے چه د دوی غیب دان او کار ساز کیدونکی کافران دی او سرسری طور
بانديے اختصار سره ـ

سورۂ مائدہ کښے د توحید آیتونه

(۱) قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ
وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا ؕ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ
يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ○ (ع ۳)
(۲) قَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ مَنْ
يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ
اَنْصَارٍ ○ (ع ۱۰)
(۳) لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ
(ع ۱۰)
(۴) قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ؕ وَاللّٰهُ
هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ○ (ع ۱۰)
(۵) لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيْهِنَّ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ
(ع ۱۶)

سُوْرَةُ الْاَنْعَامِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّخَمْسٌ وَّسِتُّوْنَ اَوْ وَسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورۃ الانعام [۱] مکه کښے نازل شوے دے او دا یو سل پنځه شپیته یا شپږ شپیته آیتونه او شل رکوع دی

حاشیه [۱]

سورۃ الانعام

(۱) ربط :- د باقی سورتونو په شان دلته هم د سورۂ مائده او سورۂ انعام
سره کښے دوه قسمه ربط دے :(۱) ربط معنوی (۲) ربط اسمی -
ربط معنوی دا دے چه په سورۂ مائده کښے د کومو دوه مضمونونه بیان شوے
دے یعنی د شرک فعلی نفی او د شرک فی التصرف نفی یا د شرک اعتقادی نفی
په سورۂ انعام کښے هم دغه دواړه مضامین تفصیل سره بیان کړے شوی سورۂ
مائده کښے اول د شرک فعلی نفی او د هغے نه روستو د شرک فی التصرف نفی ذکر
شوے ده ـ لیکن سورۂ انعام کښے ترتیب ذکر د دے په عکس دے سورت
د ابتداء نه واخله رکوع ۱۴ کښے وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ پورے د شرک فی التصرف

نفي کولو بيان دے او هغے نه روستو فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ نه واخله د سورت تر آخر پورے د شرك فعلي نفي ذکر دے دواړو سورتونو کښے دد ے مضامينو بيان کښے لاندے وجوه سره فرق دے.

د شرك في التصرف نفي: (۱) سورۀ مائده کښے شرك في التصرف کولو باندے صرف فتوىٰ صادر کړے شوے ده چه هغوئ کافر دي لکه چه وئے فرمائيل: لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ (ع ۳ و ۱۰) او لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ (ع ۱۰) ليکن د شرك في التصرف بطلان باندے دلائل قائم نکړے شول ليکن صرف يو دليل ذکر کړے شوے دے يعنې وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ الخ (ع ۳) دد ے په عکس په سورۀ انعام کښے دد ے په بطلان باندے دلائل عقلي او نقلي او وحي قائم کړے شوے دي او د دلائلو په سلسله کښے د هرخود لائلو نه روستو د هغے ثمره او نتيجه بيان کړے شوے ده.

(۲) سورۀ مائده کښے د شرك في التصرف په رد کښے خطاب نصاريٰ و سره دے او صرف د حضرت عيسيٰ عليه السلام او مريم عليها السلام غيب دان او کارساز او متصرف کيدلو نفي ذکر کړے شوے ده ليکن په سورۀ انعام کښے تعميم شوے دے او د مذکوره صفات د هرغيرالله نه نفي شوے ده خواه هرڅوك چه وي.

(۳) د شرك في التصرف نفي په سلسله کښے دلائلو سره سره د مشرکانو د شبهات او د هغوئ په زړونو کښے د پيدا کيدونکو سوالونو جواب هم ورکړے شوے دے د سوالونو شمير او ده دے چه د هغوئ نه ځنے صراحتاً ذکر کړے شوي دي او د ځينو جوابونو په ضمن کښے او د هغے په څنګ کښے د تبليغ او اشاعت توحيد طريقۀ کار تعليم هم ورکړے شوے دے د خلقو په مخکښے د توحيد مسئله څنګه پيش کول پکار دي او دد ے د تبليغ احسن طريقه څه ده ليکن په سورۀ مائده کښے د دے خبرو نه هيڅ يوه خبره نه ده ذکر شوے.

(۴) د دلائلو ختميدلو نه لږ شان مخکښے د مشرکانو د انکار وجوهات بيانول شروع کيږي يعني چه کله د توحيد مسئله بالکل واضح شوه او د شرك في التصرف په بطلان باندے هرقسم دلائل پيش کړے شول د مشرکانو د شبهات او شکوك ازاله هم اوشوه او د مسئله توحيد تبليغ هم ډير بهتر او خائسته طريقه باندے شوے دے نو دے ټولو خبرو باوجود د توحيد مسئله ولے نه مني او دد ے په انکار باندے ولے مضبوط ولاړ دي دا وجوهات هم اوښودلے شو دي.

نفي شرك فعلي: دواړو سورتونو کښے د شرك فعلي مسئله نفي کولو کښے لاندے ليکل شوو وجوه سره فرق دے.

(۱) سورۀ مائده کښې د تحریمات غیر الله بیان د پاره د رے تعبیر ونه اختیار کړے شوی دی اُحِلَّتْ لَکُمْ بَهِیْمَةُ الْاَنْعَامِ لَا تُحَرِّمُوْا طَیِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللهُ لَکُمْ او مَا جَعَلَ اللهُ مِنْ بَحِیْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ الخ او په سورۀ انعام کښې د دے نه علاوه د تحریمات غیر الله باقی شقونه بیان کړے شوی دی.

(۲) د شرک فعلی د نفی د لاندے د غیر الله نذر ونو کښې ما ذبح سره د چارپایانو حکم صراحت سره بیان کړے شو خواه د ذبح کولو په وخت هغې باندے بسم الله او وئیلے شی یا نه او په مَآ اُهِلَّ کښې د غلے وغیره حکم ضمناً ذکر شوے وو لیکن سورۀ آل عمران کښې د نذر لغیر الله د ټولو صورتونو حکم صراحت سره بیان کړے شوے دے یعنی څنګه چه د چارپایانو نه د غیر الله نذر او نیاز ورکول حرام دی داشان د غلو میوونه هم نذر او منسته د غیر الله د پاره ناجائز او حرام دی.

(۳) مائده کښې د مشرکینو دلائل ذکر نکړے شول لیکن په انعام کښې شرک باندے د مشرکانو د ټولو نه لوئې دلیل ذکر کړے شو د دے د پاره چه معلومه شی چه د مشرکانو لوئې نه لوئې دلیل دا دے: وَلَوْ شَآءَ اللهُ مَآ اَشْرَکْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَیْءٍ (ع ۱۸)

(۴) سورۀ مائده کښې د شرک فعلی نفی هیڅ یو دلیل نه قائم نه کړے شو لیکن سورۀ انعام کښې د دلیل نقلی، عقلی وحی ذکر کړے شوے دے دلیل نقلی دا دے ثُمَّ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتٰبَ تَمَامًا عَلَی الَّذِیْٓ اَحْسَنَ الخ او دلیل وحی دا دے وَهٰذَا کِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَکٌ فَاتَّبِعُوْهُ (ع ۲۰)

(۵) سورۀ مائده کښې د تحریمات غیر الله په مقابله کښې تحریمات الله ذکر اوکړے شو او سورۀ انعام کښې په طور د تتمه د تحریمات الله باقی شقونه بیان کړے شوی دی او په هغې کښې د الله د نذر تیاز ذکر او نه کړے شو.

ربط نامی:- الله تعالیٰ به تاسو باندے د خپلو انعاماتو مائده (دسترخوان) نازل کړی په دے شرط چه تاسو په انعام خاروو، فصلونو کښې د غیر الله نذرونه او منښتے نه ورکوئ او د غیر الله تحریمات نه کوئ.

خلاصه:- څنګه چه مخکښې بیان کړے شوے دے دے سورت کښې دوه مضامین بیان کړے شوی دی د دے لحاظ سره د دے سورت دوه حصے دی اوله حصه د سورت د ابتداء نه واخله رکوع ۱۴ کښې اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِیْنَ پورے ده د کښې د شرک فی التصرف نفی مضمون بیان شوے دے دویمه حصه سره متصل ده روستو فَکُلُوْا مِمَّا ذُکِرَ اسْمُ اللهِ عَلَیْهِ نه واخله رکوع ۱۹ کښې لَعَلَّکُمْ تَتَّقُوْنَ پورے دے چه په هغې کښې د شرک فعلی مضمون بیان شوے دے د دینه روستو ثُمَّ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتٰبَ تَمَامًا سره د واړه مسئلو باندے دلیل نقلی او د

هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ سره دواړو بانده دلیل وحی ذکر کړے شوے دے یعنی اول په تورات کښې هم بیان کړے شوے دے چه د الله نه سوا څوك غیب دان اوکار ساز نشته او دغه نه سوا څوك د نذر او نیاز لائق نشته بیا د تورات نه روستو قرآن کریم کښې هم د دواړو مسئلو وضاحت کړے شوے دے د دے وجه نه د قرآن کریم تابعداري اوکړی بیا د سورت په آخر کښې رکوع آخري کښې قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَ نُسُكِیْ وَ مَحْیَایَ نه واخله د سورت آخر پورے د دواړو مضامینو اجمالی طور بانده اعاده کړے شوے ده دواړه مضامین ئے هر قسم دلائلو سره مدلل او مبرهن کړی دی۔

اوله خلاصه

اوله حصه کښې د دلائلو نه علاوه د مضامینو درے[۳] نورے سلسلے ضمناً هم راغلی دی (۱) د مشرکینو د شبهات د رد سلسله (۲) د تبلیغ د طریقے سلسله او (۳) او د مشرکانو د وجوه د بیان سلسله هره سلسله په اوه شقونو بانده مشتمل ده۔

د شرك فی التصرف نفی بانده دلائل: اوله حصه کښې د شرك فی التصرف نفی بانده عقلی، نقلی او د وحی شپارس[۱۶] دلائل پیش کړے شوی دی یوولس دلائل عقلیه دوه دلائل نقلیه او درے[۳] د لائل وحی د دلائلو سلسلے مینځ کښې دڅو دلائلو روستو درے ځله د دغے ثمره هم بیان کړے شوے ده اول دلیل عقلی اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ تا یَكْسِبُوْنَ (ع ۱) د دے دلیل مدعی دا ده چه د الله نه سوا کار ساز او په غیب عالم هیڅوك نشته دویم دلیل عقلی عَلٰی سَبِیْلِ الْاِعْتِرَافِ مِنَ الْخَصْمِ قُلْ لِّمَنْ مَّا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ قُلْ لِّلّٰهِ كَتَبَ عَلٰی نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ (ع ۲) یعنی چه کله تاسو د زمکے او آسمان مالك الله منئ نو دغه نه سوا کارساز هم بل څوك نشته دینه روستو تخویف اُخروی دے دریم دلیل عقلی وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِی الَّیْلِ وَ النَّهَارِ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ (ع ۲) څلورم دلیل عقلی وَاِنْ یَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ تا وَهُوَ الْعَلِیْمُ الْخَبِیْرُ (ع ۲) یعنی نفع او ضرر د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی لهٰذا دغه نه سوا هیڅوك کارساز او متصرف نشته د دے سره متصل روستو زجرونه، تخویفونه دی پنځم دلیل عقلی وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِی الْاَرْضِ تر یُحْشَرُوْنَ (ع ۲) د هر ساه لرونکی روزی رسان او کار ساز الله دے دغه نه سوا بل څوك نه دے د دے نه روستو زجر دے۔ شپږم عقلی دلیل عَلٰی سَبِیْلِ الْاِعْتِرَافِ مِنَ الْخَصْمِ قُلْ اَرَءَیْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ تر تُشْرِكُوْنَ (ع ۴) دینه روستو تخویف اُخروی دے اوم دلیل عقلی قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ تر ثُمَّ هُمْ

يَصْدِفُوْنَ (ع ۵) د دليل نمبر ۶، ۷ نه معلومه شوه چه متصرف او مختار او كارساز صرف الله تعالىٰ دے دينه روستو قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ سره د شپږم دليل اعاده كړے شوے ده دے نه روستو د زجر او تخويف، بشارت وغيره ذكر دے اتم دليل عقلي وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ نه تر لِيُقْضٰۤى اَجَلٌ مُّسَمًّى (ع ۷) دينه ثابته شوه چه د اصولو دهغے دلاندے كليات او د كلياتو د جزئياتو د ټولو علم صرف الله ته دے نهم دليل عقلي على سبيل الاعتراف من الخصم قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ نه تر ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ (ع ۴) (ع ۸ اعراف) دا هم د دے خبرے دليل دے چه د الله تعالىٰ نه سوا بل هيڅوك كارساز نشته دينه روستو تخويفونه زجرونه دي بيا نَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا نه تر وَهُوَ الَّذِيْۤ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ (ع ۹) پورے د مذكوره پنځه عقلي دليلونو ثمره بيان شوے ده چه د زمكے او آسمان كلي علم غيب صرف الله تعالىٰ ته دے او د هغه نه سوا هيڅوك غيب دان او متصرف او كارساز نشته لسم دليل عقلي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ نه تر وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ يوولسم دليل عقلي اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى نه تر يُّؤْمِنُوْنَ (ع ۱۲) پورے دينه روستو ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ نه واخله وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ پورے د مذكوره دواړو دليلونو ثمره بيان كړے شوے ده دے دواړو دليلونو نه واضح كيږي چه كارساز او متصرف صرف الله تعالىٰ دے او د هغه نه سوا هيڅوك متصرف او كارساز نشته.

دلائل نقليه:- د شرك في التصرف نفي باندے دوه نقليه دليلونه ذكر شوي دي: (۱) دليل نقلي تفصيلي حضرت ابراهيم عليه السلام او د هغه نه علاوه اوولس انبياء عليهم السلام سره او اجمالاً ټولو انبياء عليهم السلام سره وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ نه تر اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ (ع ۹) پورے د يكښے د ابراهيم عليه السلام نه علاوه د اوولس انبياء عليهم السلام نومونه ئے اوشميرل د باقي انبياء ذكر ئے اجمالاً اوكړو د ټولو له طرفه ئے بيان اوكړو چه هغه ټول د شرك نه بيزاره وو او د توحيد تبليغ كونكي وو هغوئ ټولو الله تعالىٰ غيب دان او متصرف، كارساز گڼلو او هغه سره ئے هيڅوك شريك نه گرځولو دوئم دليل نقلي د امم سابقه علماؤ سره بيان شوے دے وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ نه تر فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ (ع ۱۴) يعني د اهل كتاب (يهود او نصارىٰ) علماؤ ته هم ښه معلومه ده چه دا د توحيد مسئله تاسو باندے د الله جل له طرفه نازل كړے شوے ده او هغه حق ده.

دلائل وحي: د شرك في التصرف نفي باندے درے ۳ دلائل وحي ذكر شوي دي اول دليل وحي د وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ (ع ۲) يعني د ټولو نه لوئے شهادت خو د الله تعالىٰ دے او هغه په قرآن كريم كښے ما باندے

داوحی کړې ده چه د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک متصرف، مختار، نافع ضار نشته. دوئم دلیل وحی وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِیْ بَیْنَ یَدَیْهِ الخ(ع ۱۱) یعنی د تیر شوو ټولو انبیاء علیهم السلام تعلیم داوو چه د الله ج نه سوا څوک په غیب عالم او کارساز نشته او د ټولو په آخر کښې مونږ خپل آخری رسول ته باندې دا کتاب (قرآن کریم) نازل کړو چه د تیر شوو ټولو انبیاء علیهم السلام تصدیق کوی دریم دلیل وحی اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنْ رَّبِّكَ الخ(ع ۱۳) ما ته حکم راکړې شوې دې چه زۀ د الله تعالیٰ د وحی اتباع اوکړم چه د الله ج نه سوا څوک متصرف او مختار او کارساز نشته.

د مشرکانو د شبهات رد

اوله حصه کښې د مشرکانو د اوۀ شبهات یا سوالونو جواب ورکړې شوې دې د هغې نه څنې دلته ذکر شوی دی او څنې دلته نۀ دی ذکر شوی بلکه قرآن مجید کښې بل کوم ځائے کښې ذکر شوی دی اول سوال داووچه د خدائے ج له طرفه د دوئ په نوم لیکلے شوې کتاب راشی چه دوئ هغه پخپله اولولی دا سوره بنی اسرائیل ع ۱۰ کښې وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِیِّكَ حَتّٰی تُنَزِّلَ عَلَیْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ سره ذکر شوې دې دلته وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَیْكَ كِتٰبًا فِیْ قِرْطَاسٍ(ع ۱) سره دهغې جواب ورکړې شو چه کچرې مونږ لیکلے شوې کتاب نازل کړې وې نو په هغې کښې به هم دا مسئله د توحید ذکر وې او هغوئ به دا هم دروغ گڼړلے وې.
دوئم سوال داووچه دې پیغمبر سره فرشته وې او نۀ لیږل شوه چه د ده د صداقت اعلان ئے کولے دلته دا سوال وَقَالُوْا لَوْ لَآ اُنْزِلَ عَلَیْهِ مَلَكٌ(ع ۱) کښې مذکور دې او په سورۀ فرقان کښې دې باندې دا اضافه ده فَیَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِیْرًا ط(ع ۱) او وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِیَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا یُنْظَرُوْنَ(ع ۱) سره دې جواب ورکړې شو چه کچرې پیغمبر علیه السلام سره فرشته نازل کړې شوې وې نو د انکار کولو په صورت کښې به هغوئ سمد ستی هلاکولے شوې او یوه لمحه ضیر به هم ورته نۀ وې شوې. دریم سوال داوو چه کچرې الله تعالیٰ ته پیغمبر رالیږل منظور وو نو یوه فرشته ئے پیغمبر وې را او نۀ لیږله دا سوال هم دلته نۀ دې ذکر شوې دسورۀ بنی اسرائیل آیت قُلْ لَّوْ كَانَ فِی الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ یَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّیْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَیْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا(ع ۱) نه مفهوم کیږی د دې جواب وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّ لَلَبَسْنَا عَلَیْهِمْ مَّا یَلْبِسُوْنَ(ع ۱) سره ورکړې شو چه کچرې فرشته مونږ رسول کړځولے وې نو ضرور به په انسانی شکل کښې رالیږلے او د دوی اعتراض به هم هغه شان موجود وې. څلورم سوال داووچه د هغوئ د خوښې معجزه هغوئ ته ولې ورنۀ کړې شوه نو د دې جواب ورکړې شو چه الله تعالیٰ په معجزه نازلولو باندې قادر

دے لیکن اکثر خلق بیا هم ایمان نهٔ راوړی حال دا دے چه اصل مقصد خو دا دے چه خلق ایمان راوړی دا سوال او جواب وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ نه تر وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ (ع ۳) کښے مذکور دے. پنځم سوال دا وو چه الله تعالیٰ یو مالدار انسان ولے پیغمبر راونهٔ لیږهٔ دا سوال سورهٔ زخرف (ع ۱۳) کښے قَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ سره ذکر شوے دے. شپږم سوال دا وو کچرے دا پیغمبر وے نو مونږ ته به ئے د غیب خبرے بیانولے او د شام ملك پهٔ منډ هیانو کښے د خیزونو نرخونه به ئے مونږ ته ښودلے دا سوال پهٔ حدیث کښے ذکر شوے دے. اووم سوال دا وو چه دا خو بنهٔ پیغمبر دے څنګه پهٔ شان بازار نه سودا سامان اخلی او خوراك څښاك هم کوی کچرے پیغمبر وے نو دا سے به ئے نه کولے دا سوال په سورهٔ فرقان (ع ۱) کښے ذکر شوے دے. قَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَاْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ د دے ټولو سوالونو جواب قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّيْ مَلَكٌ (ع ۵) سره ورکړے شوے دے.

د تبلیغ د طریقے تعلیم

د شرك فی التصرف نفی پهٔ بیان کښے اوه طریقے د تعلیم ذکر شوی دی:

اولنئ طریقه د تعلیم: قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ (ع ۲) تاسو اعلان اوکړئ چه کوم الله د آسمان او زمکے پیدا کونکے دے او چه پخپله بے نیاز او کارساز دے د ټولو آیا هغه پریږدم غیر الله کارساز جوړ کړم دا سے هرګز نشی کیدلے.

دوئمه طریقه د تعلیم: قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ الخ ما ته خو حکم دا راکړے شوے دے چه د ټولو نه اول د الله پهٔ مخکښے منونکے سر کړم او زهٔ منع کړے شوے یم چه زهٔ د الله ج سره خوك شریك جوړ کړم.

دریمه طریقه د تعلیم: قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ تاسو خو نه د الله تعالیٰ نه ویریږئ او نه د هغه د عذاب نه ویره کوئ لیکن زهٔ خو د الله ج نه ویریږم چه کچرے د هغه نافرمانی اوکړم هغهٔ سره خوك شریك اوګرځوم او د هغهٔ نه سوا څوك عالم الغیب او کارساز اوګنړم نو هغه به ما ته عذاب راکړی.

څلورمه طریقه د تبلیغ: قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (ع ۷) تاسو او وایئ زهٔ خو د دے باطل معبودانو د رابللو نه منع کړے شوے یم کوم چه تاسو د الله ج نه سوا رابلئ.

پنځمه طریقه د تبلیغ: قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ زهٔ ستاسو د باطل خواهشاتو تابعداری نشم کولے کچرے

زړهٔ داسے اوګرم نو په ګمراهۍ کښے پریوځم او هدایت نه به لرے شم ځکه چه ستاسو خواهشات دا دی چه زهٔ هم غیرالله عالم الغیب او کارساز اوګڼرم حال دا دے دا صریح ګمراهی ده۔

شپږمه طریقه د تبلیغ :- قُلْ اِنِّیْ عَلٰی بَیِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّیْ وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ ځما سره خود الله ج د توحید واضح دلائل موجود دی د دے په موجودګۍ کښے زهٔ د توحید لاره ځنګه پریږدم تاسو خو د باطنی روندوالی په وجه د دے تکذیب اوکړو۔

اوومه طریقه د تبلیغ :- قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِیْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِیَ الْاَمْرُ بَیْنِیْ وَ بَیْنَكُمْ د کوم څیز یعنی عذاب چه تاسو مطالبه کوئ کچرے هغه څیز ځما په اختیار کښے وے نو بیخوا به ځما او ستاسو مینځ کښے فیصله شوے وه لیکن دا ټول هرڅهٔ د الله په تصرف او اختیار کښے دی ځما په اختیار کښے نهٔ دی او مه طریقه د تبلیغ د شرك فی التصرف په نفی باندے هم دلیل جوړے دے شی چه غائبانه حکم او تصرف صرف د الله په اختیار کښے دے۔

د مشرکانو د انکار وجوه

سورهٔ انعام کښے د مشرکانو د انکار اوه وجوه بیان شوی دی پنځه په اوله حصه کښے او دوه په دویمه حصه کښے هره وجه لفظ كَذٰلِكَ سره بیان شوے ده دے ځایونو کښے کاف تشبیه د پاره نهٔ دے بلکه د کمال بیان د پاره دے

اوله وجه :- وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ الخ (ع ۷) یعنی هغوئ منو کی سپك ګنړل او وئیل به ئے چه د کوم دین منونکی داسے معمولی پوزیشن والے وے بنه ده نو هغه هم ربنتونی کیدے شی ؟

دویمه وجه :- داوه چه د توحید مسئله به څومره وضاحت سره بیانولے شوه او د مشرکینو اعمال چه به څومره واضح کولے شول هغومره به د هغوئ بغض او عناد زیاتیدلو او هغوئ به انکار کولو وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ وَلِتَسْتَبِیْنَ سَبِیْلُ الْمُجْرِمِیْنَ (ع ۷) کښے د دویمے وجه بیان شوے ده۔

دریمه وجه :- وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ وَلِیَقُوْلُوْا دَرَسْتَ (ع ۱۳) یعنی مونږ آیتونه صفا واضح بیانوو لیکن مشرکان پیغمبر علیه السلام باندے الزام لګوی چه هغه د چانه ده کړی دی او را غلے دے۔

څلورمه وجه :- وَكَذٰلِكَ زَیَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمْ (ع ۷) مشرکانو ته د مشرکانو اعمال ښائسته او ښکلی معلومیږی د دے وجه نه هغوئ د توحید مسئله نه منی مخکښے تللو سره ئے وَكَذٰلِكَ زُیِّنَ لِلْكٰفِرِیْنَ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ سره د دے وجه اعاده کړے ده۔

پنځمه وجه :- وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ الخ (ع ۱۴) دا دماقبل نه علی سبیل الترقی دے یعنی شیطانان د انسانانو او شیطانان د پیریانو دشمنان دی او هغوئ د خلقو په زړونو کښے شبهات اچوی او هغوئ د ډیلو سره د پیغمبر نه بدګمان کرځوی چه دا خود نبیانو او ولیانو بے ادب او ګستاخ دے۔

شپږمه وجه :- وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا الخ (ع ۵) د هر کلی لوئے (مشران) خلق عمومًا مجرمان وی او هغوئ خلق مکر فریب (دهوکه لولو) سره ګمراه کوی۔

اومه وجه :- كَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًاۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ (ع ۱۵) د شرک د وجه نه ټول مشرکان یو د بل دوستان جوړیږی او په اتفاق سره د توحید د مسئلے انکار کوی کچرے غور او کړے شی نو معلوم به شی چه نن صبا د مشرکانو د رد او انکار وجوه بعینه هم دا دی۔

دویمه حصه

دویمه حصه کښے د شرک فعلی صرف د دریے شقونو ذکر دے (۱) تحریمات غیر الله (۲) تحریمات الله (۳) نذور غیر الله۔ څلورم شق یعنی د الله د نذر او نیاز ذکر دے سورت کښے نه دے شوے ځکه چه د غیر الله د نذر او نیاز د نفی نه دا خبره واضح کیږی چه نذرونه او منتے صرف د الله ج په نوم ورکولے شی۔

تحریمات غیر الله :- سورهٔ مائده کښے تحریمات غیر الله د رے عنوانانو سره ذکر شوی دی لکه چه اوس اوس د ربط بیان کښے ذکر شوے دے سورهٔ انعام کښے دا مسئله څلور عنوانات مختلفه سره ذکر کړے شوے ده چه د تحریمات غیر الله په ټولو صورتونو باندے احاطه کونکے ده (۱) فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ نه تر اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ (ع ۱۴) یعنی کوم چارپایان چه تاسو د غیر الله په نوم کرځولی دی مثلًا سائبه، بحیره وغیره چه کله په هغے باندے د الله نوم واخلئ او ذبح کړے شی نو هغه خورئ کوم چارپایان چه د الله په نوم ذبح کړے شی هغه تاسو ولے نه خورئ هغه خورئ او تحریمات ختم کړئ (۲) وَقَالُوْا هٰذِهٖ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ نه تر اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ (ع ۱۶) پورے د دے عنوان د لاندے د مشرکینو د تحریمات څلور صورتونه بیان شوی دی اول هغوئ به څنے چارپایان او غلے د خپلو باطلو معبودانو د پاره کرځولے او وئیل به ئے چه دا به هیڅوک نه خوری د دویم په څینو چارپایانو به سرئے باره وړل او سورلئ حرام کرځول دریم چارپایان به ئے د غیر الله په خاطر حرام کرځول د حلالولو په وخت به ئے په هغے د الله ج نوم نه اخستلو څلورم

د څنې بنځه چارپایانو متعلق به هغوئ فیصله کوله چه د دوئ په خیټو کښې کوم بچي د
که ژوندی پیدا شو نو هغه د سړو د پاره حلال دے او د دوئ په ښځو باندے حرام
دے او کچرے هغه به مړ پیدا شو نو د دواړو جنسو د پاره به حلال وو۔ وے فرمائیل
داټول صورتونه باطل او د ځان نه جوړ دی دے باندے به هغوئ ته سخته سزا
ملاویږی تاسو دا تحریمات ختم کړئ او دا څیزونه خورئ (۳) دے نه روستو
دحَرَّمُوۡا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ سره د تحریمات غیر الله اعاده کړے شوے ده۔
(۴) وَمِنَ الۡاَنۡعَامِ حَمُوۡلَةً وَّفَرۡشًا نه تر اَمۡ كُنۡتُمۡ شُهَدَآءَ اِذۡ وَصّٰكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا۔
(ع ۱۷) دلته الله تعالیٰ د چارپایانو اتهٔ قسمونه بیان کړی دی ضَاۡنٌ نر ښځه (ګډ
کړه) دلته ئے هم کړ او کړه یعنی لکۍ والا کړ او کړه هم دے کښې داخل دی
مَعۡزٌ نر او ښځه (چیلۍ او چیلے) اِبِلٌ نر او ښځه (اوښ۔ اوښه) بقر نر او
ښځه (غوا او غویا) میښه، سنډا هم بقر کښې داخل دی او بیا ئے د مشرکانو
د دے څیزونو په حرام والی باندے د عقلی او نقلی دلیلونو مطالبه اوکړه او فرمائیل
شو الله د دے چارپایانو نر حرام کړی دے یا د دے ښځے یا هغه بچی چه د
ښځو په رحم کښې دی آیا تاسو سره څهٔ عقلی دلیل شته دے؟ کچرے نهٔ وی
نو نَبِّئُوۡنِیۡ بِعِلۡمٍ نو کوم نقلی دلیل پیش کړئ دا مشرکانو ته یو قسم چلینج (او اَصح
اعلان) دے لیکن مشرکینو سره چونکه هیڅ دلیل نهٔ وو نه عقلی نه نقلی د
دے وجه عاجز شول وے وئیل وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَاۤ اَشۡرَكۡنَا وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا وَلَا
حَرَّمۡنَا مِنۡ شَیۡءٍ (ع ۱۸) یعنی الله ته دا منظور وو چه مونږ شرک اوکړو او د
ځان نه څیزونه حرام کړو۔

تحریمات الله:۔ سورۀ مائده کښې د تحریمات الله صرف یو صورت
بیان شوے دے یعنی غَیۡرَ مُحِلِّی الصَّیۡدِ وَاَنۡتُمۡ حُرُمٌ لیکن سورۀ انعام کښې
د تحریمات الله باقی پاتے ډیر صورتونه ذکر شوی دی سورۀ انعام کښې د تحریمات
الله یو ځل ذکر کړے شوے دے قُلۡ تَعَالَوۡا اَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ نه تر ذٰلِكُمۡ وَصّٰكُمۡ
بِهٖ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ (ع ۱۹) دے آیتونو کښې حسب ذیل تحریمات الٰهیه ذکر شوی
دی شرک هر قسم عقوق والدین او د دوئ حق تلفی ټول فواحش او منکرات
قتل ناحق، د یتیم مال ناحق خوړل ناپ تول کښې کمے زیاتے وغیره۔

د غیر الله نذرونیاز:۔ سورۀ مائده کښې نذر د غیر الله مَاۤ اُهِلَّ
لِغَیۡرِ اللّٰهِ او وَمَا ذُبِحَ عَلَی النُّصُبِ سره ذکر کړے شوے دے لیکن سورۀ انعام کښې
دا مسئله پنځه مختلف عنوانات سره شلور ځله ذکر کړے شوے ده چه په هغے کښې د
نذر لغیر الله ټول صورتونه راغلی دی (۱) قَدۡ فَصَّلَ لَكُمۡ مَّا حَرَّمَ عَلَیۡكُمۡ (ع ۱۴)
یعنی کوم څیزونه چه په تا حرام دی د هغے تفصیل الله ج تاسو ته بیان کړی دلته د نذر
غیر الله اجمالی ذکر دے تفصیل ئے وړاندے راځی (۲) وَجَعَلُوۡا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ

الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا نه تر فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ (ع ١٦) دلته انعام (چارپایو)
سره حرث (غله، میوه وغیره) هم صراحت سره ذکر کړے شوی دی څنګه چه
چارپایانو نه د غیر الله نذر حرام دے دا شان د غلو میوو نه هم حرام دے.
عَلٰى هٰذَا وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيْرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ نه تر فَذَرْهُمْ
وَمَا يَفْتَرُوْنَ (ع ١٦) کښې د غیر الله یو صورت ذکر کړو. څنګه مشرکانو به د باطل
معبودانو په خاطر خپل بچی هغوی د پاره نذر کول دے آیت کښې د دے مشرکانو
فعل مذمت اوفرمائیلو (٣) قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ قَتَلُوْا اَوْلَادَهُمْ الخ سره نذر
غیر الله دریم حل ذکر کړے شو (٤) وَهُوَ الَّذِیْ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ
نه تر اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ (ع ١٧) دلته ئے د مختلف قسم پیداوار د میوو
اقسام او انواع ئے ذکر کړل وئے فرمائیل چه د دے نه خالص حق د الله ج
ورکړئ او دینه د غیر الله په نوم نذر مه اوباسئ (٥) قُلْ لَّآ اَجِدُ فِیْ مَآ اُوْحِیَ
اِلَیَّ مُحَرَّمًا نه تر فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (ع ١٨) پورے دلته نذر غیر الله نه
فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ سره تعبیر اوکړے شو.

د سورت د دواړو حصو په اختتام باندے ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا الخ
(ع ١٩) سره د دواړو مضامینو (نفی د شرك فی التصرف او نفی د شرك فعلی)
باندے دلیل نقلی او هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ الخ (ع ٢٠) سره دواړو مضامینو
باندے دلیل وحی پیش کړے شوے دے یعنی اول تورات کښې نفی د شرك فی
التصرف او نفی د شرك فعلی تفصیل سره بیان کړے شوے بیا قرآن هم د تورات
مطابق اعلان کړے دے چه د الله نه سوا بل څوك په غیب عالم او کارساز
نشته. دا شان هغه د مشرکینو تحریمات حلال او د غیر الله نذرونیاز حرام
کرځولی دی بیا د سورت په آخر کښې ئے نبی علیه السلام سره درے اعلانونه
کړی دی: (١) قُلْ اِنَّنِیْ هَدٰىنِیْ رَبِّیْ نه تر وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ پورے
یعنی الله ج عقلی او نقلی دلائلو سره صراط مستقیم طرف ته ځما رهنمائی کړے
ده کوم چه د حضرت ابراهیم علیه السلام دین دے چه د شرك نه سخت
بیزار وو (٢) قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُكِیْ نه تر وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ پورے
یعنی زۀ د الله ج نه سوا هیڅوك غیب دان او کارساز نۀ ګڼړم او ځما ټول عبادتونه
مرګ ژوند ټول د الله ج د پاره دی څوك چه د هر قسم نه پاك دے (٣) قُلْ
اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِیْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَیْءٍ یعنی کوم الله ج چه د کائناتو د ذرے
ذرے مالك او رازق دے آیا هغه پریږدم زۀ بل کوم رب او کارساز جوړ
کړم؟ دا هرګز نشی کیدے دا خو د عقل او نقل صریح خلاف دے د سورت
په آخر کښې اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ سره ئے د مسئله توحید نه د انکار
کونکو د پاره تخویف اُخروی او اِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ سره ئے د توحید

د پارہ بشارت اُخروی طرف تہ اشارہ کړے شوے دہ -

اوله حصّه

نفی شرك فی التصرف یا نفی شرك اعتقادی

سورۂ انعام نہ د قرآن مجید دوئمہ حصّہ شروع کیږی چہ د سورۂ بنی اسرائیل آخر پورے دہ د دے حصّے مرکزی مضمون ربوبیت دے یعنی دے حصہ کښے دیر زیات بیان دا شوے دے چہ د هرڅیز پیدا کولو نہ روستو حد کمال تہ رسولے او د هرڅیز ساتونکے اللہ تعالٰی دے د هغۂ نہ سوا بل څوك نشتہ۔



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د اللہ پہ نوم چہ بے حدہ مهربان دے نهایت رحم والا دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَ

ټول تعریفونه ~~ اللہ د پارہ دی چا چہ پیدا کړو آسمان او زمکہ او

جَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ۭ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ

جوړے کړہ تیارہ ~~ او رنړا بیا هم دا کافران خپل رب سرہ نور مخلوق

يَعْدِلُوْنَ ① هُوَ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰٓى

برابروی ف ~~ دغہ اللہ دے چا چہ پیدا کړہ تاسو لرہ خټے نہ ~~ بیائے مقرر

اَجَلًا ۭ وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ② وَ

کړو یو وخت او یو وخت مقرر دے اللہ ج سرہ ~~ بیا هم تاسو شك کوئی ف ~~ او

هُوَ اللّٰهُ فِى السَّمٰوٰتِ وَفِى الْاَرْضِ ۭ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَ

دغہ اللہ دے پہ آسمانونو کښے ~~ او زمکہ کښے ~~ پیژنی ستاسو پټ او

جَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ③ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ

ښکارہ او پیژنی کوم چہ تاسو کوئی او نہ راځی دوئی تہ څۂ نشانی د دوئی

مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ④

له رب له طرفه نه لیکن کوی د هغې بې پرواهي

فَقَدْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ط فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ

نو بیشکه دروغ او گڼلو هغوئ حق چه کله هغوئ ته راغے نو اوس دوئ ته راځي

نکات: ﴿۱﴾ د سورت د دواړو مضامینو خلاصه نفی د شرك فی التصرف بالذات او نفی د شرك فعلی ذکر ضمناً ﴿۲﴾ دے ځائے نه د قرآن مجید دوئمه حصه شروع کیږی چه د سورت بنی اسرائیل په آخر باندے به ختم شی د دے وجه نه دا سورت د الحمد نه شروع شوے دے ﴿۳﴾ دلیل توحید علی تر و یعلم ما تکسبون ﴿۴﴾ موصول او صله علت دے ﴿۵﴾ دلته نور مفرد دے لکه چه محاوره ده منځے او سړی یا وجه دا ده چه د نجات لاره یوه ده او د کفر لارے ډیرے دی ﴿۶﴾ ثُمَّ استبعادیه دے ﴿۷﴾ دلته هم حصر دے په قرینه د ماقبل ﴿۸﴾ ثُمَّ استبعادیه دے ﴿۹﴾ دلته هم حصر دے په قرینه د ماقبل ﴿۱۰﴾ زجر دے ﴿۱۱﴾ اٰیة التوحید ﴿۱۲﴾ نو د تکذیب د وجه د عذاب مستحق شول ﴿۱۳﴾ زجر سره د تخویف اُخروی نه.

موضح القرآن: ﴿ف۱﴾ تیاره رڼړا هم دا شپه او ورځ او مجازاً غلط لاره ته تیاره وائی او صحیح لارے ته رڼړا صحیح لاره یوه ده د دے نه علاوه ټولے لارے غلطے دی هغه ډیرے دی۔ ﴿ف۲﴾ وعده یعنی د فنا وخت نو د هر سړی د پاره یوه نیټه مقرر ده چه هغه ته نه ده معلومه فرښتے ته معلومه ده او یوه نیټه د ټول مخلوق د پاره ده هغه هم په دے نیټه (قیامت صغرٰی) قیاس کړے شی او شك دے اونه کړے شی.

فتح الرحمٰن: ﴿ف۱﴾ یعنی باطل معبودان ﴿ف۲﴾ یعنی د قیامت د راتللو (قائمیدلو) د پاره ده ﴿ف۳﴾ یعنی متصرف فرمانروا.

حاشیه: ﴿۲﴾ د خلاصه په بیان کښے ذکر شوی ده چه د سورة انعام دوه حصے دی اوله حصه د سورت د شروع نه واخله تر رکوع ۱۴ پورے ده دے حصه کښے د شرك فی التصرف نفی ذکر کړے شوے دے او د توحید په مسئله باندے عقلی ونقلی او وحی یو ولس دلیلونه بیان کړے شوی دی نه دلائل عقلیه دوه نقلیه دلیلونه او دریم دلائل وحی. حمد نه صفات الوهیت مراد دی لکه چه د سورت فاتحه په تفسیر کښے تیر شوی دی ملاحظه ئے کړئ ص۱۵ حاشیه ۲ الحمد لله یوه

دعوی ده یعنی تاسو چه دخپلو معبودانو د پاره کوم هغه صفات د کارسازئ ثابتوئ
نو هغه ټول الله ج پورے خاص دی او ستاسو معبودانو کښے هغه نشی موندے. الذی
اسم موصول تعلیل د پاره دے او ده دُ صله مذکوره دعوی باندے اولنے دلیل عقلی
دے یعنی د زمکے او اسمان پیدا کونکے. دتیاره او رنړا جوړونکے او د ټولو شانونو پیدا کونکے
او د دوئ د ټولو د حالاتو نه خبر الله تعالیٰ دے فقط لهٰذا کارساز او متصرف هم
صرف هغه دے د دے وجه نه هغه ته آواز کوئ چونکه مشرکانو دا خبره منله چه د
زمکے او آسمان او د ټولو کائناتو خالق صرف الله تعالیٰ دے لکه چه ارشاد دے
لَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ الخ (لقمان ع ۳) د دے وجه
نه ئے دا مسئله حقیقت د حجت په طور پیش کړو.

ف ۳ ظُلُمٰتِ نه گمراهی او نُوْرَ نه هدایت مراد دے چونکه د گمراهئ لارے
ډیرے دی او د نجات او هدایت لاره صرف یوه ده یعنی اسلام د دے وجه نه ئے
ظلمت جمع او نور واحد استعمال کړے شو. لان المراد بالظلمة الضلال. هو متعدد
و بالنور الهدی وهو واحد (روح ج ۷ ص ۸۳) ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ کښے ثُمَّ د استبعاد
د پاره دے یعنی چه کله تاسو ته معلومه شوه چه د هر شی خالق او مالک صرف
الله تعالیٰ دے نو دا خبره د عقل نه ډیره لرے ده چه د مخلوق نه څوک د الله ج
سره برابر کړئ او هغه د الله تعالیٰ پشان متصرف او کنړئ وثم للاستبعاد (جامع
البیان ص ۱۱۳) وثم الاستبعاد ماوقع من الذین کفروا (روح ج ۷ ص ۸۵).

ف ۴ دے کښے حصر دے یعنی صرف الله ج تاسو پیدا کړئ دا شان د دے آیت
باقی حصو کښے هم حصر دے وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ یعنی د مقرره نیټے علم صرف
هغهٔ ته دے او د هغے علم بس هغهٔ سره دے ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ۞ ثُمَّ دلته هم
استبعاد د پاره دے تمترون د مِرْيَةٌ نه دے یا مِرَآءٌ نه اول صورت کښے به د ده
معنیٰ وی بیا تاسو شک کوئ او په دوئم صورت بیا تاسو جګړه کوئ تَشُكُّوْنَ مِنَ
الْمِرْيَةِ او تُجَادِلُوْنَ مِنَ الْمِرَآءِ ومعنی ثم استبعاد (مدارک ج ۲ ص ۳)

ف ۵ لفظ الله نه وصف مشهور مراد دے یعنی فاعل او متصرف حرف جار
به د لفظ الله سره متعلق وی او ظرفیت معنیٰ به صحیح وی. د دے آیت په شروع
کښے حصر دے د دے وجه نه به د ده په باقی حصو کښے هم حصر وی یعنی په زمکه
او اسمانونو کښے صرف هغه متصرف دے او بس هغه ستاسو د ظاهر او باطن نه
خبر دے او هغهٔ ته معلوم دی کوم څهٔ چه تاسو کوئ دا صفتونه په بل کوم چا کښے د
الله ج نه سوا نشته لهٰذا هغه سوا بل څوک متصرف او کارساز هم نشته.

ف ۶ وَمَا تَاْتِيْهِمْ نه يَسْتَهْزِءُوْنَ پورے منکرینو باندے زجر دے او شکوه ده
آیات نه مراد د توحید دلائل دی کوم چه قرآن کښے ذکر شوی دی په قرینه د
مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ نه تر فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ (انبیاء ع ۱ ر ۲) فقط

كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ د حق درے معانی دی اول اظهار حق. دوئم رښتیا خبره دریم
ظاهر او واضح خبره دلته دریمه معنیٰ مراد ده چه کله هغوئ د داسے حقیقت نه
انکار اوکړو چه بالکل واضح او ظاهر دے نو هغوئ د عذاب مستحق دی لکه چه
فسوف یاتیهم کښې فاء فصیحه دے
باندے دلالت کوی

اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ

د دوئ په مخکښې حقیقت د هغه خبرے په کوم پورے چه دوئ خندل وُ داسکه آیا دوئ کوری

اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ

نه چه څو مره موږ هلاک کړل د دوئ نه مخکښې شه امتونه کوم ته چه موږ ښهٔ طاقت ورکړے

مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ وَاَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ مِّدْرَارًا ص

وو په زمکه کښې دو مره چه هغو مره موږ تاسو ته طاقت نه دے ورکړے او پریخوده موږ په هغوئ باندے آسمان

وَّجَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ

(باران) پرله پسے بهید ونکے او گرځولے دو مره نهرونه بهید ونکی د دوئ د لاندے دے بیا هلاک کړل

بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝ وَ

موږ دوئ د دوئ د گناهونو په وجه او پیدا کړل موږ د دوئ نه روستو نور امتونه او

لَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ

که چرے موږ نازل کړو په تا باندے لیکلے شوے کاغذ کښې شه بیا ئے هغوئ په خپلو لاسونو کښې

لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَ

او نیسی هغه لره نو خامخا او به وائی کافران دا نه دے مگر صریح جادو دے او

قَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ط وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ

وائی ولے نازل نشو ده دهٔ باندے یو فرشته دے او که چرے موږ نازل کړو فرشته نو

الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ۝ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ

فیصله به اوشی شله دقیقے بیا به دوئ ته مهلت ملاؤ نشی دے او که چرے موږ یو فرشته پیغمبر

رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ ﴿۹﴾

او که خو مونږ هغه به هم دیو انسان په صورت بانده و ۹ ولږ او دوی به مونږ په هغه شبه کښې اچولي وه په کوم کښې چه دوی پرېوتي دي

نکات: ۱ تخویف اُخروی ۲ د دعوٰی توحید نه منلو به وجه سره ۳ د اول شبه جواب بنی اسرائیل کښې ذکر دی ۴ دوېمه شبه ۵ لیکون معه نذیرًا ۶ د دوېمې شبه جواب۔ شبه په سورۂ فرقان کښې وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَاْكُلُ الطَّعَامَ سره ذکر شوې دی۔

موضح القرآن: ف۱ یعنی د چا په قسمت کښې چه هدایت نه وی د هغه نه هیڅ کله هم نه ختمیږی ف۲ وئیل به ئې چه مونږ فرښته او وینو چه نازلیږی نو چه کله انسان فرښته او وینی نو عالم غیب خو ظاهر شو بیا به د عمل خرابید لو سره د غیب نه ظاهر ته راتلل شروع شول۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی سره د هغې خبرو د صداقت نه ف۲ لاندې ذکر شوي د دوی نه ف۳ مترجم وائی یعنی تعصب د دوی دومره زیات دے کچرې د کتاب نازیدل په ښکاره سترګو اووینی هم هغه شان به انکار کوی والله اعلم ف۴ یعنی د هغې د وجه نه چه ظاهر حس سره هغه اووینی ف۵ یعنی د ملائک ظهور په دے وجه د دوی هلاکیدو دپاره مستلزم دے د خدائے ج په حکمت کښې ف۶ یعنی د انسان په شکل کښې۔

حاشیه: ۷ د اَنْبٰٓؤُا نه د دنیا او اخرت عذاب مراد دے المراد ما يعلم ذلك (العقوبات) العاجلة والعقوبات التي تحل بهم في الاخرة من عذاب النار ونحوه (روح ج ۷ ص ۹۳)۔

۸ دا تخویف دنیوی مَكَّنّٰهُمْ د تمکین معنٰی قدرت او همت ورکول دی مِنْ تَحْتِهِمْ کښې مضاف محذوف دے ای تحت اشجارهم او تحت قصورهم یا دا قبضه او تصرف نه کنایه ده یعنی هغه نهرونه د دوی په قبضه او تصرف کښې وو. بِذُنُوْبِهِمْ باء سببیه ده یعنی د دوی د ګناهونو او د توحید نه منلو په وجه مونږ هغوی حلاک کړل۔

۹ دا د مشرکانو د اوو شبهاتو نه د اولنۍ شبهې جواب دے مشرکانو به وئیل چه ترڅو پورې تا سو اسمان ته تللې نه ئې مونږ ته د هغه ځائے لیکلې نوې کتاب رانه وړې تر هغه وخت پورې مونږ ایمان نه راوړو لکه چه په سورۂ بنی اسرائیل ع ۱۰ کښې دی وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ نو د دے جواب ئې ورکړو چه کچرې مونږ په کاغذ لیکلې شوې کتاب د دوی بانده نازل کړو چه دوی ئې په خپلو لاسونو کښې هم واخلی لیکن بیا به هم دا مشرکان او کافران هغه خپله وائی کوم چه اوس وائی بس دا هم هغه ښکاره جادو دے۔

۱۰ دا دوېمه شبه ده۔ مشرکانو به وئیل چه پیغمبرانو سره یوه فرښته راتلل هم

پکار وه چه دهغه له طرفه ته ئے خلقو ته دعوت ورکولے او دهغه د دعوي تصديق ئے کولے لکه چه په الفرقان رکوع ۱ کښے لَوْلَآ اُنْزِلَ اِلَیْهِ مَلَكٌ فَیَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِیْرًا نو دهغے جواب ئے ورکړ وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِیَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا یُنْظَرُوْنَ یعنی کچرے پیغمبر علیه السلام سره فرښته هم راغلے او مشرکانو دهغے مشاهده کولے او هغے نه روستو هغوئ د پیغمبر نه انکار کولے نو هغوئ به سمدستی هلاکولے شوے او دغه سوچ کولو به هغوئ ته هرګز مهلت نشوے ورکیدے.

ف ۱۱ دا دویم شبه جواب دے مشرکانو به وئیل چه کچرے الله ته پیغمبر رالیږل منظور وے نو بیا فرښته به ئے پیغمبر رالیږلے وے انسان ئے پیغمبر وے رالیږلو نو دے جواب ئے ورکړو چه کچرے فرښته ئے پیغمبر رالیږلے وے نو ضرور به ئے بشری او انسانی شکل کښے رالیږلے نو دے صورت کښے به هم دهغه باره کښے د دوئ په زړونو کښے هغه شبهات پیدا کیدلے کوم چه اوس دی چه دا خو بشر دے فرښته نه دے.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِیْنَ

او بیشکه مسخرے کولے رسولانو پورے ستا نه مخکښے ـ نو بیا راګیر کړل مسخرے

سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۰﴾ ع قُلْ سِیْرُوْا

کونکو ته هغه څیز په کوم څیز پورے چه هغوئ مسخرے کولے ف ۱۱ ته او وایه چه ګرځئ په

فِی الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِیْنَ ﴿۱۱﴾

ملک کښے ف بیا اوګورئ څنګه انجام شو د دروغ ګنړونکو

قُلْ لِّمَنْ مَّا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلْ لِّلّٰهِ ؕ

تپوس اوکړه چه د چا د پاره دی کوم څیزونه چه دی په آسمانونو کښے ف دی او په زمکه کښے دی

كَتَبَ عَلٰی نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ؕ لَیَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰی یَوْمِ

او وایه د الله د دی هغه لیکلے دے په ذمه باندے مهربانی خامخا به تاسو یو ځائے جمع کړی د قیامت

الْقِیٰمَةِ لَا رَیْبَ فِیْهِ ؕ اَلَّذِیْنَ خَسِرُوْآ اَنْفُسَهُمْ

په ورځ چه په هغے کښے هیڅ شک نشته کوم خلق چه نقصان کښے ئے واچول خپل ځانونه

فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۱۲﴾ وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَ

هغوئ ایمان نه راوړی او خاص الله ج لپاره دی کوم څه آرام کوی شپه کښې او په

النَّهَارِ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ

ورځ کښې ۵ هم دغه دے تول هرڅه اوریدونکے او خبردار او وایه ۶ آیا بل څوک

اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ

کړم خپل مددګار د الله نه سوا څوک جوړونکے دے د آسمانونو او زمکے او هغه تولو ته

يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ۗ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ

رزق ورکوی او هغه ته څوک رزق نه ورکوی ته او وایه ما ته حکم شوے دے چه د ټولو نه مخکښې

مَنْ اَسْلَمَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۴﴾

حکم او منم او ته هرګز مه کیږه شرک کونکے

نکات: سلہ تسلی سره د تخویف دنیاوی نه ۲ تخویف دنیاوی نه ۳
دلیل د توحید عقلی ۳ علی سبیل الاعتراف من الخصم ۴ دلته همزه د استفهام
تقریری محذوف ده یعنی الله ج صرف ته دے ۵ تخویف اخروی ۶ الی یوم
معنیٰ د فی دے ۷ دلیل عقلی د توحید ۸ تقدیم ماحقه تاخیر د وجه نه
حصر دے ۹ ای تشر فی النهار د قبیلے د علفتها تبنًا وماءً باردًا بقرینة
وجعل النهار نشورا ۱۰ واو تعلیلیه دے او حصر دے یعنی السمیع لکل شیٔ
العلیم لکل شیٔ ۱۱ طریقه اول د تعلیم ۱۲ کارساز ۱۳ دا د الله ج صفت
دے هر څیز خپلو مبادی وسره پیدا کونکے دے فطرة الله التی فطر الناس
علیها ۱۴ دویمه طریقه د تعلیم ۱۵ تائید ان صلوٰتی ونسکی ومحیای ومماتی لله
الخ ۱۶ وقیل لی بقرینة ما قبل

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی جزاء د هغه کلمے چه دوئ به د مسخرے په طور
دوئ پورے وئیلے۔

حاشیه: ۱۲ د نبی علیه السلام ته تسلیٔ ته ابوجهل، امیه بن خلف، ولید بن
مغیره او نورو مشرکانو به نبی علیه السلام پورے توقے کولے دے باندے الله تعالیٰ
نبی علیه السلام ته تسلی ورکړه چه ستاسو نه مخکښے انبیاء علیهم السلام پورے به
هم هغه سرکش او معاند قوم دا قسم توقے او مسخرے کولے آخر هغوئ ته د هغوئ
د شرارتونو سزا ملاؤ شوه تسلیة لرسول الله صلی الله علیه وسلم عما یلقاه من

قومه کالولید ابن مغیرة وامیة بن خلف وابی جهل واضرابهم (روح ج ۷ ص۱۰) حَاقَ په معنیٰ د نزل یعنی نازل شو او مِنْهُمْ کښے مِنْ په معنیٰ د باء دے او هم ضمیر ته رسول او مؤمنان مراد دی

۱۴ دا تخویف اُخروی دے یعنی تاسو دے منکرینو او مسخرے کوونکو ته او وایئ چه په زمکه کښے او ګرځئ د هغه خلقو انجام او ګورئ چا چه د مبلغینو او توحید کوونکو انبیاء علیهم السلام تکذیب کړے دے۔

۱۳ دا د توحید په مسئله باندے دوئم دلیل عقلی دے لیکن علی سبیل الاعتراف من الخصم یعنی دلیل کښے یو داسے حقیقت ذکر شوے دے کوم چه مشرکانو هم منلو څه چه په زمکه او آسمانونو کښے دی د ټولو مالک صرف الله ج دے قُلْ لِّلّٰهِ د لته همزه د استفهام تقریری مقدّر ده اصل کښے وو قُلْ أَلِلّٰهِ مطلب دا دے چه دا ټول هر څه خاص د الله ج دی کَتَبَ عَلٰی نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ یعنی الله خپل مخلوق باندے رحم کول په خپله ذمه اخستے لَیَجْمَعَنَّکُمْ الخ الیٰ په معنیٰ د فی دے او دا د منکرینو دپاره تخویف اُخروی دے۔

۱۵ دا دریم عقلی دلیل دے دا آیت د قبیل علفتها تبنًا وماءً باردًا نه دے ځکه چه سکون خو صرف د شپے وی په ورځ کښے خلق کاروبار کښے مصروف وی د دے وجه نه والنهار نه مخکښے د دغه مناسب فعل محذوف دے په اصل کښے وو وَ لَهٗ مَا سَکَنَ فِی الَّیْلِ وَمَا نَشَرَ فِی النَّهَارِ لکه چه په الفرقان ع ۵ کښے دی وجعل النَّهَارَ نُشُوْرًا تقدیم د حصر د ظرف افاده کوی یعنی په شپه او ورځ کښے چه هر ساکن او متحرک دے هغه ټول خاص الله ج لره دی بل د هیڅ دپاره نه دی وَ هُوَ السَّمِیْعُ اَیْ لِکُلِّ شَیْءٍ الْعَلِیْمُ اَیْ بِکُلِّ شَیْءٍ یعنی د هر څیز اوریدونکے او په هر څیز خبردار صرف الله ج دے بل هیڅوک نه دے لهٰذا د هغه نه سوا متصرّف او کارساز هم څوک نشته د لته د خبر تعریف مفید د حصر دے۔

۱۶ دا د تعلیم اولنۍ طریقه ده وَلِیًّا کارساز فاطر السَّمٰوٰتِ دا د الله ج صفت دے یعنی هر څیز لره ابتداءً پیدا کوونکے نبی علیه السلام ته حکم ورکړے شوے دے چه تاسو دے مشرکانو ته او وایئ څوک چه تاسو ته د خپلو عاجزو معبودانو د عبادت دعوت درکوی آیا زه دا پریږدم بل کوم کارساز او منم چه د هر څیز پیدا کوونکے او ټولو ته رزق ورکوونکے دے او په خپله د ټولو نه بے پروا دے۔

۱۷ دا د تعلیم دویمه طریقه ده لَا تَکُوْنَنَّ نه مخکښے قِیْلَ لِیْ محذوف دے یعنی ماته خو دا حکم ملاؤ شوے دے چه زه د الله تعالیٰ په مخکښے د ټولو نه اول سر ښکته کوونکے یم دا شان ماته حکم راکړے شوے دے چه د مشرکانو نظریات او اعمال قبول نه کړم د اوّل مَنْ اَسْلَمَ مفهوم تفصیل سره د انعام په آخری رکوع کښے قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَ نُسُکِیْ وَ مَحْیَایَ وَ مَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ الخ کښے

بیان شوے دے.

قُلْ اِنِّیْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَیْتُ رَبِّیْ عَذَابَ یَوْمٍ

تهٔ اووایه زهٔ ویریږم ۱۸ کچرے نافرمانی اوکړم دخپل رب نه دیو لوئے ورځ

عَظِیْمٍ ﴿۱۵﴾ مَنْ یُّصْرَفْ عَنْهُ یَوْمَئِذٍ فَقَدْ

دعذاب نه دچانه چه بچ کړے شو هغه عذاب د دغے ورځے نو په هغه باندے

رَحِمَهٗ ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِیْنُ ﴿۱۶﴾ وَاِنْ

رحم اوکړو او هم دادهٔ لویه کامیابی او کچرے

یَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ؕ

رسوی تاته الله جه څهٔ سختی ۱۹ نو د هغے لرے کونکے څوک نشته سوا د دهٔ نه

وَاِنْ یَّمْسَسْكَ بِخَیْرٍ فَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ

او کچرے تاته اورسوی څهٔ نیکی نو هغه په هر څیز

قَدِیْرٌ ﴿۱۷﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ

قادر دے ۱۹ او هغه غالب دے پخپلو بندګانو باندے ۲۰ او هم هغه

الْحَكِیْمُ الْخَبِیْرُ ﴿۱۸﴾ قُلْ اَیُّ شَیْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً ؕ

دے دلوئے حکمت والا د ټولو نه خبردار تهٔ تپوس اوکړه د ټولو نه لوئے ګواه څوک

قُلِ اللّٰهُ ۟ شَهِیْدٌۢ بَیْنِیْ وَبَیْنَكُمْ ۟ وَاُوْحِیَ اِلَیَّ

دے ۲۱ اووایه الله ګواه دے زما او ستاسو مینځ کښے او نازل شوے دے ما باندے

هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَىِٕنَّكُمْ

۲۲ دا قرآن دے دپاره د چه تاسو ډرے نه خبردار کړم او چا ته چه دا اورسیږی آیا تاسو

لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰی ؕ قُلْ

ګواهی ورکوئ ۲۳ چه د الله جه سره معبودان نور هم شته دے تهٔ اووایه

لَّآ اَشۡهَدُ ۚ قُلۡ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِیۡ بَرِیۡٓءٌ

زۀ خو ګواهي نۀ کوم او وایه صرف دا دے یو معبود او زۀ بیزاریم

مِّمَّا تُشۡرِكُوۡنَ ⑲

د شرک نه ستاسو

نکات: سا د ربیه طریقه د تعلیم سټ خلورم دلیل عقلی د توحید تا وَهُوَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ ۝ سټ دا د ذکر شوو څلورو وارو دلائلو سره متعلق دے سٹ تمیز په معنیٰ د قسم دے یعني کوم یو خیزلوئ دے د قسم په اعتبار سره الحاصل ماخوذ دلائلو سره بیان کړے دے چه کار رسالت او په غیبو عالم صرف الله ج دے سٹ د ذکر شوو څلورو وارو دلائلو ثمره یعنی د دلائلو عقلیه ؤ نه روستو آیا ستاسو عقل منی چه د الله ج نه سوا بل څوک معبود شته دے څما عقل خو ئے نۀ مني۔ سٹ په آخر کښې د برات اعلان دے زۀ ستاسو د معبودانو نه بیزاریم۔

موضح القرآن: ف معلومه شوه چه نیکی رسول غواړی ف ۲ دلته ئے ګواهي او ویلو قسم ته یعنی زۀ قسم خورم په الله د دے نه به زیات کوم یو قسم وي۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی د حق اظهار کول

حاشیه: شله دا د ربیه طریقه د تعلیم ده یعني تاسو خلق د الله ج د معرفت او د هغه د پیژندلو نه بے برخے ئے د دے وجه نه ورځ او شپه د هغه په نافرماني کښې تیرئ ئے او هغه سره شرک کوئ او ستاسو په زړونو کښې د هغه د عذاب نه هیڅ ویره نشته لیکن څما سره خو ویره او خطره ده چه کچرے زۀ د خپل پروردګار نافرماني او کړم نو د هغه سخت عذاب کښې به راګیر شم۔

شله دا د توحید په مسئله خلورم عقلی دلیل دے ضُرٌّ نه مراد هر تکلیف دے مثلاً بیماری، فقیری، مصیبت وغیره دا شان د خیر نه هره نیکی مراد ده کوم سره چه انسان ته خوشحالی او آرام حاصلیږی۔ مثلاً صحت، دولت، آرام راحت وغیره په آیت کښې خطاب اګرچه نبی علیه السلام سره دے لیکن مراد هر مخاطب دے یعني کچرے د الله ج له طرفه څه مصیبت یا تکلیف را شي نو د الله ج نه سوا هیڅوک د هغې لرے کونکے نشته نه څوک پیغمبر او نه ولی او نه څوک فرشته یا پیرے کچرے الله تعالیٰ آرام او راحت رسول اوغواړی نو هغه هم څوک نشي بندولے ځکه چه الله تعالیٰ په هر څیز قادر دے تکلیف رسولو باندے هم او خیر رسولو باندے هم فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ د ماقبل علت دے او وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِخَيْرٍ جزاء محذوف ده ای فلا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ بِقَرِيْنَةِ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ (یونس ع ۱۱)

شله دا هم د دلیل حصه ده یعني الله تعالیٰ په خپل مخلوق باندے غالب او

قاهر دے او د چا پهٔ مخکښے عاجز او مغلوب نشي کرځیدلے وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ
هغه حکمت والا او هم هغه د هر څیز نه خبردار دے دړے واړه د صفت
الف لام د افادهٔ حصر دپاره دے واللام هنا وفيما تقديم للقصر
عقلي دلیل سره د الله تعالیٰ کمال قدرت او کمال علم ثابت شو لهذا چه کله
بل څوک قادر مطلق او پهٔ غیب عالم نشته نو د هغه نه سوا کارساز هم څوک نشته
الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ اشارة الى كمال القدرة وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ اشارة الى كمال
(بحر ج ۴ ص ۸۹)

ف ۲۱ دا د تیر شو څلور واړو عقلي دلیلونو سره متعلق دے - شَهَادَةً
معنیٰ د قسم دے یعنی کوم څیز لوئے دے له جهته د قسم نه یا شهادت پهٔ معنیٰ
دے یعنی د ټولونه لویه ګواهي د چا ده قُلِ اللّٰهُ الخ تاسو او وایئ د ټولونه لویه ګواهي د
الله ج ده چا چه تیر شو عقلي دلیلونو سره او وړاندے دلیل وحي سره بیان کړے
چه غیب دان او متصرف او مختار صرف هغه دے د هغه نه سوا بل څوک نشته

ف ۲۲ دا د شرک فی التصرف پهٔ نفي باندے دلیل وحي طرف ته اشاره ده

ف ۲۳ دا د ذکر شو څلور عقلي دلائلو ثمره ده شَهَادَةً نه مراد دلته شهادت عقلي
دے یعنی اے مشرکانو آیا د دے ذکر شو عقلي دلائلو پهٔ موجودګئ کښے ستاسو عقل
دا خبره مني چه د الله ج سره نور څهٔ معبودان هم شته دے چه هغه سره پهٔ صفات د
الوهیت کښے شریک وي او غیب دان او کارسازوي قُلْ لَّآ اَشْهَدُ تاسو او وایئ ځما
عقل خو دا خبره نه مني قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ کلمه د اِنَّمَا حصر دپاره ده او دلته
خوئے ستاسو د شرک او د مشرکانو د شرک نه د بیزارئ او براءت اعلان کولو حکم
اوکړو چه صرف الله تعالیٰ معبود برحق دے او زهٔ ستاسو د شرک او ستاسو د
معبودانو د عبادت نه
بیزار یم

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ

چا ته چه مونږ کتاب ورکړے دے ف ۲۴ هغوئ پیژني دا (قول) لکه ولے چه پیژني

اَبْنَآءَهُمْ ۘ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ

خپل ځامن کوم خلق چه اچولے ئے دي خپل ځانونه پهٔ نقصان کښے هغوئ

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى

ایمان نه راوړي او د هغه نه زیات ظالم څوک دے ف ۲۵ چه جوړ کړي

اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۱﴾

الله ته دروغ يا دروغ او ګڼړي د هغهٔ آيتونه بيشکه خلاصے نهٔ نصيب کيږي ظالمانو ته

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا

او کومه ورځ چه جمع کړو مونږ دا ټول ٢٢ بيا به او وايو هغه خلقو ته چا چه شرک کړے وو

اَيْنَ شُرَكَاۗؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾ ثُمَّ

چرته دی شريکان ستاسو د کوم چه تاسو دعوٰی کوله بيا به

لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا

پاتے نشي هغوئ سره کوم فريب ليکن دا به وائی ٢٣ قسم دے په الله ج خولے چه

كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓي اَنْفُسِهِمْ

څوک رب دے مونږ نه وو شرک کونکی او ګوره ته څنګه دروغ ئے او ويل خپل ځانونو

وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ

بانددے او ورک شوے هغوئ نه هغه خبرے کوم چه به ئے جوړولے او ځنے د وئ کښے

يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ وَجَعَلْنَا عَلٰي قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ

غوږ ايږدی تا ته ٢٥ او مونږ د دوئ په زړونو باندے پردے اچولے دی د پاره

يَّفْقَهُوْهُ

چه پهٔ دے پوه نشي۔

نکات: ۱ زجر ۲ يعنی د توحيد دعوٰی تائيد يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ د دے معنٰی پهٔ اعتبار سره دا د ماقبل مضمون سره موافق دے تفاسير کښے ئے د دے مرجع نبی عليه السلام ګرځولے دے دے باندے يو صحيح حديث هم شاهد دے دے صورت کښے به ربط داوی کوم پيغمبر چه دا مسئله بيانوی دوئ هغه د دے نه مخکښے هم پيژنی ليکن د آيت تفسير د دے حديث باندے موقوف نهٔ دے سياق سباق اول معنٰی غواړی ۳ زجر ۴ تخويف اخروی ۵ د نيک پيرانو په حق کښے ۶ ګندهٔ او خراب جواب د دوئ ۷ تائيد ضَلُّوْا عَنَّا بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا (مومن) ۸ زجر ۹ واو حاليه سـ دا مفر

جبارت دے او جبر نۀ دے قال الرومی ؎
این نه جبر و معنی جبارے است | معنی جبارے است را زاری است

فتح الرحمٰن: ف یعنی د توحید کلمه.

حاشیه: ۲۴ الکتٰب نه تورات او انجیل او موصول نه یهود او نصاری
دواړه ډلے مراد دی او یَعْرِفُوْنَ کښے ضمیر منصوب نه قول من کور یعنی دکلمۂ توحید
حقانیت مراد دے حضرت شاه ولی الله رح فرمائی: می شناسد حقیقت این قول
یعنی کلمۂ توحید (فتح الرحمٰن) د دے تائید د دے آیت نه کیږی یَتْلُوْنَهٗ حَقَّ
تِلَاوَتِهٖ د دے معنیٰ په اعتبار سره د دے آیت ربط ماقبل سره بالکل واضح کړی
عام مفسرینو د ضمیر مرجع د نبی علیه السلام ذات ګرځولے دے لیکن د دے صورت
کښے د آیت د ماقبل نه جدا ګرځی د دے مضمون کښے یو حدیث هم وارد دے لیکن
د آیت تفسیر د دے باندے موقوف نۀ دے لکه سیاق او سباق د دے باندے شاهد
دے او د آیت مطلب دا دے چه علماء یهود ته د کلمۂ توحید د مضمون د رښتینوالی
او حقانیت باندے دا شان یقین دے څنګه چه هغوئ ته د خپل اولاد پیژندلو یقین دے

۲۵ زجر دے مشرکانو د پاره او استفهام انکار د پاره دے یعنی کوم سړے چه
په الله تعالیٰ باندے افتراء کوی او د الله تعالیٰ نیک بندګان د خدائے شریکان
ګرځوی او د توحید آیتونو او دلائل نه انکار کوی هغه تر ټولو لوئے ظالمان دی اِنَّهٗ
لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ○ او ظالمان خلق څوک چه د توحید ختمولو په کوشش کښے
لګیدلی دی او څوک چه شبه او ورځ شرک کوی په آخرت کښے به هغوئ د پاره
نجات نۀ وی نو چه څوک اَظْلَمُ دے (یعنی د ټولو نه لوئے ظالم) هغوئ د پاره خو
به په طریق اولیٰ نۀ وی.

۲۶ دا مشرکانو د پاره تخویف اُخروی دے شُرَكَآؤُكُمْ د ینه هغه نیک بندګان
او بزرګان مراد دی کوم چه مشرکانو په دنیا کښے حاجت روا او سفارشی ګرځول
او رابلل به ئے یعنی د قیامت په ورځ چه کله مونږ ټول په میدان د حشر کښے
جمع کړو نو مشرکانو ته به او وایو نن ستاسو هغه کارساز او سفارشیان چرته دی د کوم
متعلق چه ستاسو خیال وو چه هغوئ به په هر مشکل او هر مصیبت کښے ستاسو به
کار راځی نن خو په تاسو ډیر لوئے مصیبت راپریوتلے دے نن هغوئ ستاسو د
امداد د پاره ولے رانۀ غلل.

۲۷ فِتْنَتُهُمْ معنیٰ ګمراهی ده او دلته د ینه د مشرکینو جواب مراد دے چونکه د
مشرکانو جواب به بنکاره دروغ وی د دے وجه نه ئے هغے ته فِتْنَةٌ سره تعبیر
او کړو. ثُمَّ لَمْ يَكُنْ جوابهم الا ان قالوا نسمے فتنة لانه کذب (مدارک ج۲ ص
فی البحر ج۴ ص۹۵ والقرطبی ج۶ ص۴۰۱ ما یقرب منه حضرت شیخ قدس سره د ثُمَّ
لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ ترجمه دا شان کوی بیا به نۀ وی ګنده جواب د دوئ مشرکان چه کله

خپل ځانونه دے بسیٔ او عاجزیٔ په عالم کښے بیا مونږ هم نو خیال به کوی چه هغوئ به په دنیا کښے د شرک څخه بالکل انکار او کړی شاید چه په دے طریقه د عذاب نه خلاص شی دے خیال باندے چه کله هغوئ دروغ اووائی او د الله جل جلاله په نوم باندے قسم او خوری دا په دروغ جواب ورکړی چه هغوئ بالکل مشرکان نه وو او هغوئ بالکل شرک نه دے کړے لکه چه بل ځائے د هغوئ جواب د اشان نقل شویدے قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْئًا (مومن ع ۸) "بَلْ" اضرابیه اول خو به اووائی چه نن ځمونږ سفارشیان او کارساز غائب شوی دی بیا به د دے خبرے نه اعراض او کړی فورًا به اووائی چه مونږ خو د الله جل جلاله نه سوا بل څوک بالکل نه دے رابللے۔

۲۸ دا زجر دے یعنی د یکښے ډیر داسے دی چه ستا خبرے په غور سره آوری لیکن د دے باوجود بخپله د دوئ په زړونو باندے هیڅ اثر نه کوی ځکه چه د دوئ په زړونو باندے مونږ پردے اچولی دی او د دوئ مونږ د بوهے قوت اخستے دے یعنی د دوئ په زړونو باندے د جبّاریت مهر لګیدلے دے او د دوئ غوږونه مونږ کاڼه کړی دی او هغه حق خبره نه آوری وَإِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ الخ د مهر جبّاریت په وجه سره د هغوئ سترګے بندے شویدی د دے وجے نه که هرے هغوئ ته ټولے معجزے او ښودلے شی نو بیا هم هغوئ ایمان نه راوړی

وَمِنْهُم مَّنْ يَّسْتَمِعُ ... وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا

او کڼود مونږ د دوئ په غوږونو کښے دروند والے او که وینی ټولے نښانے نو هم ایمان

بِهَا ۚ حَتّٰىٓ إِذَا جَآءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ

نه راوړی په هغے باندے تر دے چه کله راځی ۲۹ تا ته جګړه کوی تا سره نو وائی هغه

كَفَرُوْٓا إِنْ هٰذَآ إِلَّآ أَسَاطِيْرُ الْأَوَّلِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَهُمْ

کافران نه دے دا مګر قصے د مخکنو او دوئ

يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ وَإِنْ يُّهْلِكُوْنَ

خلق منع کوی د دینه ۳۰ او تښتی د دینه او نه هلاکوی

إِلَّآ أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ تَرٰٓى إِذْ وُقِفُوْا

لیکن خپل ځانونه او نه پوهیږی او که ووینے ۳۱ کوم وخت

عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ

چه ودرولے شی هغوی د دوزخ پر اور نو وبه وائی اے کاش چه موږ بیا ولیږلے شو او دروغ به نه ګڼو

رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٧﴾ بَلْ بَدَا لَهُمْ مَا

آیتونه د خپل رب او شو به موږ ایمان راوړونکی ف بلکه ښکاره شو هغوی ته هغه چه

كَانُوا يُخْفُونَ مِنْ قَبْلُ ۖ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا

شو کوم چه دوی پټولو مخکښے ۳۲ او که چرے اولیږل شی نو بیا به هم هغه کار کوی د کوم نه چه

نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٢٨﴾ وَقَالُوا إِنْ هِيَ

منع کړے شوی وو او هغوی بیشکه دروغژن دی او وائی ۳۳ چه موږ د [illegible]

إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ تَرَىٰ

ژوند نشته لیکن دا د دنیا ژوند او موږ به بیا نه ژوندی کیږو ف او کاش چه ته او وینے

إِذْ وُقِفُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ قَالَ أَلَيْسَ هَٰذَا بِالْحَقِّ

کوم وخت چه دوی اودرولے شی د خپل رب په وړاندے او به وائی آیا دا رښتیا نه دی

قَالُوا بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا

او به وائی ولے نه دے قسم په خپل رب دے نو وبه وائی وڅکئ عذاب په

كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٠﴾

بدله د خپل کفر کښے

نکات: ۱ ای من ان ۲ یعنی د دوی قوت باصره هم ماؤف شوے دے ۳ حتی دعایه د یاسره دے یعنی نه منل خو په خپل ځائے بلکه خبره دا ده چه کله هغوی رسول ته راغلی نو مجادله کوی ۴ یعنی دروغ حال دا دے چه په واقعاتو کښے مجرمونه وی ۵ زجر ۶ تخویف اخروی ۷ دینه او یا حسرتنا نه معلوم شو چه یاهر ځائے کښے ندا د یاسره نه وی ۸ ظاهر به شی هغه چه کوم هغوی نه وو لیدلے یعنی اور ۹ بیا به هم هغوی نه منی ځکه چه دا حالت به ئے هیر شی ۱۰ شکوی ۱۱ د شکوی جواب سره د تخویف اخروی۔

موضح القرآن: ف۱ یعنی د دوزخ غاړے ته چه اولیږلے شی نو حکم به

اوکړے شی چه او دریږئ نو دکا فرانو امید به پیدا شی چه شاید مونږ بیا دنیا ته اولیږی
نو داخل به کفر ته کوو ایمان به راوړو نو الله تعالیٰ فرمائی چه دے دپاره دوئ
اونه درولے شول بلکه دے ته پیر سره ددوئ دخُلونه دا اقرار اوکړے شو چه مونږ
کفر کړے وو حال دا دے چه مخکښے منکر شوے وو چه مونږ خو شرک نه وو کړے او
بیا به پیول ددوئ عبث دی۔

فتح الرحمٰن : ف۱ یعنی دحشر نه منکر دی۔

حاشیه : ۲۹ حتّیٰ انتها غایت دپاره دے یعنی مثل خو پر یږده هغوئ دے
حد ته رسیدلی دی چه کله هغوئ پیغمبر علیه السلام ته راځی نو هغه سره جګړه شروع
کوی او وائی اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ یعنی دا پیغمبر چه کوم څه بیانوی دا
خو محض د تیر شو خلقو دروغ قصے دی دا دکافرانو انتهائی بدقسمتی او د ستړګو
روندوالے وو چه هغوئ رښتینو واقعاتو ته دروغ وئیل دا د تیر شوو قومونو رښتینے
واقعات دی چه الله تعالیٰ دعبرت او نصیحت دپاره بیان کړی دی چه خلق دیکښے
غور او فکر اوکړی عبرت حاصل کړی تائید فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ۝
(الاعراف ع ۲۲) دینه معلومه شوه چه کله مشرکانو خپل انکار باندے ټینګ شی
نو بیا هیڅ یو دلیل نه منی او اهل توحید سره جګړه شروع کړی۔

۳۰ دلته دکافرانو دوه خراب خویونه بیان شوی دی اول دا چه هغوئ خلق
دقرآن نه منع کوی او هغوئ دا اوریدلو نه منع کوی دویم دا چه هغوئ پخپله هم لرے
تښتی وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ الخ لیکن هغوئ په دے طریقه دنبی علیه السلام او دقرآن
او مسلمانانو هیڅ نقصان نشی کولے او لټه خپل ځانونه هلاکت او تباهئ کښے اچوی۔

۳۱ دا تخویف اخروی دے يٰلَيْتَنَا حرف نداء دلته محضے اظهار حسرت دپاره
دے دے سره چا ته خطاب مقصود نه دے حرف نداء یا څنګه چه د نداء او استغاثه
دپاره راځی دا شان ندبه ، تعجب ، شوق ، حسرت او د محبت د اظهار دپاره هم
راځی لکه چه صحیح مسلم قبیل باب التفسیر کښے دی چه کله حضور علیه السلام مدینه
طیبه ته تشریف یوړو نو ماشومانو جینکو به لارو کوڅو کښے یا محمداه یا محمداه
وئیل او کرځیدے دینه دهغوئ مقصود نداء او رابلل نه وو بلکه محض دعقیدت
او اظهار په طور هغوئ وئیل۔

۳۲ دځینو مفسرینو دا خیال دے چه دلته يُخْفُوْنَ سره مراد دهغوئ هغه
ګنده عقیدے دی کوم چه هغوئ په دنیا کښے پټے ساتلے او کرځیدل لیکن دے باندے
دا شبه کیږی چه هغوئ خو خپلے عقیدے اعلانیه طور باندے ظاهر ولے حضرت
شیخ قدس سره فرمائی چه دلته باب افعال وجدان دپاره دے او يُخْفُوْنَ معنیٰ ده
یجدونه مخفیًا یعنی کوم څیز چه هغوئ په دنیا کښے نه لیده بلکه هغه به ورته پټ
مونده لو هغه څیز به د قیامت په ورځ ظاهر شی او ددوئ مخے ته به راشی او دینه مرا

وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ د قیامت په ورځ به مشرکان د دوزخ اور ورده
خواهش کوی چه هغوی واپس دنیا ته لاړ شی او ربتینی مؤمنان به جوړ شی او کفر او شرک
ته به نزدے هم نه ورځی وے فرمائیل دا دروغ وائی کچرے هغوی واپس دنیا ته ولیږلے
شی نو بیا به هم هغوی او نه منی او دا عذاب به هیر کړی۔

۳۳ دا شکوی ده او لعادو باندے عطف دے یعنی کچرے هغوی دوباره دنیا ته
اولیږل شی نو دوی به د مخکنیے پشان د توحید سره بعث بعد الموت نه هم انکار کوی او
وائی به چه بس دا د دنیا زندګی اصل زندګی ده او دینه روستو قیامت او حشر نشر وغیره
نشته یا اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ باندے عطف دے یا استیناف دے یعنی دے
خلقو به دنیا کښے دا سے ویل عطف علی العادوا یعنی لو ردوا قالوا او علی هذا انهم
لکذبون یعنی وهم الذین قالوا ذٰلك فی الدنیا ...... او استیناف بذکره قولهم
فی الدنیا (مظهری ج ۳ ص ۲۵۶)

۳۴ دا جواب شکوی دے سره د تخویف اُخروی نه د قیامت په ورځ چه کله مشرکان
د الله تعالیٰ په مخکنیے ولاړ وی هغه وخت به فرشتے د دوی د لاجواب کولو د پاره دوی نه تپوس اوکړی چه آیا دا قیامت او عذاب برحق نه دے؟ قالوا بلیٰ هغوی به
جواب ورکړی وئے نه دے په خدائے قسم دا هرڅه برحق دی۔ بیا به هغوی په
عذاب کښے مبتلا کولے شی او هغوی ته به وویلے شی چه د خپل کفر او شرک د وجه
نه نن عذاب او څکئ۔

قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَتْهُمُ

تباه شول هغه خلق ۳۵ چا چه دروغ اوګڼل د الله ج سره ملاویدل تردے چه راوبه رسیږی

السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يٰحَسْرَتَنَا عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيْهَا ۙ وَهُمْ

هغوی ته قیامت ناڅاپه نو وائی به اے افسوس څنګه کوتاهی اوکړه مونږ دیکښے او هغوی به پورته

يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ؕ اَلَا سَآءَ مَا

کړی خپل بوجهونه په خپلو شاګانو باندے خبر شئ چه ناکاره بوجه دے

يَزِرُوْنَ ۝۳۱ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ؕ وَلَلدَّارُ

کوم چه به هغوی پورته کوی ۳۶ او نه دے ژوند د دنیا لیکن لوبے او توقے او د

الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝۳۲ قَدْ

آخرت کور بهتر دے پرهیزګارانو د پاره ۳۷ آیا تاسو نه پوهیږئ هو مونږ

نَعۡلَمُ اِنَّهٗ لَيَحۡزُنُكَ الَّذِیۡ يَقُوۡلُوۡنَ فَاِنَّهُمۡ لَا

معلوم دی مونږ ته چه تا پهٔ غم کښے اچوی دا دوئ خبرے نو بیشکه دوئ

يُكَذِّبُوۡنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجۡحَدُوۡنَ ﴿۳۳﴾

تکذیب نهٔ کوی لیکن دا ظالمان د الله ج د آیتونو نه انکار کوی

وَلَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٌ مِّنۡ قَبۡلِكَ فَصَبَرُوۡا عَلٰى مَا

او دروغ گنړلے شوی دی ډیر پیغمبران ستا نه مخکښے نو صبر ئے کولو پهٔ

كُذِّبُوۡا وَاُوۡذُوۡا حَتّٰۤى اَتٰٮهُمۡ نَصۡرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ

دروغ گنړلو باندے او تکلیف رسولو باندے ترڅو چه راغلے هغوئ ته څموږ امداد او

لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ وَلَقَدۡ جَآءَكَ مِنۡ نَّبَاِی الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿۳۴﴾

څوک نشی بدلولے د الله ج خبرے او تا ته راورسیدلی دی حالات د رسولانو

وَاِنۡ كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكَ اِعۡرَاضُهُمۡ فَاِنِ اسۡتَطَعۡتَ

او که چرے وی ستا باندے سخت دا دوئ مخ ګرځول نو که ستا نه کیدے شی چه

اَنۡ تَبۡتَغِىَ نَفَقًا فِى الۡاَرۡضِ اَوۡ سُلَّمًا فِى السَّمَآءِ

اولټوے یو سورے رنګ پهٔ زمکه کښے یا یو اندرپایه آسمان کښے

نکات: سـ۱ ما مصدریه دے سـ۲ مشرکان دنیا باندے مغرور شول حق به ئے نهٔ منلو دا دے وجه نه د دنیا قلت او حقارت بیان شوے دے پهٔ دو آیتونو کښے دا دے تائید موجود دے سـ۳ تسلیٔ سره د تخویف اُخروی نه سـ۴ زجر یعنی معجزه ستا پهٔ اختیار کښے نهٔ ده معجزه الله ج د پاره ده تائید انما الایات عند الله۔

فتح الرحمٰن: فـ۱ یعنی خپل گناهونه فـ۲ یعنی بدعمل به دیو تور بدشکل خراب ځیز پهٔ شکل دا دوئ پهٔ شا کانو کیني۔

حاشیه: ۳۵ دا هم تخویف اُخروی دے هغه چا د پاره څوک چه د الله ج د ملاقات یعنی د قیامت نه انکار کوی۔ يٰحَسۡرَتَنَا الخ دلته هم حرف ندا د اظهار تاسف د پاره دے مَا فَرَّطۡنَا کښے ما مصدریه دے ای علیٰ تفریطنا د قیامت پهٔ ورځ به کافران وائی چه پهٔ دنیا کښے پهٔ ایمان او عمل

کښې کوتاهئ کولو باندې موږ ته سخت افسوس دے اَوۡزَارَهُمۡ دا د وِزۡرٌ جمع
دَه چه د دَه معنٰی بوجَ دَه او دے نه مراد مشرکانه اعمال دی.

۳۶ه مشرکان چونکه د دنیا په دولت او شان او شوکت باندے مغرور شول
او د حق نه یې ئے انکار کولو د دے وجه د دوئ د اصلاح د پاره ئے د دنیا دے
ثباتئ او د دے د سامان حقارت او قلت ئے اوفرمائیلو چه په کومه دنیا باندې
تاسو مغرور (دهوکه) شوئ د دے په وجه سره د حق نه انکار کوئ هغه خو د
ورځې نمایش دے او د آخرت په مقابله کښې هیڅ هم نه دے۔ دا مضمون
قرآن مجید کښې څو ځایه بیان شوے دے (۱) لَا یَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا
فِی الۡبِلَادِ (آل عمران ع ۲۰) (۲)، فَلَا یَغۡرُرۡكَ تَقَلُّبُهُمۡ فِی الۡبِلَادِ (مؤمن ع ۱)
دے دواړو کښې تقلب مصدر قلت او حقارت د پاره دے (۳) وَاضۡرِبۡ لَهُمۡ
مَّثَلَ الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا كَمَآءٍ اَنۡزَلۡنٰهُ الۡاٰیة (کهف ع ۶) (۴) اِعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا الۡحَیٰوةُ
الدُّنۡیَا لَعِبٌ وَّلَهۡوٌ وَّزِیۡنَةٌ (حدید ع ۳) دریم آیت کښې د دنیا تمثیل او څلورم
آیت کښې هم د لهو ولعب الفاظ هم په قلت او حقارت باندے دلالت کوی۔

۳۷ه د دَه مفعول الشرك مقدر دے ای یتقون الشرك (خازن ج ۲ ص ۱،
جلالین) کوم خلق چه د شرك نه ځان ساتی او نیك اعمال په ځائے راوړی په
آخرت کښې هغوئ د پاره بهتری او نیکی دَه۔

۳۸ه دا نبی علیه السلام د پاره ډیر زیات د محبت نه ډك انداز کښې تسلّی دَه
حضور صلی الله علیه وسلم خلقو باندے ډیر شفیق او مهربان وو او د هغوئ
ارزو وه چه ټول خلق ایمان راوړی او د جهنم د اور نه بچ شی لیکن معاندینو د منلو
په ځائے نه صرف هغوئ دروغجن ګڼړل بلکه هغه پورے به ئے مسخرے کولے او د
تکلیف رسولو کوشش به ئے کولو د دے سره الله تعالٰی نبی علیه السلام ته تسلّی ورکړه
او وئې فرمائیل چه موږ ته ښه معلومه دَه چه د مشرکانو تکذیب او د هغوئ تکلیف
رسونکے خبرے تا لره په غم کښې اچوی لیکن تاسو غم مه کوئ ظالمان تا دروغ نه
ګڼړی تاسو ته اوس هم صادق او امین وائی لیکن محض د ضد او عناد په وجه سره
د الله ج د آیتونو نه انکار کوی یو ځل اخنس بن شریق او ابوجهل چرته یو ځائے
کښې ملاؤ شول نو اخنس ابوجهل ته اووئیل چه دا وخت څوك زمونږ د دواړو نه سوا بل
هیڅوك نشته رښتیا او وایه چه محمد صلی الله علیه وسلم رښتونے دے یا دروغژن
ابوجهل قسم اوکړو چه محمد صلی الله علیه وسلم هیڅکله هم دروغ نه دی وئیلی
هغه رښتونے دے لیکن خبره دا دَه چه کله ټول اعزازات دے خاندان یو پل نویا
د باقی قریشو په حصه کښې څه پاتے شول د دے وجه نه موږ د دَه نبوت څنګه
او منو فقال ابوجهل ویحك والله ان محمدا الصادق وما كذب محمد قط ولكن اذا
ذهبت بنو قصی باللواء والسقایة والحجابة والنبوة فما ذا یكون لسائر قریش (ابن کثیر ج ۲)

۳۹ دا هم د ماقبل حصه ده یعنی ستاسو نه مخکښې چه کوم پیغمبران تیر شوی دی د هغوئ قومونو هم د دوئ پشان تکذیب اوکړو او هغوئ ته ئے تکلیفونه اورسول نو هغوئ صبر اوکړو او خپل تبلیغی فرائض کښې مشغول پاتے شول تردے چه زمونږ امداد راغے او د هغوئ دشمنان ئے هم هلاک کړل د الله ج وعده رښتونې ده هغه د خپلو پیغمبرانو امداد کوی او د هغوئ دشمنان هلاکوی۔

۴۰ دا زجر دے مشرکانو به نبی علیه السلام نه مطالبه کوله چه کچرے تاسو مطلوبه (غوښتلے شوے) معجزے اوښایئ نو هغوئ به ایمان راوړی او د نبی علیه السلام په زړه کښے هم دا خیال پیدا شو چه کچرے د هغوئ غوښتلے شوے معجزے دوئ ته ښکاره کړے شی نو کیدے شی چه ایمان راوړی او مخ وانه ړوی دے سره دا آیت نازل شو چه د مشرکانو اعراض کچرے ستاسو او قرآن نه محض د معجزات د نه ملاویدلو د وجه نه دے او د هغوئ اعراض په تاسو سخت دے نو تاسو هغوئ ته معجزات ښکاره کړئ او کچرے ستاسو په طاقت کښے وی نو تاسو په زمکه کښے سرنګ او وهئ یا آسمان ته اندرپایه (زینه) اولګوئ یوه معجزه راوړئ او دوئ ته ئے ښکاره کړئ مطلب دا دے چه معجزه ستاسو په قبضه کښے نه ده لکه چه وئے فرمائیل اِنَّمَا الْاٰیٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ دا شان ئے او فرمائیل وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ (مؤمن ع ۸)

فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى

بیا راوړې دوئ ته یوه معجزه ف ۴۰ او کچرے الله غوښتے وے نو ۴۱ ټول به ئے جمع کړی وو په

فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۳۵﴾ اِنَّمَا يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ

سم لاره باندے نو ته مه کیږه له ناپوهو نه ف ۴۱ منی هم هغه خلک ف ۴۲ ده چه

يَسْمَعُوْنَ ؕ وَالْمَوْتٰى يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۳۶﴾

اوری او مړی به ژوندی کړی الله بیا به د هغه طرف ته راوستلے شی ف

وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ

او وائی ولے نه نازلیږی ده باندے څه نښانے د هغه له رب له طرفه ف ۴۳ او وایه چه

قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

الله ج قادر دے دے خبره باندے چه نازل کړی نښانے لیکن دوئ کښے اکثر

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا طٰٓئِرٍ

نه پوهیږی. او نشته دے هیڅ یو تلونکے ۳ په زمکه باندے او نه هیڅ یو مارغه

يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ؕ مَا فَرَّطْنَا فِي

چه الوځی په خپلو دوؤ وزرو باندے لیکن دوی امتونه دی ستاسو پشان ۴ مونږ پریښے نه دے

الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَ

په کتاب کښے هیڅ څیز بیا به ټول خپل رب ته سره جمع کړے شی ۵ او

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي الظُّلُمٰتِ ؕ

خلق چه دروغ کړی څوی ایتونه ۶ زمونږ هغوی کاڼه دی او ګونګیان دی په تیارو کښے

مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ؕ وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى

او چا له چه اوغواړی الله نو ګمراه ئے کړی او چا له چه اوغواړی نو کړځوی هغه په

صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٣٩﴾

سمه

لاره

نکات: ۱ ای بالجبر دلته لکن لیبلوکم محذوف دے په قرینه د سورة مائدة
۲ بشارت او یسمعون نه مراد یجیبون دے په قرینه د وما یذکر الا من ینیب
۳ مراد مشرکان دی دا تخویف اخروی دے ۴ شکوی او ځلورم سوال دے
ماقبل زجر سره متعلق دے ۵ د شکوی جواب یعنی په معجزه زه قادر
یم الله ته معلومه ده چه معجزه دنیا کښے دهغه د حکمت مطابق ده یا نه ۶
پنځم دلیل عقلی یعنی باقی ټولو امتونو د پاره هم رازق او متصرف صرف الله
تعالی دے ۷ د معتزله وپه نزد باندے دا تخویف اخروی دے او کتاب نه
مراد اعمال نامه ده د اهل سنت په نزد باندے دا دلیل توحید عقلی سره
متعلق دے او الکتٰب نه مراد لوح محفوظ دے یعنی الله تعالی علم دے ۸ دا
مراد مشرکان دی اګرچه د ماقبل نه وهم کیږی چه حیوانات هم مراد دی
۹ زجر دے.

موضح القرآن: ف ۱ کافرانو غوښتل چه دا نبی دے نو ده سره دے همیشه
یوه نښه (معجزه) وی چه هر څوک ئے وینی او یقین اوکړی نو کیدے شی چه نبی
علیه السلام زړه هم دا غوښتل وی دے د پاره ئے ترتیب اوکړو چه د الله ج تابع

اوسیږه که هغهٔ ته منظور وے نو بے نشانے به ئې هم د ټولو زړونو زړونه راګرځولے وے **ف۲** یعنی د ټولو نه امید مهٔ ساته چه او مني د چا پهٔ زړهٔ کښې چه الله جل جلاله غوږ نهٔ دی جوړ کړی هغوئ نهٔ آوری نو هغوئ به ئې څنګه او مني لیکن د دے کافرانو مثال د مړو دے چه قیامت کښې ئې اوویني یقین به اوکړی۔

فتح الرحمٰن : ف۱ مترجم وائی یعنی د هغه ځائې نه که ستا پهٔ قدرت کښې وی نو معجزه راوړه حاصل دا دے چه خدائې ج ته ئې اوسپاره والله اعلم **ف۲** یعنی د اسلام دعوت **ف۳** یعنی د هغه نښانو نه کوم چه دوئ طلب کوی۔

حاشیه : ۴۱ ای وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ پهٔ قرینه د سورهٔ مائده یعنی تا سو دا خیال پرینږدئ چه ټول خلق به ایمان راوړی ګڼړے دا خبره الله ته منظور وے نو هغهٔ به جبراً ټول خلق پهٔ هدایت باندے جمع کړے وے لیکن هغهٔ دا شان څکه اونهٔ کړل چه د هر سړی امتحان اوکړے شي او هر سړے سوچ او فکر سره لاره غوره کړی۔

۴۲ د يَسْمَعُوْنَ معنیٰ يُنِيْبُوْنَ ده یعنی صرف هغه خلق حق قبلوی د چا پهٔ زړونو کښې چه د الله ج رغبت وی پهٔ قرینه د وَمَا يَتَذَكَّرُ اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ (مؤمن ع ۲) او الموتیٰ نه مراد دلته کافران او مشرکان دی څکه چه د هغوئ زړونه د ایمان او توحید نه دخالی کیدلو پهٔ وجه سره مړهٔ او بے روحه دی والموتیٰ ای الکفار کما قال الحسن ورواه عنه غیر واحد ۰۰۰ وفی اطلاق الموتیٰ علی الکفار استعارة تبعیة مبنیة علی تشبیه کفرهم وجهلهم بالموت (روح ج ۷ ص ۱۴۲)

۴۳ دا شکوی اوسوال دے مشرکانو به ویئیل چه مونږ ته یوه داسے نښانی ولے اونه ښودل شوه چه مونږ هغه اووینو او وے منو اَللّٰهَ قَادِرٌ الخ سره د دے جواب ورکړے شو چه پهٔ معجزه ښودلو خو الله ج قادر دے لیکن هغوئ پهٔ دے نهٔ پوهیږی چه د غوښتلے شوے معجزے نه انکار کولو سره به سمدستی هلاکت راځی او مهلت به نشی ورکولے د دے وجه نه د بندګانو خیرخواهی او بهتری د یکښې ده چه هغوئ ته مطلوبه معجزه اونهٔ ښودلے شي قال ابن عطیه لایعلمون انها لو انزلت ولو یؤمنو لعوجلو بالعذاب (بحر ج ۴ ص ۱۱۹)

۴۴ دا پهٔ توحید باندے پنځم دلیل عقلی دے دَآبَّةٍ نه روستو فِي الْاَرْضِ او طٰٓئِرٍ نه روستو يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ صفات کاشفه یعنی ستا سو نه علاوه ټول جاندار مخلوق هم ستا سو پشان مختلف جماعتونه دی او ستا سو پشان محتاج او ضرورت مند دی د دے ټولو رازق او متصرف او مختار صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ د معتزلو پهٔ نزد باندے د دے مطلب دا دے چه مونږ پهٔ لیکلو کښې کمے نهٔ دے کړے او کتاب نه مراد د فرښتو دفتر دے او س به دا تخویف اُخروی وی او د اهل سنت پهٔ نزد باندے د کتاب نه

مراد لوح محفوظ دے عن الحسن و قتادۃ ان المراد بالکتاب الذی عند اللہ تعالیٰ
وھو مشتمل علی ما کان و ما یکن وھو اللوح المحفوظ (روح ج ۷ ص ۱۴۵) د شان
شاہ عبدالقادر صاحب لیکلی دی

۴۵ د اھم تخویف اُخروی دے مکذبینو د چار پایانو او مارغانو د ذکر نه دا مقصد
کیږی چه د قیامت په ورځ به د انسانانو سره د دوی حشر هم وی لیکن د دے نه
دلته صرف د انسانانو حشر مراد دے او د حضرت ابو هریره رض د روایت نه معلومیږی
چه یقتص للجماء من القرناء نو دا په حقیقت محمول نه دے بلکه دا د دے تمثیل
دہ چه د ظالم نه به مظلوم د پاره بدله اخستلے شی او کچرے بالغرض د چار پایانو حشر
هم مراد کړے شی نو د دوی د حشر نه به مراد مرګ وی نه چه جزاء او سزا لکه چه په
جامع البیان کښے حضرت عبدالله بن عباس رض نه منقول دہ حشر کل شئ الموت
سوی الجن والانس (ص ۵۰۸) تحت قوله واذا الوحوش حشرت۔

قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ

ته او وایه خبر راکړئ کچرے راشی تاسو ته عذاب د الله ج یا راشی تاسو ته قیامت

اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۴۰ بَلْ اِيَّاهُ

آیا د الله ج نه سوا بل چا ته به آواز کوئ کچرے تاسو رښتونی یئ بلکه خاص هغه

تَدْعُوْنَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَ

رابلئ ۴۷ بیا لرے کوی هغه مصیبت کوم د پاره چه تاسو هغه رابلئ ۴۸ کچرے او غواړی

تَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ۝۴۱ ع وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ

او تاسو هیروی کوم چه تاسو شریک کړځولو او مونږ رسولان لیږلی وو ډیرو امتونو ته

قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ

ستا نه مخکښے ۴۹ بیا هغوی او نیول مونږ ۵۰ سختئ کښے او تکلیف کښے دے د پاره چه

يَتَضَرَّعُوْنَ ۝۴۲ فَلَوْلَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا

عاجزی او کړی بیا ولے عاجزی او نه کړه چه کله دوی ته راغے عذاب زمونږ

وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا

لیکن سخت شول زړونه د هغوی او ښائسته ښکاره کړل دوی ته شیطان کوم کار چه

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۴۳﴾ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا

چه هغوی کول بیا چه کله هغوی هیر کړلو هغه نصیحت کوم چه هغوی ته کړے شوے وو

عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا

پرانستے مونږ دوی باندے دروازے د هر څیز ف۲ تر دے چه کله هغوی خوشحال شول هغه څیزونو

أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ﴿۴۴﴾ فَقُطِعَ دَابِرُ

باندے کوم چه هغوی ته ورکړے شوی وو او نیول مونږ هغوی ناڅاپه نو هغه وخت هغوی اوګرځیدل نا امیده ف۳

الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ

بیا پرے کړے شو بنیاد د هغه ظالمانو

نکات: ف۱ توحید بانسے شپږم دلیل عقلی علی سبیل الاعتراف من الخصم ف۲ نبی علیه السلام نه به ئے اوریدل چه توحید نه انکار کولو سره به عذاب راځی نو چه کله سخت عذاب به ئے لیدلو ګمان به ئے کولو چه شاید هغه عذاب راغلے دے وجه نه به ئے خالص الله تعالی ته اواز کولو ف۳ معبودان باطل ف۴ تخویف دنیوی ف۵ مشرکانه اعمال ف۶ د توحید مسئله ف۷ مشرکان د دنیا په اسباب کښے استدراجا مالدار کولے شی ف۸ یعنی الله تعالی هغوی دا شان رانیسی چه د هغوی بیخ نه یعنی د هغوی اولاد هم هلاکوی لکه چه د قوم نوح علیه السلام حال شو۔

موضح القرآن: ف۱ یعنی د الله ج د قدرت نښانے ټول جهان کښے دی د هر قسم چارپایانو حیوانانو کارخانے ئے په یو قاعده باندے جوړه کړے ده د انسانانو ئے هم یو قاعده جوړه کړے ده هغه د پیغمبرانو په ژبه دوئی پوره کوی کچرے توجه ورکړے نو هم دا نښے کافی دی د پیغمبرانو په وینا لیکن کوږ او ګونګ په تیاره کښے غور ځیدلے څه به اووینی او په څه به پوه شی او دا چه ئے اوفرمائیل مونږ په لیکلو کښے هیڅ نه دی پریخودلی یعنی په لوح محفوظ کښے مونږ ټول هر څه لیکلی دی ف۲ یعنی ګنهګار الله تعالی لږ شان نیسی کچرے هغه عاجزی اوکړی او توبه اوباسی نو بچ شو او کچرے دومره نیول ئے اونه منل نو بیا هیره او مغالطه او په فراخئ او خوشحالئ کښے واچوی چه کله په ګناهونو کښے ښه غرق شی نو ناګهانه ئے اونیسی دا اشاره ده چه په ګناه باندے تنبیه اوشی نو په تلوار سره دے توبه کړی دیے انتظار دے نه کوی چه د دے نه زیات تکلیف اورسیږی نو یقین اوکړم۔

فتح الرحمن: ف۱ یعنی پیغمبران ف۳ یعنی په استدراج (مزه مزه) سره مونږ ډیر نعمتونه ورکړل۔

حاشیه ۴۶ دا تکذیب کوونکو دپاره زجر دے یعني کوم خلق چه د ضد او عناد په وجه سره د الله ج آیتونه دروغ ګڼړي د هغوئ په زړونو باندے د جباریت مهر لګیږي او هغوئ د کفر او شرك په تیاره وکښے سرګردان ګرځي نه خو حق او رید لے شي او نه حق خبره کولے شي. حضرت شیخ قدس سره فرمائي چه کله منکرین د ضد او عناد په وجه سره د حق نه انکار کوي نو الله تعالی د هغوئ نه د فهم او روح استعداد اخلي او د هغوئ په زړونو باندے د جباریت مهر لګوي لیکن چا ته چه ارشو الله یعني کوم خلق چه انابت کوي نو هغوئ ته د حق قبلولو استعداد ورکوي.

۴۷ دا په توحید باندے دوئم دلیل عقلي دے علی سبیل الاعتراف من الخصم. امام فرّاء وائي چه اَرَءَیْتَ دوه معانیو کښے استعمالیږي اول رؤیت دوئم په معنی د اخبرني مثلاً وئیلے شي اَرَءَیْتَكَ ای اخبرني. دے صورت کښے ضمیر ثاني خواه واحد دپاره وي (كَ) یا تثنیه (كما) او یا د جمع وي (كُمْ) اعراب کښے د ده هیڅ مقام نه وي او د ده حیثیت محض د یو حرف وي چه د مخاطب حالت افراد، تثنیه، جمع، ظاهروي) من الکبیر (ج ۳ ص ۶۳) علامه رضی لیکي چه دلته رؤیت بصري دے یا قلبي او اَرَءَیْتَ په معنی د اَبْصَرْتَ دے یا په معنی د عرفتَ او صرف یو مفعول غواړي (چه دلته حَالُكُمْ محذوف دے) او مجازاً اخبرني (ماته او بنایه) معنی کښے مستعمل دے او همیشه عجیبه حالت نه استفسار دپاره استعمالیږي. ذهب الرضی تبعًا لغیره ان رای هنا بصریة وقیل قلبیة بمعنی عرف وهی علی القولین متعد الواحد واصل اللفظ الاستفهام عن العلم والعرفان او الابصار الا انه تجوز به عن معنی اخبرني ولا یستعمل الا في الاستخبار عن حالة عجیبة لشیٔ (روح ج ۷ ص ۱۳۸) دینه روستو د استفهام موجود والے ضروري دے خواه مذکور وي خواه مقدر، دلته مذکور دے یعني اغیر الله. مطلب دا دے چه حضور علیه السلام ته حکم ورکړے شو چه تاسو مشرکانو ته او وائي ماته او بنایئ کچرے تاسو باندے د الله عذاب راشي یا قیامت راشي نو آیا بیا به هم تاسو غیر الله ته آواز کوئ بَلْ اِیَّاهُ. دا د دے جواب دے یعني هغه وخت خو به تاسو غیر الله نه رابلئ بلکه د الله ج نه سوا چه کوم معبودان تاسو رابلئ هغه ټول به هیر کړئ او صرف الله ته به آواز کوئ نو کچرے هغه او غواړي نو ستاسو نه به هغه مصیبت لرے کړے کوم د پاره چه تاسو رابللے دے. د دے مضمون مندرجه ذیل آیتونه تائید کیږي: (۱) فَاِذَا رَكِبُوْا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ (عنکبوت ع ۷) (۲) دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ (یونس ع ۳) (۳) فَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّآ اِيَّاهُ (بني اسرائیل ع ۷) مشرکانو به چونکه د نبي علیه السلام نه آوریدل چه کچرے تاسو ایمان نه راوړئ او شرك پرینخودلو سره توحید نه مني نو په تاسو د الله ج عذاب راشي د دے وجه

نه چه مشرکانو به خپلې کشتۍ او جهازونه په غضبناکو چپو د دریابونو او سیندونو کښې راګیر لیدل نو ګمان به ئې کولو چه کیدے شی دا هغه عذاب دے او فوراً به ئې خالص الله ج ته زاری عاجزی شروع کړه۔

۴۸ دینه معلومه شوه چه د هر سړی دعا او رابلل قبلیدل ضروری نه دی د دے آیت په رڼا کښې قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ (مؤمن ع ۶) د آیت مطلب هم واضح شو چه د دے منشاء دا ده چه په تکلیفونو او مصیبتونو کښې ما ته آواز کوئ د قبلولو قدرت او طاقت صرف په ما کښې موجود دے مطلب دا نه دے چه د هر سړی دعا ضرور قبوله کړم۔

۴۹ دا تخویف دنیوی دے یعنی کوم اُمتونو چه ستا سو نه مخکښې خپلو د رسولانو تکذیب کړے دے مونږ هغوئ د دنیا کښې جسمانی بیماریانو کښې او مالی پریشانو کښې مبتلاء کړے وو دے د پاره چه د هغوئ د ضد نه منع شی او عاجزی اختیار کړی او د کفر او انکار نه توبه وکړی الْبَأْسَاءِ نه قحط او تنګدستی مراد ده او الضَّرَّاءِ نه بیماری او مال جان نقصان الاول القحط والجوع والثانی المرض والنقصان الانفس والاموال (مدارک ج ۲ ص)

۵۰ کله چه دنیا کښې هغوئ باندے خپلو عذاب راغے نو په ځائے د دے چه هغوئ عاجزی سره خپلو نه د ګناهونو معافی غوښتلے وے او توبه او استغفار ئې کړے وے هغوئ ډیر د سختئ دلئ نه کار واخسته او په خپل کفر باندے ټینګ پاتے شول ځکه چه د شیطان بنائسته کولو سره او وسوسه اچولو سره هغوئ خپل مشرکانه اعمال او اقوال مصلح او وګنړل مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ کښې ما نه مشرکانه اعمال مراد دی۔

۵۱ دما نه مراد مسئله د توحید ده او د نسیان نه پریښودل مراد دی ای ترکوا ما دعاهم الرسل علیهم الصلوٰة والسلام الیه وردوه علیهم (روح ج ۷ ص۱۵۱) کله چه مشرکانو ضد او عناد سره د توحید د مسئلے نه انکار اوکړو نو مونږ هغوئ په دنیا کښې د استدراج (په مزه مزه د راښکولو) په طور د دولت ضل اوګرځول او د هغوئ رسئ مونږ سسته کړه تردے چه ناڅاپه خپلو عذاب هغوئ ونیول معاندینو او ضدکونکو سره خپلو همیشه عادت دا دے حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بغیر الحق یعنی مغرور شول۔

۵۲ بیا الله تعالیٰ هغوئ دا شان رانیسی او هغوئ باندے داسے عذاب نازلوی چه د هغوئ جرړے بالکل پریکولے شی او د هغوئ نسل تباه کیږی لکه چه د قوم نوح حشر او شو وَالْحَمْدُ لِلَّهِ او ټول صفتونه د کارسازئ الله ج پورے خاص دے مشرکانو چه کوم معبودان باطله متصرف او مشکل کشا ګنړل د هغوئ نه هیچا هم د دوئ د الله د عذاب نه بچ نه کړے شول نو معلومه شوه چه الله ج کارساز او ما فوق الاسباب متصرف دے بل څوک نه دے تائید فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً (احقاف ع ۴) او فَمَا أَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ الَّتِي يَدْعُونَ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ
رَبِّكَ (هود ع ۹)

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۵﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ
او ټول تعریفونه الله دپاره دی چه پالونکے دے د ټول جهان ته ۓ او وایه کورئ تاسو که وګرځے
اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ
واخلی الله ستاغوږونه او سترګے او مهر کړی ستاسو زړونو باندے
مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِهٖ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ
نو څوک داسے رب دے چه د الله ج نه سوا تاسو ته دا څیزونه درکړی ګوره مونږ څنګه څنګه
الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ
بیانو وخبرے بیا هم هغوئ د دے نه مخ ګرځوی ته ۓ او وایه کورئ تاسو که چرے
اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ
راشی په تاسو باندے عذاب د الله ج یا ناڅاپه یا ظاهر شی نو څوک به هلاک وی دا
اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا
د ظالمانو خلقو نه سوا او مونږ رسولان نه لیږو دے لیکن
مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ فَمَنْ اٰمَنَ وَاَصْلَحَ فَلَا
زیرے او ویره اورونکی بیا چا چه ایمان راوړو او نیک شو
خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَالَّذِيْنَ
نه ویره شته په هغوئ او نه به هغوئ غمژن دی او چا چه
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوْا
دروغ او ګڼل څمونږ آیتونه هغوئ ته به اورسیږی عذاب ځکه چه هغوئ
يَفْسُقُوْنَ ﴿۴۹﴾ قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ
نافرمانی کوله ته ۓ او وایه زه نه وایم تاسو ته چه ما سره خزانے دی

اللهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّىْ مَلَكٌ

د الله او نه زه خبر یم د غیب په خبرو او نه زه وایم تاسو ته چه زه فرښته یم

اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَىَّ ؕ

زه خو په هغې روان یم د کوم حکم چه د الله ج ما ته راځي

نکات: ۱ یعنی د عذاب په وخت د هغوئ باطل معبودانو یچ نه کړل معلوم شوه چه ما فوق الاسباب کارساز الله تعالی دے بل څوك نه دے ۲ توحید باندے اوم دلیل عقلی علی سبیل الاعتراف من الخصم ۳ د سمع او بصر نه مراد باطنی دی په قرینه د خَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ ۴ ثم استبعادیه دے ۵ دا جدا دلیل نه دے بلکه د دلیل ۶ اعاده ده مع الزیادة ۶ دینه روستو فمن یدفعه یا اغیر الله تدعون محذوف دے ۷ دا علحده جمله ده الظلمون - ای المشرکون ۸ جواب د سوال مقدر مخکښے تیرشوے دے لولا نزل علیه آیة من ربه ۹ بشارت ۱۰ تخویف اُخروی ۱۱ جواب د سوال خامس سوال په سورۂ زخرف کښے دے لولا القی علیه اسورة من ذهب ۱۲ جواب د سوال سادس یعنی کچرے دا رسول وے نو مونږ ته به ئے په شام کښے د خیزونو نو مونه ښودے ۱۳ داوم سوال جواب سوال په سورهٔ فرقان کښے دے.

موضح القران: ف۱ یعنی په توبه کښے روستوالے مه کوئ کوم غوږونه سترګے او زړونه چه اوس وخت کښے دی شاید چه بیا ملاؤ نه شی ف۲ یعنی کید شی دے روستوالی کښے عذاب راورسیږی نو کچرے توبه هم وباسلے وی نو دے عذاب نه به بچ شئ **فائده** فتح الرحمٰن کښے دا ترجمه شویده آیا هلاکولے شی یعنی هلاك نه شول لیکن ظالمان۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی نه هلاکیږی۔

حاشیه: ۵۳ دا په توحید باندے اوم دلیل عقلی دے اَرَءَيْتُمْ تحقیق په حاشیه ۶۲ باندے تیر شوے دے سمع او بصر نه یا ظاهری حواس مراد دی یا باطنی لیکن په قرینه د وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ راجح دا معلومیږی چه د دے نه باطنی سمع او بصر مراد دی ځکه چه خَتَمَ عَلَى الْقُلُوْب نه د پوهیدلو استعداد سلب کول مراد دی د سرکشئ او عناد په وجه سره د فهم استعداد اخستلے شی او مسخ حالت ته مهر وئیلے شوے دے لکه چه ئے ارفرمائیل خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ او خو ئے چه ... سی او په هغے باندے قائم پاتے کیږی د هغوئ په حق کښے وَرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ ارشاد کیږی ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ کښے ثُمَّ استبعادیه دے او یصدفون ای یعرضون یعنی مونږ آیتونه صفا صفا بیانوو لیکن د دے باوجود

د هغوئ بیاهم اعراض کوی۔

۵۴ دا جدا دلیل نهٔ دے بلکه د شپږم دلیل عقلی اعاده ده او اول تیر شوی دی چه د اَرَءَیْتَ نه روستو استفهام ضرور راحیٔ خواه مذکور وی خواه مقدر. د تیر شوی آیت په قرینه سره دلته اَغَیْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ یا فمن یدفعه مقدر دے او هَلْ یُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ علیحده جمله ده ظالمون یعنی مشرکان ځکه چه هغوئ د شرك په وجه سره په خپلو ځانو نو باندے ظلم کړو یعنی المشرکین لانهم ظلموا انفسهم بالشرك (خازن ج ۲ ص ۱۱۱)

۵۵ دا د سوال مقدر جواب دے سوال مخکښے تیر شوید ے چه کچرے د الله رښتونے پیغمبر وے نو مونږ ته به ئے څومره د خوښے معجزے ښکاره کولے وَ قَالُوْا لَوْ لَا نُزِّلَ عَلَیْهِ اٰیَةٌ الخ

۵۶ منونکو د پاره بشارت اُخروی دے وَالَّذِیْنَ كَذَّبُوْا دا د نه منونکو د پاره تخویف اُخروی دے

۵۷ دا د پنځم سوال جواب دے سوال دا وو چه کچرے دا رسول وے نو د بیر مالدار به وے لکه چه هغوئ وئیلے وو لَوْ لَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰی رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْیَتَیْنِ عَظِیْمٍ (زخرف ع ۳) او فَلَوْ لَآ اُلْقِیَ عَلَیْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ (زخرف ع ۵) وَلَآ اَعْلَمُ الْغَیْبَ دا د شپږم سوال جواب دے سوال دا وو چه کچرے دا پیغمبر وے نو مونږ ته به ئے د شام د ملك د میوو نرخ ښودلے وے د دے د پاره چه مونږ فائده حاصلولے وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّیْ مَلَكٌ دا د اوم سوال جواب دے سوال دا وو چه کچرے دا رسول وے نو بیا خوراك او څښاك ولے کوی لکه چه په سورهٔ فرقان کښے د دوئ قول نقل کړے شوے دے مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ یَاْكُلُ الطَّعَامَ وَیَمْشِیْ فِی الْاَسْوَاقِ (ع ۲)

۵۸ دے آیت کښے الله تعالیٰ نبی علیه السلام باندے صفا صفا اعلان اوکړو چه نه خو ځما سره د الله تعالیٰ خزانے شته او نه زهٔ په غیب خبر یم لیکن اهل بدعت دے آیت کښے یهودیانو پشان عجیبه تحریف کوی او د دے جواب ورکولو کوشش کوی هغوئ وائی چه نبی علیه السلام سره ټولے خزانے موجود وے لیکن الله تعالیٰ هغوئ ته حکم ورکړو چه تاسو خلقو ته دا او وائی چه زهٔ خو په ژبه دے خبرے دعوی نهٔ کوم چه ځما سره د الله تعالیٰ خزانے دی چه فی الواقعه ضرور شته۔ د اشان هغوئ وائی وَلَآ اَعْلَمُ الْغَیْبَ عطف دے په عِنْدِیْ باندے او مطلب دا دے چه زهٔ تاسو ته دا هم نهٔ وایم چه غیب نه خبر نه یم بلکه زهٔ په غیب خبر یم معاذ الله دا په قرآن کښے صریح تحریف دے او دا مطلب بچیله د قرآن د سیاق سباق نه خلاف دے ځکه چه بیا د آیت په راتلونکی حصه کښے به هم دا وئیل ضروری وی چه زهٔ تاسو سره دا دعوی هم نهٔ کوم

چه زهٔ فرښته نهٔ یم بلکه زهٔ فرښته یم او دا صریح غلطی ده لهٰذا ځکه چه وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ په عِندِي باندے عطف کول نشی کیدے د دے عطف لا محالهٔ په لَا أَقُولُ باندے دے د اشان وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ هم لا محاله په لَا أَقُولُ باندے عطف دے ۔

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾

تهٔ او وایه کله برابر کیدے شی ړوند او لیدونکے نو آیا فکر نهٔ کوئ ف

وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ

او خبردار کړه دے قرآن سره ^{۴۹} هغه خلق خو ځکه چه ویریږی د هغے نه چه دوئی جمع کړے شی د خپل رب

لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾

په وړاندے په داسے شان چه د الله ج نه سوا بل څوک حمایتی وی او نه سفارش کونکے د دے دپاره چه هغوی بچ شی

وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ

او مه شړه ^{۵۰} هغه خلق کوم چه آواز کوی خپل رب ته صبا بیګا خواری د هغه

يُرِيدُونَ وَجْهَهُ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن

رضا تا
تا باندے نشته د دوئی د حساب نه هیڅ

شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن

شی او
ستا د حساب نه نه هغوی باندے چه

شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَكَذَٰلِكَ

ته دوئی او شړے نو شے به ته د بے انصافو نه ^{۵۱} او داشان

فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوا أَهَٰؤُلَاءِ مَنَّ اللَّهُ

موږ آزمائیلی دی ځنے خلق په ځینو خلقو سره ^{۵۲} د دے دپاره چه او وائی آیا دا هغه خلق

عَلَيْهِم مِّن بَيْنِنَا ۗ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ ﴿٥٣﴾

دی چه په هغوی باندے الله ج فضل او کړو
زمونږ د ډلو نه آیا نه دے الله ښه پوهیدونکے شکر کونکو لره

وَإِذَا جَآءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ

او کله چه راشی تا ته ۶۲ هغوئ چه ایمان لری په آیتونو زمونږ نو ته اووایه سلام دے په تاسو باندے

كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ لا

لیکلے ستاسو رب ستاسو دپاره په خپل ځان باندے رحمت

نکات: ۱ زجر ۲ تخویف اُخروی ۳ یعنی په احکام الٰهیه کښے سستی کوی او انابت کوی ضد نه تائید اعرض من تولّی عن ذکرنا ۴ زجر ۵ یعنی دیو په بل څه مشقت نشته او علاقه صرف د احکام الٰهیه منل دی ۶ د منکرین د نه منلو اول وجه کاف لبیان الکمال ۷ لام عاقبت ۸ بشارت۔

موضح القرآن: ف۱ یعنی پیغمبر سوا د انسان نور هیڅ نه دی چه د هغه نه محال خبرے طلب کړے شی دیو بل نه او لیدو نکی فرق دے **ف۲** چه دے او ړندو سره د کناره نه ځان بچ اوساتی **ف۳** کافرانو کښے څخه سردارانو نبی علیه السلام ته اووئیل چه ستا سو خبرے آوریدل خو مونږ زړه غواړی لیکن ستاسو سره رذیل خلق کینی مونږ د هغوئ سره برابر نشو کیناستلے۔ دے سره دا آیت نازل شو یعنی د خدائے ج طلب کوی اګرچه غریبانان دی د هغوئ خاطر (لحاظ) مخکښے دے **ف۴** یعنی دولتمند مو غریبانانو سره ازمائیلے دی چه هغوئ ته ذلیل وائی او تعجب کوی چه دا څه لائق دی د الله ج د فضل او الله ج د هغوئ زړونو ته ګوری چه دا شکر منی۔

فتح الرحمٰن: ف۱ د کافرانو سردارانو به نبی علیه السلام ته ویل چه مونږ شرمیږو چه د فقیرانو مسلمانانو سره یو مجلس کښے کینو دوئ د مجلس نه یو طرف کړه چه مونږ تاسو سره کینو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔

حاشیه: ۵۹ دا تخویف اُخروی دے اَلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ یعنی کوم خلق چه د الله ج نه ویریږی او د هغه د حکم تعمیل کوی رجوع کوی ضد نه کوی لکه چه وئے فرمائیل: فَاَعْرِضْ عَمَّنْ تَوَلّٰى عَنْ ذِكْرِنَا (النجم ع ۳)

۶۰ دا زجر دے یعنی کوم خلق چه خالصًا الله ج ته آواز کوی او د هغه رضا طلب کوی تاسو هغوئ د خپل مجلس نه مه شړئ تاسو باندے د هغوئ څه بوج نشته او نه په هغوئ ستا څه بوج شته دے د ټولو رزق د الله په ذمه دے ای جزاتهم و رزقهم علی الله وجزاؤك ورزقك علی الله لاغیره (قرطبی ج ۶ ص ۴۳۳) ستاسو او د هغوئ مینځ کښے صرف د ایمان او عمل صالح تعلق دے د اسے نه چه چرته تاسو د دے خلقو په شړلو سره د ظالمانو نه اوګرځئ۔

۶۱ تر اوسه پورے د توحید په دعوٰی باندے اوه عقلی دلیلونه پیش کړے شوی دی او س دلته د منکرینو د انکار سلسله شروع کیږی چه د د اسے واضح عقلی دلائلو

باوجود منکرین د توحید نه ځکه انکار کوی دا د انکار اوله وجه ده او کاف دلته تشبیه دپاره نه دے بلکه د بیان کمال دپاره دے کاف بیان کمال دپاره دے. لیقولوا کښے لام عاقبت دپاره دے د دے وجه حاصل دا دے چه کوم مشرکان دولتمند وو هغوی به مسلمانان حقیر د سپک ګڼړل او دولتمند به د اسلام طرف ته د سبقت کولو په وجه سره هغوی سره حسد کولو الکفار الاغنیاء کانوا یحسدون فقراء الصحابة رضی الله تعالٰی عنهم علٰی کونهم سابقین فی الاسلام مسارعین الٰی قبوله (روح ج ۷ ص ۱۶۲)

۶۲ د ایمان والاؤ دپاره بشارت دے کتب علٰی نفسه یعنی دا مشرکان اګر چه تاسو حقیر ګڼړی لیکن الله تعالٰی د خپل فضل او احسان په وجه ایمان والاؤ دپاره رحمت او شفقت په خپله ذمه اخستے دے د دے وجه نه کوم مؤمن چه د غلطئ نه روستو رښتونے توبه او باسی نو الله تعالٰی به هغه ضرور معاف کړی.

اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ

چه څوک ستاسو نه اوکړی بدی په ناپوهئ سره بیا د هغے نه روستو توبه کړے

وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ

او نیک شی نو خبره دا ده چه هغه دے بخښونکے مهربان ۶۳ او دا شان ۶۴ مونږ تفصیل سره

وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ

بیانوو آیتونه او دے دپاره چه ښکاره شی طریقه د ګنهګارانو ۶۵ ته او وایه زه منع کړے شوے یم ۶۶

اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّآ

د دے نه چه بندګی اوکړم د هغو کوم چه تاسو بلئ د الله نه سوا نو ته اووایه زه نه

اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَآ اَنَا مِنَ

ځم ستاسو په خوښه پاندے نو بیشکه زه ګمراه به اوشم بے لارے شم او نه به یم د

الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ قُلْ اِنِّيْ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَكَذَّبْتُمْ

هدایت موندونکو نه ته اووایه چه ما سره ګواهی او رسیدلے ده د رب له طرفه او تاسو هغه دروغ

بِهٖ ؕ مَا عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ

او ګڼړله ما سره نشته کوم څیز چه تاسو ئے تلوار کوئ د هغے حکم د هیچا نشته سوا د الله نه

يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِيْنَ ﴿۵۷﴾ قُلْ لَّوْ اَنَّ

بیانوي حق خبره او هغه د ټولو نه بهتر فیصله کوونکے دے ته ووایه که چرې دے

عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِيَ الْاَمْرُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ

څما سره ۶۵ هغه څیز ونه کوم چه تاسو جلتي سره غواړئ فیصله شوے به وے ځما او ستاسو

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾

مینځ کښے او الله ج ښه خبر دے ظالمانو نه

نکات: ۱ د نه منلو دویمه وجه کاف د بیان کمال د پاره دے ۲ درے قول دی ۳ څلورم طریقه د تبلیغ ۴ پنځمه طریقه د تبلیغ ۵ شپږم طریقه د تبلیغ ۶ اووم طریقه د تبلیغ او جواب د سوال مقدر یعنی چه کله موږ نه منو نو عذاب راوړه. جواب ئے ورکړو چه عذاب راوړل څما قبضه کښے نه دی.

موضح القرآن: ف۱ یعنی د غریب مسلمانانو زړونه خوشحاله کړه او خوشحالی ورته واوروه.

فتح الرحمن: ف۱ د مترجم په نزد باندے ظاهره دا ده چه واؤ زائده دے لکه د فُتِحَتْ اَبْوَابُهَا واؤ ف۲ یعنی عذاب څما په اختیار کښے نه دے.

حاشیه: ۶۳ دا د نه منلو دویمه وجه ده یعنی څو مره چه د مشرکانو عقائد بدی بیانولے شی هغومره د دوی په کفر او بغض کښے اضافه کیږی وَلِتَسْتَبِيْنَ کښے د واؤ باره کښے درے قوله دی (۱) د دهٔ معطوف علیه کوم یو مناسب فعل محذوف دے مثلاً لِتُبَيِّنَ سَبِيْلَهُمْ (۲) دا د جمله مذکوره په مضمون باندے معطوف ده (۳) زائده دے.

۶۴ څلورمه طریقه د تعلیم یعنی زهٔ د دے خبرے نه منع کړے شوے یم چه زهٔ هغه باطل معبودان راوبلم کوم چه تاسو رابلئ قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ الخ دا پنځمه طریقه د تعلیم ده یعنی ماته خو دا حکم ملاؤ شوے دے چه زهٔ ستاسو د خواهشاتو او ستاسو د ځان نه جوړ شوی دین پیروی او نه کړم که چرے زهٔ داسے اوکړم نو د هدایت د لار نه به ورک شم او بے لارے به شم قُلْ اِنِّيْ عَلٰى بَيِّنَةٍ دا شپږمه طریقه د تعلیم ده یعنی څما سره خو د الله تعالیٰ له طرفه دلائل موجود دی چه زهٔ ئے ستاسو مخکښے پیش کوم. باقی پاتے هغه عذاب چه د کوم د راتللو تاسو جلتی سره مطالبه کوئ هغه څما په اختیار او تصرف کښے نشته هغه صرف د الله ج په اختیار کښے دے يَدُهٗ وَحْدَهٗ من غير ان يكون لغيره سبحنه دخل ما فيه بوجه من الوجوه (روح ج ۷ ص ۱۹۹)

۶۵ دا اووم طریقه د تبلیغ ده دا شان د سوال مقدر جواب دے یعنی چه کله

ے موږ ته مونږ نو په موږ عذاب راوله نو دوي ته جواب ورکړي شو چه اروايه دا
خما په قبضه کښې نه دے غائبانه حکم او تصرف صرف د الله ج په اختيار کښې دے

وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ؕ وَيَعْلَمُ مَا

او صرف هغه سره دي کنجيانے د غيب ۶۶ فل چه هغه څوک نه پيژني د هغه نه سوا او هغه

فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ؕ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا

پيژني هغه څه کوم چه په ځنګل کښې دي او په درياب کښې دي او نه پريوځي يوه پانړه ليکن دے

وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ

هغه پيژني او نه غور ځيږي يوه دانه د زمکے په تيارو کښې او نه څه لوند څيز او نه وچ څيز

اِلَّا فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝۵۹ وَهُوَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ

ليکن هغه ټول په کتاب روښانه کښې دي فل او خاص هغه دے چه په قبضه کښې اخلي تاسو

وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ لِيُقْضٰٓى

په شپه کښې فل ۲ او پيژني کوم چه تاسو او کړل ۶۶ په ورځ کښې بيا تاسو را پاڅوي په هغې کښې دے

اَجَلٌ مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا

د پاره چه پوره شي هغه وعده کوم چه مقرر شوے ده بيا به تاسو د هغه طرف ته واپس کولے شي

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝۶۰ع وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ وَيُرْسِلُ ع۷ ۱۲

بيا به تاسو ته خبر درکړي د هغې کوم چه تاسو کوئ او هغه غالب دے ۶۶ په خپلو بندګانو باندے او ليږي تاسو

عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ

باندے نګهبان تر دے چه کله راورسيږي ستاسو نه يو تن ته مرګ نو په قبضه کښې

رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُوْنَ ۝۶۱ ثُمَّ رُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ

اخلي هغه لره لاځونو ليګلے شوے فرښتے او هغوي کوتاهي نه کوي فل بيا به او رسولے شي د الله ج طرف ته څوک چه

الْحَقِّ ؕ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۟ وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِيْنَ ۝۶۲

مالک د هغوي رښتونے دے او دي حکم د هغه دے او هغه زر حساب کونکے دے

نکات: ۱ـ اتم دلیل عقلی یعنی هره ذره ذره پیژنی و نکے حاضراو ناظر صرف الله دے او جواب د سوال مقدر دے کچرے تاسو عذاب نه شئ راوستلے نو او بنایئ عذاب به کله راځی جواب ئے ورکړو ماته د دے علم هم نشته دے.

فائده: ـ مَا عِنْدِیْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ نه واخله تر دولو آیتونو کښے د غیر الله نه د تصرف نفی او علم غیب نفی دے ۲ـ دا قاعده کلیه ده ۳ـ دا د قاعده کلیه جزئیات دی او د دے هم حصر دے ۴ـ یعنی د دے خیزونو او جزئیات متغیر حالات هم الله تعالیٰ ته معلوم دی ۵ـ د معتزله و په نزد باندے اعمال نامے مراد دی

داهل سنت په نزد باندے لوح محفوظ یا علم الٰهی مراد دے هم دا معنیٰ ظاهر ده ۶ـ د دے مرجع مذکوره نهار نه دے دویم نهارًا مراد دے ۷ـ تخویفا دنیوی ۸ـ د دینه معلومه شوه چه په روح قبضه کولو باندے یوه فرشته مقرر نه ده

موضح القرآن: ف۱ یعنی په لوح محفوظ کښے ف۲ یعنی د الله ج د حکم نه سوا د هیچا خیال نه ساتی.

فتح الرحمن: ف۱ یعنی د علم غیب قسمونه ف۲ یعنی د خوب په وخت.

حاشیه: ۶۶ـ دا په توحید باندے اتم دلیل عقلی دے دا شان د مقدر سوال جواب دے چه کچرے تاسو عذاب نشئ راوستلے نو او وایئ چه عذاب به کله راځی د دے جواب ئے ورکړو چه د دے علم د الله نه سوا هیچا ته نشته دا قاعده کلیه ده او عِنْدَهٗ ظرف د افاده کولو د پاره مقدم کړے شوے دے وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ دا د قاعده کلیه جزئیات دی او د دے هم حصر دے وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ الخ یعنی د دے خیزونو او جزئیات احوال متغیره هم صرف الله تعالیٰ ته معلوم دی بل هیچا ته معلوم نه دی کِتٰبٍ مُّبِيْنٍ د دے نه مراد اعمال نامے دی کوم چه د فرشتو سره وی یا د دے نه لوح محفوظ یعنی علم الٰهی مراد دے او هم دا اولیٰ او راجح دے اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ وَهُوَ علم الله او اللوح المحفوظ (مدارك ج ۲ ص ۱۳)

۶۷ـ د جَرَحْتُمْ معنیٰ کَسَبْتُمْ ده او بالنهار کښے باء په معنیٰ د فی ده یعنی کوم څه چه تاسو په ورځ کښے کوئ الله تعالیٰ ته هغه ټول معلوم دی يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ د فیه ضمیر نه مراد نهار ثانی دے.

۶۸ـ دا تخویف دنیوی دے تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا اهل بدعت اعتراض کوی چه کچرے یوه فرشته حضرت عزرائیل علیه السلام په یو وخت کښے په زرګونو ځایونو کښے حاضر او ناظر کیدلو سره د زرګونو انسانانو روحونه قبض کوی نو ولے نبی علیه السلام هر ځائے حاضر او ناظر نشی کیدلے د دے آیت سره د هغوئ اعتراض باطل شو ځکه چه دلته رُسُلُنَا د جمع صیغه نه معلومیږی چه د روحونو په قبض کولو باندے صرف یوه فرشته نه ده مقرر بلکه د هغه د لاندے په زرګونو لکهونو فرشتے دی چه د دے کار باندے مقرر

دی هغوئ ته ملائكة الموت يا ملك الموت ، په اراده د اسم جنس ، وائی د دے وجه نه صرف يوه فرشته د انسانانو روحونه نه قبض کوی بلکه هغه صرف د خدائے ج د حکم د لاندے خپلو ماتحت ته حکم ورکوی لهٰذا د اهل بدعت مدعٰی باطل دی د دے تائید د نورو پیرو آیتونو نه کیږی مثلاً په سورة اعراف کښے ع ۴ کښے اوفرمائیل حَتّٰۤى اِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا یَتَوَفَّوْنَهُمْ اهل بدعت د سورة سجده د آیت نه استدلال کوی قُلْ یَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِیْ وُكِّلَ بِكُمْ (ع ۱) هغوئ وائی د لته ملك الموت د واحد صيغه ده نو د دے جواب دا دے چه دا د واحد صيغه نه ده بلکه اسم جنس دے چه قليل او کثير دواړو د پاره استعماليږی۔

قُلْ مَنْ یُّنَجِّیْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَ الْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ

ته او وایه څوك به تاسو خلاص کړی نه د ځنګل د تیارونه او د دریاب د تیارونه چه د عاء د حفت

تَضَرُّعًا وَّ خُفْیَةً ۚ لَىِٕنْ اَنْجٰىنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ

کښے رابلئ تاسو هغه عاجزئ سره او په پټه کچرے خلاص درا کړی مونږ نه د دے مصیبت نه

الشّٰكِرِیْنَ ﴿۶۳﴾ قُلِ اللّٰهُ یُنَجِّیْكُمْ مِّنْهَا وَ مِنْ كُلِّ

نو مونږ به ضرور د احسان او منو نه او وایه الله ج تاسو ته خلاصے ورکوی د دینه او د هر سخے

كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿۶۴﴾ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰۤى

سختئ نه بیا هم تاسو شرك کوئ او وایه هغه قدرت لری نشه په دے باندے

اَنْ یَّبْعَثَ عَلَیْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ

چه راولیږی په تاسو عذاب د برہ نه او یا

تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ اَوْ یَلْبِسَكُمْ شِیَعًا وَّ یُذِیْقَ بَعْضَكُمْ

ستا د خپو د لاندے یا ګډ وډ کړی تاسو لره مختلفو ډلو کښے او د څکوی یو بل ته

بَاْسَ بَعْضٍ ؕ اُنْظُرْ كَیْفَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ لَعَلَّهُمْ

جګړه د یو بل وګوره څنګه مونږ آیتونه بیانوو د دے د پاره چه هغوئ

یَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَ كَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَ هُوَ الْحَقُّ ؕ قُلْ

پوه شی او د دروغ او ګڼل لو ستا قوم نه حال دا دے چه هغه حق دے ته

لَسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۶۶﴾ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ وَّسَوْفَ

او ووایه چه زهٔ نهٔ یم په تاسو باندے ساتونکے د هر یو خبر لره وخت مقرر دے او تر زر به

تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ

پوهه شئ او کله چه ته او وینے تهٔ هغه خلق چه جګړه کوی څمو پهٔ

اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ

آیتونو کښے نو د هغوئی نه په ډډه شئ تر دے چه هغوئی مشغول شی پهٔ بله کومه خبره کښے

نکات: سلہ توحید باندے نهم دلیل عقلی علی سبیل الاعتراف من الخصم سلہ تخویف اُخروی سلہ زجر سلہ نبأ ای امر، مستقر نه د قرارئ ځائے مراد دے یا دا مراد دے چه کله شئ انتها ته رسیږی نو عذاب راځی سلہ تخویف اُخروی سلہ زجر۔

موضح القرآن: فلہ یعنی په یو لحظه (د سترګے رپ) کښے به د انسان د ټول عمر نیکی او بدی ورښکاره کړی۔ فلہ قرآن شریف کښے اکثرو کافرانو سره د عذاب وعده کړے شوے ده دلته ئے واضح کړه چه عذاب هغه هم دے کوم چه په تیر شوو اُمتونو باندے د آسمان نه یا د زمکے نه روان او دا هم دے چه انسان خپل مینځ کښے یو بل سره او جنګوی او یو بل قتل کړی یا ئے قید او ذلیل کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم پوره شو چه دے اُمت کښے به هم دا وی اکثر ئے عذاب الیم، عذاب مهین، عذاب شدید او عذاب عظیم دے خبرونه وئیلے دے او د آخرت عذاب هم دے په هغه چا چه په کفر کښے مړه شول۔

فتح الرحمٰن: فلہ یعنی د وچے او د دریاب مصیبتونه فلہ یعنی ګنړ فوجونه به پیدا شی او یو بل سره به جنګ کوی۔

حاشیه: ۶۹ دا په توحید باندے نهم دلیل عقلی دے علی سبیل الاعتراف من الخصم ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ نه هغه تکلیفونه او سختئ مراد دی کوم چه په وچه یا سمندرونو کښے انسان راګیر کړی عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما شدائدهما واهوالهما التی تبطل الحواس وتدهش العقود (روح ج ۷ ص ۱۷۹) یعنی کله چه مشرکان په تکلیفونو او سختیو کښے راګیر شی نو ټول هر څهٔ هیر کړی صرف یو الله ج رابلی چه کله خاص الله ج متصرف او کارساز دے نو د مصیبت لرے کیدلو نه روستو بیا معبودانو ته وئیلے آواز کوئی او بیا شرک شروع کوئ۔

۷۰ دا تخویف دنیوی دے یعنی کچرے تاسو انکار جاری اوساتئ نو الله تعالی په دے هم قادر دے چه په دنیا کښے د هر طرف نه په تاسو عذاب نازل کړی او ستاسو په

پیغو کینے بغض او دشمنی واچوی تاسو بکړے بکړے کړی او تاسو خپل مینځو کښے جنګ شروع کړی۔

۶۷ دا زجر دے۔ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ د نبأ معنی خبر یا امر (معامله) مستقر یعنی د استقرار وخت او د وقوع وخت۔ مطلب دا چه د هر خیز لو مقرر وخت دے چه کله هغه وخت راځی نو د هغے وقوع کښے هرګز روستوالے نه وی مثلاً چه کله د معاندین انکار او ضد انتهاء ته اورسیږی نو د الله تعالیٰ عذاب راځی وَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ تخویف اخروی طرف ته اشاره ده۔

۶۸ دا زجر دے يَخُوْضُوْنَ یعنی بحث مباحثه کوی او آیتونو پورے پوقے مسخرے کوی چه کله مشرکان مسخرے شروع کړی په آیتونو پورے نو تاسو هغوئ سره مه کینئ لیکن کچرے هغوئ بلے کومے موضوع کښے مشغول وی نو بیا تاسو تبلیغ د پاره د هغوئ په مجلس کښے کیناستلے شئ بَعْدَ الذِّكْرٰى یعنی د نصیحت کولو نه روستو یا دا مر خداوند یا دیدلو نه روستو مطلب دا دے چه کچرے تاسو نه د اعراض کولو حکم یاد نه وی او تاسو د دوئ سره کینئ نو چه کله تاسو ته یاد شی نو هغه وخت د هغے ځائے نه پاځئ او د دینه روستو هلته مه کینئ یا مطلب دا دے چه هغوئ ته د نصیحت کولو نه روستو هلته مه کینئ۔

وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى

او کچرے هیر کړی ستا نه شیطن نو مه کینه د یادیدلو نه روستو

مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۸﴾ وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ

ظالمانو سره ۵۵ او پرهیزګارانو باندے نشته د

مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ

جګړه کونکو حساب نه هیڅ خیز لیکن د دوئ په ذمه نصیحت کول

يَتَّقُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا

دی د پاره چه او وپریږی ۵۶ او پریږده هغه کسان ۵۷ چا چه ګرځولے دے خپل دین لوبے

وَّلَهْوًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ

او تماشا او دهوکه کړی هغوئ لره د دنیا ژوند او نصیحت کوه هغوئ ته قرآن سره ۵۸ دے

تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ۖ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

د پاره چه ګرفتار نشی څوک په خپلو کړو کښے چه نه به وی هغوئ د پاره د الله نه سوا څوک

وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيعٌ ۚ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ

حمایتي او نه سفارش کوونکے او که چرے په بدله کښے ورکړے شته څه قبولے بدلے نه به قبول

مِنْهَا ۗ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا بِمَا كَسَبُوا ۖ لَهُمْ شَرَابٌ

نه وي له هغه نه هم دا خلق دي چه ګرفتار شول په خپلو کړو کښے هغوئ دپاره څکل دي

مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

د ګرمو اوبو او عذاب دے دردناک د کفر په بدله کښے (۷۰)

نکات: سلـ د نصيحت کولو نه روستو يا د معلوميدلو نه روستو **سلـ۲** زجر **سلـ۳** يعني د خپل خواهشات سره د غير الله را بلل يا سورے وغيره وهل د الله معرفت حاصلول **سلـ۴** تخويف اُخروي **سلـ۵** اِنْ په معنی د لَوْ حکه چه په واقع کښے به دا سے او نه کړے شي.

موضح القرآن: ف۱ يعني چه کله جاهلان دين کښے عيب لټوي د هغه مجلس نه پاڅه او که چرے خطره وي چه په خبرو مشغوليدلو کښے به يا ديدل هير شي نو سوا د نصيحت د وخت نه هغوئ سره ناسته مه کوه **ف۲** يعني که څوک او غواړي چه د دا سے جاهلانو سره نصيحت دپاره هم نه کيني ورته فرمائيل چه که چرے نه کيني په دوئ باندے ګناه نشته د هغوئ د ګمراه پاتے کيدلو ليکن نصيحت بهتر دے کيدے شي چه هغوئ او و يريږي نو نصيحت کوونکے به ثواب بيا موي **ف۳** پريږدئ يعني مجلس ورسره مه کوئ ليکن نصيحت کوي چه څوک ناخبره و نه نيولے شي.

حاشيه: سلـ۳ دا زجر دے يعني هغه خلق پريږدئ چا چه لوبے او تماشے خپل دين ګرځولے دے مثلاً غير الله ته آواز کوي او غير الله دپاره تحريمات کوي دا سے خلقو سره تاسو تعلقات پريکړئ ليکن تبليغ او تذکير کوئ (الثاني) اِتَّخَذُوْا ما هو لعب ولهو من عبادة الاصنام وغيرها دينا لهم (الثالث) اِن الكفار كانوا يحكمون في دين الله بمجرد التشهي والتمني مثل تحريم السوائب والبحائر ..... فعبر الله تعالى عنهم بانهم اتخذوا دينهم لعبا ولهوا (كبير صـ۲۹) لکه چه نن صبا مشرک پيران سارنګی سورنے وغيره نورسازونه بجاوه وي او د معرفت الٰهي حاصلولو دعوی کوي.
سلـ۴ دا تخويف اُخروي دے اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ دا د اِبْسَال نه مضارع مجهول ده د اِبْسَال معنی د منع کولو يا محروم کولو ده اَنْ تُبْسَلَ اى تحبس او تحرم الثواب (راغب) د اَنْ نه مخکښے لام او اَنْ نه روستو لا مقدر دے

لِئَلَّا تُبْسَلَ یا اَنْ تُبْسَلَ نه مخکښې مضاف محذوف دے ای مخافة ان تبسل
او کراهة ان تبسل (روح) یعنی تاسو دا سې خلقو سره معاشرتی تعلقات بیخي
پرېږدئ ولې چه دا بالکل واضح ده چه دا خلق ایمان راوړلو او د
خپلو بد عملونو د وجې نه ثواب نه محروم شي چرته هلاک نشي حکه چه چا په
دنیا کښې حق قبول نه کړو په آخرت کښې هغه دپاره سوا د جهنم نه بل هیڅ نشته
هلته به خوک مدد کار او سفارشي وي۔

ف د عَدْلٌ معنی فِدْیَةٌ دہ بخرے بالفرض (حکه چه په واقعه کښې به دا سې
نشي کېدلے) یو مجرم سړے د قیامت په ورځ فدیه د عذاب نه بچ کېدل او خلاصي
لوځې نو هغه نه به فدیه قبول نه کړے شي دا به هغه خلق وي چه د خپلو بد عملونو د
کفر او شرک په وجه سره به د ثواب او اجر نه محروم وي هغوئي به د کفر او انکار په وجه آخرت
کښې ډیر زیات سخت عذاب کښې مبتلا کولے شي۔

قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا یَنْفَعُنَا وَلَا یَضُرُّنَا

ته اووایه آیا مونږ را او بلو د الله نه سوا هغه کوم چه نه نفع رسولے شي مونږ ته او نه

وَنُرَدُّ عَلٰٓی اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِی

نقصان او آیا واپس کړے شو مونږ په پوندو خپلو نه روستو چه الله سمه لار اوښودله مونږ ته

اسْتَهْوَتْهُ الشَّیٰطِیْنُ فِی الْاَرْضِ حَیْرَانَ لَهٗۤ اَصْحٰبٌ

د هغه سړي په شان چه لاره هیره کړې وي هغه نه پیریانو په ځنګل کښې چه کله هغه حیران دے

یَّدْعُوْنَهٗۤ اِلَی الْهُدَی ائْتِنَا ؕ قُلْ اِنَّ هُدَی اللّٰهِ

د هغه ملګري هغه رابلي لارے طرف ته چه راشه مونږ ته ته او وایه چه الله چه کومه لاره

هُوَ الْهُدٰی ؕ وَاُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۷۱﴾ وَ

او ښودله هغه سمه لاره ده او مونږ ته حکم شوے دے چه تابع او سپارلي د پروردګار عالم او

اَنْ اَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوْهُ ؕ وَهُوَ الَّذِیْۤ اِلَیْهِ

دا چه قائم کړئ مونځ او وویرېږئ د الله نه او هم هغه دے چه د هغه په وړاندے به

تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

تاسو ټول جمع کړے شئ او هم هغه دے چه پیدا کړے آسمانونه او زمکه

بِالْحَقِّ ؕ وَ يَوْمَ يَقُوْلُ كُنْ فَيَكُوْنُ ۬ؕ قَوْلُهُ الْحَقُّ ؕ

په صحیح طریقه باندې او کومه ورځ چه اووائي چه موجود شه نو هغه به موجود شي فائده د هغه خبرې

وَ لَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ ؕ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَ

رښتیا ده او د هغه بادشاهي ده کومه ورځ چه پو کې او کړې شي په شپیلۍ کښې پېژندونکې د پټو او

الشَّهَادَةِ ؕ وَ هُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۷۳﴾ وَ اِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ

ښکاره خبرو او هم هغه دې حکمت والا خبردار ﴿۷۳﴾ او یاد کړه کله چه اووئیل ابراهیم ؑ

لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّيْ اَرٰىكَ وَ

خپل پلار آزر ته ننه چه ته مې بتان خدایان زه ویم چه ته او ستا

قَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۴﴾

قوم په ښکاره ګمراهۍ کښې

نکات: ۱ـ د تیر شوو دلائل توحید نه روستو دویمه ثمره ۲ـ قِیْلَ لَنَا الحکم محذوف دے په قرینه د ماقبل ځکه چه ماقبل د متکلم صیغه ده ۳ـ توحید باندې لسم دلیل عقلي دے ۴ـ ای لاظهار الحق ۵ـ دلیل نقلي تفصیلي د ابراهیم ؑ نه او د اولس انبیاء علیهم السلام نه اجمالاً په طور د دستخط۔

موضح القرآن: ف۱ یعني حشر ۲ ف۲ مخکښې ئې چه کوم او فرمائیل چه مسلمانانو له پکار ده چه کافرانو ته او وائي چه مونږ دلیونو په شان بے لارے کیدے نشو دے باندے ئے وړاندے قصه بیان کړه د حضرت ابراهیم علیه السلام چه کله ئے خپل ځان سره معبود برحق بیا مونډ نو بیا د خپل قوم ګمراه کولو سره ګمراه نه شول۔

فتح الرحمن: ف۱ یعني پوخیز ته ف۲ یعني په هغه باندے مونږ ظاهره کړه چه بتان د عبادت لائق نه دي او دا شان ظاهر هم کړه چه ستوري او څه چه په آسمانونو کښې دي او په زمکه کښې دي د عبادت لائق نه دي او وا و په لیکون کښې زائد دے. والله اعلم.

حاشیه: ۷۳ـ دا د تیر شوو نهه عقلي دلیلونو سره ثمره او نتیجه ده یعني دا ثابته شوه چه (۱) د هرجاندار روزي رسان الله تعالیٰ دے (۲) او مصیبتونه او مشکلات هغه آسانوي (۳) انساني حواس او طاقتونه د هغه په قبضه کښې دي (۴) د زمکے او آسمان او د ورځے او شپے ټول تفصیلي غیب

هم صرف هغهٔ ته معلوم دی او (۵) د وچې او لمدې د سختو او تکلیفونو اونورو
د صرف هغه خلاصه ورکوی نو معلومه شوه چه مالك او مختار، متصرف، کارساز
او عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے بل هیڅوك نه دے نو آیا د دے باوجود مونږ د
الله نه دا سے مخلوق را وبللو چا ته چه څمونږ د نفع او نقصان ذره برابر اختیار
هم نلره چه نه متصرف او مختار دے او نه غیب دان کېږے مونږ دا سے او کړو
نو مونږ به د هدایت نه روستو شا بیرته الٹه گمراه او گرځو ځکه چه شرك د تولو
نه لویه گمراهی ده كَالَّذِی اسْتَهْوَتْهُ الخ یعنی د دے صورت کښے به څمونږ حالت
د هغه چا پشان وی چا لره چه شیطانانو د سمے لارے نه بے لارے کړے وی او
هغه حیران سرگردان گرځی او د هغه نور ملگری هغه سمے لارے ته رابلی لیکن
د بد قسمتئ نه هغه خو آواز آوری لیکن سمه لاره ورته نه ښکاری او نه ئے وینی۔
٧٧ د دے مذکوره دلائلو په موجودگئ کښے چه مونږ غیرالله ته آواز کوو نو
داخو لوله گمراهی ده او د هدایت لاره هغه ده کومه چه الله ج مونږ ته ښودلے
ده یعنی د توحید لاره او مونږ ته حکم راکړے شوے دے چه د دغه خدائے په
مخکښے سر و نه ښکته کړو څوك چه د ټولے دنیا جهان والاؤ پروردگار دے اومربی
دے وَاَنْ اَقِیْمُوا د ده نه مخکښے قیل لنا مقدر دے په قرینه د ماقبل۔
٧٨ دا په توحید باندے لسم دلیل عقلی دے بالحق کښے باء په معنیٰ د
لام سره ده د بالحق نه مخکښے مضاف محذوف دے ای لاظهار الحق یعنی دا
زمکه آسمان او دا ټول جهان د حق او توحید ظاهرولو د پاره الله ج پیدا کړے دے
او د هغهٔ د قدرت څهٔ انتهاء ده چه کله هغه د یو څیز د پیدا کولو اراده اوکړی
نو هغه څیز فورًا وجود ته راشی قوله الحق۔ د هغهٔ خبره ربښتیا او په حقیقت
باندے مبنی ده لَهُ الْمُلْكُ الخ د قیامت په ورځ به د هغه بادشاهی وی او د هغه
نه سوا به مجازی طور باندے هم د هیچا هیڅ اختیار حاصل نهٔ وی عٰلِمُ الْغَیْبِ
وَالشَّهَادَةِ د غیب او شهادت کلّی علم هم صرف هغه ته دے بل چا ته نشته د ماقبل
او مابعد قرینه سره د لته هم حصر مراد دے عقلی دلیل نه هم ثابته شوه چه کارساز
او متصرف او غیب دان صرف الله ج دے بل څوك نهٔ دے۔
٧٩ دا په توحید باندے او لسم دلیل عقلی دے حضرت ابراهیم علیه السلام
سره تفصیلًا او باقی انبیاء علیهم السلام سره اجمالًا د تائید او تصدیق او د تحفظ
په طور باندے آزر د حضرت ابراهیم علیه السلام د والد لقب دے او د هغهٔ نوم
په قول د زجاج په اتفاق د مؤرخین (تاریخ په تاء مثناة فوقانیه او الف او راء
مهمله مفتوحه او خاء مهمله او څنو خاء معجمه سره وئیلے دے) وو امام ابن جریر
نه هم تاریخ منقول دے۔ حضرت ابن عباس رض، امام مجاهد، سدّی سعید بن
مسیب او سلمان تیمی وائی چه آزر د حضرت ابراهیم علیه السلام د پلار لقب دے

اول الذکر د رے وارہ بزرګان وائی چه آزر دیو بت پرست قوم وو د ے صورت کے
به د دغه نه ما قبل مضاف محذوف وی یعنی عابد آزر ځنو ویلے دی آزر د دوی
په ژبه کښے په معنیٰ مخطئ (خطا کار او په غلطه لاره تلونکے) دے سمان
تیمی وائی آزر په معنیٰ د اعوج (کوږ) دے آزر د مشرک کید لو په وجه خدای
او په غلط او کوږه لاره روان وو د دے وجه نه دے لقب سره ملقب شو کړه
من الروح ج ۷ ص ۱۹۴ والکبیر ج ۴ ص ۱۰۲)

۸۰ آزر د وزن فعل او علمیت یا وصفیت په وجه سره غیر منصرف دے
او دا د ابیه عطف بیان دے د ځنو خلقو خیال دے چه آزر د حضرت ابراهیم
علیه السلام پلار نه وو بلکه د هغه تره وو او تره ته پلار ویل د عربو ژبے په
محاورت کښے عام دے علامه سیوطی دے باندے د قرآن مجید آیت و تقلبک
فی الساجدین ۵ شعراء (ع ۱۱) سره استدلال کړے دے او ویلی دی چه دے
آیت کښے ساجدین (سجده کونکو) نه د نبی علیه السلام پلاران او نیکونه مراد
دی او تقلب نه پښت په پښت منتقل کیدل مراد دی نو دینه ثابته شوه چه
د نبی علیه السلام پلرونه او نیکونه موحد وو په هغوی کښے څوک مشرک نه
وو د دے وجه نه آزر د حضرت ابراهیم علیه السلام پلار نه وو بلکه تره وو
لیکن صحیح دا ده چه آزر د حضرت ابراهیم ع پلار وو لکه چه د قرآن مجید د نص
نه ظاهره ده د دیکښے د تاویل ګنجائش نشته او قرآن کښے د ساجدین نه صحابه
کرام رض مراد دی لکه چه د آیت د سیاق او سباق نه ظاهریږی لکه چه شاه
عبد القادر دهلوی د دے آیت په تفسیر کښے فرمائی: یعنی کله چه تهجد د پاره
پاڅی او دیارانو خبر اخلی چه په یاد کښے دی یا غافل حق خو دا دے لیکن د نبی علیه
السلام د پلرونو او نیکونو د ایمان او کفر په بحث کښے هرګز ثبوت نه دی
پکار د مسئلے زیات تحقیق به په سورة شعراء (رکوع آخر کښے راځی-
ان شاء الله تعالیٰ

وَكَذٰلِكَ نُرِیْٓ اِبْرٰهِیْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَ

او دا شان ښکاره مونږ او ښودله ابراهیم ع ته عجائبات د آسمانونو او د

الْاَرْضِ وَلِیَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِیْنَ ﴿۷۵﴾ فَلَمَّا جَنَّ

زمکو او د دے د پاره چه د هغه یقین راشی نو هر کله بیا چه تیاره کړه

عَلَیْهِ الَّیْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ هٰذَا رَبِّیْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ

هغه باندے شپے او ولیده هغه یو ستورے نو ویے ویل دا دے خدائے بیا چه کله هغه

قَالَ لَآ أُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ﴿٧٦﴾ فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ

غائب شونو ویې ویل زه نه خوښوم غائبیدونکي بیا چه کله ئې اولیده سپوږمۍ ځلیدونکې

هٰذَا رَبِّيْ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ

ویې ویل دا دے رب خما بیا چه کله هغه غائب شوه ویې ویل که چرے هدایت ونکړی ماته رب خما

لَاَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ ﴿٧٧﴾ فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ

نو بیشکه زه به شم له ګمراه خلقو نه بیا چه کله ئې اولیده لمر

بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ هٰذَآ اَكْبَرُ فَلَمَّآ اَفَلَتْ

ځلیدونکے ویې ویل دا دے رب خما دا دے لوئے دے بیا چه کله هغه غائب

قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٨﴾ اِنِّيْ

شو ویې ویل اے خما قومه زه بیزاریم د هغو نه کوم چه تاسو شریکوئ ما

وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

متوجه کړو خپل مخ د هغه طرف ته چا چه جوړه کړه زمکه او آسمانونه

حَنِيْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٧٩﴾

او د ټولو نه یو طرف ته شولم او زه نه یم د مشرکانو نه ف٢

نکات: ١ کاف د پاره د بیان کمال دے — د ماضي استمراري په ځائے مضارع راوړے شوه — ای یستدل ولیکون ٣ ای هٰذَا رَبِّيْ ؟ همزه د استفهام محذوف ده ابراهیم علیه السلام هیڅکله شرك نۀ وو کړے دے باندے شپږ دلائل دی — اول دلیل ٦ دویم دلیل جمله اسمیه استمراریه باندے دلالت کوی ٨ دریم دلیل — څلورم دلیل

موضح القرآن: ف١ دا د الله تعالیٰ په کلام کښے. تا یسره " او " راحی یعنی الله تعالیٰ ته هر کار په خپله هم مقصود دے او د بل د پاره هم مقصود دے دا نۀ ده چه د واسطے نه په غیر ئے کار اونۀ کړو مثلاً بنده تخم واچولو دُنے د پاره دَ دے نه بغیر وُنه نشی کیدے الله تعالیٰ ئے د دۀ نه بغیر هم کولے شی لیکن وُنه هم مقصود ده او د اشان را ټو کول هم مقصود دی هم دا معنیٰ ده چه د الله تعالیٰ په فعل کښے غرض نشته **ف٢** حضرت ابراهیم علیه السلام هلك وو

وائی او مراد د پاره د بُتانو الله ته او زمکو ته د آسمانونو او د خالق چه اولیدهٔ بے قوم
عبادت کوی خو لهٔ دستورو، نمر، سپوږمئ وے غوښتل چه زهٔ هم یو خدایار رب
اوګرځوم بتان خوے داول نه خوښ نهٔ وو بیا ئے یو ستورے اوګرځولو یا هغه
ډوب شو نو پوهه شو چه داخو پهٔ یو حال نهٔ دے بل کوم حاکم دے په دے باندے
چلوے هغه مستقل وے نو د اعلیٰ حال نه به ادنیٰ ته نهٔ راتلے بیا ئے پهٔ نمر او سپوږمئ
کښے هم عیب بیا موندهٔ تول ئے پریخودل صرف هغه یو ئے اونیوهٔ کوم چه د ټولو نه
لوئے دے او صحیح عقل پکار وو چه یو او منی هغه کوم کار دے چه د هغه نه نشی
کیدے او بل ته ضرورت لری۔

فتح الرحمٰن : ف۱ دَ دعویٰ په وړاندے ئے ظاهره کړه چه بتان دَ عبادت لائق نه
دی او ظاهر ئے کړه چه ستوری او هر څه چه په آسمانونو کښں دی او زمکه کښں دَ عبادت لائق نه
دی واو په ولیکون کښں زائد دے والله اعلم۔

حاشیه : ۸۱ٰه دے کښے کاف د بیانِ کمال د پاره دے یعنی داشان د زمکے
او آسمانونو عجائبات حضرت ابراهیم علیه السلام ته ښودل د اځمونږ کمال دے او
نُرِیَ فعل مضارع د فعل ماضی پهٔ ځائے استعمال کړے شوے دے ای عرفناه
و بصرناه (روح) مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ نه د زمکے او آسمان عجائبات او
د قدرت خداوندی آیت مراد دی وَلِيَكُوْنَ ددهٔ معطوف علیه محذوف دے
ای لیستدل به وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ۔

۸۲ٰه هٰذَا نه مخکښے پهٔ قرینه د عُرف سره همزه د استفهام محذوف ده ګویا
چه دا کلام پهٔ طریق د ارخاء العنان دے د حضرت ابراهیم علیه السلام قوم نجوم
پرست وو او هغه دوئ ته د ستورو تغیر احوال مشاهده اوکړه هغے سره ئے د الله
پهٔ توحید او د ستورو پهٔ عاجزئ او بیچارګئ باندے استدلال کول غوښتل نو
چه کله هغه د غروب آفتاب (نمر پریوتلو) نه روستو مشتری ستورے اولیدهٔ
نو هغه قوم مخاطب کړو وے فرمائیل آیا دا څما رب دے؟ او ستاسو پشان زهٔ
هم دا رب او منم بنه ده لږ شان او درېږئ او ګورئ د دهٔ حشر څهٔ کیږی نو
اَفَلَ چه کله هغه ستورے ډوب شو نو قوم ته ئے واوروله او وے فرمائیل
لَا اُحِبُّ الْاٰفِلِیْنَ زهٔ دا سے خدایان نهٔ خوښوم چه پهٔ یو حال باندے نه پاتے
کیږی او نه زهٔ د دا سے متغیر الحال معبودانو د ربوبیت عقیده لرونکے یم۔

۸۳ٰه بیا چه کله ځلیدونکے سپوږمئ ئے اولیدله نو وے وئیل چه دا څما رب
دے آیا زهٔ هم دا خپل رب او کارساز جوړ کړم فَلَمَّا اَفَلَ الخ لیکن کله چه سپوږمئ
هم ډوبه شوه نو حضرت ابراهیم علیه السلام او فرمائیل کچرے الله تعالیٰ ما ته
هدایت نهٔ وے کړے او ما ته ئے سمه لاره نهٔ وے ښودلے نو نن به زهٔ هم د دے
ستورو عبادت کونکو مشرکانو پشان ګمراه وے۔

۸۴ کله چه حضرت ابراهیم علیه السلام اولیدل چه نمر راختلے دے نو ئے فرمائیل
دا دے زمونږ لوئے دے آیا دا ځما رب دے لیکن چه کله هغه هم ډوب شونو وئے
فرمائیل اے قومه ځما حجت تاسو باندے قائم شوے دے او تاسو اولیدل چه ستاسو معبودان
څومره نا پائیدار دی دے وجه نه زهٔ اعلان کوم چه زهٔ د دے ټولو باطلو معبودانو نه
بیزاریم د کوم چه تاسو عبادت کوئ اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ الخ ما د دے نه مخکښے هم ځپل
مخ د باطل معبودانو نه واړولو ځپل مخ مې هغه پاک ذات طرف ته کړځولے وو چا چه
زمکه او آسمان پیدا کړو او ما هیڅکله د مشرکانو عقیده قبوله نکړه۔

فائده: مرزا غلام احمد قادیانی کذاب پهٔ شروع کښے پهٔ ځپلو ځنو کتابونو کښے
لیکلی وو چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ژوندے دے څوک چه د مسیح د وفات قائل
وی هغه مشرک دے لیکن روستو چه کله ئے د نبوت دعوی اوکړه نو هغه پخپله د وفات
مسیح قائل شو نو پهٔ هغه باندے اعتراض اوکړے شو چه اول خو پهٔ مشرکانه عقیده
باندے وو او نبی د نبوت نه مخکښے هم د شرک نه پاک وی نو د دے جواب ئے ورکړو
او د حضرت ابراهیم ؑ مذکوره واقعه سره ئے د دے خبره باندے استدلال کړے دے
چه د انبیانو نه د نبوّت نه مخکښے د شرک غوندے ګناه هم کیدے شی (العیاذ بالله)
حال دا دے دا صریح کفر دے قادیانی د دے آیتونو کښے په زړا ستړګو سره د پوهے
نه تحریف کړے دے او دعوی ئے کړے ده چه حضرت ابراهیم علیه السلام ته
د دے واقعے نه روستو د الله د توحید علم حاصل شو چه دا بالکل غلط ده هغه د
دے واقعے نه مخکښے هم مؤحد وو شرک خو اکبر الکبائر دے او د الله نبی مخکښے د
نبوّت نه د صغیره ګناه نه هم پاک وی لَئِنْ لَّمْ یَهْدِنِیْ رَبِّیْ صیغه د ماضی منفی
ده او دا شان اِنِّیْ وَجَّهْتُ د ماضی صیغه ده او بیا مخکښے تللو سره ئے او فرمائیل
وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ اَتُحَآجُّوْنِّیْ فِی اللّٰهِ دلته هم وَقَدْ هَدٰنِ د ماضی صیغه ده او بیا د
دینه روستو ئے ارشاد او فرمائیلو وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَیْنٰهَآ اِبْرٰهِیْمَ عَلٰی قَوْمِهٖ
دا ټولے قرینے دے باندے دلالت کوی چه حضرت ابراهیم ؑ د دے واقعے نه مخکښے
هم پهٔ توحید باندے وو او دا د استدلال طریقه هغهٔ ته د الله له طرفه د هغهٔ پهٔ قوم
باندے د حجت پهٔ طور باندے ورکړے شوے خلق وائی چه حضرت ابراهیم ؑ د ولس
کالو پورے پهٔ غار کښے او سیداهٔ د هغے نه روستو هغه د غار نه راووتلے شو دا بے بنیاد ده

وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ ؕ قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّیْ فِی اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ ؕ

او هغه سره جګړه اوکړه ۸۵ د هغهٔ قوم وئے وئیل آیا تاسو ځما سره جګړه کوئ د الله په

وَلَآ اَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ رَبِّیْ شَیْــًٔا ؕ

لوکیدلو کښے او هغه ما ته او ښودلو د توحید لاره) او زهٔ نه ویریږم ۸۶ د هغے نه کوم چه تاسو شریکوئ لیکن دا چه ځما رب

وَسِعَ رَبِّىۡ كُلَّ شَىۡءٍ عِلۡمًا‌ ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوۡنَ ﴿۸۰﴾
څه تکلیف رسول او غواړي فتا احاطه کړے ده ځما رب علم د ټولو څیزونو آیا تاسو سوچ نه کوئ

وَكَيۡفَ اَخَافُ مَاۤ اَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُوۡنَ اَنَّكُمۡ
او زه څنګه اوویریږم ۸۴ستاسو د شریکانو نه او تاسو نه ویریږئ د دے خبرے نه چه

اَشۡرَكۡتُمۡ بِاللّٰهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهٖ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطٰنًا‌ ؕ
شریکوئ الله ج سره هغه چه ئے نه دے نازل کړے د هغې متعلق تاسو باندے څه دلیل

فَاَىُّ الۡفَرِيۡقَيۡنِ اَحَقُّ بِالۡاَمۡنِ‌ ۚ اِنۡ كُنۡتُمۡ
اوس دواړو ډلو کښے کوم یوه مستحق ده د امن او وایئ کچرے

تَعۡلَمُوۡنَ‌ۘ ﴿۸۱﴾ اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَلَمۡ يَلۡبِسُوۡۤا
تاسو پوهیږئ کوم خلقو چه یقین اوکړو ۸۵ه او ګډ ورله نه کړو هغوئ

اِيۡمَانَهُمۡ بِظُلۡمٍ اُولٰۤـئِكَ لَهُمُ الۡاَمۡنُ وَهُمۡ
خپل یقین بیخنه نقصان هغوئ د پاره ده دلجمعی (امن) ده او هم هغوئ دی

مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿۸۲﴾ ع ۱۷ ۹
په سمه لاره باندے

نکات: ۱ پنځم دلیل ۲ معبودان باطله ۳ مستثنیٰ منقطع ده یعنی کچرے څه او شول نو زه به هم داګنړم چه د الله ج له طرفه شوی دی ۵ معبودان باطله ۶ ای بعبودیة ۷ داهم د حضرت ابراهیم ع کلام دے یا ادخال الٰهی دے.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی د محنت د قسمونو نه.

حاشیه: ۸۵ کله چه حضرت ابراهیم ع د الله ج له طرفه مامور شو د شرک مذمت ئے اوکړو نو د هغه مشرک قوم هغه سره جنګ جګړه شروع کړه نو هغه خپل قوم ته اووئیل چه تاسو د الله ج په توحید کښے ځما سره جګړه کوئ حال دا دے چه الله تعالیٰ ماته دلائل ثلاثه یعنی عقلی نقلی وحی سره د توحید سمه لاره ښودلے ده فِى اللّٰهِ دلته مضاف محذوف دے ای فی توحیده . . . . وقد هدانی الی التوحید (مدارك ج ۲ ص ۱۶) ای بالدلائل الثلاثة.

۸۶ د مقدر سوال جواب دے مشرکانو دجګړے په دوران کښے دا هم وئیلی وو
چه څمونږ د معبودانو مخالفت پرېږده کنی نو تا ته به نقصان اورسوی نو دے جواب ئے
ورکړو چه کوم تاسو کارساز او متصرف ګڼړلے دے دالله ج په عبادت او راپلو کښے ئے
شریکوئ هغه بالکل عاجز دے زهٔ د هغوئ نه بالکل نهٔ ویرېږم لیکن کچرے ما ته څهٔ
نقصان اورسیږی نو زهٔ به بیا هم دا ګڼړم چه دا د الله ج له طرفه ما ته رسیدلے دے
ځما درب علم په هرڅهٔ باندے احاطه کونکے دے۔

۸۷ مَآ اَشْرَكْتُمْ کښے مَآ نه باطل معبودان مراد دی او په صله کښے عائد محذوف
دے ای مَآ اَشْرَكْتُمُوْهُ دا شان مَالَمْ یُنَزِّلْ کښے د ما نه معبودان باطله مراد دی
او په بِهٖ کښے مضاف محذوف دے ای بمعبودیته یعنی ویریدل خو تاسو له پکار
دی چه علیم قدیر او متصرف او کارساز هستئ سره د هغه عاجز بندګان
شریك ګرځوی چه د هغو په معبودکیدلو باندے هیڅ دلیل موجود نهٔ دے
زهٔ ستاسو د هغه باطل معبودانو نه څنګه اوویرېږم کوم چه عاجز او بے اختیار دی
فَاَیُّ الْفَرِیْقَیْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ اوس تاسو اووایئ چه دعذاب نه دامن او
سلامتیٔ مستحق څوك دے تاسو شرك کونکی یئ یا زهٔ د شرك نه لرے کیدونکے
اوصرف دیو الله ج عبادت کونکے - راتلونکی آیت کښے د دے سوال جواب دے۔

۸۸ دا داول سوال جواب دے او د حضرت ابراهیم علیه السلام کلام دے
یا ادخال الهی دے ظُلْمٌ نه مراد شرك دے لکه چه په صحیح بخاری ج۲ ص۶۶۶
کښے دی چه کله دا آیت نازل شو نو صحابه کرام اوویریدل د نبی علیه السلام په
خدمت کښے ئے عرض اوکړو یا رسول الله څمونږ نه کوم یو دے چه هغه ظلم او
زیاتے نهٔ دے کړے دے سره د سورۃ لقمان آیت اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِیْمٌ
نازل شو یعنی امن او سلامتیا صرف هغه خلقو د پاره ده چا چه ایمان راوړلو او چا
چه د الله ج توحید او منلو او بیا ئے هغے کښے د زره برابر شرك مِلاؤ
نهٔ کړو۔

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَیْنٰهَآ اِبْرٰهِیْمَ عَلٰی قَوْمِهٖ ؕ نَرْفَعُ

او دا څمونږ ۸۹ دلیل دے چه مونږ ورکړے وو حضرت ابراهیم ع ته او د هغهٔ د قوم په مقابله

دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِیْمٌ عَلِیْمٌ ﴿۸۳﴾

کښے درجے اوچتوو مونږ چه د چا اوغواړو ستا رب حکمت والا دے خبردار

وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ ؕ كُلًّا هَدَیْنَا ۚ وَنُوْحًا

او اوبښلو مونږ ابراهیم ع ته ۹۰ اسحق ع او یعقوب ع ټولو ته مونږ هدایت کړے وو او نوح ع ته

هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَسُلَيْمٰنَ

هدایت اوکړو مونږ د دوئ نه اولونه مخکښې او د هغه د اولاد نه داؤد ؑ او سلیمان ؑ

وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسٰى وَهٰرُونَ ۚ وَكَذٰلِكَ

او ایوب ؑ او یوسف ؑ او موسیٰ ؑ او هارون ؑ ته او مونږ داشان

نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٤﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيسٰى

بدله ورکوو نیکی کونکو ته او زکریا ؑ او یحییٰ ؑ او عیسیٰ ؑ

وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِنَ الصّٰلِحِينَ ﴿٨٥﴾ وَإِسْمٰعِيلَ

او الیاس ؑ ته ټول دی د صالحانو نه او اسمٰعیل ؑ

وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى

او الیسع ؑ ته او یونس ؑ ته او لوط ؑ ته او ټولو ته مونږ بزرګي ورکړه

الْعٰلَمِينَ ﴿٨٦﴾ وَمِنْ اٰبَائِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَ

په ټول جهان والاؤ باندے او هدایت اوکړو مونږ بعضو ته ۹ د دوئ د پلرونو او د

إِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ إِلٰى صِرَاطٍ

نیکونو نه او د دوئ د اولاد نه او د رونړو نه او مونږ دوئ غوره کړی شه

مُسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾

لاره مونږ روان کړل

نکات: سل شپږم دلیل ۲ د اتلور واړه انبیاء اصول د انبیاء دی سل ۳ ضمیر مجرور نوح ؑ ته راجع دے ځکه چه یونس علیه السلام په هیڅ صورت کښې هم د ابراهیم علیه السلام د ذریت نه نه شی کیدلے سل ۴ دا دواړه ډیر لوئے بادشاهان وو سل ۵ دے دواړو ډیر لوئے مصیبتونه برداشت کړی دی سل ۶ دے دواړو ته ډیرے لوئے معجزے ورکړے شوے وے سل ۷ دا څلور ډیر زیات عبادت کونکی وو سل ۸ دا دے څلور واړو د دین شهرت او نشر سل ۹ یعنی د دوئ نه چه د چا پلاراو وو په قرینه د ذُرِّيّٰتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ

حاشیه: سل ۸۹ تِلْكَ سره د حضرت ابراهیم علیه السلام تیر شوی استدلال

طرف ته اشاره ده اشارة الی جمیع ما احتج به ابراهیم علیه السلام علی قومه (مدارک ج ۲ ص ۱۴).

۹۰ د حضرت ابراهیم علیه السلام تفصیلی ذکر نه روستوئے اجمالی طور باندے د نورو انبیاء علیهم السلام ذکر اوکړو د اولس پیغمبرانو ذکرئے نوم اخستلو سره اوکړو او د باقی اشاره سره د انبیاء علیهم السلام ذکر کښے هم ډیر بهترین ترتیب خیال کښے ساتلے شوے دے اول څلور یعنی حضرت ابراهیم، اسحاق، یعقوب او نوح علیهم السلام اصول د انبیاء دی بیا داؤد او سلیمان علیهما السلام ډیر لوئے بادشاهان وو حضرت ایوب او حضرت یوسف علیهما السلام ته په ژوند کښے ډیر لوئے مصیبتونه مخے ته راغلی وو موسیٰ او هارون علیهما السلام ته لوئے لوئے معجزے ورکړے شوے وے - زکریا، یحییٰ، عیسیٰ او الیاس علیهم السلام ډیر لوئے عابدان او زاهدان وو او د اسمٰعیل، الیسع، یونس او لوط علیهم السلام د دینونو زیات شهرت او نشو او نه د دوئ اتباع وو (من البحر ج ۴ ص ۱۷۴) وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ کښے ضمیر کچرے حضرت ابراهیم علیه السلام طرف ته راجع شی نو لوط علیه السلام به د وراره کیدلو د وجه نه د هغه په ذریت کښے شامل شی لیکن یونس علیه السلام د یکښے نشی شاملیدے د دے وجه نه د ضمیر مرجع نوح علیه السلام گرځول صحیح دی -

۹۱ د اولس پیغمبرانو نومونو ذکر کولو نه روستوئے اوس دلته د باقی انبیاء علیهم السلام ذکر اجمالاً اوکړو یعنی د مذکوره نبیانو د پلرونو او نیکونو نه د هغوئ د اولاد نه او د هغوئ د برادرئ (رورولئ) نه چه څومره انبیاء تیر شوی دی هغه ټولو ته مونږ په باقی مخلوق باندے اوچتوالے ورکړے وو او هغه ټول مونږ په سمه لاره باندے یعنی د توحید په لاره باندے روان کړے وو او رهنمائی مو ورته کړے وه وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ (د مذکوره بالا پلرونو نه) د دے نه مراد دا دے چه دکومو انبیاؤ ۴ پلرونه وو دا شان د وَمِنْ ذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ مطلب دا دے چه د دوئ نه چه دچا اولاد او رور وو دا مطلب نه دے چه د دوئ نه د هر یو پلار هم وو او د هر یو اولاد هم وو لکه چه قادیانی وائی او د دے سره حضرت عیسیٰ علیه السلام د پلار کیدلو باندے د پاره استدلال کوی -

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِیْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ

دا د الله هدایت دے ۹۲ دے باندے چلوی چالره چه او غواړی د

عِبَادِهٖ ؕ وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۸۸﴾
خپلو بندګانو نه او که چیرے دے خلقو شرک کړے نو خامخا به ضائع شوے وے کوم عمل چه هغوئ کړے وو

اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ
دا هغه خلق دي ۹۳ چه ورکړے وو مونږ دوئ ته کتاب او شریعت او نبوت

فَاِنْ یَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا
بیا که چیرے دا اوړه منی مکے والا نو مونږ دے خبرو دپاره مقرر کړے دی داسے خلق

لَّیْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِیْنَ ﴿۸۹﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ هَدَى
چه د دینه منکر نه دی دا هغه خلق وو چا ته چه الله تعالیٰ هدایت اوکړو

اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ؕ قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ
۹۴ نو لاړ شه د دوئ په طریقه باندے ته اووایه چه زه نه غواړم ستاسو نه دے باندے

اَجْرًا ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۰﴾ ع وَمَا قَدَرُوا
څه مزدوری دا خو محض نصیحت دے د جهان والاؤ دپاره ۲ او اونه پیژندله هغوئ

اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖۤ اِذْ قَالُوْا مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى
۹۵ الله په پیژندلو کله چه هغوئ اووئیل نه دے نازل کړے الله په هیڅ یو

بَشَرٍ مِّنْ شَیْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِیْ
انسان باندے څه خیز تپوس اوکړه چا نازل کړو ۹۶ هغه کتاب کوم چه

جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ
موسیٰ علیه السلام راوړے وو روښانه وو او هدایت وو خلقو دپاره کوم چه تاسو

قَرَاطِیْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ كَثِیْرًا ۚ
پانړے پانړے کړو خلقو ته هم اوښودو او ډیرے خبرے تاسو پټے اوساتلے

نکات: سلہ یاخو مونږ څخه کتاب باقی اوساتلو یا مونږ نورے کتاب ورکړو
سلہ یعنی پوهه سلہ بِهَا ای بالاٰیت سلہ ای شرکوا مکة سلہ ای الصحابة

دے چې ټولو انبياء عليهم السلام صرف الله تعالیٰ متصرّف منلو نو هم دے باندے اوسیږی که شکوی لث. جواب د شکوی او اول دلیل د موسیٰ علیه السلام صداقت دپاره.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی مهاجرین او انصار او ټول غوره کړے شوی ف۲ نو ټول انبیاؤ صبر او کړو دکافرانو په تکلیف رسولو باندے نو ته هم داشان صبر کوه.

حاشیه: ف۹۲ ذالك سره د هَدَيْنٰهُمْ نه مفهوم شوے مصدر طرف ته اشاره ده ای الهدی الی لطریق المستقیم هو هدی الله (بحر ج۴ ص۱۷۵) روح ج۷ ص۲۱۵) وَلَوْ اَشْرَكُوْا الخ د دے د ضمیر نه ټول انبیاء علیهم السلام مراد دی دکوم ذکر چه مخکښے صراحةً یا کنایةً شوے دے د انبیاء علیهم السلام شرك کول اګر چه محال دے لیکن بالفرض کچرے هغوئ هم شرك کړے وے نو د هغوئ عملونه به هم ټول برباد کړے شوی وے دے تعبیر سره د شرك انتهائی شناعت او قباحت (بدی) ذکر کول مقصود دی.

ف۹۳ هغوئ ته مونږ کتاب، حکمت او نبوت ورکړے وو یعنی رسولانو باندے ئے کتابونه او صحیفے نازل کړے او د هر صاحب کتاب نه روستو راتلونکی نبی باندے ئے داولنی کتاب اتباع لازم کړه تر دے چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندے د نبوّت سلسله ختم شوه فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا الخ ضمیر نه آیات یا نبوت مراد دے او هٰٓؤُلَآءِ اسم اشاره سره اهل مکه او قوم نه صحابه کرام رضی الله عنهم مراد دی یعنی کچرے د مکے مشرکان د توحید آیتونه یا نبوت نهٔ منی نو او دِ نهٔ منی مونږ یو قوم د توحید په آیتونو باندے او د انبیاؤ په نبوت باندے ایمان راوړلو دپاره مقرر کړے دے او هغه د ومره کلك ایمان والا او همیشه یقین لرونکی دی چه په هیڅ یو وخت کښے هم د هغوئ په ایمان کښے د ذرّه برابر هم فرق نهٔ راځی لیسوا بها بکٰفرین ای فی وقت من الاوقات بل مستمرون علی الایمان بها .... قال ابن عباسؓ ومجاهدؒ هم الانصار واهل المدینة وقیل اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم مطلقًا (روح ج۷ ص۲۱۶ ابوالسعود ج۴ ص۱۳۶)

ف۹۴ هُدٰی نه روستو هم عائد محذوف دے او اُولٰٓئِكَ نه مخکښے ذکر شوی ټول انبیاء علیهم السلام مراد دی یعنی دے ټولو انبیاء علیهم السلام صرف یو الله ج متصرف او کارساز منلو او هغهٔ سره ئے هیڅوك شریك نهٔ کړځولو د دے وجه نه تا سو هم د توحید په مسئله کښے د هغه په نقش قدم باندے لاړ شئ دلته نه مراد صرف ایمان او توحید او د دین اصول دی ټول احکام او شرائع مراد نهٔ دی ځکه چه شرائع د ټولو انبیاؤ علیهم السلام مختلف راغلی دی. والمراد بهُدٰهم طریقتهم فی الایمان بالله وتوحیده واصول الدین دون الشرائع فهی مختلفة (مدارك)

ف۹۵ داپهٔ یهودیانو باندے شکوی ده حضرت ابن عباس رض فرمائی ماعظموا

الله تعالیٰ حق تعظیمه او ابوالعالیه فرمائی ما وصفوه حق صفته او د قدروا ضمیر
الله تعالیٰ حق تعظیمه او ابوالعالیه فرمائی ما وصفوه حق صفته او د قدروا ضمیر
د جمهورو په نزد بانده یهود مراد دی او اذ ظرف - قدروسره متعلق دے (روح)
مَا اَنْزَلَ الخ یعنی تر ننه پورے په هیڅ یو انسان بانده خدائ کوم کلام نه دے نازل
کړے دے سره د دوئ مقصد د نبی علیه السلام په رسالت بانده عیب لګول
وو چه کله ته هم بشر یے نو د ښه معلومه شوه چه په تا بانده هم د الله ج له طرفه
هیڅ وحی نه ده نازل شوے -

۹۶ دا جواب شکوی ده او د یهود یا غیر معقول قول رد دے چه کچرے
ستاسو د قول مطابق الله تعالیٰ په کوم انسان بانده څه شے نازل کړے نه وے
نو او بنا ئے حضرت موسیٰ ؑ بانده څوک چه تاسو انسان منی دا تورات چا نازل
کړے دے چه تول نور او هدایت وو تاسو هم د الله ج کتاب منئ او دا هم منئ
چه هغه په حضرت موسیٰ ؑ نازل شوے وو تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ الخ دا جمله
استینافیه ده او د یکښے د یهودو د علماؤ دیو شرارت ذکر کړے شوے دے
یعنی دا تورات هغه کتاب دے چه د کوم د یرے حصے تاسو د خپلو خواهشاتو
نفسانیه و مطابق محرّف او بدل کړے په خپلو کاغذونو بانده لیکی او خپلو
منونکو ته او عقیدتمندو ته ئے ښکاره کوئی هغوئ ته خو اظهار دے کوئ چه
دا د الله ج د کتاب تورات آیتونه دی چه په حضرت موسیٰ ؑ بانده ئے
نازل کړل دا شان د تورات چه کوم مسائل د تورات ستاسو د خواهش مخالف
او د مذهبی پاپائیت د بنیادونه لړزونکی وی هغه پټوئ او کوم
چه ستاسو د خواهشات مطابق دی هغه بیانوئ نن صبا د علماء سوء هم دا
طریقه ده هغوئ په قرآن کښے لفظی تحریف خو نشی کولے د دے وجه نه د خپل
ځان نه د جوړو شوو مسئلو مطابق د آیتونو
مطلب د خپل ځان جوړ کړے
عوامو ته ئے وائی -

وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ط قُلِ
او تاسو ته او ښودل شو ۹۷ کوم چه نه پیژندل تاسو او ستاسو پلرونو او وئیکوو دا نه او وایه
اللّٰهُ لا ثُمَّ ذَرْهُمْ فِيْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَ
چه الله نازل کړو بیا پریږده هغوئ په خپلو باطلو کښے لوبے کوونکی ۳ او دا
هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِيْ
قرآن کتاب دے چه مونږ نازل کړے دے برکت والا او تصدیق کوونکے د هغه

بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ أُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا ۚ

چه وړاندې ده نه مخکښې دے او دے دپاره چه ته اوویروے د مکې والا او د هغې نه چاپیر خلق

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَ

او چا له چه یقین دے د آخرت هغوئ ایمان راوړی په دے باندے او

هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ

هغوئ دی د خپل مانځه نه خبرداره ف۳ او هغه نه زیات ظالم څوک دے ف۴

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوْحِيَ

چه اوتړی په الله ج باندے ف۵ دروغ یا اووائی په ما وحی نازل شوے

إِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ سَأُنْزِلُ

او په هغه وحی نه ده نازل شوے هیڅ هم او څوک چه اووائی چه زه هم نازلوم

مِثْلَ مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ ۗ وَلَوْ تَرٰى إِذِ الظّٰلِمُوْنَ

په مثل د هغې کوم چه الله ج نازل کړو ف او که اوګورے ته او وینے کوم وخت ف۷ چه ظالمان وی

فِيْ غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰئِكَةُ بَاسِطُوْا أَيْدِيْهِمْ ۚ

د مرګ په سختو کښې او فرښتے خپل لاسونه او کډاوی ف۸

أَخْرِجُوْا أَنْفُسَكُمْ ۗ

چه راوباسی خپل روحونه

نکات: ن۱ دویم دلیل د موسٰی علیه السلام د صداقت دپاره یعنی د هغهٔ د نبوت په ذریعه تاسو د امور غیبیه و نه خبر کړے شوئ ن۲ دلیل وحی د شرک فی التصرف نفی دپاره او ترغیب یعنی دغه دوه دلیلونه د دے پیغمبر صلی الله علیه وسلم په صداقت باندے موجود دی نو بیا د پیغمبرولے نهٔ منئ ن۳ ای لتبین و لتنذر ن۴ زجر ن۵ ای شرکا ن۶ شکوی ن۷ تخویف اُخروی ن۸ ای شدائد الموت ن۹ وهلو دپاره یا روح قبض کولو دپاره۔

موضح القرآن: ف۱ ام القری نوم دے د مکّه د دے معنی ده د کلو

جرړه یا د دے د پاره چه د ټولو عربو مرجع وه یا وائی چه دا وبونه اول زمکه همدا ښکاره شوے ده او د ګیر چاپیره نه مراد عرب دی ترڅو چه پهٔ هنوئی حکم وو یا ټول جهان دے۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی د تورات د آیتونو ټول قرآن ظاهر کول کئی نو پهٔ یقین سره مخکښو ته معلوم نهٔ وو او نه ئے پیژندل **ف۲** حاصل دا دے چه کچرے یهود وائی چه الله تعالیٰ پهٔ هیڅ بشر باندے وحی نهٔ ده نازل کړے نو تورات سره پهٔ دے اعتراض کیدے شی (او تورات سره جواب ورکولے شی) او کچرے وائی چه نازل کړے ده نو د قرآن نازلیدل بعید ګنړل خالص تعصب دے نو د قَالُوْٓا پهٔ ځائے د اَنْ قَالُوْٓا وئیلے شوے دے **ف۳** انذار اول عرب ته ورکړے شوے دے ځکه چه عربی ژبه باندے پوهیږی او ثانیًا ټول اهل ارض ته پهٔ واسطه د ترجمه سره نو دلته اول انذار مراد دے پهٔ مثل د آیت هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّیّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ الآیه او پهٔ آیت وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ عام دا اول او ثانی نه مراد دے **ف۴** یعنی عقیده ئے او ساتله چه بحیره او سائبه دا د الله ج پهٔ حکم سره دی او د سلف اتفاق دلیل ګرځوی پهٔ دے باندے والله اعلم **ف۵** یعنی د قرآن پشان کتاب انشاء او لیکلے شم او انشاء ته ئے پهٔ طریقه د مشاکلت سره انزال وئیلے شوے دے **ف۶** یعنی دهی۔

حاشیه: ۹۷ دا پهٔ حضرت موسیٰ علیه السلام باندے د وحی نازلیدلو دویم دلیل دے یعنی د تورات پهٔ ذریعه تاسو ته د هغه غیبی امورو علم حاصل شو کوم چه تاسو نهٔ پیژندل نه ستاسو پلرونو او نیکونو قُلِ اللّٰهُ پهٔ قرینه د سوال دلته فعل محذوف دے ای انزل الله دا د تیر شوی قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الخ جواب دے نبی علیه السلام ته ئے د جواب ورکولو حکم ورکړو دے طرف ته اشاره کول مقصود دے چه یهود به د ضد او عناد پهٔ وجه سره د حق نه انکار کوی د دے وجه نه تاسو دا جواب ورکړئ وَهٰذَا كِتٰبٌ دا د شرك فی التصرف نفی باندے دلیل وحی دے حضرت موسیٰ علیه السلام باندے ئے د نزولِ کتاب ذکر اوکړو وئے فرمائیل دا قرآن هم مونږ نازل کړے دے او هغه د توحید مسئله او د دین پهٔ اصول کښے د تورات تصدیق کوی نو بیا تاسو دا ولے نهٔ منئ۔

۹۸ دا مشرکانو د پاره زجر دے ګڼړ کَذِبًا نه مراد شرك دے یعنی غیر الله د پاره تحریمات کول او د غیر الله نذر او نیاز وغیره مثل عمرو بن و اتباعه لحی د اتباعه القائلین بانّ الله حرم السوائب والحوامی الخ (مظهری ج ۳ ص ۳۰۰) اَوْ قَالَ اُوْحِیَ اِلَیَّ دا شکوی ده لکه چه مسیلمة کذاب د نبوت او وحی نازلیدلو دعوی کړے وه وَمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ الخ لکه چه مشرکانو وئیلی وو لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ

۹۹ دا تخویف اُخروی دے غَمَرٰتِ الْمَوْتِ یعنی د مرګ سختئ او تکلیفونه باسطوا اَیْدِیْهِمْ لا سونه خوروونکی یعنی د روح قبض کولو د پاره یا د وهلو د پاره ای بالعذاب عن ابن عباس رضی الله عنهما انهم یضربون وجوههم وادبارهم ... وذهب بعضهم اذا هذا تمثیل لفعل الملٰئکة فی قبض ارواح الظلمة بفعل الغریم الملح یبسط یده الی من علیه الحق ویعنف علیه فی المطالبة ولا یمهله الخ (روح ج ۷ ص ۲۳-۲۲) بِمَا کُنْتُمْ کښے باء سببیه ده یعنی دا عذاب تاسو ته په الله ج باندے د دروغ ویلو او د هغهٔ د آیتونو نه د انکار کولو په وجه سره درکولے شی

اَلْیَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا کُنْتُمْ

ننن تاسو ته بدله کښے ملاویږی د ذلت عذاب په هغه وجه سره

تَقُوْلُوْنَ عَلَی اللّٰهِ غَیْرَ الْحَقِّ وَکُنْتُمْ عَنْ اٰیٰتِهٖ

چه تاسو به ویل په الله ج باندے دروغ خبرے او د هغه د آیتونو نه به مو

تَسْتَکْبِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰی کَمَا

هم تکبر کولو او ضرور تاسو مونږ ته راغلئ یو یو څنګه چه مونږ

خَلَقْنٰکُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَکْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰکُمْ

تاسو پیدا کړی وئ اول ځل او پریښود تاسو کوم اسباب چه مونږ تاسو ته

وَرَآءَ ظُهُوْرِکُمْ ۚ وَمَا نَرٰی مَعَکُمْ شُفَعَآءَکُمُ

درکړی وو د شا نه او نه وینو مونږ ستاسو سره ستاسو سفارش کونکی

الَّذِیْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِیْکُمْ شُرَکٰٓؤُا ۭ لَقَدْ

کوم چه به تاسو بیا نول چه هغوئ ستاسو حصه داردی خواه مخواه

ع
تَّقَطَّعَ بَیْنَکُمْ وَضَلَّ عَنْکُمْ مَّا کُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۹۴﴾ اِنَّ

پریکړے شوه ستاسو علاقه او ختم شوے کوم دعوٰی چه تاسو کولے الله جل جلاله دے

اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰی ۭ یُخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ

چوی دانه ۱۰۱ او زړی دا او باسی ژوندی د مړی نه

الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۚ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

ژوندے او را ویستلو والا دے د ژوندی نه د مړی دا دے الله بیا

فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۹۵﴾

تاسو کوم طرف ته گرځولے شی

نکات: ۱ دا د نیک پیرانو په حق کښے دے ۲ ای وَصْلُکُمْ ۳ دلیل عقلی په توحید نمبر ۱۱ یعنی په هر شی کښے متصرف الله ج دے بل څوک نه دے۔

حاشیه: ۱ د فَرْد یا فرِیْد جمع ده او دا د ضمیر خطاب نه حال دے مَا خَوَّلْنٰکُمْ ما اَعْطَیْنٰکُمْ یعنی مونږ چه کوم مال او دولت تاسو ته درکړے وو شُفَعَآءَکُمْ هغه نیک پیران او اولیاء الله کوم چه مشرکان دخدائے ج سره سفارش کونکی گنړی او د هغوئ عبادت کوی او د هغوئ نذرونه نیازونه ورکوی دا به مشرکانو ته ویلے شی چه نن خو تاسو ټول ځانله او یو یو میدان حشر ته راغلئ نن نه تاسو سره مال دولت شته دے نه امدادیان کوم څه ' با ندے چه تاسو مغرور وئ او نه نن ستاسو هغه سفارشیان ستاسو سره دی کوم تاسو د الله ج په ربوبیت اوربیلو کښے شریک گرځول او د کوم باره کښے چه ستاسو یقین وو چه هغوئ به په هر سختو وخت کښے ستاسو په کار راځی نن هغه چرته دی لَقَدْ تَّقَطَّعَ ای الوصل بینکم نن ستاسو او د هغوئ مینځ کښے ټول تعلقات منقطع شوی دی او ستاسو ټول خواهشات او ارمانونه دخاورو سره ملاؤ شوی دی۔

۲ دا په توحید باندے یوولسم دلیل عقلی دے یعنی هر څه کښے متصرف صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے دا دلیل دے ځائے نه واخله اِنَّ فِیْ ذٰلِکُمْ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ پورے چلیدلے دے دیکښے الله تعالیٰ د خپل قدرت ډیر نشانات د عالم علوی او سفلی متعلق بیان کړیدی الحَبُّ د حَبَّةٌ جمع ده د حبة معنی دانه ده النَّوٰی ذرے (هډوکے) د نَوَاةٌ جمع ده چه کله دانه یا ذرے په زمکه اوکرلے شی نو الله تعالیٰ خپل قدرت سره په هغه کښے چاودے اوکړے چه د هغے نه بوټے راوځی هغه حیّ (جاندار مومن یا مارغه) نه مَیِّت (بے جان، کافر یا هگئ) را وباسی او د مَیِّت نه حیّ یعنی کافر نه مؤمن پیدا کوی او د بے روح هگئ نه د ساه والا بچے پیدا کوی. دا درے واړه خبرے د عالم سفلی سره تعلق لری۔ ذٰلِکُمُ اللّٰهُ الخ یعنی کومه هستی چه د دے مذکوره صفات مالك ده په حقیقت کښے صرف هغه اِلٰه دے او هغه متصرف او کارساز دے د هغه نه سوا بل څوک نشته۔

فَالِقُ الْإِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ

څیرونکی د رڼا د صبا اللہ دے او هغه او ګرځوله شپه آرام د پاره او نمر

وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٩٦﴾

او سپوږمۍ حساب د پاره دا اندازه کینودے شوے د زور آور او خبردار ده

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوْمَ لِتَهْتَدُوْا

او هغه ګرځولی دی ستوری چه د هغے په وسیله اللہ سره لاره معلومه کړئ

بِهَا فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ

په تیاره کښے د ځنګل او دریاب لیکن بیشکه مونږ ښکاره بیان کړی

لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٩٧﴾ وَهُوَ الَّذِيْ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ

دی آیتونه هغه خلقو د پاره چه پوهیږی او دغه اللہ ج هغه ذات دے چه هغه پیدا کړی تاسے

نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا

اللہ د یو سړی نه بیا ستاسو یو ځائے د قرار دے او یو ځائے د امانت کینودلو بیشکه مونږ

الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿٩٨﴾ وَهُوَ الَّذِيْ اَنْزَلَ

دا ورولے نښے هغه قوم ته خو له چه سوچ کوئ او هغه نازل کړے اللہ

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ

د آسمان نه اوبه بیا راو ویستل مونږ هغے سره راټوکیدونکی هر خیز

فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ

بیا راو ویستل مونږ د دغه زرغون شوی نه شین فصل چه د هغے نه مونږ راو باسو دانے

وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَّجَنّٰتٍ

یو په بل د پاسه سوره او د کهجورے د ووړی نه د میوے غنچه زوړند ده او باغونه

مِّنْ اَعْنَابٍ وَّالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَّ

د انګورو او زیتونو او انارو یو بل سره ملاؤ او

غَيْرَ مُتَشَابِهٍ ط

جدا جدا هم ولا

نکات: ۱ صبا د ورځې د پاره په منزله د تخم دے ۲ مُسْتَقَرًّا ای فی الدنیا. مستودعًا ای فی الاٰخرة -

موضح القرآن: ف۱ اول سپارلے شی د مور خیټې ته چه په مزه مزه د دنیا اثر پیدا کړی بیا د نیا ته راشی او سیږی بیا به او سپارلے شی قبر ته چه په مزه مزه د آخرت آثر پیدا کړی بیا به یا او سیږی جنت کښې یا دوزخ کښې -

فتح الرحمن: ف۱ یعنی په شکل او صورت کښې میوے دیو بل پشان دی او په خوند کښې مخالف دی یوه خوږه او بله تروه یا ترخه -

حاشیه: ۱۰۲ صبا چونکے صبا ورځ د پاره په منزله د تخم دے ځکه چه تخم چولو سره هغے نه بوټے راوباسی داشان د صبا نه رڼا راوباسی سَکَنًا مایسکن الیه دکوم ځیزنه چه سکون او آرام حاصل کړے شی شپے ته ئے سَکَنًا اوویل ځکه چه د ټولے ورځے ستومانی او ستړے والے شپه کښے آرام او راحت سره بدلیږی حُسْبَانًا مصدر دے یعنی نمر او سپوږمئ ئے د حساب په ذریعه او گرځولے د دوئ گردش سره د موسمونو د اختلاف اندازه لگولے شی داشان د دوئ حرکت سره د وخت پیمائش کولے شی -

۱۰۳ د شپے په تیاره په ځنګلونو او سمندرونو کښے سفر کونکی مسافر ځړ دلارے نه ورک شی نو د مختلفو ستورو په ذریعه هغه دخپل منزل صحیح طرف معلوم کړی صحیح او سالم خپل منزل ته رسیږی دا هم دالله تعالیٰ د پیرلوئے احسان دے دا امور د عالم علوی یا نظام شمسی سره تعلق لری -

۱۰۴ دا دالله تعالیٰ یو بل احسان دے چه هغه د ژوند په شان نعمت ورکړو او ټول انسانان ئے د یو روح (آدم علیه السلام) نه پیدا کړل او دهر یو د پاره یو مستقر او یو مستودع اوگرځولو د مستقر او مستودع په تفسیر کښے مختلف اقوال دی - حضرت شیخ فرمائی مستقر (د اوسیدو ځائے) نه دنیا مراد ده او مستودع نه آخرت فمستقر فی الدنیا و مستودع فی الاخرة

۱۰۵ آسمان نه باران هم راوروی باران سره ټول فصلونه تر او تازه کړی غلے دیرے پیدا کیږی دکهجورے ونے میوو نه باروړے شی د انګورو زیتون او د انارو باغونه هم تر و تازه شنه گرځی چه د هغے میوے په شکل او صورت کښے دیو شان کیدلو باوجود د هغے رنگ، خوند او جسامت مختلف وی اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ الخ دے مذکوره امور کښے ایمان والاؤ ته په توحید باندے لوئے لوئے دلائل په نظر راځی دا ټول امور په دے خبره باندے دلالت کوی

چه د الله ج قدرت او د هغه علم په هر څیز باندے محیط دے لهذا صرف
هغه متصرف او کارساز دے۔

انْظُرُوْٓا اِلٰى ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ
اوګورئ دے طرف د میوے د هغے چه کله هغه میوه ونیسی او پوخوالے د هغے ته دے خبره په دے کښے
ذٰلِكُمْ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۹۹﴾ وَجَعَلُوْا
کښے نښے دی ایمان والاؤ د پاره
او ګرځوی دوی
لِلّٰهِ شُرَكَاۗءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ
الله د پاره شریکان پیریان حال دا دے هغه پیدا کړی دی هغوی لره او
بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۭ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا
جوړوی هغه د پاره ځامن او لونړه ناپوهۍ سره هغه پاک دے شان او ډیر لرے دے
ع ۱۲
يَصِفُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ۧ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ اَنّٰى
۱۸
د دے خبرو نه کوم چه دا خلق بیانوی نوے طریقے سره پیدا کونکے دے شان د آسمانونو او زمکے
يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ۭ وَ
څنګه کیدے شی د هغه څوے حال دا دے چه د هغه هیڅ ښځه نشته او هغه
خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾
پیدا کړے هر څیز او هغه په هر څیز خبردار دے
ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ خَالِقُ كُلِّ
همدا الله ج دے شان ستاسو رب نشته څوک معبود سوا د هغه نه پیدا کونکے د هر
شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ۚ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۱۰۲﴾
څیز نو تاسو د هغه عبادت کوئ او هغه دے د هر څیز ساتونکے

نکات: سل قرآن مجید کښے درے د پاره علوم (علم معانی، علم بیان، علم
بدیع) راځی ځکه چه کلام د مقتضی حال مطابق راوړلے شی یعنی بیان توحید

نور مختلف انداز سره اداء کولے شی او د فن بیانات هم دا مقصد دے د هغو
لفظیه هم خیال ساتلے شی دا فن بدیع دے ۳ زجر او شکوی ۳ مبدل
۴ الجن دا بدل دے حقارت د پاره ۵ جواب شکوی ۶ یعنی د الله ج د
صاحبه (ښځې) نسبت خو تاسو هم نه کوئ نو د ولد (ځوئے) نسبت څنګه کوئ ځکه
چه ولد بغیر د صاحبه نه شی کیدے او پیدا کیدے ولد څنګه چه تاسو وائے نو
په وجه سره نو دا هم غلطه ده ۷ د لاځلونه روستو شمره ده ۸ یعنی د اسرارو
عیب دان صرف الله ج دے د دے وجه نه صرف هغه ته آواز کوئ.

حاشیه: ۱۰۶ دا زجر او شکوی ده شرکاء مبدل منه دے او الجن دوئم
نه بدل دے د حقارت او اظهار د پاره یعنی دا پیریان هغوئ د الله ج شریکان
ګرځولے دی. وَخَرَقُوا لَهُ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍ او هغوئ الله ج د پاره خامن ولونړه د
ځان نه جوړ کړی دی هغوئ انبیاء او اولیاء الله د الله ج خامن او فرښتے ئے
لونړه ګرځوی د هغوئ خیال وو چه څنګه اولاد پلار ته ډیر محبوب وی او هغه د دوئ
هره خبره منی دا شان انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام او ملائکه الله ج ته ډیر
خوښ دی د دے وجه نه د هغوئ هره خبره منی یهود او نصاری ئ الله ج د پاره
خامن تجویز کول او مشرکانو د مکے لونړه اما الذین اثبتوا البنین فهم النصاری
وقوم من الیهود واما الذین اثبتوا البنات فهم العرب الذین یقولون الملئکة
بنات الله (کبیر ج ۴ ص ۱۱۲)

۱۰۷ دا جواب شکوی ده الله تعالی د مشرکانو د بهتانونو نه بالکل منزه او پاک دے
هغه ځوئے لور نه دے ګرځولے هغه بے نیاز دے چا ته حاجت نه لری د هغه د دے
څیزونو ته حاجت نشته هغه د خپل اختیار مالک متصرف او کارساز دے د هغه اراده د چا
ما تحت نه ده.

۱۰۸ دلته الله تعالی د خپل ذات نه د ولد نفی کولو بانده د څلور دلیلونه ذکر
کړی دی دا اول دلیل دے یعنی الله تعالی عالم علوی او عالم سفلی عجیب او
غریب نظام سره پیدا کړے دے هغه فاعل علی الاطلاق دے د هغه کوم ولد یا
نائب ته ضرورت نشته دوئم دلیل اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ الخ یعنی الله تعالی له
څنګه ولد کیدے شی حال دا دے چه د هغه ښځه نشته مطلب دا دے چه تاسو
الله طرف ته د صاحبه نسبت خو نه کوئ لیکن د ولد نسبت ورلے کوئ حال دا دے
چه د صاحبه (ښځے) نه بغیر ولد نشی کیدے یعنی اګر چه تاسو د حقیقی ولد نسبت
نه کوئ لیکن د ولد په شان نائب خو وایئ سراسر غلط دے. دریم دلیل وَخَلَقَ
كُلَّ شَيْءٍ هغه خو هر څیز پیدا کړے دے هر څیز د هغه مخلوق دے چا ته چه تاسو
ولد وائے هغه هم د الله ج مخلوق دے نو څنګه کیدے شی چه مخلوق د خپل خالق ولد
وی. څلورم دلیل وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ الله تعالی ته د کائنات د ذرے ذرے

علم دے او هغه ماضي، حال او د مستقبل ټولو خیزونو ته شامل دے لیکن د الله تعالی په علم کښې هیڅ داسې خیز نشته چه د هغه ولد وي او ان د ویم دریم دلیل نه ثابته شوه چه الله تعالی د پاره خوك ولد نه ثابت نشته او دویم دلیل نه د ولد حقیقي نفي اوشوه.

فـ۴ دلیل او جواب شکوی نه روستو ئې ثمره ذکر کړه یعني کله چه کارساز او غیب دان صرف الله ج دے بل خوك نه دے نو صرف هغه ته آواز کوئ د مخکښو څلورو دلائلو عقلیه ؤ نه روستو د هغې ثمره ذکر کړے شو بیا د نهم دلیل عقلي نه روستو دریم ځل د دلائلو ثمره بیان کړے شوے ده دلائل داسے انداز سره بیان کړے شوي دي چه هغې نه روستو ذهن پخپله د دے نتایجو طرف ته منتقل کیږي.

لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ز وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ج وَ

نشي مونده هغه لره (الله) سترګې او هغه مومي سترګو لره او

هُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۰۳﴾ قَدْ جَاۤءَكُمْ بَصَاۤئِرُ مِنْ

هغه ډیر لطیف او خبردار دے ف تاسو ته راغلي نښانې ستاسو د

رَّبِّكُمْ ج فَمَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ ج وَمَنْ عَمِيَ

رب له طرفه بیا چا چه اولیدے نو د خپل ځان لپاره او څوك چه ړوند شو نو د خپل

فَعَلَيْهَا ط وَمَاۤ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿۱۰۴﴾ وَكَذٰلِكَ

نقصان لپاره او نه یم زه په تاسو باندے نګهبان او د اشان قسم قسم

نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهٗ

بیانوو مونږ آیتونه او دے د پاره چه هغوی او وائي چه تا له چا ندلوستلي دے او دے د پاره

لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِتَّبِعْ مَاۤ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ

چه واضحه کړو مونږ هغه د پوهیدونکو د پاره وګ ته لاړ شه ﷺ په هغې د کوم چه تا ته حکم راغي

رَّبِّكَ ج لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۶﴾

ستا د رب له طرفه څوك معبود نشته سوا د هغه نه او مخ واړوه د مشرکانو نه

وَلَوْ شَاۤءَ اللّٰهُ مَاۤ اَشْرَكُوْا ط وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ

او که چرے الله غوښتلے وے ﷺ نو هغه خلقو به شرك نه کولے او مونږ نه یې ته د دوی کره څوك ساتونکے جوړ کړے

حَفِيظًا ج وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿۱۰۷﴾

باندے نګهبان | او نه یے ته دوئ باندے | کتونکے

نکات: ۱ یعنی دنیا کښے د الله ج ذات محض صفات سره معلومیږی دلائل توحید کښے چه د کوم بیان اوشو ۲ اللطیف لا تدرکه الابصار باندے او الخبیر هو یدرك الابصار باندے په طریقه د لف ونشر مرتبا سره مرتب دے ۳ دلائل توحید ۴ یعنی چا چه توحید او منلو ۵ د نه منلو دریمه وجه یعنی آیتونه وضاحت سره بیانو او دوئ اعتراض کوی چه تا د چانه زده کړے دے او راغلی ئے ۶ ای یسعد بها قوم ویشقی بها آخرون معطوف علیه محذوف دے ۷ دلائل عقلیه او نقلیه نه روستو دلیل وحی ۸ دا مسئله ده چه وحی کړے شوے ده ۹ ای بالجبر- ما اشرکوا نه روستو وَلٰکِن لِّیَبْلُوَکُمْ مقدر دے په قرینه د سورة مائده۔

موضح القرآن: ف یعنی په سترګو کښے دا قوت نشته چه هغه اوویني لیکن چه کوم هغه تا ته اوښائی دے دپاره چه هغه لطیف دے۔

فتح الرحمٰن: ف احتمال وو چه کافران اووائی چه تیرشوی کتابونه ئے لوستلے دی او کوم څه چه وائی د تیرشوو کتابونو نه اخستے شوی دی نه چه وحی الٰهی ده الله تعالیٰ قرآن په داسے طریقه نازل کړو او داسے قسم قسم طریقو سره ئے بیان کړو چه ددے شبه مجال باقی پاتے نشو ځکه چه دا قسم بیان د تیر شوو کتابونو لوستلو سره نه راځی بغیر د وحی الٰهی نه۔ والله اعلم

حاشیه: ۱۰ یعنی دنیا کښے د انسان سترګے د الله ج د ذات ادراك نشی کولے دنیا کښے د هغه ذات محض خپل صفات سره معلومیږی چه د دلائلو په ضمن کښے بیان شوی دی۔ وَهُوَ اللَّطِيفُ دا د لا تدرکه الابصار سره متعلق دے الخبیر دا د هُوَ یدرک الابصار سره متعلق دے په طریقه د لف ونشر مرتب سره (وهو اللطیف) ای العالم بدقائق الامور و مشکلاتها (الخبیر) العلیم بظواهر الاشیاء وخفیاتها وهو من قبیل اللف والنشر (مدارك ج ۲ ص ۲۱)

۱۱ بصائر نه مراد د توحید دلائل دی فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِ چا چه د توحید مسئله قبوله کړه نو هغه د خپلے فائدے کار اوکړو۔ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا او چا چه شرك اوکړو نو هغه خپل نقصان اوکړو وَمَآ أَنَا عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ او زه په تاسو نګران نه یم زه خو صرف د الله ج له طرفه نه منذر او مبشر یم وَ انما انا منذر والله تعالیٰ هو الذی یحفظ اعمالکم ویجازیکم علیها (روح ج ۷ ص ۲۴۹) دے نه معلومه شوه چه نبی علیه السلام کارساز او غیب دان نه وو۔

۱۲ دا د نه منلو دریمه وجه ده یعنی مونږ آیتونه واضح بیانوو او دا مشرکان د

دینه اعراض کوی او وائی چه دا پیغمبر د چا نه زده کړے دے موږ ته را غلے دے.
وَلِيَقُولُوا نه مخکښے معطوف علیه محذوف دے ای لِيَسْعَدَ بِهَا قَوْمٌ وَيَشْقَى بِهَا آخَرُونَ
وَلِيَقُولُوا الخ و معنی (درست) قرأت و تعلمت (روح)

۱۱۳ دا دریم دلیل وحی دے یعنی تا سو ته د الله ج له طرفه دا وحی را غلے ده چه د
الله ج نه کارساز او غیب دان بل څوک نشته لهٰذا هغه را بلئ د دے وجه تاسو د وحی
ربانی پابند اوسیږئ او د مشرکانو د باطلو عقیدو او فاسدو اقوالو نه اعراض او کړئ
او د دوئ پروا مه کوئ.

۱۱۴ دینه روستو وَلٰكِنْ لِيَبْلُوَكُمْ مقدر دے په قرینه د وَلَوْ شَاءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ
اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَا اٰتٰكُمْ (مائده) یعنی کچرے الله تعالیٰ غوښتے
وے نو ټولو ته به ئے جبرًا د ایمان توفیق ورکړے وے او هیڅ یو انسان به شرک
نه کولے لیکن دا ایمان به اختیاری نه وو او دا شان به د امتحان او ابتلاء حکمت
مفقود وے حَفِيْظًا ذمه دار وکیل داروغه (څوکیدار) ستا سو په ذمه صرف
تبلیغ دے کچرے هغوئ ئے اونه منی نو د دے ذمه داری په تاسو نه ده او نه ته د
دوئ د پاره لیږلے شوے ئے چه ته هغوئ په دے مجبور کړے.

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
او تاسو خلق بد مه وائی هغو ۱۱۵ ته د کوم چه هغوئ عبادت کوی د الله ج نه سوا

فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۭ كَذٰلِكَ زَيَّنَّا
نو هغوئ به بد او وائی الله ج ته بے ادبئ سره بغیر د علم نه دا شان موږ بنائسته

لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ۠ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ مَّرْجِعُهُمْ
کړی دی ۱۱۶ د هرے فرقے په نظر کښے د هغوئ اعمال بیا د هغه ټولو ځیل رب ته ورتلل دی

فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَاَقْسَمُوْا
نو هغه به خبر ورکړی دوئ ته د هغے کوم چه دوئ کول او هغوئ قسمونه کوی په

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ
الله ۱۱۷ کلک قسمونه چه کچرے راشی دوئ ته څه نښانے نو ضرور به په

لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ۭ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ وَمَا
هغے ایمان راوړی او ته اووایه چه نښانے خو د الله ج سره دی او تاسو ته

يُشْعِرُكُمْ اَنَّهَآ اِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ وَ

اې مسلمانانو تاسو ته څه خبر دے ﷺ چه هغه نښانے راشي نو دا خلق ايمان راوړي او

نُقَلِّبُ اَفْـِٕدَتَهُمْ وَاَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ

موږ به اړوو ﷺ د دوئ زړونه او د دوئ سترګے څنګه چه

يُؤْمِنُوْا بِهٖٓ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّنَذَرُهُمْ فِيْ

ايمان رانه وړو په نښانو باندے اول ځلے او موږ پرېږدو دوئ لره د

طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ ع ۱۴ ۱۹

دوئ په سرکشئ کښے حيران (سرګردان)

نکات : ۱ الذين يعني معبودان باطله او من دون الله د هغے بيان دے ۲ ځکه چه تا ته ښکاره ده چه نه کنځل کوي هغوئ به الله ج ته کنځل کوي ۳ د نه منلو څلورمه وجه يعني مشرکانو ته ښکيل مشرکانو اعمال ښائسته معلوميږي ۴ دا وجه د (توحيد) نه منې ۵ زجر سره د شکوي نه ۶ جواب شکوي ۷ کوم څيز تا سو خبر کړي هغه ۸ واو تعليليه دے د لا يؤمنون علت دے ۹ ک تعليليه نقلب افئدتهم د پاره علت دے يعني موږ د دوئ زړونه او سترګے (د حق نه) اوګرځولے چه اول ځل دوئ ايمان رانه وړو او تکذيب ئے کړے دے۔

موضح القرآن : ۱ يعني چا ته چه الله هدايت ورکوي اول ځل حق اوريدلو سره انصاف سره قبلوي او چا چه اول ځل ضد اوکړو کچرے نښانے هم اووينې نو څه حيله جوړه کړے فرعون دے نښانو باندے ايمان رانه وړلو۔

حاشيه : ﷺ يدعون نه روستو عائد محذوف دے اي يدعونهم يعني د هغوئ باطل معبودانو ته هم کنځل اوکړے ليکن دے باندے دا اعتراض کيږي چه مشرکانو خو الله تعالیٰ منلو دے وجه نه الله تعالیٰ ته کنځل کول څنګه متصور کيدے شي د دے جواب دا دے چه څنے وخت د غيظ او غضب (قهر غصته) په وجه سره انسان د قابو نه بهر شي او هغه نه دا قسم غلطي کيږي و لا اشكال بناء على ان الغضب والغيظ قد يحملهم على ذالك الا ترى ان المسلم قد تحمله شدة غيظه على التكلم بالكفر (روح ج ۷ ص ۲۵۱) يا په حذف د مضاف سره دينه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته کنځل کول مراد دي وقيل المراد بسبب الله تعالى سب رسول الله صلى الله عليه و سلم (روح) يا مراد قول مؤمنان دي ځکه چه مشرکانو به محض

د توحيد په وجه سره كنټل كول نو هغوئ ته كنټل كول لكه چه الله تعالیٰ ته كنټل كول دي

ف ۱۱۶ وادانه منلو څلورمه وجه ده يعني مشركانو ته د هغوئ مشركانه اعمال ښه او ښايسته په نظر راځي د دے وجه نه هغوئ دانه پريږدي او توحيد طرف ته نه راځي

ف ۱۱۷ زجر په طور د شكواي هغوئ ډير سخت قسمونه خوري چه كچرے هغوئ ته معجزه اوښودل شي نو هغوئ به يے اومني قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ الخ جواب شكوه تاسو اووايئ چه معجزات خود الله ج په اختيار كښے دي څما په اختيار كښے نه دي انما الايٰت عند الله لا عندي فكيف اجيبكم اليها و اٰتيكم بها والمعنى هو القادر عليها لا انا حتّیٰ اٰتيكم بها (روح ج ۷ ص ۲۵۳)

ف ۱۱۸ چونكه د ټولو صحابه كرام رضى الله عنهم هم دا آرزو وه چه د مشركانو مطلوبه معجزه راشي چه هغوئ ايمان راوړي د دے وجه نه دلته كُمْ ضمير جمع خطاب كښے يے هغوئ ته شامل كړل او ورته فرمائيل چه تاسو ته دا خبره معلومه نه ده ليكن ماته معلوم ده چه كچرے هغوئ ته مطلوبه معجزه هم اوښودل شي نو بيا هم هغوئ ايمان نه راوړي د دے وجه نه معجزه ښودل د حكمت نه خلاف ده دا شان د دوئ بهتري په دے كښے ده چه دوئ ته معجزه اونه ښودل شي ځكه چه د مطلوبه معجزے نه د انكار كولو په صورت كښے به د انكار نه روستو فوري عذاب راځي او مهلت به نه ملاويږي قُلْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ تتمنون ذلك و ما يدريكم انهم يؤمنون حاصل الكلام ان القوم طلبوا من الرسول معجزات قوية وحلفوا انها ظهرت لآمنوا فبين الله تعالیٰ انهم وان حلفوا علىٰ ذلك الا انه تعالیٰ عالم بانها لو ظهرت لم يؤمنوا (كبير ج ۴ ص ۱۸۵)

ف ۱۱۹ واؤ تعليليه دے او لا يؤمنون د پاره علت دے او كما يؤمنوا د نُقَلِّبُ اَفْـِٕدَتَهُمْ تعليل دے يعني چه كله اول ځل دوئ ته آيتونه راغلل نو دوئ د ضد او عناد د وجه نه د هغے نه انكار اوكړو نو الله تعالیٰ د دوئ په زړونو باندے مهر جباريت اولګولو د دے وجه نه هغوئ كه عو ښتلے شوے معجزه هم اوديني نو مونږ به د دوئ زړونه او سترګے واړوو او هغوئ به ايمان نه راوړي او مونږ هغوئ په سركشئ كښے پريږدو او دا ګرځول به د تكويني اسباب د لاندے وي د ضد او عناد په وجه سره چونكه د دوئ په زړونو مهر جباريت لګيدلے دے د دے وجه نه د دوئ باطني او قلبي بصيرت د واړه ختم شوي دي۔

وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتَىٰ

او که چیرته مونږ نازل کړو دوی ته دا ملائکې او خبرې اوکړی دوی سره مړی

وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا

او راټول کړو مونږ هر څیز د دوی په وړاندې نو هم دا خلق هرګز ایمان نه راوړی

إِلَّآ أَن يَشَآءَ اللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴿١١١﴾

لیکن دا چه اوغواړی الله ج لیکن دوی کښې اکثر جاهلان دی

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ الْإِنسِ

او دا شان الله کړځولی دی مونږ هر نبي د پاره د شمنان شریر انسانان

وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ

او پیریان چه ورزده کوی یو بل ته ښائسته کړے شوے

الْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ

خبرے د دهوکه کولو د پاره او که چیرے ستا رب غوښتلے وے نو هغه خلق به دا کار نه کولے

وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾ وَلِتَصْغَىٰٓ إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ الَّذِينَ

نو پریږده هغوی پریږده هغوی پوره شه او د هغوی دروغ او د دے د پاره چه مائل شی زړونه د هغه ښائسته

لَا يُؤْمِنُونَ بِالْءَاخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا

کړے شوی خبرو طرف ته د هغه چا زړه چه د هغوی یقین نشته په آخرت او هغه د اخوښ هم کړی او

مَا هُم مُّقْتَرِفُونَ ﴿١١٣﴾ أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا

اوکړی کوم بدکاروند چه هغوی کوی ولې نو ولے اوس د الله ج نه سوا خوک منصف

وَهُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَٰبَ مُفَصَّلًا ۚ

جوړ کړم حال دا دے چه هغه نازل کړو تاسو باندے کتاب واضح

نکات: ۱ د منکرینو درے درجے دی ۱ عدم انابت یعنی حق نه قبلول ۲ د احتلال د لاندے راتلل ۳ مهر جباریت د لاندے راتلل د لته درې

درجه مراد ده ــــ۲ د نه منلو پنځمه وجه یعنی د توحید د مسئلې د تعلیم په وجه سره شیاطین د پیغمبر علیه السلام دشمنان دی او د خلقو په زړونو کښې شبهات اچوی چه دا سړے بے ادب دے د دۀ خبره مۀ منئ تائید وما ارسلنا من قبلك من رسول ولا نبی الا اذا تمنی القی الشیطن فی امنیته (حج) ــــ۳ واؤ زائده دے او لتصغی جعلنا سره متعلق دے یا واؤ عاطفه دے او غرورًا په معنی د لیغرهم باندے معطوف دے ــــ۲ یعنی د الله تعالیٰ فیصله بیان کړے شوه هغه کتاب هم نازل کړو چه هغے کښې ئے بیان اوکړو چه په هرڅۀ خبردار او هرڅۀ کونکے صرف الله ج دے هغۀ ته اواز کوئ او بس د هغۀ نه سوا د بل کوم چا فیصله زۀ نشم قبلولے.

موضح القرآن: ف۱ دا څو آیتونه دے باندے نازل شول چه کافرانو اوویل مسلمانان خپل لاس سره وژلے حیوان خوری او د الله ج وژلے شوے نۀ خوری ورته ئے فرمائیل چه دا سے د فریب خبرے مُلَمَّع شیطان بنائی انسانانو ته د شبه اچولو دپاره د عقل حکم نۀ دے حکم د الله ج دے وړاندے ئے واضح طور باندے بوره کړل چه د قتلولو وژونکے الله ج دے لیکن د هغه نوم بابرکت دے کوم چه د هغۀ په نوم ذبح کړے شی نو هغه حلال دے کوم چه د دۀ نه بغیر مړ شو هغه مردار دے.

فتح الرحمن: ف۱ یعنی هغه چه لائق د دوئ دی **ف۲** په مکی سورتونو کښې ذکر شوی دی چه یهود تصدیق کوی د قرآن او په مدنی سورتونو کښې ذکر شوی دی چه یهود تکذیب کوی د هغے وجه د تطبیق دا ده چه کله نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مکه کښې وو لا تر اوسه پورے ئے یهودو ته دعوت نۀ وو ورکړے بتول د قرآن په صدق باندے اعتراف کونکی وو چه د دے حکم په عربو باندے لازم دے او هیڅ یو تن د دوئ نه انکار نۀ وو کړے کله چه ئے هجرت اوکړو نو هغوئ ته ئے دعوت ورکړو نو عناد ئے شروع کړو په سیرة ابن اسحٰق کښې څو قصے د دے مضمون سره ذکر شوی دی والله اعلم یا یو غیبی چه د وحی نزول کیږی او انسان لره الله تعالیٰ پیغمبر جوړوی او حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم او قرآن کښې د صدق دلائل موجود دی عه دے ځائے نه تر آخر پورے په بعضو مطبوعه نسخو کښې نۀ دے موندلے شوے. اسجاد بخاری

حاشیه: ــــ۱۲۰ دا د ماقبل تفصیل دے یعنی کچرے مونږ د دوئ مطلوبه معجزات دوئ ته اوښایو مثلًا هغوئ باندے فرښتے نازل کړو لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ الخ او مړی ژوندی شی دوئ سره خبرے شروع کړی فَاْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ (دخان ع ۲) او هر څیز چه کوم هغوئ غواړی یو رته کړو د هغوئ مخے ته ئے راوړو نو بیا هم هغوئ ایمان نۀ راوړی اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ د کښې د الله تعالیٰ د قدرت بیان دے د گمراهئ درے درجات (۱) سلب انابت الی الله (۲) اضلال او (۳) مهر جباریت

نه دي واړه د دې کښې موجود دو.

۱۲۱ له زخرف القول یعنی غلط او باطل خبره چه هغه ښائسته کړے شي او پیش کړے شي دا د نهٔ منلو پخمه وجه ده علی سبیل الترقی څنګه چه د انسانانو او پیریانو شیطانان د هر پیغمبر دشمنان دي او د خلقو د ګمراه کولو د پاره د پیغمبر خلاف دروغ پروپیګنډه کوي دا شان حضور صلی الله علیه وسلم (شیطانان د انسانانو او پیریانو) دا کار سرته رسوي او د توحید د مسئلے خلاف د خلقو په زړونو کښې وسوسے اچوي مثلاً دا سړے بے ادب دے او د بزرګانو بے ادبي کوي د دې نه ځان اوساتئ تائید وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رَّسُوۡلٍ وَّلَا نَبِیٍّ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰۤی اَلۡقَی الشَّیۡطٰنُ فِیۡۤ اُمۡنِیَّتِهٖ (حج ع ۷) یعنی کله چه د الله ج پیغمبر د الله ج آیتونه خلقو ته آورَوي هغه وخت شیطانان د خلقو په زړونو کښې د دے باره کښې وسوسے اچول شروع کوي.

۱۲۲ له یعنی مائل شي الیه کښې ضمیر زخرف القول طرف ته راجع دے. وَلِتَصۡغٰۤی غُرُوۡرًا باندے معطوف دے څکه چه هغه مفعول له دے په معنی د لیغروهم یا واؤ زائده دے او لِتَصۡغٰۤی جَعَلۡنَا سره متعلق دے وَلِیَرۡضَوۡهُ وَلِیَقۡتَرِفُوۡا ـ لِتَصۡغٰۤی باندے معطوف دے یعنی د دے د پاره چه هغوی زخرف القول (دروغ خبره) خوښه کړي او په بد اعمال کښې ډوب پاتے شي

۱۲۳ له یعنی د الله تعالی فیصله بیان شوه او هغهٔ خپل کتاب هم نازل کړو چه په هغے کښې ئے صفا صفا اوفرمائیل چه تول هر څه پیژندونکے او تول هر څه کونکے صرف الله تعالی دے د دے وجه نه صرف هغهٔ ته آواز کوئ او د هغه نه سوا بل چا ته آواز مهٔ کوئ اوس زهٔ د الله ج نه سوا د بل چا فیصله نشم قبلولے. مفسرینو لیکلی دي چه کله د قریشو مشرکانو نبی علیه السلام ته اووئیل چه تاسو خپل او څمونږ مینځ کښې د یهودو یا د نصارٰی وو یو ډیر لوئے عالم حکم او جج مقرر کړئ دے د پاره چه هغه ستاسو د پاره چه هغه ستاسو باره کښې او ستاسو د دین باره کښې د خپل کتاب فیصله واوروي دے سره دا آیت نازل شو او نبی علیه السلام ته د دے اعلان کولو حکم اوشو چه زهٔ د الله تعالی نه سوا بل څوک حکم نشم منلے (روح)

وَالَّذِیۡنَ اٰتَیۡنٰهُمُ الۡكِتٰبَ یَعۡلَمُوۡنَ اَنَّهٗ مُنَزَّلٌ

او کوم خلقو ته چه مونږ کتاب ورکړے دے ۱۲۴ له هغوئ پوهیږي چه دا نازل شوے دے

مِّنۡ رَّبِّكَ بِالۡحَقِّ فَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُمۡتَرِیۡنَ ۱۱۴

ستا د رب له طرفه په حق سره نو ته مهٔ کیږه د شک کونکو نه

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ۭ لَا مُبَدِّلَ

او ستا د رب خبرې پوره رښتیا دي
او انصاف لره څوک بدلونکے نشته

لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۱۵﴾ وَاِنْ تُطِعْ

د هغهٔ خبرې لره او هم هغه ښهٔ آوریدونکے خبردار دے
او کچرې ته خبره اومنې ۱۲۶

اَكْثَرَ مَنْ فِي الْاَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ

د اکثر هغه خلقو کوم چه په دنیا کښے دي نو تا به واړوي
د الله ج د لارے نه

اللّٰهِ ۭ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا

هغوی ټول ځي خپل خیال باندے
او ټول

يَخْرُصُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ مَنْ يَّضِلُّ

دروغ تړي هم ستا رب ښهٔ ۱۲۷ خبر دے
په هغه چا چه بیوتیدلی

عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۱۷﴾ فَكُلُوْا

دي د هغهٔ د لارے نه او هغه ښهٔ خبر دے په هغه چا چه په لاره دي
نو خورئ

مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ

د هغې حیوان نه ۱۲۸ چه په هغهٔ د الله نوم اخستے شوے وي کچرے تاسو د هغهٔ په حکمونو

مُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۸﴾

ایمان لرئ

نکات: ۱ دلیل نقلي د امم سابقه دے کوم مولیانو او پیریانو چه مخکني
کتابونه منل ۲ فاء تفریعیه ده یعني د دے دلائلو په موجودګۍ کښے خطاب هر
سامع ته دے ۳ یعني بالدلائل العقلیه والنقلیه والوحی ۴ دعوی توحید ۵
یعني د دے دعوهٔ توحید بدلونکے څوک نشته ۶ واو تعلیلیه دے او هُوَ
السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ئه کښے حصر دے یعني په هر څیز آوریدونکے او خبردار الله
دے بل څوک نشته نو بدلونکے هم بل څوک نشته لکه چه په سورهٔ کهف کښے دي
وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا هلته هم واؤ تعلیلیه دے یعني د الله تعالی نه سوا
هیڅ د پناه ځائے نشته لهٰذا مُبَدِّل هم څوک نشته ۷ ای بعد الدلائل المذکورة

ف۹ یعنی شرك فلی ف۱۰ یعنی دعوهٔ توحید ف۱۱ د سورت دوئیم حصه کښے به د شرك فعلی د نفی بیان وی ـــ د تحریمات غیر الله بیان ف۱۲ ای حاصة

فتح الرحمٰن : ف۱ یعنی هغه شبهات چه کافرانو د خیزونو د تحریم او تحلیل باره کښے کول هغه باطل دی۔

حاشیه : ف۱۲۴ اَلْكِتٰبَ نه تورات او انجیل مراد دی او د موصول نه د یهود او نصاریٰ وُ علماء مراد دی والمراد بالکتٰب التورٰیة والانجیل ..... والمراد بالموصول اما علماء الیهود والنصاریٰ الخ (روح ج ۸ ص۹) د یهود او نصاریٰ وُد علماؤ سره دلیل نقلی دے یعنی هغوئ د تورات او انجیل په رڼا کښے ښهٔ پوهیږی چه په قرآن کښے د توحید مسئله او رد دے نه علاوه چه څهٔ نازل شوی دی هغه ټول حق دی او د الله ج له طرفه دی فَلَا تَكُوْنَنَّ کښے خطاب سامع ته دے۔

ف۱۲۵ دَكَلِمَةُ نه یا د الله ج دین مراد دے یا د توحید دعوی وتمت بالدلائل العقلیة والنقلیة والوحی یعنی د توحید دعوی عقل او نقل او وحی دلائلو سره کامل او واضح شوے ده لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ د دے دعوی توحید بدلولو والا څوك نشته وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ واؤ تعلیلیه دے او دا د ما قبل علت دے او د مبتداء او خبر معرفه کیدلو په وجه سره دا ترکیب مفید د حصر دے یعنی د هر څیز آوریدونکے او په هر څیز خبردار صرف الله تعالیٰ دے بل څوك نهٔ دے کچرے د هغهٔ نه سوا بل څوك هم د هر څهٔ آوریدونکے او په هر څهٔ خبردار وے نو هغهٔ ته به د بدلولو اختیار هم وے اِذْ لَيْسَ فَلَيْسَ سورهٔ کهف کښے ئے اوفرمائیل اتل ما اوحی اِلَيْكَ من کتٰب ربك لا مبدل لکلمٰته او د دے دلیل ئے وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا سره بیان کړو مطلب دا چه کله هر څیز باندے خبردار او اوریدونکے الله تعالیٰ دے بل څوك نهٔ دے او د هغهٔ نه سوا بل ځائے د پناه نشته نو د هغه د کلام بدلونکے هم څوك نشته۔

ف۱۲۶ دا زجر دے اَكْثَرَ مَنْ فِى الْاَرْضِ نه مشرکان مراد دی والمراد باکثرهم الکفار (روح) سَبِيْلِ اللّٰهِ ط نه مراد توحید باری تعالیٰ دے یعنی کچرے تاسو د کافرانو او مشرکانو خبره او منئ نو هغوئ به تاسو لره د توحید د لارے نه شویولو کوشش اوکړی اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ الخ تاسو ته خود الله ج له طرفه وحی راغلی او ستاسو علم الیقین دے لیکن د مشرکانو سره د ظن او اټکل نه سوا هیڅ نشته هغوی محض د ظن په بناء باندے شرك کوی۔ يَخْرُصُوْنَ هغوئ په الله تعالیٰ دروغ تړی او د الله تعالیٰ طرف ته د ولد (نائب) او شرکاء نسبت کوی والمراد انهم یکذبون علی الله تعالیٰ فیما ینسبون الیه جل شانه کاتخاذ الولد وجعل عبادة الاوثان ذریعة الیه سبحانه (روح ج ۸ ص۱۲)

ف۱۲۷ الله تعالیٰ هغه خلق ښهٔ پیژنی څوك چه د هغه د لارے (د توحید لارے) نه گمراه

بوي وي او هغه هم ښه پيژني کوم چه په هدايت دي د امشرکان گمراه دي او ناسم
يو هم پوه لاره ماندي دي او اچولو کوشش کوي تاسو خبر شئ.

دويمه حصه - نفي د شرك فعلي

① تحريمات غير الله ② تحريمات الله ③ نذور د غير الله

د سورة انعام په اوله حصه کښې د شرك اعتقادي بيان وو او س دويمه حصه کښې
د شرك فعلي د نفي بيان دے دا حصه د فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ (ع ١٤) نه واخله
تر ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ (ع ١٩) پورے ده دے حصه کښے د شرك فعلي
درے شعبونه ذکر شوي دي تحريمات د غير الله څلور عنوانو سره. تحريمات الله
په مثل او د غير الله نذرونه څلور عنوانونو سره ذکر کړے شوي دي لکه چه په
خلاصه کښے ذکر شوي دي او مخکښے راځي.

۲۸ د تحريمات غير الله ذکر اول ځل مآنه مراد هغه حيوان دے کوم چه مشرکا
د خپلو معبودانو د تعظيم او رضا کولو د پاره د خپل طرفه حرام کړے وو يعني بحيره،
سائبه وصيله او حام وغيره. ويے فرمائيل کوم حيوانات چه خاصة د الله ج په نوم
ذبح کړے شوے وي هغه خوري يعني کوم څيزونه چه الله ج حلال کړي دي هغه
حلال او گڼړئ او د خپله طرفه هغه مه حراموئ او د خپل ځان نه چه کوم تحريمات تا
کړي دي هغه ختم کړئ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تَاْكُلُوْا الخ د مذکوره (بحيره، سائبه وغيره)
حيوانات نه کوم چه خاصتاً د الله نوم اخستلو سره حلال شوے وي هغه خوري يا مطلب
دا دے چه هغه حلال او گڼړئ.

وَمَا لَكُمْ اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَ

او څه سبب دے چه تاسو نه خورئ د هغه حيوان نه په کوم چه نوم اخستے شوے دے

قَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ

د الله او حال دا چه واضحه کړي دي ١٢٩ تاسو ته کوم څه چه هغه په تاسو حرام کړي دي ليکن چه کله مجبور شئ د هغه په

اِلَيْهِ ۖ وَ اِنَّ كَثِيْرًا لَّيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ بِغَيْرِ

خوراک ته باندے هم او ډير خلق گمراه کوي خپلو خيالاتو باندے بغير د

عِلۡمٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعۡلَمُ بِالۡمُعۡتَدِيۡنَ ﴿۱۱۹﴾ وَ

تحقیق نه ستا رب ښه پیژني د حد نه تجاوز کونکي او

ذَرُوۡا ظَاهِرَ الۡاِثۡمِ وَبَاطِنَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ

پریږدئ ښکاره ګناه ۱۳۱ او پټه کوم خلق ۱۳۲

يَكۡسِبُوۡنَ الۡاِثۡمَ سَيُجۡزَوۡنَ بِمَا كَانُوۡا يَقۡتَرِفُوۡنَ ﴿۱۲۰﴾

چه ګناه کوي نزدے ده چه سزا به بیا مومي د خپلو کړو دا

وَلَا تَاۡكُلُوۡا مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ اسۡمُ اللّٰهِ عَلَيۡهِ وَ

او دا څه نه خوراک مه کوئ په کوم چه ۱۳۳ نوم نه وي اخستے شوے د الله او

اِنَّهٗ لَفِسۡقٌ ؕ وَاِنَّ الشَّيٰطِيۡنَ لَيُوۡحُوۡنَ اِلٰٓى

دا خوراک ګناه ده او شیطان اچوي په زړه کښے خپلو

اَوۡلِيٰٓـئِهِمۡ لِيُجَادِلُوۡكُمۡ ۚ وَاِنۡ اَطَعۡتُمُوۡهُمۡ

ملګرو ته د دے د پاره چه هغوئ تاسو سره جګړه اوکړي او که چرے تاسو د هغوئ خبره اومنله نو

اِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُوۡنَ ﴿۱۲۱﴾ ع ۱۴

تاسو به هم مشرکان شئ ۱ و۲

نکات: ۱ د غیر الله نذرونه (یعنی خپل تحریمات) ختم کړئ او د الله ج د تحریمات پابند شئ د دے فصل تحقیق تفسیر کښے موجود دے ۲ مشرک پیران او ملایان ۳ د غیر الله تحریمات او نیازات کونکی ۴ ظاهر الاثم شرک او باطنه اعتقادی ۵ یعنی هغه حلال مه ګڼړئ ۶ کامل درجه مراد ده لکه چه د قرآن پاک طریقه ده چه کامل درجه بیانوی ۷ ای من الجن والانس ۸ د شرک فعلی خبرے ۹ د هغوئ تابعداران مراد دی ۱۰ یعنی که چرے تاسو د هغوئ حکم اومنلو او د غیر الله تحریمات او د غیر الله منښتو ته موحلال اووئیل نو تاسو به هم مشرکان شئ۔

موضح قرآن: ف۱ یعنی د کافرانو په دهوکه کولو نه په ظاهر کښے عمل اوکړئ او نه په باطن کښے په زړه کښے شبهه اوساتئ ف۲ یعنی شرک فقط دا نه دے چه د خدائے ج نه سوا د بل چا عبادت اوکړئ بلکه شرک په حکم کښے هم دے

چه دپل چا حکم او منی

فتح الرحمن: ف۱ مترجم وائی یعنی میته حرام ده لیکن د ضرورت په وخت کښې د هغې خوراک اجازت دے ف۲ دے نه مراد هغه وسوسه ده چه د جاهلیت خلقو به وئیل وے خپل حلال کړے حیوان اوخورو او د الله وژلے شوے او نهٔ خورو۔

ف ۱۲۹ د غیرالله نذر او نیاز او ل حُل ذکر۔ دلته اجمال دے تفصیل مخکښې راغې قَدْ فَصَّلَ د ماضی صیغه ده چه د د بینه معلومیږی چه د تحریمات تفصیل مخکښې شوے دے تفصیل چرته شوے دے؟ کچرے د دے جواب کښے د سورۂ مائده نوم واخستلے شی نو دا صحیح نهٔ ده ځکه چه سورۂ انعام مکی دے او سورۂ مائده مدنی دے او د انعام نه روستو نازل شوے دے د دے وجه نه هغه نشی مراد کیدلے د دے وجه نه مولانا اشرف علی تهانوی سورۂ نحل مراد اخستے دے ځکه چه هغه په نزول کښې په انعام باندے مقدم دے لیکن دے کښے اشکال دا دے چه په سورۂ نحل کښے تفصیل نشته په هغې کښې صرف د څلور محرمات ذکر دے میته، دَمٌ، خنزیر او وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَیْرِ اللّٰهِ۔ زیات تفصیل خو په خپله انعام کښې موجود دے د دے وجه نه شیخ قدس سره فرمائی چه د دے نه د محرمات هم دا تفصیل مراد دے کوم چه په انعام کښې ذکر دے او د قَدْ فَصَّلَ مطلب دا نهٔ دے چه هغه د دے نه مخکښې ذکر شوے دے بلکه مطلب دا دے چه هغه دا څیز و نه تفصیل سره ذکر کوی کوم چه په تا سو حرام کړے شوی دی لکه چه د دے نه روستو د رکوع ۱۹ په شروع کښې قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ الخ سره ئے د محرمات تفصیل سره ذکر او کړو لکه چه د سورۂ نور په شروع کښې ئے او فرمائیل سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَ فَرَضْنٰهَا امام رازی هم دے ته نږدے نږدے د خپلے رائے اظهار کړے دے فرمائی الاولی ان یقال المراد قوله بعد هٰذه الایة قُلْ لَّآ اَجِدُ فِیْمَآ اُوْحِیَ اِلَیَّ مُحَرَّمًا عَلٰی طَاعِمٍ یَّطْعَمُهٗ وَ هٰذِهِ الایة بقلیل الا ان هٰذا القدر من التاخیر لا یمنع ان یکون هو المراد والله اعلم (کبیر ج ۴ ص ۲۰)

ف ۱۳۰ دا استثناء ده د ما حرّم نه او دیکښې د حالت اضطرار حکم بیان کړے شو چه په حالت اضطرار کښې یعنی چه کله د لوږے د وجه نه د ژوند ضائع کیدلو خطره وی نو په اندازه د ژوندی پاتے کیدلو د محرمات نه خوراک جائز دے وَاِنَّ كَثِیْرًا الخ ډیر خلق نورو ته د خپل ځان نه جوړے شوے خبرے اوروی او د الله ج د دین نه ئے بے لارے کوی دینه مشرکان او ګمراه ملایان او پیران مراد دی مثلاً احبار او رهبان او قسیسین چه خلق به ئے ګمراه کول اَلْمُعْتَدِیْنَ د الله د مقرر کړے شوے حدود نه تجاوز کونکی د غیرالله تحریمات کولو والا او نذر نیاز ورکونکی دے کښے داخل دی

۱۳۱ ظاهر الاثم کومہ گناہ چہ ظاهری اندامونو سره اوکړے شی مثلاً شرک فعلی وغیره (باطنهٔ) کومه گناه چه زړهٔ سره اوکړے شی مثلاً شرک اعتقادی وغیره (الشرك الجلی والخفی) (مدارك ج ۲ ص ۲۳) المراد بظاهر الاثم افعال الجوارح و باطنه افعال القلوب الخ (خازن) ۱۳۲ دلته د الاثم نه مذکوره ظاهری او باطنی اثم مراد دے د تخویف اُخروی دے شرك اعتقادی کونکو د پاره۔

۱۳۳ پهٔ کوم ښکاروو چه خالص د الله نوم نهٔ وی اخستے شوے هغه مهٔ خوری یعنی هغه حلال مهٔ گنړئ وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ پهٔ کوم ښکاروو باندے چه خالص د الله نوم وانه خستلے شی بلکه د غیرالله نوم اخستلے شوے وی هغه حلال گنړل کفر او فسق دے د فسق نه د هغے کامل درجه یعنی کفر مراد دے وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ ای من الجن والانس یعنی د انسانانو او پیریانو شیطانان د خپلو منونکو پهٔ زړونو کښے وسوسے اچوی او هغوی ته د مشرکانه افعالو ترغیب ورکوی وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ کچرے تاسو (ای د مؤمنانو ډلے) د دوی خبره او منله او تحریمات لغیرالله حلال او نذور لغیرالله حلال اوگنړلې څنګه چه هغوی وائی نو یاد لرئ تاسو به هم د هغوی پشان مشرکان شئ د دینه معلوم شوه چه د الله تعالیٰ محرمات حلال گنړل او د هغه حلال حرام گنړل هم شرك دے قال الزجاج فیه دلیل علی ان کل من احل شیئاً مما حرم الله او حرم شیئاً مما احل الله تعالیٰ فهو مشرك الخ .

(کبیر ج ۴ ص ۲۰۳)

اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ

نو چه یو سړے مړ وو ۱۳۴ بیا مونږ ژوندے کړو او مونږ ورکړه هغهٔ ته رڼا چه ځان

بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ

سره ئے گرځوی برابر کیدے شی د هغه چا سره چه د هغه حال داوی چه په تیارو کښے پریوتلے دے او

مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۲﴾

د هغه ځائے نه وتلے نشی د اشان ښائسته کړے شو د کافرانو پهٔ نظر کښے د هغوی کاروبار

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا

او د اشان گرځولے دی مونږ پهٔ هر کلی کښے گنهگارانو لوئے مشران چه مکرونه اوکړی

لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا ؕ وَمَا يَمْكُرُوْنَ اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ وَمَا

هلته او خوك چه مکر کوی نو په خپل ځان باندے او

يَشْعُرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَإِذَا جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ قَالُوْا لَنْ

سوچ نهٔ کوی (۱) او کله چه راځی دوی ته څهٔ آیتونه وائی چه

نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِىَ رُسُلُ اللّٰهِ

مونږ به هرګز نهٔ منو تر څو پورے چه را نهٔ کړے شی مونږ ته څلګه چه ورکړے شویدے

اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ

د الله رسولانو ته (۲) الله ښهٔ پیژنی هغه موقعه چرته چه لیږی خپل پیغام نزدے دے چه

الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ

او به رسیږی ګنهګارانو ته (۳) ذلت د الله ج په نزد باندے او سخت عذاب

شَدِيْدٌ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٤﴾

د هغے وجه نه چه هغوئ به مکر کولو

نکات: س۱ بشارت سره د تخویف نه س۲ د نه منلو د څلورمے وجهے اعاده س۳ مضاف او مضاف الیه نهٔ دے بلکه اکابر د جعلنا مفعول اول او مجرمیها د هغه مفعول ثانی دے یا په عکس س۴ شکوٰی س۵ جواب شکوٰی س۶ دا مقام د دعا د قبلیدو دے س۷ تخویف اخروی.

موضح قرآن: ف۱ مخکښے ذکر وو د مړی دلته ئے د کافر د پاره هغه مثال ذکر کړو یعنی په اول جهان کښے توکل مړهٔ وو بیا چه چا ته ایمان ملاؤ شو هغه ژوندے شو او رڼا ئے بیا مونده چه د هغے په مخ توکل خلق وینی رڼا د ایمان او چا ته چه ایمان ملاؤ نهٔ شو هغه په تیارو کښے پاتے شو ف۲ یعنی همیشه د کافرانو مشران حیلے راوباسی دے د پاره چه عوام الناس د پیغمبر تابعدار نشی لکه چه پیغمبر معجزه اولیدله نو حیلے ئے راوویستلے چه د سحر په زور سره سلطنت اخستل غواړی.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی کافرو هدایت ته ورته او کړو ف۲ لکه چه د مکے د کافرانو مشرانو د کفر په امداد کښے سعی کوله ف۳ یعنی مونږ ته هر یو سړی ته جبرئیل ؑ راشی او وحی نازل شی.

حاشیه: ۱۳۲ بشارت سره د تخویف دا د مؤمن او کافر او مؤحد او مشرک تمثیل دے د کفر او شرک تشبیه ئے د مړګ او ظلمت سره او د ایمان او توحید تشبیه ئے د نور سره ورکړه یعنی کوم سړے چه اول مشرک او کافر وو الله ج هغه

مې زړونو ته ژوند ورکړو او هغه ته مې د ایمان توفیق ورکړو د هدایت رڼا مې ورکړه هغه د هغه پشان نشي کیدې چه د کفر او شرک په تیاره کښې راګیر شوې دې او د ایمان د توفیق او د هدایت د رڼا نه محروم دې كَذٰلِكَ زُيِّنَ الخ دا د انکار د خلورمې وجه اعاده ده.

۱۳۵ دا د نه منلو شپږمه وجه ده. اَكٰبِرَ. جَعَلْنَا د پاره مفعول اول او مُجْرِمِيْهَا مفعول ثاني دې یا په عکس لِيَمْكُرُوْا لام عاقبت یعنی د هر کلي لوئې لوئې خلق مجرمان وي او د حق دین نه خلاف د مکر او فریب چالونه سوچ کوي او خلق د قبول حق نه منع کوي وَمَا يَمْكُرُوْنَ الخ د مکر او فریب وبال به په خپله د هغوئ په خانونو باندې پریوځي دې سره هغه د دین هیڅ نقصان نشي کولې یعنی ما يحيق هذا المكر الا بهم لان وبال مكرهم يعود عليهم (خازن ج ۲ ص ۱۳۸)

۱۳۶ دا شکوې ده کله چه هغوئ ته معجزه ښودلې شي نو وائي چه مونږ تر هغه وخته پورې ایمان نه راوړو ترڅو پورې چه مونږ ته هغه معجزات او نه ښائي کوم چه ئې مخکښې رسولانو ته ښودلې وې اَللّٰهُ اَعْلَمُ الخ جواب شکوی. څنګه چه الله ج ته دا خبره معلومه ده چه د رسالت د مرتبې اهلیت په چا کښې دې دا شان هغه ته دا هم معلومه ده چه کوم قسم معجزه د کوم موقع مناسب ده او هغه د خپل حکمت بالغه مطابق معجزات ښکاره کوي ستاسو د خواهشات پابند نه دې.
حصن حصین کښې دي چه دا مقام د دعا قبلیدلو دې څکه چه تلاوت کوونکې دې آیت ته را ورسیږي نو د هغې نه روستو دې دا الله تعالیٰ نه د خپل حاجت د پاره دعا او غواړي.

۱۳۷ دا تخویف اخروي دې صَغَارٌ ذلت او رسوائي بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ با سببیه ده یعنی دا سزا به هغوئ ته د دین اسلام خلاف د مکر او فریب چال خوړولو او د خلقو ګمراه کولو د وجه نه ملاویږي.

فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ
نو چا ته چه الله ج اوغواړي ۱۳۸ چه هدایت اوکړي نو پرانزي د هغه سینه
لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ
د اسلام قبلولو د پاره ۱۳۹ او چا ته چه اوغواړي چه ګمراه ئې کړي نو ګرځوي د
ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ ۭ كَذٰلِكَ
هغه سینه تنګه بې انتها تنګه لکه چه هغه زور سره خیژي آسمان ته داشان د

يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۵﴾

اچوی الله تعالیٰ عذاب ایمان نه
راوړونکو باندې چې دی

وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا ؕ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ

او دا ده ۱۳۹ لاره ستا د رب برابره موږ واضح کړے
نښانے د

لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ

غور کونکو د پاره دی
هغوئ د پاره دے ۱۴۰ کور د سلامتیا د خپل رب سره

وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ

او هغه د دوئ مددګار دے په سبب د عملونو د دوئ او کوم ورځ ۱۴۱ چه جمع کړی

جَمِيْعًا ۚ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ

دا ټول ورته به اووائی اے د پیریانو ټولیه تاسو ډیر تابع کړل دخپل ځان د

الْاِنْسِ ۚ وَقَالَ اَوْلِيٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا

انسانانو نه او وائی به د دوئ دوستان د انسانانو نه چه ای ربه
خموږ

اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ

کار واخسته موږ بعضو د بعض نه وه

نکات: سا بشارت س۲ زجر س۳ ای المذکور من قبل یعنی د شرک اعتقادی او فعلی نه اجتناب کول س۴ بشارت س۵ تخویف اخروی س۶ د دینه مخکښې یقول مقدر دے س۷ یعنی چا چه د پیریانو تابعداری اوکړه

موضح قرآن: ف۱ اول ئے فرمائیلی وو چه کافران قسمونه خوری چه یوه نښانه اووینو نو خواه مخواه به یقین اوکړو او اوس ئے اوفرمائیل چه موږ به ایمان رانه وړو میخ کښې ئے د مرحیوان حلالولو حیلے نقل کړے اوس ئے د دے خبرے جواب ورکړو چه د چا عقل دے طرف ته لاړ شی چه خپله خبره نه پریږدی چه کوم دلیل اووینی نو څه حیلے جوړے کړی دا د ګمراهۍ نښه ده او د چا عقل چه په انصاف او چلیږی او حکم په ځائے راوړی دا د هدایت خلقو کښې د ګمراهۍ نښے د په هغوی به هیڅ یوه نښانی اثر نه کوی ف۲ یعنی حکم په ځائے راوړل او عقل ته دخل نه ورکول سمه لاره ده.

فتح الرحمٰن : ف۱ یعنی د اسلام حقیقت او محاسن ښودلو سره ف۲ یعنی خو مره چه او غواړی چه د اسلام حقیقت او محاسن معلوم کړی طاقت نهٔ لری ف۳ یعنی الله شیطانانو ف۴ یعنی د ددوئ تابعداران د کافرانو نه ف۵ یعنی مطبوعان خوش عیش شول تابعانو سره او تابعان فائده اخستونکی شول متبوعانو سره

حاشیه : ۱۳۸ هدایت او گمراهی د الله ج په اختیار کښے ده چاته چه هغه هدایت ورکول او غواړی د هغه په سینه کښے فراخی پیدا کوی او هغهٔ ته د حق قبلولو توفیق ورکوی او چاله چه گمراه کول غواړی نو د هغه سینه تنګه کرځوی او د هغے نه د قبول حق توفیق اخلی لیکن دا قول هرڅهٔ د هغه د تکوینی قانون مطابق کیږی هغه منیبینو ته هدایت ورکوی او معاندین گمراه کوی د ضد او عناد په وجه سره د هغوئ په زړونو کښے د حق قبلولو صلاحیت باقی نهٔ پاتے کیږی۔

۱۳۹ دا د مذکوره بیان طرف ته اشاره ده یعنی د غیرالله تحریمات ختمول او د غیرالله نه روند حرام کنړل شرک اعتقادی او شرک فعلی نه اجتناب کول دا ټول څیزونه صراط مستقیم او هم دا د الله ج دین دے چه هغه مقرر کړے دے ای هٰذا الدین الذی شرعناه لك یا محمد بما اوحینا الیك هٰذا القرآن هو صراط الله المستقیم الخ (ابن کثیر ج ۲ ص۱۸۵)

۱۴۰ بشارت اخروی دے ضمیر مجرور لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ طرف ته راجع دے یعنی کوم خلق چه د الله ج د آیتونو نه نصیحت حاصلوی او د هغے مطابق عمل کوی په آخرت کښے هغوئ دپاره سلامتی او امن دے او دا به د هغوئ د نیکو عملونو جزا وی.

۱۴۱ دا تخویف اخروی دے یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ د دے نه مخکښے یقول مقدر دے اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْاِنْسِ تاسو ډیر انسانان دخپل ځان تابع کړل او ډیر مو هم گمراه کړل اَوْلِيٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ ضمیر مجرور الجن طرف ته راجع دے او اولیاؤ نه مراد متبعین دی وقال اولیاء الجن ای الکفار من الانس (بحر ج ۴ ص ۲۲۰) ای الذین اطاعوهم واتبعوهم (روح ج ۸ ص ۲۵) کومو خلقو چه دنیا کښے د شیطانانو تابعداری کړے هغوئ دا اظهار ندامت او اعتراف جرم په توګه اووائی اے الله بیشکه مونږ دیو بل نه (یعنی پیریانو د انسانانو نه او انسانانو د پیریانو نه) فائده اخستله او دنن هغه میعاد (وعدے ته راورسیدلو کوم چه تا مقرر کړے وه یعنی قیامت۔ یو بل نه د فائدے اخستلو مطلب دا دے چه په دنیا کښے مخکښے مشرکانو د پیریانو پناه طلب کوله او د هغوئ دا عقیده وه چه هغوئ د پیریانو په پناه کښے محفوظ کرځی او بل طرف ته پیریانو ته دا فائده رسیږی چه د انسانانو په نظر کښے معظم او مقدس کرځی عن الحسن وابن جریج والزجاج وغیرهم ان استمتاع الانس بهم انهم کانوا اذا سافر احدهم وخاف الجن قالوا اعوذ بسید هٰذا الوادی واستمتاعهم بالانس اعترافهم بانهم قادرون علی اعاذتهم واجارتهم (روح) قال ابن عباس ایضاً ومقاتل استمتاع الانس بالجن

قال بعضهم اعوذ بعظیم هذا الوادی من شر اهله اذا بات بالوادی فی سفره واستمتاع الجن
بالانس افتخارهم علی قومهم وقولهم قد سدنا الانس حتی صاروا یعوذون بنا (بحر)

وَبَلَغْنَآ اَجَلَنَا الَّذِیْٓ اَجَّلْتَ لَنَا ؕ قَالَ النَّارُ

او مونږ ورسیدو خپلې هغه نیټې ته کوم چه تا خمونږ د پاره مقرر کړے وه قا اوبه وائی ادر

مَثْوٰىكُمْ خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

ستاسو کور دے او سیږی به په دیکښې همیشه لیکن چه کله اوغواړی الله ستا بیشکه ستا رب

حَكِیْمٌ عَلِیْمٌ ﴿۱۲۸﴾ وَكَذٰلِكَ نُوَلِّیْ بَعْضَ الظّٰلِمِیْنَ

حکمت والا خبردار دے او داشان به مونږ یو ځائے کړو ستاګنهګاران یو دبل سره

بَعْضًۢا بِمَا كَانُوْا یَكْسِبُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۱۵ ع ۸

د دوئی د عملونو په سبب اے ټولیه د پیریانو ستاو انسانانو

اَلَمْ یَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ یَقُصُّوْنَ عَلَیْكُمْ اٰیٰتِیْ

آیا نه وو راغلی تاسو ته رسولان ستاسو نه چه بیانول ئې تاسو ته زما حکم

وَیُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ یَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ قَالُوْا شَهِدْنَا

او ویرول به ئې تاسو له د دے ورځې د راتللو نه او وبه وائی چه مونږ اقرار اوکړو

عَلٰٓی اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا وَشَهِدُوْا

د خپلې ګناه او هغوئی ته دهوکه ورکړه د دنیا ژوند او اقرار اوکړو

عَلٰٓی اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِیْنَ ﴿۱۳۰﴾ ذٰلِكَ اَنْ

په خپل ځان باندے د دے خبرے چه هغوئی کافران وو ستا دا ځکه چه

لَّمْ یَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰی بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا

ستا رب هلاکونکے نه دے د کلو د هغوئی په ظلم باندے او د هغے

غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ؕ وَمَا رَبُّكَ

خلق ناخبر دی ستا او هر یو د پاره درجے دی د دوئی د عمل او ستا رب

بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿۱۳۲﴾

ناخبره نه دے د دوی د کاردونو نه

نکات: ۱ یعنی دوزخ کښے همیشه اوسیدونکے او سره به نور عذاب هم ورکړی لکه سارهقه صعودًا ۲ د نه منلو وجه یعنی د شرک په وجه سره مشرکان د پیربهائی کیدلو د وجه نه دیوبل دوستان وی ۳ تخویف اخروی یقال لهم مکښے مقدر دے ۴ ای مذکور بماقبل ۵ تنوین محذوف مضاف الیه نه عوض دے ای لکل عامل۔

موضح قرآن: ف۱ دنیا کښے چه کوم انسان د بت عبادت کوی او هغه په حقیقت کښے پیریان دی دے خیال باندے چه هغوی به ځمونږ حاجت پوره کوی د هغوی منښتے کوی کله چه په آخرت کښے هغه پیریان او انسانان برابر نیولے شی نو هغه وخت به دا عذر کوی چه مونږ خو عبادت نه دے کړے لیکن خپل مینځ کښے مونږ کار روائی کړے وه دیوبل کار ونه به موچلول او کوم چه ئے اوفرمائیل چه په اور کښے به همیشه اوسیږی لیکن چه الله اوغواړی ځکه چه کړے د دوزخ عذاب همیشه دے نو دهغه په اراده دے که هغه اوغواړی نو موقوف به ئے کړی لیکن یو خبر ئے اوغوښتلو او اراده ئے کړے او دهغے خبرے د رسولانو په ژبه ورکړے دے هغه به لیدونکے نه دے ف۲ دے سورت کښے مخکښے ذکر شو چه اول به کافران د کفر نه انکار کوی بیا به الله تعالی هغوی قائل کړی۔

فتح الرحمن: ف۱ یعنی ځمونږ د حساب دپاره نو ځمونږ په حق کښے څه حکم دے ف۲ یعنی په حق د نجات موندونکو کښے ف۳ مراد دا دے چه آیا نه دے راغلے یعنی ټولو انسانانو او پیریانو ته دا صادق دے په دے باندے چه رسولان دانس (انسانانو نه) لیږلے شی انسانانو او پیریانو ته ف۴ یعنی مخکښے دالیږلو پیغمبرانو نه عذاب نه راځی۔

حاشیه: ۱۴۲ دا د ماقبل نه استثناء ده او دینه معلومه شوے ده چه مشرکان به کله کله د دوزخ نه راویستلے شی او دے نه مراد هغه وقفه ده چه کله هغوی ته ماء حمیم (ګرمو اوبو) څکلو دپاره بهر ته راویستلے شی یا چه کله هغوی طبقه زمهریره کښے داخلولے شی (روح) یا بل کوم عذاب ورکولے شی لکه چه وئے فرمائیل سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا (روح) کذا قال الشیخ قدس سره۔

۱۴۳ د نه منلو او ومه وجه یعنی د شرک په وجه سره ټول مشرکان دیوبل دوستان جوړیږی او د توحید دعوی نه قبلوی لکه چه په شروع عنکبوت ع۳ کښے إِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا مَوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ځکه چه د مشرک پیر مرید یا دیو پیر مریدان رونړه وی او د اهل توحید خبره نه منی۔

۱۴۴ تخویف اُخروی دے او دینه مخکښے یُقَالُ لَهُمْ مقدار دے یعنی ورځ به هغوئ ته او وئیل شی قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓی اَنْفُسِنَا دا به د انسانانو او پیریانو کافرانو له طرف نه اقرار وی چه بیشکه هغوئ ته د الله ج رسول راغلے وو لیکن هغوئ په دنیوئ عیش کښے نوتلی وو او ظاهری شان او شوکت باندے مغرور شول او د الله تعالیٰ د رسولانو نه ئے انکار او کړو۔

۱۴۵ اشاره ذکر شوی مضمون طرف ته ده یعنی مونږ خپل آیتونه بیانونکی، ویره اورونکی او خوشخبری ورکونکی رسولان دے د پاره لیږلو چه په خلقو باندے حُمونږ حجت قائم شی او دا خبره حُمونږ د دستور خلاف ده چه خلق حُمونږ د دستور نه ناخبر وی او هغوئ ته کوم پیغمبر نه وی لیږلے شوے او بیا هغوئ هلاک کړے شی ای لا یهلکهم حتیٰ یبعث الیهم رسولا (بحر ج ۴ ص ۲۲۴)

۱۴۶ لِکُلٍّ کښے تنوین د مضاف مضاف الیه نه عوض دے په اصل کښے لکل عامل بطاعة الله یبلغها بعمله ان کان خیرا فخیرا وان کان شرًّا فشرٌّ (خازن ج ۲ ص ۱۵۵) یعنی هر مومن او کافر ته به د هغوئ د اعمالو مطابق درجه ملاویږی څنګه چه د مومن او کافر په درجاتو کښے تفاوت دے دا شان به د مؤمنانو او کافرانو په درجاتو کښے هم د کثرت او قلتِ حسنات او سیئات په اعتبار سره تفاوت وی

وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ۚ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ
او ستا رب بے پروا دے ۱۴۷ رحمت والا که چرے او غواړی نو تاسو به بوځی
وَيَسْتَخْلِفْ مِنْ بَعْدِكُمْ مَا يَشَاءُ كَمَا أَنْشَأَكُمْ
او ستاسو نه روستو به قائم کړی چاله چه او غواړی څنګه چه ئے تاسو پیدا کړی د
مِنْ ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ ﴿١٣٣﴾ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ
نورو د اولاد نه دکوم خیز چه تاسو سره وعده کولے
لَآتٍ ۖ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا
شی هغه ضرور راتلونکے دے او تاسو نشی عاجز کولے ته او وایه اے خلقو ۱۴۸ تاسو کار
عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ
کوئ په خپل ځائے باندے زه هم کار کوم نو نزدے ده چه پوه به شئ

مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ۗ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ (۱۳۶)

چه چا ته ملا وېږي د عاقبت کور بیشکه کامیاب به نه وي ظالمان خلق

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا

او گرځوي الله د پاره له ۱۴۹ د هغه د پیدا شوي فصلونو او څارویو نه یوه حصه

فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا

بیا وائي دا حصه د الله ج ده په خپل خیال کښې او دا حصه د شریکانو دي زموږ نو څه کوم

كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ۚ

حصه ۱۵۰ د هغوئ د شریکانو ده نو هغه خو نه رسیږي د الله ج طرف ته

نکات: ۱ تخویف دنیوی یعني بیشکه الله تعالیٰ خو مهربان دے لیکن د عذاب ورکولو هم هغه ته معلوم دي او هغه ورکولے هم شي ۲ تخویف اُخروي ۳ د نیازات غیر الله بیان د ویم حُل تفصیلاً دے کښې دوه صورتونه بیان کړے شوي دي.

فتح الرحمن: ۱ د جاهلیت خلقو خو احکام د ځان نه جوړ کړي وو د هغے نه ځنې دا دي چه د فصلونو او څارویو نه ئې څه حصه به ئې د خدائے ج د پاره مقرر وله او څه حصه د بتانو د پاره او د الله تعالیٰ حصه به ئې په مسکینانو او ضعیفانو خرچ کوله او د بتانو حصه به ئې د بتانو په کُنبد (مزار) ته رسوله نو کچرے څه څیز د خدائے پاک د حصے نه د بتانو د حصے سره یو ځائے شو نو پریخودلو به ئې چه خدائے حاجت نه لري او کچرے د بتانو حصه به د خدائے د حصے سره یو ځائے شوه نو هغه به ئې جدا کوله چه بتان محتاج دي او د هغے ځنے دا دي چه د لونړو د وژلو تجویزونه به ئې کول او د دوئ پیشوایانو به دے معنیٰ فتوای ورکړے وه او د هغے ځنے دا وو چه ځنے فصلونه او څاروي به ئې بند (منع) ساتل چه د بتانو د خادمانو (منجورانو) نه سوا به ئې هیچا نه خوړل او کوم چه به ئې د بتانو د پاره ذبح کول د خدائے نوم به ئې په هغے نه اخستلو او د هغے ځنے دا دي چه کله به بحیره او سائبه بچي راوړل کچرے ژوندي به وو نو سړو د پاره به ئې حلال کڼل نه د ښځو د پاره او کچرے مړه به وو نو ټولو د پاره به ئې حلال کڼلو خدائے پاک دا مذهب باطل او گرځولو او هغه کوم چه د خدائے ج حکم دے هغه ئې بیان کړو او کوم محرمات چه اهل ملل په هغے متفق دي هغه ئې ذکر کړل. والله اعلم

حاشیه: ۱۴۷ دا تخویف دنیاوي دے د لته کچرے د چا په زړه کښې دا اشکال

پیدا شی چه دے آیت کښے د الله تعالیٰ صفت رحمت او صفت عذاب دواړه ولے جمع کړے شوی دی نو د دے جواب دا دے چه دلته د الله تعالیٰ دواړه صفتونه بیانول مقصود دی چه بیشکه الله ج رحیم او مهربان دے لیکن نافرمان ته په عذاب ورکولو باندے هم قادر دے تائید وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ذُوالْعَرْشِ الْمَجِيْدُ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ که تاسو ئے نه منئ نو تاسو به هلاک کړی او ستا سو په ځائے به نور خلق آباد کړی څنګه چه ئے تاسو ته د مخکنو خلقو ځائے درکړو. اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ الخ تاسو ته چه د کوم څیز (عذاب) وعده درکولے شی هغه به خامخا راځی د الله په وعده کښے هرګز روستوالے نشی کیدے او نه تاسے د دے قدرت او طاقت لرئ

۱۴۸ دلته اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ پورے تخویف اُخروی دے

۱۴۹ دا د غیر الله د نذرو نیاز دوئم حُل ذکر دے اول ئے قَدْ فَصَّلَ الخ کښے اجمالاً ذکر او کړو دلته ئے ئے تفصیل سره ذکر او فرمائیلو یعنی مشرکان نه صرف د څاروو نه د غیر الله حصه اوباسی بلکه هغوئ د غلو دانو او میوو نه هم د غیر الله نذر او نیاز مقرر وی د دینه معلومه شوه چه صرف هغه حیوانات حرام نه دی کوم چه د غیر الله د تعظیم د پاره حلال کړے شی بلکه هغه هم حرام وی کوم چه ژوندی د غیر الله د پاره د نذرو نیاز په طور باندے ورکړے شی مشرکانو به د زمکے د پیداوارنه او د څاروو نه د خپلو معبودانو د نذر حصے متعین کولے او ورسره به ئے د الله ج حصے هم مقرر ولے.

۱۵۰ د خپلو معبودانو باطله ؤ نذرونیاز حصے به ئے د الله ج د نذر په مصارف کښے نه خرچ کولے لیکن د الله ج نذرونه به ئے د خپلو معبودانو د نذر په مصارف کښے خرچ کول ای فما عینوه لشرکائهم لا یصرف الی الوجوه التی یصرف الیها ما عینوه لله تعالیٰ وما عینوه لله تعالیٰ یصرف الی الوجوه التی

وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ؕ سَآءَ

او کوم چه د الله ج د پاره وی هغه رسیږی د هغوئ د شریکانو طرف ته خو مره بد

مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾ وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيْرٍ مِّنَ

انصاف د دوئ کوی ول او داشان ښائسته کړو ۱۵۱ ډیرو مشرکانو

الْمُشْرِكِيْنَ قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوْهُمْ

ته په نظر کښے د هغوئ د اولاد قتل د هغوئ شریکانو ول دے د پاره چه هغوئ

وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ
هلاک کړي او ګډوډ کړي د هغوی دین او که الله غوښتلے وے نو هغوی به دا نه وو کړي

فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾ وَقَالُوا هَٰذِهِ أَنْعَامٌ
نو پرېږده هغوی پورې شه او د هغوی دروغ او وائي چه دا څاروي

وَحَرْثٌ حِجْرٌ لَا يَطْعَمُهَا إِلَّا مَنْ نَشَاءُ بِزَعْمِهِمْ
او فصل منع کړے دے به هیڅوک نه خوري لیکن هغه څوک چه څمونږ خوښ وي د دوی د خیال

وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَامٌ لَا يَذْكُرُونَ
موافق او څنې څاروي دي چه حرام کړے شوي دي شاګانې د دوی د سوریدلو نه او څنې څاروو

اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْهِ ۚ سَيَجْزِيهِمْ بِمَا
حلالولو په وخت نوم نه اخلي د الله دروغ ئې او تړل په الله نزدے دے چه سزا به ورکړي دوی ته د دوی

كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٨﴾ وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ
دروغو او وائي کوم بچي چه دے د دے څاروو په خېټه کښې دے هغه به

الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا
خاص څمونږ نارینه خوري او هغه حرام دے څمونږ په ښځو باندے

نکات :

ف۱ د نذر لغیر الله دریم صورت ذکر شوے دے ف۲ یعني د هغوی سره د مشرکانو د محبت په وجه سره هغوی د اولاد قتلول هم خوښول ف۳ د یکښے لام عاقبت د پاره دے ف۴ واؤ په معنیٰ د مع دے او مایفترون نه مراد د خان نه جوړ شوے قصے دی ف۵ د مشرکینو د تحریمات دوئم ځل ذکر دے کښے څلور صورتونه بیان شوي دي ف۶ اول صورت ف۷ دوئم صورت ف۸ دریم صورت ف۹ څلورم صورت

موضح قرآن :

ف۱ کافرانو به د خپلو فصلونو او د څاروو په بچو کښے د الله نذرونه هم ویستل او د بتانو منتے به ئې ویستلے بیا څنې څاروي ئې د الله برخه نوم بهتر او لیدل نو هغه ئې د بتانو طرف ته بدل کړل او د بتانو طرف ته چه کوم وو نو هغه به ئې د الله طرف ته نه بدلول د هغوی نه به زیات وبریدل.

فتح الرحمن: ف۱ یعنی شیطانان چه وسوسے ئے اچولے دی یا پیشوایان چه ورته ئے ئے ور ښودلے دے ف۲ یعنی د بحیرو او سائبو په خیته کښے وی.

حاشیه: ۱۵۱ دا د غیر الله د نذر او نیاز دریم شق بیان دے ځنګه چه مشرکانو په میوو غلو، او څارو کښے د غیرالله حصه وېستله دا شان به هغوی خپل اولاد د ونه هم ځنې د خپلو معبودانو په نوم د نذر په طور ذبح کول وقیل انهم کانوا ینذر احدهم اذا بلغ بنوه عشرة نحر واحد منهم (روح ج ۸ ص ۳۲) شُرَكَآؤُهُمْ د زَيَّنَ فاعل دے او قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ د دهٔ مفعول دے چونکه د معبودانو سره د محبت او عقیدت په وجه سره به هغوی دا کار کولو او د دے وجه نه به ئے دا کار عبادت ګڼړلو د دے وجه نه مجازًا د تزیین فعل د شرکاء طرف ته منسوب شوے دے.

۱۵۲ دا د تحریمات غیرالله دویم ځل ذکر دے دلته د باقی پاتے صورتونو نه څلور ذکر شوی دی (۱) هٰذِهٖ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ الخ ځنې څاروی او فصلونه به ئے د خپلو معبودانو د پاره مقرر ول او ویل به ئے چه دا هیڅوک نهٔ شی خوړلے. (۲) وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا په ځنو نذر شو و څارو و باندے به ئے سورلی او بار وړل حرام ګڼړل (۳) وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا کوم څاروے چه به هغوی نذر کولو د ذبح کولو په وخت به ئے په هغے د الله ج نوم نهٔ اخستلو. (۴) وَقَالُوْا مَا فِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا الخ د بحائر او سوائب باره کښے به هغوی دا فیصله کوله چه د دوی د خیټے بچے بچرے ژوندے پیدا شو نو سړو د پاره حلال او ښځو د پاره به حرام وی او بچرے مړ پیدا شو نو د دواړو جنسونو د پاره به حلال وی د مشرکانو عقیده وه چه د دے معبودانو د پاره د تحریمات کولو سره الله تعالی خوشحالیږی چه مونږ د هغه د غوره کړے شوو بندګانو تعظیم کړے دے. الله تعالی د مشرکانو دا فعل په خپل ذات مقدسه باندے افتراء او ګرځوله او د دے افتراء باندے ئے تخویف اخروی واورولو.

وَاِنْ يَّكُنْ مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ

او کوم بچے چه مړوی نو د هغے په خوراک کښے ټول برابر دی هغه به سزا ورکړی دوی ته

وَصْفَهُمْ ؕ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۳۹﴾ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ

د دے تقریرونو هغه حکمت والا خبردار دے ف۱ بیشکه خراب شول ۱۵۳ هغه چه

قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ سَفَهًاۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّحَرَّمُوْا مَا

قتل کړو خپل اولاد ناپوهۍ سره په غیر د عقل نه او حرام ئے کړلو هغه

رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَآءً عَلَى اللّٰهِ ۚ قَدْ ضَلُّوْا وَمَا

رزق کوم چه الله ج هغوی ته ورکړی د دروغ تړلو په الله ج بیشکه هغوی گمراه شول او

كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿١٤٠﴾ وَهُوَ الَّذِیْۤ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ

را نغلل په سمه لاره ف۳ او هغه پیدا کړل ۱۵۴ باغونه چه

مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ

لرگو او چت کړے شوی دی ف۱ او چه نه دی اوچتا کړے شوی ف۱ او د کهجورے ونے او

مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا

فصلونه چه مختلف دی د هغے میوے او پیدا ئے کړو زیتون او انار د یو بل مشابه

وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۚ كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖۤ اِذَاۤ اَثْمَرَ وَاٰتُوْا

او جدا جدا هم ف۳ خورئ د هغے د میوے نه کله چه میوه اونیسی او ادا کړئ د

حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

هغے حق ۱۵۵ په کومه ورځ چه هغه ریبکړئ او بے ځایه خرچ مه کوئ هغه نه خوښوی

الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٤١﴾

بے ځایه خرچ کونکی

نکات: ۱ دیکښے د دوارو مضمونو اعاده ده ۲ د نیازات غیر الله اعاده ۳ د تحریمات مشرکین غیر الله اعاده ۴ د نیازات مشرکین دریم ځل ذکر دلته ئے د فصلونو او مختلف مختلف اقسام ذکر کړے شوی دی ۵ ای خالقه یعنی ټول هرڅه الله ج پیدا کوی بیا تا سو د غیر الله حقے ولے او باسئ.

موضح قرآن: ف۱ یوه مسئله ئے داجوړه کړے وه چه ځاروے به ئے حلال کړو د هغے د خیټے نه به بچے را او وتلو کچرے ژوندے به وو تو سړو به خوړلو او ښځو به نه خوړلو او چه مړ به را اووتلو نو ټولو به خوړلو بے سنده مسئله ئے جوړه ول سخته گناه ده دے باندے ئے هغوی ملزم او گرځول څمونږ په دین کښے د سرے او د ښځے هیڅ فرق نشته کچرے ژوندے را اووځی نو ذبح کولو سره حلال دے او د حلالولو نه بغیر مردار دے او کچرے مړ را اووځی او معلوم وی چه روح پکښے اچولے شوے وو نو د امام اعظم په نزد باندے حلال نه دے ف۲ د لوړو وړل به ئے جائز

زکوٰة ادا کړی یعنی کټول ادا مخته ګناه ده **ف۳** د هغے حق ورکړئ په کومه ورځ چه ئے پریکړئ یعنی
زکوٰة اد مال زکوٰة دے د کال تیریدلو نه روستو او ددے زکوٰة دے په کومه ورځ
چه لاس ته راشی کومه زمکه چه خپل ملکیت کښے وی او په هغے خراج نه راځی دهغے
پیداوار حاصلاتو کښے د الله ج حق دے لچرے اوبه ورکولے شی نو شلمهٔ او لچرے اوبه
(باران) وی نو لسمه حصه ده۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی د انګورو ونے او ددے پشان نورے **ف۲** یعنی
دمخه په تو باندے ولاړے **ف۳** یعنی د هرے نوع افراد په اعتبار د صورت د
یو بل پشان دی او د خوند په اعتبار یوشان نهٔ دی۔

حاشیه: ۱۵۳ دے آیت کښے بالاختصار د دوارو مضمونو نو اعاده شوے
ده قَتَلُوٓا اَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ کښے د نذر لغیر الله وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللهُ
کښے تحریمات دغیر الله افْتِرَآءً مصدر په معنیٰ د اسم فاعل د حرموا د فاعل نه
حال واقع شوے دے دے آیت کښے د نذر لغیر الله او د تحریمات لغیر الله در یم
ځل ذکر دے۔

۱۵۴ د اد نذر لغیر الله څلورم ځل ذکر دے دلته تر اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ۝
پورے دغلو، میوو مختلف قسمونه ذکر کړل وے فرمائیل ددے نه خالص د الله ج
حق ادا کړئ او دینه دغیر الله نذر ونیاز مه ورکوئ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ
بعنی ځنے مفسرینو دا دواړه صفتونه د انګورو سره متعلق کړی دی یعنی ځنے انګور داسے
دی چه هغے د پاره د لرګو څپر جوړ کړے شی هغے باندے خیژولے شی او ځنے داسے
دی چه په زمکه باندے خوریږی دځنو په نزد باندے د معروشات نه انګور او نور
د اقسم زیلۍ لرونکی بوټی مراد دی کوم چه په څپر باندے خیژولے شی او دغیر
معروشات نه د ونے ونه مراد ده مُتَشَابِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ یعنی د امیوے په شکل
او صورت او رنګ کښے خو د یو بل سره ملاؤ دی لیکن په خوند کښے مختلفے دی
ځنے خوږه ځنے تراخه متشابهًا فی اللون غیر متشابهٍ فی الطعم (مدارک ج ۲ ص ۲۸)

۱۵۵ یعنی پورته ذکر شوو څیزونو کښے د الله ج حق اداء کړئ کوم چه الله ج په
تاسو باندے فرض کړے دے واتواحقه الذی اوجبه الله تعالیٰ (روح) مشرکانو
به د زمکے حاصلاتو نه د الله ج حصه مخکښے ویستله لکه چه مخکښے تیر شوی دی
وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا (۱۳۶) د دے وجه نه دلته
مراد دادے اٰتُوْا حَقَّهٗ خَاصَّةً یعنی د زمکے پیداوار نه صرف د الله ج حق ادا
کړئ او هغے نه نذر او نیاز صرف د الله ج په نوم ورکوی وَلَا تُسْرِفُوْا امام
مجاهد او امام زهری رح وائی د دے نه مراد دا دے چه معبودان باطله د
غارو او فصلونو پیداوار کښے مه شریکوئ یعنی د دے نه د دوئ په نوم
باندے نذر او منښته مه کوئ وقال مقاتل المراد لا تشرکوا الاصنام فی

الحرث والانعام (روح - خازن ج ۲ ص ۱۵۸)

وَمِنَ الْاَنْعَامِ حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا ۭ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ
او پیدا ئے کړه د څاروو نه بار وړونکی ۱۵۶ او د زمکے سره لګیدلی خوری د الله د رزق

اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ اِنَّهٗ لَكُمْ
نه او مه ځئ د شیطان په قدمونو باندے هغه

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝۱۴۲ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۚ مِنَ الضَّاْنِ
دشمن دے ستاسو ښکاره وا پیدا ئے کړل اته نر او ښځه ۱۵۷ د ګډو نه

اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ۭ قُلْ ءٰۗالذَّكَرَيْنِ
دوه او د چیلو نه دوه تپوس اوکړه چه دواړه نران الله ج

حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ
حرام کړیدی یا دواړه ښځے یا هغه بچے چه په هغے مشتمل دی بچی دانے د

الْاُنْثَيَيْنِ ۭ نَبِّــُٔــوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۱۴۳
دواړو ښځو او ښائی ما ته سند وا ۱۵۸ کچرے تاسو رښتونی یئ

وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ۭ قُلْ
او پیدا ئے کړه د اوښانو نه دوه ۱۵۹ او د غواګانو نه دوه تپوس

ءٰۗالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ
اوکړه نه دواړه حرام کړی دی الله تعالیٰ یا دوه ښځے یا هغه بچی چه مشتمل دی

عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ۭ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاۗءَ اِذْ
بچی دانے (رحم) د دواړو ښځو آیا تاسو حاضر وئ کوم وخت چه

وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِھٰذَا ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى
الله ج دا حکم تاسو ته درکړے وو بیا د هغه چا نه زیات ظالم څوک دے چه دروغ تړی

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ اِنَّ
پر الله باندے دے دپاره چه خلق گمراه کړی په غیر د تحقیق نه بیشکه
اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ ع
الله ج هدایت نه کوی ظالمانو ته

ع ۱۷

نکات: ۱ دا تحریمات مشرکین څلورم ځل ذکر دے تفصیلاً ۲ مشرکانو نه د هغوئ په تحریمات باندے د دلیل عقلی مطالبه ۳ د دلیل نقلی مطالبه یعنی کچرے دلیل عقلی نه وی نو دلیل نقلی راوړئ ۴ د دلیل وحی نفی ده یعنی دلیل وحی خوستاسو سره کیدے نشی ۵ دا زجر دے او فاء تفریعیه ده د دے درے واړو دلیلونو د نشتوالی په وجه سره تاسو په الله ج باندے افتراء کوئ۔

موضح قرآن: ف بارو وړونکی اوښان او غویان او کډان چیلئ او کډه

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی صحیح نقل راوړئ د ابراهیم او اسمٰعیل علیهما السلام نه او د آسمانی کتابونو نه۔

حاشیه: ف۱۵۶ حَمُوْلَةً وَّ فَرْشًا د واړه جَنّٰتٍ باندے معطوف دی دا د تحریمات غیرالله څلورم ځل تفصیل سره ذکر دے حَمُوْلَةً نه هغه څاروی مراد دی کوم چه بوج اوچتوی او فرش نه هغه مراد دی کوم چه ذبح کولو دپاره په زمکه راغورځولے شی یا چه د کوم د وېښتو او وړیو نه جوړ شوے فرش (قالین وغیره) په زمکه خوروله شی كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ یعنی د هغے نه چه کوم حلال دی هغه خورئ او د جاهلیت د زمانے تحریمات ختم کړئ او د الله ج شکر په ځائے راوړئ او د شیطان په پیروئ کښے د الله ج حلال کړے شوے څیزونه مه حراموئ ای مما احله الله لکم ولا تحرموا کفعل الجاهلیة وهٰذا نص فی الاباحة والازالة ما سنه الکفار من البحیرة والسائبة (بحر ص۲۳۱ ج۲)

ف۱۵۷ دا د حَمُوْلَةً وَّ فَرْشًا نه بدل دے دلته ئے چارپایان اته جوړه کښے تقسیم کړل اثنین (دوه) هر ځائے نر او ښځه مراد ده ضَأْنٌ نه هغه نر او ښځه دواړه پیدا کړل یعنی ګډه او ګډ او پے لمه ګډه هم د یکښے داخل دی (یعنی لکئ والا) او یوه جوړه ئے د معز پیدا کړه یعنی چیلے او چیلئ قُلْ ءٰۤالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ الخ استفهام انکار او توبیخ د پاره دے (بحر) او د یکښے د مشرکانو نه دغان نه جوړ شوو تحریمات باندے د دلیل عقلی مطالبه کړے شوے ده یعنی الله ج دا دواړه جوړے ستاسو د نفع اخستلو د پاره پیدا کړی دی او س تاسو اووائی چه تاسو د دے نر او ښځه او د ښځے په رحم کښے د بچی باره کښے د خپل

جانب نه د حلت او حرمت کوم احکام مقرر کړی دی دا تاسو د کوم ځائے نه اخستی دی د دے ستاسو سره څهٔ دلیل دے آیا الله ج د دے جوړو نران حرام کړی دی؟ یا ښځے یا هغه بچی کوم چه اوس د ښځو په رحمونو کښے دی کچرے دکوم حیوان نرکیدل د هغهٔ د حرمت علت دے نو هر نر حیوان حرامیدل پکار دی او کچرے د هغه ښځه کیدل د حرمت علت دے نو دے صورت کښے ټول ښځے حرامیدل پکار دی او کچرے د بچی د ښځے په رحم کښے کیدل د هغه د حرمت سبب دے نو هر حیوان (نر او ماده) حرامیدل پکار دی نو دینه معلومه شوه چه د دوئ په غیر د څهٔ وجه نه حرامول محض د شیطان بنا ئسته کول او د ابلیس تلبیس دے فلو علل بالذکورة وجب ان یحرم الذکر او بالانوثة فکذلک او باشتمال الرحم وجب ان یحرما لا شتمالها علیهما (بحر)۔

۱۵۸ عِلۡمٍ نه دلته نقلی دلیل مراد دے یعنی کچرے ستاسو سره دے مزعومه (خیالی) تحریمات باندے څهٔ عقلی دلیل موجود نهٔ دے نو څهٔ نقلی دلیل پیش کړئ د سابقه انبیاء علیهم السلام نه د چا قول یا د تیر شوو آسمانی کتابونو حواله

۱۵۹ داشان دا و بنا نو جوړه هغهٔ پیدا کړه یعنی اوښ او ښه او د بقره غوا یا نو جوړه غوا-غوایه سنڈا ۔ مینه هم دیکښے داخل دی قُلۡ ءٰٓالذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ اَمِ الۡاُنۡثَيَيۡنِ الخ د دے تقریر هغه دے کوم چه په حاشیه (۱۵۷) کښے تیر شوے دے۔

۱۶۰ دے سره د دلیل وحی نفی مقصود ده او استفهام انکاری دے یعنی آیا تاسو د هوش او حواس موجود گی کښے آوریدل کله چه الله ج تاسو ته د دے تحریم حکم در کړے دے؟ مطلب دا دے چه دا سے هرگز نهٔ دی شوی حاصل دا چه د دے تحریمات باطله د پاره ستاسو سره هیڅ دلیل نشته نه عقلی نه نقلی او دلیل وحی۔

۱۶۱ دا زجر دے او فاء تفریعیه ده یعنی چه کله تاسو سره د هیڅ قسم څه دلیل نشته نو تاسو د خپل ځان نه د تحریمات کولو په وجه سره په الله تعالیٰ باندے افتراء کوئ او تاسو ټولو نه لوئے ظالمان ئے او گنهکاران ئے د دهٔ نه لوئے بدکردار بل څوک نشی کیدلے

قُلۡ لَّاۤ اَجِدُ فِیۡ مَاۤ اُوۡحِیَ اِلَیَّ مُحَرَّمًا عَلٰی

ته او وایه چه زهٔ نهٔ مومم **۱۶۲** دے وحی کښے چه ما ته را رسیدلے ده څه څیز حرام

طَاعِمٍ یَّطۡعَمُهٗۤ اِلَّاۤ اَنۡ یَّکُوۡنَ مَیۡتَةً اَوۡ دَمًا

په خوړونکی باندے چه هغه خوری لیکن دا چه هغه څیز مردار وی یا بهیدونکی

مَّسْفُوحًا اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا

یا غوښه د خنزیر چه هغه پلیت دی یا ناجائز حلاله

اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا

دینه کوم چه نوم واخستلے شي دالله ج نه سوا دبل چا بیا چه څوک بے اختیاره شي نه نافرماني

عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤٥﴾ وَعَلَى الَّذِيْنَ

اوکړي او نه زیاتے نو ستا رب معاف کونکے دے ډیر مهربان ﴿ف٥﴾ او یهودو

هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَ

باندے موږ حرام کړی وو دهغے هر یو نوکانو والا حیوان او د غوایانو او

الْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُوْمَهُمَآ اِلَّا مَا حَمَلَتْ

چیلو نه ئے حرام کړی وو دهغے هر وازده لیکن کوم چه نګیدلے وی په

ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ الْحَوَايَآ اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۭ ذٰلِكَ

شا باندے یا په کلمو باندے یا چه کومه وازده پیوست شوی وی په هډوکی پورے

جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۡ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿١٤٦﴾

دا هم موږ هغوئ ته سزا ورکړے وه دهغوئ شرارت باندے او موږ رښتیا وایو ﴿ف٦﴾.

نکات: ﴿ف١﴾ د مشرکانو د نذرونو بیان پنځم ځل ذکر شو ﴿ف٢﴾ دمقدر سوال جواب

موضح قرآن: ﴿ف١﴾ یعنی دګوموحیوانانو خوراک چه دستور دے دهغے نه دا حرام دی

﴿ف٢﴾ دحیوانانو نه نوکان لرونکی یعنی اوښان دوئ باندے حرام وو د دوئ دحکمونو د نه منلو وجه نه دهغوئ سخت نیول وو په اصل کښے دا څیز وونه حرام نه دی.

فتح الرحمٰن: ﴿ف١﴾ مترجم وائي مراد حصر اضافي دے په نسبت سره بهيمة الانعام ته او هغه اته قسمونه ذکر شوی دی سپے، زمرے، باز او غیر د دینه اګر چه حرام دی د بهيمة الانعام نه نه دی او په هغے کښے ئے بحث نه دے کړے.

حاشیه: ﴿١٤٢﴾ دا د نذر غیر الله پنځم ځل ذکر دے دے آیت کښے د نذر لغیر الله نه په فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ سره تعبیر کړے شوے دے فِسْقًا د باره مضاف محذوف دے چه هغه ئے حذف کړو دا دهغے قائم مقام ګرځولے شوے دے ای ذات فِسْقٍ او دا د موصوف مقدر صفت دے ای کلمة ذَاتَ فِسْقٍ یعنی د فسق او

معصیت هغه کلمه هم حرام ده کوم په ذبح چه د غیر الله نوم ... او مذبح ...
د غیر الله په طریق ادلی حرام ده ... د تفسیر د مشهور ...
مطابق دے د نورو مفسرینو په نزد بانده په اصل لغیه ... فسقا ...
ئے عین فسق ځکه اوویل چه د افعل د اشهاف فسق ... او د الله ... د الفرماؤ ...
شوے دے۔

۱۶۳ دا د سوال مقدر جواب دے سوال دا دے چه ...
باقی ټول څیزونه حلال دی نو هر ذی ظفر (نوکانو والا) حیوان ...
نه وی او د غوا او چیلئ څنے حصے په یهودو بانده ولے حرام کړے شوے ...
جواب ورکړے شو چه د دے څیزونو حرمت نه د اولو دپاره ... هميشه ...
دا څیزونه خو صرف یهودو بانده د سزا په طور بانده حرام کړے شوے ...
دے فرمائیل ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۫ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ یعنی ...
مونږ دوئ بانده د دوئ د سرکشئ او د دوئ د کفر او عناد د سزا ...
بانده حرام کړی وو۔

فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ رَّبُّكُمْ ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ ۚ

بیا کچرے دروغژن او ګنړی ستا ۱۶۴ نو اووایه چه ستاسو رب په رحمت ...

وَلَا يُرَدُّ بَاْسُهٗ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۴۷﴾

او نه به لرے کیږی د هغه عذاب
د ګنهګار خلقو نه دما

سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكْنَا

اوس به وائی ۱۶۵ مشرکان کچرے الله غوارے نو مونږ به شرک نه کولے

وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ

مونږ او نه څمونږ پلار او نیکه او نه به حرام کړے وو څه څیز دا شان دروغ ګنړلی

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتّٰى ذَاقُوْا بَاْسَنَا ؕ قُلْ هَلْ

وو د دوئ نه مخکښے تر دے چه هغوئ اوڅکه څمونږ عذاب ته اووایه

عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ؕ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ

څه علم هم شته ستاسو سره دا چه هغه څمونږ په وړاندے ښکاره کړی تاسو

إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ (۱۴۸) قُلْ

تاسو پیروي نه کوئ مګر د ګمان او نه یئ تاسو مګر صرف اندازې لګوئ وایه ته

فَلِلَّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ۖ فَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ (۱۴۹)

پس د الله ج الزام پوره دے ۱۶۷ نو که چیرے هغه غوښتلے نو هدایت به ئے کړے وے تاسو ټولو ته

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمُ الَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ

ته اووایه راولئ ۱۶۸ خپل ګواهان چه ګواهي اوکړی چه

اللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَا ۖ فَإِن شَهِدُوا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ

الله حرام کړی دی دا څیزونه بیا که چیرے هغوئ د دے ګواهي ورکړي هم نو ته اعتبار مه کوه په دوئ باندے ۱۶۹ خبر دے

نکات: سا اګرچه د هغه رحمت فراخ دے لیکن هغه عذاب هم ورکولے شي سـ۲ شکوای په قول د مشرکانو سـ۳ یعني شرک فی التصرف به مونږ نه وو کړے سـ۴ یعني شرک فعلي (تحریمات غیرالله) به مونږ نه کولے سـ۵ دلیل نقلي یعني ستاسو او لیکے قول خو بالکل لغوه دے که چیرے څه نقلي دلیل وي نو پیش ئے کړئ سـ۶ یعني شرکي توهمات سـ۷ یعني حجت کامله په اعتبار د دلائلو سره الله ج د پاره دے ستاسو د پاره هیڅ نشته سـ۸ یعني بالجبر سـ۹ د دینه روستو ولا لیبلو کم مقدر دے په قرینه باندے د سورۀ مائده سـ۱۰ مشرکے پیران او ملایان مراد دي.

موضح قرآن: ف۱ یعني د رحمت د فراخئ په وجه خو تر اوسه پورے تاسو بچ شوي یئ لیکن دا خیال مه کوئ چه عذاب ختم شو ف۲ د کافرانو شبه ده چه که چیرے مونږ کار الله ته خوښ نه وے نو مونږ به ئے هغے ته نه پریښودلے د دے جواب ئے اوفرمائیلو چه تیر شوے یئ په ګناه ولے اونیول معلومه شوه چه هغوئ هم څه وخته پورے بد کاروونکي ول او الله ج نه نیول آخر ئے اونیول ف۳ یعني ستاسو غلطي ثابته شوه چه دلیل نه لرئ او بیا هم نه منئ نو علامت د دے دے چه ستاسو په قسمت کښے هدایت نشته.

فتح الرحمن: ف۱ د الله ج د کتابونو نه نقل

حاشیه: سـ۱۶۴ دا خلق د الله ج په حکم مغرور دي او په تکذیب ټینګ ولاړ دي تاسو اوفرمائی بیشکه د الله تعالیٰ رحمت ډیر فراخ دے لیکن د هغه عذاب هم ډیر سخت او راتلونکے دي چه د یو ګنهګار او سرکش عنادګر نه نه واپس کیږي.

سـ۱۶۵ دا شکوای ده او شرک باندے د مشرکانو د ټولو نه لوئے دلیل ذکر شوے دے

مشرکانو افعالو د جواز د پاره دا دلیل پیش کړو
یعنې مشرکان وائي دا چه د خپل
چه موږ شرک اوته کړو نو موږ او څوږ پلارانو به
کړے الله ته منظور وے چه موږ د غیر الله تحریمات کولے نو دیته معلومه شوه چه
فی التصرف نه کولے او نه به موږ د غیر الله تحریمات کولے ... هٰذا بهتانٌ عظیم.
خه کوو الله ج پرهغے راضي دے سبحان الله .
۱۶۶ جواب شکوی دے یعني د دوئ نه مخکښے خلقو هم د حق تکذیب
شان بے سره او به خپو دلیلونه پیش کړل تردے چه څوږ عذاب هغوئ راګیر
هَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ عِلْمٍ یعني مخکښے دلیل خو بالکل بے هوده او کمزورے دے
نه ادوائي چه کچرے ستاسو د تیر شوو انبیاء علیهم السلام نه څهٔ نقلي دلیل
پیش کړئ دلیل به ستاسو سره څهٔ وی تاسو خو هره خبره ظن او اټکل سره کوئ
په معامله کښے محض د ګمان فاسد تابعداري کوئ.
۱۶۷ اَلْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ج هغه واضح دلیل کوم چه په قوت او مضبوطیا کښے
ته رسیدلے وي او هر لحاظ سره کامل وي یعني د مشرکانو سره خو معمولي شان دلیل
هم نشته لیکن الله تعالیٰ سره مضبوط او محکم دلائل دي چه هغے سره د توحید
هر اړخ اثبات او د شرک د هر اړخ رد فرمائیلے دے فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ دیته
روستو و نکړ لیبلو کم مقدر دے الله ج ټول انسانان په ایمان باندے مجبور
نه کړل (اګرچه هغه دا شان کولے شي) ځکه چه دا شان دا امتحان او ابتلاء
حکمت فوت کیږي.
۱۶۸ هَلُمَّ اسم فعل په معنیٰ دامر دے ای احضروهم او د شهداء نه د
مشرکانو اکابر او رؤساء او د هغوئ مقتدایان او پیشوایان مراد دي چا چه
دوئ ګمراه کړي وو وے فرمائیل مشرکانو ته او وایه چه هغوئ خپل پیشوایان
راوبلی دے د پاره چه هغوئ د دے خبرے اقرار او کړي چه الله ج دا خیزونه
حرام کړي دي او دے باندے دلائل هم پیش کړي د دے نه مقصود د ټول مخلوق
په مخکښے د هغوئ رسوا کول دي ځکه چه د دوئ د تابعین په شان د دوئ متبوعین
هم څهٔ دلیل د ځان سره نه لري. وهم كبراؤهم الذين اسسوا ضلالهم والمقصود
من احضارهم تفضيحهم والزامهم وان لا تمسك لهم كمقلديهم (روح ج ۸)
۱۶۹ کچرے د مشرکینو پیشوایان ستاسو په مخکښے دا دروغ خبرے اوکړي
چه واقعي الله تعالیٰ دا خیزونه حرام کړي دي نو فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ تاسو د دوئ
د خبرے هرګز تصدیق مه کوئ ځکه چه دا صریح دروغ دي او بالکل باطل دي
یا مطلب دا دے چه کچرے هغوئ د دے خبرے شهادت درکړي نو دے کښے
د هغوئ موافقت مه کوئ ای فلا تصدقهم فانه كذب بحت (روح) ای لا
توافقهم لانهم كذبة في شهادتهم كما ان الشهود كذبة في دعواهم.
(بحر ج ۳ ص ۲۴۸)

وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِـَٔايٰتِنَا وَالَّذِينَ

او مه ځي پسې خوښو باندې د هغه چا چه دروغ او ګڼل دوی ایتونو زمونږ حکمونه او هغوی چه

لَا يُؤْمِنُونَ بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٠﴾

ایمان نه راوړي په آخرت باندې او هغوی د خپل رب سره برابروي نور (مخلوق) ووایه

قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا

راشئ درته لولم تاسو ته هغه شي ⁽¹⁾ زه واوروم کوم حرام کړي دي تاسو باندې ستاسو رب چه مه

بِهِ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ

شریکوئ هغه سره څه څیز او مور و پلار سره نیکي کوئ او مه وژنئ خپل اولاد د

مِّنْ إِمْلَاقٍ ۖ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ وَلَا تَقْرَبُوا

تنګ لاسۍ د وجه نه مونږ رزق درکوو تاسو ته او هغوی ته او نږدې مه ورځئ

الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا

بې حیایۍ کار ته ف٢ ⁽²⁾ کوم چه ښکاره وي د هغې نه او کوم چه پټ وي او مه وژنئ هغه

النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ ذٰلِكُمْ

نفس کوم چه حرام کړے دے الله لیکن په حق باندې ف٣ تاسو ته دا

وَصّٰىكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ

حکم کړے دے د دې د پاره چه تاسو پوهه شئ او نږدې مه ورځئ د یتیم

الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ۚ

مال ته لیکن په هغه طریقه چه بهتره وي تر هغې چه ورسیږي خپلې ځوانۍ ته

نکات: ف١ د تحریمات الهیه بیان سورة مائده کښې غیر محلّی الصید سره صرف یو صورت بیان کړے شوے وو د لته باقي صورتونه بیان شوي دي. دے صورت کښې د نیازات الله بیان راغلے ف٢ ای امرکم ف٣ ای احسنوا

فتح الرحمٰن: ف١ یعنی معبودان باطله لره ف٢ یعني زنا او لواطت ته

ف٣ یعني په قصاص او د دے په مثل.

حاشیه: ۱۶۰ د دغو سره خو دلائل بالکل نشته هغوی چه کوم خدای ...
به د خواهشات نفسانیه تحت وی د دے وجه نه تاسو د هغے پیروی مه کوئ ...
د الله ج د واضح آیتونو تکذیب کوی په آخرت باندے خو د هغوی ایمان نشته ...
د الله تعالی سره شریکان جوړوی۔

۱۶۱ دا د تحریمات الٰهیه ذکر دے سورهٔ مائده کښے د تحریمات الٰهیه ...
په صورت ذکر شوی دی یعنی غیر محلی الصید وانتم حرم او باقی ...
د سورهٔ انعام په دے آیت کښے ذکر کړے شو او یا د قتل نه منع او کړے شوه ...
کښے مور و پلار سره د حسن سلوک حکم ورکړے شو د دینه مقصود دا دے چه ...
د هغو نه لویه گناه ده بلکه مور و پلار هم په شرک باندے مجبور کړی ...
معامله کښے د هغوی اطاعت هم جائز نه دے لکه چه سورهٔ عنکبوت ع ...
او فرمائیل وَاِنۡ جَاهَدَاكَ لِتُشۡرِكَ بِىۡ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهٖ عِلۡمٌ فَلَا تُطِعۡهُمَا۔

۱۶۲ د مذکوره محرمات نه علاوه درج ذیل امور هم الله تعالی حرام کړی دی
فواحش ظاهره او باطنه یعنی د بے حیائی ټول صورتونه خواه هغه علانیه وی یا پټ
نفس وژل په ناحق د یتیم مال خوړل ناجائز طریقے سره په پیمانه او تول کښے
زیاتے کمے کول د چا حق وهل د دروغو گواهی کول او په فیصله کښے بے انصافی
کول وغیره دا ټول محرمات الٰهیه دی یعنی دا کارونه الله ج حرام کړی دی لهذا د دے
حرام والے باقی او ساتئ او دا حلال مه گڼړئ۔

وَاَوۡفُوا الۡكَيۡلَ وَالۡمِيۡزَانَ بِالۡقِسۡطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ
او پوره کوئ تاسو پیمانه او تول انصاف سره موږ نه د چا په ذمه
نَفۡسًا اِلَّا وُسۡعَهَا ۚ وَاِذَا قُلۡتُمۡ فَاعۡدِلُوۡا وَلَوۡ كَانَ
هغه څه لازموو د کوم چه د هغه طاقت وی او کله چه خبره کوئ نو حق وائی اگر
ذَا قُرۡبٰى ۚ وَبِعَهۡدِ اللّٰهِ اَوۡفُوۡا ؕ ذٰلِكُمۡ وَصّٰكُمۡ بِهٖ
چه هغه خپل رشته دار دی او د الله وعده پوره کړئ هغه تاسو ته دا حکم درکوی دے
لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۱۵۲﴾ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِىۡ
د پاره چه تاسو نصیحت واخلئ او حکم دے او کړو چه دا لاره ده زما
مُسۡتَقِيۡمًا فَاتَّبِعُوۡهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ
سمه او د دے باندے لاړ شئ او مه ځئ په نورو لارو باندے ځکه چه هغه تاسو جدا

بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ

بیلوی ولاړے نه د الله د لارے نه دا حکم کړے دے تاسو ته دے دپاره چه

تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ تَمَامًا عَلَى

تاسو بچ شئ بیا ورکړو مونږ ^۱۴۵^ موسیٰ ته کتاب د نعمت پوره کولو دپاره

الَّذِي أَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى

نیک کارکونکو باندے او د هر شی د تفصیل دپاره او هدایت

وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُم بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٤﴾

او رحمت دے دپاره چه هغه خلق د رب په ملاقات یقین اوکړی ^ف۱^

وَهَٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا

او دا یو کتاب دے ^۱۴۶^ مونږ نازل کړو برکت والا نو د دے متابعت اوکړئ او ویریږئ

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٥٥﴾

چه په تاسو رحم اوشی

نکات: ^س۱^ ای اقول لکم ^س۲^ ثُمَّ تعقیب ذکری دپاره دے دا دلیل نقلی د دواړو دعوو دپاره دے یعنی نفی د شرک اعتقادی او نفی د شرک فعلی ^س۳^ یعنی کوم سړے چه به نیکه لاره تلونکے وی هغه دپاره پوره بیان دے ^س۴^ دلیل وحی یعنی دا کتاب هم د تورات موافق تحریمات د غیر الله نه حلال او د غیر الله نذرونیاز نه حرام وائی۔

موضح قرآن: ^ف۱^ د ینه معلومه شوه چه مخکښے حکم همیشه جاری وو روستو چه تورات نازل شو نو واضح او مفصل شو

فتح الرحمٰن: ^ف۱^ په نوح ... یعنی وصیت ورکړئ یا حکم اوکړی ^ف۲^ یعنی د هغه په نذر باندے ^ف۳^ د دے بنده په نزد ظاهره دا ده چه حرام شے او کړخول ذکر شوی اشیاء په ازل کښے او د نوح علیه السلام په قوم باندے وَحَلَّمْ جَزَّ او بیا هم حضرت موسیٰ علیه السلام ته کتاب ورکړو.

حاشیه: ^۱۴۲^ دلته د قول نه عام مراد دے ، شهادت ، فیصله او نور امور یعنی چه کله تاسو گواهی کوئ یا یوه جګړه فیصله کوئ نو په هغے کښے د چا طرفداری مه کوئ بالکل د پوره عدل او انصاف نه کار واخلئ اګرچه ستاسو د

تولا فی حکومة او شهادة او (وَاِذَا قُلْتُمْ) رانئ دار رشته یو کښے ضد په فیصلے
(روح ج ٨ ص ٥٦) نحوهما (فَاعْدِلُوْا) فیه وقولوا الحق

۱۷۴ په دا تیرو شوو دواړو آیتونو کښے ذکر شوو احکامو طرف ته اشاره ده یعنی دے آیتونو کښے چه کوم احکام ذکر شوی دی بس هم دا حُما لاره ده او هم د خدائی دے چه ما د خپلو بندګانو د پاره غوره کړے لهٰذا تا سو د دے تابعداری وکړئ او باقی ټولے لارے پریږدئ وان هٰذا الذی وصیتکم به وامرتکم به فی هاتین الأیتین هو صراطی یعنی طریقی و دینی الذی ارتضیته لعبادی (خازن ج ٢ ص ٦٢)

۱۷۵ د سورت د واړه مضامین یعنی نفی د شرك اعتقادی او نفی د شرك فعلی ذکر کولو نه روستو په آخر کښے دواړو مضامینو باندے یو دلیل نقلی او یو دلیل وحی ذکر کړے شو دے آیت کښے حضرت موسیٰ علیه السلام سره دلیل نقلی پیش کړے شوے دے ثُمَّ دلته تعقیب ذکری د پاره دے مطلب دا دے چه د مذکوره بیان نه روستو دا هم واورئ دا مطلب نه دے چه موسیٰ علیه السلام ته کتاب د دے نه روستو ورکړے شو تَمَامًا په معنیٰ د اتمامًا سره دے د اٰتینا د پاره مفعول له دے یعنی د نعمت دین د تمامولو د پاره مونږ حضرت موسیٰ ته کتاب ورکړو یا تمامًا په معنیٰ د تامًّا د الکتٰب نه حال دے یعنی هغه کتاب (تورات) کامل او مکمل وو او په هغه کښے دا دواړه مضامین ذکر وو نفی د شرك فی التصرف او نفی د شرك فعلی (تحریمات د غیر الله ناجائز او د غیر الله نذرونه حرام دی) عَلَى الَّذِیْٓ اَحْسَنَ یعنی هغه کس د پاره چه په نیکه لاره تلل اختیار کړی تفصیلًا لکل شیٔ او دے تورات کښے ټول ضروری احکام او مسائل ذکر شوی وو کوم ته چه دین کښے ضرورت وو۔

فائدة: یو حدیث کښے راځی فتجلّٰی لی کل شیٔ یعنی ماته هر څیز روښانه شو اهل بدعت دے سره د نبی علیه السلام په علمِ غیب کلی باندے استدلال کوی د هغوئی د استدلال بنیاد په دے باندے دے چه دلته لفظ د کل استغراق حقیقی د پاره دے نو دے جواب دا دے چه اول خو دا حدیث د سند په اعتبار سره ضعیف او ساقط الاعتبار دے دویم کچرے بالفرض دا او منلے شی نو دعوٰی غلط ده چه دلته کلّ استغراق حقیقی د پاره دے بلکه دلته استغراق اضافی دے کچرے دا په استغراق حقیقی باندے محمول کړے شی مطلب به دا وی چه ټول مَا کَانَ او مَا یَکُوْنُ او د ټولو شرائع او احکام علم په نبی علیه السلام ظاهر شو نو دے نه لازمیږی چه د قرآن مجید نزول عبث او بے فائده شو عیاذًا بالله العظیم قرآن مجید کښے د دے ډیر مثالونه موجود دی لکه چه زیر تفسیر آیت کښے لفظ د کُلّ استغراق اضافی د پاره دے او د دینه مراد هغه احکام دی کوم ته چه دین کښے ضرورت وو علامه آلوسی لیکی ای بیانًا مفصّلًا لکل ما یحتاج الیه فی الدین (روح ج ٨ ص ٦٠) امام نسفی وائی بیانًا مفصّلًا لکل ما یحتاجون الیه فی دینهم (مدارك ج ٢ ص ٣٢) امام بغوی او

خازن لکی یعنی وفیه بیان لکل شیءٍ یحتاج الیه من شرائع الدین واحکامه (معالم وخازن واللفظ له ج ۲)

۱۷۶ دا د سورت دوارو مضامینو باندے دلیل وحی دے یعنی دا کتاب هم د تورات موافق تحریمات لغیر الله حلال او نذور لغیر الله حرام کرځوی دده تابعداری اوکړئ او دده د مخالفت نه ځان اوساتئ.

أَنْ تَقُولُوٓا إِنَّمَآ أُنزِلَ الْكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيْنِ

ددے وجه نه کچرے تاسو اووائی چه کتاب کوم نازل شوے وو په هغه دوه فرقو باندے

مِن قَبْلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمْ لَغَٰفِلِينَ ﴿۱۵۶﴾

کوم چه ځمونږ نه مخکښے وو او مونږ ته د هغے د لوستلو اوښودلو خبر هم نه وو

أَوْ تَقُولُوا لَوْ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيْنَا الْكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهْدَىٰ

یا اووائی چه کچرے مونږ باندے نازل شوے وے کتاب نو مونږ به په لاره باندے

مِنْهُمْ فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى

تللے د دوئی نه بهتر نو راغے تاسو ته حجت ستا د رب له طرفه نه او هدایت

وَرَحْمَةٌ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ

او رحمت اوس د هغه نه زیات ظالم څوک دے ۱۷۷ چه دروغ اوګڼړی د الله ایتونه

وَصَدَفَ عَنْهَا سَنَجْزِى الَّذِينَ يَصْدِفُونَ

او د هغے نه ۱۷۸ ده اوګرځی مونږ به سزا ورکړو هغوئی کوم چه ځمونږ د ایتونو نه

عَنْ ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يَصْدِفُونَ ﴿۱۵۷﴾

کنبے ځان ارودی ناکاره عذاب دے په بدله د هغه څه ارو لو

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِىَ

آیا انتظار کوی خلق؟ ۱۷۹ لیکن د دے چه دوئی باندے راشی فرښتے یا راشی

رَبُّكَ أَوْ يَأْتِىَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ

ستا رب ۱۸۰ یا راشی بل شه ۱۸۱ نښانه ستا د رب ۳

نکات: ۱ ای کراهة ان تقولوا ۲ زجر فاء تفریعیه ده ۳ تخویف اخروی ۴ تخویف دنیاوی۔

موضح قرآن: ف۱ یعنی دا کتاب مونږ نازل کړو د ے دپاره چه ستاسو د عذرځائے پاتے نشی ف۱ یعنی د تیر شوو امتونو حال او ریدلو سره شاید چه تاسو ته شوق او ارمان راشی نو تاسو ته هم هغه شان کتاب درکړے شو

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی د یو قوم د هلاکولو دپاره ف۲ یعنی طلوع شمس له مغرب نه یا دابة الارض۔

حاشیه: ۱۷۷ دا په اصل کښے کراهیة ان تقولوا یا لئلا تقولو۔ طائفتین نه مراد یهود او نصاری دی یعنی مونږ دا کتاب (قرآن مجید) تاسو باندے د اتمام حجت د پاره نازل کړو دے دپاره چه تاسو دا اونه وائی چه څومونږ نه مخکښے یهود او نصاری باندے تورات او انجیل نازل شول او مونږ د هغوئی د تعلیم نه ناخبر وو یا دا عذر پیش نه کړئ چه د یهود او نصاری و پشان کړے په مونږ باندے هم څه کتاب نازل شوے وے نو مونږ به د هغوئی نه زیات د آسمانی کتاب پیروی کولے او د هغوئی نه به زیات په سم لاره روان وے فَقَدْ جَآءَكُمْ بَيِّنَةٌ الخ لهٰذا د اتمام حجت په طور باندے د الله له طرفه تاسو ته کتاب راغلے دے چه د واضح دلیلونو نه ډک دے او سمه لاره ښائی او د هغے تابعداری د رحمت باعث ده۔

۱۷۸ دا زجر دے۔ فاء تفریعیه ده لهٰذا د ټولو نه لوئے ظالم هغه دے څوک چه د الله ج د آیتونو تکذیب اوکړی او د هغے نه مخ واړوی سَيَجْزِي الَّذِينَ يَصْدِفُونَ الخ دا تخویف اُخروی دے۔

۱۷۹ دا تخویف دنیاوی دے د عذاب دنیاوی دلته درے صورتونه بیان شوی دی یعنی د مذکوره دلائلو او براهین په موجودګئ کښے ایمان نه راوړی آیا د دے خبرے انتظار کوی چه د مرګ فرشتے راشی او د هغوئی روحونه قبض کړی نو د مرګ نه روستو به د هغوئی سترګے پرانستے شی یا دا چه په هغوئی باندے د الله ج عذاب راشی یا د قیامت د علامات نه څه داسے نشانه (علامه) اووینی چه دوئی په ایمان راوړلو باندے مجبور کړی لیکن دے درے واړو صورتونو کښے به ایمان راوړل بے فائدے وی د فرشتو راتللو نه د روحونو قبض کولو دپاره یا د الله عذاب راوړل مراد دی يَأْتِيَ رَبُّكَ ای یاتی امر ربك بالعذاب (روح ج ۸ ص ۶۲)

۱۸۰ څنے مفسرینو لیکلی دی چه د کومے نشانئے ذکر دلته شوے دے د هغه د نمر راختل مراد دی له مغرب نه حضرت شیخ رح فرمائی دے نه هر هغه نشان مراد دے چه د هغے لیدلو سره خلق په ایمان راوړلو مجبور او مضطر شی او طلوع الشمس من المغرب هم دیکښی داخل دلکه چه علامه ابن صفی طلوع الشمس من المغرب د مثال په طور باندے پیش کړے او د کوم نشانات ته ظاهر بدلو سره چه ایمان فائده نه ورکوی هغه ئے دیکښے منحصر نه کړل آیت سره د تفسیر نه

ملاحظه کړئ (اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ) كطلوع الشمس من المغرب (يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ)
التي تضطرهم الى الايمان (جامع البيان ص۱۳۱) فرعون د غرقيدلو په وخت ايمان راوړے وو خو هغه
ايمان قبول نه شو ځکه چه هغه ايمان اضطراري وو او ايمان راوړو باندے د غرقيدو عذاب د مضطر
کړے وو صحيح بخاري باب التفسير کښے حضور عليه الصلوٰة والسلام او فرمائيل لا تقوموا
الساعة حتىٰ تطلع الشمس من المغرب فاذا طلعت وراٰها الناس اٰمنوا اجمعون و ذٰلك
لا ينفع نفسا ايمانها ثم قرأ هَلْ يَنْظُرُوْنَ الخ دينه معلوميږي چه حضور عليه السلام
د آيت د استشهاد په طور تلاوت کړو نه چه د تفسير په طور باندے د کومو روايتونو
چه د تفسير کيدلو احتمال کيږي هغه روايت بالمعنىٰ دے لهٰذا دد ے آيت نه مطلق
نښانات مراد دي چه د هغے ليدلو سره انسان په ايمان راوړلو باندے مضطر شي
دد ے تائيد سورۃ مومن ع ۹ دد ے آيت نه کيږي فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ لَمَّا
رَاَوْا بَاْسَنَا۔

يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا
کومه ورځ چه راشي يوه نښانی ستا درب له طرفه په کار به را نشي ده چا ايمان راوړل

لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِيْۤ اِيْمَانِهَا
چا چه ايمان مخکښے نه وي راوړے يا ئے خپل ايمان کښے څه

خَيْرًا ؕ قُلِ انْتَظِرُوْۤا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ اِنَّ
نيکي نه وي کړي ووايه ته او وايه تاسو هم لار ګورئ او مونږ هم لار ته ګورو بيشکه چا

الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ
چه لارے او ويستلے په دين کښے او ډيرے ډلے شولے هغوي سره ستا

مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ ؕ اِنَّمَاۤ اَمْرُهُمْ اِلَى اللّٰهِ ثُمَّ
څه غرض نشته دے د هغوئي کار الله ته حواله دے بيا به خبر

يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ مَنْ جَآءَ
ورکړي هغوئي ته کوم څه چه هغوئي کول ئے او څوک چه راوړي

بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ
يوه نيکي ۱۸۳ ۱۸۲ نو هغے د پاره د هغے لس چنده دے او څوک چه راوړي يوه بدي

فَلَا يُجْزٰى اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ (۱۶۰) قُلْ

نو سزا به بيا مومي د هغې برابر او پۀ هغۀ باندې به ظلم نۀ كيږي — ته او وايه

اِنَّنِيْ هَدٰىنِيْ رَبِّيْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ

ما ته ښودلې ده — خما — رب — نيغه — لار ~~~

نكات: ~~س۱~~ عَمَلُهَا محذوف دے د اِيْمَانُهَا معطوف عليه دے د قبيل د علفتها تبنًا و ماءً باردًا نو دا آيت د معتزله وُ دليل نۀ جوړيږي ~~س۲~~ تخويف اخروي ~~س۳~~ دينه د مشركانو ډلې مراد دي فروعي اختلافات لرونكو دلته دخل وركول غلطي ده ~~س۴~~ بشارت اُخروي ~~س۵~~ تخويف اُخروي ~~س۶~~ دعوٰی پۀ خاتمه باندې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د درې اعلانونو نه اولنے اعلان ~~س۷~~ اى بالدلائل العقليه والنقليه.

موضح قرآن: ~~ف۱~~ يعني د الله له طرفه چه كوم د هدايت حد مقرر وو نو هغه راغے نبي او شريعت او كتاب خوك چه دا نۀ مني نو انتظار كوي چه الله پۀ خپله راشي ياد قيامت نښانے او وويني نو هغه وخت به يقين اوكړي نو كله چه دنيا نښانے او وويني يعني نمر د مغرب نه راوخيژي نو د كافر ايمان او گنهګار توبه به قبوله نشي ~~ف۲~~ يعني تورات والاؤ ډيرے لارے راووستلے نو د يكښے تحقيقات مۀ كوه چه صحيح خوك دي او غلط خوك پخپله صحيح لاره باندے قائم اوسيږه دين كښے چه كومے خبرے د يقين كولو دي پۀ هغې كښے فرق نۀ دے پكار لكه اصول او كوم چه د كولو دي لكه د دين فروع كه د هغې طريقې متعدد دي نو بد ے نۀ دي.

فتح الرحمن: ~~ف۱~~ يعني پۀ هغه ورځ چه د گنهګارانو توبه او د كافرانو ايمان نه قبليږي ~~ف۲~~ يعني ستاسو مواخذه به نشي كولے.

حاشيه: ~~س۱۸۱~~ دے آيت نه پۀ ظاهره معلوميږي چه د لته د ايمان د غير نافع كيدلو دوه صورتونه بيان كړے شوي دي يو دا چه د اضطراري حالت موجود يدلو نه روستو ايمان راوړے شي دويم دا چه د ايمان پۀ حالت كښے اعمال صالحه پۀ ځائے رانه وړے شي د دويم شق مقتضىٰ دا ده چه كوم مؤمن نيك عمل اونۀ كړي د هغه ايمان بے كاره دے او د هغه د پاره به نجات نۀ وي حال دا دے چه دا خبره د كتاب او د سنت صريح نصوص او د اهل سنت والجماعت د متفق عليه مسلك نه بالكل خلاف ده لكه چه معتزله د دے قائل دي. مفسرينو د دے مختلف جوابونه وركړي دي چه پۀ مشهور تفسيرونو كښے ذكر شوي دي. حضرت شيخ قدس سره فرمائي دا آيت د قبيلے د علفتها تبنًا وماءً باردًا ده په اصل كښے لا ينفع نفسا ايمانها لم تكن كسبت في ايمانها خيرًا يعني د دويم شق د عملي ايمان د نافع كيدلو نفي نه ده كړے شوے پۀ كوم كښے چه عمل نافعه نۀ دي بلكه د

نفي سره د هغه عمل صالح د نافع کېدلو نفي مقصود دی کوم چه د اضطراري حالت نه روستو واقع وي علامه آلوسي هم د بعضې علماؤ نه د دے قسم نه یو جواب نقل کړے دے کانه قيل لاينفع نفسا ايمانها ولا كسبها في ايمانها خيرا لم يكن امنت من قبل اولم تكن كسبت خيرا (روح ج ۸ ص ۶۶)

۱۸۲ تخويف اخروي دے او دينه د مشركانو جماعتونه مراد دی چا چه توحيد پرېخود د مشركانه عقائد په بنياد دے مختلفے فرقے جوړے کړے د دے نه د فقهائے اسلام او د دين د اماما نو خپل مينځ کښے فروعي اختلافات مراد اخلی هغه په قرآن کښے صريح تحريف کوی۔

۱۸۳ د ايمان راوړونکو او اعمال صالحه کونکو د پاره بشارت او زيرے دے

۱۸۴ د سورت په اختتام باندے د نبي عليه السلام په ژبه مبارکه باندے درے اعلانونه کړے شوی دی اول اعلان قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي الخ ای بالدلائل العقلية والنقلية يعني الله تعالى سمے لارے طرف ته ما لاربنود نه کړے دے دينا قيما دا موصوف صفت د صراط د محل نه بدل دے ځکه چه اصل معنی دا ده هداني ربي صراطا مستقيما (روح ج ۸ ص ۷۰) مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ دا په تقدير د اعني سره منصوب دے (روح) وما كان من المشركين هغه د هر قسم شرك نه بېزار وو د شرك فعلي نه هم او د شرك اعتقادي نه هم۔

دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ

دين صحيح د ابراهيم ع چه يو طرف ته وو او نه وو د

الْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ

شرك کوونکو نه ۱۸۵ او وايه ته ما مونځ او ما قرباني او ما ژوند

وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُ ۖ وَ

او مرګ الله ج د پاره دے چه پالونکے د ټول جهان دے هيڅوک نشته د هغه شريك

بِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ أَغَيْرَ

او هم په دے ماته حکم شوے دے او زه د ټولو نه اول فرمانبردار يم ته او وايه ولے آيا

اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۚ وَلَا تَكْسِبُ

زه د الله نه سوا ۱۸۶ تلاش کوم رب بل صرف هغه رب دے د هر څيز او نه کوی چه ګناه

كُلُّ نَفْسٍ اِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ

کوئی نو هغه ۱۸۵ دهغه په ذمه ده او نه به اوچتوی یو سړے بوج د بل

اُخْرٰى ۚ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا

سړی بیا ستاسو رب ته د ټولو واپس ورتلل دی نو هغه به خبر درکړی په کوم

كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ

خبره کښې چه تاسو اختلاف کوئ او هم هغه تاسو نائب ګرځولی یئ

خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ

په ځمکه کښې او اوچته ئے کړلے درجے ستاسو د یو په بل باندے

دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ۭ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ

د دے د پاره چه وازمائی تاسو په خپلو درکړے شوو حکمونو کښې بیشکه ستاسو رب زر

الْعِقَابِ ۖ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۵﴾ النصف

عذاب ورکونکے او هم هغه بخښونکے او مهربان دے

نکات: سل نه د شرك اعتقادی کونکو نه او نه د شرك فعلی کونکو نه سل دوئم اعلان صَلَاتِيْ اشاره د پاره د نفی شرك اعتقادی وَنُسُكِيْ اشاره د پاره د نفی د شرك فعلی سل دریم اعلان سل تخویف اخروی سل ترغیب سل نه منونکو د پاره سل منونکو د پاره

حاشیه: ۱۸۵ دا د دوئم اعلان دے د دے حاصل هم د خالص توحید اعلان او د ټول اقسام شرك نه د برأت اظهار دے اِنَّ صَلَاتِيْ د شرك اعتقادی نفی طرف ته اشاره ده او وَنُسُكِيْ الخ د شرك فعلی طرف ته مالك او مختار متصرف او کارساز د عالم صرف الله تعالی دے او د نذر منتنے مستحق هم صرف هغه دے لَا شَرِيْكَ لَهٗ دے ټولو کارونو کښې هغه سره هیڅوك شریك نشته۔

۱۸۶ دا دریم اعلان دے یعنی الله تعالی چه د ټول کائنات خالق او مالك دے هغه پریږدم بل څوك خپل رب او کارساز جوړ کړم کله چه د هر څیز خالق او مالك صرف الله تعالی دے نو دا خبره ناممکن ده چه بله کومه هستی د هغه سره شریك د

۱۸۷ مشرکانو به مومنانو ته وئیل چه اِتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ تاسو زمونږ په لاره باندے راشئ او مونږ ستاسو ګناه په خپله ذمه اخلو۔ وئے فرمائیل

د مجرم سزا به صرف مجرم ته ملاویږی. دا نشی چه د مجرم د ګناه سزا بل چاته ورکړے
شی وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ط دا تخویف اخروی دے او د ماقبل تاکید دے
۱۸۸ دا ترغیب دے خاص الله تا سو د خپلو پلرونو او نیکو نو جانشین ګرځولی یئے
او مختلفو صفتونو او نعمتونو کښے ئے بعضو ته په بعضو باندے فضیلت ورکړے دے
دے د پاره چه ستا سو امتحان واخلی چه څوک ستا سو نه د هغه دا حکامو تابعداری کوی او
څوک نافرمانی او سرکشی کوی اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ دا نه منونکو د پاره تخویف اخروی
دے او اِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ دا منونکو د پاره بشارت اخروی دے.
وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٥

(سورة انعام کښے د توحید آیتونه)

(۱) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ط ثُمَّ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ٥ هُوَ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰٓى اَجَلًا ط
وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ٥ وَهُوَ اللّٰهُ فِى السَّمٰوٰتِ وَفِى الْاَرْضِ ط
يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ٥ (ع۱) نفی د شرک اعتقادی صراحةً
او فعلی ضمناً.
(۲) وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِى الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ (ع ۲) نفی د شرک اعتقادی
صراحةً او فعلی ضمناً.
(۳) قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ
(ع۲) نفی د شرک فعلی.
(۴) وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ط وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ
فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ٥ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ ط
وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ٥ (ع ۲) نفی د شرک اعتقادی.
(۵) اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ط قُلْ لَّآ اَشْهَدُ ج قُلْ اِنَّمَا
هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِىْ بَرِىْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ٥ (ع۲) نفی د شرک اعتقادی صراحتاً
او د فعلی ضمناً.
(۶) وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِىَ نَفَقًا فِى الْاَرْضِ
اَوْ سُلَّمًا فِى السَّمَآءِ فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ (ع ۴) نفی د شرک اعتقادی.
(۷) قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ج
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ٥ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَ
تَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ٥ (ع ۴) نفی د شرک فی التصرف

(۸) قل أرأيتم إن أخذ الله سمعكم وأبصاركم وختم على قلوبكم من إله غير الله يأتيكم به (ع ۵) نفی شرک فی التصرف

(۹) قل لا أقول لكم عندي خزائن الله ولا أعلم الغيب ولا أقول لكم إني ملك (ع ۵) نفی د شرک اعتقادی۔

(۱۰) قل إني نهيت أن أعبد الذين تدعون من دون الله (ع ۶) نفی د شرک اعتقادی۔

(۱۱) وعنده مفاتح الغيب لا يعلمها إلا هو ويعلم ما في البر والبحر وما تسقط من ورقة إلا يعلمها ولا حبة في ظلمات الأرض ولا رطب ولا يابس إلا في كتاب مبين ۝ وهو الذي يتوفاكم بالليل ويعلم ما جرحتم بالنهار ثم يبعثكم فيه ليقضى أجل مسمى ثم إليه مرجعكم ثم ينبئكم بما كنتم تعملون ۝ وهو القاهر فوق عباده ويرسل عليكم حفظة (ع ۸) نفی د شرک اعتقادی۔

(۱۲) قل من ينجيكم من ظلمات البر والبحر تدعونه تضرعا وخفية لئن أنجانا من هذه لنكونن من الشاكرين ۝ قل الله ينجيكم منها ومن كل كرب ثم أنتم تشركون ۝ (ع ۸) نفی د شرک فی التصرف۔

(۱۳) قل أندعوا من دون الله ما لا ينفعنا ولا يضرنا ونرد على أعقابنا بعد إذ هدانا الله (ع ۹) نفی د شرک اعتقادی۔

(۱۴) وهو الذي خلق السماوات والأرض بالحق ويوم يقول كن فيكون قوله الحق وله الملك يوم ينفخ في الصور عالم الغيب والشهادة وهو الحكيم الخبير ۝ (ع ۹) نفی د شرک فی التصرف۔

(۱۵) وما نرى معكم شفعاءكم الذين زعمتم أنهم فيكم شركاء لقد تقطع بينكم وضل عنكم ما كنتم تزعمون ۝ (ع ۱۱) نفی د شرک اعتقادی۔

(۱۶) إن الله فالق الحب والنوى يخرج الحي من الميت ومخرج الميت من الحي ذلكم الله فأنى تؤفكون (ع ۱۲) ..... تا ..... ذلكم الله ربكم لا إله إلا هو خالق كل شيء فاعبدوه وهو على كل شيء وكيل ۝ (ع ۱۳) نفی د شرک اعتقادی صراحة او فعلی ضمناً۔

(۱۷) فكلوا مما ذكر اسم الله عليه إن كنتم بآياته مؤمنين ۝ وما لكم ألا تأكلوا مما ذكر اسم الله عليه (ع ۱۳) نفی شرک فعلی۔ تحریمات غیر اللہ۔

(۱۸) وقد فصل لكم ما حرم عليكم إلا ما اضطررتم إليه (نفی د شرک فعلی۔ نیازات غیر اللہ۔)

(۱۹) وجعلوا لله مما ذرأ من الحرث والأنعام نصيبا ..... تا ..... ولو شاء الله ما فعلوه فذرهم وما يفترون ۝ (ع ۱۵) نفی د شرک فعلی۔ نیازات غیر اللہ

(۲۰) وقالوا هذه أنعام وحرث حجر لا يطعمها إلا من نشاء بزعمهم ..... تا

وَاِنْ يَّكُنْ مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ۭ سَيَجْزِيْهِمْ وَصْفَهُمْ ۭ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ (ع ۱۶)
نفی د شرك فعلی تحريمات غيرالله.

(۲۱) قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ سَفَهًاۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّحَرَّمُوْا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ
(ع ۱۶) نفی نيازات غيرالله و تحريمات غيرالله.

(۲۲) وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ ..... تا ..... اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا (ع ۱۷) نفی د شرك فعلی. تحريمات غيرالله.

(۲۳) قُلْ لَّآ اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (ع ۱۸) نفی د شرك فعلی. نيازات غيرالله.

محض د الله په توفيق او دهغه په مهربانئ سره نن په تاريخ ۱۸ اتلسم د ذی قعدے سنه ۱۴۲۳ھ بمطابق ۱۱ جنوری سنه ۲۰۰۳ء نمر ختلو نه روستو ۸ بجے د سورۂ انعام پښتو تفسير ختم شو فالحمد لله اولاً و آخرًا والصلوٰة والسلام على رسوله دائماً ابدًا وعلى سائر عباده الصالحين ليلًا والنهارًا.

سورۂ اعراف

سُوْرَةُ الْاَعْرَافِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَتَانِ وَسِتُّ اٰيَاتٍ وَّاَرْبَعٌ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورۂ اعراف ۱ په مکه کښے نازل شوا ود دے دوه سوه شپږ آيتونه او څليرويشت ركوعات دی

حاشيه: ۱ ربط د سورۂ اعراف خپل ماقبل سره يعنی سورۂ انعام سره شپږ قسمه ربط دے اول ربط اسمی. کچرے تاسو انعام (څاروی) او فصلونو د زمکو پيداوار) کښے غيرالله شريک نه کړو او د هغے نه هم د غيرالله نذرونه ورنه کړو نو الله تعالیٰ به تاسو نه صرف د دوزخ نه بلکه د اعراف نه هم بچ کړی او په جنت کښے به موهم داخل کړی.

دوئم ربط:- سورۂ مائده او سورۂ انعام کښے د مسئلے دوه ۲ اړخونه (نفی د شرك اعتقادی او نفی د شرك فعلی) تفصيل سره ذکر کړے شول او هغه په دلائلو عقلی، نقلی، وحی سره مبرهن (مدلل) کړے شول اوس په سورۂ اعراف کښے ئے او فرمائيل چه دغه مسئله مدلل او واضح کړے شوے ده نو اوس په بهادرئ سره تبليغ کوی او بغير ويرے خطرے نه ئے هر يو ته اورسوئ او ستاسو په زړونو کښے دے تنګی او پريشانی تر يدال هرګز اونه مونډل شی.

دريم ربط: سورۂ انعام کښے نفی شرك فی التصرف باندے دلائل عقليه

تفصیل سره ذکر کړے شوې او دلیل نقلي صرف حضرت ابراهیم علیه السلام سره اجمالاً - او س سورهٔ اعراف کښے دغه انبیاء علیهم السلام سره څخه دلائل نقلیه تفصیل سره ذکر کولے شي.

څلورم ربط :- په سورهٔ انعام کښے نفي د شرک فعلي (نذر د غیرالله او تحریمات لغیرالله) تفصیل سره ذکر کړے شوې او س په اعراف کښے د تحریمات لغیرالله صرف یو ډیر اهم صورت ذکر کړے شو یعني په بربنډه د بیت الله طواف کول او د دا دالله د رزق سبب گنړل او د طواف په وخت کپړے اغوستل حرام او لوپه گناه گنړل.

پنځم ربط :- سورهٔ انعام کښے اول نفي د شرک في التصرف او هغے نه روستو د شرک فعلي د نفي ذکر وو لیکن په سورهٔ اعراف کښے ترتیب د دے په عکس او د سورهٔ مائده موافق دے یعني اول د شرک فعلي د نفي ذکر دے او هغے نه روستو د شرک في التصرف د نفي ذکر دے.

شپږم ربط :- په سورهٔ مائده او سوره انعام کښے ئے د شرک فعلي او شرک في التصرف نفي دلائلو سره بیان کړه او س په سورهٔ اعراف کښے ئے او فرمائیل د دے مسئلے بنه تبلیغ کوئ او یاد لرئ چه د دے د تبلیغ او اشاعت په سلسله کښے به تاسو ته مصیبتونه او تکلیفونه مخے ته راځي هغه به برداشت کوئ.

خلاصه : دے سورت کښے درے دعوې ذکر دي اول دعوی د مسئلہ توحید (نفي د شرک فعلي او نفي د شرک في التصرف) جرأت او استقلال سره تبلیغ کوئ او دے لاره کښے چه کوم تکلیفونه راشي د هغے په وجه دے ستاسو زړونه خفه نشي دا دعوې د سورت په اوّلنی آیت کښے ذکر ده. دویمه دعوی کوم احکام چه الله ج نازل کړي دي د هغے تابعداري کوئ او د شیطانانو په تابعدارئ کښے د خپل ځان نه د تحریمات اختراع (ایجاد) مه کوئ دا دعوی اتبعوا ما انزل (ع ۱) نه واخله ضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ○ (ع ۶) پورے ذکر ده اول آیت یعني اتبعوا ما انزل الیکم الخ کښے دویمه دعوی اجمالاً ذکر شوے ده د دینه روستو قَلِيۡلًا مَّا تَشۡكُرُوۡنَ (ع ۱) پورے تخویف او تبشیر او ترغیب او زجر دے بیا وَلَقَدۡ خَلَقۡنٰكُمۡ (ع ۲) نه واخله تر د رکوع ۲ آخر (تخرجون) پورے د اصل دعوی تمهید دے د دینه روستو د رکوع ابتداء يٰبَنِىۡۤ اٰدَمَ قَدۡ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسًا نه واخله تر وَّلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ (ع ۴) پورے اصل مقصود یعني د دویمے دعوی ذکر دے دے آیتونو کښے خلورځله د یابني آدم خطاب سره ئے د اصل مقصود ذکر او فرمائیلو اے بنی آدم کپړے ئے ستاسو د عورتونو پټولو د پاره او ستاسو د ښایست د پاره پیدا کړي دي اے بني آدم د شیطان په اغوا او وسوسه کښے را نه شئ سره کپړے مه اوباسئ څنګه چه ئے ستاسو د مور او پلار یعني آدم او حواء علیهما السلام نه کپړے ویستلے وے شیطان ستاسو په زړونو کښے وسوسے اچوي تاسو باندے د نوي تحریمات ایجاد کوي او د اخیره

ستاسو په زړونو کښې شیطان کینولے دہ چه په بربنډه بدن سره طواف کول عبادت او د الله ج د رضا موجب دے - اے بنی آدم د هر عبادت په وخت لباس (کپړے) اغوندئ او د الله ج ورکړے شوی نعمتونه خورئ او د یکښې غیرالله مه شریکوئ - لباس الله ج ستاسو د زینت د پاره پیدا کړے دے دا اغوندئ او د خپل ځان نه د دے په استعمال باندے ناجائز پابندیانے مه لګوئ او د عبادت په حالت (طواف وغیره) کښې د دے اغوستل حرام مه ګنړئ.

اے بنی ادم تاسو ته به ځما له طرفه پیغمبر راځی چه تاسو ته به ځما احکام رسوی او تاسو ته به ځما توحید بیانوی لهذا تاسو د هغهٔ تابعداری اوکړئ او د شرک نه بچ اوسیږئ دے نه روستو د رکوع ۶ په ختمیدلو خوشخبریانے او ویره ورنے او زجرونه ذکر شوی دی.

دریم دعوی غیب باندے خبردار او کارساز او متصرف صرف الله تعالی دے او هغهٔ هیڅ اختیار چاته نهٔ دے حواله کړے دا دعوی ان ربکم الله الذی خلق السموٰت نه واخله تر رکوع ۷ تر آخر لِقَوْمٍ یَّشْکُرُوْنَ ۝ پورے ذکر دہ دا اصل دعوی ذکر کولو نه روستو بیا وهوالذی یرسل الریح نه تر د رکوع د اخر پورے د مؤمن د زړهٔ د پاره زرخیز زمکه او کافر د پاره د بنجر زمکے مثال بیان کړو خنګه چه په بنه زمکه کښې د باران په وجه سره تازه او آباد فصلونه او باغونه راټوکیږی دا شان د الله آیتونو آوریدلو سره د مؤمنانو په زړونو کښې د ایمان تازه ګی او پوخوالے پیدا کیږی او خنګه چه په خرابه او شاړه زمکه کښې باوجود د بارانونو څهٔ د کار خیز نهٔ پیدا کیږی داشان د معاندین په زړونو کښې چه خورے وهلے دی د الله ج د آیتونو باران سره هیڅ اثر نهٔ کیږی او د هغے څهٔ زړه پورے نتیجه نهٔ راوځی بلکه د هغوئ په زړونو کښې د بغض او عناد او ضد بیمارئ هم هغه شان باقی پاتے کیږی.

د دریمے دعوو ذکر کولو نه روستو د رکوع ۸ په شروع کښې لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰی قَوْمِهٖ نه واخله د رکوع ۲۰ ختمیدلو بما کانوا یظلمون پورے د شپږو انبیاء علیهم السلام قصّے بیان کړے شوے دی چه د لف ونشر غیر مرتب په طور باندے د مذکوره دریمے دعوو سره متعلق دی اوله قصّه د حضرت نوح علیه السلام دہ چه د وَلَقَدْ ارسلنا نوحًا الی قومه نه واخله انهم کانوا قومًا عمین پورے دہ یعنی پوره رکوع ۸ دویمه قصّه د حضرت هود علیه السلام دہ چه د وَاِلٰی عَادٍ اخاهم هودًا نه واخله تر وما کانوا مؤمنین (پوره رکوع ۹ کښې ذکر شوے دہ).

او دریمه قصّه والی ثمود اخاهم صلحًا نه واخله رکوع ۱۰ کښې لا تحبون النّٰصحین پورے کښې ذکر شوے دہ دا دریمے قصّے د دریمے دعوی (یعنی په غیب خبر او کارساز صرف الله تعالی دے بل هیڅوک نهٔ دے او هغه د دینه خپل کوم اختیار هیچاته نهٔ دے حواله کړے) سره متعلق دی دے دریمے دارو قصو نه

شروع درے دعوت او کړو دخپل تبلیغ شروع درے واړو پیغمبرانو معلومه شوه چه دے درے واړو ځایونو کښے دهغو حسب ذیل کلام نقل کړو ځکه چه الله تعالیٰ درے واړو ځایونو کښے دهغو حسب ذیل کلام نقل کړو لیقوم اعبدوا الله مالکم من الٰهٍ غیرهٗ (ع ۸، ۹، ۱۰) هر یو خپل قوم ته داوویل اے ځما قومه صرف د الله ج عبادت کوئ په حاجتونو او مشکلاتو کښے صرف هغه ته آواز کوئ د هغهٔ نه سوا ستاسو هیڅوک کارساز او حاجت روا نشته نه د هغه نه سوا څوک عالم الغیب او متصرف او مختار دے.

څلورمه قصّه د حضرت لوط علیه السلام د قوم ده ولوطًا اذ قال لقومه نه واخله فانظر کیف کان عاقبة المجرمین د رکوع ۱۰ تر آخره پورے بیان شوے دے دا قصّه د دویمے دعوٰی سره متعلق ده د دویمه دعوٰی دا وه چه د الله د نازل کړے شوو احکامو تابعداری اوکړئ د هغهٔ حلال حلال او د هغه حرام حرام اوګنړئ او د خپل ځان نه د تحریمات ایجاد مهٔ کوئ د لوط علیه السلام قوم پهٔ فسق او فجور کښے دے حد ته رسیدلے وو چه د هغوئ د زړونو نه د ګناه او بدکارئ د بدئ او حرام حرمت احساس بالکل ختم شوے وو او هغوئ د محرمات الٰهی سره د حرام پشان معامله نه کوله.

پنځمه قصّه د حضرت شعیب علیه السلام ده چه د والیٰ مدین اخاهم شعیبًا... تا .... فکیف اٰسی علٰی قومٍ کٰفرین (پوره ع ۱۱) کښے ذکر شوے ده دا قصّه د دویم او دریم دواړو دعوو سره متعلق ده . د حضرت شعیب علیه السلام اعلان یقوم اعبدوا الله مالکم من الٰهٍ غیره دا د دریمے دعوٰی سره متعلق دے او فاوفوا الکیل والمیزان ولا تبخسوا الناس اشیاءهم الخ دا د دویمے دعوٰی سره متعلق دے ځکه چه د حضرت شعیب علیه السلام قوم د الله تعالیٰ (پیمانه او تول کښے کمے زیاتے کول او د چاحق وهل او په زمکه کښے شر او فساد پیدا کول وغیره) حرام نه ګنړل . پنځے قصّے نه روستو د تخویف دنیاوی په طور باندے د خبرے مخ د اهل مکه طرف ته شوے دے یعنی د رکوع ۱۲ پهٔ شروع کښے وما ارسلنا فی قریة من نبیٍّ نه رکوع ۱۲ کښے و نطبع علی قلوبهم فهم لا یسمعون پورے.

شپږمه قصه د حضرت موسیٰ علیه السلام ده چه ثم بعثنا من بعدهم موسیٰ بایٰتنا (ع ۱۳) فارسلنا علیهم رجزًا من السماء بما کانوا یظلمون (ع ۲۰) کښے ذکر شوے ده دا قصه اول دعوٰی سره متعلق ده یعنی د توحید پهٔ مسئله کښے په دے مصائبو او مشکلات مخے ته راتلل وی د هغے مقابله بهادرئ سره او کړئ ځکه چه موسیٰ علیه السلام ته د حق پهٔ لاره کښے او د توحید پهٔ اشاعت د فرعون او د هغه د قوم له طرفه مصائب او تکلیفونه مخے ته راغلل او هغوئ پوره همت او بهادرئ سره د هغے مقابله اوکړه د حضرت موسیٰ علیه السلام قصّه د اته مسلسل واقعاتو نه یو سلسله ده چه هغوئ ته پنځل ژوند کښے مخے ته راغله چه د هغوئ نه هره یوه د یو سبق

او مشکل منزل شان لری۔

اوله واقعه د حضرت موسیٰ علیه السلام د فرعون په مخکښې د هغه د دربار کښې د توحید اعلان او د حق تبلیغ، د فرعون په مطالبه اژدها او د ید بیضا د معجزې ښکاره کول او بیا د فرعون را وستے شوو جادوګرو (چه د هغوئ شمار دیو لاکهـ نه زیات وو) سره مقابله کول دا واقعه ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ بِاٰیٰتِنَا (ع ۱۳) .... تا ... وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِیْنَ ٥ (ع ۱۴) کښې مذکور ده

دویمه واقعه د حضرت موسیٰ ؑ قوم باندے د فرعون ظلم او زیاتے د فرعون له طرفه د موسیٰ علیه السلام په قوم کښې د پیدا کیدونکو هلکانو د وژلو او د جینکو د غلامئ دپاره د ژوندئ پریښودلو حکم او دا ظلم او تکلیف د حضرت موسیٰ علیه السلام او د هغه د قوم صبر او تحمل سره برداشت کول۔ دا واقعه وقال الملأ من قوم فرعون أتذر موسیٰ .... تا ... فینظر کیف تعملون (پوره رکوع ۱۵) کښې ذکر ده۔

دریمه واقعه فرعون او د هغهٔ قوم باندے مختلف صورتونو کښې د الله ج عذاب نازلیدل د عذاب په حالت کښې د هغوئ حضرت موسیٰ علیه السلام نه د عذاب پورته کولو دپاره د دعا درخواست کول او دا وعده کول چه د عذاب پورته کیدلو نه روستو به هغوئ ایمان راوړی او بیا د عذاب پورته کیدلو نه روستو وعده ماتول او آخر کار د فرعون یولوئے لښکر سره په دریائے نیل کښې غرقیدل دا واقعه ولقد اخذنا آل فرعون بالسنین ..... تا .... وما کانو یعرشون (رکوع ۱۶) کښې ذکر شوے ده

څلورمه واقعه د بنی اسرائیلو د دریاب د ولس لارو کښې صحیح او سالم تیریدل او پورې وتلو نه روستو سرکشي کول او د بت پرست مشرکانو لیدلو سره د موسیٰ علیه السلام نه د بت پرستئ اجازت غوښتل او د حضرت موسیٰ ؑ د الله تعالیٰ د احسانات یادولو سره هغوئ د پوهولو کوشش کول دا واقعه وجاوزنا ببنی اسرائیل البحر ... تا ... وَفِی ذٰلِکُم بَلَاءٌ مِّن رَّبِّکُم عَظِیمٌ ٥ (رکوع ۱۶ آخر) کښې بیان کړے شوے ده۔

پنځمه واقعه : تورات ورکولو د پاره د الله ج حضرت موسیٰ علیه السلام کوه طور ته رابلل د موسیٰ علیه السلام هارون علیه السلام خپل جانشین جوړول کوه طور باندے د الله ج د لیدلو خواهش کول د الله ج د تجلیٔ تاب نه راوړل۔ بیهوش کیدل د هغه په عدم موجودګئ کښې د قوم ګمراه کیدل د حضرت هارون علیه السلام د توحید تبلیغ او شرک نه منع کولو سره د سامری د سخی په عبادت کښې مشغول کیدل او د حضرت موسیٰ ؑ تورات اخستلو سره قوم ته واپس راتلل دا واقعه و وٰعدنا موسیٰ ثلٰثین لیلة (د رکوع ۱۷ شروع) .... تا ... لنکونن من الخٰسرین (ع ۱۸) کښې مذکور ده

شپږمه واقعه د حضرت موسیٰ علیه السلام د قوم خراب حالت لیدلو سره غصه کیدل او حضرت هارون علیه السلام ته د فرائض په ادا ئیګئ کښې کوتاهئ کولو باندے الزام (ملامتیا) کول بیا د هغه معقول عذر آوریدلو په خپل لغزش باندے د الله ج نه دعا کول

دینه روستو د سخې عبادت کونکو د پاره د تخویف دنیاوی ذکر دے دا واقعه ولما رجع موسیٰ .... تا .... ربهم یرهبون (ع ۱۹) کښې بیان شوے دہ۔

اومه واقعه د حضرت موسیٰ علیه السلام د قوم اویا سړو د خدائے ج د کلام اوریدلو د پاره کوه طور ته بوتلل د هغه خلقو د الله تعالیٰ د ښکاره لیدلو مطالبه کول ډیر گستاخانه او محال مطالبه بانده دے د هغوئ هلاکیدل او بیا د حضرت موسیٰ ع د دعا سره د هغوئ دوباره ژوندی کیدل دا واقعه واختار موسیٰ قومه (ع ۱۹) .... تا .... یهدون بالحق وبه یعدلون (ع ۲۰) کښې ذکر شوے دہ . دے حصه کښې د متوکلو د پاره د خوشخبرئ په سلسله کښې د نبی علیه السلام ذکر راغلے وو د دے وجه نه دے نه روستو د جمله معترضه په طور بانده ے قل یا ایها الناس انی رسول الله الیکم جمیعًا الخ سره د حضور علیه السلام د عالمگیر رسالت او د الله ج د توحید د اعلان کولو حکم ورکړے شوے دے۔

اتمه واقعه د حضرت موسیٰ ع معجزے سره د بنی اسرائیلو د دولس قبیلو د پاره د کانړی نه داو بو دولس چینو ظاهریدل په بنی اسرائیلو بانده دوریځو سورے کول هغوئ بانده د من او سلوی نازلیدل او هغوئ ته د بیت المقدس په زمکه بانده د کوزیدلو حکم ورکول او د هغوئ سرکشئ سره د حکم خداوندی نه مخالفت کول دا واقعه وقطعنٰهم اثنتی عشرة اسباطًا امما .... تا ... بما کانوا یظلمون ○ (ع ۲۰) کښې ذکر دہ۔

د قصتو په ختمولو وسئلهم عن القریة التی کانت حاضرة البحر (ع ۲۱) .... تا ... لعلهم یرجعون (ع ۲۱) کښې د تخویفات ذکر دے د دینه روستو فخلف من ۲ بعدهم خلف سره د هغه بد خلقو ذکر کړے شوے دے ځوک چه دینک خلقو جانشین گرځی او د هغوئ مسلک توحید پریښودلو سره شرک خوړولو کښې مشغول گرځی او دین د دنیا گټلو ذریعه جوړه وی او بیا وائی سیغفر لنا ۔ قیامت چه راشی نو ضرور به ځمونږ بخشش کیږی الله تعالیٰ د دا سے دروغژن گډه نشینو د دے باطلو دعوو څلور وجوه سره رد کړے دہ۔

اوله وجه : الم یوخذ علیهم میثاق الکتٰب ... تا ... لا نضیع اجر المصلحین (ع ۲۱) یعنی کچرے د بد عملئ سره بخشش کیدے شوے نو ځمونږ د کتاب د تابعداری کولو عهد او اقرار اخستلو څه ضرورت وو۔

دوئمه وجه : واذ نتقنا الجبل .... تا ... لعلکم تتقون ○ کچرے داشان بخشش ممکن وی نو الله تعالیٰ به کتاب بانده د عمل کولو وعده اخستلو دپاره غر او چتولو سره د هغوئ په سرونو نه معلق کولے۔

دریمه وجه : واذ اخذ ربک من بنی ادم .... تا .... ولعلهم یرجعون ○ (ع ۲۲) کچرے د اعتقادات حقه او اعمال صالحه نه بغیر نجات ممکن وے نو د

فرد بشر نه به د توحید باری تعالی عهد نشوے اخستلے۔

څلورم وجه: واتل علیهم نبأ الذی اتیناه ... تا ... وانفسهم کانوا یظلمون (ع ۱۴) بلعم بن باعورته مونږ هدایتا ورکړو لیکن هغے نه روستو د نافرمانئ په وجه سره مونږ هغه ذلیل او خوار کړو۔ کچرے د بد عملئ باوجود بخشش کیدے شوے نو دهغه د ذلیل کولو څه ضرورت وو۔ دینه روستو من یهد الله فهو المهتدی الخ داد اتلے دعوی سره متعلق دے یعنی تاسو جرأت او بهادرئ سره مسئله اورسوئ هدایت ورکول یا نه ورکول د الله ج په اختیار کښے دی۔ ولقد ذرأنا لجهنم کثیرا ... تا ... اولئك هم الغفلون (ع ۲۴) دا دو نمے دعوی سره متعلق دے۔ یعنی مشرکان د غاروپشان بربنډ کیدلو کښے څه شرم او عار نه محسوسوی۔ ولله الاسماء الحسنی ... تا ... وبه یعدلون د (رکوع ۲۲) آخر دا دریمے دعوی سره متعلق دے۔ د ټولو اعلی صفتونو مالك الله ج دے هغه عیب دان او کارساز دے۔ د دے وجه نه صرف هغه ته آواز کوئ او د هغه نه سوا بل هیچا ته آواز مه کوئ۔ والذین کذبوا (ع ۲۳) ... تا ... وبشیر لقوم یؤمنون (ع ۲۳) دا داوولے دعوی سره متعلق دے یعنی تاسو د توحید مسئله پوره بیان کړئ څوك چه ئے منی او تکذیب اوکړی دا سے خلقو ته به مونږ وخت ورکړو او چه کله ئے مونږ اونیسو نو سخت به ئے اونیسو۔ هو الذی خلقکم من نفس واحدة (ع ۲۴) ... تا ... ام انتم صامتون دوئم دعوی سره متعلق دے یعنی هغوئ داولاد حاصلولو دپاره د غیر الله نذرونه او منتے ورکوی ان الذین تدعون من دون الله ... تا ... وهم لا ینصرون ٥ دریمے دعوی سره متعلق دے مشرکین د الله ج نه سوا چه کوم خلق رابلی هغه بالکل عاجز او بے وس دی هغوئ نه په غیب خبردی نه دحاجت روایئ قدرت لری دینه روستو خذ العفو وامر بالعرف الخ کښے نبی علیه السلام ته تسلی ده واخوانهم یمدونهم فی الغی ثم لا یقصرون ٥ زجر دے او اذا لم تأتهم بایة الخ شکوی او قل انما اتبع ما یوحی الیّ جواب شکوی ده هذا بصائر من ربکم .... تا .... لعلکم ترحمون ٥ ترغیب الی القرآن واذکر ربك فی نفسك الخ یعنی هر حال کښے صرف الله ج ته آواز کوئ او هغه سره په رابللو کښے څوك مه شریکوئ۔

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○

شروع د الله ج په نوم چه بے حده مهربان ډیر رحم کونکے دے

الٓمّٓصٓ ﴿۱﴾ کِتٰبٌ اُنۡزِلَ اِلَیۡكَ فَلَا یَکُنۡ فِیۡ

دا کتاب ستا ته نازل شوے دے په تا باندے پکار ده چه ستا

صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى

زړه ځ تنګ نشي دده رسولونه ددے د پاره چه ته اوویروے دے سره او نصیحت دی

لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲﴾ اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ

ایمان والاؤ د پاره تابعداری اوکړئ ته دهغې کوم چه نازل شو تاسو ته ستاسو د رب

وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳﴾

او مه ځئ دده نه سوا نورو دوستانو پسے تاسو ډیر لږ شان توجه کوئ

وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَهَا بَاْسُنَا بَيَاتًا

او څومره کلی ښه مونږ هلاک کړل چه راغے هغوئ باندے څمونږ عذاب د شپے

اَوْ هُمْ قَآئِلُوْنَ ﴿۴﴾ فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ

او د غرمے اوده بیا د هغوئ دا آواز وو کوم وخت چه راغے هغوئ

بَاْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵﴾ فَلَنَسْئَلَنَّ

باندے څمونږ عذاب چه وئے وئیل بیشکه مونږ وو ګنهګار نو مونږ به ضرور تپوس

الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْئَلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶﴾

اوکړو ښه دهغو نه چا ته چه پیغمبران لیږلے شوی وو او مونږ به خامخا تپوس اوکړو د رسولانو نه

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿۷﴾

بیا به مونږ هغوئ ته واورو احوال خپل علم سره او مونږ غائب نه وو

نکات: ۱ ای هٰذا کتاب په معنٰی د مکتوب مراد دا سورت دے ۲ د سورت اوله دعوٰی یعنی د توحید مسئله بهادرئ سره اورسوه او په زړه کښے تنګی مه راوله ۳ دا کتاب انزل سره متعلق دے او فلا یکن فی صدرك په دے متفرع دے ۴ د سورت دوئمه دعوٰی یعنی د ما انزل الیك تابع شئ او د شیطان تابعداری کښے دځان نه تحریمات مه کوئ دلته داولیاء نه مراد شیطانان دی ۵ تخویف دنیاوی دے ۶ دا حال دے ای بائتین ۷ داد قیلوله نه اخستے شوے دے ۸ تخویف اخروی.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی باطل معبودان چه په دوستئ سره به ئے نیول ف۲ یعنی

حاشیه : ۲ الٓمٓصٓ دا حروف مقطعات دی د دے مراد الله ج ته معلوم دے حروف مقطعات تفصیلی بحث د سورهٔ بقره تفسیر کښے تیر شوے دے (ص۱۹۲ حاشیه ۱) خلاصه کښے تیر شوی دی سورهٔ اعراف کښے درے دعوی تیر شوی دی چه دردی بتول اعمال:- (۱) د مسئله توحید تبلیغ جرأت او استقلال سره کوئ دے سلسله کښے چه کوم تکلیفونه رسیږی هغه برداشت کړئ او په زړهٔ کښے تنګی مهٔ راولئ (۲) د شرک فعلی نفی یعنی د الله د نازل کړے شوو احکامو تابعداری اوکړئ او د شیطان پهٔ تابعداری کښے د خپل ځان نه د تحریمات ایجاد مهٔ کوئ (۳) د شرک اعتقادی نفی یعنی غیب پیژندونکے او متصرف صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نشته هغهٔ چا ته خهٔ اختیار نهٔ دے حواله کړے لهٰذا غائبانه حاجات کښے هغه مهٔ رابلئ.

اوله دعوی : ۳ دا اولنئ دعوی ده یعنی بهادر شئ د توحید مسئله اورسوئ او په زړه کښے هیڅ قسم تنګی مهٔ راولئ او د مشرکانو د تکذیب پروا مهٔ کوی حرج منه بتبلیغه لانه کان یخاف قومه وتکذیبهم له واعراضهم عنه (مدارک ج ۲ ص۳۲) کتاب خبر او هذا دده مبتداء محذوف ده لتنذر به الخ د انزل سره متعلق دے او فلا یکن فی صدرك حرج پهٔ دهٔ متفرع دے

دریمه دعوی : ۴ دلته نه د دوئمے دعوی ابتداء کیږی دے آیت کښے دوئمه دعوی اجمالاً ذکر ده یعنی د الله د نازل کړے شوو احکامو تابعداری اوکړئ او د شیطانانو تابعداری مهٔ کوئ رکوع ۳ او ۴ کښے یعنی یٰبنی آدم قد انزلنا علیکم لباسا نه تر فذوقوا العذاب بما کنتم تکسبون پورے دا دعوی تفصیل سره ذکر شوے ده دینه مخکښے رکوع ۳ یعنی ولقد خلقنٰکم ثم صوّرنٰکم ...تا... ومنها تخرجون کښے د دے د تمهید ذکر دے ولا تتبعوا من دونه اولیاء نه شیاطین الانس والجن مراد دی څوک چه خلق ګمراه کوی او هغوئ مشرکان جوړوی او هغوئ د ځان نه تحریمات کولو باندے اماده کوی اراد بالاولیاء الشیاطین شیاطین الانس والجن وانهم الذین یحملون علی عبادة الاوثان والاهواء والبدع ویضلون عن دین الله تعالیٰ (بحر ج ۴ ص۲۹۷ و کذا فی الکبیر ج ۴ ص۲۶۲) لکه چه دده صورت په دریمه رکوع کښے ارشاد دے اِنا جعلنا الشیٰطین اولیآء للذین لایؤمنون.

۵ دا تخویف دنیوی دے اهلکنٰها ای اهلها. یعنی ډیر کلو او سیدونکی مونږ هلاك کړی دی . مصدر پهٔ معنیٰ د اسم فاعل دا هلکنا مفعول نه حال واقع دے مصدر کله واقع موقع الحال بمعنی بائتین (مدارك ج ۲ ص۳۳) قائلون د قیلوله نه دے چه معنیٰ ئے د غرمے پهٔ وخت کښے اوده کیدل دی فما کان دعوٰهم الخ د عذاب راتللو نه مخکښے خود ضد او عناد پهٔ وجه هغوئ نهٔ منل لیکن چه د هغوئ د بدو اعمالو او د پرله پسے انکار پهٔ سبب باندے به عذاب راغے نو د خپلو ګناهونو اقرار

بسے کولو لیکن هغه وخت به پښیمانتیا سره هیڅ فائده نه کیدله.
۶ دا تخویف اُخروی دے۔

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ

او تول به دغه ورځ کښے برابر وی بیا چه د چا تول دروند شی نو

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٨﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ

هغه خلاصے موندونکی دی او د چا تول چه سپک شی نو

فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا

هم هغه دی چاچه خپل نقصان اوکړو ځکه چه څمونږ د آیتونو

يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا

نه به ئے انکار کولو او مونږ تاسو ته ځائے درکړو په زمکه کښے او مقرر موکړل

لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ ۗ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ ﴿١٠﴾ وَلَقَدْ

ستاسو د پاره دے کښے رزقونه تاسو ډیر کم شکر اداء کوی او مونږ

خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ

تاسو پیدا اکړی ستاسو بیا مونږ صورتونه جوړ کړل ستاسو بیا حکم اوکړو مونږ

اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَكُنْ

فرشتو ته چه سجده اوکړئ آدم ته نو سجده اوکړه ټولو لیکن ابلیس ۱۱ نه وو

مِنَ السَّاجِدِينَ ﴿١١﴾ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ

د سجده کونکو نه وئے وئیل ته څه شی منع کړے چه تا سجده اونکړه

إِذْ أَمَرْتُكَ ۖ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ

چه کله ما حکم درکړو تا ته وسے وئیل زه د دهٔ نه غوره یم تا زهٔ پیدا اکړم د اور نه

وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ

او هغه دے پیدا اکړو د خاورے نه وسے وئیل نو کوز شه له دغه ځائے نه ته د دے

لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿۱۳﴾

لائق نه دے چه تکبر او کړے دلته بهر ته ووځه ته ذلیل ئے

نکات: سـ۱ د صحیفو وزن یا اعمالو ته جسم ورکولو سره د هغے تول مراد دے
سـ۲ یعنی وزن به پوره پوره وی سـ۳ بشارت اُخروی سـ۴ تخویف اخروی سـ۵
ترغیب سـ۶ دا تمهید دے مقصود د دے نه روستو یعنی آدم نه شروع کیږی
سـ۷ ثُمَّ د تعقیب ذکری د پاره دے سـ۸ مستثنٰی منقطع دے یعنی ابلیس ته هم حکم
وشو هغه اونهٔ منل داسے مقامات کښے کلام حذف کولے شی.

موضح قرآن: فـ۱ د هر انسان عمل لیکلے شی موافق د وزن سره که یو کار
د اخلاص او محبت او شرعی حکم سره موافق په خپل موقع او کړے شی نو د هغه وزن
زیاتیږی او که د ریا او ځان ښودنے لپاره ئے او کړو یا ئے موافق د حکم نهٔ وی کړے
د خپل موقع بانده ئے نهٔ وی کړے نو وزن به ئے کمیږی په آخرت کښے به
هغه کاغذونه تللے شی د چا چه نیک کارونه درانه شی نو بد کارونه به د هغه او بخښلے شی
او که سپک شی نو بیا به او نیولے شی.

حاشیه: ـ۷ د عالمانو دیکښے اختلاف دے چه د قیامت په ورځ چه کومه تله
(میزان، ترازو) او دروله شی په هغے کښے به څهٔ تول کولے شی بعضے عالمانو وئیلی دی
چه هغه عمل نامے به تول کولے شی په کوم کښے چه حسنات او سیئات لیکلے شی او د
عملونو ته به ناکاره شکلونه ورکړے شی او بیا به هغه د تلے په چابرو کښے واچول شی قال
بعضهم توزن صحائف الاعمال المكتوبة فيها الحسنات والسيئات .... وقال ابن عباس
يؤتى بالاعمال الحسنة على صورة حسنة وبالاعمال السيئة على صورة قبيحة فتوضع فى
الميزان (خازن ج ۲ ص۱۷۴)

ـ۸ دا بشارت اخروی دے وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ الخ تخویف اُخروی دے.

ـ۹ دا د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د دعوت قبلولو ترغیب دے معایش
د معیشة جمع ده مراد ذریعه د معاش ده یعنی مونږ په زمکه کښے تاسو ته ځائے درکړو
او دے کښے مونږ ستاسو د روزئ د پاره اسباب او ذرائع پیدا کړل د الله ج د دے انعامات
شکرانه ادا کولو کښے تاسوله د هغه د احکامو اتباع کول پکار وه او د هغه د رسول دعوت په
سر سترګو منل پکار دی.

ـ۱۰ دا د دویمے دعوی تمهید دے کوم چه د دے پوره رکوع کښے ذکر شوے دے دیکښے
د حضرت آدم علیه السلام په مخکښے فرشتو ته د سجدے کولو حکم د ابلیس نافرمانی، د هغه د
ملعون کیدلو او د شړلو او د آدم ؑ او د حواء علیهما السلام سره د هغه د دشمنئ او د دے په
وجه سره د هغوئ د بربنډه کیدلو ذکر کړے شوے دے ثُمَّ قُلْنَا الخ ثُمَّ دلته د تعقیب

ذکری د پاره د ے کنی نو د ما قبل سره د دهٔ ربط نشی کیدے ځکه چه آدم علیه السلام ته د
سجده کولو حکم د ادم علیه السلام د اولاد د پیدا یش نه مخکښے شوے وو مطلب دا دے چه
واقعه هم د دینه روستو بیان کړه لهٰذا د دے نه دا مطلب راویستل چه د حضرت ادم علیه
السلام نه مخکښے هم د نیا کښے انسان موجود وو بالکل باطل دے او پهٔ بے عقلی باندے مبنی
دی۔ ځینو مفسرینو خَلَقْنٰكُمْ او صَوَّرْنٰكُمْ کښے مضاف مقدر منلے دے خَلَقْنَا اٰبَاكُمْ
ادم علیه السلام طِيْنًا غیر مصور ثم صورناه الخ (روح ج ٨ ص ٨٦) لیکن د تورتیب
ذکری باندے د محمولولو پهٔ صورت کښے د دے تقدیر ضرورت نهٔ پاتے کیږی.

١١ ابلیس د فرشتو نه نهٔ وو لیکن د سجده کولو حکم هغهٔ ته هم ملاوٓ شوے وو مطلب
به دا وی چه فرشتو ته مونږ حکم اوکړو هغوی او منلو او ابلیس ته هم حکم اوشو لیکن هغهٔ
او نهٔ منلو پهٔ عام عرف کښے دا سے موقعو باندے د حذف نه کار اخستلے شی مثلاً
ویلے شی فلانکی بنار والاؤ ته وعظ اوکړو هغوی او منلو لیکن د فلانکی بنار
والاؤ اونهٔ منلو یعنی هغوی ته ئے هم وعظ کړے وو لیکن هغوی اونهٔ منلو

قَالَ اَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٤﴾ قَالَ اِنَّكَ مِنَ

وے ویل چه ما ته مهلت راکړه تر هغه ورځے چه خلق د قبرونو نه پاخولے شی وے فرمایل تا ته

الْمُنْظَرِيْنَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ

مهلت ورکړے شو وے ویل نو چه ځنګه ١٢ تا زهٔ ګمراه کړے یم زهٔ به هم خامخا کینم د

صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ

دوئ پهٔ نظر ستا تلو کښے ستا پهٔ سمه لار کښے ول بیا به د دوئ ته راځم د دوئ

اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ

مخے نه او شا نه ١٣ او د ښی طرف نه او

شَمَآئِلِهِمْ ؕ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ﴿١٧﴾ قَالَ

ګس نه او نه به بیا مومے ته پهٔ دوئ کښے شکر ویستونکی ١٤ وے ویل

اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ؕ لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

ووځه د دے ځائے نه ١٥ بد حال سره مردود رټلے شوے خوا چه هم د دوئ نه

لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۱۸﴾ وَيَا آدَمُ اسْكُنْ

بالارهٔ خیٔ لویٔ زهٔ به خامخا ډک کړم دوزخ ستاسو ټولو نه او اے آدم اوسیږه

أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا

ته او ستا ښځه په جنت کښے کرځئ او خورئ چرته چه موخوښه وی او نزدے مهٔ

تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿۱۹﴾

ورځئ دے ونے ته بیا به تاسو شئ ګنهګار

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُورِيَ

بیا وسوسه واچوله هغوئ ته شیطان دے دپاره چه ښکاره کړی ^۱۹^ هغوئ ته هغه څیز چه د

عَنْهُمَا مِن سَوْآتِهِمَا

هغوئ د نظر نه پټ وو د هغوئ د شرمګاهونو (عورتونو) نه

نکات: سا باء سببیه او ما مصدریه دے سـ۲ قیامت منع کول مراد دے
سـ۳ د دنیا طرف ته مشغول کول سـ۴ د نیکونه منع کول سـ۵ د بدو طرف ته متوجه کول
یا غلوبا وارو طرفو نه کنایه ده چه هرے طریقے سره به ئے ګمراه کوم او دا د قرآن
د سیاق قرآن سره موافق ده سـ۶ اے مؤحدین له ابن عباس رض نه نقل دے
سـ۷ لام تسمیه سـ۸ ای قلنا یا آدم سـ۹ لام عاقبت دپاره دے ځکه چه
د شیطان مقصد بربنډا کول نهٔ وو هغهٔ ته علم وو چه دا سے به کیږی صرف د هغهٔ
نه د الله د حکم مخالفت کول مقصود وو۔

موضح قرآن: ف۱ یعنی زهٔ ګمراه شوم اوس به د دوئ لاره هم وهم۔

حاشیه: سـ۱۲ ما مصدریه دے او باء سببیه ده اغویتنی ای بما اضللتنی
وهو المروی عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما (روح ج ۸ ص ۹۴) یعنی ما لره
ستا سے د ګمراه او بد راه کولو په وجه سره به زهٔ د آدم ۴ اولاد آدم ګمراه کولو
د پاره ستا په سمه لاره کښے کینم او په مختلفو حیلو سره به د هغوئ د صراط مستقیم
نه د ګمراه کولو کوشش کوم۔

سـ۱۳ مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ نه په آخرت باندے د ایمان راوړلو نه منع کول
مراد دے وَمِنْ خَلْفِهِمْ په دنیا کښے مشغول کول او متوجه کول وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ
د نیکونه منع کول وَعَن شَمَائِلِهِمْ ط سره بدو طرف ته ترغیب ورکول مراد دے
یا دا څلور وارهٔ طرفونه هرے طریقے سره د ګمراه کولو نه کنایه ده او هم دا د

قرآن د سیاق سره موافق دے الظاهر ان اتیانه من هذه الجهات الاربع کنایة عن
وسوسة واغوائه له والجد فی اضلاله من کل وجه یمکن (بحر ج ٤ ص٢٧٦)

ف١٤ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی دلته شٰکِرِیْنَ په معنی د
مؤحدین دے (خازن ج ٢ ص١٨٥)

ف١٥ د منها ضمیر جنت د ملائکو جماعت یا آسمان مراد دے مَذْءُوْمًا ای
مذموما (نا کاره) مدحورا ای مطرودا د خدائے ج د در نه شړلے شوے لَمَن
تَبِعَكَ الخ دے کښے لام قسمیه دے او لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ الخ جواب د قسم دے.

ف١٦ لِيُبْدِيَ لام وَسْوَسَ سره متعلق دے او عاقبت د پاره دے ځکه چه
د ابلیس مقصد خاص د ذلت رسول نهٔ وو بلکه د هغه مقصد خو هغهٔ نه د الله
نافرمانی صادرول وو لیکن آخر الامر دا خبره هم اوشوه واللام فی قوله
لیبدی لهما لام العاقبة وذٰلك لان ابلیس لم یقصد بالوسوسة ظهور
عوراتهما وان کان حملهما علی المعصیة فقط فکان عاقبة امرهما ان
بدت عوراتهما (خازن ج ٢ ص١٧٩) من سواتهما دا ما وُرِیَ بیان دے.

وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّآ

او هغهٔ اوویل چه تاسو نه ئے منع کړے ستاسو رب د دے ونے نه لیکن

اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ﴿٢٠﴾

د دے د پاره چه چرته تاسو شئ فرښتے یا شئ همیشه اوسیدونکی د

وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿٢١﴾ فَدَلّٰىهُمَا

او د هغوئ په مخکښے ئے قسم اوکړو چه زهٔ ستاسو دوست یم ف١٧ بیا ئے مائل کړل

بِغُرُوْرٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا

هغوئ فریب سره ف١٨ بیا چه کله هغه دواړو اوڅکله ونه نو ښکاره شو هغوئ ته د هغوئ شرمګاهونه

وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ؕ وَ

او شروع ئے شول دواړه چه نښلول ئے خپل ځان پورے د جنت پانړے او

نَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَ

آواز اوکړو هغوئ ته د هغوئ رب وے ما نهٔ وو منع کړے تاسو لره د دے ونے نه او

أَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۲۲﴾

نه وم ورو ویلي تاسو ته چه شیطان ستاسو ښکاره دشمن دے

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا سکتة وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَ

هغه دواړو اوویل چه اے ربه خپلو ځانونو ظلم اوکړو مونږ په خپلو ځان باندے ۲۰ او که چرے ته مونږ

تَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ قَالَ اهْبِطُوْا

اونه بخے او په مونږ رحم اونه کړے نو مونږ به ضرور تباه شو وے فرمائیل تاسو کوز شئ ۲۱

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ج وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ

تاسو به دیوبل دشمنان ئ او ستاسو د پاره په زمکه کښے اوسیدل دی

وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۲۴﴾

او نفع اخستل دی تر یو معلوم وخت پورے

نکات: ۱ باب مفاعله د مبالغے د پاره دے یا قَسَم شیطان اوکړو او آدم او حواء علیهما السلام د هغوئ تصدیق اوکړو ۲ اسم اشاره د بعید د پاره ده۔

موضح قرآن: **ف۱** غیب پټ وو یعنی د استنجا حاجت او د شهوت حاجت جنت کښے نه وو او د هغوئ په بدن کپړے وے هغه ئے هیڅکله نه وے ویستلے او نه د ویستلو حاجت وو دوئ د خپلو اندامونو نه خبر نه وو چه کله ګناه اوشوه نو د بشریت لوازم پیدا شول د خپل حاجت نه خبردار شول او خپل اندامونه ئے اولیدل۔

حاشیه: ۱۸ ابلیس هغوئ ته قسم ورکړو چه هغه د دوئ خیرخواهی کوی دلته مزید په معنیٰ د مجرد دے ځکه چه قسم صرف ابلیس کړے وو لیکن آدم او حواء علیهما السلام چونکه د هغه قسم منلے وو نو ګویا چه د هغوئ له طرفه هم قسم شوے دے د وجه نه باب مفاعله استعمال کړے شوے

وَاَخْرَجَ قَسَمَ ابلیس علی زنة المفاعلة لانه لما کان منه القسم ومنهما التصدیق فکانهما من اثنین (مدارک ج ۲ ص ۳۷)

۱۹ آخر ابلیس د هوکه او فریب سره هغوئ د ممنوع ونے په خوړلو باندے مائل کړو او هغوئ ئے د طاعت د رتبه نه ښکته راوغورځولو ای حطهما عن درجتهما وانزلهما عن رتبه الطاعة الی رتبه المعصیة (روح ج ۸ ص ۱۰۱)

۲۰ دا په اصل کښے لِيَ وو اسم اشاره د واحد مونث د پاره دینه روستو لام بُعد اولګولے شو د التقاء ساکنین د وجه نه یاء اوغورځیدله او کَ، کُمَا وغیره ضمائر

خطاب تنبیه د پاره راځي او د مخاطب مناسبت سره استعمالیږي دلته مخاطب چونکه دوه
دوه یعني آدم او حواء علیهما السلام دي وجه نه ضمیر کما استعمال کړے شو.

ف۲۰ د منع شوي ونې خوړلو لغزش باندې پښیمانه شول حضرت ادم علیه السلام
الله تعالی ته د معافۍ درخواست اوکړو نو الله تعالی دا دعائیه کلمات د هغوی په زړه کې
کښې واچول نو دوارو هغه کلماتو سره په ژړا ژړا کښې د الله ج نه معافي اوغوښتله نو الله ج د
هغوی لغزش معاف کړو لکه چه په سورۀ بقره ع ۴ کښې ارشاد دے فَتَلَقّٰۤی اٰدَمُ
مِنۡ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيۡهِ د ټولو محققینو مفسرینو رائے دا ده چه دے آیت کښې
كَلِمٰتٍ نه دلته دعا مراد ده ای استقبلهما بالاخذ والقبول والعمل بها ..... وهن
قوله تعالی رَبَّنَا ظَلَمۡنَاۤ اَنۡفُسَنَا الخ (مدارک ج ۱ ص۳۵)

ف۲۱ اهبطوا د جمع په صیغه حضرت آدم او حواء علیهما السلام او ابلیس سره
خطاب دے امام فراء وائي خطاب حضرت آدم او حواء سره دے لکه چه بل ځائے راغلي
دي قال اهبطا منها جمیعًا (طٰهٰ ع ۷) چونکه هغوی دواړه د نوع بشري اصل دي
دے لحاظ سره لکه چه هغوی ټول بشر دي وضمیر الجمع لکونهما اصل البشر فکانهم
(روح ج ۸ ص۱۰۳)

قَالَ فِيۡهَا تَحۡيَوۡنَ وَفِيۡهَا تَمُوۡتُوۡنَ وَمِنۡهَا تُخۡرَجُوۡنَ ﴿۲۵﴾

وے فرمائیل دے کښې به تاسو ژوندی او سیږئ ف۲۲ او هم دے کښې به تاسو مرئ او هم دے نه به تاسو راویستلے

يٰبَنِيۡۤ اٰدَمَ قَدۡ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسًا يُّوَارِيۡ

شئ اے د آدم ؑ اولاده! ف۲۳ مونږ نازل کړو تاسو باندې لباس (کپړے) چه پټ کړي ستاسو عورتونه

سَوۡاٰتِكُمۡ وَرِيۡشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقۡوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيۡرٌ ؕ

او نازل مو کړے د ښایست کپړے او لباس د پرهیزګاری ف۲۴ هغه د ټولو نه بهتر دے

ذٰلِكَ مِنۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُوۡنَ ﴿۲۶﴾ يٰبَنِيۡۤ

دا نښے دي د الله ج د قدرت دے د پاره چه هغه خلق غور اوکړي ف۱ اے د آدم ؑ

اٰدَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ الشَّيۡطٰنُ كَمَاۤ اَخۡرَجَ اَبَوَيۡكُمۡ مِّنَ

اولاده! دهوکه دے نکړي تاسو ف۲۵ شیطان څنګه چه او ویستل هغه ستاسو مور و پلار د

الۡجَنَّةِ يَنۡزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ

جنت نه ورے ویستلے د هغوی نه د هغوی کپړے د دے د پاره چه اوښائي هغوی ته د هغوی شرمګاهونه

يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ اِنَّا

هغه وینی تاسو ٢٦ او د هغه قوم د هغه طرف نه چه تاسو ئے نه وینئ موږ

جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝٢٧

گرځولی دی شیطانان دوستان د هغه خلقو ځولا چه ایمان نه راوړی

وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً قَالُوْا وَجَدْنَا عَلَيْهَآ اٰبَآءَنَا وَاللّٰهُ

او کله چه کوی څه بدکار نو وائی چه موږ لیدلی دا شان کو نکی خپل پلرونه بیکونه او الله

اَمَرَنَا بِهَا ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ؕ

هم موږ ته دا حکم راکړے دے نه او وایه چه ٢٨ الله ج حکم نه کوی د بد کار

نکات: سـ۱ متعارف ژوند مراد دے لهٰذا د حضرت عیسیٰ علیه السلام په حیات باندے به کوم اعتراض نه راځی سـ۲ د تمهید نه روستو له دے ځائے نه د مقصود بیان شروع کیږی دا د خلورو احکامو نه اول حکم دے سـ۳ یعنی لباس حاصل شوا و تقویٰ اهم سـ۴ دوئم حکم یعنی شیطان تاسو باندے په بربنډه طواف کوی د دے وجه تاسو لباس حرام گرځولے دے الله تعالیٰ دا سے هیڅ حکم نه دے کړے افتخذونه وذریته اولیاء من دونی الخ په بربنډه به ئے طواف کولو او دا شعر به ئے ویلو۔

اليوم يبدو بعضه او كله وما بدا منه فلا احله

مولانا روم او فرمائیل:

ان نگیری ابلهان را تو ولی سر منه گوساله را چون سامری

سـ۵ لام عاقبت د پاره دے سـ۶ دیته معلومه شوه چه د سورت په ابتداء کښے ولا تتبعوا من دونه اولیاء نه شیطانان مراد دی۔

موضح قرآن: ف۱ یعنی دشمن ستاسو نه د جنت کپړے او ویستلے بیا موږ تاسو ته په دنیا کښے د لباس ته بیر او ښودلو هغه لباس اغوندئ په کوم کښے چه پرهیزگاری وی یعنی سرپے دے ریښم نه جوړ لباس نه اغوندی او لمن دے اوږده نه ساتی او کوم چه منع شوے دے نو هغه دے نه کوی او ښځه دے ډیرے باریکے نرئ جامے نه اغوندی چه خلقو ته د هغے بدن په نظر راځی او خپل زینت دے نه ښکاره کوی۔

حاشیه: ۲۲ حیات نه حیات متعارفه مراد دے د دے وجه نه دا اعتراض به نه وارد یدی چه کچرے حضرت عیسیٰ علیه السلام ژوندے وے نو هغه به هم په زمکه باندے ژوند تیرولے زمکه د متعارف ژوند مرکز دے د حضرت عیسیٰ ع

په اسمان کښې ژوند دے زمکے متعارف ژوند نۀ دے یعنی هغه ژوند کوم سره چې
د خوراک، څښاك او نورو لوازم تړلے شوی وی دے ځائے پورے تمهید ختم شو۔

۲۳ د تمهید نه روستو دے ځائے نه اصل مقصد یعنی د دویمه دعوٰی شروع
کیږی کوم چه رکوع ۳ او ۴ کښې خلور ځله یٰبَنِیۡۤ اٰدَمَ خطاب سره بیان کړے شوے
دے قَدۡ اَنۡزَلۡنَا عَلَیۡکُمۡ لِبَاسًا یعنی مونږ لباس دے د پاره کوځولے دے چه تاسو
خپل قابل ستر اندام پټ کړئ او لباس نه د زینت او آرائش کار هم واخلئ ریشا
ای زینة۔

۲۴ لِبَاسُ التَّقۡوٰی نه ایمان او عمل صالح او دلّی حیاء مراد ده مطلب دا دے
چه ظاهری لباس سره دا د تقوٰی لباس هم اغوستل پکار دی چه اولنی نه زیات ضروری
او اهم دے۔

۲۵ دے ځائے کښې اولادِ آدم د شیطان د فریب نه خبردار کړے شو چه دا
ستاسو هغه پخوانے دشمن دے چه ستاسو مور پلار (حواء او آدم) ته دهوکه
ورکړه او جنت نه ئے ویستلے وو تاسو د هغه په فریب او دهوکه کښې رانشئ.
خطاب بلا واسطه مشرکین عرب سره دے چه په بربنډه ئے طواف کولو او دا خپل
کار به ئے عبادت گنړلو دا قول د شیطان گمراه کولو سره وو حاصل دا دے چه دا بې حیائی
تاسو باندے شیطان کوی۔ د شیطان گمراه کولو سره تاسو په حالت د طواف کښې کپړے
اغوستل حرام کړی دی خال دا دے چه الله تعالیٰ تاسو ته دا سے حکم نۀ دے ورکړے لکه
چه په سورة کهف ع۷ کښې دی اَفَتَتَّخِذُوۡنَهٗ وَذُرِّیَّتَهٗۤ اَوۡلِیَآءَ مِنۡ دُوۡنِیۡ وَهُمۡ لَکُمۡ
عَدُوٌّ د مشرکانو ښځو به هم په بربنډه طواف کولو او دا شعر به ئے ویلو:

اليوم يبدو كله او بعضه   فما بدا منه فلا احله

د اخلال معنٰی ده د عذاب لائق گنړل (صراح) یعنی ټن شرمگاه بربنډول د عذاب
سبب نه دے. مولانا رومی د دا سے خلقو باره کښې او فرمائیل خوك چه د شریعت خلاف
کارونه عبادت او د الله ج د نزدیکت ذریعه گنړی سه

نان ابلهان را تو ولی   سر منه گوساله را چون سامری

لیریهما کښې لام د عاقبت دے

۲۶ وقبيلهٗ ای ذريته او جنوده من الشيطين (مدارك ج۲ ص۳۵) یعنی ابلیس
او دهغه اولاد انسان وینی لیکن انسان هغوئی نشی لیدے د دے وجه نه هغوئی د
محفوظ مورچے نه د انسان د گمراه کولو د پاره حمله کوی د ینه دا هم معلومه شوه چه
گمراه کولو والا صرف یو ابلیس نۀ دے بلکه د هغه بے شماره اولاد دے کار کښې مصروف
دی انا جعلنا الشیطین اولیاء للذین لایؤمنون دا د دے خبرے قرینه ده چه
سورت په شروع کښې ولا تتبعوا من دونه اولیاء کښې دا اولیاء نه شیطانان مراد دی
خوك چه خلق گمراه کوی دے سره د اهل بدعت دا استدلال باطل شو چه کپړے

شیطان (ابلیس) هر ځائے حاضر او ناظر کیدلو سره خلقو لره گمراه کولے شی نو ولے نبی علیه السلام هر ځائے حاضر ناظر نشی کیدلے ؟ (معاذ الله من هذا تشبیه) قال الزجاج سلطناهم علیهم یزیدون فی غیهم فیتا بعونهم علی ذلک فصاروا اولیاءهم (بحر ج ۴ ص ۲۸۵)

۲۷ دا شکوی ده او د فاحشه نه دلته په بربنډه طواف او نور مشرکانه افعال مراد دی لکه چه حضرت ابن عباس، زهری، مجاهد، زید بن اسلم، ابن عطیه او سدی نه نقل شویدی وهو طوافهم بالبیت عراة وشرکهم (مدارک) قال ابن عطیة والفاحشة وان کان عامًا هی کشف العورة فی الطواف فقد روی عن الزهری انه قال فی ذلک نزلت هٰذه الأیات وقاله ابن عباس ومجاهد انتهی وبه قال زید بن اسلم والسدی. مشرکان چه به کله دخپلو بدو کارونو نه منع کولے شول نو ویل به ئے چه خُونږ پلار نیکه دا کارونه کول او مونږ ته را رسیدلی دی او الله ج مونږ ته ددے کارونو حکم راکړے دے.

۲۸ دا جواب شکوی دے یعنی دا تول په الله ج افتراء ده چه هغه دوی ته ددے کارونو حکم ورکړے دے ځکه چه دا الله تعالیٰ شان دے نه دیرا وچت دے چه هغه دداسے بے حیاء کارونو حکم ورکړے.

اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾ قُلْ اَمَرَ
آیا لګوئ د الله ج په ذمه هغه خبرے کوم چه تاسو ته معلوم نه دی ئے ته او وایه چه حکم راب

رَبِّیْ بِالْقِسْطِ ۟ وَاَقِیْمُوْا وُجُوْهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ
حکم ورکړے دے دانصاف ۲۹ او برابر کړئ خپل مخونه د هر مانځه په وخت او را بلئ

وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ؕ كَمَا بَدَاَكُمْ
هغه لره خالص د هغه حکم منلو سره ځکه چه ئے تاسو مخکښے پیدا کړئ دو تم ځل به هم

تَعُوْدُوْنَ ﴿۲۹﴾ ؕ فَرِیْقًا هَدٰی وَفَرِیْقًا حَقَّ عَلَیْهِمُ
پیدا کړی تاسو لره ډلے یوے ډلے ته ئے هدایت او کړو او په یوه د له مقرر شوه

الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّیٰطِیْنَ اَوْلِیَآءَ مِنْ
ګمراهی د هغوئ او ګرځولی دی شیطانان ۳۰ دوستان او الله ج

دُوْنِ اللّٰهِ وَیَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۰﴾ یٰبَنِیْ
ئے پرېښود او خیال کوی چه هغوئ په هدایت دی اے د آدم

ادَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّ كُلُوْا وَ

اولاده واخلئ خپل ښائست ته ۲ دهر ما نځه په وخت او خورئ او

اشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾

څکئ او بې ځایه خرچ مه کوئ هغه نه خوښوي بې ځایه خرچ کوونکي و

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَ

ته اووایه چا حرام کړل ۳۲ د الله ج ښایست کوم چه هغه پیدا کړو د خپلو بندګانو

الطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ؕ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دپاره او صفا څیزونه د خوراك ته اووایه دا نعمتونه په اصل کښې ۳۳ ایمان والو

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

دپاره دي په دنیا کښې

نکات: سل ای لا اله الا الله روایت له ابن عباس رض نه س۲ ای وقال اقیموا وجوهکم عطف د خبر په امر لازم نه شو مراد دا دے چه د هغه طرف ته توجه او کړئ هغه سره شریک مه جوړوئ س۳ دے آیت او تیرو شوو دوو آیتونو نه معلومه شوه چه یو شیطان ګمراه کول نه کوی بلکه ډیر شیطانان ګمراه کول کوی صحیح احادیث هم په دے شاهد دی لهٰذا کوم چه مشرکان وائی چه یو شیطان ګمراه کول کوی نو حاضر او ناظر شو لهٰذا حضور علیه السلام هم حاضر او ناظر دے دا بالکل غلط ده س۴ دا دریم حکم دے یعنی د ځان نه حراموله غیر الله کوئ شرك دے لهٰذا دا ختم کړئ س۵ ای ولا تشرکوا س۶ دا د تحریمات غیر بیان دے.

موضح قرآن: ف۱ یعنی تاسو واورېدل چه ستاسو اونی پلار د شیطان دهوکه اوخوړله نو بیا پلار ولے سند پیش کوئ ف۲ خپل ښائست یعنی په مانځه کښې لباس فرض دے سړی دپاره د شا نه واخله تر ځنګنو پورے او ښځے دپاره ټول بدن لیکن ویښتۀ دپاره د ځنګنو نه لاندے او د ترخونو نه بره معاف دے او باریك په کوم کښې چه بدن یا ویښتۀ په نظر راځی معتبر نه دے او د نمائش اسراف مه کوئ یعنی چه کوم کار منع دے په هغے کښے خرچ مه کوئ.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی سړی او ښځے برېنډ او ناسته به جمع کړے شی ف۲ یعنی خپلو کپړو اوره ص۳ یعنی لائق دے د دوئ سره اګرچه نورے هم استعمالوی

حاشیه: ۲۹ف القسط نه د الله تعالیٰ توحید مراد دے لکه چه ابن عباس رض فرمائی قال ابن عباس رضی الله عنهما بلا اله الا الله (خازن ج ۲ ص ۱۸۳) وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ ای قال واقیموا اقیموا نه مخکښے قال مقدر دے د دے دپاره چه د امر عطف په خبر لازم نهٔ شی ځکه چه دا جائز نهٔ دے یعنی خپل توجهات صرف د الله طرف ته اوساتئ او هغهٔ سره شریک مهٔ جوړوئ او خالصةً صرف الله ج ته آواز کوئ.

۳۰ف د شیطان په اغواء او وسوسه کښے راغلل او په شرک او بے حیائی کښے مبتلا شول او د الله ج احکام ئے پریښودل د شیطان تابعداری ئے شروع کړه او د بدقسمتئ نه هغه لارے د هدایت او ګنړله.

۳۱ف زِينَةَ نه مراد لباس دے مسجد نه مراد د سجدے وخت دے یعنی د هر مانځهٔ په وخت عورت پټونکے کپړه واغوندئ یا د مسجد نه د سجدے ځائے مراد دے او مطلب دا دے چه په هر جومات کښے هر قسم عبادت، طواف مونځ وغیره په وخت کپړے واغوندئ او د خپل ځان نه حرامول مهٔ کوئ ځکه چه دا شرک دے داسے د ځان نه جوړ شوی تحریمات ختم کړئ وَلَا تُسْرِفُوا ای ولا تشرکوا.

۳۲ف دا د تحریمات غیرالله بیان دے یعنی د زینت او بناسُت کوم سامان چه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو دپاره تیار کړے دے او رزق دپاره چه ئے کوم پاک څیزونه پیدا کړی دی دا چا حرام کړی دی ظاهره ده چه دا خو الله نهٔ دی حرام کړی ځکه چه هغه خو دا څیزونه د خپلو بندګانو د استعمال دپاره پیدا کړی دی لهٰذا د خپله ځانه دا حلال څیزونه مهٔ حراموئ

۳۳ف دا د بناسُت او زینت سامان او پاک رزق د دنیا کښے هم د مؤمنانو د فائدے اخستلو دپاره دے لیکن د لته د دے څیزونو نه نفع اخستلو کښے کافران او مشرکان هم د دوئ سره شریک دی خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيٰمَةِ لیکن د قیامت په ورځ به دا اشیاء مؤمنانو پورے خاص وی او کافران به د دے نه محروم وی كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ ای نمیز الحلال من الحرام لقوم یعلمون انه لا شریک له (مدارک ج ۲ ص ۳۹)

خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

خالص د دوئ دپاره دی د قیامت په ورځ دا شان مونږ تفصیل سره بیانوو آیتونه هغوئ

يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳۲﴾ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ

دپاره څوک چه پوهیږی ۳۲ف وایه ته او وایه ۳۴ف څما رب حرام کړی دی صرف د بے حیائی خبرے

مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ

کومے چه ښکاره دی او کومے چه پټے دی او ګناه او ناحق زیاتے او دا

کوم چه هغے نه خبر که چه

تُشْرِكُوا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُولُوا

سند نه دے نازل کړے الله او دا چه ووایئ
شریک کړئ د الله سره داسے څیز چه د هغے

عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ

کړئ په الله باندے هغه خبرے چه تاسو نه معلوے نه دی او هرے ډلے د پاره یوه وعده ده

فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٣٤﴾

نه به روستو کیږی یو ساعت دوئ او نه به مخکښے کیږی
بیا چه کله راورسیږی د هغوئ وعده

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ

ستاسو نه چه آوروی
اے د آدم اولاده کچرے راشی تاسو ته رسول

عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ

تاسو ته آیتونه زما نو څوک چه اووېرېږی او نیکی اوکړی نو نه به ویره وی په

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

او چا چه دروغ اوګڼل
هغوئ باندے او نه به غمژن وی

بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ

زمونږ آیتونه او تکبر ئے اوکړو د هغے نه نو هم دوئ دی د دوزخ کښے اوسیدونکی

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٦﴾

هغوئ به دے کښے همیشه (او سیږی)

نکات: ١ ای تمیز الحلال من الحرام ٢ ای انه لا شریك له ٣ معبودا باطله ٤ مضاف محذوف دے ای بمعبودیته ٥ دلت علیٰ جزاء محذوف لا یستقدمون معطوف دے په اذا جاء باندے ٦ ای قلنا داخلو د حکم دے یعنی د آدم علیه السلام نه روستو به انبیاء راځی دا مطلب نه دے چه د آخری پیغمبر نه روستو به راځی لکه چه مرزایان وائی ٧ ای من جنسکم و مثلکم ٨ ای الشرك رسلی ٩ تخویف آخروی.

موضح قرآن: ف۱ یعنی منع شوی کار کښے خرچ مه کوئ ناحق خوراک روا دے کوم نعمتونه چه دی نو مسلمانانو د پاره پیدا شوی دی په دنیا کښے

تول په آخرت کښې فقط د دوئ دپاره دی.

فتح الرحمن: ف۱ دے آیت کښې اشاره ده د یهود او نصاریٰ او د صوفیانو
مذاهب ته او د عرب مختنثین (هجړاګانو) ته چه د خوراک او لباس په څیزونو کښې
به ئې فراخي بدکا ګڼړله **ف۲** یعنی وخت مقرر دے د دوئ د هلاکولو دپاره **ف۳** یعنی
نږدے شی **ف۴** یعنی د حضرت آدم علیه السلام په ذریه لکه چه په سورۂ بقره کښې
اشاره تیره شوه

حاشیه: ۳۴ دا د تحریمات الٰهیه بیان دے یعنی الله تعالیٰ دا څیزونه نه
دی حرام کړی کوم چه تاسو پخپله حرام کړی دی او کوم څیزونه چه الله ج حرام کړی
دی تاسو هغه حرام نه ګڼړئ الله تعالیٰ ټول د بے حیائۍ څیزونه ښکاره او پټ حرام
کړی دی هر قسم ګناه ناحق ظلم ټول د شرک اقسام او په خپل ذات باندے
دروغ جوړول حرام کړځولی دی لیکن د دے محرمات نه تاسو نه منع کیږئ مَا لَمْ
یُنَزِّلْ کښې د مانه باطل معبودان مراد دی او به ای بمعبودیته یعنی د دے باطل
معبودانو خدائے پاک سره شریکول هم حرام دی د کوم په معبود کیدلو باندے چه
الله ج هیڅ دلیل نه دے نازل کړے.

۳۵ د ټول هلاک شوو امتونو د هلاک وخت مقرر دو وَلِكُلِّ اُمَّةٍ من الامم
المهلکة اجل ای وقت معین مضروب لاستئصالهم کما قال الحسن الخ (روح
ج ۸ ص ۱۱۲) کله چه د هغوئ د هلاکت وخت راغے هغوئ فوراً په عذاب کښې مبتلا
کړے شول او د هغوئ په هلاکت کښې د مقرره نیټے نه یو ساعت هم مخکښے والے
او روستو والے او نه کړے شو فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ نه روستو د اذا جزاء محذوف ده
ای عذبوا لا یَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا یَسْتَقْدِمُوْنَ د ما قبل توضیح او تاکید
دے یا د ولا یستقدمون عطف په اذا جآء دے ولا یستقدمون د فاذا جاء
نه دے بلکه د اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ مقابل کښې دویم شق دے.

۳۶ دیته مخکښے قلنا محذوف دے دا قاعده ده چه کله هم د یو تیر شوی واقعے
نه لفظ مضارع سره تعبیر او کړے شی نو هلته قلنا محذوف وی د دے دپاره چه د
مراد خلاف وهم نه وی دا شان به دا آیت قال اهبطوا بعضکم لبعض سره متعلق
وی او مطلب به دا وی چه د آدم علیه السلام د قصے نه روستو مونږ هغه وخت
د آدم علیه السلام اولاد مخاطب کړو ویلے هم وو چه تاسو ته به څوک رسولان راځی
لکه چه رسولان راغلئ تر دے چه حضرت خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم
باندے د هغوئ سلسله ختم شوه د دے وجه نه دا خطاب په موجوده بنی آدم باندے
جسپانولو سره د حضور علیه السلام نه روستو د سلسله رسالت جاری لرلو باندے
استدلال کول غلط او د قرآن تحریف کولو سره مرادف دے (قرآن کښے تحریف
کول دی) د سورۂ بقره آیت په دے شاهد عدل دے په کوم کښے چه د هبوط

حکم سره پیوست ئے او فرمائیل چه تاسو ته به ځما د هدایت پیغام اخستلو سره ځما انبیاء راځی لکه چه ارشاد دے قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى الخ

۳۶ رسل منکم ای من جنسکم و مثلکم من بنی آدم (خازن ج ۲ ص ۱۸۶) یعنی رسول به ستا سو له جنس (بنی آدم) نه راځی د بل کوم جنس نه به نهٔ راځی فمن اتقی چا چه د شرک او ځما د پیغمبرانو د مخالفت نه اجتناب او کړو یعنی فمن اتقی الشرك و مخافة رسلی (خازن) دا بشارت اُخروی دے والذین کذبوا الخ دا تخویف اخروی دے.

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ
بیا څوک د هغه چا نه زیات ظالم دے ۳۸ چه دروغ او تړی په الله ج باندے یا

كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيْبُهُمْ مِّنَ
دروغ گنړی د الله ج حکمونه دا هغه خلق دی چه او به رسیږی هغوی ته کوم حصه چه د

الْكِتٰبِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ ۙ
هغوی لیکل شوے ده په کتاب کښے ۳۹ تر دے چه کله او رسیږی هغوی ته ۴۰

قَالُوْٓا اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ
ځمونږ لیږلے شوے د دوئ روح اخستلو دپاره نو او وائی څهٔ شو هغه کوم چه تاسو رابلل سوا د الله ج نه

قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ
او به وائی هغه ځمونږ نه ورک شول او اقرار به او کړی خپل ځانونو باندے چه بیشکه

كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ۝۳۷ قَالَ ادْخُلُوْا فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ
هغوی کافران وو او به فرمائی داخل شئ ۴۱ ملګری د نورو امتونو کوم

مِنْ قَبْلِكُمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ فِي النَّارِ ؕ
چه ستا سو نه مخکښے تیر شوی دی له پیریانو او انسانانو نه دوزخ ته د ننه

كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ لَّعَنَتْ اُخْتَهَا ؕ حَتّٰٓى اِذَا ادَّارَكُوْا
کله چه داخل شی یو امت نو لعنت به وائی په بل امت باندے ملګه تر دے چه پورے ورسیږی

فِيهَا جَمِيعًا ۙ قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هٰؤُلَاءِ

اول نو او به وائی روستنی د دوئی مخکنو ته چه اے ربه ځموږه مونږ دوی

أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۖ ۵

ګمراه کړی وو نو دوئی ته ورکړه دوچند عذاب د اور

نکات: سا زجر س۲ ای یجعل له شریکا من خلقه س۳ تخویف اخروی س۴ دلته نه معلومه شوه چه د روح قبض کولو د پاره ډیرے فرشتے مقرری دی یوه نه ده س۵ دلته نه معلومه شوه چه صرف د مشرکانو نه به د مرګ په وخت داتپوس کولے شی س۶ معلومه شوه چه باطل معبودانو ته د چا د مرګ هیڅ پته نشته س۷ متعلق دے اُدْخُلُوْا سره س۸ دا د مشر پیرانو او مریدانو په حق کښے دے س۹ مشرک مرید س۱۰ مشرک پیر۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی نعمت او عذاب چه په دنیا کښے مقرر شوے دے هغه به دوئی ته اورسیږی۔

حاشیه: ۳۸ دا زجر دے افتری علی الله کذبا الله باندے دروغ تړلو نه مراد دا دے چه د الله ج د مخلوق نه د هغه سره شریکا جوړول او څوک د هغه ولد یا نائب ګرځول فمن اعظم ظلما فمن یقول علی الله مالم یقله او یجعل له شریکا من خلقه وهو منزه عن الشریک والولد (خازن) ینالهم نصیبهم من الکتب یعنی لوح محفوظ او علم الٰهی کښے د دوئی د پاره چه کومه سزا مقرره ده هغه دوئی ته ضرور رملاویږی۔

۳۹ دا تخویف اُخروی دے رُسُلُنَا یَتَوَفَّوْنَهُمْ دے نه معلومه شوه چه روح قبض کونکے فرشته یوه نه ده بلکه زیاتے دی چه د هغے د شمار علم الله ج ته دے بل چاته معلوم نه دے لهٰذا دے سره د اهل بدعت استدلال باطل شو چه ګویے یوه فرشته هر ځائے حاضر ناظر کیږی او په مختلفو علاقو کښے په یو وخت کښے د ډیرو انسانانو روحونه قبض کولے نو حضور علیه السلام ولے حاضر ناظر نشی کیدلے دلته یوه شبه کیدے شی هغه دا چه په سورۂ سجدہ ع ۱ کښے دی قل یتوفکم ملک الموت الذی وکل بکم دینه په ظاهر کښے معلومیږی چه روح قبض کونکے فرشته یوه ده نو ددے جواب دا دے چه آیت کښے ملک الموت اسم جنس دے او دینه د روح قبض کونکو فرشتو جنس مراد دے یا د دینه د هغه جنس رئیس (مشر) مراد دے د کوم د حکم د لاندے چه ما تحت فرشتے روح قبض کوی او د ما تحت فعل عام طور باندے د سردار او مشر طرف ته منسوب کولے شی لکه چه وئیلے شی بادشاه قلعه فتح کړه حال دا دے چه قلا نوځ فتح

فتح کړے وی اَیۡنَ مَا كُنۡتُمۡ تَدۡعُوۡنَ دما نه مراد هغه معبودان دی کوم چه مشرکین دنیا کښے د مشکلات او مصائب په وخت رابلی او د هغوئ امداد طلبول کوی ای این الالهة التی کنتم تعبدونها فی الدنیا وتستعینون بها فی المهمات (روح ج ۸ ص ۱۱۵) ضَلُّوۡا عَنَّا مشرکان به په جواب کښے اووائی هغوئ خو زمونږ نه غائب شوی دی او زن چه زمونږ هغوئ ته سخت ضرورت دے هغوئ مونږ ته هیڅ نفع او نه رسوله غابوا فلا نراهم ولا ننتفع بهم (جامع البیان ص ۱۳۲)

ف۴۰ فِیۡۤ اُمَمٍ فی په معنیٰ د مَعَ ده ای مع امم فی النار دا د ادخلوا سره متعلق دے (مدارک، روح)

ف۴۱ اُخۡتَهَا نه یو مذهب جماعت مراد دے چه کله د مشرکانو هغه جماعت جهنم ته داخل شی کوم چه به د نورو تابعداری کوله نو هغه به په خپلو پیشوایانو باندے لعنت لیږی چاچه دوی گمراه کړی وو او چه کله د مشرکانو پیشوایان دوزخ ته داخل کړے شی نو هغوئ به خپلو تابعدارانو باندے بد وائی کوم چه د دوی تابعداری کړے وه او د دوی حوصله افزائی ئے کړے وه د هغوئ په گمراهئ کښے ئے زیاتوالے کړے وو ای دعت علی نظیرها فی الدین فتلعن التابعة المتبوعة التی اضلتها وتلعن المتبوعة التابعة التی زادت فی ضلالها (روح ج ۸ ص ۱۲۶)

ف۴۲ اُخۡرٰىهُمۡ د مشرک مریدانو جماعت اُوۡلٰىهُمۡ د مشرک پیرانو او رهنمایانو جماعت چه کله ټول ته جهنم کښے د داخلیدلو حکم وی هغه وخت به تابعین او مریدان د خپلو مشرکانو او پیشوایانو باره کښے عرض کوی اے زمونږ پروردگاره دے خلقو مونږ گمراه کړی وو د دے وجه نه دوئ ته دوچند عذاب ورکړه قَالَ لِکُلٍّ ضِعۡفٌ ارشاد به اوشی ټولو ته به دوچند عذاب ورکولے شی تابعداری کونکو ته هم او چه د چا تابعداری شوے ده هغوئ ته هم متبوعین ته د دے وجه نه چه هغوئ پخپله هم گمراه وو او نور به ئے هم گمراه کول او تاسو تابعین ته ځکه چه تاسو پخپله هم گمراه وئ او د خپل مشرک پیشوایانو په هره خبره باندے به تاسو آمنا وئیل د هغوئ په گمراهئ او سرکشئ کښے د زیاتوالی باعث جوړیدلئ.

قَالَ لِكُلٍّ ضِعۡفٌ وَّلٰكِنۡ لَّا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۸﴾ وَقَالَتۡ

او به فرمائی چه د واړه و ته دوچند عذاب دے لیکن تاسو نه پوهیږئ ف او وائی به

اُوۡلٰىهُمۡ لِاُخۡرٰىهُمۡ فَمَا كَانَ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِنۡ

دوی مخکنی ف۴۳ روستنو ته چه نه وو تاسو ته په مونږ باندے هیڅ

فَضْلٍ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٣٩﴾ ع

بهتري اوس اوڅکئ عذاب په سبب د خپلو ګټلو

اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ

بېشکه چا چه دروغ او ګڼل ۴۴ خصوصاً آیتونه او د هغې مقابله کښې ئې تکبر او کړو

لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى

نه به شي پرانستلې ۴۵ هغوئ د پاره د آسمان دروازې او نه به داخل شي جنت ته ۴۶ تر هغې چه

يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ۭ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي

ننوځي اوښ د ستنې په سوري کښې ۴۷ او مونږ همدا شان بدله

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ

ورکوو ګنهګارانو ته هغوئ د پاره د دوزخ فرش دے او د پاسه د

فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۭ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤١﴾

اوړ پردې او هم داشان بدله ورکوو ظالمانو ته

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَا نُكَلِّفُ

او خولک چه ایمان راوړی ۴۸ او کوی نیکی مونږ بار نه اچوو په چا باندې

نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَآ ۡ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ

لیکن د هغه د طاقت موافق هم دا دی په جنت کښې اوسېدونکی هغوئ به

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ

همېشه اوسېږي په دے کښې او وبه باسو مونږ کوم څه چه د دوئ په زړونو کښې

غِلٍّ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ ۚ

کینه وي ۴۹ بهیږي د دوئ لاندې ولې

نکات: ۴۴ ای بدلائل التوحید فلم یصدقوا بها ۴۵ ای ابواب الرحمة ۴۶ یعنی محال دی ۴۷ تخویف اخروی ۴۸ خبر ۴۹ ای المشرکین الذین وضعوا

العبادة فی غیر موضعها ــــٰـ بشارت ـــٰـ ۸ په مینځ کښې جمله معترضه ده۔

موضح قرآن : ف یعنی یو حساب سره د تیر شوی امت گناه زیاته شوه چه روستو دپاره ئې لار جوړه کړه او بل طرف ته د روستنو گناه زیاته شوه چه د مخکښو حال ئې اولیده او واوریده عبرت ئې حاصل نه کړو۔

فتح الرحمٰن : ف۱ یعنی تابعدارانو دپاره عذاب د کفر او تقلید او متبوعینو دپاره عذاب د گمراه کیدلو او د گمراه کولو **ف۲** یعنی محال دی **ف۳** یعنی کوم کینے چه د جنتیانو په زړونو کښې وی هغه لرے کړم لکه چه کوم خه د حضرت عثمان، علی، طلحه، زبیر او عائشه رضی الله عنهم مینځ کښې واقع شول۔

حاشیه : ـــٰـ ۴۳ د الله تعالیٰ ذکر شوی ارشاد اوریدلو سره به متبوعین تابعین ته اووائی چه په سزا او عذاب کښې مونږ او تاسو تول برابر یو او د عذاب د سپکوالی تاسو هیڅ حقدار نه ئې لهٰذا اوس دخپلو کړو سزا اوزغمئ۔

ـــٰـ ۴۴ دا تخویف اُخروی دے د آیت نه توحید، رسالت او معاد او د دین اصول مراد دی الدّالة علی اصول الدین واحکام الشرع کالادلّة الدّالة علی وجود الصانع ووحدته والدّالة علی النبوة والمعاد ونحو ذٰلك (روح ج ۸ ص۱۱) یعنی کذبوا بدلائل التوحید فلم یصدقوبها ولم یتبعوا رسلنا (خازن ج ۲ ص۱۸۸)

ـــٰـ ۴۵ حدیث وارد دے چه کله مؤمن وفات کیږی نو فرښتے د هغه روح داخلی د آسمان طرف ته ئې وړی او هغه د پاره د آسمانونو دروازے بیرته کیږی تر دے چه هغه اووم آسمان ته اورسیږی داشان د مؤمن اعمال صالحه دپاره هم د آسمانو دروازے بیرته کیږی لیکن د کافرانو او مشرکانو د ارواح دپاره او د هغوئی د عملونو دپاره داشان نه کیږی دے آیت کښې د دے بیان دے۔

ـــٰـ ۴۶ اَلْجَمَلُ ـ خُوان اوښ ـ سَمِّ الْخِيَاطِ د ستنے سورے یعنی هغه سورے په کوم کښې چه تار اچولے شی دا یوه محاوره چه د یو کار ناممکن او محال کیدلو د اظهار دپاره استعمالیږی د لته مقصد دا دے چه د توحید او رسالت د دلائل ته د دروغ نسبت کونکی به هرگز جنت ته داخل نشی د هغوئی جنت ته داخلیدل داشان ناممکن دی لکه چه د اوښ تیریدل د ستنے د سوری نه محال دی مِهَادٌ ـ فرش غَوَاشٍ ـ څپرے سود مطلب دا دے چه د جهنم اور به هر طرف نه راگیر کړے وی او اور به د هغوئی اغوستل دی الظّٰلمین المشرکین الذین وضعوا العبادة فی غیر موضعها (خازن ج ۲ ص۱۸۹)

ـــٰـ ۴۷ دا بشارت اُخروی دے لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَآ ز جمله معترضه ده وَنَزَعْنَا مَا فِیْ صُدُوْرِهِمْ الخ د ایمان والاؤ په زړه کښې د دنیا کښې چه د یو بل سره چه کومه کینه وی جنت کښې به هغه د دوئی د زړونو نه اوویستل شی او هلته به هغوئی ته هر قسم سکون د زړه حاصل وی۔

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي هَدٰىنَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا

او وائي به دوی شکر الله ج لره دے (ثنا) چه هغه مونږ ته لار وښودله او مونږ نه وو

لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ لَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُ

لاره موندونکی کچرې هدایت نه وے کړے مونږ ته الله بیشکه راوړے وے رسول څوړنو

رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا

ربنیں خبرے او آواز به اوکړے شي چه دا جنت دے وارثان شوئ تاسو دے

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ وَنَادٰى أَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

رخپلو عملونو په بدله کښے ف او آواز به اوکړی جنت والا

أَصْحٰبَ النَّارِ أَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا

دوزخ والاؤ ته چه مونږ بیا موندلے کومه وعده چه کړے وه حمونږ مرهٔ حمونږ رب

حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۖ قَالُوا نَعَمْ ۚ

رښتینی نو آیا تاسو هم بیا موندلے د خپل رب وعده رښتونے هغوئ به اووائي چه هو

فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَنْ لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

بیا به آواز اوکړی یو آواز کونکے د دوئ مینځ کښے چه لعنت دے د الله په هغه ظالمانو باندے

الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ وَيَبْغُونَهَا

چا چه منع کول خلق د الله د لارے نه او طلب کول ئے په
هغے کښے

عِوَجًا ۚ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ كٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ

کوږوالے او هغوئ د آخرت نه منکر وو او د دواړو مینځ کښے به وی یو دیوال

وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمٰهُمْ ۚ

او د اعراف د پاسه به سړی وی چه پیژنی به هر یو د هغوئ په علامو د هغوئ.

نکات: ٤٣ یعنی د شرکي شبهات په وجه سره د توحید مسئله مشتبه کوی
ف د دوزخ او جنت مینځ کښے اوچت ځائے دے

موضح قرآن : ف۱ معلومه شوه چه نیکانو په زړه کښې به هم خپل مینځ کښې ناراضګی وی چه جنت ته نزدے اورسیږی خپل مینځ کښې به ئې زړونه صفا شی او هغه وخت به جنت ته لاړ شی حضرت علی کرم الله وجهه اوفرمائیل چه زه او عثمان او طلحه او زبیر رضی الله عنهم په هغه خلقو کښې دی یعنی د جنت وارثان به سی او فرمائیل یعنی د آدم علیه السلام میراث ئې بیا مونده.

فتح الرحمٰن : ف۱ یعنی غوښتل ئې چه شبهات سره دے لره باطل کړی

حاشیه : ۴۸ جنت کښې داخلیدونه روستو به جنتیان د الله شکر او د هغه حمد وثنا وائی

۴۹ دے سوال لره به جهنمیان په زیات غم او ملامتیا کښې مبتلا کول او د دے حقیقت اظهار مقصود وی ایمان همیشه نیک بختیا مونده دے ده والغرض من هذا السوال اظهار انه وصل الی السعادات الکاملة وایقاع الحزن فی قلب العدو (کبیر ج ۴ ص ۳۰۹) فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌ د اعلان کونکی باره کښې اختلاف دے هغه اسرافیل صاحب یا جبرائیل علیهما السلام وی یا بل کوم غیر معین فرشته (بحر، روح، وغیره)

۵۰ دا لازم او متعدی دواړه طریقو سره مستعمل دے اول صورت کښې به مطلب داوی چه یصدون بانفسهم عن دینه سبحانه یعنی هغوئ به په خپله د دین نه کناره کش او سیدل او دویم صورت کښې یمنعون الناس عن دین الله تعالیٰ یعنی هغوئ به د الله دین او د توحید په دلائلو کښې شبهات پیدا کول خلق به ئې بد ګمانه کول یمنعون الناس عن دین الله تعالیٰ بالنهی عنه وادخال الشبه فی دلائله (روح ج ۸ ص ۱۲۳)

۵۱ د اهل جنت او اهل نار مینځ کښې به یوه دیره لویه پرده وی چه د جنت او دوزخ اثر یو بل ته د رسیدلو نه به مانع وی وَعَلَى الْاَعْرَافِ اعراف د جنت او دوزخ مینځ کښې د مانع پردے اوچته حصه ده الذی علیه الاکثر ان المراد من الاعراف اعالی ذالك السور المضروب بین الجنة والنار وهذا قول ابن عباس (کبیر ج ۴ ص ۳۱۱) دیکښې به هغه خلق وی چه د چا نیکی او بدی برابر شوی وی لکه چه مرفوع حدیث کښې دی قیل یا رسول الله فمن استوت حسناته وسیئاته قال اولٰئك اصحاب الاعراف لم یدخلوها وهم یطمعون وقاله ابن مسعود وابن عباس وحذیفة وابوهریرة (بحر ج ۴ ص ۳۰۱) د اصحاب اعراف باره کښې محقق قول دا دے چه هغوئ به په آخر کښې جنت ته داخلیږی مخکښې راتلونکے وینا به د دوئ جنت ته د داخلیدو نه مخکښې وی.

وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ عَلَیْكُمْ لَمْ

او هغوئ به آواز اوکړی جنتیانو ته چه سلامتی ده په تاسو باندے

یَدْخُلُوْهَا وَهُمْ یَطْمَعُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ

تر اوسه جنت ته نه دی داخل شوی او هغوئ امید وار دی ف۱ ۵۲ او کله چه اوګرځی

تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ ۙ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ

دوزخیانو طرف ته نو وائي به اے څښتنه زمونږه مه گرځوه مونږ

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ ع وَنَادٰۤى اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ رِجَالًا

گنهگارانو خلقو سره او آواز به اوکړی اعراف والا ۵۳ هغه خلقو ته

يَّعْرِفُوْنَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ قَالُوْا مَاۤ اَغْنٰى عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ

چه هغه پيژني د هغوئی نښانو سره په کار رانه غله ستاسو ډله ستاسو

وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ اَهٰۤؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمْتُمْ

او هغه تکبر کوم چه تاسو کولو اوس دا هغه دی ۵۵ چه تاسو به قسمونه خوړل

لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ؕ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ

چه او به نه رسيږي هغوئی ته د الله ج رحمت قل لاړ شئ جنت ته نه ويره شته

عَلَيْكُمْ وَلَاۤ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَنَادٰۤى اَصْحٰبُ النَّارِ

په تاسو باندے او نه به غمژن ئے او آواز به اوکړی دوزخ والا ۵۶

اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ

جنتيانو ته چه راتوئی کړئ په مونږ باندے لږ شان اوبه يا څه د هغے نه چه رزق درکړے

اللّٰهُ ؕ قَالُوْۤا اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۰﴾

تاسو ته الله ج او به وائي الله ج دا دواړه منع کړی دی د کافرانو نه

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَهْوًا وَّلَعِبًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ

چا چه گرځولے ۵۷ خپل دين تماشه او لوبه او دهوکه کښے واچول هغوئی لره د دنيا

الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ نَنْسٰهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا ۙ

ژوند نو نن به مونږ هغوئی هير کړو ۵۸ لکه چه هغوئی هير کړے ملاقات د دے ورځے

نکات : سا صفت د رجال د پاره د حال بيانولو د اصحب اعراف سلا ای الذین ظلموا انفسهم بالشرك (خازن) سلا ای قيل لهم سا ای القوا علينا د قبيلے د

علفتها تبنا و ماءً بارداً ۵ یعنی د دې مبارزی الات وغیره۔

موضح قرآن : ف۱ د جنت او دوزخ مینځ کښې به دیوال وی د هغه په سر باندې به سړی وی خلاصه مونډ ونکی چه د حشر او حساب نه به فارغ وی جنتیان او دوزخیان به پیژنی په خپلو نښو سره جنتیانو ته به خوشخبری ورکوی د سلامتیا د دوئ او س امید وار دی چه خوشخبری واوری نو خوشحال به شی۔

فتح الرحمن : ف۱ یعنی د مسلمانانو فقیران چه کافرانو به هیڅ کښې نه حسابول.

حاشیه : ۵۲ دا جمله معترضه ده چه په دې کښې د اصحاب اعراف حال بیان شوی دے اصحاب اعراف به د خپلو ځایونو نه جنتیان او دوزخیان د هغوئ خاص علاماتو سره اوپیژنی مثلاً د اهل جنت مخونه به روښانه او سپین وی او د اهل دوزخ مخونه به توروی اصحاب اعراف به جنتیانو ته آواز اوکړی او سلام به واچوی۔

۵۳ لیکن چه کله د هغوئ سترګے په دوزخیانو اولګی نو هغوئ به د دوئ نه د الله پناه او غواړی القوم الظّٰلمین ۵ یعنی مشرکان خلق یعنی الذین ظلموا انفسهم بالشرک (خازن ج ۲ ص ۱۹۳)

۵۴ اصحاب اعراف به دوزخیانو نه څنے خلق د هغوئ مخصوص نشانانو سره اوپیژنی او د زیاتو په طور به هغوئ ته اووائی نن ستاسو هغه ډلے څه شولے د کوم په وجه چه تاسو په دنیا کښې فخر او نازکولو او په کوم چه تاسو مغرور شوی وئ د حق قبلولو نه تاسو اعراض کولو۔ سید محمود الوسی رح فرمائی وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ۵ کښې د ما نه مراد باطل معبودان دی او استکبار نه د دوئ د عظمت او لوئے اعتقاد مراد دے او مطلب دا دے چه په دنیا کښې تاسو د کوم معبودانو د عظمت او کبریائی معتقد وئ نن هغوئ هم دوئ ته څه فائده اونه رسوله والمراد بها حینئذٍ الاصنام و معنٰی استکبارهم ایاها اعتقادهم عظمها وکبرها ای ما اغنٰی عنکم جمعکم واصنامکم التی کنتم تعتقدون کبرها وعظمها (روح ج ۸ ص ۱۲۵، ۶)

۵۵ دا د اصحاب اعراف د قول تتمه ده هغوئ به د کمزورو مؤمنانو طرف ته اشاره کوی او په دوزخ کښې سوځیدونکو کافرانو ته به وائی چه آیا دا هغه خلق دی کوم چه تاسو دیر ذلیل او سپک ګنړل او د کوم باره کښې چه تاسو قسمونه خوړل چه دوئ د خدائے د رحمت هرګز مستحق نه دی او الله ج به هغوئ هرګز جنت ته داخل نه کړی ادخلوا الجنة ای قیل لهم او س اوګورئ هغوئ ته د الله ج دا حکم ملاؤ شوے دے چه تاسو جنت ته داخل شئ چرته به تاسو ته هیڅ غم او ویره نه وی او هغوئ به جنت ته داخل شوی هم وی۔

۵۶ دا خبرے انړے به د جنتیانو او دوزخیانو مینځ کښې وی او مما رزقکم الله ای القوا علینا مما رزقکم الله یعنی د لته القوا فعل محذوف دے او دا د علفتها تبنا وماءً بارداً د قبیل نه دے یعنی موږ باندے لږ شان او به را توئ کړئ یا چه کوم

نورنعمتونه الله پاك تاسو ته درکړیدي د هغې نه څۀ زمونږ طرفته راوغورزوئ.

۵۰ چاچه دین لوبې تماشې ګڼړلے دی چه کوم څیزونه یې خوښ شو حلال یې کړو او چه کوم یې اوغوښتلو نو حرام یې کړو. فحرموا واحلوا ماشاءوا (مدارک ص۲۲ ج ۲) نحرموا ماشاءوا واستحلوا ماشاءوا (روح المعانی) یا دے نه هغه بے اصله او بے فائدے امور مراد دی کوم چه هغوی دین ګڼړلے وو مثلاً بیت الله کښې لاسونه پړقول او شپیلی وهل. هو مازین لهم الشیطان من تحریم البحائر والسوائب والمکاء والتصدیة حول البیت وسائر الخصال الذمیمة التی کانوا یفعلونها فی زمان الجاهلیة (خازن ص۱۹۳ ج ۲) ننن صبا د قوالئ په نوم سرنا ډولکے او نور د مبازئ سامان استعمالول هم په لهوولعب کښې داخل دی کوم چه د ننن صبا د دینِ شریعت نه بے برخے او د روحانیت نه ړانده صوفیان بالکل عبادت ګڼړی.

۵۱ نسیان چونکه د الله تعالیٰ د پاره محال دے د دے وجے نه دلته مجازاً نسیان د ترك او تاخیر په معنو کښې دے او کما نسوا کښې کاف د تعلیل د پاره دے (روح) یعنی کله چه د اخرت دورځے د تیارئ د پاره هغوی نیک عملونه پرینبی وو په دے وجه نن مونږ هغوی په عذاب کښے مبتلا پریږدو. ای نترکهم فی عذابها کما ترکوا العمل للقاء یومهم هذا وهذا قول الحسن ومجاهد والسدی والاکثرین (کبیر ص۳۱۲ ج ۴، خازن ص۱۹۳ ج ۲)

وَمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ

او څنګه چه هغوی **۵۱** زمونږ د ایتونو نه منکر وو او مونږ هغه خلقو ته رسولے دے دلته

فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾

کتاب کوم چه مونږ مفصل بیان کړیدے خبردارئ سره لاره ښودونکے او رحمت دے ایمان والو د پاره

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ ۭ يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ يَقُوْلُ

ایا اوس دوی منتظر دی د دے مضمون ظاهرشی په کومه ورځ چه به ظاهرشی د هغے

الَّذِيْنَ نَسُوْهُ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا

مضمون وبه وائی هغه خلق چاچه د اهیر کړے وو مخکښې بیشکه راوړے وے زمونږ د رب رسول

بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ اَوْ نُرَدُّ

ربښتونے خبرے نو اوس شته څوك زمونږ سفارش والا شته نو زمونږ سفارش به اوکړی یا به مونږ واپس

فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ۚ قَدْ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ

او بیرته شو نو مونږ به عمل کوو خلاف د هغې نه کوم چه مونږ کولو ف٢ بیشکه تباه کړل هغوی خپل ځانونه

وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ ع ١٣

او ورک به شی د هغوی نه کوم چه هغوی افتراء کوله ف١ بیشکه ستا رب ف٢ الله دے

الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ

چا چه پیدا کړل آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کښې

ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ

بیا یې قرار اونیولو په عرش باندې ف٣ اغوندوی شپه ته ورځ ف٤ چه

يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ

هغه د دې پسې لګیا ده راځی منډه په منډه او پیدا یې کړل نمر او سپوږمۍ ګله او ستوري تابعدار د

بِأَمْرِهِ ۗ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٥٤﴾

خپل حکم واورئ بس د هغه کار دے پیدا کول او حکم کول ډیر برکت والا دے الله چه رب دے د ټولو جهان

نکات: ف١ ای بدلائل التوحید (خازن) ١٢ ف٢ یعنی د حکم کیدل. تاویل د اول نه دے ١٢ ف٣ نیک پیران مراد دی ١٢ ف٤ باطل معبودان ١٢ ف٥ د سورت دریم دعوی یعنی کارساز او برکت ورکونکے د دنیا په نظام کښې صرف الله تعالیٰ دے او هغه خپل کار هیچا ته نه دے حواله کړے. لهذا غائبانه حاجتونو کښې هغه ته آواز کوئ ١٢ ف٦ په دے باندے بحث د سورۀ یونس په تفسیر کښې راروان دے ١٢ ف٧ دا کنایه ده د دے نه چه هغه د عالم په نظام کښې هیچا ته څه نه دی حواله کړی ١٢

موضح قرآن

ف١ یعنی کافران انتظار کوی چه دے کتاب کښې خبر دے د عذاب چه مونږ اووینو چه صحیح واقع شو نو هغه وخت به یے مونږ قبول کړو نو چه کله بالکل واقع شی نو هغه وخت به خلاصے چرته ملاویږی. خبر دے د پاره دے چه د مخکښې نه ګمان یې کړی.

فتح الرحمٰن

ف١ د الله تعالیٰ هیر ول د دوی په دوزخ کښې پریښودل دی ١٢
ف٢ یعنی مسلمانان به شو او د بتانو عبادت به نه کوو ١٢
ف٣ یعنی کله د شپې څه حصه د ورځې په لباس سره پټه وی او د ورځې په حساب کښې سیږی کرځوی ١٢ ف٤ یعنی د روستو نه راتلل د شپې ورځې پسې روستو متصل مشابه د هغه

دی چه یو تن بل لره په منډه او جلتۍ سره طلب کوی ۱۲

تفسیر: ۵۹ دا په مَا نَسُوْا باندے معطوف دے او د ایات نه د توحید دلائل مراد دی۔ کانوا بدلائل وحدانیتنا یکذبون (خازن) دا د هغوی په سپکوونکی عذاب کښے د پریښودلو دویم علت دے یعنی هغوی د الله تعالی د توحید د دلائلو تکذیب کولو.

۶۰ د کتاب نه جنس کتاب مراد دے چه ټولو اسمانی کتابونو او صحیفو ته شامل دے یعنی مونږ په دُنیا کښے کتابونه نازل کړل چه په هغے کښے کامل علم او حکمت سره د شریعت احکام یے په تفصیل سره بیان کړل او کوم چه د ایمان والو د پاره ټول هدایت او رحمت وُو۔

۶۱ اُوس کافران او مشرکان د الله په کتاب باندے ولے ایمان نه راوړی آیا هغوی په دے کتاب کښے د ذکر شوے وعدے او وعید پوره کید و انتظار کوی؟ لیکن دا خیزونه به د دوی د پاره فائده مند نه وی په کومه ورځ (یعنی د قیامت ورځ) چه مؤمنانو سره د کړے شوُو انعامونو او اکرام وعدے او مُشرکانو سره د جهنم د عذابونو وعید وَنه پوره شی ۔ هغه ورځ به د مُنکرینو د پاره ډیره د افسوس او د نا اُمیدئ ورځ وی. په هغه ورځ به دوی ډیر په افسوس سره اووائی چه د الله پیغمبر خو بیشکه د حق پیغام سره مونږ ته راغے۔ لیکن د یو قسمتۍ نه مونږ د هغوی یوه هُم وانه وَریدله۔ آیا نن داسے کومه هستی شته چه زمونږ سفارش اوکړی او نن مونږ د عذاب نه خلاص کړی یا بل کوم داسے صورت ممکن دے چه مونږ واپس دُنیا ته اُولیږلے شُو چه مونږ نیک عملونه اوکړو۔ د شُفَعَاء نه دلته د الله هغه نیک بندګان مراد دی کوم چه مُشرکانو متصرف او کارساز او د الله سره سفارش کوُونکی ګڼړل.

۶۲ هغوی خپل عُمرونه په شِرک او ګناهونو کښے خرچ کړل او په نقصان کښے پاتے شول او کوم معبودان چه هغوی سفارشیان او کارساز ګڼړلی وُو په هغوی کښے یو هُم د دوی په کار را نغے۔ د مَا موصوله نه باطل معبودان مراد دی۔ (قَدْ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ) بصرف اعمارهم التی هی رأس مالهم الی الشرک والمعاصی (وَضَلَّ عَنْهُمْ) غاب وفقد (مَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ) ای الذی کانوا یفترونه من الاصنام شرکاء لله سبحانه وشفعاءهم یوم القیٰمة والمراد انه ظهر بطلانه ولم یفدهم شیئا (روح ص۱۳۵ ج ۸)

دریمه دعویٰ

۶۳ دا دریمه دعوی ده یعنی کارساز او په غیبو پوهیدونکے صرف الله تعالی دے بل څوک نه دے او هغه خپل هیڅ اختیار چا ته نه دے حواله کړے لهٰذا په غائبانه حاجتونو کښے صرف هغه ته آواز کوئ۔ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ۔ دا د دے خبرے نه کنایه ده چه هغه چا ته هیڅ نه دی حواله کړی۔ د خالقیت صفت بیانولو نه روستو

بے اُو فرمائیل چه د ټولو کائناتو مالک او په د یکښے متصرف هم صرف هغه دے او هغه خپل اختیارات او تصرفات تو کښے څوك نه دے شریك کړے. په قرآن مجید کښے د استوٰی علی العرش ذکرچه چرته هم راغلے دے هغے سره د زمکے او اسمان او د شمسی نظام د تخلیق ذکرهم ضرور کړے شوید ے. او دا چه ټول نظام عالم او د نظام عالم تدبیر کار د الله په خپل اختیار کښے دے. مثلاً (۱) سُورۂ یونس کښے دی. اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ یُدَبِّرُ الْاَمْرَ مَا مِنْ شَفِیْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ. (۲) په سورۂ طٰهٰ ع ۱ کښے دی. تنزیلا ممن خلق الارض والسمٰوٰت العلی الرحمٰن علی الْعَرْشِ استوٰی ۝ له ما فی السمٰوٰت وما فی الارض وما بینهما وما تحت الثرٰی ۝ (۳) په سورۂ سجده کښے دی اَللّٰهُ الذی خلق السمٰوٰت والارض وما بینهما فی ستة ایام ثم استوٰی علی العرش ط ما لکم من دونه من ولی ولا شفیع ط افلا تتذکرون ۝ یدبر الامر من السماء الی الارض ثم یعرج الیه فی یوم کان مقداره الف سنة مما تعدون ذلك علم الغیب والشهادة العزیز الرحیم ۝ د دے ټولو مقاماتو نه هم دا معلومیږی چه د استوٰی علی العرش نه مراد هم دا دے چه د بادشاهئ په تخت باندے صرف دے متمکن دے او د ټولے دُنیا نظام د دهٔ په تدبیر سره چلیږی هم دے مختار او متصرف دے او هغه خپل هیڅ اختیار چا ته نه دے حواله کړے د عربو په محاوره کښے لفظ د عرش د سلطنت، عظمت او د غلبے په معنی کښے استعمالیږی ویکنی به عن العز والسلطان والملك فیقال ثل عرشه ای ذهب عزه وملکه (روح ص۱۳۳ ج ۸، قرطبی ص۲۲۰ ج ۷) د غه شان علامه قرطبی لیکی وقد یؤول العرش فی الأیة بمعنی الملك ای ما استوٰی الملك الا له عز وجل (قرطبی ص۲۲۱ ج ۷)

۶۲ دا د ریواره په السمٰوٰت باندے معطوف دی او مُسَخَّرٰتٍ د دوی نه حال دے اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ دا د ماقبل تکمیل او تذییل دے یعنی د ټول عالم خالق هم هغه دے او مدبر او متصرف هم هغه دے. کالتذییل للکلام السابق ای انه تعالٰی هو الذی خلق الاشیاء... وهو الذی دبرها وصرفها علی حسب ارادته الخ (روح ص۱۳۵ ج ۸)

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْیَةً ط اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ ۝۵۵

رابلئ خپل رب ﷻ په زارئ او په پټه پټه هغه نه خوښوی د حد نه وتونکی دی

وَلَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا

او خرابی مه کوئ په زمکه کښے د هغے د اصلاح نه روستو او رابلئ هغه په ویره

وَّطَمَعًا ؕ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۵۶﴾ وَ

او امید سره لره بیشکه د الله رحمت نزدے دے نیک کار کوونکو ته ف۲ او

هُوَ الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ بُشْرًاۢ بَیْنَ یَدَیْ رَحْمَتِهٖ ؕ

هُم هغه دے چه چلوی هواګانے ف۳ زیرے راوړونکی د باران نه مخکښے ف۴

حَتّٰۤی اِذَاۤ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّیِّتٍ

تر دے چه کله هغه هواګانے راوچتوی ورځے درنے وړيځے نو شړو مونږ هغه وړيځے یو مړ ښار طرف ته

فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ

بیا مونږ نازلوو د دغه وریځو نه اوبه بیا هغے سره راوباسو هر قسم میوے۔

كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَالْبَلَدُ

دا شان به مونږ راوباسو مړو لره ف۵ ف۶ دے دپاره چه تاسو غور او کړئ او کوم ښار چه

الطَّیِّبُ یَخْرُجُ نَبَاتُهٗ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۚ وَالَّذِیْ خَبُثَ لَا یَخْرُجُ

پاک دے ف۷ د هغے نه راوځی شینکی د هغے د رب په حکم سره او کوم چه خراب دے د هغے نه نه راوځی

اِلَّا نَكِدًا ؕ كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّشْكُرُوْنَ ﴿۵۸﴾ ع ۵ / ۱۴

مګر ناقص دا شان بیا بیا بیانوو مونږ آیتونه حق منونکو خلقو دپاره ف۸ ف۹

نکات: سا غیر الله ته آواز کوونکی ۱۲ سا ای لاتفسدوا بالشرك بعد التوحید ۱۲ سا جمله معترضه ۱۲ سا ښه زمکه ۱۲ سا ناقصه زمکه ۱۲

موضح قرآن

ف۱ په دعا کښے بهتره دا ده چه په پټه باندے اوغوښتلے شی دے دپاره چه د ځان ښودنه پکښے نه وی۔ او د زړه نه په زارئ سره اوځی او د حد نه اونه وځی یعنی د خپلے ځله نه لویه خبره اونه غواړی۔

ف۲ د اصلاح نه پس په زمکه کښے خرابی مه کوئ یعنی په اسلام کښے د کفر رسمونه مه داخلوئ او الله ته آواز کوئ په ویره او امید سره یعنی په الله پاك باندے مه زړور کیږئ او مه نا امیده کیږئ۔

ف۳ دا یے خپل قدرت بیان کړو. هواګانے چلیدل او باران وریدل او شینکی راټوکیدل په دے طریقے د مړو راوتلو باندے پوهه کړل. یو د مړو راوتل په قیامت کښے دی او یو په دنیا کښے یعنی په جاهل او ادنیٰ خلقو کښے پیغمبر اولیږلو او علم یے ورکړو او سرداران

سره کړل پیا بنه استعداد لرونکی کمال ته اورسیدل او دچا استعداد چه خراب وو هغوی ته هم کمزوری شان فائده اورسیدله.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په سبب د بعثت د رسول الله صلی الله علیه وسلم ۱۲ ف۲ مخکښې د باران نه ۱۲ ف۳ یعنی د قبرونو نه به بیا راؤباسو ۱۲ ف۴ دا مثال دے چه قلب سلیم بانده د اثر کولو او د اثر نه کولو په غیر سلیم بانده دے ۱۲

تفسیر: ۶۵ چونکه صرف الله تعالیٰ د ټولو کائناتو خالق او مالك دے او صرف هغه متصرف او مختار دے. لهٰذا په غائبانه حاجتونو کښې هغه ته اواز کوئ. المعتدین غیرالله ته اواز کونکی. وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ ای بالشرك بعد التوحید (مدارك ص۴۳ ج ۲)

۶۶ د الله د عذاب نه ویره او د هغه د رحمت امید په زړه کښې اوساتئ صرف هغه ته اواز کوئ او د هغه په رابللو کښې هیڅوك مه شریکوئ.

۶۷ دا په الذی خلق السمٰوٰت بانده معطوف دے او په دې کښې د الله تعالیٰ د خاصو صفتونو ذکر شوې دے. هغه د باران رحمت نه مخکښې هَوا رالیږی چه داوبو نه دکې ورېځې بنجر زمکو طرفته بوځی باران سره په مړه زمکه کښې الله تعالیٰ روح واچوی او هغه هر قسمه میوې دانې پیدا کوی.

۶۸ جمله معترضه ده یعنی څنګه چه مونږ بنجر زمکې په باران سره ژوندۍ کړو او د زرغونې قابله یې اوګرځوو. دا شان به مونږ مړی د قبرونو نه ژوندی راوباسو.

۶۹ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ ښه زمکه اَلَّذِيْ خَبُثَ ناقصه او بنوره زمکه. نَكِدًا بیکاره. دا د مؤمنانو او د کافرانو د صلاحیتونو او د هغوی د عملونو مثال دے. بلد طیب یعنی ښه زمکه د مؤمن د زړه نه عبارت دے چه په هغې کښې د الله د ایتونو سره ژوند پیدا کیږی چه د هغې نتیجه د نیکو عملونو په صورت کښې ظاهریږی. او الَّذِيْ خَبُثَ یعنی ناقصه زمکه د معاند کافر زړه دے چه په هغه بانده د الله د ایتونو د باران هیڅ اثر نه کیږی. او د هغه د اندامونو نه کفر، شرك، نافرمانی او سرکشی ظاهریږی. قال ابن عباس رضی الله عنهما هذا مثل ضربه الله تعالیٰ للمؤمن یقول هو طیب وعمله طیب کما ان البلد الطیب ثمره طیب ثم ضرب مثل الکافر کالبلدة السبخة المالحة التی خرجت منها البرکة فالکافر خبیث وعمله خبیث (خازن ص۲ ج ۲) تر دې ځائ پورې د دریواړه دعوو ذکر شوې. اوس د دې نه روستو د تیرو شوو نبیانو علیهم السلام شپږ قصې ذکر کیږی چه د دې دریو دعوو سره به متعلق وی. رومبئ درې قصې د دریمې دعوې سره تعلق لری. قصه د دویمې سره. پنځمه قصه د دویمې او دریمې سره او شپږمه قصه د اولې دعوې سره متعلق ده.

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا
بیشکه اولیږلو مونږ نوح ته دهغه قوم ته
نو هغه اوویل اے زما قومه! بندګی کوئ
اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنِّيْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ
د الله هیڅوک معبود ستاسو نشته بیوا دهغه نه
زه ویریږم په تاسو باندې
عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۵۹﴾ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖۤ اِنَّا
د یوې لوئې ورځې دعذاب نه هله اوویل سردارانو
دهغه د قوم اے مونږ
لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۶۰﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ
وینو تا لره په ښکاره ګمراهئ کښې
وے وویل اے زما قومه! زه هرګز ګمراه نه یم
وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۱﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ
لیکن زه لیږلے شوے یم دجهان پالونکی خدائ نه
رسوم تاسو ته پیغام د
رَبِّيْ وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۲﴾
خپل خدائ او نصیحت کوم تاسو ته او زه پوهیږم دالله د طرفنه په هغه خبرو چه تاسو پرې نه
اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ
پوهیږئ آیا تاسو تعجب کوئ چه راغلے تاسو ته نصیحت ستاسو د رب د طرفنه د یو سړی په
مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۶۳﴾ فَكَذَّبُوْهُ
ژبه چه هم ستاسو نه دے. د دے د پاره چه هغه تاسو اوویروی او د دے د پاره چه تاسو بچ شئ او د دے د پاره چه تاسو
فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ
باندے رحم اوشی. بیا هغوی هغه دروغژن اوګڼلو بیا مونږ بچ کړو هغه او کوم چه هغه سره وو په کشتئ کښے او غرق مو کړل هغه
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِيْنَ ﴿۶۴﴾
چا چه دروغ ګڼل زمونږ آیتونه بیشکه هغه خلق ړانده وو.

نکات: ۱ د دریو قصو نه اوله قصه د دریمې دعوې سره متعلق ده په طور د لف نشر غیر مرتب ۱۲ ۲ د دے نه معلومه شوه چه مشرک تش د (سختئ) کوی نه موحد۔

۳ دا ماضي استمراري ده یعني هغوی همیشه تکذیب کولو ۱۲

فتح الرحمٰن: ف۱ یعني د قیامت ورځ ۱۲

تفسیر | ۶۴ دا اولنۍ قصه د نوح علیه السلام ده چه د دریمې دعوې سره متعلق ده ځکه چه نوح علیه السلام د ټولو نه رومبې اعلان دا وکړ: اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ. صرف د الله عبادت کوئ او په حاجتونو کښې صرف هغه ته اواز کوئ د هغه نه سوا ستاسو هیڅوک مددګار نشته.

۶۵ د نوح علیه السلام د قوم مشرانو چه کله دا خبره واوریده نو وې ویل اے نوحه! مونږ تا په ښکاره ګمراهۍ کښې ګنړو. ځکه چه ته مونږ ته صرف د یو خدای د منلو دعوت راکوې کوم چه زمونږ د پلار نیکه د دین نه ښکاره خلاف دے. ای انا لنرٰك فی دعائنا الی الٰه واحد فی ضلال مبین (قرطبی ص۲۳۲ ج ۷)

۶۶ قوم چونکه د نوح علیه السلام طرفته د ګمراهۍ نسبت کولو کښې مبالغه کړې وه د دے وجې نه هغوی هم په بلیغ انداز کښې د خپل ذات نه د ګمراهۍ نفی وکړه. لَیْسَ بِیْ ضَلٰلَةٌ. ضَلٰلَةٌ کښې تنوین تنکیر د پاره دے. او بیا د نفی د لاندے داخل دے یعني په ښکاره ګمراهۍ کښې کیدل خو پریوه طرفته په ما کښې خو د ګمراهۍ ادنٰی شائبه هم نشته. او دا څنګه کیدے شي چه زه خو د خدائ رسول یم او څما فریضه دا ده چه د الله پیغامات تاسو ته اورسوم او هر قسم ستاسو خیرخواه یم او دا هم یاد ساتئ چه د الله د طرفنه کوم علوم او معارف زه پیژنم تاسو ته ئې هیڅ علم نشته د دے وجې نه څما طرفته د ګمراهۍ نسبت کول د عقل او نقل خلاف دي.

۶۷ دا د مشرکانو د غلطۍ د اصل منشاء رد عمل دے. یعني تاسو صرف په دے خبره باندې حیران یئ. چه ستاسو د هدایت د پاره ستاسو د جنس نه یو بشر باندې د الله د طرفنه وحي راغله فَكَذَّبُوْهُ الخ ماضي استمرار د پاره ده یعني هغوی همیشه د هغه تکذیب کولو او مسلسل شرک به یې کولو. ای استمروا علی تکذیبه واصروا بعد ان قال لهم ما قال ودعاهم الی الله تعالٰی لیلًا ونهارًا (روح ص۱۵۳ ج ۸)

۶۸ دا دویمه قصه ده او د دریمې دعوې سره متعلق ده. د نوح علیه السلام پشان هود علیه السلام هم اعلان کړے وو. یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ الخ اے څما قومه! صرف د الله عبادت کوئ او صرف هغه رابلئ د هغه نه سوا ستاسو هیڅوک معبود او کارساز نشته.

وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۚ قَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او قوم عاد طرفته مو اولیږلو د هغوی رور هود ف۱ وې ویل اے څما قومه! بندګي او کړئ د الله

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَالَ الْمَلَاُ

نشته ستاسو معبود د هغه نه سیوا نو ایا تاسو نه ویریږئ. او وئیل سردارانو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖٓ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ سَفَاهَةٍ

قوم چې کافران وو د هغه په قوم کښې مونږ خو وینو تا لره سپک عقله تشه

وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦٦﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ

او مونږ ته تا د دروغژنو ګمان کوو وے وئیل اے زما قومه! زۂ هیڅ

بِيْ سَفَاهَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٧﴾

بے عقله نه یم ځکه لیکن زۂ رالیږلے شوے یم د پرورد ګارِ عالم د طرفه

اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ﴿٦٨﴾

رسوم زۂ تاسو ته پیغام د خپل رب او زۂ ستاسو خیرخواه یم د اطمینان لائق

اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَاۗءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰي رَجُلٍ

ایا تاسو تعجب کوئ چه راغے تاسو ته نصیحت ستاسو د رب د طرفه د یو سړي په ذریعه

مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ۭ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاۗءَ مِنْۢ

چه ستاسو نه دے د دے د پاره چه تاسو او ویروي. او یاد کړئ چه کله یې تاسو سرداران کړئ روستو د هغه

بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ فَاذْكُرُوْٓا

د قوم نوح نه او زیات یې کړل ستاسو بدن خوروالے نو یاد کړئ

اٰلَاۗءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ

د الله احسان د دے د پاره چه تاسو کامیاب شئ وے وئیل ایا ته مونږ ته د دې د پاره راغلے چه مونږ

اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَاۗؤُنَا ۚ فَاْتِنَا

الله یوازې عبادت وکړو او پرېږدو هغه د کوم عبادت چه کولو زمونږ پلارانو نیکونو نو ته راوله مونږ ته

بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ قَدْ

هغه د کوم عذاب چه ته مونږ ویروې که چرې ته یې د رښتونو نه وے وئیل په تاسو واقع

وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ ۭ اَتُجَادِلُوْنَنِيْ

شو پیا سے 🟉 ستاسو در ب د طرفنه عذاب او غصه ولے جګړه کوئ ما سره

فِيْٓ اَسْمَاۗءٍ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَاۗؤُكُمْ مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ

په هغه نومونو باندے چه ایښی دی تاسو ۲ او ستاسو پلارانو نیکونو نه دے نازل کړے الله

بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ۭ فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّىْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۝۷۱

په دوی باندے ځه سند نو انتظار کوئ زۀ هم تاسو سره انتظار کوونکے یم

فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ

بیا موبږ بچ کړو هغه او هغوئ چه هغه سره وو په خپل رحمت سره او بېخ پرېکړو موږ د

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَمَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝۷۲ ع ٩ ١٧

هغوی چا چه دروغژن ګڼل زمونږ ایتونه او نه وو مؤمنان

نکات: ۱ دویمه قصه د دریمے دعوے سره متعلق ۱۲ ۲ یه هر پیغمبر باندے جدا جدا طعن اوشو دے دپاره چه معلومه شی چه ډیر قسم طعن اوشو ۱۲ ۳ یعنی قوة

فتح الرحمن: ۱ یعنی عذاب راوله ۱۲ ف ۲ یعنی بے بنیاده دی ۱۲

تفسیر

۷ هود علیه السلام ته قوم د بے عقلئ طعنه ورکړه د دے وجے نه چه هغوی د پلار نیکه دین پرېښودۀ. ای متمکنا فی خفة عقل وراسخا فیها حیث فارقت دین اٰبائك (روح ص ۱۵۰ ج ۸)

۸ په سفاهة کښے تنوین او د دے د نفی د لاندے واقع کیدل د مبالغے فائده ورکوی د لته اَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ پورے هود علیه السلام د قوم د الزام دپیر بلیغ طریقے سره تردید اوکړو یعنی اے زما قومه! زۀ خود ډیرے کمے بے عقلئ نه هم پاك یم ځکه چه زۀ د الله رسول یم او تاسو ته د هغه پیغامات رسوم او د ځکنئ نه ستاسو خیرخواه یم او امین مشهور یم یا مطلب دا دے چه زۀ تاسو ته د الله توحید بیانوم او د شرك نه تاسو منع کوم ستاسو خیرخواهی لټوم او د الله د وحی او د هغې په تبلیغ باندے امین یم. والمعنی انی عرفت فیکم بالنصح فلا یحق لکم ان تتهمونی وبالامانة فیما اقول فلا ینبغی ان اکذب (بحر ص ۳۲۳ ج ۴) (ناصح) فیما امرکم به من عبادة الله عزوجل وترك عبادة ماسواه (امین) یعنی علی تبلیغ الرسالة واداء النصح (خازن ص ۲۱۰ ج ۲)

۹ په دے کښے هود علیه السلام خپل قوم ته د الله د انعامونو یاد ګیرنه اوکړه چه قوم د یاد نوح

٧٨ قوم په جواب کښے اووئیل چه ته مونږ ته دے د پاره راغلے یے چه مونږ صرف د یو الله عبادت اوکړو او صرف هُم هغه ته اُدانا اوکړو او چه کوم معبودان زمونږ پلارانو نیکونو راپللے هغه مونږ پریږدو. نو واورئ چه داسے به هرګز نه کیږی - باقی چه ته د کوم عذاب نه مونږ ویروے. که چرے ستاسو په بیان کښے څه صداقت وی نو هغه عذاب راولئ -

٧٩ هُود علیه السّلام اُوفرمائیل چه د الله غضب او عذاب په تاسو مقدر شوے هغه به په خپل وخت باندے راځی - لیکن ستاسو کم عقلئ انتهاء ده چه تاسو خپلو ساخته او داسے دروغژنو معبودانو په باره کښے جګړه کوئ چه د هغے معبود کیدو باندے الله تعالے هیڅ یو دلیل نه دے نازل کړے -

٨٠ آخر په مقرره نیټه باندے د الله عذاب راغے او د ټول قوم نوم نشان ختم شو. هُود علیه السلام او په هغه باندے ایمان راؤړونکو نه سوا هیڅوک د عذاب نه بچ نه شول -

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ

او ثمود یانو طرف ته مونږ لیږلے وو د هغوی رور صالح ئه وے وئیل اے زما قومه عبادت کوئ د الله

مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن

هیڅوک نشته ستاسو معبود د هغه نه سوا تاسو ته رسیدلے دے دلیل ستاسو رب د

رَّبِّكُمْ ۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ اللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ

طرف نه دا اُوښه د الله ده ستاسو د پاره نښه نو دا پریږدئ چه خوری د

فِىٓ أَرْضِ اللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ

الله په زمکه کښے او دے ته لاس مه وروړئ په بده طریقه بیا به تاسو اُونیسی

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ وَاذْكُرُوٓا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ

عذاب دردناک او یاد کړئ چه کله یے تاسو سرداران کړئ د

بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِى الْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن

عادیانو نه روستو او ځائے یے درکړو تاسو ته په زمکه کښے چه جوړوئ په

سُهُولِهَا قُصُورًا وَّتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتًا ۚ فَاذْكُرُوا
نرمه زمکه کښے ماڼۍ او تراشئ غرونه د کورونو دپاره نو یاد کړئ
آلَاءَ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ
احسان د الله او مه ګرځئ فساد خوروونکي په زمکه کښے. او وئیل
الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لِلَّذِينَ
سردارانو هغه خلقو لره چه متکبران وو د هغه په قوم کښے غریبانو
اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا
ته چا چه په هغوی کښے ایمان راوړے وو آیا ستاسو یقین دے چه صالح
مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِ ۚ قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾
لیږلے شوے د هغه رب. وے وئیل چه مونږ ته خو هغه څه چه راوړی دی په هغے یقین لرو.
قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا بِالَّذِي آمَنتُم بِهِ
او وئیل هغه خلقو کوم چه تکبر کوونکی وو هغه په کوم چه ستاسو یقین دے مونږ
كَافِرُونَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ
هغه نه منو بیا هغوی ذبح کړه اوښه او اوګرځیدل د خپل رب د حکم نه.
وَقَالُوا يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ
او وے وئیل اے صالحه راوله په مونږ باندے هغه چه د کوم نه تا مونږ ویرولو که چرے ته
الْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي
رسول یے نو ونیول هغوی لره زلزلے بیا پاتے شول په خپل
دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ
کور کښے پړمخے پریوتلی بیا واپس اوګرځیده د هغوی نه هغه او وے وئیل اے زما قومه ما
أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا
اورسولو تاسو ته پیغام د خپل رب او خیرخواهي م اوکړه ستاسو لیکن تاسو نه

تُحِبُّونَ النّٰصِحِينَ ﴿۷۹﴾ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ

تو بېنوئ خيرخواه — او ذکر لېږلو لوط چه کله يي او وئيل خپل قوم ته دا

الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِينَ ﴿۸۰﴾

آيا تاسو کوئ داسې بې حيائي چه تاسو نه مخکښې نه ده کړې هيچا — په جهان کښې

إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ ۚ

تاسو خو په منډه راځئ شئ سړو ته په شهوت سره — او ښځې پرېږدئ

بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿۸۱﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا

بلکه تاسو خلق يئ د حد نه تېرېدونکي — او هيڅ جواب ورنکړو دهغه قوم ليکن

أَن قَالُوا أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ

دا چې او وئيل چه وباسئ دوی — د خپل ښار نه — دا خلق — ډېر

يَتَطَهَّرُونَ ﴿۸۲﴾ فَأَنجَيْنٰهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ ۖ كَانَتْ

پاک اوسيدل غواړي — بيا مونږ خلاصې ورکړو هغه ته او دهغه کوروالو ته ليکن دهغه

مِنَ الْغٰبِرِينَ ﴿۸۳﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَانظُرْ

ښځه چه پاتې شوه دهغه ځائ اوسيدونکو کښې. او اوورولو مونږ په هغوی باران يعنې دکانړو - بيا اوګوره

ع ۱۰
۱۷ کَيْفَ كَانَ عٰقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿۸۴﴾

څنګه انجام شو د ګنهګارانو

نکات: سك دا دريمه قصه ده متعلق ده د دريمې دعوې سره ۱۲ سك ترجمه زکه ۱۲ سك مبدل منه ۱۲ سك بدل ۱۲ سك دلته نه معلومه شوه چه حرف نداء او دخطاب ضمير هميشه د يو حاضر او د موجود د بللو د پاره او هغه ته دخبرې اورولو د پاره نه دی ۱۲ سك غلورمه قصه د دويمې دعوې سره متعلق ده يعنې د الله د تحرماتو سره به يې دحرامو معامله نه کوله ۱۲ سك تاج د ترقئ د پاره دے. په مجلسونو کښې به يې هم دا کار کولو. تائيد تَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ ۱۲

تفسير سه دا دريمه قصه ده او دا هم د دريمې دعوې سره متعلق ده. څنګه د صالح عليه السلام دا اعلان نه ظاهره ده. يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُم

مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ . اې زما قومه! صرف د الله عبادت کوئ او صرف هغه ته اواز کوئ دهغه نه سِوا ستاسو څوک معبود او کارساز نشته. دے نه پس يے د اُوښے والا معجزه ذکر کړه چه دا اُوښه د الله د طرفنه يوه معجزه دے ته تکليف مه ورکوئ کني د الله تعالیٰ عذاب به راشي بيا به هغوی ته د الله د انعامانو ياد کيرنه اوکړه - سُهُوْلِهَا . سهول د سهل جمع ده يعني هواره زمکه .

۸۲ لِمَنْ اٰمَنَ دا د لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا نه په اعاده د حرفِ جار بدل دے. د صالح عليه السلام د قوم مشرانو او مغرورو خلقو ايمان والو ته کوم چه په ظاهر کښے د دولت او قوت په اعتبار سره کمزوري وُو - د نوقوا و استهزاء په طور يے اوويل آيا تاسو صالح د الله نبي منئ ؟ دد ے په جواب کښے هغوی په پوره جرأت سره اوويل چه يقيناً مونږ صالح عليه السلام د الله نبي منو. او هغوی چه د توحيد کومه مسئله ځان سره راوړيده مونږ په هغے باندے هم ايمان دے. بِمَا اُرْسِلَ کښے د مَا نه د توحيد مسئله مراد ده.

۸۳ د قوم هغه سردارانو اوويل چه مونږ خو هغه او د هغه د تعليم منلو د پاره تيار نه يُو. فَعَقَرُوا النَّاقَةَ نو هغوی د الله د حکم نه سرکشي اوکړه او اُوښه يے قتل کړه او د سرکشئ او عناد په طور يے صالح عليه السلام ته اوويل که چرے ته په رښتيا د الله نبي يے نو ته چه د کوم عذاب نه مونږ ويروے اُوس هغه راوله ؟

۸۴ الرَّجْفَةُ يعني سخته زلزله - دا سے زلزله راغله چه هغوی ته د خپلو کورونو نه د وتلو موقع هم ملاؤ نه شوه - او هغوی چه چرته وُو هم هلته ډير شو.

۸۵ چه کله قوم هلاک شو نو صالح عليه السلام ډير په حسرت او افسوس سره خپل قوم ته دا سے فرمائيلو سره د هلته نه روان شو چه اے زما قومه! ما د خپل پروردګار پيغام تاسو ته اُورسولو او ستاسو د خير خواهئ حق م آدا کړو. ليکن افسوس دے چه تاسو خير خواهي نه خوښوله. دلته حرفِ نداء او د خطاب ضمائر صرف د قوم په بد قسمتئ باندے د افسوس او د حسرت اظهار د پاره دي. فتولّٰی عنهم بعدان جریٰ عليهم ماجرٰی علٰی ماهو الظاهر مغتما متحسرا علٰی ما فاتهم من الايمان متحزنا عليهم (روح ص١٦٥ ج ٨) د دے نه معلومه شوه چه حرف نداء او د خطاب ضمائر هميشه د پاره د حاضر مخاطب کرځولو د پاره نه وی او نه آورول مقصود نه وی. د دے وجے په التحيات کښے اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ سره د نبي عليه السلام په حاضر ناظر کيدو باندے استدلال صحيح نه دے. ځکه چه هغه محض دُعا ده. هغه ته خبر کول او نه آورول مقصود نه دی ١٢.

۸۶ دا خلورمه قصه ده او د دويمے دعوے سره متعلق ده ځکه چه د لوط عليه السلام قوم د الله د محرماتو سره د حرامو ښان معامله کوله. اَلْفَاحِشَةَ نه د هلته لواطت د خلافِ فطرت فعل کول مراد دے. د دے فعل ابتداء د لوط عليه السلام په قوم اُوشوه - د دوی نه مخکښے هيڅ يو قوم دا فعل نه وُو کړے.

۷۷ دا د اَلۡفَاحِشَةَ تفسیر دے۔ بَلۡ اَنۡتُمۡ قَوۡمٌ مُّسۡرِفُوۡنَ۔ بَلۡ د ترقی
دپاره دے یعنی په عامو مجلسونو کښے به یے هم دغه خراب فعل، جرم کولو او شرم
به یے نه کولو۔ څنګه یے چه بل ځائ کښے اُوفرمائیل۔ وَتَاۡتُوۡنَ فِیۡ نَادِیۡكُمُ الۡمُنۡكَرَ
(عنکبوت ع ۳) وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهٖۤ الخ د لوط علیه السّلام د پند او نصیحت په جواب
کښے قوم فیصله اُوکړه چه دے د کلی نه اُوباسئ دے ډیر پاکیزه جوړیږی ل غواړی ۱۲
۷۸ الله پاک دے بد کرداره قوم باندے د اسمان نه کاڼری راووریول او تباه یے
کړل۔ لوط علیه السلام او چاچه په هغهٔ باندے ایمان راوړے وو صرف هغه بچ شو
د لوط علیه السلام ښځه چونکه په پټه مُشرکه وه په دے وجه هغه هم په عذاب کښے هلاکه
شوه۔ فَاَمۡطَرۡنَا عَلَیۡهِمۡ مَّطَرًا۔ د باران نه مراد د کاڼرو باران دے۔ اول دغوی کلی
اُلټه کړے شو بیا پرے د پاسه د کاڼرو باران اُوشو څنګه چه په سورهٔ هود ع ۷ کښے یے
اُوفرمائیل فَلَمَّا جَآءَ اَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَالِیَهَا سَافِلَهَا وَ اَمۡطَرۡنَا عَلَیۡهِمۡ حِجَارَةً
مِّنۡ سِجِّیۡلٍ مَّنۡضُوۡدٍ ط ۱۲

وَاِلٰی مَدۡیَنَ اَخَاهُمۡ شُعَیۡبًا ؕ قَالَ یٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا

او مدین طرفته مونږ اُولیږلو دغوی رور شعیب لره وے وئیل اے زما قومه! بندګی کوئ

اللّٰهَ مَا لَكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرُهٗ ؕ قَدۡ جَآءَتۡكُمۡ بَیِّنَةٌ

د الله هیڅوک نشته ستاسو معبود دهغهٔ نه سوا تاسو ته راغلی دی دلیل ستاسو د

مِّنۡ رَّبِّكُمۡ فَاَوۡفُوا الۡكَیۡلَ وَ الۡمِیۡزَانَ وَلَا تَبۡخَسُوا

رب د طرفنه نو پوره کړئ پیمانه او تول او مهٔ کموئ

النَّاسَ اَشۡیَآءَهُمۡ وَ لَا تُفۡسِدُوۡا فِی الۡاَرۡضِ بَعۡدَ

د خلقو څیزونه او خرابی مهٔ کوئ په زمکه کښے دهغے د

اِصۡلَاحِهَا ؕ ذٰلِكُمۡ خَیۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ (۸۵)

اصلاح نه روستو دا بهتره ده ستاسو د پاره که چرے تاسو مؤمنان یئ شئ

وَ لَا تَقۡعُدُوۡا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوۡعِدُوۡنَ وَتَصُدُّوۡنَ

او مهٔ کینئ شئ په لارو کښے چه اُویروئ او منع کړئ

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ج

د الله د لاري نه کوم چه ایمان راوړی په هغه باندې او لټوئ په هغه کښې عیب

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ ص وَانْظُرُوْا كَيْفَ

او یاد کړئ کله چه وئ تاسو لږ دیر بیا یې تاسو دیر کړئ او اوګورئ څه

كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَاِنْ كَانَ طَآئِفَةٌ

انجام شو د فساد کونکو او که چرې ستاسو نه یوه ډله

مِّنْكُمْ اٰمَنُوْا بِالَّذِيْٓ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ

ایمان راوړو په هغې باندې چه زه په لاس اُولیږلے شوُ او یوه ډله ایمان

يُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا ج وَهُوَ

رانه وړو نو صبر کوئ ترڅو چه الله فیصله اوکړی زمونږ په مینځ کښې او هغه

خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۷﴾

تولونه بهتر فیصله کونکے دے ۱۸

نکات: سا پنځمه قصه د دویمې او دریمې دعوے سره متعلق ده ۱۲

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی واجب خودا ده چه ټول متفق شوے وے په ایمان باندې او چه کله متفق نه شول نو د فیصلې انتظار کول په وی - ۱۲

تفسیر:

وهو ۱ دا پنځمه قصه ده اود دویمې او دریمې دواړو دعوو سره متعلق ده - يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ کښې دریمه دعوی ذکرشویده - یعنی اے ځما قومه! تاسو صرف د الله عبادت کوئ او صرف هغه ته آواز کوئ - د الله نه سوا هیڅوک ستاسو کارساز نشته او په اَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ الخ کښې دویمه دعوی ذکرشویده - د شعیب علیه السلام د الله دے محرمات تو سره د حرامو معامله نه کوله بلکه د پیمانے او تول په ذریعه به یے د نورو حقونه وهل جائز ګنړل - په دے وجه هغوی ته حکم ورکړے شو چه هغوی دا محرمات حرام اُوګنړی او دے ناجائز و طریقو سره د خلقو حقونه ضائع نه کړی او په زمکه کښې شر او فساد خور نه کړی ۱۲

۹۰ یعني ذکرشوي اُمور په دُنیا او آخرت کښې ستاسو د پاره ډېر بهتر دي په دې شرط چه تاسو ایمان راوړئ او د توحید دعوت اُومنئ المراد بالخیریة مایشمل امر الدنیا والاٰخرة ای ذٰلکم خیر لکم فی الدارین بشرط ان تؤمنوا (روح ص ۱۷۶ ج ۸)

۹۱ د ابن عباس، قتاده، مجاهد او د سُدّي نه نقل شوي دي چه د شعیب علیه السلام د قوم مشرکان به د ښار په ټولو لارو کښې کیناستل او کوم خلق به چه شعیب علیه السلام خدمت کښې حاضریدلو د پاره راتلل هغوی به یې منع کول، شعیب علیه السلام به یې (عیاذاً بالله) کذّاب (لوئ دروغژن) وئیلے. او د هغوی دین کما نه کولو کوشش به یې کولو. او ورسره به یې د قتلولو دهمکیانې هم ورکولے. کانوا یقعدون علی الطرقات المفضیة الی شعیب فیتوعدون من اراد المجئ الیه ویصدونه ویقولون انه کذاب فلا تذهب الیه، کما کانت قریش مکة تفعله مع النبی صلی الله علیه وسلم وهذا ظاهر (قرطبی ص ۲۴۹ ج ۷) ځنګه به چه د مکې قریشو نبي علیه السلام ته حاضریدونکو سره کول. ۱۲

۹۲ دا یې په هغوی باندې د الله تعالیٰ انعام ذکرکړو. د قلت او کثرت نه د تعداد کمې زیاتې مراد دے یا د دولت. مفسرینو دواړه قولونه لیکلي دي. وَانْظُرُوْا کَیْفَ کَانَ الخ د الله تعالیٰ د دې احسان شُکر ادا کړئ او د هغه د عوت قبول کړئ ګنې چه کومو خلقو د الله دعوت رد کړو او په شرک او په نورو بدو عملونو سره یې په زمکه کښې فساد خور کړو د هغوی حشر تاسو لیدلے دے چه الله پاک هغوی ځنګه تباه کړل. دا شان به ستاسو انجام هم وي. ۱۲

۹۳ دا د منکرینو د پاره تخویفِ دُنیوي دے یعني ستاسو نه بعضې خلقو زما دعوت قبول کړیدے او بعضې خلقو هغه رد کړیدے اوس تاسو د الله د فیصلې انتظار کوئ. چه هغه د ایمان والا ځنګه بچ کوي او نه منونکي هلاکوي. فیه وعید وتهدید. یعني حتی یقضی الله ویفصل بیننا ویعز المؤمنین المصدقین وینصرهم ویهلک المکذبین الجاحدین ویعذبهم (خازن ص ۲۱۵ ج ۲)

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ

او وویل سردارانو هغه کوم متکبر وو د دوی په قوم کښې

لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِن

مونږ به ضرور اوباسو تا لره اے شعیب علیه السلام او هغه چا لره چه ایمان ئې راوړے دے تا سره د

قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ۚ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا

خپل ښار نه یا دا چه تاسو واپس راشئ زمونږ دین ته وئے وویل اګرچه مونږ بیزار

كَارِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا

یو نو بیا هم. بیشکه مونږ به تړلے وی په الله باندے دروغ که واپس راشو ستاسو

فِي مِلَّتِكُم بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللَّهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَا أَن

دین ته روستو د هغے نه چه نجات راکړو مونږ ته الله د هغے نه او زمونږ کار نه دے چه مونږ

نَّعُودَ فِيهَا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ

واپس لاړ شو هغے ته لیکن دا چه اوغواړی الله چه رب زمونږ دے راګیر کړی دی زمونږ رب ټول

شَيْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا

څیزونه په خپل علم کښے په الله باندے مونږ بهروسه اوکړه اے زمونږه ربه! فیصله اوکړے زمونږ

وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ ﴿٨٩﴾ وَ

او زمونږ د قوم په مینځ کښے په انصاف سره او ته د ټولو نه بهتر فیصله کوونکے یے. او

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُم

او وویل سردارانو کوم چه کافران وو د هغه په قوم کښے که چرے تابعداری اوکړی

شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴿٩٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ

تاسو د شعیب نو بیشکه تاسو به خراب یئ بیا اونیوله هغوی لره زلزلے

فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٩١﴾ الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا

بیا سحر پاتے شو په خپلو کورونو کښے پړمخے پراته چا چه دروغ اوګڼلو شعیب علیه السلام

كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۛ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا

ګویا چې نه اوسیدلي نه وو هلته. هغه چې دروغ اوګڼلو شعیب هم هغوی

هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۲﴾ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ

شو خراب. بیا واپس اوګرځید ۹۴ د هغه خلقو نه او وې ویل اے زما قومه! ما

اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ

رسولي دي تاسو ته پیغام د خپل رب او خیرخواهي م کړې وه ستاسو. او س به څه

اٰسٰى عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿۹۳﴾

افسوس اوکړم په کافرانو باندې

نکات: ۱ مستثنیٰ منقطع دی یعنی څه چې الله اوغواړي هُم هغه کیږي ۱۲
۲ د حرف نداء او د خطاب ضمیر استعمال، د دې تحقیق په تفسیر کښې موجود دے ۱۲

تفسیر: ۹۴ د دې په جواب کښې د قوم متکبر او مشرك سردارانو شعیب علیه السلام ته دهمکي ورکړه چه یا خو ته خپل د توحید دین پریږده او واپس زمونږ دین ته راشه کنې مونږ تا لره او چا چه په تا ایمان راوړے دے ټول د خپل کلي نه اوباسو. قَدِ افْتَرَيْنَا الخ چه کله مونږ الله تعالیٰ ستاسو د شرکي دین نه بچ اوساتلو او زمونږ یقین اوشو چه د الله نه سوا بل څوك معبود او کارساز نشته. لهٰذا د هغه نه سوا بل څوك د رابللو لائق هُم نشته. د دے باوجود که چرے مونږ ستاسو د دین تابع شو او ستاسو پشان شرك اوکړو، نو دا به په الله باندے ډیر بهتان او دروغ تړل وي. زمونږ نه دا بالکل نه شي کیدے چه مونږ ستاسو په دین باندے راشو. اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ. دا استثناء منقطع ده یعنی الله چه څه اوغواړي هغه کیږي.

۹۵ شعیب علیه السلام د خپل قوم سرکشي او عناد چه اولید نو د هغوی د ایمان نه ناامیده شو. او د قوم تکلیف رسول انتهاء ته اورسیدل. نو اوس یې د الله پاك نه د اخري فیصلے دعا اوغوښتله. قال ابن عباس رض وکان شعیب کثیر الصلاة فلما تمادی قومه في كفرهم وغیظهم وبئس من صلاحهم دعا علیهم فقال ربنا افتح الخ فاستجاب الله دعاءه فاهلکم بالرجفة (قرطبی ص۲۵۱ ج ۷)

۹۶ د شعیب علیه السلام مشرك سردارانو د خپل مذهب والو خلقو نه د حق دین د قبلولو نه د منع کولو د پاره وویل چه که چرے تاسو د شعیب علیه السلام خبره اومنله نو تاسو به په نقصان کښې اوسئ. ځکه چه د هغه د دین قبلولو نه روستو چه تاسو په باپ تول کښې کمی زیاتی سره کوم څه ګټل هغه به نه شي ګټلے. دا شان به د هغه ایت په

بدله کښے ګمراهي واخستله. کوم چه ټول تاوان دے. مشرکانو به شرک هدايت او توحيد
بدلے ګمراهي کنړله. اى مغبونون لاستبدالكم الضلالة بالهدٰى ولفوات ما يحصل لكم
بالبخس والتطفيف (روح ص ج ۹)

۹۷ الرَّجْفَةُ: زلزله (قرطبی) يوه سخته زلزله راغله چه هغے سره ټول هلاک شو
او داسے هلاک شو ګويا هغوى په خپلو کورونو کښے آباد چرته آباد نه وو.

۹۸ چه کله قوم هلاک شو نو دهغه ځاى نه روان شو او دحسرت او دافسوس په
طور يے قوم ته خطاب اوکړو اے زما قومه! ما خو تاسو ته د الله پيغامات اورسول
او ستاسو د خيرخواهئ حق م اداکړو. په دے سره دهغه مقصد هلاک شوو مشرکانو
ته څه آورول نه وو بلکه محض د افسوس اظهار مقصود دو.

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِىْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّآ اَخَذْنَا
او نه دے ليږلے موږ په يو کلي کښے هيڅ يو نبي چه نه وي نيولے موږ

اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ ۹۴
دهغے خلق په سختئ او تکليف کښے دے دپاره چه هغوى عاجزي اوکړي

ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتّٰى عَفَوْا وَّ
بيا بدل کړو موږ په ځاى د بدئ نيکي تر دے چه هغوى ته زيات شو او

قَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ فَاَخَذْنٰهُمْ
وے وئيل چه رسيدلے دے لته زموږ پلارا نو نيکونو ته هم تکليف او خوشحالي هم بيا اونيول موږ

بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۹۵ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى
هغوى لره ناڅاپه او هغوى ناخبره وو او که چرے د کلو اوسيدونکو

اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ
ايمان راوړے وے او پرهيزګاري يے کړے نو موږ به پرانستے وے په هغوى باندے نعمتونه د آسمان

وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا
او زمکے نه ليکن هغوى دروغ اوګڼل نو ونيول موږ هغوى لره د هغوى

يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٦﴾ اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا

عملونو په بدله کښې آیا اوس بې ویرې دی د کلو والا ﷺ ددې نه چه راشي دوی باندې آفت

بَيَاتًا وَّهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿٩٧﴾ اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ

زموږ د شپې چه کله هغوی اُوده وی یا بې ویرې دی د کلو اُوسیدونکی ددې نه چه

يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًى وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٩٨﴾ اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ

راشي په دوی باندې عذاب زموږ د ورځې په اول کښې چه کله لوبې کوی آیا بې ویرې شو د الله د تدبیر

فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٩٩﴾ ع ۱۲

نه دی نو بې ویرې نه وی د الله د تدبیر نه لیکن په خرابئ کښې پریوتونکی.

نکات: ـ د مکې والو طرفته التفات ۱۲ ـ یعنې تکلیف او اسانی د حالاتو بدلیدو سره راشي نه د نبی او د قرآن نه د انکار په وجه ۱۲

موضح قرآن ـ بنده نه په دُنیا کښې د گناه سزا ملاویږی د اُمید کیدې شی چه توبه اُوباسی او چه کله په هغه باندې گناه صحیح راغله نو بیا هُم په هغه باندې نعمت زیات شو. نو دا د هغه په حق کښې د الله د طرفنه مُهلت دې بیا د هلاکت ویره ده لکه چه زهریلې اُوخوړل او تیریې کړل.

فتح الرحمن ـ یعنې د زمانې عادت دې کله سختی وی او کله راحت وی دا په عملونو باندې مؤاخذه نه وه ۱۲ ـ یعنې د هلاکولو د تدبیر نه ۱۲

تفسیر: ۹۹ـ توجه ورکول مکې والو طرفته یعنې زموږ جاری طریقه دا پاتې شوې ده چه موږ په کوم کلي کښې یو پیغمبر لیږلی دې د هغې اُوسیدونکو له موږ په مختلفو طریقو سره ازمائیلې دی. هغوی موږ په جانی او مالی مصیبتونو کښې اخته کړل دې د پاره چه هغوی عاجزی اوکړی او د خپلو گناهونو نه توبه کړی. د الله توحید اُومنی او نیک کارونه اوکړی. ثُمَّ بَدَّلْنَا الخ چه کله په دې طریقه باندې د هغوی په حالت کښې هیڅ تبدیلی رانغله. نو موږ د هغوی تنگ ستی او تکلیف په راحت او فراخئ سره بدل کړل. دې د پاره چه په دې طریقه باندې د هغوی په زړونو کښې د شکر او اطاعت جذبه پیدا شی. لان ورود النعمة فی البدن والمال بعد الشدة والضیق یستدعی الانقیاد للطاعة والاشتغال بالشکر (خازن ص۲۳۸ ج ۲)

ـ عَفَوْا ای کثروا یعنې چه کله د هغوی په مال او اولاد کښې زیاتوالې راغې الله تعالیٰ تکلیف او راحت، تنگ ستی او فراخئ دواړو طریقو سره د هغوی امتحان واخستو لیکن هغوی په هیڅ یوه طریقه د کُفر او شرک نه منع نه شول. اعلم الله تعالیٰ انه اخذهم

بالشدة والرخاء فلم یزدجروا ولم یشکروا (قرطبی ص۲۵۲ ج ۷)
عبرت حاصل نه کړو او نشي هغه د الله
۱۰۱ د دے حالاتو بدلیدو نه هغوی هیڅ
ته دا خبره په ډاګه کړل چه زمونږ په پلار نیکه باندے هم
د طرفه امتحان اوګڼړلو او داوئیل یے شروع کړل
دا شان حالات راتلل کله به تکلیف کله راحت او کله فقیری او کله مالداری. په
مونږ باندے هم داسے حالات راغلي. دا تکلیف او راحت د زمانے د بدلیدلو نه دی. د نیم
پیغمبر نه د انکار یا د هغه د منلو په وجه سره نه دی. فَأَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً. تر دے چه
په هغوی باندے ناسا په زمونږ عذاب راغے په داسے حال کښے چه د هغوی په زړه
اوګمان کښے هم دا نه وه.

۱۰۲ د ایمان راوړلو ترغیب دے. په کومو کلو کښے چه د الله پیغمبران راغلل که چرته
د هغه کلو اوسیدونکو په الله باندے ایمان راوړے او د الله د هدایت مطابق
یے عمل کړے نو الله تعالیٰ به په هغوی باندے د زمکے او اسمانونو د برکتونو
دروازے بیرانسیتلے لیکن هغوی تکذیب اوکړو یعنی پیغمبر یے دروغژن اوګڼړلو. نو
الله تعالیٰ هغوی د دی عملونو په سبب اونیول.

۱۰۳ همزه استفهام انکاری د پاره ده. او د أَهْلُ الْقُرٰى نه مراد مکے والا او
مکے نه ګیرچاپیره کلو کښے اوسیدونکی خلق دی. چاچه د نبی علیه السلام تکذیب اوکړو د
هغوی په نزد دا عام دے. والمراد بالقری مکة وماحولها لانهم کذبوا محمدا صلی الله علیه
وسلم وقیل هو عام فی جمیع القری (قرطبی ص۲۵۳ ج ۷) د عربو مشرکان د مخکینو سرکشو
قومونو د بد انجام نه ښه خبر دی. لیکن د دے باوجود په عناد او سرکشئ باندے
ټینګ ولاړ دی. آیا دوی سره د دے خبرے خطره او ویره نشته چه چرته د شپے
په خوب کښے یا د ورځے کله چه هغوی په لوبو کښے مشغول وی ناسا په د الله عذاب راشی
او دوی هلاک کړی. آیا دوی د الله د عذاب نه بالکل بے فکره دی. کوم خلق چه
دا شان د الله د عذاب نه نه ویریږی او د ایمان او عمل نه غافله شی هغوی به په دنیا
او آخرت کښے نقصان اوچتوی.

أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ أَهْلِهَا

آیا نه ده ظاهره شوے ۱۰۴ په هغه خلقو باندے چه وارثان شو د زمکے د هغه خلقو هلاک کیدو

أَنْ لَوْ نَشَاءُ أَصَبْنٰهُمْ بِذُنُوبِهِمْ وَنَطْبَعُ عَلٰى قُلُوبِهِمْ

نه پس چه که چرے مونږ اوغواړو نو هغوی به اونیسو د هغوی ګناهونو باندے او مونږ مهر لګولے شے د دے زړونو

فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿۱۰۰﴾ تِلْكَ الْقُرٰى نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ

زړونو باندے نو دوی نه اوری دا کلی دی ۱۰۵ چه اورو مونږ تا ته د هغوی څه

أَنۢبَآئِهَاۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُوا۟

او بیشکه دوی ته راغلی وُو ددوی رسولان معجزو سره بیا هرګز اُونه شو
حالات

لِيُؤْمِنُوا۟ بِمَا كَذَّبُوا۟ مِن قَبْلُۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ

چه ایمان راوړی په دے خبره کوم سره چه تکذیب دروغ ګڼلے وه هم داشان مهر لګوی الله پاک په

قُلُوبِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ

زړونو د کافرانو او بیا نه مُونډل موږ ددوی نه لټله اکثر خلق د عهده

عَهْدٍۚ وَإِن وَجَدْنَآ أَكْثَرَهُمْ لَفَٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا

پوره کوونکی او اکثر موږ بیا مُونډل نافرمانه بیا موږ اُولیږه د

مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ

دوی نه روستو ئے مُوسیٰ خپلو معجزو ورکولو سره فرعون ته او د هغه سردارانو ته

فَظَلَمُوا۟ بِهَاۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٠٣﴾

نو کفر اوکړو هغوی ئے نه دده په مقابله کښے نو اُوګوره څه انجام شو د فساد کوونکو

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرْعَوْنُ إِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾

او اووئیل مُوسیٰ اے فرعون! زهٔ رسول یم د پروردګار عالم

حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّۚ قَدْ

قائم یم په دے خبره باندے چه اُونه وایم له الله د طرفه مګر کوم چه رښتیا دی. راوړے

جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِىَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾

می تاسو ته معجزه ستاسو د رب د طرفه نو اُولیږه ما سره بنی اسرائیل۔

قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِـَٔايَةٍ فَأْتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ

وے وئیل که چیرے ته راوړے دی څه نخښه نو راوړه هغه که چیرے ته

ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾

رښتونے یے نو اُوغورزوله هغه خپله همسا نو هغه وخت شوه اژدها ښکاره

وَنَزَعَ يَدَهٗ فَإِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٠٨﴾

او دے ویستلو خپل لاس نو هغه وخت هغه سپین په نظر راتلے کتونکو ته.

نکات ١ یا د هدایت معنیٰ مراد ده یا د ظهور یعنی آیا د تیرو شوو اُمتونو هلاکت دا نه ظاهروی چه مونږ به دوی هم هلاک کړو ١٢ ٢ دا د ټولو قصو سره متعلق دے داشان دلته نه دا هم معلومه شوه چه اسم اشاره د پاره محسوس مبصر کیدل ضروری نه دی ١٢ ٣ باء سببیه ده ١٢ ٤ کاف تعلیلیه دے ١٢ ٥ شپږمه قصه د اولے دعوٰی سره متعلق ده ١٢ ٦ د اتو واقعاتو نه ړومبۍ واقعه ١٢ ٧ یعنی زهٔ په دے خبره باندے مضبوط یم ١٢ ٨ نبوت د پاره گواه ١٢ ٩ یعنی ړومبے گواه د مار والا آفت دے دا شو اُوکوری دویم نُورِ باطنی دے دا هم اُوکوری ١٢

تفسیر: ٤٤ هدایت نه د دے متعارف معنیٰ مراد ده یا په معنیٰ د ظهور سره یعنی آیا د تیرو شوو اُمتونو هلاکت او د هغوی تباهی د دوی د هدایت سبب جوړ نه شو. یا په دے سره په دوی باندے دا حقیقت واضح نه شو چه د کفر او عناد د وجے نه دوی هم په عذاب سره هلاک کولے شی.

٤٥ په الْقُرٰی سره ټولو ذکر شوو کلو طرفته اشاره ده چه د کومو نبیانو علیهم السلام او د قومونو واقعات تیر شویدی. د دے نه دا خبره هم معلومه شوه چه د اسمِ اشاره محسوس مبصر کیدو د پاره استعمالیدل ضروری نه دی. بلکه د معهود فی الذهن طرفته هم اشاره کیدے شی. لهٰذا د مَا تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ نه د مبتدعینو د نبی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په قبر کښے په حاضر کیدو باندے استدلال غلط دے. په بِمَا كَذَّبُوْا کښے باء سببیه ده. او په كَذٰلِكَ کښے کاف په معنیٰ د لام دے. یعنی چه کله د الله پیغمبر هغوی ته راغے نو هغوی د دهٔ تکذیب اوکړو. په دے وجه چه کله هغوی معجزے پیش کړے نو بیا هم هغوی ایمان رانهٔ وړهٔ او په کفر باندے ټینګ ولاړ وُو. د دے وجے نه د دوی د عناد او انکار د وجے نه د دوی په زړونو باندے مُهرِ جباریت اُولګولے شو او د هغوی نه د ایمان توفیق سلب کړے شو.

٤٦ حضرت حسن فرمائی چه د عهد نه د توحید عهد مراد دے چه د تیرو شوو اُمتونو نه د نبیانو علیهم السلام په ذریعه واخستلے شو. العهد الذی عهد الیهم مع الانبیاء علیهم السلام ان یعبدوه ولا یشرکوا به شیئاً (قرطبی ص ٢٥٥ ج ٧) یعنی په هغوی کښے اکثرو وعدے خلاف کړے شو او هغوی توحید پریښوده او شرک یے اختیار کړو.

٤٧ دا شپږمه واقعه ده او د ړومبۍ دعوے سره متعلق ده. او د دے ځائی د لفظ تر رکوع ٢٠ په آخر کښے فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ پورے خاتمه ده. د دیکښے د موسیٰ علیه السلام د ژوند مختلف اته واقعات ذکر کړے شویدی د هغے نه هره واقعه د موسیٰ علیه السلام د عزیمت او استقلال ژوندے تصویر ده.

دهغه د ذکر نه مقصود د نبي علیه السلام تشجیع (بهادري) ده یعنې د موسی علیه السلام
بشان تاسو هم جرأت او بهادرۍ سره د توحید د مسئلې تبلیغ اوکړئ او د دے په وجه
دراتلونکو مصیبتونو او مشکلاتو مقابله په استقلال سره اوکړئ. اوله واقعه د
موسی علیه السلام فرعون ته ورتلل او هغه ته د توحید دعوت ورکول. بیا بني اسرائیلو
باندے د ظلم نه منع کول، هغوی ته معجزے ښکاره کول او بیا د فرعون د هغه مقابلے
دپاره د جادوګرو جمع کول وغیره.

فـ١٠٥ یعنی هغوی د موسی علیه السلام د ټولو معجزو نه انکار اوکړو. حَقِیْقٌ الخ ای واجبٌ
(بحر، خازن وغیره) یعنی په ما فرض او لازم دی چه زه د الله طرفته غلطه خبره منسوب
نه کړم. حَقِیْقٌ په معنی د جَدِیْرٌ (بحر، روح وغیره) یعنی زه د الله رسول یم د دے وجے
نه ځما شان هم دا دے او ځما د پاره هم دا مناسب ده چه زه د الله طرفته صرف د
رښتونے خبرے نسبت اوکړم. په دے وجه واورئ چه زه د الله رښتینے رسول یم او
د الله د طرفنه م معجزے راوړے دی لهذا ځما دعوت قبول کړئ. او بني اسرائیل
د ظلم او زیاتی نه خلاص کړئ. حضرت شیخ قدس سره فرمائی. حَقِیْقٌ ای ثابتٌ.
یعنی زه په دے خبره باندے ثابت او قائم یم چه الله طرفته صرف د رښتینے خبرے
نسبت اوکړم.

فـ١٠٦ فرعون اووئیل چه که چرے واقعی ته څخه وعده کښے رښتینے یے او په خپل
نبوت باندے واقعی څه دلیل او معجزه راوړے وی نو پیش یے کړه. فَاَلْقٰی عَصَاهُ الخ
موسی علیه السلام خپله همسا په زمکه اوغورزوله چه د غورزیدو سره ترسے ماریږشو او
بیا یے په ګریوان کښے لاس واچولو او بهر یے راوویستلو نو هغه رڼا نه پرقیدو وکے وو.
یعنی ځما د نبوت اول ګواه خو دا د مار والا معجزه ده دا هم اوګورئ او دویم دا نور دے
دا هم اوګورئ.

قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِیْمٌ ﴿۱۰۹﴾

اووئیل سردارانو ــله د فرعون د قوم دا خو یو لوئ پوهه جادوګر دے.

یُّرِیْدُ اَنْ یُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۱۱۰﴾

ویستل غواړی تاسو لره ستاسو د ملک نه اوس ستاسو څه مشوره ده

قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِی الْمَدَآئِنِ حٰشِرِیْنَ ﴿۱۱۱﴾

اسره وئیل مهلت ورکړه ده ته او ده ورور ته او اولیږه په ښارونو کښے جمع کونکی چه راولی

يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾ وَجَاءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ
تا ته چه وي كامل جادوګر او راغلل جادوګر فرعون له

قَالُوا إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ
وے وئيل زمونږ د پاره به شته مزدوري وي كه چرے مونږ غالب شو وے وئيل

نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِمَّا أَن
آؤ او بیشکه تاسو به مقرب (ما ته نزدے) شئ وے وئيل اے موسیٰ علیه السلام يا خو

تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ نَحْنُ الْمُلْقِينَ ﴿١١٥﴾ قَالَ أَلْقُوا
ته اُوغورزوه او يا مونږ غورزونكي يُو - وے وئيل اُوغورزوئ

فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا
بیا چه كله هغوي اُوغورزول ګټلے وے ترلے سترګے د خلقو او هغوي ئے اُو وېرول او رائے وړلو

بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ
لوئ جادو او مونږ حكم اُو لیږلو موسیٰ ته ﷺ چه اُوغورزوه خپله همسا

فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا
نو هغے تيرزول شروع كړل دهغے لوبے چه دوي جوړے كړے وه. نو ظاهر شو حق ﷻ او غلط شو كوم

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانقَلَبُوا صَاغِرِينَ ﴿١١٩﴾
چه هغوي كړي وُو نو شكست ئے اُوخوړو هغه ځائ كښے او واپس شو ذليله

وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٢١﴾
او پريوتل جادوګر په سجده كښے وے وئيل مونږ ايمان راوړو ﷲ پروردګار عالم

رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿١٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ آمَنتُم بِهِ قَبْلَ
باندے چه رب دے د موسیٰ او دهارون وے وئيل فرعون آيا تاسو ايمان راوړو په هغه باندے

أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِي الْمَدِينَةِ
مخكښے د اجازت نه ما د خو بيو مكر (چل) دے چه جوړ كړے دے تاسو پټو لو په دے ښار كښے

لَيُخْرِجُوا مِنْهَا اَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ لَاُقَطِّعَنَّ

دے د پاره چه ویاسئ د دے ښار نه د دے اوسیدونکی نو اوس به تاسو ته معلومه شی ویل به ضرور پرې کړم

اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ

ستاسو لاسونه ﷲ او د بل طرفه ستاسو خپے ﷲ بیا به په پهانسی او خیژوم

اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۲۴﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا تَنْقِمُ

تاسو ټول هغوی او ویل زمونږ خو خپل رب طرفته واپس ورتلل دی او ستا مونږ

مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۚ رَبَّنَآ اَفْرِغْ

سره هم دا دښمنی د ﷲ چه او منل د خپل رب نښے چه کله هغه مونږ ته راورسیدے. اے زمونږ

عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ ع

رب! بیا نیزے په مونږ د صبر دروازے او مره کړه مونږ مسلمانان

نکات: ىك يعنی په زور سره په سجده او غورزولے شو ځکه چه هغوی ښکښے اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وئيلو سره د موسیٰ علیه السلام آدب کړے وو. من اتی یمشی آتیت هرولة ۱۲

موضح قرآن ف يعنی تاسو په شریکه دے فریب سره د ښار حکومت آخستل غواړئ فرعون دے تقریر سره خلق دښمنان او ګرځول.

فتح الرحمٰن ف يعنی ښے لاس او ګسه خپه ۱۲

تفسیر: ۱۱۰ دے کتلو سره د فرعون د قوم درباری حاکمان او دنړلو پرانستلو والو (اهل حل وعقد) او وئیل چه دا خو یو ډیر لوئ ماهر جادو ګر دے او تاسو د ملکِ مصر نه ویستل غواړی او په هغے پخپله قبضه کول غواړی. په دے خبره باندے فرعون او وئیل فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ. نو بیا دده په معامله کښے ستاسو څه مشوره ده. قَالُوْٓا اَرْجِهْ هغوی او وئیل چه دے معامله کښے تاسو جلتی مه کوئ بلکه هغه ته او د هغه رور ته مهلت ورکړئ او د خپل ملک په ټولو ښارونو کښے خپل سړی او لیږئ هغوی به د ملک ټول ماهر جادو ګر ستاسو په دربار کښے حاضر کړی دے د پاره چه د دے د وارو مقابله او کړے شی.

۱۱۱ د ملک مشهور او ماهر جادو ګر د فرعون په دربار کښے جمع شول نو وے وئیل که چرے مونږ په مقابله کښے غالب شو نو مونږ ته خو به انعام ضرور ملاوېږی. قَالَ نَعَمْ فرعون او وئیل چه صرف انعام نه بلکه د دے نه علاوه به تاسو ته ځما په دربار کښے نزدیکت هم حاصل وی. او ځما سره به ستاسو ډیر زیات قدر او مرتبه او عزت وی.

۱۱۲ چه کله په مقرره تاریخ باندے په مقرر شوی ځائی باندے موسیٰ او هارون علیهما السلام او فرعون سره د خپلو حاکمانو او مقربینو او د ټولو جادوګرو راورسیدل او مقابله شروع شوه. نو جادوګرو موسیٰ علیه السلام نه تپوس اوکړو چه اول به تاسو همسا غورزوئ او که مونږ خپل کمال پیش کړو. قَالَ اَلْقُوْا موسیٰ علیه السلام اوویل تاسو اول اُوغورزوئ کوم څیز چه تاسو سره دی ځکه چه هغوی د جادوګرو د مکر و فریب باطلول غوښتل او هغه په دے صورت کښے ډیر اثر ناک وو چه هغوی خپلے رسئ او همسا ګانے مخکښے اُوغورزوی. په دے وجه یے اُوفرمائیل چه اول تاسو خپل کمال ښکاره کړئ انه علیه الصلوٰة والسلام کان یرید ابطال ما اتوا به من السحر وابطاله ما کان یمکن الا باقدامهم علی اظهاره فاذن لهم فی الاتیان بذلک (کبیر ص۲۰۰ ج ۴)

۱۱۳ چه کله جادوګرو خپلے رسئ او همسا ګانے په میدان کښے اُوغورزولے نو د خلقو په سترګو کښے جادو اُوچلیدو او حاضرینو ته داسے معلومیده چه ټوله وادی د خطرناکو ماړانو نه ډکه شویده. د جادوګرو دا لوئی فریب چه خلقو اُولیدو نو اُووېریدل سَحَرُوْۤا اَعْیُنَ النَّاسِ او یُخَیَّلُ اِلَیْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰی (طٰه ۶۶) یعنی موسیٰ علیه السلام ته داسے محسوسه شوه لکه چه د هغوی رسئ او همسا ګانے منډے وهی. د دے نه معلومیږی چه د جادوګرو د رسو او همسا ګانو په حقیقت کښے هیڅ انقلاب نه وو راغلے بلکه دا صرف د نظر یو فریب وو.

مفسرینو لیکلی دی چه جادوګرو د رسو او همسا ګانو په پاسنئ حصه باندے په مختلفو رنګونو سره د ماړانو پشان نقش او تصویر جوړ کړے وو. د رسو د پاسه یے پاره لګولے وه او همسا ګانے په مینځ کښے خالی وے او د هغے په د ننه کښے یے پاره اچولے وه چه کله یے هغه میدان کښے اُوغورزولے نو د نمر د ګرمئ په وجه سره په هغو کښے حرکت پیدا شو. او کتونکو داسے محسوسوله چه ټوله صحرا د ماړانو نه ډکه شویده. ویقال انهم طلوا تلک الحبال بالزئبق ولونوها وجعلوا داخل العصی زئبقا ایضا والقوها علی الارض فلما اثر حر الشمس فیها تحرکت والتوی بعضها علی بعض حتی تخیل للناس انها حیات (روح ص۲۵ ج ۹)

۱۱۴ د جادوګرو دعوی وه چه هغوی داسے لاجوابه جادو تیار کړیدے چه د دُنیا ټول جادوګر یو ځائی شی نو بیا به هُم هغوی د دے مقابله اُونکړے شی. البته که چرے څه خُدائی امر وی نو به مونږ کښے د دے د مقابلے طاقت نشته. روی ان السحرة قالوا قد عملنا سحرا لا یطیقه سحرة اهل الارض الا ان یکون امرا من السماء فانه لا طاقة لنا به (کبیر ص۲۰۰ ج ۴) چه کله جادوګرو خپلے رسئ او همسا ګانے اُوغورزولے نو موسیٰ علیه السلام د الله په حُکم خپله همسا په میدان کښے اُوغورزوله. او په یو ځل سره هغه د یو لوئے اژدها په شکل کښے بدله شوه. او د هغوی ټولے رسئ او همسا ګانے یے تیرے کړے. مَا یَاْفِکُوْنَ یعنی هغوی چه کوم فریب او دروغ جوړ کړی وو.

۵۵ وَقَعَ ای ظَهَرَ یعنی ظاهر شو حق او د جادو ګرو عمل باطل شو. فَغُلِبُوا
هُنَالِكَ فرعون او د هغه قوم په دې مجلس کښې مغلوب شو او ذلیله د هلته نه
واپس شو. وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ یعنی په زور سره په سجده کښې اوغورزولے شو ځکه چه
هغوی رَبِّ إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ وئیلو سره د موسیٰ علیه السلام ادب کړے وو. مَنْ آتَى مُوسَى
آيَاتِهِ هٰذِهِ وَلَهُ چه کله جادوګرو اوکتل چه د موسیٰ علیه السلام همسا نه اژدها جوړه
شوه او د هغوی تولے رسئ او همسا ګانے یے اوخوړے او بیا څپل اصلی حالت ته راغله
لیکن د دے باوجود د هغے په جسامت کښې هیڅ زیاتے رانغے نو هغوی ته حق واضح
شو او هغوی پوهه شول چه موسیٰ او هارون علیهما السلام جادوګر نه دی بلکه د
الله رښتونی پیغمبران دی. د همسا معجزه لیدو سره د هغوی شرح صدر اوشو او د
حق په مخکښے دومره مغلوب شو. چه بے اختیاره په سجده کښے پریوتل ګویا چه حق
هغوی اونیول او په سجده یے غورزولی دی. وعبر بذلك تنبیها على ان الحق بهرهم
واضطرهم الى السجود بحیث لم یبق لهم تمالك فكان احدا دفعهم والقاهم (روح ج ۱۶ ص ۲۳۰)
۵۶ جادوګرو هم هغه ځائ کښے فورًا اعلان اوکړو چه مونږ د فرعون د ربوبیت نه
بیزاره شو او په هغه رب العٰلمین باندے مو ایمان راوړو کوم چه موسیٰ او هارون علیهما
السلام خپل رب منی. قَالَ فِرْعَوْنُ الخ فرعون په غصه کښے جادوګرو ته اووئیل چه تاسو
څنګه بغیر د اجازت نه د موسیٰ رب ومنلو ته څما نوکران او ملازمان یئ او څما د اجازت نه بغیر تاسو د موسیٰ رب منلے دے او تاسو
خو داسے معلومیږئ چه تاسو دا ټوله معامله د سوچ فکر او سکیم مطابق کړے ده او تاسو
د موسیٰ او د هارون سره په شریکه خلق مرعوب او مغلوب کوئ او د دے ځائ نه یے
ویستل غواړئ. فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ تاسو ته به اوس معلومه شی چه تاسو سره څه کیږی
دا د فرعون د طرفنه جادوګرو ته د سزا دهمکی ده چه د هغے ذکر په انده آیت کښے دے.
۵۷ یعنی زه به ستاسو لاسونه خپے پریکړم او تاسو به پهانسی کړم. مِنْ خِلَافٍ یعنی د
هر یو نه به یو طرفنه لاس او د بل طرفنه خپه پریکړم. قَالُوا نو جادوګرو اووئیل
که چرته ته دا سے اوکړے نو دا زمونږ عین مقصد دے ځکه چه په دے طریقه به
مونږ د الله د رحمت غیږ ته اورسیږو.
۵۸ او زمونږ قصور صرف دا دے چه مونږ د خپل په ایتونو او په لیږلے شوو معجزو
باندے ایمان راوړیدے تاسو دا خبره جرم ګڼړئ حالانکه زمونږ د باره دا خبره د فخر
قابل دے په دے وجه مونږ د دے سزا نه نه ویریږو. رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا الخ دا د
جادوګرو دعا ده چه کله هغوی اوکتل چه فرعون په بوره ذکر شوے سزا ورکولو باندے
ټینګ ولاړ دے. نو د الله نه یے دعا اوغوښته چه اے زمونږ آقا او زمونږ موليٰ! اے زمونږ
پروردګاره! مونږ ته صبر او استقامت راکړے چه مونږ په دے امتحان کښے ثابتقدم
پاتے شو او زمونږ خاتمه په اسلام او ایمان باندے اوشی. د ځینو مفسرینو خیال دے
چه فرعون د د همکئ مطابق جادوګرو ته سزا ورکړے وه. فقیل ان فرعون اخذ السحرة

وقطعهم على شاطئ النهر وانه امن بموسٰى عند ايمان السحرة ستمائة الف (قرطبی ص ۲۶۱ ج ۷)
د جادوګرو د ایمان راوړلو سره نورو خلقو کښې شپږ لکهه خلقو اسلام قبول کړو۔

وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ
او اووئیل سردارانو د قوم د فرعون ﷲ ایا پرېږدې ته موسٰی ۲۳ او د هغه قوم

لِيُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ ؕ قَالَ
چه فساد جوړ کړي په زمکه کښې او پاتې کړي تا لره او ستا بُتانو لره وې وئیل

سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّا فَوْقَهُمْ
اوس به مونږ وژنو ﷲ د دوی ځامن او ژوندي به پرېږدو د دوی ښځې او مونږ په دوی باندې

قَاهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا
زور اور یو ۱ موسٰی اووئیل ﷲ خپل قوم ته مدد اوغواړئ د الله نه او صبر کوئ

اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ۟ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَ
بیشکه زمکه ده د الله د دې وارث جوړ کړي څوک چه اوغواړي د خپلو بندګانو نه او د

الْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ قَالُوْۤا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا
اخر کښې نیکي ده د ویرېدونکو د پاره ۷۵ هغوی اووئیل په مونږ باندې تکلیفونه وو ﷲ ستا د راتلو نه مخکې

وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ
او ستا د راتلو نه پس وې وئیل نزدې ده چه ستاسو رب هلاک کړي

عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ
ستاسو دشمن او خلیفه ګان کړي تاسو لره په مُلک کښې بیا او ګوري چه تاسو څنګه

تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ ع ۱۵

کار کوئ ۷۶

نکات: ۷۵ د دویمه واقعه ۱۲ ۷۶ خپل شکلونه به یې جوړول او عبادت د پاره به یې ورکول ۱۲

موضح قرآن

ف ۱ د فرعون بُتان داوُو چه خپل شکلونه یې جوړ کړی وُو خلقو ته یې وئیل چه د دے عبادت کوئ او د ځامنو وژلو او د لونړو ژوندئ پرېښودل دا کار یې ځکښې هُم کولو په میانځ کښے یې پرېښي وُو اوس هغهٔ بیا قصد اوکړو

ف ۲ د زمکے وارث یې کړے یعنی د مُلک حاکم یې کړے چه حق د دے د حضرت آدم ۱۲

ف ۳ دا کلام یې نقل کړو مسلمانانو ته آورولو د پاره. دا سورت مکی دے هغه وخت مسلمانان هم دا شان مظلومان وُو. بیا په پرده کښے خوشخبری ورکړے شوه ۱۲

تفسیر: **۱۹** وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ الخ چه کله د فرعون په دریاب کښے امیرانو د مُوسیٰ علیه السلام غلبه په خپلو سترګو اُولیدله نو فرعون ته یې اووئیل آیا تاسو موسیٰ او د هغهٔ قوم ازاد پرېږدئ چه هغوی په زمکه کښے فساد اوکړی حال دا دے چه ستا او ستا د جوړو شوُو بُتانو عبادت هُم نهٔ کوی. فرعون خپل بُتان جوړ کړی وُو او خپل رعیت (قوم) له یې ورکړی وُو دے د پاره چه هغوی د دے عبادت کوی. اٰلِهَتَكَ نه هُم دا بُتان مراد دی (شاه عبدالقادرؒ)

۱۲۰ فرعون جواب ورکړو چه اوس زهٔ د خپل زوړ دستور مطابق د بنی اسرائیلو د هلکانو قتلول او د جینکو ژوندئ پرېښودل بیا شروع کوم دے د پاره چه هغوی ته معلومه شی چه زمونږ تشدد او غلبه په هغوی باندے اوس هُم باقی ده.

۱۲۱ مُوسیٰ علیه السلام خپل قوم ته تسلی ورکړه او وے فرمائیل چه د فرعونیانو د طرفه چه دا وخت کوم ظلم زیاتے تاسو سره کیږی په دے باندے صبر اوکړئ. او د دے نه د خلاصی د پاره د الله نه مدد اُوغواړئ. او یاد ساتئ زمکه د الله ده. هغه چه چا ته اُوغواړی د هغے مالک او حکمران یې جوړوی او آخر دا چه غلبه هُم هغه خلقو ته حاصلیږی چه صبر اوکړی او د الله نه مدد اُوغواړی. دلته مُوسیٰ علیه السلام په یو لطیف انداز کښے خپل قوم ته د فرعون نه د خلاصی مُوندلو او په آخره کښے د مصر حکومت ملاویدو خوشخبری واوَرَوله - تصریح بما رمز الیه من البشارة قبل وکشف عنه وهو اهلاك فرعون واستخلافهم بعده فی ارض مصر (مدارك صـ۵۳ ج ۲)

۱۲۲ قوم د تا اُمیدئ په انداز کښے اووئیل اے مُوسیٰ! ستا د راتلو نه مخکښے هُم مونږ په تکلیفونو کښے وُو او ستا سو د راتلو نه روستو هُم زمونږ هغه حال دے یعنی ستا راتلو سره زمونږ تکلیفونه هیڅ کم نهٔ شول. قَالَ عَسٰى الخ موسیٰ علیه السلام اُوفرمائیل جلتی مهٔ کوئ د صبر نه کار واخلئ یو وخت به راشی چه الله به ستاسو دُشمنان تباه کړی. د هغوی په ځای به تاسو حاکمان کړی. بیا به پته اُولګی چه تاسو څنګه کار نه کوئ آیا د الله د انعاماتو شکر ادا کوئ او د هغهٔ احکام پوره کوئ یا د هغهٔ ناشکری کوئ او د هغهٔ نافرمانی کوئ.

وَلَقَدْ اَخَذْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ وَنَقْصٍ مِّنَ

او یقیناً ونیول ١٣٣ فرعونیانو لره په قحطونو سره او د میوو په

الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿١٣٠﴾ فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ

نقصان سره چه دوی نصیحت اومني بیا چه کله ورسیده دوی ته ١٣٢ خیر

قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى وَ

دے وئیل دا دے زمونږ لائق او که چرې ورته ورسیده بدي نو بد فالي به یې نیوله په موسیٰ او

مَنْ مَّعَهٗ ۗ اَلَآ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

د هغه په ملګرو واوره چه د دوی بد فالي خو د الله سره ده لیکن اکثر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُوْا مَهْمَا تَاْتِنَا بِهٖ مِنْ اٰيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا

نه پوهیږي وفقط او ووئیل چه کوم څه ته راوړې مونږ ته ١٣٤ نښاني چه څه جادو کوې مونږ

بِهَا ۙ فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٢﴾ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ

په هغو باندې نو مونږ هرګز په تا ایمان نه راوړو پس راولیږلو مونږ په دوی باندې ١٣٥ طوفان

وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ

او ملخان او سپږې او چینده ګان او وینه ډیرې نښې جدا جدا

فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ

بیا یې هم تکبر وکړو او وو هغه خلق ګنهګاران وفقط او چه کله به پریوتو په دوی باندې

الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ

عذاب ١٣٦ نو وئیل به یې اے موسیٰ دعا اوکړه زمونږ د پاره د خپل رب نه څنګه یې چه بندوبست کړے دے تا سره که

كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ

تا لرې کړو زمونږ نه دا عذاب نو بیشکه مونږ به ایمان راوړو په تا باندې او لیږو به درسره

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ اِلٰٓى اَجَلٍ

بني اسرائیل بیا چه کله به مونږ اوچت کړو د دوی نه عذاب تر یوې مودې پورې چه

هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ

دوی به دغې مودې ته رسيدل / دغه وخت به دوی عهد مات کړو بيا مونږ بدله واخسته د دوی نه ۱۲۵

فَاَغْرَقْنٰهُمْ فِى الْيَمِّ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا

پس ډوب کړل مونږ دوی لره په درياب کښې په دې وجه چه هغوی دروغژن کړل آيتونه زمونږه او د دې

غٰفِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ

نه به بې خبره وو نه خبر وُل ۱۲۸ او وارثان کړل مونږ هغه قوم چه کمزوری ګڼلې کيدل ۱۲۹

مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِىْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ وَتَمَّتْ

د هغې زمکې په مشرق او مغرب کښې په کومه کښې چه برکت اچولې دې مونږ ۱۳۰ او پوره شوه

كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ بِمَا صَبَرُوْا ؕ

د نيکۍ وعده ستا د رب په بنی اسرائيلو باندې په سبب د دوی د صبر کولو

وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا

او خراب کړل مونږ هغه څه چه جوړ کړي وو فرعون او قوم د ده او هغه څه چه اوچت

يَعْرِشُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَجٰوَزْنَا بِبَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتَوْا

خوارۀ کړي وو ۱۳۱ او پورې ويستل مونږ بنی اسرائيلو لره ۱۳۲ د درياب نه نو ورسيدل

عَلٰى قَوْمٍ يَّعْكُفُوْنَ عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا يٰمُوْسَى

يو قوم ته چه عبادت يې کولو د خپلو بُتانو وې ويل اے موسیٰ

اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ

جوړ کړه مونږ د پاره د عبادت په غرض يو بُت لکه چه د دوی بُتان دی وې ويل چه تاسو خلق

تَجْهَلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا

جاهلان يئ وو ۱۳۳ دا خلق ۱۳۱ تباه کيدونکې دي هغه شے چه په کوم کښې دوی لګيدلي دي او

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۹﴾ قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا وَّهُوَ فَضَّلَكُمْ

غلط دے کوم چه دوی کوی وې ويل آيا د الله نه سوا لټوم ستاسو د پاره څوک بل معبود حالانکه هغه

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٤٠﴾ وَاِذْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ

تاسو له لوئي درکړه په ټول جهان باندے او هغه وخت یاد کړئ چه کله نجات درکړو مونږ تاسو له د فرعون

يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ ۚ يُقَتِّلُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَ

والو نه چه رسولو به یے تاسو ته ناکاره عذاب چه وژل به یے ستاسو ځامن او

يَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ۭ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿١٤١﴾ ع

ژوندئ به یے پریښودے ستاسو ښځے او په دې کښې احسان دے ستاسو د رب لوئي

نکات: سا دریمه واقعه ۱۲ سل څلورمه واقعه ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعني د قسمت خرابي خود الله پاک تقدیر سره ده. د نیکئ او بدئ اثر خو به په اخرت کښې وی دے جواب یے دا ورنکړو چه خرابي د دوی د کفر په وجه ده. ځکه چه کافران هم په دنیا کښې عیش عشرت کوی کوم چه اصل حقیقت وو نو هغه یے اوفرمائیلو چه د دنیا حالات په تقدیر موقوف دی.

ف۲ د موسٰی علیه السلام فرعون سره څلویښت کاله مقابله اوشوه په دے باندے چه بني اسرائیل خپل وطن ته تلو ته پریږده هغه اونه منل د هغه په خیرو سره دا مصیبتونه راپریوتل. دریاب نیل راوختلو، فصلونه، باغونه او کورونه ډیر تباه شو او ملخانو سبزی اوخوړله. او د انسانانو په کپړو او بدنونو کښې سپږے اوشوے. دا شان به هر خیز کښې چینده خان خوارهٔ شول او داوبونه وینے جوړے شوے اخر یے ښځی اونه منلو.

ف۳ دا ټول مصیبتونه په دوی باندے دیوے یوے هفتے په فرق سره راغلل. اول به موسٰی علیه السلام فرعون ته ویل چه الله تعالٰی به په تاسو دا مصیبتونه راولی چه هغه مصیبت به راغے نو بیا به مجبور شول او د موسٰی علیه السلام خوشامندے به یے تر ډیرے کړے د هغه په دعا سره به دفع شو نو بیا به دوی منکر شو. په اخر کښې وبا راغله په نیمه شپه کښې په ټول ښار کښې د هر سړی زوے (مشر) څوئ مړ شو. هغوی د مړو په غم کښې مصروف شول. موسٰی علیه السلام خپل قوم روان کړو او د ښار نه اووتلو. بیا خو ورځے پس فرعون ورپسے روان شو دریاب قلزم سره یے بیا موندل هلته دا قوم صحیح سالم پورے وتل او فرعون د ټول فوج سره غرق شو.

ف۴ چه هغے کښے یے برکت ایښے دے یعني د شام په زمکه کښې په دې کښې د ظاهر او باطن برکت ډیر دے ۱۲

ف۵ جاهلان خلق ووُ د بے صورته عبادت کولو کولو سره یے تسکین نه موندلهٔ تر هغے چه یو صورت به د هغوی مخے ته نهٔ وُو هغے قوم اولیدهٔ چه د غوا عبادت یے کولو د هغوی هم دا خواهش پیدا شو اخر د سرو زرو وسخے یے جوړ کړو او د هغے عبادت یے شروع کړو.

فتح الرحمٰن

ف١ یعني مؤاخذه د دوی په عملونو باندې ده ١٢

ف٢ یعني د شام زمکه مونږ هغوی ته ورکړه څه مشرق حصه او څه مغربي حصه ١٢

تفسیر: ١٢٣ دا دریمه واقعه ده اول د فرعون او د هغه د قوم د هلاکولو وعده اوکړې شوه اوس دلته د هغوی د هلاکت د مبادي ذکر شروع شو. السنین د سنة جمع ده او مراد ترې قحط سالي ده. والسنین جمع سنة والمراد بها عام القحط۔ (روح ص٣١ ج ٩)

١٢٤ د فرعون په قوم باندې به چه کله فراخي او راحت راغے نو وئیل به یې چه مونږ د خپلو ذاتي خوبیانو د وجې نه د دې حقدار یو. لیکن که چرې څه مالي یا جاني تکلیف به ورته اورسیده نو هغه به یې موسٰی علیه السلام او په هغه باندې ایمان راوړونکو طرفته منسوب کولو او وئیل به یې چه دا ټوله د هغوی بدبختي ده. عیاذاً بالله. اَلَآ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ. ابن عباس رض فرمائي مطلب دا دې چه په هغوی باندې کوم تکلیف او مصیبت راځي هغه د الله تعالیٰ د طرفنه دے او د هغه په قضاء او تقدیر سره دے. دیکښې د موسٰی علیه السلام او د مؤمنانو د بدبختۍ هیڅ دخل نشته. قال ابن عباس طائرهم ما یصیبهم ای ما طار لهم فی القدر مما هم لاقوه (بحر ص٣٧ ج ٤)

١٢٥ دا د فرعون د قوم وینا ده یعني زمونږ د ویرولو او په مونږ باندې د سحر کولو د پاره دا چه ته د جادو لویه او په خپل خیال کښې معجزے ښکاره کوے مونږ د دے نه بالکل نه متأثره کیږو او نه ستا په نبوت باندې ایمان راوړلو ته تیار یو.

١٢٦ چه کله معجزاتو د عصا، ید بیضاء، قحط سالي وغیره سره د دوی په زړونو کښې د عاجزئ او انابت (رجوع) هیڅ اثرات ښکاره نه شول او هغوی په انکار او په ضد او عناد باندې قائم پاتې شو. نو موسٰی علیه السلام د الله نه دعا اوکړه چه اے الله! فرعون او د هغه قوم د سرکشئ او عناد آخري حد ته رسیدلی دی د دې وجې نه په دوی باندې داسې عذاب نازل کړې. چه روستو خلق ترې هم عبرت حاصل کړي. نو الله تعالیٰ بالکل تباه او برباد کولو نه مخکښې په خوشکلونو کښې په هغوی باندې عذاب نازل کړو. د دې د پاره چه هغوی سمے لارے ته راشي. اَلطُّوْفَانَ اتَّو ورځو پورے پرله پسے ورځ او شپه په هغوی باندې تیاره خوره وه. او پرله پسے باران وریده ترد دې چه هغوی په کورونو کښې د و مره اوبه جمع شوے چه د هغوی د اوګونه په بره اوختلے. پوره اووه ورځے هغوی په دے حالت کښې مبتلا وُو. نه کینا ستلے شو نه ورته د خوراک څه څیز ملاویدے شو. لیکن د اسرائیلیانو کورونو ته اوبه داخلے نه شوے. او د دې په وجه هغوی ته هیڅ تکلیف اونه رسیده. اخر مجبور شول او موسٰی علیه السلام ته یې درخواست اوکړو چه هغه د الله نه دعا اوغواړي که چرے هغوی ته د دے مصیبت نه خلاصے ورکړي نو هغوی به ایمان راوړي. چه کله الله تعالیٰ د موسٰی علیه السلام په دعا سره اوبه لرے کړے او

زمکه ښکاره شوه نو په هغې کښې د مخکښې نه زیات واښه وغیره پیدا شوه نو فرعونیانو خپله وعده ماته کړه او وې وئیل چه دا خو عذاب نه وو دا خو زمونږ د پاره یو نعمت وو. وَالْجَرَادَ : دې نه روستو الله تعالیٰ ملخان راولیږل چه هغوی د دوی ټول باغونه او فصلونه اُوخوړل د هغوی هیڅ یوه وُنه پاتې نه شوه. تردې چه د هغوی د کورونو دروازې او د چهتونو تیران او کړئ او د هغوی د کپړو او کور سامانونو یې هم ختم کړل. د بنی اسرائیلو هر څیز ددې عذاب نه محفوظ پاتې شو. آخر د فرعونیانو په درخواست باندې د موسیٰ علیه السلام په دُعا سره الله تعالیٰ هوا راولیږله چه هغه ټول ملخان یې اُوچت کړل او په سمندر کښې یې اُوغورزول. لیکن هغوی بیا د خپل قول نه په ډډه شول او ایمان یې رانه وړه. وَالْقُمَّلَ. ددې نه روستو الله تعالیٰ سپږې مسلط کړې. او هغوی ددوی ټول پاتې نو غنم او غوښې خوړل شروع کړل چه د فرعون د قوم کوم یو کس به ډوډئ خوړله نو خُله به یې د سپږو نه ډکه شوه. چه کله ددې مصیبت نه خلاصې ملاؤ شو نو موسیٰ علیه السلام ته یې اُووئیل چه اوس زمونږ پوره یقین اُوشو چه ته د یر لوئ جادوګر یې. نیمنو د قُمَّلَ نه د غنمو سپږئ مراد اخستې دی څنګه چه مترجم رحمه الله دا معنیٰ غوره کړیده. یا سپږې یا په غنمو وغیره غله کښې چه کوم چینجې لګیږئ چه هغې سره غله خرابه شي یعنې په یدن او کپړو کښې یې سپږې اُوشوې په غله کښې یې سپږئ اُولګیدې. (تفسیر عثمانی)

وَالضَّفَادِعَ بیا الله تعالیٰ په هغوی باندې چینډخان مسلط کړل د هغوی د کورونو صحن (انګنړ) د هغوی کمرې او ټول لوښي د چینډخانو نه ډک شو. که چرې هغوی به د خبرې د پاره خُله پرانستله نو چینډخ به ټوپ کړو او د هغوی خُلو ته به ور اُورسیدو. د هغوی خوراکونو ته به ننوتل هغه به یې خراب کړل. ددې نه چه تنګ شول نو موسیٰ علیه السلام ته یې منت زاری اُوکړه او د ایمان راوړلو وعده یې اُوکړه لیکن داخل یې هُم وعده ماته کړه. وَالدَّمَ آخر الله تعالیٰ په هغوی باندې د وینو عذاب نازل کړو. دریابِ نیل کښې وینې بهیدلې. د قبطیانو د لوښو اُوبه ټوله وینه شوه لیکن د اسرائیلیانو به اُوبو کښې هیڅ فرق رانغې. قبطیانو به چه د اسرائیلیانو د لوښونه به خپلو لوښو کښې اُوبه اچوّلې نو هغه به وینه شوه. تردې چه که چرې یو اسرائیلي به د خپلې خُلې نه اُوبه د یو فرعوني په خُله کښې اچوّلې نو هغه به د هغه خُلې ته رسیدو سره فورًا وینه جوړه شوه. ایٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ. دا واضحه نښې وې لیکن هغوی هر ځل د عناد او تکبر نه کار واخستنه. کل ذٰلک من الروح والقرطبي والخازن وغیرها.

۱۲۷ د ذکرشوی مطابق یه چه کله به هغوی باندې عذاب راغې نو هغوی به موسیٰ علیه السلام له راغلل او زاری به یې ورته شروع کړه چه د الله نه دُعا اُوغواړه که چرې زمونږ نه عذاب لرې کړې شو نو مونږ به په تا باندې ایمان هُم راوړو او بنی اسرائیل به هُم تا سره اُولیږو. لیکن چه کله به الله پاک د هغوی نه عذاب لرې کړو نو

هغوی به هر څل وعده ماتوله او ایمان به یې نه راوړلو.

۱۲۸ له آخر د هغوی د بدله پسې عناد او تکبر د وجې نه مونږ د هغوی نه بدله واخسته او فرعون او د هغه قوم مونږ په دریائے نیل کښې ډوب کړل. بِأَنَّهُمْ کښې باء سببیه ده.

۱۲۹ له د اَلْقَوْمَ نه بنی اسرائیل مراد دی د اَلْاَرْضِ نه د مصر مُلک مراد دے یا د شام مُلک یا دواړه مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا دا کنایه ده د هغې د ټولو طرفونو نه مطلب دا دے چه هغه ټول مُلک مونږ بغیر د بل چا د شرکت نه بنی اسرائیلو ته ورکړو. وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ - د كَلِمَتُ نه د الله وعده مراد ده چه هغه د موسیٰ علیه السلام په ذریعه د بنی اسرائیلو سره کړے وه چه د هغوی مدد به کوی او د مصر مُلک به هغوی ته ورکوی. والمراد من الكلمة وعده تعالٰى لهم بالنصر والتمكين على لسان نبيهم عليه السلام (روح ص ۳ ج ۹) بِمَا صَبَرُوا کښې باء سببیه ده یعنی د بنی اسرائیلو د فرعونیانو په ظلم او زیاتی او په سختو او تکلیفونو باندے د صبر کولو په وجه سره الله تعالٰی د هغوی سره خپله کړے وعده پوره کړه او فرعونیانو چه کوم عالیشان او محلات او کورونه جوړ کړی وو، او کوم باغونه چه هغوی لګولی وو هغه مونږ ټول تباه او برباد کړل. وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ نه مراد د انګورو باغونه دی چه د هغې د خیلو دپاره به یې څپر جوړولو

۱۳۰ له دا څلورمه واقعه ده چه کله فرعون او د هغه قوم دریائے نیل کښې غرق شو. او موسیٰ علیه السلام سره د بنی اسرائیلو په معجزانه لاره باندے پورے وتل. نو اوس بنی اسرائیلو سرکشی شروع کړه. نو چه کله په لاره کښې هغوی په یو قوم باندے تیرشول. چه بُت پرست وو او د غوا عبادت به یې کولو. هغوی په خپله عبادت خانه کښې بُتان ایښی وو. قال ابن جریج كانت تلك الاصنام تماثيل بقر (خازن ص ۲۳۰ ج ۲) چه کله بنی اسرائیلو دا بُت پرست قوم اولیدلو. نو د هغوی هُم زړه را پورته شو او موسیٰ علیه السلام ته یې اووئیل. د دوی د جوړ شوو بُتانو په شان زمونږ دپاره هُم یو بُت جوړ کړه دے دپاره چه مونږ هُم د هغې عبادت کوو. موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل چه تاسو ډیر ناپوهه او جاهلان یئی. د شرک او بُت پرستی نه الله تعالٰی تاسو ته خلاصے درکړو لیکن تاسو اوس بیا هُم هغه کندے ته غورزیدل غواړئ.

۱۳۱ له دا هُم د موسیٰ علیه السلام کلام دے یعنی دا د غوا عبادت کوونکی چه په کوم دین باندے دی نړوشے ده چه دوی حتماً په لاس باندے هلاکیدونکی دی او کوم څه چه دوی کوی هغه محض باطل او بے فائدے دی. دے سره به هغوی ته نه په دُنیا کښې څه نفع ملاویږی او نه په آخرت کښې. یعنی د مرالله تعالٰی دینهم الذی هم علیه علی یدی.... وان ذٰلك لاینفعهم شیئا (روح ص ۳ ج ۹)

۱۳۲ له دلته موسیٰ علیه السلام بنی اسرائیلو ته د الله تعالٰی انعامات وریاد کړل چه څنګه ناشکره یئی آیا زه د الله نه سوا ستاسو دپاره بل کوم معبود جوړ کړم. کوم الله چه د ټول جهان په خلقو باندے تاسو ته فضیلت درکړو، مراد دا دے چه دا وخت په دُنیا کښې کوم خلق موجود

دې په هغوی کښې تاسو د ټولو نه افضل یئ. په دې وجه د دې نه په اُمت محمدیه باندې د هغوی فضیلت نه ثابتیږي. دا شان هغه وخت یاد کړئ چې کله فرعون تاسو ډیره ذلت په عذاب کښې مبتلا کړي وئ، هغه به ستاسو هلکان وژل. او جینکۍ به یې ژوندۍ پریښودې. د دې لوئ مُصیبت او تکلیف نه الله تعالیٰ تاسو ته نجات درکړو په دې وجه اوس تاسو له د هغه د انعاماتو شکر ادا کول پکار دي.

وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ

او وعده اوکړه موږ ګټله د موسیٰ سره د دیرشو شپو او پوره موکړې دې لره په لسو سره پس پوره

مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوْسٰى لِاَخِيْهِ

شوه موده ستا د رب څلویښت شپې او اووئیل موسیٰ خپل ورور

هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ

هارون ته چې زما خلیفه اوسه زما په قوم کښې او اصلاح کوه او مه ځه په لاره د

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ وَلَمَّا جَآءَ مُوْسٰى لِمِيْقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ

فساد کوونکو د او چې کله ورسید ګټله موسیٰ زموږ ځائ د وعدې ته او خبرې اوکړې

قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ ۭ قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ وَلٰكِنِ

سره د ده رب. وې وئیل اے زما ربه ما ته خان اوښایه چې تا اووینم وې فرمائیل ته ما هرګز نشې لیدے

انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ فَسَوْفَ تَرٰىنِيْ ۚ

لیکن ته اوګوره غر طرفته که هغه په خپل ځائ قرار پاتې شو نو ته به ما اولیدې شې

فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا ۚ

بیا چې کله تجلي اوکړه د هغه رب غر طرفته نو کړو یې هغه نریدلے برابر او پریوت موسیٰ بې هوشه

فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا اَوَّلُ

بیا چې کله په هوش کښې راغے ګټله وې وئیل ستا ذات پاک دے ما توبه اوکړه تا ته او زه ډیر اول

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّى اصْطَفَيْتُكَ عَلَى

اول یقین راوړونکے د وې فرمائیل اے موسیٰ ګټله ما ته غوره کړے

النَّاسِ بِرِسٰلٰتِیْ وَبِكَلَامِیْ ۖ فَخُذْ مَآ اٰتَیْتُكَ وَ
خلقو نه په خپل پیغام رسولو او په خپلو خبرو پس واخله ته هغه چه ما تاته درکړل او

كُنْ مِّنَ الشّٰكِرِیْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَكَتَبْنَا لَهٗ فِی الْاَلْوَاحِ مِنْ
شکر کوونکے اوسه او اولیکل مونږ ده ته په تختو باندے ۱۳۷ له د

كُلِّ شَیْءٍ مَّوْعِظَةً وَّتَفْصِیْلًا لِّكُلِّ شَیْءٍ ۚ فَخُذْهَا
هر قسم نصیحت او تفصیل د هر یو شی پس ونیسه دے لره

بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ قَوْمَكَ یَاْخُذُوْا بِاَحْسَنِهَا ؕ سَاُورِیْكُمْ
په زور سره او حکم کوه خپل قوم ته چه ونیسي دد بهترے خبرے ولد ښیرز به زه تاسو ته

دَارَ الْفٰسِقِیْنَ ﴿۱۴۵﴾ سَاَصْرِفُ عَنْ اٰیٰتِیَ الَّذِیْنَ
ښایم کور د نافرمانو د ۱۳۸ فـ ۲ زه به اوگرځوم ۱۳۵ له دخپلو ایتونو نه هغو لره

یَتَكَبَّرُوْنَ فِی الْاَرْضِ بِغَیْرِ الْحَقِّ ؕ وَاِنْ یَّرَوْا كُلَّ
چه تکبر کوی په زمکه کښے ناحقه او که اووینی ټول

اٰیَةٍ لَّا یُؤْمِنُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ یَّرَوْا سَبِیْلَ الرُّشْدِ لَا
نښے ایمان نه راوړی په هغوی او که اووینی لاره د هدایت نو نه

یَتَّخِذُوْهُ سَبِیْلًا ۚ وَاِنْ یَّرَوْا سَبِیْلَ الْغَیِّ یَتَّخِذُوْهُ
نیسی هغے لره لار او که اووینی لاره د گمراهئ نو نیسي هغے لره

سَبِیْلًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا
لار دا ځکه چه دوی ۱۳۹ له دروغ گڼلي دي زمونږ ایتونه او شوی وو دوی د دے نه

غٰفِلِیْنَ ﴿۱۴۶﴾ وَالَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ
ناخبره وو او چا چه دروغ اوگڼل زمونږ ایتونه او د اخرت ملاقات برباد شو د

اَعْمَالُهُمْ ؕ هَلْ یُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۷﴾
هغوی عملونه هم هغه بدله به مومی کوم څه چه دوی عمل کولو۔

نکات :- سلہ پنځمه واقعه ۱۲ سلہ دا مفعول لهٔ دے یا بدل دے د من حُلیّ شیّ ... ۱۲ سلہ په وجه د مهر جتاریت ۱۲

موضح قرآن ف اللہ تعالٰے موسٰی علیہ السلام سره وعده اوکره چه په غر باندے دیرش شپے خلوت اوکړه چه زهٔ ستا قوم ته تورات ورکرم په دے موده کښے هغهٔ یوه ورځ مسواک استعمال کړو. فرشتو ته د هغهٔ د خلے بوی ښه لګیدلو هغه ختم شو د هغے په بدل کښے یے لس شپے نورے زیاتے کړے. موده یے پوره کړه

ف۲ موسٰی علیہ السلام ته الله تعالٰے عزت ورکړو چه د فرشتے نه بغیرے ورسره خبرے اوکړے د هغهٔ شوق پیدا شو چه دیدار هُم اوکړی د هغے برداشت یے اُونکړے نه معلومه شوه چه د الله تعالٰے لیدل ممکن دی او کیدے شی ظهور یے په غر باندے شوے وُو لیکن د دُنیا وجود برداشت نکړے شو. غر ټکړے ټکړے شو. او موسٰی علیہ السلام بیهوشه شو نو د آخرت وجود به یے برداشت کولے شی - او هلته لیدل ثابت او حق دی.

ف۳ د هغے بهتر خبرے یعنی چه د هغے د کولو حکم دے او بد و خبرو چه د هغے د نه کولو حکم دے او ډیر ښائیم کور د حکم نهٔ منونکو یعنی کهٔ چیرے تاسو په حُکمونو باندے نهٔ چلیږئ نو تاسو به دا سے ذلیله کرم څنګه یے چه د شام مُلک د هغوی نه واخستهٔ او تاسو ته یے درکړو

ف۴ الواح (تختئ) یے ورکړے او دا یے هُم ورته اُوفرمائیل چه قوم ته هُم حُکم ورکړه چه عمل پرے اوکړی او دا یے هُم ورته اُوفرمائیل چه څولک یے انصافه دی او حق نهٔ منی د هغوی زړونه به زهٔ واړوم په هغے به عمل نهٔ کوی. یعنی هدایت او ګمراهي د الله د طرفنه دی دا شان جنت او دوزخ.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په عزیمت باندے عمل کول نهٔ په رخصت ۱۲ ف۲ یعنی فرعونیانو خراب شوی کورونه لیدل پکار دی ۱۲

تفسیر:- ۱۳۳ دا پنځمه واقعه ده چه موسٰی علیه السلام په مصر کښے بنی اسرائیلو سره وعده کړے وه چه کهٔ چرے الله پاک ستاسو دُشمن فرعون هلاک کړو نو زهٔ به د الله د طرفنه یو کتاب راوړم چه هغے کښے به د شریعت ټول احکام ذِکر وی د فرعون د غرقیدو نه روستو موسٰی علیه السلام الله تعالٰے ته د کتاب د پاره درخواست اوکړه نو د الله د طرفنه حکم اُوشو چه دیرش ورځے روژے اُونیسه. د دیرشو روژو نه روستو موسٰی علیه السلام ته د خپلے خُلے بوی ښهٔ اُونهٔ لګیدهٔ نو هغهٔ په مسواک سره هغه ختم کړو. په دے باندے الله حُکم اوکړو چه ستا د خُلے بوی ما ته د مُشک نه هم زیات خوښ وُو. لیکن هغه تا په مسواک سره ختم کړو. په دے وجه اوس لس ورځے نورے اُونیسه. دا شان پوره څلویښت ورځے اُشوے.

۱۳۴ چه کله موسٰی علیه السّلام په مقرر وخت باندے کوهِ طور ته اُورسیدهٔ او د الله سره یے خبرے اُوشوے. نو د هغهٔ بے انتها مهربانئ او د هغهٔ رحمت یے جو...

اُولیدهٔ نو خیال یې شو چه کهٔ چیرې د الله دلیدلو درخواست اُوکړم نو شاید چه دا ارزو هم پوره شي نو عرض یې اُوکړو رَبِّ اَرِنِیْۤ اَنْظُرْ اِلَیْكَ۔ اے الله! خپل پهٔ ورانده دے خپل ذات ښکاره کړه چه زهٔ یې اُووینم۔ ارشاد اوشو چه ته خما دلیدلو طاقت نهٔ لرے او خما لیدل ناممکن دي۔ د دې حقیقت ښکاره کولو د پاره یې اُوفرمائیل چه ته دے غر ته اُوګوره په دے باندے زهٔ خپله تجلي غورځوم۔ کهٔ چیرې هغه په خپل ځای قرار پاتے شو نو پوهه شه چه ته به هم ما اُولیدے شے کنې نو ته ما لیدے نهٔ شے۔ فَلَمَّا تَجَلّٰی نو چه کله الله تعالٰی په کوهِ طور باندے تجلي واچوله۔ او په هغې باندے یې د خپل نور رڼا ښکاره کړه نو د غر ټکړے والوتلے۔ او موسٰی علیه السلام بیهوشه شو او په زمکه راپریوتو۔ دَكًّا مصدر دے په معنٰی د مفعول ای مدكوكًا متفتتًا او صَعِقًا معنٰی دهٔ بیهوشه ای مغشیًا علیه (روح)

۱۳۵ چه کله په هوش کښے راغے نو د الله تسبیح او پاکي بیانول یې شروع کړل چه اے الله! ته د دے نه پاک یې چه څوك ستا مثل شي او ته د نورو څیزونو په شان په نظر راشے۔ زهٔ د دے خپل سوال معافي غواړم او د ټولو نه مخکښے په دے خبره باندې ایمان راوړم چه دلته تا هیڅوك نهٔ شي لیدے۔ ای تنزیهًا لك من مشابهة خلقك فی شیء ...... وانا اول المؤمنین بعظمتك وجلالك او بانه لا یراك احد فی هذه النشأة (روح ص۵۶ ج ۹، خازن وغیره)

۱۳۶ د موسٰی علیه السلام ارزو چونکه پوره نهٔ شوه په دے وجه د هغهٔ د زړهٔ خوشحالولو او تسلئ د پاره یې اُوفرمائیل اے موسٰی! په تا باندے خما نورو انعامات ولے کم دي؟ ما خو ته د خپل نبوت او رسالت او خبرو د پاره غوره کړے او ستا د زمانے په ټولو خلقو باندے ما تا ته فضیلت درکړو۔ کوم انعام او اکرام چه ما په تا باندے کړے دے په هغې صبر اوکړه۔ ای اقنع بما اعطیتك (قرطبی ص۲۸۱ ج ۷) او په هغې د الله تعالٰی شکر ادا کړه۔

۱۳۷ د اَلْاَلْوَاحِ نه مراد تورات دے۔ او د شَیْءٍ نه هر هغه څیز مراد دے چه د هغې په شریعت کښے هغهٔ ته ضرورت وُو۔ یعنی د حلالو او د حرامو احکام۔ من کل شیء ای یحتاجون الیه من الحلال والحرام والمحاسن والقبائح (روح ص۵۹ ج ۹) مَّوْعِظَةً وَّتَفْصِیْلًا مفعول له دے یا من کل شیءٍ نه بدل دے۔

۱۳۸ دلته یې بني اسرائیل د عناد او تکبر د بد انجام نه اُووېرول یعني کوم خلق چه تکبر او غرور کوي۔ او خما اَیتونه د ضد او عناد په وجه نهٔ مني۔ زهٔ به د هغوي زړونه واړوم او د هغوي په زړونو باندے به د جباریت مهر اُولګوم د هغوي زړونه به د حق نه بے زاره او باطل طرفته به مائل شي تر دے چه کهٔ چیرے هغوي ټولے معجزے هم اُووینی نو ایمان به نهٔ راوړي د هدایت د لارے نه به لرے تښتي او ګمراهئ طرف ته به په منډه ورځي۔

۱۳۹ بِاَنَّهُمْ کښے باء سببیه ده۔ یعنی هغوي سره دا معامله ځکه اوکړے شوه چه

هغوی د الله د توحید آیتونه محض د ضد او د عناد د وجې نه دردوو اُوگنړل. بسبب انهم کذبوا بآیات الله الدالة علی التوحید (خازن ص۲۳۸ ج ۲) وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوا الخ دا تخویفِ اُخروی دے۔

وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا

او جوړ کړو د موسٰی ﷺ قوم د هغهٔ نه روستو د خپلو زیوراتو نه سخے

جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ؕ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا

یو بدن چې هغې کښې د غوا آواز وو آیا هغوی اُونهٔ لیدل چې هغه خو دوی سره خبرے هم نهٔ کوی او

يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۸﴾ وَلَمَّا

نهٔ ورته لار ښودلے شی معبود ئے جوړ کړو هغه او هغوی ؤو ظالمان او چه کله

سُقِطَ فِيْۤ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا اَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوْا ۙ قَالُوْا لَئِنْ

پښیمانه شول او پوهه شول چه مونږ بیشکه گمراه شو نو وے وئیل که

لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾

رحم اونکړی په مونږ باندے زمونږ رب او اُونهٔ بخښی مونږ نو بیشکه مونږ به تباه شو

وَلَمَّا رَجَعَ مُوْسٰۤى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۙ قَالَ

او چه کله واپس راغے موسٰی ﷺ خپل قوم ته د غصے نه ډک افسوس کوونکے، وے وئیل

بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ مِنْۢ بَعْدِيْ ۚ اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ

څهٔ ناکاره خلافت اوکړو تاسو زما زمانه روستو ولے جلتی اوکړه تاسو د خپل رب د

وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗۤ اِلَيْهِ ؕ

حکم نه او وے غورزولے هغه تختی ﷺ او ئے نیولو سر د خپل رور ﷺ کشولو ئے هغه خپل طرف ته

قَالَ ابْنَ اُمَّ اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِيْ وَكَادُوْا

دهٔ اووئیل اے ځما د مور ځویه! خلقو زهٔ کمزورے اُوگنړلم او نزدے وهٔ چه

يَقْتُلُونَنِي ۖ فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْأَعْدَاءَ وَلَا تَجْعَلْنِي

زه بیے وژلے وو ۔ پس مه خندوه په ما پورے دښمنان او مه یو ځائی کوه

مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَ

ما په ګنهګارانو ظالمو کښے ف۲ ووے وئیل اے ځما ربه! معاف کړے ګناه ما او ځما رور او

أَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ ۖ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٥١﴾

ع ۱۸ / ۸ داخل کړے مونږ په خپل رحمت کښے او ته د ټولو نه زیات رحم کونکے یے ۔

نکات: ۱ ادخالِ الٰهی ۱۲ ۲ واؤ مطلق جمع د پاره دے دا واقعه د ټولو نه روستو اوشوه ۔ پوره ترتیب د سورة طٰهٰ په ایتونو کښے دے ۱۲ ۳ شپږمه واقعه ۱۲

موضح قرآن

ف یعنی دده حکمونو توفیق به ورته نه وی ۔ او کوم چه په خپل عقل کوی هغه به قبول نه وی ۔

ف۲ حضرت هارون او دهغهٔ اولاد د موسیٰ علیه السلام په امت کښے امامان وو لیکن چه کله دهغهٔ په ځائی خلیفه شو نو امت د هغهٔ په حکم کښے پاتے نه شو ۔ خلافت د بل چا په قسمت کښے وو خلیفه هغه وی چه د امت د دین او دنیا انتظام اوکړی ځکه چه پیغمبر اصلاح کوی دے د پاره چه د الله مدد د هغهٔ سره وی ۔ او امام هغه وی چه د پیغمبر یادګار وی چه د پیغمبر خدمت سره او دهغهٔ په دعا سره منظور کړے شی نو امت هغهٔ ته حواله کړی دے د پاره چه د برکت او قبولیت درجه ورته ملاؤ شی ۔ په تورات کښے د امام لوازم اوګورئ نو معلومه به شی ۔

تفسیر: ۱۱ چه کله موسیٰ علیه السّلام کوه طور ته د تورات راؤړلو د پاره لاړو نو دهغهٔ په غیر موجودګئ کښے سامری قوم ګمراه کړو ۔ اسرائیلیانو مخکښے دیو قوم دغوا عبادت کول لیدلی وو ۔ او د موسیٰ علیه السلام نه یے دهغے د شکل جوړولو مطالبه هم کړے وه ۔ او س سامری د موقعے نه فائده واخسته د بنی اسرائیلو نه یے زیورات (ګاڼے) راجمع کړل او هغه یے ویلی کړل او د خخی یو شکل یے ترے جوړ کړو چه د خخی پشان اواز به یے کولو ۔ دد ے زیات تحقیق په سورة بقره کښے تیر شوے دے ۔ (ص۲۳ بانډ حاشیه ۱۱۲ اوګورئ)

۱۲ دا د ډیرے زیاتے پښیمانتیا نه کنایه ده ۔ چه کله موسیٰ علیه السلام واپس راغے نو هغهٔ د دے مشرکانه او د کم عقلئ په عمل باندے قوم ملامته کړو ۔ او هغوی یے پوهه کړل نو هغوی ډیر پښیمانه شول او د الله تعالیٰ نه یے استغفار اوکړو او د خپل فعل نه یے توبه اوویستله ۔ ای بعد عود موسیٰ من المیقات یقال للنادم المتحیر قد سقط فی یده (قرطبی ص۲۸۵ ج۷) د قوم د پښیمانتیا واقعه په اصل کښے هغه وخت راپیښه شوه چه کله موسیٰ علیه السلام مخکښے

اُوسیزلو او دهغه ایره یې والوزوله ددې واقعې اصل ترتیب په سورۂ طٰهٰ کښې داشان ذکرشوېدې. د میقات نه واپسئ بانده اول موسٰی علیه السلام قوم ته خطاب اوکړو او هغوی یې ملامته کړل. فَرَجَعَ مُوْسٰی اِلٰی قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا قَالَ يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ الخ (طٰهٰ ع ۴) د قوم جواب اَوریدو نه روستو هغه هارون علیه السلام ته متوجه شو. قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ الخ (طٰهٰ ع ۵) هارون علیه السلام نه دحال حقیقت معلومولو نه پس یې سامري ته په خطاب کښې اُوفرمائیل. مَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ الخ (طٰهٰ ع ۵) دینه پس یې د قوم په مخکښې څخې اُوسیزلو نو هغوی ته خپله غلطي ښکاره شوه چه هغوی شرك کولو سره لوئ ظلم کړېدې او پښیمانه شول. لهٰذا دلته په وَلَمَّا سُقِطَ کښې واؤ مطلق جمع دپاره دې.

۲۴۲ دا شپږمه واقعه ده. غَضْبَانَ اَسِفًا. دواړه د رَجَعَ د ضمیر نه مترادف یا متداخل حالونه دي. غَضْبَانَ، غضبناك. اَسِفًا. شدید الغضب. یعني ډیر په قهراوغصه چه کله مُوسٰی علیه السلام د میقات نه واپس راغې نو قوم یې د څخې په عبادت کښې اَخته اُولیده نو سخت په غصه شو اووې فرمائیل څما نه روستو چه تاسو دا کوم حرکت کړېدې هغه ډیرخراب دې حالانکه ما تاسو ته د توحید تعلیم درکړې وُو او د شرك ردِم کړې وُو. ای بئسما فعلتم بعد غیبتی حیث عبدتم العجل بعد ما رأیتم منی من توحید الله تعالٰی ونفی الشرکاء عنه سبحانه واخلاص العبادة له جل جلاله (روح ص ۶۹ ج ۹) د مُوسٰی علیه السلام دومره غصه کیدل د دیني غیرت په وجه وُو. چونکه دهغهٔ په زړهٔ کښې د دیني غیرت انتهاء ته رسیدلې وُو په دې وجه د قهرجوش هُم ډیر زیات وُو.

۲۴۳ د موسٰی علیه السلام پشان جلیل القدر پیغمبر نه خو دا سې په خیال کښې هُم نهٔ شي راتلې چه هغه د الله کتاب داسې په زمکه اُوغورزوي. په دې وجه دلته القاء صرف صورةً ده. اصل خبره داوه چه د دیني غیرت د وجې نه مُوسٰی علیه السلام دومره زیات غصّه شو چه عاجزشو تردې چه دهغهٔ د لاسونو نیوُل کمزوري شول او د تورات تختئ په زمکه پریوتې. والصواب ان یقال انه علیه السلام لفرط حمیته الدینیه وشدید غضبه لله تعالٰی لم یتمالك ان وقعت الالواح من یده بدون اختیاره (روح ص ۷۰ ج ۹)

۲۴۴ مُوسٰی علیه السلام خیال اوکړو چه شاید هارون علیه السلام قوم د شرك نه منع کولو کښې کوتاهي کړېده. ددې وجې نه یې هغه د سرد ویښتونه اُونیوهٔ اوراپې خکلو. دا کارهُم دهغهٔ نه بې اختیاره د سختې غصې او دیني غیرت د وجې نه اُوشو. هارون علیه السلام اُوفرمائیل چه اې څما د مور ځویه د اهیڅ کوتاهي نه ده کړې ما خپل فرض ادا کړل لیکن قوم په ما غالب شو او زهٔ یې عاجزکړم. تردې چه زهٔ یې قتلولم. دینه معلومه شوه چه هارون علیه السلام بني اسرائیل د څخې د عبادت نه په منع کولو کښې پوره پوره کوشش اوکړو او دهغوی په منع کولو کښې یې ډیره مبالغه کړې وه. تردې چه قوم دهغهٔ وژلو ته تیارشو. ودل هذا علی انه بالغ فی الانکار علیهم حتی هموا بقتله (بحر ص ۳۹۶ ج ۴)

د الله د پيغمبر هم دا شان وي چه هغه د احكامو په تبليغ كښے او د توحيد په اشاعت كښے د هر قسم ځان او مال د خطرو نه بے پرواه شي او خپله فريضه سرته اُورسوي او د مداهنت (نرمئ) يا تقيه په پناه آخستلو كښے د شريعت احكام معطل نه كړي. شيعه امامان د پيغمبرانو پشان معصوم، د الله د طرفه مامور او واجب الاطاعت مني. ليكن د دے باوجود په دے بزرگانو باندے د تقيه په پناه كښے د اسلام د ډير اهم احكامو د پټولو الزام هم لګوي.

١٤٥ چه كله موسىٰ عليه السلام ته د صحيح حال پته اُولګيده او معلومه شوه چه هارون عليه السلام بے قصوره دے. نو په سخته غصه كښے يے په خپل ذكر شوي فعل باندے د الله تعالىٰ نه استغفار اوكړو.

إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن

البته كوم خلق چه ځنګے معبود ٤٤ جوړ كړو دوي ته به اُورسي غضب د دوي د

رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي

رب او ذلت د دنيا په ژوند كښے او دغه سزا وركوو موږ

الْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِن

دروغ جوړونكوله او كوم خلق چه اُوكړل ناكاره كارونه بيا توبه اوويستله د دينه

بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٥٣﴾

پس او ايمان يے راوړو نو بيشكه ستا رب د توبے نه پس خامخا بخښونكے مهربان دے.

وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ ۖ وَ

او چه كله سړه شوه د موسىٰ ٤٤ غصه نو ده راواخستے تختے او

فِي نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴿١٥٤﴾

په چه په ديكښے ليكلے شوے وُو په ديكښے هدايت او رحمت وُو د هغو د پاره كوم چه د خپل رب نه ويريږي

وَاخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَاتِنَا ۖ فَلَمَّا

او غوره كړل موسىٰ ٤٥ د خپل قوم نه اوياً سړي زمونږ د وعدے د وخت راوستلو د پاره بيا چه

أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُم

کله دوی زلزلے ونیول نو موسیٰ وویل اے ربه! که چرے تا غوښتلے نو اول به دِ هلاک

مِّن قَبْلُ وَإِيَّايَ ۖ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا ۖ

کړی وُو دوی او ما لره هم ایا ته مونږ هلاکوے په هغه کار چه اوکړو زمونږ د قوم کم عقلانو

إِنْ هِيَ إِلَّا فِتْنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَاءُ وَتَهْدِي

دا ټول ستا ازمائش دے گمراه کوے په دے سره هغه څوک چه ته اُوغواړے او هدایت کوے

مَن تَشَاءُ ۖ أَنتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا ۖ وَأَنتَ

چا ته چه اُوغواړے. ته یے زمونږ کارساز پس وُبخښے مونږ او رحم اوکړے په مونږ او ته د ټولو

خَيْرُ الْغَافِرِينَ ﴿١٥٥﴾ وَاكْتُبْ لَنَا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً

نه بهتر بخښونکے یے ۱۵۵ او اُولیکے زمونږ د پاره په دے دُنیا کښے ښیگړه

وَفِي الْآخِرَةِ إِنَّا هُدْنَا إِلَيْكَ ۚ قَالَ عَذَابِي أُصِيبُ

او په آخرت کښے مونږ رجوع اوکړه ستا طرفته. وے فرمائیل زما عذاب ۱۵۵ه عورزوم

بِهِ مَنْ أَشَاءُ ۖ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ۚ فَسَأَكْتُبُهَا

دے لره په چا چه اُوغواړم او زما رحمت شامل دے هر شی لره پس وُ به یے لیکم ۱۵۱

لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُم

دهغو د پاره چه ویره لری ۱۵۷ او ورکوی زکوٰة او هغو کوم چه زمونږ په

بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٦﴾ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ

خبرو باندے یقین ساتی ۱۵۸ هغه خلق کوم چه تابعداری کوی ۱۵۲ه د دے رسول نبی

الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ

نبی اُمی دے کوم چه مومی دوی لیکلے شوے د خپل ځان سره په تورات

وَالْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ

او انجیل کښے هغه حکم کوی دوی ته ۱۵۳ه د نیک کار او منع کوی دوی لره د بد کار نه او

يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ وَيَضَعُ

حلالوی دوی دپاره ټول پاک څیزونه او حراموی پر دوی ناپاکه څیزونه او کوزوی

عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ الَّتِیْ كَانَتْ عَلَیْهِمْ ؕ فَالَّذِیْنَ

د دوی نه د دوی بوج او هغه قیدونه چه په هغوی باندے وو. پس کوم خلق چه په

اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِیْۤ

ده ایمان راوړی ؎ او د ده ملګرتیا اوکړی او د ده مدد اوکړی او تابع شی د هغه نور ؎ چه

اُنْزِلَ مَعَهٗۤ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ ع ۱۹

د ده سره نازل شوید ے هم هغه خلق ورسیدونکی دی مراد ته ؎ ف

نکات: ؎ د ای قلنا. تیره شوے واقعه استقبال صیغے سره بیان کړے شویده ۱۲ ؎ اِلَّا مَنْ تَابَ مقدر دے په قرینه د مابعد ثُمَّ تَابُوْا ۱۲ ؎ او وصه قِصّه ۱۲ ؎ یعنی چا ته چه زه اوغواړم عذاب ورکوئے شم خوک منع کوونکے والا نشته ۱۲ ؎ یعنی زما رحمت د ټولو نه لوئ دے. دا مقصد نه دے چه هر شی ته شامل دے ۱۲ ؎ دا کلام هم د بنی اسرائیلو دپاره دے. لهذا د قُلْ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ نه تر لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ پورے به جمله معترضه وی. او که چرے دا د بنی اسرائیلو دپاره نه وی نو جمله معترضه به هم د دے ځائی نه شروع شی ۱۲

موضح قرآن ف ۱ موسیٰ علیه السلام اویا کسان ځان سره د قوم سرداران بوتلل چه کله الله تعالیٰ کلام اوکړو. چه واورے وریته لا نورے وئیل چه ترڅو مونږ هغه اونه وینو نو زمونږ یقین نه کیږی. په دے سره په هغوی باندې تندر راپریوتلو. او ورسیدل مړه شول. موسیٰ علیه السلام په دا سے طریقه دعا اوکړه چه خپل ځان یے پکښے هم شامل کړو نو هغه وخت اوخپلے شول بیا ژوندی شول دا شاید چه د نخچی د عبادت نه مخکښے وو یا شاید روستو وو.

ف ۲ شاید موسیٰ علیه السلام د خپل امت په حق کښے د دنیا او اخرت چه کومه نیکی اوغوښتله مراد دا وو چه په ټولو امتونو مقدم شی په دنیا او اخرت کښے. بیا فرمائیل چه زما عذاب او رحمت د یو سے د پیوے مخصوص نه دے. نو عذاب په هغه چا نے چا ته چه الله تعالیٰ اوغواړی. او رحمت ټولو ته شامل دے. لیکن هغه خاص رحمت یے لیکلے دے د هغه چا په نصیب کښے کوم چه د الله تعالیٰ د ټولو خبرو یقین اوکړی یعنی اخری امت چه په ټولو کتابونو باندے یے ایمان راوړو. نو د موسیٰ علیه السلام په امت کښے چه کوم خلق په اخری کتاب باندے یقین اوکړی هغوی د

نصحت ته اورسیدل او د موسی علیه السلام دعا هغوی ته شامله شوه.

ف۳ نبی علیه السلام ته په تیرو شوو کتابونو کښې نبی امی ویلے شوے وُو. په دوو معنو سره یو خو ای پرهه وُو. دویم په اُمّ القری کښې پیدا شو یعنی مکه کښې. او په یهودیانو باندې سخت احکام وُو. او د خوراک په تمیز دوی کښې تنګی وه. په دے دین کښې هغه ټول آسان شول دېته سبب ورا نه بوجونه او پهانسی اوویله او د نور نه مراد قرآن او شریعت دے.

فتح الرحمن ف۱ یعنی دے د پاره چه عذر پیش کړی د شخی د عبادت نه او دے جماعت اګرچه عبادت نه وُو کړے لیکن په عبادت کونکی باندې یے انکار او زجر نه وُو کړے نو الله تعالیٰ هلاک کړل ۱۲

ف۲ یعنی که چرے بنی اسرائیل هلاک شوے وے نو د قتل تهمت به یے په موسیٰ علیه السلام باندې لګولے وے ۱۲ ف۳ یعنی په آخرت کښې ۱۲

ف۴ مترجم وائی چه د سَاَکْتُبُهَا معنی داده چه په آخری زمانه کښې به خاص رحمت وی د نبی اُمی په تابعدارانو باندې.

ف۵ مترجم وائی چه موسیٰ علیه السلام ته د الله تعالیٰ زیرے ورکول د اُمت مرحومه اول دلیل دے په نبوت د نبی علیه السلام، د دے وجے نه فرمائی والله اعلم ۱۲

تفسیر: ۱۳۶ د دے نه مخکښې قُلْنَا محذوف دے. ځکه چه دا واقعه تیره شوې او د دے نه هغه خلق مراد دی کوم چه د شخی په عبادت باندې قائم پاتے شول او توبه یے اُونه ویستله. وَالَّذِیْنَ عَمِلُوا السَّیِّاٰتِ الخ او کوم خلق چه ګناه کوی لیکن روستو توبه اُوباسی او د ایمان تقاضے پوره کړی د داسے خلقو تیرشوی ګناهونه به الله تعالیٰ معاف کړی. دا قرینه ده چه په مخکښې وعید د هغه خلقو د پاره دے چا چه د شخی د عبادت نه توبه نه وه ویستلے.

۱۴۷ چه کله هارون علیه السلام عذر پیش کړو او قوم هم پښیمانه شو او توبه یے اوویستله نو د موسیٰ علیه السلام غصه سره شوه. نو تختئ یے پورته کړے په هغې د الله نه د ویریدونکو او رجوع کونکو د پاره هدایت او رحمت وُو.

۱۴۸ دا اُومه واقعه ده. الله پاک موسیٰ علیه السلام ته حکم ورکړو چه هغه د بنی اسرائیلو اُویا کسان منتخب مشران خوښ کړی او په مقرر وخت باندې هغوی کوه طور ته راولی. د دے د پاره چه هغوی د ټول قوم د طرفنه د شخی د عبادت ګناه نه د الله په مخکښې معذرت اوکړی. چه کله کوه طور ته اُورسیدل نو الله تعالیٰ د غرباندې سپین بخارات پیدا کړل چه هغې سره ټول پټ شول. موسیٰ علیه السلام هغې ته داخل شو او ملګرو ته یے اوویل چه تاسو هم دے وریځے ته داخل شئ چه کله هغوی دے ته داخل شو. نو په سجده پریوتل. او دے حالت کښې هغوی د الله کلام هم واوریده چه کله وریځ لرے شوه نو دے خلقو په خپلو سترګو سره د الله دلیدو مطالبه اوکړه او وے ویل لَنْ نُّؤْمِنَ لَکَ حَتّٰی نَرَی اللّٰهَ جَهْرَةً. یعنی ترڅو چه الله پاک ښکاره

اونه وینو تر هغې پورې به ستا خبره نه منو. (من الکبیر والروح وغیره)

۱۴۹ دا چه کله د هغوی دے معاندانه او گستاخانه مطالبه باندے الله پاک هغوی په یوه سخته زلزله هلاک کړل نو موسیٰ علیه السلام د الله نه د معافئ درخواست اوکړو چه اے الله! که چرے تا غوښتل نو دوی او ورسره به زه هم د دے نه مخکښے د فرعون په لاس یا به دریائے قلزم کښے غرق کړے وے او هلاک کړے به د وے چه ستا اول مهربانی اوکړه او مونږ ټول دِ د هلاکت او تباهئ نه محفوظ اوساتلو نو اوس د دے بیوقوفو په دے احمقانه حرکت باندے مونږ مه هلاکوه. یعنی انك قدرت علی اهلاکهم و باغراقهم فی البحر وغیرهما فترحمت علیهم ولم تهلکهم فارحمهم الآن کما رحمتهم من قبل جریا علی مقتضی کرمك (روح ص ۷۳ ج ۹)

۱۵۰ یعنی چا ته چه اوغواړم عذاب ورکوُلے شم څما منع کوُنکے هیڅوك نشته ورحمتی وسعت الخ مطلب دا دے چه څما رحمت د ټولو نه لوئ او زیات دے او د دے هیڅ انتهاء نشته. او هغه په هر مستحق احاطه کوُنکے دے. عموم ای لانهایة لها ای من دخل فیها لم تعجز منه. (قرطبی ص ۲۹۶ ج ۷) دا مطلب نه دے چه هر څه ته شامل دے.

۱۵۱ اوس دلته یے د هغه خلقو ذکر اوکړو کوم چه د الله د رحمت مستحق دی یعنی هغوی د ټولو گناهونو نه ځان ساتی. زکوٰة ورکوی د زکوٰة تخصیص یے د دے د پاره اوکړو چه هغه په یهودیانو ډیر گران او سخت وُو. د یهودیانو عالمانو او پیرانو مختلفو طریقو سره د خلقو د مالونو د خوړلو عادت وُو. لیکن د خپل طرفنه ورکړه د هغوی د پاره ډیره مشکله وه.

۱۵۲ دا هُم د هغه خلقو صفت دے کوم چه د الله د رحمت حقدار دی. مخکښے د اوصافو بیانولو نه روستو د یهود او نصاراؤ د پاره گنجائش باقی وُو چه هغوی د نبی علیه السلام د انکار باوجود دعوی اوکړی چه په هغوی کښے دا صفتونه موجود دی. لهٰذا هغوی د الله د رحمت مستحق دی، د دے وجے نه الله تعالیٰ د استحقاق رحمت د پاره په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندے ایمان راوړل شرط اوگرځولو. چه د هغه ټول صفتونه په تورات او انجیل کښے موجود دی. الامی دا اُم (مور) طرفته منسوب دے یعنی کوم سړے چه په هم هغه حالت باقی وی په کوم حالت چه هغه مور پیدا کوُلے وی. نبی علیه السلام به لیکل لوستل نه شو کولے. او الی امه کانه علی الحالة التی ولدته امه علیها (روح ص ۷۶ ج ۹) او دا د نبی علیه السلام یوه معجزه وه. یا دا د اُم القریٰ طرفته منسوب دے. (ایضاً)

۱۵۳ هغه نبی اُمی صلی الله علیه وسلم دوی ته د نیکو کارونو حکم ورکوی او د بدو کارونو نه یے منع کوی. او د الله په حکم د پاکیزه خیزونو د حلال والی او د پلیتو خیزونو د حرام والی اعلان کوی. په دے آیت کښے د تحلیل او تحریم نسبت د نبی طرفته مجازی دے. په اصل کښے د تحلیل او تحریم اختیار خو صرف الله ته دے. لیکن د الله پیغمبر صلی الله علیه وسلم

ځکه د خبرو نو د حلت او حرمت مظهر او مبیّن دے. په دے وجه نې د تحلیل او تحریم نسبت نبي علیه السلام ته شوی دے. طَيِّبٰت نه د اوبن غوښه او د غوا غوړي وارګه مراد دي چه د تورات په حکم سره په یهود باندے حرام وو یا د مشرکانو محرمات یعنی بحائر او سوائب وغیره مراد دی. یعنی بذلك ما كان محرما عليهم في التورٰىة من الطيبات وهو لحوم الابل و شحم الغنم والمعز والبقر وقيل هو ما كانوا يحرمونه على انفسهم في الجاهلية من البحائر والسوائب والوصائل والحوامي (خازن ج ۲ معالم) او د خبائث نه مرداره (میته) دینه، خنزیر او نذر لغیر الله وغیره مراد دی. ما يستخبث كالدم والميتة ولحم الخنزير وما اهل لغير الله به (مدارک ص ج ۲)

۵۰ فائده که چرے د ایت د احصه هم بنی اسرائیلو پورے خاص کړے شی نو د قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ نه تر لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ پورے به جمله معترضه وی چه په هغے کښے تولو بنیادمو ته د نبي علیه السلام په رسالت باندے د ایمان راوړلو دعوت ورکړے شوی دے. او که چرے دا حصه عام او په بنی اسرائیلو پورے خاص نه وی نو په دے صورت کښے به د دے ځائے نه تر وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ پورے جمله معترضه وی.

۵۱ فائده د اَلنُّوْرَ نه دلته قرآن مراد دے. او قرآن ته د استعارے په طور باندے نور ویلے شوی دے ځکه چه نور یعنی رڼا په خپله ظاهر وی او نورو ته څیزونه ظاهر وی او روښانه کوی. د اشان قرآن په خپله واضح دے او نورو ته د هدایت لارے روښانه کوی او د شریعت احکام ظاهروی. وهو القرآن عبر عنه بالنور المنبئ عن كونه ظاهرا بنفسه ومظهرا لغيره (ابو السعود ص ۲۳۲ ج ۲) وهو القرآن وعبر عنه بالنور لظهوره في نفسه باعجازه واظهاره لغيره من الاحكام الخ ص ۸۳ ج ۹) ځکه چه دلته د قرآن دپاره لفظ د نور په طور د استعارے استعمال شوی دے. د اشان نبي علیه السلام دپاره هم لفظ د نور په طور د استعارے استعمال شوی دے. او لفظ د نور نه د نبي صلی الله علیه وسلم د هدایت صفت تعبیر مقصود دے. په دے وجه د نور د لفظ نه د نبي صلی الله علیه وسلم د سوری په نفی باندے استدلال کول سراسر غلطی ده او د قرآن د تحریف مرادف دے.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعَا

ته او وایه اے خلقو ۵۲ زه رسول یم د الله تاسو ټولو طرف ته

الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

د هغه چا چه حکومت دے په اسمانونو او په زمکه کښے هیڅوک د بندګۍ لائق نشته

يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۖ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

هغه نه سوا هغه ژوندی کول او مړه کول کوی پس ایمان راوړئ په الله او د هغه په رسول چه نبي دے امي شوی دے

الَّذِیْ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَ كَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ

بانډے کوم چه یقین لری په الله بانډے او د هغهٔ په ټولو کلامونو او د هغهٔ تابعداری کوئ چه

تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰۤى اُمَّةٌ یَّهْدُوْنَ

تاسو لار بیامومئ او د موسیٰ په قوم کښې ؏ یوه ډله ده چه لاره ښائی د

بِالْحَقِّ وَبِهٖ یَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَیْ عَشْرَةَ

حق او هم د هغې موافق انصاف کوی ﴿۱۵۹﴾ او جُدا جُدا کړل مونږ ﴿۱۶۰﴾ دوی له دولسو

اَسْبَاطًا اُمَمًا ؕ وَ اَوْحَیْنَاۤ اِلٰى مُوْسٰۤى اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗۤ

نیکونو ولاد لوئ لوئ جماعتونه ۔ او حکم اُولیږهٔ مونږ موسیٰ ته چه کله اُوبهٔ اُوغوښتې د دهٔ نه خپل

اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ۚ فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا

قوم چه او وهه خپله همسا په دے کاڼی نو جاری شوے د هغې نه دولس

عَشْرَةَ عَیْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ وَظَلَّلْنَا

چینے ډیپژندے هر قبیلے خپل ګودر او سورے کړو

عَلَیْهِمُ الْغَمَامَ وَ اَنْزَلْنَا عَلَیْهِمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ كُلُوْا

مونږ په دوی بانډے وُریځ او نازل کړل مونږ په دوی من او سلوٰی ۔ خورئ

مِنْ طَیِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْۤا

پاک څیزونه کوم چه مونږ درکړیدی تاسو ته او دوی زمونږ هیڅ تاوان اُونکړو بیکن خپل

اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ وَاِذْ قِیْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا هٰذِهِ

نقصان ئے اُوکړو ۔ او چه کله حُکم اوشو دوی ته ﴿۱۶۱﴾ چه اُوسئ په دے

الْقَرْیَةَ وَ كُلُوْا مِنْهَا حَیْثُ شِئْتُمْ وَ قُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّ

ښار کښې او خورئ د دے نه د کوم ځائ نه چه غوارئ او او وایئ چه مونږ ته اُوبخښې

ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِیْٓـٰٔتِكُمْ ؕ سَنَزِیْدُ

او داخل شئ په دروازه کښې سجده کوونکی ، نو ډبه بخښو مونږ ستاسو خطا ګانے البته زیات به

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶۱﴾ فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ قَوْلًا

ورکړو مونږ نیکي کوونکو ته ف۱ پس بدل کړو ظالمانو خبره ددوی نه بل لفظ

غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ

د هغه نه بیوا کوم چه دوی ته ویلے شوی وو پس ولیږلو مونږ په دوی عذاب د

السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۶۲﴾ ع

اسمان نه په سبب ددوی د شرارت

نکات: ۱۔ تتمه قصه ۱۲

موضح قرآن ف۱ هغه خلق وو چه کله د نبی علیه السلام زمانے ته راورسیدل نو ایمان یے راوړو لکه عبد الله بن سلام۔ ف۲ یعنی اوس یو ښار فتح شوے دے۔ وړاندے به ټول مُلک ملاؤ شی۔

تفسیر:- ۱۵۶ اول یے ذکرا وکړو چه په تورات او انجیل کښے موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام ددے جلیل القدر پیغمبر خوشخبری ورکړه۔ د دینه روستو یے په خپله نبی علیه السلام ته د خپل رسالت د اعلان کولو حکم ورکړو۔ ذکر ان موسیٰ بشّر به و ان عیسیٰ بشّر به ثم امره ان یقول بنفسه اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَیْکُمْ جَمِیْعًا (قرطبی ص ۳۰۲ ج ۷)

۱۵۷ دے نه مراد هغه یهودیان دی چا چه په نبی علیه السلام باندے ایمان راوړے وو لکه عبد الله بن سلام وغیره رضی الله عنهم۔

۱۵۸ دا تتمه واقعه ده۔ د یعقوب علیه السلام دولس ځامن وو ددے دولسو روڼو اولاد دبنی اسرائیلو دولس قبیلے وے۔ د الله تعالیٰ بنی اسرائیلو ته خپل احسانات وریاد کړل۔ د قوم په دولسو قبیلو باندے مشتمل کیدل دا هم د الله یو احسان دے۔ وَ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى الخ دا دویم احسان دے۔ موسیٰ علیه السلام ته الله حکم ورکړو چه خپله همسا په کټه اووهه د هغے نه د اوبو دولس چینے راووتلے او د هرے قبیلے خلقو به اسانئ سره د جدا جدا چینے نه اوبه اوڅکلے۔ او د نمرد ګرمئ نه د بچولو د پاره یے په هغوی باندے وریځ سورے کړه۔ او د خوراک د پاره یے ترنجبین او مرزان راولیږل چه کله به هغوی سحر پاسیدل نو یو قسم بوټو باندے به ترنجبین په ډیر مقدار کښے ملاویدل او مرزان به د هغوی خواله نزدے راتلل او هغوی به په لاسو نو باندے رانیول دا انعامات په میدان تیه کښے ورکړے شو۔

۱۵۹ د انعاماتو نه روستو د بنی اسرائیلو د سرکشئ او کجروئ ذکر یے اوکړو۔ د موسیٰ علیه السلام د وفات نه روستو یوشع علیه السلام د هغه خلیفه شو د هغه په مشرئ کښے بنی اسرائیلو د شام مُلک فتح کړو نو الله ورته حکم اوکړو چه د بیت المقدس ښار ته (الخ)

او هلته محما عبادت اوکړئ. او د باب نه د لته د بیت المقدس د ښار دروازه مراد نه ده بلکه د دے نه د بیت المقدس د جمات دروازه مراد ده. د دے ایت تفسیر په سورة بقره کښے تیر شو یدے (حاشیه ١١٧ نه تر ١١٩ پورے اوګورئ) ص ٢٥٢، ٢٥٣

١٦١ د دے تفسیر په سورة بقره کښے تیر شویدے. (حاشیه ١٢٠ او ١٢١ اوګورئ) ص ٢٥٣

وَسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِىْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ۘ

او تپوس اوکړه د دوی نه ١٦٢ حال د هغه کلی چه وو د دریاب په غاړه

إِذْ يَعْدُوْنَ فِى السَّبْتِ إِذْ تَأْتِيْهِمْ حِيْتَانُهُمْ يَوْمَ

کله چه زیاتے کولو دوی په حکم د خالی کښے چه کله به راتلل دوی ته مهیان په ورځ

سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَّيَوْمَ لَا يَسْبِتُوْنَ ۙ لَا تَأْتِيْهِمْ ۚ كَذٰلِكَ ۚ

د خالی د دوی سرته او کومه ورځ چه به خالی نه وه نه به راتلل د غسے

نَبْلُوْهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ

موږ د دوی ازمیښت اوکړو ځکه چه دوی نافرمانه وو فه او چه کله اووئیل ډلے ١٦٣ په دوی

لِمَ تَعِظُوْنَ قَوْمًا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا

کښے بیوے فرقے ولے نصیحت کوئ هغه خلقو ته کوم چه الله غواړی چه هلاک ئے کړی یا به په عذاب

شَدِيْدًا ۗ قَالُوْا مَعْذِرَةً إِلٰى رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٦٤﴾

سخت کړی دوی اووئیل د الزام لرے کولو په غرض سره ستا د رب په مخکښے او د دے د پاره چه شاید دوی

فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖٓ أَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ عَنِ

او بیا چه کله هغوی هیر ١٦٤ کړل هغه چه دوی ته پښودلے شوی وو نو نجات ورکړو موږ هغوته چه

السُّوْٓءِ وَأَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا بِعَذَابٍ بَئِيْسٍ ۭ بِمَا

منع به ئے کوله د بدئ نه او ونیول موږ ګنهګاران په ناکاره عذاب کښے په سبب د دوی

كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا

د نافرمانئ بیا چه کله زیات شو په هغه کار کښے چه منع شوی وو ترے نو موږ

لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴿١٦٦﴾ وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ

حکم اوکړو چه شئ شادو کان ذلیله ف۳۱ او هغه وخت یاد کړه چه کله خبر ورکړے ۱۶۷ الله و دستا

عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ

رب چه خامخا به لیږی لے شی په یهودو باندے د قیامت تر ورځے پورے ف۳۲ داسے کس چه ورکوی دوی ته ناکاره

إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾ وَ

بیشکه ستا رب ډیر زر عذاب ورکونکے دے او هغه بخښونکے مهربان دے وی او

قَطَّعْنَاهُمْ فِي الْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ

پریکړل مونږ ۱۶۸ الله دوی لره په ملک کښے فرقے فرقے ځینے په دوی کښے نیکان او ځینے

دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنَاهُم بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ

بل شان دی او مونږ د دوی آزمیښت اوکړو په ښیګړو سره او په بدو سره دے د پاره چه

يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾ فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ

دوی واپس راشی ف۳۳ بیا د دوی نه روستو ۱۶۶ الله راغلل ناخلفه چه وارثان جوړ شو د کتاب ف۳۴

يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا الْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا

اخلی اسباب د دے دُنیا د ژوند او وائی چه ۱۶۶ الله مونږ ته به معاف اوشی

وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم

او که داسے اسباب د دوی ته نور راشی نو هغه واخلی ف۳۵ آیا د دوی نه په کتاب کښے ۱۶۸ الله

مِّيثَاقُ الْكِتَابِ أَن لَّا يَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوا

نه وو اخستے شوے چه نه به وائی په الله باندے بیسوا د رښتیا او نه اودی لوستی

مَا فِيهِ ۗ وَالدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا

دی څه چه په دیکښے لیکلے دی او د آخرت کور بهتر دے د ویریدونکو د پاره آیا تاسو

تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتَابِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ

نه پوهیږئ ف۳۶ او کوم خلق چه ښه ونیسی ۱۶۹ الله کتاب او قائم ساتی مونځ

إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ ﴿١٧٠﴾ وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ

بېشکه مونږ به نه ضائع کوو ثواب د نیکي کوونکو　　او کله وخت چه اوچت کړو مونږ غر

فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ وَظَنُّوا أَنَّهُ وَاقِعٌ بِهِمْ خُذُوا مَا

د دوی د پاسه په مثل د سائبان او ګمان ئې وکړو چه غورزیدونکے دے په دوی، مونږ او وئیل چه

ربع ۲۱
اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧١﴾ ع

ونیسئ کوم چه مونږ تاسو له درکړیدی په طاقت سره او یاد کړئ څه چه دیکښے دی چه تاسو ځان وساتئ

نکات: سل دقصو په ختمیدو باندے بیا تخویف دنیوی کوم چه د الله حرامو له په حیلو سره د حلالولو کوشش کوی ۱۲ ـــ۲ کاف لبیان الکمال ۱۲ ـــ۳ تخویف دنیوی ۱۲ ـــ۴ یعنی د دغو خلقو نه پس بد خلق د هغوی په ځائی لاغلل حرام مال به بیا په هره طریقه باندے خوړلو او وئیل به یې چه مونږ ته به بخښنه کیږی ۱۲ ـــ۵ دا د هغوی مقوله (وئیلے شوے خبره) ده ۱۲ ـــ۶ د هغوی د مقولے تردید په اوله وجه ۱۲ ـــ۷ بشارت ۱۲ ـــ۸ تردید په دویمه وجه ۱۲ -

موضح قرآن ف۱ د داؤد علیه السلام په زمانه کښے قصه شویده - یهودیانو باندے د خالی په ورځ ښکار کول منع وو- الله پاک دے ښار والا نافرمان ولیدل نو امتحان یې پرے اوکړو- د خالی په ورځ به مهیان د اوبو په سر ګرځیدل او په نورو ورځو کښے به پټ وو هغوی زړه ټینګ نه کړو اخر د خالی په ورځ یې ښکار اوکړو په خپل علم او خیال کښے یې حیله اوکړه چه د دریاب په غاړه یې د اوبو ډنډونه جوړ کړل مهیان به په هغے کښے بند شول او په لاس نه به راتغلل - د خالی په ورځ به ما بنام لاړل او په اخر وخت کښے یې د هغے د وتلو لارے بندے کړے دا نور په ورځ به یې نیول - بیا هغه خلق شادی کان اوګرځیدل - دینه معلومه شوه چه کوم سړی ته حلال رزق نه ملاویږی او حرام چه خواړی نو ملاوشی نو دا د هغه امتحان دے په اخر کښے به هغه رزق عذاب وی - او معلومه شوه چه حیله د الله په نزد کار نه کوی ۱۲

ف۲ هغوی درے ډلے شول یو ښکار کوونکی یوے به منع کوله او یوه ستړے شوه او خلق به یې نه منع کول لیکن هغه بهتره وه چا چه خلق منع کول -

ف۳ منع کوونکو د ښکار کوونکو سره ملاویدل پریښودل او په مینځ کښے یې دیوال اودهلو یوه ورځ چه سحر پاسیدل - د نورو اوازونه یې وانه وریدل دیوال د پاسه چه ښکاره شو په هر کور کښے بیزو ګان وو هغوی د اخلق پیژندل او د خپلو خپلوانو په خپو کښے به یې سرونه کینبودل - او ژړل به یې ډیر په بد حال کښے درے ورځے روستو مړه شو.

ف۴ په تورات کښے یې فرمائیلی وو چه کله د تورات حکم پریږدئ نو په تاسو به نور خلق مسلط

شي بیا به تر قیامته پورې تاسو ذلیله اوسیږئ نوس دیهود وچرته حکومت نشته. دوي رعیت دے.

ف۵ دیهودیانو حکومت کېږدې شونو په خپلو کښې د مخالفت د وجې نه هر طرفته او وتل او مختلف مذاهب پیدا شول دا احوال یې دے اُمت ته اورسلے دي چه دا بتول هرڅه به په دوي باندے هم وي په حدیث کښې یې فرمائیلي دي چه دے اُمت کښې به هم بعضے بیزوګان او خنزیران کړي الله پاک دِ مونږ ته د داسې ګمراهئ نه پناه راکړي.

ف۶ مخکینو خلقو به رشوت اخستلو او غلطے مسئلے به یې بنودلے. او اُمید به یې لرلو چه مونږ به اُوبخښلے شو حالانکه بیا هغه کارته حاضر دي. د بخښنے اُمید خو هله دے چه کله منع شي. د دُنیا مال ته یې د ژوند اسباب او وئیل.

فتح الرحمن **ف۱** د کلي اُوسیدونکي درے قِسمه وُو. یو قسم به بنګار کولو او یو قسم به دهغے نه منع کوله او بل قسم به نه بنګار کولو او نهٔ به یې دهغے نه منع کوله. **ف۲** یعني دریم قِسم منع کوونکو ته. **ف۳** یعني په بني اسرائیلو باندے.

ف۴ د دے نه روستو هیڅ یو بادشاه د بني اسرائیلو کښې پیدا نه شو او همیشه د یو بل نه روستو د اسلام بادشاهان او نصارٰی او مجوس وُو. **ف۵** یعني د اسرائیلو عالمان.

ف۶ یعني همیشه اخستونکي دي د هغے او په هغے پښیمانه نه دي. او توبه د همیشه ګناه کوونکي چه پښیمانه نه وي صحیح نه ده.

تفسیر: ۱۶۱ د قِصو په اختتام کښې یې د اصحاب سبت واقعه ذکر کړه او د دینه مقصد تخویف دُنیوي دے. اَلْقَرْيَةَ نه اَیْلَة مراد ده چه د مدین او طور په مینځ کښې د سمندر په غاړه واقعه وه د خالي ورځ د موسٰی علیه السلام په شریعت کښې د تعظیم قابله وه او په دے ورځ کښې د مهیانو بنګار هغوي د پاره جائز نهٔ وُو لیکن د هغوي د ابتلاء او ازمائش د پاره د الله په حُکم سره به د خالي په ورځ داُوبو په سر باندے غاړے ته بالکل نزدے ډیرزیات را تلل او په باقي ورځو کښې به پټ وُو. د دے صورتِ حال کتلو سره هغوي د خالي د ورځے د تعظیم هیڅ خیال اُونهٔ ساتلو او د مهیانو بنګار یې شروع کړه بعضو مفسرینو لیکلي دي چه ابلیس ورته دا حیله اُوښودله چه د سمندر په غاړه تالاؤ جوړ کړي او د جمعے په ورځ مهیان اُوشړي او په حوض کښې یې واچوي او د اتوار په ورځ یې ونیسي نو هغوي په دے حیلے سره د الله حُکم مات کړو نو الله په هغوي عذاب نازل کړو او هغه هغوي ټول شادوګان اُوګرځیدل.

۱۶۲ په دے خلقو کښې درے ډلے وے اولے ډلے به د خالي په ورځ بنګار کولو. دویمے ډلے به هغوي د دے نه منع کول. او دریمے ډلے به نهٔ بنګار کولو او نهٔ به یې بنګار کوونکي منع کول. بلکه منع کوونکو ته به یې هم وئیل چه تاسو ته بنه معلومه ده چه الله تعالٰی دوي لره هلاکوونکے یا په سخت عذاب کښې اخته کوونکے دے په دے وجه هغوي ته د وعظ او نصیحت کولو سره خپل دِماغ ولے خرابوئ. قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ نو هغوي

جواب ورکړو چه مونږ خو د الله په مخکښې د معذرت په طور دوی د دے خراب فعل نه منع کولو۔ دے د پاره چه د نهی عن المنکر کومه فریضه زمونږ په ذمه ده په هغې کښې کوتاهی اونشی ممکن ده چه هغوی د دے کار نه منع شی۔ مَعْذِرَةً۔ د فعل مقدر یعنی د نَعْتَذِرُ د پاره مفعول مطلق دے۔ قال جمهور المفسرین ان بنی اسرائیل افترقت ثلث فرق.... فرقة عصت وصادت.... وفرقة نهت واعتزلت.... وفرقة اعتزلت ولم تنه ولم تعص وان هذه الطائفة قالت للناهیة لِمَ تَعِظُوْنَ قَوْمًا اللّٰهُ مُهْلِکُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِیْدًا اھ (قرطبی ص۳۰۷ ج ۷)

۱۶۳ دلته نَسُوْا په معنیٰ د تَرَکُوْا دے یعنی چه کله هغوی دخپل قوم صُلحاء او د ناصحینو نصیحت پریښودو او د هغې نه یې بالکل اعراض اوکړو نو د بدۍ نه منع کونکی خو مونږ بچ کړل لیکن هغه ظالمان چاچه سرکشی او نافرمانی کوله۔ درد ناک عذاب سره ونیول۔ فَلَمَّا عَتَوْا چه کله هغوی د الله په نافرمانئ کښې د حد نه مخکښې لاړل او د هغوی انکار د ضد او عناد حد ته اورسیدو نو مونږ د هغوی شکلونه مسخ کړل۔ او بیزوګان موترے جوړ کړل۔

۱۶۴ دا تخویفِ دُنیوی دے یعنی الله پاک د بنی اسرائیلو مشران خبر کړی دوکه چرے هغوی په آخر الزمان پیغمبر نبی اُمّی صلی الله علیه وسلم باندے ایمان رانه وړو نو تر قیامته پورے به ذلیل او خوار اوسیږی او په هغوی باندے به همیشه داسے خلق مسلط وی چه د هغوی د لاسونو نه به ورته سخت تکلیفونه رسیږی۔

۱۶۵ او مونږ د هغوی اتفاق ټکړے ټکړے کړو۔ او د زمکے په مختلفو حصو کښے مو هغوی خوارۀ وارۀ کړل او د هغوی قوت او دبدبه مو ختم کړه۔ په هره زمانه کښے به هغوی کښے ځینے ښهٔ خلق هم وو کوم چه په خپل اصلی دین باندے قائم پاتے وو یاچه کوم خلقو د نبی علیه السلام زمانه اومونده او په نبی علیه السلام یې ایمان راوړو لیکن اکثر فاسقان او کافران پاتے شو۔ وَبَلَوْنٰهُمْ الخ او مونږ په خوشحالئ او قحط سالئ او په نورو طریقو سره په آرام او راحت سره او تکلیفونو سختو سره په هغوی امتحان هم کولو دے د پاره چه هغوی دخپلو ګناهونو نه توبه کړی او د الله پاک د دین په رښتینی زړۀ سره تابعداری شروع کړی۔

۱۶۶ د قوم د صالحانو او نیکانو خلقو نه پس نااهله او خراب خلق پیدا شول چه د تورات په علمی میراث باندے یې قبضه اوکړه چه هغوی تورات د دُنیاوی اغراضو د پاره استعمالول شروع کړل۔ یَاْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰی هغوی به غلطے فتوے او حق خلاف فیصلے کولے۔ د خلقو نه به یې رشوتونه اخستل او په کتاب الله کښے به یې تحریف کولو۔ د غیر الله نذر او منتے به یې خنو او ورکولو سره حلالولے او عوامو ته به یې د دروغو خبرو سره د دولت په جمع کولو کښے اولګیدل۔ والمراد بهٰذا العرض ما یاخذونه من الرشا فی الحکومات وعلی تحریف الکلام (روح ص۹۱ ج ۹)

۱۶۷ د الله کتاب د خبیثه دُنیا په عوض کښے خرخوی او دا دعوی هم کوی چه په دے گناه به زمونږ نیول نه کیږی. په دے وجه چه د دوی دعوی وه چه نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ. وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ الخ دا د يَقُوْلُوْنَ د ضمیر نه حال دے یعنی یو طرفته خو هغوی دگناه د بخښنے اُمید لری. او بل طرفته د دوی دا حال دے چه دا گناه بار بار کوی. او د دُنیا د مال اسباب په عوض کښے د الله د کتاب خرخولو هیڅ یو موقعه د لاس نه نه ضائع کوی. په راتلونکو ایتونو کښے الله تعالٰی د دوی د دے ناکاره قول په څلورو طریقو سره رَد کړیدے.

۱۶۸ دا د یهودیانو د ذکرشوی قول د بطلان پرومبے دلیل دے یعنی که چرے هغوی بخښلے شوی وُو نو د هغوی نه په تورات باندے د عمل کولو وعدے اخستلو څه ضرورت وُو. مِيْثَاقُ الْكِتٰبِ یعنی هغه وعده چه په تورات کښے د هغوی نه اخستلے شوے وه. اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا دا د مِيْثَاقُ عطف بیان یاد هغے نه بدل دے یعنی میثاق (وعده) دا وه چه هغوی د الله طرفته حق خبره منسوب کړی. او د خپل طرفته غلطے خبرے جوړولو سره د الله په ذمه یے اُونه لګوی. او هغوی تورات لوستلے دے. او دا عهد هغوی ته ښه یاد دے. په دے وجه د هغوی دا فرض وُو چه هغوی دا وعده پوره کړے وے لیکن هغوی د ذلیله دُنیا د پاره د الله وعده ماته کړه. حالانکه د اخرت کور هغوی د پاره بهتر وُو که چرے هغوی د الله نه ویریدلے او په وعده باندے قائم اوسیدلے.

۱۶۹ دا په وعده باندے د قائم پاتے کیدونکو د پاره خوشخبری ده او دے نه هغه خلق مراد دی کوم چه د تورات په وعده باندے قائم پاتے وُو او د هغے په احکامو یے عمل اوکړو او په هغے کښے یے هیڅ قسم تحریف اُونکړو. مثلاً عبد الله ابن سلام او نور د اسلام قبلولو نه مخکښے یهودیان. قال مجاهد هم الذین اٰمنوا من اهل الکتاب کعبد الله بن سلام و اصحابه تمسکوا بالکتاب الذی جاء به موسٰی علیه السلام فلم یحرفوه ولم یکتموه ولم یتخذوه ماکلة (ابو السعود ص ۲۵۶ ج ۲)

۱۷۰ دا د یهودیانو د قول په قباحت باندے دویم دلیل دے یعنی که چرے هغوی بخښلے شوے وے نو په کوم طور به په هغوی باندے ولے پورته کړے شوے او د هغوی نه به د تورات قائمولو وعده ولے اخستلے شوے. چه کله موسٰی علیه السلام د بنی اسرائیلو په وړاندے تورات پیش کړو او د هغے په احکامو باندے د عمل کولو حکم ورکړو نو هغوی نافرمانه شول او وے ویل چه د دے احکام خو سخت دی مونږ به د دے عمل نه شو کولے د هغوی دا انکار پتول عناد وُو په دے وجه الله تعالٰی جبرئیل علیه السلام ته حکم ورکړو هغه د کوهِ طور پورته کړو او د هغوی په سرونو یے زوړند کړو. د بنی اسرائیلو یقین اُوشو چه دا به ضرور په دوی راغورزیږی. نو هغوی وعده اوکړه چه د تورات په احکامو به ضرور عمل کوی.

وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيٓ آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ

او چه کله راو ویستل ستا رب ... د بنی آدم د شا ګانو نه

ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ

د دوی اولاد لره ... او اقرار یې پرې اوکړو د دوی په خپلو ځانونو آیا زه ستاسو رب نه یم؟

قَالُوا بَلَىٰ شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا

وې ویل آؤ یې - مونږ اقرار کوو چه چرته اُونه وایئ د قیامت ... په ورځ چه مونږ خو

عَنْ هَٰذَا غَافِلِينَ (١٧٢) أَوْ تَقُولُوٓا إِنَّمَآ أَشْرَكَ آبَاؤُنَا

د دې نه خبر نه وُو یا دا او وایئ چه شرک خو را ویستلے وُو زمونږ پلار نیکه

مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا

زمونږ نه وړاندے او مونږ شوُ د هغوی اولاد د هغوی نه روستو ... نو آیا ته مونږ هلاکوے

بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ (١٧٣) وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ وَ

په هغه کار باندے چه کړیدے ګمراهانو ... او دغه شان مونږ واضحه بیانوُو آیتونه

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (١٧٤) وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيٓ آتَيْنَاهُ

دے د پاره چه دوی واپس راشي ... او واوروه دوی ته ... حال د هغه سړی چا له چه ورکړی

آيَاتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ

وُو مونږ خپل آیتونه بیا هغه یا تے کړل هغو لره ... بیا وریسے شو شیطان نو شو دے د ګمراهانو

الْغَاوِينَ (١٧٥) وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ

نه ... او که مونږ غوښتلے نو پورته کړے به وه پرے مونږ د ده مرتبه ... لیکن دے اوغورزیدو

إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ

زمکے ته او وریسے شو د خپلو خواهشونو نو د ده حال داسے دے لکه ... سپي

إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ذَٰلِكَ مَثَلُ

پر ده که ته بوج واچوے ... نو هم هو کیږی او که پریږدے یې نو هم هو کیږی. دا مثال دے د

الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ

هغه خلقو چا چه دروغژن کړل زموږ آیتونه نو بیان کړه دا حالات

لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ سَاءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِينَ

دے د پاره چه دوی فکر اوکړی ٧٦ بد مثال دے د هغه خلقو چه

كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَأَنْفُسَهُمْ كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٧٧﴾ مَنْ

دروغژن یې کړل زموږ آیتونه او دوی خپل نقصان کولو څوک چه

يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِي ۖ وَمَنْ يُضْلِلْ فَأُولَٰئِكَ

الله په لارے کړی ٧٧ هم هغوی لاره موندی او څوک چه هغه ګمراه کړی پس

هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٧٨﴾ وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ

هغوی دی په تاوان کښے ٧٨ مونږ پیدا کړیدی د دوزخ د پاره ډیر

الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ

پیریان او انسانان د دوی زړونه شته چه پوهه پکښے نشته او د دوی

أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ

سترګے دی چه لیدل پکښے نشته او د دوی غوږونه دی چه اوری پرے

بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ

نه دغه دا رنګے دی لکه څاروی بلکه دوی نه هم زیات بے لارے دی دغه دی

الْغَافِلُونَ ﴿١٧٩﴾ وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَ

غافلان ٧٩ او الله د پاره دی ښول نومونه بنده ١٨٠ پس هغه رابلئ په هغے سره او

ذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا

پریږدئ هغوی لره چه کوږ والے راوباسی د هغه په نومونو کښے ٨٠ دوی به بدله ورکړے شی د

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٨٠﴾ وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ

[illegible] کړو ٨٠ او د هغه خلقو نه کوم چه ٨١ مونږ پیدا کړیدی یوه ډله ده چه لار ښایی

بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۸۱﴾

رښتونے او ددے موافق انصاف کوی ف

نکات: ۱۷۲ تردید په دریمه وجه ۲ ۱۷۲ دا مِنْ دَ بَنِيْٓ اٰدَمَ نه حال دے او دهر انسان دپیدائش په وخت وعده د اخستل ترے مراد دی. تائید فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ۔ او په حدیث کښے دی کل مولود یولد علی الفطرة الخ ۱۲
۱۷۲ ای من ان تقولوا من اجلیه محذوف دے ۱۲ ۱۷۵ تردید په څلورمه وجه سره. د واقعه د بلعم بن باعور د کوم هغه د توحید او نیک عمل نه روستو مشرک او بد عمله شو. د هغه ژبه د خُلے نه بهر راووتله د سپی پشان دا دهغه د ذلت بیان دے. دا الله په نزد د ټولو مشرکانو د شه حال دے ۱۲ ۱۷۹ د دے ځائی نه په آیتونه د دریوارو دعوو متعلق راځی دا آیت د رومبئ دعوے سره متعلق دے ۱۲ ۱۸۰ دا آیت د دویمے دعوے سره متعلق دے. یعنی د ځناورو پشان بربنډ کیدل خوښوی ۱۲ ۱۸۱ دا آیت د دریمے دعوے سره متعلق دے ۱۲ ۱۸۱ دا آیت د رومبئ دعوے سره متعلق دے ۱۲

موضح قرآن ف ۱ الله تعالیٰ د آدم علیه السلام د شانه د هغه اولاد راوویستل د ټولو نه یے اقرار واخستو د خپلے خدائی بیا یے په شا کښے داخل کړل. د دے نه مقصد دا دی چه هر څوک د خدائی په منلو کښے په خپله کافی دے. د پلار نیکه تقلید بکار نه دے. که چرے پلار شرک کوی نو څوک له بکار دی چه ایمان راوړی که چرے د چا شک وی چه هغه وعده خو یاده پاتے نه شوه. نو بیا څه حاصل ؟ نو دلے د پوهه شی چه د هغے نښه د هر چا په زړه کښے شته او په هر ژبه د هغے شهرت کیږی چه د ټولو خالق الله دے ټول جهان د دے قائل دے او چه څوک منکر دی او شرک کوی نو د خپل ناقص عقل په مداخلت سره شرک کوی بیا هغوی په خپله دروغژن دی.

ف ۲ د موسیٰ علیه السلام لښکر یو بادشاه ته ورتے د هغه په مُلک کښے یو فقیر وو چه صاحب تصرف وو بادشاه د هغه نه امداد اوغوښتلو هغه د باطن نه منع شو. بیا بادشاه د هغه ښځے ته د مال طمع ورکړه هغے دے راضی کړو او هلته یے (بادشاه) ته اولیږلو هلته یے د خپل عمل څه اثر اونه لیدلو بادشاه ته یے حیله (چَل) اوښوده چه د موسیٰ علیه السلام په لښکر کښے بدکاره (فاحشه) ښځے پریږده او چه کله خلق زنا کاری اوکړی نو په هغوی باندے به ذلت پریوځی. الله تعالیٰ د موسیٰ علیه السلام په برکت حیله ناکام کړه لیکن ښودونکے مردود اوګرځیده شاید چه په دُنیا کښے دا عذاب وُو یا کیدے شی چه په آخرت کښے به هغه ته دا عذاب وی چه د سپی پشان به یے ژبه زوړند وی. الله تعالیٰ دا قصه یهودیانو ته واورولو چه اګرچه تاسو سره علم کامل وی خو بکار به هغه وی چه تاسو د هغے تابع شئ عمل پرے اوکړئ او چرے

د حرص تابع یئ او غواړئ چه علم زمونږ په فائده کښے راشي نو هیڅ نه کیږي کرےشي چه د خپید ونکي سپي مثال په دیکښے داوي چه تر خو پورے هغه حرص نه خالي وي هغهٔ ته د باطن نه صحیح معلومه شوه. لیکن چه کله یے په کښے حرص کیناستلو نو د باطن نه ورته معلومه نهٔ شوه یا هغهٔ ته مجمل معلومه هغه یے د خپل طبیعت موافق اوګنړل. نقل شوی دی چه کله هغه روان شو نو خوښتل چه بیا د غیب نه ورته څهٔ معلومات اوشي نو هغه وخت ورته معلومه چه څه لاړ شه چه کله لاړ شه ته اورسیدهٔ نو یوه فرشته ورته په لاره کښے ملاو شوه برښړه توره یے لاس کښے وه هغهٔ ورته د رخواست اوکړو چه که څرے حکم وي نو لاړ شم. هغے اوویل لاړ شه لیکن څهٔ بد دعا مهٔ کوه. بیا یادشاه ته اورسیدهٔ او بیا یے کوله دخلے ته یے پخپله ئیکه دعاوتل شروع شوه د موسیٰ علیه السلام لښکر مجبوراً هغه حیله اوښودله.

ف۳ یعني الله او رسول پیژندل او د هغوی حکمونه زده کول په هر چا فرض دي که څوک اسے اونکړي نو دوزخ ته به ځي.

ف۴ یعني الله تعالیٰ خپل صفتونه بیان کړیدي چه په دعا کښے هغے سره الله ته اواز کوئ چه هغه ستاسو طرفته متوجه کیږي. او په کړه لاره مهٔ ځئ چه کوم صفتونه یے نهٔ دي بیان کړي هغه اووائئ. لکه چه الله ته لوئ ویلے شي. اووږد تعالیٰ ویلے یا قدیم ویلے شي زوړ نهٔ شي ویلے. او بوه کږه لاره دا ده چه هغه په سحر کښے هغوی به د خپلو کړو بد له بیا مومي یعني د خدائ قرب به هغوی ته نهٔ ملاویږي مطلب به ملاویږي نبهٔ یابد. **ف۵** یعني په شرع باندے.

فتح الرحمٰن **ف۱** یعني روز میثاق از آدم اولاد اورا پیدا کرد و از ایشان اولاد ایشان بترتیبي که در خارج متحقق شد والله اعلم ۱۲.

ف۲ یعني نو د هغوی تقلید مونږ اوکړو ۱۲ **ف۳** یعني د نفس د شهوت تابع شول د شهوتِ نفس تابع ته عالِم نهٔ شي ویلے ۱۲ **ف۴** یعني بلعم بن باعور چه د الله کتابونه یے لوستلي وو د هغے نه روستو د خپلے ښځے ګمراه کولو سره په خپله یے موسیٰ علیه السلام ته د تکلیف رسولو قصد اوکړو او ملعون شو ۱۲ **ف۵** یعني د هغهٔ مرتبه ۱۲ **ف۶** یعني ژبه وهلو سره زغلول ۱۲ **ف۷** یعني ابو المسیح او ابو الملائکة به یے ویل ۱۲

تفسیر:- ۱۷۲ دا د هغوی د باطل قول د رد دریمه وجه ده. یعني که څوک مخلے شوے وے نو د ټولو بنیاد موسره به مونږ د هغوی ته د ربوبیت وعده ولے مِنْ ظُهُوْرِهِمْ د مِنْ بَنِیْٓ اٰدَمَ نه بدل دے. او ذُرِّيَّتَهُمْ د اَخَذَ مفعول دے یعني د اولاد نه مونږ اولادِ آدم پیدا کړو او د ټولو نه مو وعده واخستله اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ ایا زه ستاسو پروردګار او مالک نهٔ یم. قَالُوْا بَلٰی نو ټولو اوویل ولے نهٔ؟ بیشکه ته زمونږ

رب یې مونږ. تول ددے اقرار کوُو چه ته زمونږ رب او معبود یې. والمعنی شهدنا انك ربنا والهنا (قرطبی ص۳۱۴ ج ۷) دا وعده کله واخستلے شوه؟ عام طور باندے مفسرینو لیکلی دی چه دا وعده په عالمِ اَرواح کښے واخستلے شوه. په دے شان چه د آدم علیه السلام د شانه یې دهغه د ټول اولاد روحونه اوویستل او د هغوی نه اقرار واخستلے شو. حضرت شیخ رحمه الله اوفرمائیل چه دا وعده د هر سړی نه دهغه د پیدائش په وخت اخستلے شی. هم دا وجه ده چه هر کس دخپل فطرت په لحاظ سره مؤحد وی ځکه چه الله پاك فرمائی: فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِیْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَیْهَا لَا تَبْدِیْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ (روم ع۴) دغه شان یو ځائی کښے فرمائی: وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَیَقُوْلُنَّ اللّٰهُ (زخرف ع۷) دا د الله د خالق او مالك کیدو سبق هغوی ته د پیدائش د وخت نه ملاؤ شوے وُو.

۲۷۲ دا په اصل کښے کراهة ان تقولوا یا لئلا تقولوا وُو یعنی د ربوبیت دا وعده موږ ځکه واخستله چه د قیامت په ورځ تاسو دا اُونه وئیلے شئ چه مونږ خو د توحید نه بالکل ناخبره وُو او مونږ ته ددے بالکل عِلم نه وُو. اَوْ تَقُوْلُوْا دا په وړمبی تَقُوْلُوْا باندے معطوف دے. او نه دا عُذر پیش کړے شئ چه د شرك اصلی بانیان خو زمونږ پلاران اونیکونه وُو مونږ د هغوی نه روستو پیدا شو. او مونږ خو محض د هغوی لید لو او کتلو سره شِرك اوکړو. په دے وجه د هغوی د فعل په وجه سره مونږ ولے هلاکوې ددے عُذر ختمولو د پاره مونږ د هر یو نه وعده واخستله.

۲۷۳ دا د هغوی د قول رَد کولو ځلورمه وجه ده یعنی که چرے هغوی بخښلے شوے وے او د هغوی هیڅ یو نیك عمل ته حاجت او د ګناهونو نه د بچکیدو ضرورت نه وے. نو د هغوی یو نیك او پرهیزګاره سړے به د هغه د لوئے ګناه د وجے نه مونږ د ذِلت په کنده کښے ولے غورزولے. په دے آیتونو کښے د بلعم بن باعوراء قِصے طرفته اشاره ده. بلعم بن باعوراء د بنی اسرائیلو نه وُو او هغه سره د آسمانی کتاب عِلم وُو هغه ډیر نیك او صالح وُو. وئیلے شی چه هغه اسمِ اعظم پیژندو. په دے وجه هغه ډیر مستجاب الدعوات وُو. روستو د دولت لالچ او د خپلے بی بی غلُولو سره آیتونه او هدایات یې پریښودل او ګمراه شو چه کله موسیٰ علیه السلام د جبارینو سره د جهاد اراده اوکړه نو هغوی بلعم ته راغلل او هغه ته یې موسیٰ علیه السلام باندے د بد دُعا د رخواست اوکړو. اول خو هغه انکار اُوکړو او وے وئیل چه موسیٰ علیه السلام د الله پیغمبر دے. او هغه سره فرشتے او مؤمنان دی په دے وجه زه هغه ته ځکه بد دُعا اوکړم. آخر د هغوی په تاکید او په ځینے تحفو پیش کولو باندے او د ښځے په غلُولو باندے هغه اُومنله. خو چه ځکه هغه د الله د نبی خلاف ژبه پرانستله. الله د هغه ټول روحانیت واخستلو ټول کمالات یې زائل شول د ایمان نه محروم کړے شو هغه ژبه د خُلے نه بهر را ووتله او ځکه زوړنده شوه ځکه چه د سختے ګرمئ د وجے نه د سپی ژبه بهر ته راوځی او ساه یې تیزه راځی. دیکښے د هغه د ذِلت اظهار دے.

۲۷۴ یعنی هغه دُنیا طرفته مائل شو ای رکن الی الدنیا ومال الیها (روح ج ۹ ص ۱۱۲) د طبیعت دِ ذلت او رذالت مثال بالکل د سپي پشان دے. که چرے تاسو په هغه باندے حمله اوکړئ او وے زغلوئ نو هم هغه ژبه زر ساه آخلي او که چرے هغه آزاد پریږدئ نو هم هغه ژبه زر ساه آخلي. یعني ژبه بهر راویستل او زر زر ساه اخستل د هغه طبیعي عادت دے. دغه شان د بلعم بن باعوراء ژبه زوړنده شوے وه.

۲۷۵ دا اَلَّذِیْنَ کَذَّبُوْا نه د مکے مشرکان مراد دي. څنګه چه د ابن عباس رض نه نقل شویدي اول به هغوي ارزو کوله چه هغوي ته د الله د طرفته یو هدایت کوونکے او لار ښودونکے راشي چه کله د الله پیغمبر هادي جوړ شو او راغے نو د الله د آیتونو تکذیب ئے شروع کړو او د هدایت د لارے نه لرے وتل (روح) د دے خلقو مثال بعینه د بلعم بن باعوراء پشان دے چه هغه ته الله هدایت اوکړو لیکن هغه د هدایت نه اووتلو او د شیطان تابع شو. سَآءَ مَثَلًا الخ د الله آیتونو لره دروغ ګڼړونکو او په خپلو ځانونو باندے ظلم کونکو مثال ډیر زبات بد دے. هیڅ یو غیرتمن انسان دے لره پخپل ځان باندے لګولو ته تیار نه دے.

۲۷۶ دا د آولے دعوے سره متعلق دے یعنی تاسو په جرأت او استقلال سره د توحید تبلیغ کوئ هدایت او ګمراهي د الله په اختیار کښے ده.

۲۷۷ دا د دویمے دعوے سره متعلق دے. کوم خلق چه په کُفر او شرک باندے ضد یان دي او د ضد او عناد د وجے نه د حق خبرے نه انکار کوي هغوي مونږ د جهنم د پاره پیدا کړیدي. هغوي نه مونږ زړونه ورکړل، سترګے او غوږونه مو ورکړل لیکن هغوي د دے څیزونو نه فائده نه آخلي، بلکه هغوي بالکل د څارو پشان دي چه هغوي کښے د حق او د باطل هیڅ فرق نشته بالکل هم دا حال د دے خلقو دے. تردے چه هغوي د څارو پشان د بربنړ والی نه هم نه شرمیږي څنګه به چه مشرکانو د کعبے د طواف په وخت کولو.

۲۷۸ دا د دریمے دعوے سره متعلق دے یعنی د الله پاک بے شماره صفاتي نومونه دي. تاسو په دے صفتونو سره صرف هغه ته آواز کوئ او د هغه نه حاجتونه غواړئ د هغه نه سوا بل څوک عَالِمُ الْغَیْبِ نشته او نه کارساز شته. وَ ذَرُوا الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ او کوم خلق چه د الله په صفاتو کښے الحاد اوکوي والے اختیاروي تاسو د هغوي نه ځان ډُسا تئ هغوي ته به د خپلو کړو سزا ملاویږي. د الله په صفاتو کښے د الحاد نه مراد دا دے چه د هغه په صفاتو کښے بل څوک شریک کړے شي یا څوک د الله ولد او نائب کرځولو سره د الله پلار والے هغه طرفته منسوب کړے شي څنګه چه عیسایانو او د مکے مشرکانو به کول، شاه ولی الله رح فرمائي "یعني ابو المسیح، ابو الملائکه بسیے و شیل (فتح الرحمٰن)

۲۷۹ د دے نه مراد هغه خلق دي چه د پوره ذکر شوو صفتونو لره ونکو نه علاوه دي.

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا
او هغوی چه دروغجن گڼل نښله زمونږ آیتونه موږ به دوی لره رو رو نیسو د داسې ځای نه چه دوی

يَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٢﴾ وَاُمْلِيْ لَهُمْ ۚ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ﴿١٨٣﴾ اَوَلَمْ
پرې به دوی خبر هم نه وی او زه به دوی له مهلت ورکړم بېشکه زما تدبیر پوخ دے آیا دوی

يَتَفَكَّرُوْا ۜ مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ
فکر او نکړو ښله چه د دوی په ملگری کښې هیڅ لیونتوب هم نشته هغه خو ویرونکے دے

مُّبِيْنٌ ﴿١٨٤﴾ اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَ
ښکاره ١٨٤ آیا دوی نظر نه کوی په حکومت کښې د آسمانونو او

الْاَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۙ وَّاَنْ عَسٰٓى اَنْ
د زمکې او څه چه پیدا کړیدی الله د هر شی نه او په دیکښې شاید چه نزدې

يَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۢ بَعْدَهٗ
راغلے وی د دوی وخت نو د دے نه پس په دوی په کومه خبره

يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٨٥﴾ مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ۭ وَ
ایمان به راوړی څوک چه الله گمراه کړی هغه ته هیڅوک نشته لار ښودونکے او

يَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٨٦﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ
دوی پرېږدی په سرکشۍ د دوی په شرارت کښې سرگردانه ستا نه تپوس کوی ښله د

السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ۭ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ ۚ
قیامت چه کله به وی د دے د قائمیدو وخت ته او وایه چه د دے خبر خو زما د رب سره دے

لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ ۘ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ
هم هغه به ئے ښکاره کوی د دے په وخت هغه درنه خبره ده قطعاً په آسمانونو او

الْاَرْضِ ۭ لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ۭ يَسْـَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ
زمکه کښې کله چه په ناسوراشی تو به خبره به راشی ستا نه تپوس کوی لکه چه ته

حَفِيٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ

دے په تلاش کښې. ئیے وایه ! نشته دے علم د هغې مگر خاص الله سره لیکن اکثر

النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ قُلْ لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا

خلق نه پوهیږی نه او وایه چه زه ۱۸۲ مالک نه یم دځان د نفع

وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ

او نه د نقصان مگر څه چه الله او غواړی او که چرے زه ۱۸۳ پوهیدے د غیبو په خبرو

لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ ۚ إِنْ أَنَا

نو ډیرے بیګړے به م حاصلے کړے وسے او ما ته به کله هم نقصان نه وو رسیدلے زه خو

إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾ ع ٢٣ ١٢

صرف ویره او خوشخبری اورونکے یم ایمان اوړونکو خلقو ته

نکات: ۱ دا ایت د دریمې دعوے سره متعلق دے ۱۲ ۲ زجر ۱۲ ۳ زجر په طور د شکوے چه قیامت خونه منی البته تپوس کوی ۱۲ ۴ د شکوے جواب په اوله وجه سره ۱۲ ۵ جواب په دویمه وجه سره ۱۲ ۶ جواب په دریمه وجه سره ۱۲ ۷ جواب په څلورمه وجه سره ۱۲ ۸ جواب په پنځمه وجه سره ۱۲ ۹ جواب په شپږمه وجه سره ۱۲ ۱۰ جواب په اوومه وجه سره ۱۲

موضح قرآن ف ۱ پیغمبر ته یے رفیق او ویلو ځکه چه پیغمبر همیشه هغوی سره دے او هغوی د ده د حال نه خبردی۔

فتح الرحمن ف ۱ یعنی د قیامت پیژندل مشکل شویدی ۱۲ ف ۲ یعنی په هغے عالم یے ۱۲

تفسیر ۱۸۰ دا د اولے دعوے سره متعلق دے تا سو د توحید تبلیغ فریضه سرته رسوئ کوم خلق چه د عناد په وجه تکذیب کوی. مونږ هغوی لره په مزه مزه هلاکت طرفته بوځو. مونږ هغوی ته دے دپاره مهلت ورکړیدے چه هغوی په کولاو زړه گناهونه اوکړی او د اخرت د سخت عذاب مستحق اوګرځی. لیکن هغوی په دے غلط فهمئ کښے مبتلا دی چه الله د دوی نه راضی دے. لیس المطلوب الا تدرجهم فی مدارج المعاصی الی ان یحق علیهم کلمة العذاب الاخروی والدنیوی علی ما قیل علی افظع حال واشنعها وادرار النعم وسیلة الی ذلك (روح ص ۱۲۶ ج ۹)

۱۸۱ دا د منکرینو دپاره زجر دے. اَوَلَمْ یَنْظُرُوْا الخ دا د زمکے او اسمانونو کتاب د

عبرت صفحات ددوی په مخکښے پرانستلے شویدی ایا هغوی په دیکښے غور نه کوی دا تکوینی دلائل دومره واضحه دی چه دد ے لپاره لوسره خا خاه دالله پاک د توحید یقین کیږی او ایا هغوی چرته په دیکښے فکر نه دے کړے چه چرته ددوی دمرګ نیټه یا د عذاب نیټه نزدے راغلے وی. که چرے هغوی اوس په قرآن باندے ایمان را نه وړی نو ددے نه روستو به په کوم څیز باندے ایمان راوړی کوم غلق چه د قرآن پشان رښتونی کتاب او خالص رښتونے کتاب باندے ایمان را نه وړی کوم چه ددوی دخلاصی او د کامیابئ ضامن دے په اصل کښے ددوی فطرتونه مسخ شویدی او ددوی د سوچ کولو او د پوهے قوتونه باطل شویدی. اذالم یؤمنوا بهذا الحدیث هو الصدق المحض وفیه نجاتهم وخلاصهم فکیف یصدقون بحدیث غیره والمعنی انه لیس من طباعهم التصدیق بما فیه خلاصهم (بحر ص ۴۳۳ ج ۴)

۱۸۲ زجر دے چه تاسو هغوی د قیامت نه ویروئ نو دمنلو په ځائ اُلټه د ضد او عناد په وجه سوالونه کوی چه، صحه قیامت به کله راځی. دنبی علیه السلام نه د قیامت د علم نفی په اوؤ طریقو سره اوشوه. ړومبئ طریقه: الله پاک اُوفرمائیل چه تاسو دے په جواب کښے صفا اووایئ. اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ چه ددے علم صرف الله ته دے چه قیامت به کله راځی. دویمه طریقه: لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلَّا هُوَ. چه کله د هغے وخت را شی نو صفه به یے ځپله ظاهر کړی. دریمه طریقه: ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ الخ په زمکه او آسمانونو کښے د قیامت د علم معامله ډیره اهمه ده. د زمکے او آسمانونو د ټول مخلوق نه د قیامت علم پټ دے. او د هر یو اراده ده چه ددے علم په هغه ښکاره شی. ای کل من اهلها من الملائکة والثقلین اهمه شان الساعة ویتمنی ان یتجلی له علمها ویشق علیه خفاءها (مدارک ص ۶۴ ج ۲) والمراد کبرت وعظمت علی اهلها حیث لم یعلموا وقت وقوعها (روح ص ۱۳۳ ج ۹) څلورمه طریقه: يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا مشرکان د قیامت په باره کښے ستاسو نه داسے تپوس کوی لکه چه تاسو د هغے په تلاش او لټون کښے یئ او ددے علم مو حاصل کړیدے ای عالم بها کثیر السوال عنها (قرطبی ص ۳۳۶ ج ۷) پنځمه طریقه: قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ. دوباره یے تاکیداً حکم ورکړو چه ته اعلان اوکړه چه د قیامت علم صرف الله سره دے. الله پاک د قیامت علم د ټول مخلوق نه پټ ساتلے دے ځکه چه د حکمت تشریعیه غوښتنه داده. دغه شان د انسان د مرګ وخت پټ ساتلے شویدے ځکه چه دا څیز د الله د احکامو په ځائ راوړلو او د ګناهونو نه ځان ساتلو کښے زیات معاون او مؤثر دے تر دے چه الله پاک ددے علم هیڅ یو نبی مرسل او یو مقرب فرښتے ته هم نه دے ښکاره کړے. وانما اخفی سبحانه امر الساعة لاقتضاء الحکمة التشریعیة ذلک فانه ادعی الی الطاعة وازجر عن المعصیة کما ان اخفاء الاجل الخاص للانسان کذلک... وظاهر الآیات انه علیه الصلوٰة والسلام لم یعلم وقت قیامها نعم علم

علیه الصلوٰة والسلام قربها علی الاجمال (روح ص۱۳۲ ج ۹)

۱۸۳ شپږمه طریقه: د قیامت علم خو بو طرف ته هغه خو دیره لویه خبره ده. زه خود خپلې نفع او د نقصان هم مالک نه یم اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ دا استثناء منقطع ده یعنی کوم څه چه الله او غواړي هغه کیږي. په دې کښې دا انتهائي عاجزي اظهار دے او دے نه د نبي علیه السلام د قیامت د علم نه عجز په کامل طور ثابتیږي. ولٰکن ماشاءالله من ذلك کائن فالاستثناء منقطع وهذا ابلغ في اظهار العجز (ابوالسعود ص۲۸۹ ج ۲) والکلام مسوق لاثبات عجزه عن العلم بالساعة علی اتم وجه (روح ص۱۳۶ ج ۹)

۱۸۴ اوومه طریقه: دا د نبي علیه السلام نه د علم غیب په نفی باندے بو واضح دلیل دے یعنی که چرے زه په غیبو عالم وے نو د دُنیا ټولے نفعے به ما حاصلے کړے وے او د ټولو نقصانونو نه به مخان بچ کړے وے او ما ته به هیڅ تکلیف نه رسیدلے اهل بدعت وائي چه دلته کُنْتُ د ماضي صیغه ده او دا تیرے شوے خبره ده روستو ورته کلي علم حاصل شوے وُو. د دے جواب دا دے چه کله د لَوْ کلمه په ماضي باندے داخله شي نو هغه استمرار فائده ورکوي څنګه چه په شرح عقائد او د خیالي په حاشیه کښې ذکر شویدی د خیر نه مراد دُنیاوی نفعے او د سُوء نه مراد دُنیاوی تکلیفونه دي. او په دې کښې شك نشته چه د نبي علیه السلام نه ډیرے دُنیوی نفعے فوت شوي دي. او ډیر دُنیوی تکلیفونه ورته رسیدلي دي. باقي پاتے د آخرت خیر نو هغه ورته پوره او کامل حاصل وُو او د آخرت د تکلیفونو نه هم محفوظ وُو لهٰذا اوس د بدعتیانو دا اعتراض باطل شو چه ستاسو د مطلب نه خو نعوذ بالله د نبي علیه السلام د نفع او خیر نه محرومیدل لازم شو.

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ

هم هغه دے چا چه تاسو پیدا کړي دي له یو نفس نه او هم د هغه نه

مِنْهَا زَوْجَهَا لِیَسْکُنَ اِلَیْهَا ۚ فَلَمَّا تَغَشّٰهَا حَمَلَتْ

یے جوړه کړه د هغه جوړه چه هغه سره آرام ونیسي بیا چه کله سرې ښځے له پټه کړه حمل یے

حَمْلًا خَفِیْفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ۚ فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ

ونیوه سپک حمل نو ګرځیده به دے سره بیا چه کله درنه شوه نو دواړو وبللو الله

رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَیْتَنَا صَالِحًا لَّنَکُوْنَنَّ مِنَ الشّٰکِرِیْنَ ﴿۱۸۹﴾

خپل رب له چه که تا مونږ ته راکړو بنده نیک نو مونږ به ستا شکر ادا کړو ستا

فَلَمَّآ اٰتٰىهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَآ اٰتٰىهُمَاۚ

بیا چه کله یې ورکړ دوی لره ورکړو بنده نیک نو جوړ یې کړل هغه لره شریکان د هغه ورکړي خیر کښے

فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾ اَيُشْرِكُوْنَ مَا لَا يَخْلُقُ

پس الله لوئی دے د دوی د شریک جوړولو نه ف ۲۰۵ ایا شریک جوړوي هغو لره چه نشي

شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿۱۹۱﴾ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ لَهُمْ نَصْرًا

پیدا کولے یو څیز هم او هغوی پیدا شوي دي او نه دوی مدد کولے شي

وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۲﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى

او نه خپل مدد کولے شي او که تاسو هغوی راوبلئ لارے

الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ ؕ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ

طرفته نو نه ځي ستاسو په بلنه باندي ف ۲۰۶ برابره ده تاسو لره که دوی رابلئ

اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ﴿۱۹۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ

یا چپ اوسئ کوم چه ف ۲۰۷ تاسو بلئ د

دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا

الله نه سوا هغه بنده ګان دي ستاسو پشان پس وبلئ دوی لره پس پکار دي چه قبوله

لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾ اَلَهُمْ اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ

کړي دوی بلنه ستاسو که تاسو رښتونی یئ ایا د دوی خپے شته چه هغے سره ځي

بِهَآ ۡ اَمْ لَهُمْ اَيْدٍ يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ ۡ اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ

ف ۲۰۸ یا د دوی لاسونه شته چه هغے سره نیول کوي یا د دوی سترګے شته

يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ ۡ اَمْ لَهُمْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ قُلِ

چه هغے سره لیدل کوي یا د دوی غوږونه شته چه هغے سره آوري ته اووایه

ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيْدُوْنِ فَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۱۹۵﴾ اِنَّ

چه راوبلئ خپل شریکان بیا بدي اوکړئ ځما په حق کښے او ما ته مهلت مه راکوئ ځما

وَلِيِّـۧ اللّٰهُ الَّذِيْ نَزَّلَ الْكِتٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى

حمایت کوونکے خو الله دے چا چه نازل کړو کتاب او هغه حمایت کوی

الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۹۶﴾ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا

د نیکانو بندګانو او څوك چه تاسو بلئ د هغهٔ نه سوا لګیاله هغوی

يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۷﴾

نهٔ شی کولے ستاسو مدد او نه خپل ځان بچ کولے شی

نکات: ۱ دویمے دعوے سره متعلق دے یعنی د اولاد آخستلو د پاره د غیر الله نذرانو منښتے ورکوی، په دے آیتونو کښے د مشرك خاوند او ښځے ذکر دے د آدم او حوا ذکر نهٔ دے ۱۲ ۲ خطاب مشرکانو ته دے ضمیر منصوب نه معبودان دی یا مخاطب نبی علیه السلام او صحابه دی او د ضمیر منصوب نه مراد مشرکان دی ۱۲ ۳ د دریمے دعوے سره متعلق دے ۱۲ ۴ د دے نه مراد باطل معبودان دی یا مشرکان ۱۲

موضح قرآن فائدے وائی چه آدم او حوا باندے دا تیر شول اول حمل چه کله اوشو ابلیس هلته دیو نیک سړی په شکل کښے راغے او وئیے ویله چه شاید ستا په خیټه کښے څهٔ بلا ده چه کله دواړو دُعا شروع کړه هغه وخت ئے ورته اووئیل چه ستا دُعا سره به دا بلا بند له شی او څوئ به د پیدا شی نو د هغهٔ نوم عبد الحارث کیږده حارث د شیطان نوم وو. هم هغسے ئے اوکړل. د دے قصے کښے د پیغمبرانو نه شرك ثابتیږی دا قصه غلطه ده- په دے آیت کښے ئے د سړی او ښځے ذکر فرمائیلے دے آدم او حوا ئے نهٔ دی وئیلے اګر چه اول ذکر هم د هغوی اوشو یا دا سے اووایئ چه کوم څهٔ په انسانانو کښے کیدل مقدر وو هغه آدم کښے اول ظاهر شول بیا هغے کښے هغه د تقدیر نمونه وه د اولاد ګناه په هغوی کښے په نظر راغله لکه په آئینه کښے شکل او صورت. نو د نفس خواهش او د الله بے حکمی او وعده هیریدل او نور منکرات کیدل دا ټول عادتونه او خویونه په هغوی کښے په نظر راغلل۔

فتح الرحمن فائدہ مترجم وائی چه منطبق دے په حال د حوا خکه چه صحیح حدیث کښے راغلی دی چه کله حوا حامله شوه نو د هغے په زړهٔ کښے ئے وسوسه واچوله او چه کله ئے څوئ پیدا شو نو د هغهٔ نوم ئے عبد الحارث کیښودهٔ او چه کله د بتو لو قید و نو وجود د دے قسمه خبرونو سره ضروری نهٔ دے آدم به د شرك د ملوث کیدو نه بری وی او دا آیت د هغهٔ د عصمت سره ټکراو نه خوری کما فهمت - فَلَمَّا تَغَشّٰهَا جُدا کلام دے یعنی الله پاك آدم او حوا پیدا کړل او د هغوی نه ئے ډیر نسل پیدا کړو او د هغے نه روستو د نسل د کمرو د کیں د تفصیل بیانوی والله اعلم ۱۲

ف۲ دا تصویر دے د هغه انسان د حال چه کوم د حمل د روند والی ته نزدے نه دے نو اخلاص صحیح کړخوی او چه کله ځوئی وجود ته راشی نو الله هیر کړی او په نوم کښے شرک کوی او هم د دے ځامن نه معلومه شویدا ه چه په نوم کښے شرک هم د شرک یو قسم دے لکه زمونږ د زمانے خلق د فلانی غلام او د فلانی بنده (غلام فلان عبد فلان) نوموته بردی۱۲

ف۳ یعنی که چرته ورته اووائی چه اوخوره یا اوڅکه نو هیڅ کار نه کوی ۱۲

تفسیر:- ۱۸۹ داد دریم دعوے سره متعلق دے یعنی اولاد د پاره د غیر الله نذرا و منتبے ورکوی. د مفسرینو په نزد با نمے د نَفْسٍ وَّاحِدَةٍ نه آدم علیه السلام مراد دے په دے آیتونو کښے چه کومه واقعه بیان شویده نجُے خلق دا آدم علیه السلام او حوا علیهما السّلام ته منسوب کوی. او یو روایت سره دلیل نیسی. محققین دا روایت غیر معتبر او د اسرائیلیاتو نه ګرځوی. صحیح خبره داده چه فَلَمَّا تَغَشّٰهَا سره د خبرے مخ د بنیادم طرفته ګرځولے شویدے. د تثنیه صیغو نه د آدم د اولاد نه مشرک ښځه او خاوند مراد دی چه اول خو د الله نه دعا کلنے غواړی چه د هغوی په کور کښے صحیح او تندرست بچے پیدا شی او هغوی به د الله شکر ادا کړی لیکن چه کله الله تعالٰی هغوی ته ځوئے ورکړی نو هغوی د الله تعالٰی سره شرک کول شروع کړی چه دا ځوئے خو هغوی ته د فلانی بزرګ په برکت سره ملاؤ شویدے یا د هغه بزرګ نذرا و منتبنه ورکوی او ځینے خو ورله مشرکانه نوم هم بردی. مثلاً عبد ود، عبد یغوث، عبدالعزٰی، پیران دته، نبی بخش، حسین بخش، علی بخش وغیره. وقال قوم ان هذا راجع الی جنس الآدمیین والتبیین عن حال المشرکین من ذریة آدم علیه السلام وهو الذی یعول علیه فقوله جعلا له یعنی الذکر والانثی" کافر زوج (قرطبی ص۳۳۸ ج۷) لیکن د حضرت شیخ په نزد د نَفْسٍ وَّاحِدَةٍ نه سرے مراد دے او د مِنْهَا نه مِنْ جِنْسِهَا مراد دے یعنی تاسو ټول یے د خپل خپل پلار نه پیدا کړی او د هغه جوړہ یے د هغه د جنس نه پیدا کړه. علامه آلوسیؒ فرمائی ای من جنسها کما فی قوله سبحانه جعل لکم من انفسکم ازواجا فمن ابتدائیة (روح) د دے نه علاوه هم د ډیرو آیتونو نه د دے تائید کیږی. مثلاً وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا (نحل ع۱۰) او وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا (روم ع۳) دا شان په دے آیت کښے د آدم او د حوا علیهما السلام ذکر نشته دے بلکه د شروع نه د مطلق خاوند او ښځے ذکر دے.

۱۹۲ د مشرکانو د انتهائی بے عقلئ، ضد او عناد ذکر یے اوکړو چه هغوی څنګه عاجز مخلوق د الله سره شریکان ګرځوی هغوی دومره عاجز او کمزوری دی چه خپل امداد هم نه شی کولے نو دوی سره به څه امداد اوکړی. وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى الخ خطاب مشرکانو ته دے او په دے کښے د دوی د معبودانو د انتهائی کمزوری بیان دے. یعنی ستاسو امداد خو پریږده هغوی خو ستاسو د خبرے جواب هم نه شی

درکوَلے د وی کښے دومره قدرت هم نشته. والمعنی ان هذا المعبود الذی یعبده المشرکون معلوم من حاله انه کما لا ینفع ولا یضر فکذا لا یصح فیه اذا دعی الی الخیر الاتباع (کبیر ص۹۲ ج۴) یا خطاب نبی علیه السلام او صحابو ته دے. او د الهدٰی نه دینِ اسلام مراد دے یعنی که چرے تاسو دے مشرکانو ته د توحید او دینِ اسلام دعوت ورکړئ نو په دوی هیڅ اثر نه کوی او دوی به ستاخبره نه مني. علامه آلوسیؒ دا ضعیف ګرځولے دے.

۱۸۴ دا د دیمے دعوے سره متعلق دے چه د الله پاک نه سوا څوک کارساز او داواز کولو لائق نشته. د باطل معبودانو د عاجزئ او د هغوی د عبادت کو نکو د بیوقوفی زیاتے بیان دے. یعنی تاسو چه چا ته د الله نه سوا په حاجتونو کښے غائبانه آواز کوئ هغوی هم ستاسو پشان عاجز بندګان دی او د چا د نفع او د نقصان مالکان نه دی هغه راوُبلئ او اُوګورئ که چرے تاسو په دے دعویٰ کښے رښتونی یئ چه هغوی د نفع او د نقصان مالکان دی. نو بیا هغوی له ستاسو بلنه قبلول او ستاسو حاجتونه پوره کول پکار دی حالانکه هغوی دا نشی کولے. ای فادعوهم فی دفع ضر او جلب نفع (اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ) فی زعمکم انهم قادرون علی ما انتم عاجزون عنه (روح ص۱۴۱ ج۹)

۱۸۵ د دے نه باطل معبودان مراد دی او دلته په هر لحاظ سره د هغوی عاجزی بیانول مقصود دی. چه هغوی په حاجتونو او مشکلاتو کښے د مدد کولو طاقت نه لری. بعد ما بین ان شرکاءهم لا یقدرون علی شئ ما اصلا امر رسول الله صلی الله علیه وسلم بان یناصبهم للمحاجة (ابوالسعود ص۹۵ ج۴) یا د دے نه کافران مراد دی څنګه چه د دے سورت په ع۲۳ کښے تیر شوی دی. لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا وَلَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا الخ.

۱۸۶ څوک چه تاسو د الله نه سوا په حاجتونو او مشکلاتو کښے د مدد د پاره رابلئ هغوی خو خپل مدد هم نشی کولے ستاسو به څه خاورے مدد اوکړی. وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ الخ دیکښے هم دوه قوله دی. اول خطاب مشرکانو ته دے او ضمیر منصوب نه مراد باطل معبودان دی یعنی که چرے تاسو هغوی ته په خپلو مقصدونو کښے د لاس نیوَلو د پاره آواز کوئ نو هغوی ستاسو آواز بالکل نه آوری نو مدد به څنګه اوکړی. ای الی ان یهدوکم الی ما تحصلون به مقاصدکم (لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ) فضلا عن المساعدة والامداد (روح ص۱۴۲ ج۹) دویم خطاب نبی علیه السلام ته دے او د ضمیر منصوب نه مراد مشرکان دی. او مطلب دا دے چه د مشرکانو حماقت او جهالت دے حد ته رسیدلے دے چه تاسو په توحید هر څنګه دلائل پیش کړئ خو دوی هم نه آوری هغوی خو په ظاهری ستر ګو تاته ګوری خو هغوی د زړه سترګے نه لری (دی انهم قد بلغوا فی الجهل ... الی انک لو دعوتهم واظهرت اعظم انواع الحجة والبرهان لم یسمعوا ... ذلک ... کبیر)

وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَسْمَعُوْا ۭ وَتَرٰىهُمْ

او که تاسو دوی لره د بلنی | لاره ته | نو هغوی نه آوری | او ته وینے دوی

يَنْظُرُوْنَ إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۹۸﴾ خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ

دره په تا ته ګوري خو دوی هيڅ نه ويني معاف کول عادت کړه ﷺ او حکم

بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۱۹۹﴾ وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ

کوه د نيک کار او ډډه کوه د جاهلانو نه او که راولمباروي تا لره

مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ إِنَّهٗ سَمِيْعٌ

د شيطان چيچل نو پناه اوغواړه د الله نه هغه ذات اوريدونکے

عَلِيْمٌ ﴿۲۰۰﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ

پوهه دے دچا په زړه کښے الله په ويره وي چه کله اورسي دوی ته

مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَإِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿۲۰۱﴾

شيطانان نو دوی ته راياد شي نو بيا دغه وخت دوی ته سوچ راشي

وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّوْنَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُوْنَ ﴿۲۰۲﴾

او کوم چه د شيطانانو ﷺ رونړه دي هغه دوی لره راکاږي ګمراهۍ ته بيا دوی کمے نه کوي

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ بِاٰيَةٍ قَالُوْا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ؕ قُلْ

او چه کله ته راته وړے ﷺ دوی ته نښه نو وائي ولے دې خوښه نکړه دخپل طرفنه. ته اووايه

إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوْحٰٓى إِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ ۚ هٰذَا بَصَآئِرُ مِنْ

چه زه چليږم په هغه کوم چه حکم راشي ما ته زما د رب د طرفنه دا خود پوهے خبرے دی

رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰۳﴾ وَإِذَا

ستاسو د رب د طرفنه او هدايت او رحمت دے هغه خلقو د پاره چه مؤمنان دی او چه کله

قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَأَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ

قرآن لوستے شي نو ﷺ دے ته غوږ راږدئ او چپ ډوسئ چه په تاسو

تُرْحَمُوْنَ ﴿۲۰۴﴾ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّ

رحم اوشي وقف او ياده کړه خپل رب لره په خپل زړه کښے ﷺ په عاجزۍ او

خِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَ

په ويرېدو سره او په داسې آواز سره چه د چغې د هلو نه کم وي د سحر په وخت او

الْآصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ ﴿٢٠٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ

د ماښام په وخت او مهٔ کيږه بې خبره بيشکه څوک چه وي الله

عِندَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَ

ستا رب ته نزدې دي هغوی تکبر نهٔ کوي د هغهٔ د بندګئ نه او

يُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ ﴿٢٠٦﴾ السجدة

یادوي د هغهٔ پاک ذات او هم هغهٔ ته سجده کوي ف۳

نکات: ۱ مخاطبين مشرکان دي او د هُم نه مراد باطل معبودان دي. يا مخاطبين نبي عليه السلام او صحابه دي. او د هُم نه مراد مشرکان دي ۱۲ ۲ د اتسلی ده ۱۲ ۳ ان تعليليه دے ۱۲ ۴ بشارت ۱۲ ۵ زجر ۱۲ ۶ شکوی ۱۲ ۷ جواب شکوی ۱۲ ۸ ای مذکور ما قبل ۱۲ ۹ د شرک فعلي او اعتقادي نه د بچ کېدو د پاره ترغيب الی القرآن ۱۲ ۱۰ يعني صرف الله ته په غائبانه حاجتونو کښې آواز کوئ تائيد اذا ذکر الله وحده الخ (زمر) و اذا دعی الله وحده الخ (مؤمن) ۱۲ ۱۱ يعني د الله تعالٰی د رابللو نه ۱۲

موضح قرآن ف۱ يعني د نيک کار حکم کوه او د جاهلانو نه په ډډه اوسه مهٔ ورسره جنګ کوه او مهٔ ورسره کينه کښې تا به هُم جاهل جوړ کړي او د رحمٰن په کار کښې به د شيطان کار را شي. او که چرې يو وخت شيطان وسوسه واچوي نو چه کله درته ياد شي نو پناه د الله اونيسه او چه کله بېرا رشي نو چه په تا پوهه ئې کښې لاړ نهٔ شي.

ف۲ يعني چه کله څوک قرآن لولي نو په نورو باندې واجب ده چه خبرې نهٔ کوي او توجه سره يې واوري کېدې شي چه په زړهٔ کښې يې هدايت پرېوځي او که چرې لوستلو والا د خبرو په مجلس کښې په زوره لوستل کوي نو دا د هغهٔ غلطي ده.

ف۳ يعني مقرب فرښتې هُم د هغهٔ ياد نه نهٔ غافله کيږي نو انسان د پاره نور هُم ضروري ده او د هغهٔ نه سوا د بل چاته سجده نهٔ کوي. په دې ځاي باندې سجده راځي په قول قرآن کښې پنځلس ځايه سجده ضروري ده. د ټولو يو حکم دے په حنفي مذهب کښې واجب او په شافعي کښې سُنت ۱۲ منه.

فتح الرحمٰن: ف۱ يعني د دوی شيطانان ملګري ۱۲ ف۲ يعني ملأ اعلٰی (مقرب فرښتې)

تفسیر:- ۱۹۰ دا د نبي علیه السلام د پاره تسلي ده. وَ اِمَّا يَنۡزَغَنَّكَ الخ نزغ نه
مراد د شیطان وسوسه اچول دي یعني ما چه کوم احکام صادر کړي دي. که چرته شیطان
دهغې د مخالفت وسوسه اچولو کښې کوشش اوکړي نو تاسو د الله نه پناه اوغواړئ. په
دیکښې خطاب نبي علیه السلام ته دے مګر مراد د هغهٔ په وساطت سره هر مخاطب دے
اِنَّهٗ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ. دا د ماقبل علت دے اي ينخسنك بان يحملك بوسوسة على ما لا يليق
فاطلب العياذة بالله منه (بحر ص ۴۴۸ ج ۴) حم السجدة (۵۶) کښې دي اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ
دلته ضمیر فصل او په خبر باندے لام تعریف حصر د پاره دے. یعني چونکه الله پاك آوریدونکے
او خبردار دے په دے وجه د هغهٔ نه پناه اوغواړئ.

۱۹۱ د طائف نه وسوسه مراد ده. د الله نه پناه غوښتل د متقیانو او نیکو خلقو
دستور دے چه کله د هغوي په زړهٔ کښې یوه شیطاني وسوسه راځي نو فوراً هوښیار او
بیدار شي او غلط او صحیح فوراً اوپیژني.

۱۹۲ دا زجر دے دا اِخۡوَانُهُمۡ ضمیر مجرور شیاطین طرفته راجع دے. يَمُدُّوۡنَهُمۡ
کښې ضمیر مرفوع نه شیطانان او د منصوب نه اِخۡوَانُ الشَّيَاطِيۡنِ مراد دي. د پرهیزګاره
خلقو ذکر نه روستو یې د شیطان د تابعدارو ذکر اوکړو چه شیطانان هغوي له د ګمراه
کولو کوشش کوي او دیکښې هیڅ کله کوتاهي نه کوي.

۱۹۳ دا شکوه ده که چرے په وحي کښې لږ شان روستوالے راشي نو مشرکان وائي
تاسو د خپل ځان نه ایتونه ولے جوړ نه کړل چه مونږ ته یې آوروله وے. قُلۡ اِنَّمَاۤ اَتَّبِعُ الخ
دا جواب شکوه ده. یعني تاسو اووایئ چه زهٔ خود الله پاك د وحي تابع یم. ما ته خو د
الله تعالی د طرفنه چه کومه وحي راځي هغه آوروم د خپل ځان نه د جوړولو اختیار
خو ما ته نشته. وَ اِذَا لَمۡ تَاۡتِهِمۡ بِاٰيَةٍ من القرآن عند تراخي الوحي لما روي عن مجاهد
وقتادة و (روح ص ۱۵۵ ج ۹) هٰذَا. دا کوم څه چه مخکښې ذکر شول.

۱۹۴ دلته د قرآن د لوستلو او د دے په غور سره آوریدلو او عمل کولو طرفته ترغیب
ورکړے شوے دے او دا د کامیابئ او خلاصي ذریعه ګرځولے شویده ځکه چه په قرآن کریم
کښې الله تعالی د توحید او شرك ټول قسمونه مثلاً شرك فعلي او اعتقادي په وضاحت
سره بیان کړل او د شریعت ټول اصول یې واضح کړل. حنفیان په دے ایت سره دلیل
نیسي چه د امام نه روستو سِرّي او جهري مونځونو کښې مقتدي د پاره قرات کول
جائز نه دي نه د سورة فاتحے او نه د بل کوم سورت ځکه چه په دے ایت کښې یې د قرآن
لوستلو په وخت دوه حکمونه ورکړل، اول فَاسۡتَمِعُوۡا لَهٗ یعني هغه په غور سره واورئ.
یعني چه کله امام جهري قرات کوي، دویم وَ اَنۡصِتُوۡا یعني چُپ اوسیږئ دا هغه وخت
چه کله امام په پټه قرات لولي تفصیل د فقهے په کتابونو کښې دے.

۱۹۵ یعني صرف الله ته اواز کوئ او د هغهٔ په رابللو کښې هیڅوك مهٔ شریکوئ ځکه
چه په زمر (۴۵) کښې دي. وَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحۡدَهٗ. دا مطلب نه دے چه د الله ذکر دیر

کوي ځکه چه دا خو یو مستحب امر دے او د مستحب امر پرېښودل د عذاب سبب نه ګرځي. او د لته یې اُوفرمائیل وَلَا تَکُنۡ مِّنَ الۡغٰفِلِیۡنَ دا یو قِسم وعید دے ځکه چه د غافلینو نه مراد مشرکان دي. قال العطار رح ,, ذکر حق آمد غلط از فرش دل

۱۹۶ اِنَّ الَّذِیۡنَ عِنۡدَ رَبِّکَ د اسم موصول نه په اجماع د مفسرینو فرښتے مراد دي او الله ته د نزدے کیدلو نه په منزلت او مرتبه کښے نزدے والے مراد دے. هذا علی جهة التشریف لهم وانهم بالمکان المکرم فهو عبارة عن قربهم فی الکرامة لا فی المسافة (قرطبی ص۳۵۶ ج۷) فالمراد من العندیة القرب من الله تعالٰی بالزلفٰی والرضاء الخ (روح ص۱۵۵ ج۹) یعني بلا اعلیٰ چه څوک هروخت د الله په قرب او رضاء کښے اُوسیږي هغوی هُم د الله د عبادت او د هغه د رابللو نه تکبر نه کوي او هروخت د الله په تسبیح او تقدیس کښے مشغول اُوسیږي او د الله په مخکښے سجدے کوي او د ډیرے زیاتے عاجزۍ او کمزورۍ اظهار کوي او هغه سره هیڅوک نه شریکوي. اخبر الله عن حال الملائکة انهم خاضعون لعظمته لا یستکبرون عن عبادته (خازن ص۲۶۷ ج۲) ای ویخصونه بغایة العبودیة والتذلل لا یشرکون به غیره جل شانه (روح) د سورۀ اعراف په اختتام باندے د تهولو نه اولنۍ سجدۀ د تلاوت ده دا سجده واجب ده.

د سُورۀ اعراف خصوصیات او دیکښے د توحید اَیتُونه

① کِتٰبٌ اُنۡزِلَ اِلَیۡکَ فَلَا یَکُنۡ فِیۡ صَدۡرِکَ حَرَجٌ مِّنۡهُ الخ (ع۱) د توحید مسئله واضحه کړۍ او دے رسولؐ او په دے سره زړۀ تنګول پکار نه دي.

② اِنَّا جَعَلۡنَا الشَّیٰطِیۡنَ اَوۡلِیَآءَ لِلَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ ○ (ع۳) ګمراه کوونکی شیطانان د زرګونو او لکهونو په تعداد کښے دي صرف یو ابلیس هرځائی حاضر او ناظر نه دے او ټول خلق یو ځلے هغه نه ګمراه کوي.

③ حَتّٰۤی اِذَا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا یَتَوَفَّوۡنَهُمۡ (ع۴) په روحونو قبض کولو باندے په زرګونو لکهونو فرښتے مقرر دي صرف یو ملک الموت هرځائی حاضر نه دے چه د ټولو روحونه نه قبض کوي.

④ کُلَّمَا دَخَلَتۡ اُمَّةٌ لَّعَنَتۡ اُخۡتَهَا..... نه تر..... وَلٰکِنۡ لَّا تَعۡلَمُوۡنَ ○ (ع۴) د مشرک پیرانو او مریدانو په باره کښے.

⑤ اِنَّ رَبَّکُمُ اللّٰهُ الَّذِیۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضَ فِیۡ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسۡتَوٰی عَلَی الۡعَرۡشِ ... نه تر... اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الۡمُعۡتَدِیۡنَ ○ (ع۷) زمکه او اسمان هُم هغه پیدا کړل او د ټول عالم نظام هُم د هغه په قبضه کښے دے او هغه هیڅ اختیار چاته نه دے حواله کړے

⑥ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰی قَوۡمِهٖ فَقَالَ یٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَکُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرُهٗ (ع۸)

⑦ وَاِلٰی عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ؕ قَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ؕ (ع۹)
⑧ وَاِلٰی ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ؕ (ع۱۰)
⑨ وَاِلٰی مَدْیَنَ اَخَاهُمْ شُعَیْبًا ؕ قَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ؕ (ع۱۱)
حضرت نوح، هود، صالح او شعیب علیهم السلام اعلان اوکړو چه د الله نه سوا هیڅوک متصرف او کارساز نشته په دے وجه په حاجتونو او مشکلاتو کښے هغه ته آواز کوئ۔
⑩ قَالُوْۤا اِنَّاۤ اِلٰی رَبِّنَا ... نه تر... رَبَّنَاۤ اَفْرِغْ عَلَیْنَا صَبْرًا وَّ تَوَفَّنَا مُسْلِمِیْنَ ۝ (ع۱۴)
زمونږ قصد رصرف د ادے چه مونږ به الله ایمان راوړو او د هغه د توحید واضح دلیلونه مو اومنل۔
⑪ اَلَمْ یَرَوْا اَنَّهٗ لَا یُكَلِّمُهُمْ وَلَا یَهْدِیْهِمْ سَبِیْلًا ۘ (ع۱۸) څوک چه داسے عاجزه او بے بسه وی هغه څرنګ کارساز، متصرف او مختار کیدے شی۔
⑫ قُلْ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَیْكُمْ جَمِیْعًا الخ (ع۲۰) د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د توحید اعلان، زه د هغه الله رسول یم کوم چه د زمکے او د اسمانو بادشاه او په ټول عالم کښے واحد متصرف او مختار دے د هغه نه سوا څوک کارساز نشته۔
⑬ وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ الْقَرْیَةِ الَّتِیْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ۘ اِذْ یَعْدُوْنَ فِی السَّبْتِ ... نه تر ... نَبْلُوْهُمْ بِمَا كَانُوْا یَفْسُقُوْنَ ۝ (ع۲۱) ناجائزه حیلو اوبهانو سره د خدائی داحکامو دبے حرمتئ نتیجه هلاکت دے۔
⑭ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ یَاْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰی وَیَقُوْلُوْنَ سَیُغْفَرُ لَنَا ۚ (ع۲۱) د بنو خلقو نه روستو بد خلق او علماء شو، دهغوی په ځائے کیناستل چه هغوی د دُنیا د حقیر دولت په عوض کښے د الله په کتاب کښے تحریف کول شروع کړل او دے دیل چه زمونږ پلالان اونیکونه به مونږ په الله تعالٰی اوبخښی۔
⑮ وَاتْلُ عَلَیْهِمْ نَبَاَ الَّذِیْۤ اٰتَیْنٰهُ اٰیٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا الخ چه کوم دین عالم د حق مسئلے پیژنی لو نه روستو محض د دُنیا د لالچ او طمع د وجے نه حق پریږدی هغه د پاره په دُنیا او اخرت کښے ذلت دے۔
⑯ یَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَیَّانَ مُرْسٰىهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّیْ ۚ (ع۲۳) د قیامت د قائمیدلو مخصوص ورځ صرف الله ته معلومه ده د هغه نه سوا بل هیچا ته د هغ علم نشته۔
⑰ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا ... نه تر ... وَلَاۤ اَنْفُسَهُمْ یَنْصُرُوْنَ ۝ (ع۲۴) ټول هر څه الله پیدا کړل او د نر د ارام حاصلولو د پاره یے د هغه ماده (ښځه) پیدا کړه۔ او هم هغه اولاد ورکوونکے دے لیکن مشرکان خلق د الله عاجز مخلوق هغه سره شریک کړځوی او د الله تعالٰی ورکړے اولاد غیر الله

طرفته منسوب کوی۔

(۱۸) اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۝ (ع ۲۳۶) کوم بزرګان چه تاسو متصرف او کارساز ګڼړئ او هغوی ته اوان کوئ هغوی هم ستاسو په شان عاجز او الله ته محتاج دی او تاسو هغوی ته اوان اوکړئ او اوګورئ هغوی ستاسو هیڅ یو کار نشی سازولے۔

(۱۹) وَالَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا یَسْتَطِیْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ یَنْصُرُوْنَ (ع ۲۴۶) چاته چه تاسو د الله نه سوا اوان کوئ نو هغوی خپل ځان سره هم څه مدد نشی کولے نو تاسو سره به څه مدد اوکړی۔

(۲۰) وَاِمَّا یَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّیْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ (ع ۳۳) چه کله شیطان په زړه کښے څه وسوسه واچوی نو فوراً دغے نه په الله سره پناه غواړی ځکه چه د هرڅه آورید ونکے او د هرڅه نه خبر صرف هغه دے بل هیڅوک نشته۔

نن د ماښام ما نځه نه پس د چار شنبې په شپه وخت شپږ نیمے بجے دویم رمضان المبارک ۱۳۸۴ھ مطابق د ۵۔ جنوری ۱۹۶۵ء پان دے د سورۂ اعراف تفسیر ختم شو۔ فالحمد لله اولاً وّاٰخراً والصلوٰة والسلام علٰی رسوله دائماً ابداً و علٰی سائر عباده لیلاً و نهاراً۔

سورۃ انفال

ربط دَ نورو سورتونو په شان دَ سورۀ انفال ربط هم دَ ما قبل سره دوه قسمه دے اول ربط معنوی دویم ربط اسمی معنوی دا دے چه سورۀ مائده، انعام او اعراف کښې نفی دَ شرک فعلی فی التصرّف پوره تفصیل سره عقلی او نقلی دلائیلو سره بیان شوه او په سورۀ اعراف کښې اُوښودلے شوه چه دَ دے مسئلے په وجه به تاسو باندے مصائب راځی چه تنګ نهٔ شئ او په هغے صبر کوئ او چرته چه دَ مشرکانو زورورې هلته به هغوئ مؤمنان تنګوی څنګه چه ئے پیغمبران تنګ کړی وو. دَ دے وجے نه په سورۀ انفال او توبه کښې ئے وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ (ع ۵) سره دَ جهاد حکم نازل کړو چه دَ الله دَ دین او چتولو او دَ مشرکانو دَ زور ماتولو دپاره هغوئ سره جهاد کوئ. دَ سورۀ انفال ماقبل سره ربط اسمی دا دے چه دَ توحید دَ مسئلے واضح کیدلو په وجے سره به مشرکان ستاسو سره جنګ کوی او دَ فتح په صورت کښې به تاسو ته دَ غنیمت مالونه (انفال) حاصلیږی دَ دے وجے نه تاسو دَ انفال تقسیم دَ الله دَ حکم مطابق اُوکړئ او خپلے مرضئ ته دَ غنیمتونو تقسیمولو کښې دخل مهٔ ورکوئ.

خلاصه دَ سورۀ انفال دوه حصّے دی اوله حصّه دَ سورت دَ شروع نه واخله رکوع ۴ کښې تر نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ پورے ده. او دویمه حصه هغے سره متصل روستو وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ نه واخله دَ سورت اخر پورے ده دواړو حصو کښې دوه مضمونونه بیان کړے شویدی اول مضمون دَ مال غنیمت تقسیم دَ الله تعالٰی دَ حکم مطابق کوئ. دویم مضمون دَ جهاد قوانین.

اوّله حصّه قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ کښې دَ اولے حصّے اول مضمون چه وړومبئ دعوٰی ده بالاجمال ذکر شویده یعنی دَ غنیمت مال دَ الله حق دے او دَ هغے دَ تقسیم اختیار هم هغهٔ سره دے هغه چه څنګه غواړی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته دَ هغے دَ تقسیمولو حکم ورکوی دینه روستو دَ دے دعوے اُوه علتونه بیان کړے شوی دی اول علت (وجه) كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ الخ دلته کاف تعلیلیه دے یعنی په جنګ بدر کښې دَ الله تعالٰی حمایت او تائید ستاسو سره وو تر اخر پورے او الله تعالٰی خپل پیغمبر دَ مدینے نه او ویستلو دَ بدر میدان ته ئے راوستلو حال دا دے چه دَ مسلمانانو یوه ډله دَ مشرکانو سره مخامخ مقابله باندے راضی نهٔ وه

دویم علت وَاِذْ یَعِدُكُمُ اللّٰهُ. ستاسو خیال وو چه تجارتی قافله باندے حمله اوکړئ او بغیر د تکلیف او نقصان نه ډیر مال په لاس راشی. لیکن د الله مرضی دا وه چه هغه ستاسو لږ شان او د کمزورے ډلے په لاسونو د مشرکانو لوئے ډلے او هر قسم جنګی الاتو سره سنبال فوج ته شکست ورکړی او د کفر او شرک جرړے پریکړئ نو دا تول مال غنیمت تاسو ته محض د الله په تائید او نصرت سره حاصل شوید ے. لهٰذا د هغے تقسیم به هم د هغهٔ د مرضئ مطابق وی. دریم علت اِذْ تَسْتَغِیْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ د بدر په میدان کښ تاسو د الله نه مدد غوښتلو نو الله تعالیٰ ستاسو دُعا قبوله کړه او ستاسو د تائید د پاره ئے د فرښتو امداد راأولیږلو او دا شان ستاسو د فتح اسباب ئے برابر کړل. څلورم علت اِذْ یُغَشِّیْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ مشرکانو د بدر په میدان کښ د اُوبو په ځائے اول قبضه اوکړه کوم ځائے چه مسلمانان وو هلته تولے شګے اوشګے وے چه په هغے باندے تلل هم ګران وو او بیا د اُوبو د نیشتوالی په وجه هغوئ د سختے تندے تکلیف هم اُوچتولو د مشرکانو د ډیروالی او الاتو او اسبابو نه هم څهٔ قدرے په ویره کښ وو. په مسلمانانو باندے ئے خوب راوستلو کله چه څهٔ لږ وخت پس د هغوئ سترګے کولاؤ شوے نو د هغوئ توله ویره ختمه شوه او الله پاک باران هم اوکړو چه هغے سره مسلمانانو ته اُوبهٔ هم په لاس راغلے او شګه هم کینا سته او کوم ځائے چه د مشرکانو قبضه وه هلته خټے جوړے شوے. پنځم علت اِذْ یُوْحِیْ رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ الخ الله تعالیٰ فرښتو ته حکم اوکړو چه هغوئ مؤمنانو ته اووائی چه زهٔ د هغوئ سره یم او زهٔ به د کافرانو په زړونو کښ رُعب واچوم چه هغوئ به د دے سره همت اُوبیلی او شکست به اُوخوری. فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمْ الخ دا په مذکوره پنځو علتونو باندے متفرع دے یعنی کله چه تاسو ته معلومه شوه چه په جنګ بدر کښ د اول نه تر اخره پورے د الله تائید او حمایت ستاسو شامل حال شو او تاسو د الله په حکم سره مشرکانو ته شکست ورکړو د هغوئ اویا ځوانان تاسو قتل کړل او اویا موقید کړل نو دے سره دا خبره واضحه شوه چه دا مشرکان تاسو نهٔ دی وژلی بلکه الله تعالیٰ هغوئ قتل کړل چه د هغهٔ په تائید او امداد تاسو ته فتح حاصل شوه. وَمَا رَمَیْتَ اِذْ رَمَیْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰی. دا خطاب نبی علیه السلام سره دے یعنی تاسو چه د جنګ سختیدلو سره یو موټے شګے د مشرکانو لښکر باندے اُوغورځولے نو موټی خپل کامل قدرت سره د کافرانو تکړی د هر کافر سترګو ته اُورسولے چه د هغے په وجه سره هغوئ سترګے مږل شروع کړل او تاسو په هغوئ باندے حمله اوکړه او د هغوئ خپے اُوخوځیدلے.

شپږم علت - وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا الخ (ع ۴) مشرکانو ستاسو پاره کښې مختلف قسم تدبیرونه سوچ کول چه تاسو قید کړی یا قتل کړی او یا د وطن نه تاسو اُوشړی لیکن الله تعالیٰ د هغوئ ټولے منصوبے (سازشونه) د خاورې سره ملاؤ کړل او تاسوئے بچ کړئ - اووم علت وَإِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ الخ کوم وخت چه مشرکین جنګ د پاره وتلی وو هغه وخت هغوئ د الله تعالیٰ نه دُعا غوښتلے وه چه اے الله که چرے د محمد صلی الله علیه وسلم دین رښتونے دی نو په مونږ باندے د اسمان نه کانړی اُورَوه یا بل کوم عذاب راوله چه مونږ هلاک کړی او آخری فیصله اُوکړه.

دویم مضمون (د جنګ قوانین)

اوّله حصّه کښې مسلمانانو د پاره پنځه قوانین ذکر شوی دی. اوّل قانون يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الخ (ع ۲) یعنی کله چه د جنګ په میدان کښې د کافرانو سره مخامخ شئ نو ثابت قدمئ سره او په بهادرئ سره د هغوئ مقابله اُوکړئ شا کانے هغوئ ته مه گرځوئ. د جنګ دویم قانون يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللّٰهَ وَرَسُولَهُ الخ (ع ۳) د الله او رسول په اطاعت کوتاهی مه کوئ او د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اطاعت سره به ستاسو ایمانونو کښې مضبوطوالے او په اعمالو کښې صحیح والے پیدا کیږی او ستاسو عزم او استقلال به ناقابل تسخیر اُوگرځی. د جنګ دریم قانون يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ الخ (ع ۳) الله او د هغهٔ د رسول د احکامو په تعمیل کښې مخکښوالے روستووالے مه کوئ او د خپل امیر جهاد اطاعت لازم اُوګنړئ بس هم دا د فتح او کامیابئ کُنجی ده. د جنګ څلورم قانون يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللّٰهَ وَالرَّسُولَ الخ (ع ۳) د الله او د هغهٔ د رسول خیانت او غلا مه کوئ مراد دا دے چه د خپلو مالونو او اولاد په خاطر د دُشمن سره پټ سازشونه مه کوئ یا دا چه د غنیمت د مال نه څهٔ پټ نه کړئ - د جنګ پنځم قانون يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا الخ (ع ۴) یعنی که چرے تاسو د خدائے نه ویریږئ او په ظاهر او باطن کښې تقوی اختیار کړئ نو الله تعالیٰ به ستاسو او ستاسو د دُشمنانو مینځ کښې فیصله اوکړی تاسو ته به عزت او سرلوړے درکړی او ستاسو دُشمنان به خوار او ذلیل کړی. په اوّله حصّه کښې د علتونو او د جنګ قوانینو بیانولو په دوران کښې تخویفونه او بشارتونه زجرونه او شکوے ذکر شوی دی

دویمه حصّه

دویمه حصّه دَ لسمے پارے دَ شروع وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ نه واخله دَ سورت تر آخره پورے ده دِے کښې هم هغه دواړه مضمونونه دَ لف نشر مرتب په طور ذکر شوی دی کوم چه په اوله حصّه کښې ذکر شول یعنی دَ مالِ غنیمت تقسیم دَ الله دَ حکم مطابق اوکړئ او خپلے رائے ته دخل مه ورکوئ او دَ جنګ قوانین، دِے کښې دَ ذکر شوی علتونو او قوانینو تعداد دَ اولے حصے په عکس دے یعنی پنځه علتونه دی او اووه دَ جنګ قوانین دی.

مضمونِ اول (دَ مالِ غنیمت تقسیم سره دَ پنځو علتونو)

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ الخ دیکښې قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ الخ دَ مضمون اعاده او دَ هغے تفصیل بیان شوید ے مخکښې (را تلونکی کښې) دَ دے علتونه ذکر شوید ی. اول علت اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا الخ (ع ۵) یعنی تاسو دَ میدان جنګ په هغه غاړه وئ کوم چه مدینے ته نزدے وه او دَ دُشمن تجارتی قافله په دویمه غاړه وه دَ دواړو مینځ کښې دَ قریشو فوج حائل وو اتفاقاً یو بل سره مخامخ کیدل اوشول که چرے دَ جنګ وخت مقرروے نو ممکن وه چه دَ وعدے وخت را تللو کښې اختلاف شوے وے لیکن الله ته دا منظوره وه چه دے میدان کښې دَ حق او باطل فیصله اوشی. دویم علت اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ مَنَامِكَ قَلِيْلًا الخ (ع ۵) دَ دُشمن فوج اګرچه په تعداد کښې ستاسو دَ فوج نه ډیر زیات وو لیکن مونږ په خوب کښې تاسو ته کم اوښودل دِے دَ پاره چه دَ دُشمن دَ ډیر والی رُعب ستاسو په زړه کښې پاتے نه شی. علم الٰهی کښې چونکه دَ مشرکانو نه دَ اکثرو ایمان مقدر وو دَ دے وجے نه په خوب کښې تاسو ته دَ کافرانو تعداد کم اوښودلے شو.

دریم علت وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِيْٓ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا الخ (ع ۵) کله چه دواړه فوجونه سره مخامخ شول نو مونږ داسے اوکړل چه دَ دُشمن فوج مسلمانانو ته ډیر کم په نظر راغے او دَ مسلمانانو فوج دَ کافرانو په نظر کښې کم ښکاره کیدلو چه دَ هغے نتیجه دا شوه دواړو فوجونو خپل دُشمن لږ اوګنړلو او بهادرئ سره ئے دَ یو بل مقابله اوکړه او دَ مسلمانانو په لاس ئے کافرانو ته ډیر دَ ذلت شکست ورکړو دَ اسلام او کفر مینځ کښې ئے آخری فیصله اوکړه. څلورم علت وَاِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ الخ (ع ۶) دَ جنګ بدر اهمیت ابلیس هم محسوس کړو او هغه ئے دَ عربو دَ یو ډیر هوښیار او تجربه کار مشرک شیخ نجدی په شکل کښې را اورسیدو او مشرکانو ته ئے

تسلی ورکړه چه فکر مه کوئ پوره بهادرئ سره اوجنګیږئ نن تاسو یا ن دے
هیڅوک غالب نه شی راتللے زهٔ هم ستاسو کامداد او اعانت د پاره راغلے یم.
داسے وخت کښ کله چه هغهٔ د دشمن فوج کښ د جوش یوه نوے چپه
راوستله تو مومنو د فرشتو لښکر نازل کړو چه د هغې په لید لو سره شیطان
د نجدی شیخ په شکل کښ د جنګ میدان پریښودو او اوتښتیدو او د دشمن
همت کمزورے شو. پنځم علت اِذْ یَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ
مَّرَضٌ (ع ۶) دا هم یادکړه چه کله تاسو جهاد د پاره وتلی وئ نو د جنګ په
میدان کښ شیطان خود نجدی په شکل کښ د مشرکانو همت زیاتولو
او د روستو نه منافقانو د شرارت خبرے کولے چه دے مسلمانانو لره د
دوئ دین په دهوکه کښ اچولی دی. اوګورئ دا یو موټے مسلمانان سره
د پوهے نه د دومره لوئے لښکر په مقابله کښ مرګ ته دعوت ورکوی. لیکن
الله تعالیٰ د دے مسلمانانو زړونه ایمان، اثبات او توکل علی الله سره معمور
او آباد کړل او د منافقانو خبرو سره په هغوئ هیڅ اثر اونهٔ شو.

دویم مضمون (د جنګ قوانین)

دے حصه کښ اوهٔ قوانین د جنګ ذکر شویدی. دوه تولو مؤمنانو د پاره
او پنځه خاص حضرت نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د پاره. د جنګ اول قانون
مؤمنانو د پاره یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِیْتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوْا الخ (ع ۷) یعنی چه
کله د جنګ په میدان کښ د دشمن سره مقابله شئ نو ثابت قدم اوسیږئ
او د الله تعالیٰ نه مدد غواړئ د الله او د هغهٔ د رسول اطاعت کوئ او خپل مینځ
کښ متحد اوسیږئ دے د پاره چه ستاسو په طاقت کښ کمزوری رانشی.
د جنګ دویم قانون نبی علیه السلام د پاره فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِی الْحَرْبِ
فَشَرِّدْ بِهِمْ الخ (ع ۷) کوم مشرکانو چه تاسو سره وعده اوکړه چه هغوئ
به ستاسو خلاف د دشمن امداد نهٔ کوی کهٔ چرے هغوئ وعده ماته
کړه او تاسو هغوئ د دشمن په فوج کښ جنګ کوونکی او وینئ نو هغوئ ته
داسے سخته سزا ورکړئ چه هغوئ نه روستو راتلونکی هم هغې نه عبرت
حاصل کړی. د جنګ دریم قانون مؤمنانو د پاره وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ
مِّنْ قُوَّةٍ الخ (ع ۸) د دشمن مقابلے د پاره پوره تیارے اوکړئ او د کوم
قسم زمانے د حالاتو مطابق جنګی سامان چه تیار ولے شئ تیار کړئ
د الله په لار کښ چه کوم څهٔ خرچ کوئ هغه به نشی ضائع کولے.
څلورم قانون نبی علیه السلام د پاره وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا (ع ۸)
کهٔ چرے مشرکان د مسلمانانو قوت او دبدبه او د هغوئ مجاهدانه سرګرمئ

کهٔ ستاسو دښمنان سولې ته مائل شي او د صلح پیش کش په کوی نو تاسو
اوویني نو اُو به ویریږی او د صلح طرف ته لاس اُوږد کړئ ځکه چه مقصود خو د
هم د صلح نه دے. نهٔ چه وینه تویول او قتل د هغه کله
کلمة الله اُوچتوالے دے.

پنځم قانون نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د پاره يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ الخ (ع ۹،۸) اے پیغمبره تا لره او ستا ملګرو لره الله کافی دے تاسو په هغهٔ اعتماد اُوکړئ او مؤمنانو ته د جهاد ترغیب ورکړئ. زهٔ به ستاسو د قلت باوجود تاسو ته په مشرکانو باندے غلبه درکوم.

شپږم قانون نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د پاره مَاكَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ اَسْرٰى الخ (ع ۹) چونکه مخکښ د فدیئے اخستلو د ممانعت حکم نهٔ وو نازل شوے د دے وجے نه چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فدیه واخستله د جنګ بدر قیدیان ئے ازاد کړی وو دے باندے ئے اُوفرمائیل چه پیغمبر د پاره دا مناسب نهٔ ده چه د هغهٔ په لاس کښ دا سے دشمنان قیدی وی او هغه د دوئ د قتلولو په ځائے د هغوئ نه فدیه واخلی او هغوئ پریګدی.

اُووم قانون نبي علیه السلام د پاره يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّمَنْ فِيْٓ اَيْدِيْكُمْ مِّنَ الْاَسْرٰٓى الخ (ع ۱۰) د فدیئے وصولولو په وخت چه کوم قیدیانو د اسلام اظهار کړے تاسو هغوئ ته اُووایئ چه کهٔ چرے واقعی تاسو دین اسلام د زړهٔ نه قبول کړے نو چه کوم څهٔ ستاسو نه اخستل شویدی الله تعالیٰ به تاسو ته د دینه بهتر مال درکړی او ستاسو تیر شوی ګناهونه به معاف کړی. دینه روستوئے اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجَاهَدُوْا سره د جهاد او هجرت ترغیب ورکړے شویدے او مخکښ تللو سره وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجَاهَدُوْا الخ سره مجاهدین او مهاجرینو ته خوشخبری اوروے شویده. په اخری رکوع کښ د مؤمنانو دوه قسمونه بیان شوی دی. اول مؤمنین مهاجرین، دوئم مؤمنین غیر مهاجرین او د مهاجرینو هم دوه قسمونه شول. اولوا الارحام او غیر اولوا الارحام.

سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّعَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

دا سورة انفال مدینه کښې نازل شوې ګڼه اوه دے پنځه اویا آیتونه اولس رکوعانے دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بے حده مهربان نهایت رحم والا دے

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ قُلِ الْاَنْفَالُ

تپوس کوی ستا نه د غنیمت د حکم نه ته اووایه مال د غنیمت

لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا

د الله تعالیٰ او د رسول دے نو اویریږئ د الله نه او صلح اوکړئ

ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ

خپل مینځ کښې او حکم اومنئ د الله تعالیٰ او د هغه د رسول

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ① اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ

که چرے ایمان لرئ بیشکه ایمان والا

الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ

هغه دی کله چه کله نوم راشی د الله نو اوویریږی د هغوئ زړونه

وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا

او کله چه اولوستلے شی په هغوئ باندے کلام د هغه نو زیات شی د هغوئ ایمان

وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ② الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ

او هغوئ په خپل رب باندے اعتماد کوی هغه خلق دی چه قائموی

الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ③ اُولٰٓئِكَ

مونځ او مونږ چه کومه څه روزی ورکړیده د هغے نه خرچ کوی۔ هغوی

هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ

دوئ دی ایمان والا رښتونی دوئ د پاره درجے دی د خپل

رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيمٌ ④

رب سره | او معافي | او روزي | دَ عزت

نکات: دَ سورة انفال اوله دعوي اجمالاً يعني دَ مال غنيمت تقسيم دَ الله او دَ هغهٔ دَ رسول دَ احکامو مطابق کوئ خپلے رائے سره مهٔ کوئ وَاعْلَمُوٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ الخ کښ دَ دے تفصيل دے ۱۲- ۲. خپلو کښ احوال او معاملات مراد دی ۱۲۰- ۳. بشارت دَ مؤمنين کاملين دَ پاره ۱۲

موضح قرآن ف۱ په جنګ کښ ځنے مخکښ لاړل او ځنے روستو پاتے شول چه کله دَ غنيمت مال جمع شو نو مخکښ تلونکو اُوئيل چه دا ځمونږ حق دے ځکه چه فتح مونږ حاصله کړه او روستو پاتو اُوئيل چه تاسو ځمونږ په قوت سره اُوجنګيدلئ الله تعالیٰ دواړه چُپ کړل چه فتح دَ الله په امداد سره ده دَ هيچا زور او طاقت نهٔ دے نو دَ مال مالک الله دے او دَ هغهٔ رسول دے. بيائے مخکښ ډيرلړے پورے هم دا بيان اوکړو چه فتح دَ الله مدد سره ده خپل قوت سره ئے مهٔ ګڼړئ.

فتح الرحمن ف۱ مترجم وائي سورة انفال دَ بدر په قصه کښ نازل شويدے دَ دے سورت په ايتونو کښ اشارهٔ دَ دے غزوے دَ واقعاتو طرف ته واقع شويده دَ هغے ځنے واقعات دا دی چه مسلمانانو په غنيمت کښ بحث کولو چا چه مالِ غنيمت حاصل کړے وو هغوئ غوښتل چه يوازے هغوئ دے کښ تصرف اوکړی او نورو غوښتل چه برابر تقسيم کړے شي الله پاك حکم نازل کړو چه متصرّف او مختار په غنيمتونو کښ الله او دَ هغهٔ رسول دے او نورو ولړه دے کښ هيڅ دخل نشته او کوم څهٔ چه دَ جاهليت خلقو کول يعني ترجيح ورکول غنيمت جمع کوونکو ته په نورو باندے هغه باطل ده روستو ئے حکم اُوکړو چه غنيمت پنځه قسمه تقسيم کول پکار دے څلور قسمونه به غانمين ته ورکولے شي او يو به بيت المال کښ ساتلے شي او دَ هغے مصرف ته به ورکولے شي دا دَ الله تصرّف دے او دَ هغهٔ ورکړه ده دَ غانمين دخل ديکښ نشته نو ايت قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ محکم دے او منسوخ نهٔ دے ۱۲
ف۲ يعني دَ دوئ په غنيمتونو کښ متصرّف دے او بل هيچا ته اختيار نشته والله اعلم ۱۲-

اوّله حصّه

مخکښ بيان شويدے چه سورة انفال دَ مضمون په اعتبار سره په دوؤ حصو کښ تقسيم شويدے اوّله حصّه دَ سورت دَ ابتداء نه واخله

رکوع ۵ کښې نِعۡمَ الۡمَوۡلٰی وَنِعۡمَ النَّصِیۡرُ پورې دا دې حصه کښې دوه مضامين دي اول د مالِ غنيمت د تقسيمولو اختيار صرف الله تعالیٰ دې. (اوه علتونه) دويم د جنګ قوانين چه هغه اوه دي. سره د علل سبعه (اوه علتونه) د ويم د جنګ قوانين چه هغه اوه دي.

اوّل مضمون يا اوّله دعوی

(د غنيمتونو تقسيمول د الله حق دې سره د علتونو نه)

تفسير: ۲ قُلِ الۡاَنۡفَالُ لِلّٰهِ الخ کښې اوّله دعوی اجمالاً ذکرشويده او د دويمې حصې په شروع کښې فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوۡلِ وَلِذِی الۡقُرۡبٰی الخ سره د هغې تفصيل شوېدې. انفال جمع د نفل ده مراد ترينه مالِ غنيمت دې. حضرت عباده بن صامت نه روايت دې چه د بدر د غنيمتونو د تقسيم باره کښې د مسلمانانو مينځ کښې اختلاف پيدا شو نو هغوئ د نبي عليه السلام نه تپوس اوکړو چه هغه څنګه تقسيم کړي او د تقسيمولو حق چا ته حاصل دې مهاجرينو ته يا انصارو ته. دې سره دا ايت نازل شو چه د مالِ غنيمت د تقسيمولو حق نه مهاجرينو ته شته او نه انصارو ته بلکه د هغې د تقسيم حق خو صرف الله تعالیٰ پورې مختص دې. د الله پيغمبر به د الله پاک د حکم مطابق تقسيموي او د هيچا رائې ته به ديکښې دخل نه وي. المراد به اختصاص امرها وحکمها بالله تعالیٰ ورسوله صلی الله عليه وسلم کما يأمره الله تعالیٰ من غير ان يدخل فيه رأی احد (روح ج۹ ص۱۶۵) ديته روستو د دې دعوې اوه علتونه ذکرکړې شويدي چه د هغې شروع کَمَاۤ اَخۡرَجَکَ رَبُّکَ نه شوې ده.

۳ ذَاتَ بَيۡنِکُمۡ نه خپل مينځ کښې احوال او معاملات مراد دي يعنې د الله نه اووېرېږئ او خپل مينځني معاملات صحيح کړئ خپل مينځ کښې اختلاف مه کوئ متحد او متفق اوسيږئ او د مالِ غنيمت تقسيم او نورو ټولو معاملاتو کښې د الله او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم تابعداري اوکړئ هم دا د ايمان اصل علامات دي.

۴ دې ځائې نه واخله تر مَغۡفِرَةٌ وَّرِزۡقٌ کَرِيۡمٌ پورې هغه کامل مؤمنانو د پاره خوشخبري ده په چا کښې چه دالاندې ذکرشوي صفتونه موجود وي. څوک چه هر وخت د الله نه ويريږي د الله ايتونه چه واؤري نو د هغوئ په ايمان کښې مضبوط والې پيدا کيږي په هرکار کښې الله تعالیٰ باندې اعتماد لري. مونځ قائموي او د الله په لار کښې مال خرچ کوي.

كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ

ځنګه چه اوویستلو تا لره ستا رب ﷻ د کور ستا نه د حق کار د پاره

وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ﴿۵﴾

او بیشکه یو ډله ئے د مؤمنانو راضي نهٔ وه ملا

يُجَادِلُوْنَكَ فِى الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ

او ستا سره ئے جهګړه کوله په حق خبره کښې روستو د هغې د ظاهریدلو نه

كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ اِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ

لکه چه دوئ شړلے شي د مرګ طرف ته چه په

يَنْظُرُوْنَ ﴿۶﴾ وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ

سترګو ئے وینې. او کوم وخت چه تاسره وعدٰ کوله الله ﷻ د یوے ډلے د دوؤ ډلو نه

اَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّوْنَ اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ

چه هغه ستا د پاره ده او تاسو غوښتل چه په کوم کښې ازغے نشته ملا ؤشي

تَكُوْنُ لَكُمْ وَيُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ

هغه تاسو ته او غوښتل الله تعالی چه ریښتونی کړي ریښتیا

بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷﴾ لِيُحِقَّ

خپل کلام سره او پریکړي جرړے د کافرانو وڅ. دے د پاره چه ریښتیا کړي

الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۸﴾

ریښتیا ؤلره او دروغ او کړځوي دروغو لره او اګرچه ناراض وي ګناهګار وڅ

اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ

کله چه تاسو فریاد شروع کړو شه رب خپل ته نو هغه را اورسیدو وستاسو امداد ته ۹

اَنِّىْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ﴿۹﴾

چه زهٔ به ستاسو امداد د پاره راستوم زر (۱۰۰۰) فرښتے پرله پسے راتلونکي ډ

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ
او دا نه دی ګرځولی الله تعالیٰ فقط خوشخبری دی د پاره چه مطمئن شی
بِهٖ قُلُوْبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ
دے سره زړونه ستاسو او نه دے امداد مګر د طرفه د الله
اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ ﴿۱۰﴾ ع ۱۵
بیشکه الله تعالیٰ طاقتور حکمت والا دے

موضح قرآن ف۱ یعنی د غنیمت جھګړه هم دا شان ده څنګه چه د وتلو په وخت د عقل نه بیرونه شروع شول او آخری صلاح هم هغه اُوشوه کومه چه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اُوفرمائیله هر کارونو کښې دا طریقه اختیار کړئ چه د حکم په ځائے راؤړلو کښې خپل عقل ته دخل ور نکړئ۔ ف۲ حضرت فرمائیلی وو چه قافله یا امداد به ځمونږ لاس ته راځی۔ خلقو غوښتل چه قافله په لاس راشی او غوره وا دینه ورکړے شو چه د کفر زور مات شی۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د غنیمت مال تقسیمول د خدائے د حکم موافق دے نه د نفسونو د خواهش مطابق لکه چه د کور نه بهر راویستل ستا ته بیر سره صحیح وو د خدائے په نزد بانده په خلاف د اراده د قوم۔ والله اعلم ۱۲۔ ف۲ مترجم وائی دے اینو کښې تعریض دے هغې قصے ته چه نبی علیه السلام په غزوه بدر کښې د قریشو قافلے لوټ کولو ته متوجه شول او قافلے ته اُورسیدل هغوئ د دریاب غاړه اُونیوله او خلاص شول ابوجهل د هغوئ د امداد د پاره سره د لښکر نه د مکے نه راغلے وو د نبی علیه السلام سره مقابله کښې شول ځنو اصحابو میلان د قافلے لوټ کولو ته اوکړو او یو ډلے د میدان جنګ او لښکر طرف ته اُوکړو او د نبی علیه السلام خوښه د لښکر سره جنګ کول وو ۱۲ (دا حاشیه په ځنو مطبوعه نسخو کښې نه ده موندل شوے۔ (سجاد بخاری)۔ ف۳ یعنی یو زر وو بیا روستو درے زره شو او د دے نه روستو پنځه زره شو ۱۲۔

تفسیر: ۵ دا د اولے دعوے یعنی الانفال لله والرسول الخ د پاره دویمه علت دے۔ حضرت شیخ قدس سرہ اوفرمائیل کما کښې کاف تعلیلیه دے۔ لکه چه علامه ابوحیان اندلسی لیکلی دی۔ ویظهران الکاف فی هذا

التخریج المنامی لیست لمحض التشبیه بل فیها معنی التعلیل الخ (بحر ص۴۳ج۴)
او الحق نه حکمت او صواب مراد دے اخراجًا متلبسًا بالحکمة والصواب (مدارک
ج۲ ص۷۰، جامع البیان ص۱۵۲) دَ سنه ۲ هـ واقعه ده چه دَ ابو سفیان په مشرئ
کښ دَ مشرکانو یوه تجارتی قافله دَ شام نه واپس راتلله چه دَ قریشو په
شپیتو (۶۰) کسانو او نوروخت متکارانو باندے مشتمل وه نبی علیه السلام
ته خبر ورکړے شو نو هغوئ صحابه جمع کړل مشوره ئے ترینه واخستله
چه ایا دَ قافلے نه روستو لاړشی نیولو دَ پاره او کۀ نا؟ ځنو صحابو خیال
ظاهر کړو چه داخو چونکه یو معمولی شان خیره ده ډیو باقاعده جنګ
صورت خو نۀ دے. ډے باندے حضرت ابوبکر صدیق او حضرت سعد
بن عُبادہ ډیر په جُوش تقریرونه اُوکړل او مسلمانان ئے دَ قافلے په
تعاقب او هغوئ پسے روستو تللو باندے تیز کړل نو نبی علیه السلام دَ درے
سوه دیارلس صحابوؤ او معمولی شان سامان سره دَ مدینے نه روان شو
چونکه دَ جنګ کیدلو ئۀ توقع او اُمید نۀ وو دَ دے وجے نه چه فوری
طور باندے څومره کسان جمع شول او چه څومره اندازه معمولی شان
سامان فی الحال لاس ته راغے هغه ئے واخستو روان شول دلته ابوسفیان
ته هم دَ خپل مخبر په ذریعه دَ نبی علیه السلام دَ پروګرام معلومات اوشول
هغۀ ابوجهل ته دَ اطلاع دَ پاره فوراً یو سړے اُولیږلو ابوجهل خبر یالو
سره فوراً یو زر جنګ کوُنکی ځوانانو سره چه په هر قسم جنګی سامان
مسلح وو دَ مسلمانانو مقابلے دَ پاره راووتل کله چه نبی علیه السلام ته
معلومه شوه نو هغوئ دوباره دَ صحابوؤ سره مشوره اُوکړه چه اُوس څونږ
مخے ته دوه ډلے دی. یوه تجارتی قافله او دَ یو مشرکانو لښکر چه پوره
مسلح دے ډے دواړو کښ دَ کوم یو سره مقابله کول غواړئ. ځنو مسلمانانو
اُوئیل چه مونږ جنګ دَ پاره تیار نۀ یو سره ته یو راوتلی او دَ مشرکانو دَ فوج
شمیر څمونږ نه زیات دے او سامان جنګ کښ هم څمونږ نه زیات
دی دَ هغوئ مقابله ګرانه وی دَ دے وجے نه دَ قافلے سره مقابله کول
پکار ده دَ نبی علیه السلام داخبره خوښه نۀ وه هغوئ اُوفرمائیل چه
الله تعالیٰ ځما سره وعده کړیده چه هغه به دے دواړو ډلو کښ یو څمونږ
په لاس مغلوبه کوی. دَ دے وجے نه څمونږ دَ پاره دَ لښکر سره مقابله
پکار ده ډے دَ پاره چه فیصله کوُنکی جنګ سره دَ کافرانو دَ طاقت خاتمه
اُوشی. حضرت ابوبکر او حضرت سعد بن عُبادہ هم دَ نبی علیه السلام
دَ رائے په حق کښ زور دار تقریرونه اُوکړل اخر دَ بدر میدان کښ
دَ مشرکینو په اسلحه سنبال فوج او دَ مسلمانانو یو مُوټے لښکر خپل

منځ کښې یو بل ته راوړاندې شول او د حق او د باطل منځ کښې فیصله کونکې مقابله اُوشوه د مشرکانو اوویا سرداران قتل شول چه په هغې کښې ابوجهل هم وو او اوویا بنته قید شول دا شان د عربو جزیره کښې د کفر زور مات شو. دې فتح کښې ډیر زیات مالِ غنیمت د مسلمانانو لاس ته راغې دې باندې الله اُوفرمائیل د مالِ غنیمت تقسیم باره کښې اختلاف مهٔ کوئ او خپلې رائې ته دې کښې دخل مهٔ ورکوئ. د دې تقسیم د الله د حکم مطابق د الله تعالیٰ پیغمبر کوی دا فتح او دا د غنیمت مالونه تحو ستاسو په خواب او خیال کښې هم نهٔ وو او تاسو خو د دې لښکر په مخکښې راتلل نهٔ غوښتل دا خو تیوله د الله تعالیٰ مهربانی ده او د هغهٔ توفیق ؤ چه هغهٔ د قافلې نه د روستو تللو او تیولو په بهانه تاسو د مدینې نه اوویستلئ او ډیر لوئې لښکر سره ئې اُوجنګولئ او دې کښې هم د هغهٔ حکمت پټ وو چه هغهٔ یو موټې کمزوری مسلمانان ناڅاپه ډیر مضبوط فوج سره مقابله کړل او د حق او باطل فیصله ئې اُوکړه او ډیر زیات مالِ غنیمت ئې د هغوی په قبضه کښې ورکړو.

۱۵ یعنې د مدینې نه د قافلې په راتیولو کښې د وتلو په وخت څو مسلمانانو د ناخوښئ اظهار کړے وو. یُجَادِلُوْنَكَ فِي الْحَقِّ. الحق یعنې بالکل ظاهر او واضحه خبره. كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ اِلَى الْمَوْتِ. دا د ناخوښئ تمثیل دے یعنې د مدینې نه وتل ئې داشان نهٔ خوښول لکه چه هغوئ ته مرګ په نظر راتلې د بشریت په تقاضا څنو مسلمانانو ته د دې ظهور اُوشو لیکن د دې باوجود الله تعالیٰ دې مؤمنانو ته اُوفرمائیل او دا ناخوښی هم په شروع کښې وه کومه چه روستو په رضا او خوښئ کښې بدله شوه. څنو مفسرینو فرمائیلی دی چه دا ناخوښی د وتلو په وخت مراد نهٔ ده بلکه د قافلې پریښودل او لښکر سره مقابل کیدلو باندې ناخوښی مراد ده. ضمیر الرفع فی یجادلونك عائد علی فریق المؤمنین الکارهین وجدالهم قولهم ما کان خروجنا الا للعیر ولو عرفنا لاستعددنا للقتال (بحر ج ۴ ص ۴۶۳) لیکن د سیاق نه مخکښې مفهوم راجح معلومیږی.

۱۶ دا دویم علت دے د الله تعالیٰ وعده وه چه د دواړو (لښکر او قافله) نه به یو باندې تاسو ته ضرور فتح درکوم تاسو په بے اسلحه قافله باندې حمله کول غوښتل لیکن الله تعالیٰ غوښتل چه تاسو د دې کم شمیر او بے سروسامانئ سره د مشرکانو د لښکر سره اُوجنګوی حق دین اُوچت کړی او باطل ته شکست ورکړی او د مشرکانو جرړې پریکړی.

۱۷ دا دریم علت دے کله چه مسلمانانو ته معلومه شوه چه اوس د مشرک

فوج سره مقابله ضروری ده نو اوس ئے الله تعالیٰ ته د یوے عاجزئ سره مداد او نصرت د پاره دُعا گانے شروع کړے. پخپله نبی علیه السلام و بیر یه عاجزئ او زارئ سره دُعا اوکړه قبلے طرف ته مخ کړو لاسونه ئے وچت کړل عرض ئے اوکړو. اے الله خپله وعده پوره کړه د فتح او مدد ئے الله که چرے دا یو مو ټے جماعت هلاک شی نو په زمکه به ستا د عبادت کونکی هیڅوک نه وی نبی علیه السلام دومره اوږده دُعا اوکړه چه د هغوی څادر د اوګونه پریوتلو حضرت ابوبکر رضی الله عنه څادر د نبی علیه السلام په اوګو واچولو او وئے وئیل یا رسول الله دُعا کافی شوه الله تعالیٰ به خپله وعده ضرور پوره کوی (قرطبی وغیره).

ف یعنی الله تعالیٰ ستاسو دُعا قبوله کړه او د اسباب په طور ئے ستاسو مداد د پاره د فرشتو فوج نازل کړو اِنّیْ نه مخکښ حرف جار مقدر دے ی بِاَنِّیْ (روح) یا د دینه مخکښ اخبرکم محذوف دے. دلته د یوزر فرشتو ذکر دے چونکه د مشرکانو شمیر یوزر وو د دے وجے نه د یو زر فرشتو راتلل هم لازمی طور باندے بیان کړے شول د دے زیاتی تحقیق په سورة آل عمران کښ ص۱۲۳ باندے حاشیه ۱۳۱ اوګوری. مُرْدِفِیْنَ، یعنی فرشتے چه د هغوی نه روستو به بل جماعت راځی. فرشتے چه د خپل ځان نه روستو به بل جماعت راولی (فتح الرحمٰن).

ف د فرشتو نازلول خالص د فتح او کامیابئ زیرے او د ظاهری اسبابو جوړولو په طور باندے وو دے د پاره چه د مسلمانانو زړونه مطمئن شی او د دشمن د زیاتوالی او د هغوئی د سامانِ جنګ د وجے نه د هغوئی په ثابت قدمئ کښ لغزش رانه شی باقی فتح او غلبه خو صرف د الله تعالیٰ په قبضه کښ ده او د هغه د طرفه ده. فرشتو او نورو ظاهری اسبابو باندے منحصر نه ده کامیاب هغه څوک وی چه الله د چا مدد اوکړی ګرچه په ظاهری اسبابو کښ هغه کم وی. المعنی لا تحسبوا النصر من الملائکة علیهم السلام فان الناصر هو الله تعالیٰ لکم والملائکة وعلیه فلا دخل للملائکة فی النصر اصلاً (روح ج ۹ ص۱۷۴)

إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ

کوم وخت چه واچوله هغه تاسو باندے پرکالی د خپل طرف نه تسکین د پاره او نازله کړه

عَلَيْكُم مِّنَ السَّمَاءِ مَاءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ

په تاسو باندے د اسمان نه اوبه چه پاک کړی تاسو په هغے سره

وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ

او لرې کړي ستاسو نه پلیتي د شیطان او مضبوط والے راولي

عَلٰى قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ ﴿١١﴾

په زړونو ستاسو او محکم کړي په هغې سره قدمونه ستاسو ف۱

إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ

کله چه حکم اولیږلو ستا رب ﷻ فرښتو ته چه زۀ ملګرے یم ستاسو

فَثَبِّتُوا الَّذِينَ اٰمَنُوا ۚ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ

تاسو ثابت اوساتئ زړونه د مسلمانانو، زۀ به واچوم په زړۀ کښې

الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ

د کافرانو ویره تو وهئ د پاسه په څټونو باندې

وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ

او پرې کړئ د هغوئ هر هر بند ﷻ ف۲ - دا د دې د پاره چه هغوئ ﷻ

شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ ۚ وَمَن يُشَاقِقِ اللّٰهَ

مخالف شول د الله او د هغۀ د رسول او څوک چه مخالف شول د الله تعالیٰ

وَرَسُولَهٗ فَإِنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذٰلِكُمْ

او د هغۀ د رسول نو بیشکه د الله تعالیٰ سخت عذاب دے داخو تاسو

فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكٰفِرِينَ عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾

اوڅکئ او پوهه شئ چه کافرانو د پاره دے عذاب د دوزخ -

موضح قرآن

ف۱ دوه لښکرے مخامخ شوے د شپې مسلمانانو ته
د غسل حاجت پیښ شو او د څکلو اوبۀ هم نۀ وے
او زمکه شګه وه چه په هغې پښے نۀ مضبوطیدلے صباله جنګ هم کیدونکے
وو. د دے خیزونو تولیدلو سره ویره وه چه داخو د شکست آثار دی هغه
وخت ګے پیوه باران اُوورولو چه اُوبۀ غسل د پاره او څکلو د پاره

کافی شوے او زمکه کلکه شوه او بو پرکالی راغله چه هغه لا ړه نو د زړونو وېره هم ختمه شوه. **ف۲** د کافرانو زړونه د فرښتو د الهام قابل نهٔ وو نو د رُعب نسبت ئے ځانته اُوکړو او د مسلمانانو د زړونو ثابتولو حکم ئے اُوکړو او دے جنګ کښې فرښتے په لاسونو سره هم جنګېدلے دی ۱۲ منه رح

فتح الرحمٰن **ف۱** دے کښې اشاره ده هغه قصے ته چه د بدر په ورځ مسلمانان تنګی شوی وو او بے اوبه وو اُوبهٔ ئے نهٔ لرلے او په دے وجه د شیطان وسوسے د هغوئ زړونو ته لاره اُوموندله الله تعالیٰ باران اُووروّلو او پرکالی ئے د مسلمانانو په سترګو مُسلط کړه دے د پاره چه د مسلمانانو د زړونو نه پریشانی لرے شی ۲۰

تفسیر: **۱۱** داخلوړم علت دے. اَمَنَةً مفعول لهٔ دے او د مِّنْهُ ضمیر مجرور د الله طرف ته راجع دے د بدر میدان کښې د بعضو ظاهری اسبابو د وجے نه مسلمانان څهٔ پریشان غوندے وو، مشرکین تعداد کښې زیات وو او هر قسم ضروری سامان سره تیار وو او په میدان کښې صرف یو ځائے اُوبه وے په هغے هم د دُشمن قبضه وه کوم ځائے چه د مسلمانانو لښکر پاتے شو هلته د اُوبو نوم او نشان نهٔ وو او هر طرف ته شګه او شګه وه د کومے په وجه چه د هغوئ د پاره تلل راتلل ګران وو الله تعالیٰ خالص خپلے مهربانئ سره باران اُووروّلو د کوم په وجه چه د مشرکانو د پاتے کېدو ځائے کښې هر طرف ته ختے او خټے شوے او د خوئېدو د وجے نه د هغوئ تلل راتلل مشکل شول او هغوئ په یو نوی مصیبت کښې مبتلاء شول. بل طرف ته د مسلمانانو د پاتے کېدلو په ځائے کښې شګه کېناستله او ګرد، غبار نه خلاصے مِلاؤ شو او د څکلو او اودس د پاره اُوبهٔ په کندو کښې جمع شوے. دغه وخت الله تعالیٰ په مسلمانانو باندے د خوب پشان حالت (پرکالی) راوستله کله چه ئے سترګے راویښے شوے نو بنوله وېره ختمه شوه او زړونو کښې ئے د اطمینان جُوش پیدا شو.

۱۲ دا پنځم علت دے. اَنِّیْ نه مخکښې قُوْلُوْا محذوف دے په مَعَکُمْ کښې کُمْ ضمیر نه مؤمنان مُراد دی نهٔ چه فرښتے، د دے د پاره چه دا اعتراض لازم نهٔ شی چه ولے فرښتے هم وېرېدی. ابلیس په انسانی شکل کښې ښکاره شو د مشرکانو حوصلے ئے اُوچتولے او د مسلمانانو حوصلے ئے کمزورے کولے د دے وجے نه الله تعالیٰ فرښتے د انسانانو په شکل کښې د مسلمانانو د امداد او مضبوطولو د پاره راُولیږلے او هغوئ ته ئے حکم ورکړو چه لاړے شئ د مسلمانانو امداد اُوکړئ او هغوئ ته اووایئ چه زهٔ ستاسو سره یم او ستاسو حمایت کوونکے او امداد کوونکے یم زهٔ به د کافرانو په زړونو کښې

ویره واچوم او هغوئ به ویرے او رُعب سره نا اُمید شی د تیښتے لاره به اختیار کړی. یا د مَعَکُمْ ضمیر نه فرښتے مراد دی او مطلب دا دے چه د مسلمانانو په تائید کښ به ستاسو مدد کوم، او نا صریم او دا مطلب نه دے چه زهٔ به ستاسو ویره لرے کړم ځکه چه فرښتے د کافرانو نه هرګز نه ویریږی. ای معینکم علی تثبیت المؤمنین ولا یمکن حمله علی ازالة الخوف...... لان الملائکة لا یخافون من الکفرة اصلاً (روح ج ۹ ص ۱۷۷).

۱۳ـه کُلَّ بَنَانٍ. بنان د بَنَانَة جمع ده یعنی د لاسونو ګوتے د ګوتو تخصیص ځکه شوید ے چه اسلحه په ګوتو سره نیولے شی یا دا د ټول بدن نه کنایه ده. لاجل انهم بها یقاتلون ویدافعون والظاهر انها حقیقة فی ذٰلك وبعضهم یقول انها مجاز فیه من تسمیة الکل باسم الجزء (روح ج ۹ ص ۱۷۸)

۱۴ـه ذکر شوو اُمورو طرف ته اشاره ده یعنی د مشرکینو د وهلو او وژلو حکم ځکه ورکړو چه هغوئ د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول مخالفت ته ملا تړلے وه ذٰلِکُمْ فَذُوْقُوْهُ. د دینه مخکښ قُوْلُوْا محذوف دے او وَاَنَّ لِلْکٰفِرِیْنَ نه مخکښ واعلموا مقدر دے یعنی مونږ وئیلی وو چه اُوس دا عذاب اُوڅکئ او په دے هم پوهه شئ چه ستاسو پشان کافرانو د پاره د دوزخ عذاب هم تیار دے.

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا لَقِیْتُمُ الَّذِیْنَ

اے ۱۵ـه ایمان والو کله چه مقابله شئ تاسو

کَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ﴿۱۵﴾

د کافرانو سره په میدان جنګ کښ مهٔ ګرځوئ هغوئ ته شا کانے وال

وَمَنْ یُّوَلِّهِمْ یَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗۤ اِلَّا مُتَحَرِّفًا

او څوك چه اُوګرځوی هغوئ ته ۱۶ـه په دغه ورځ شا خپله مګر دا چه هنرکوونکی وی

لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَیِّزًا اِلٰی فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ

د جنګ یا دا چه یو ځائے کیدونکی وی د فوج سره نو هغه اُوګرځیدو

بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ

د قهر د الله تعالیٰ سره او د هغهٔ ځائے دوزخ دے او هغه ځائے

الْمَصِيرُ (١٦) فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ

بد دے . نو تاسو هغوئی لره نه دی وژلی ځله لیکن الله تعالیٰ

قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ

وژلی دی هغوئی او تا نه دی ویشتلی په موټے خاورے ځله دے کوم وخت چه تا ویشتلے وے لیکن الله تعالیٰ

رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً

ویشتلی کړیدی او د دے د پاره چه اوکړی په ایمان والو باندے ځله احسان

حَسَنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (١٧) ذَٰلِكُمْ

ښه بیشکه الله دے اوریدونکے خبردار ځله . دا خو اوشول ځله

وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ (١٨)

او پوهه شه چه الله به سست کړی تدبیر د کافرانو

إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ ۖ

که چرے تاسو فیصله غواړئ ځله نو را اورسیدله تاسو ته فیصله

وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ ۖ وَإِنْ تَعُودُوا

او که چرے منع شئ نو بهتر ده ستاسو د پاره او که چرے بیا هم داسے کوئ

نَعُدْ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَ

نو مونږ به بیا داسے کوو ځله او یکار به رانشی ستاسو ډله هیڅ اگر

لَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ (١٩)

که ډیره دی او پوهه شئ چه الله تعالیٰ ملګرے د ایمان والو دے ځله ځله

نکات: ۱ځله په پنځو علتونو باندے متفرع دے. یعنی د دے علتونو نه ثابته شوه چه مشرکان تاسو نه دی وژلی بلکه الله تعالیٰ وژلی دی.
۲ځله د دینه معلومه شوه چه معجزه د نبی علیه السلام په قبضه کښ نه ده ورکړے شوے. تانئیں. کما ذکرتی فی نفسه خیفة موسیٰ قلنا لا تخف انك انت الاعلیٰ - ۱۲۰ ۳ځله د دے معطوف علیه محذوف دے او لیبلی په معنیٰ

دَ لیعطی دے ۱۲- ۵ـــ ای قلنا ذالکم فذوقوا واعلموا ان الله الخ۔
ت ای واعلموا ۱۲-

موضح قرآن ف۱ یعنی کله چه دَ جنګ په میدان کښ مقابله وی نو تښتیدل سخت ګناه ده او کومه منډه چه وی یا دهاکه اچول وی نو تښتیدل هغه نه دے ۱۲ منه۔ ف۲ کله چه جنګ سخت شو هغه وخت نبی علیه السلام یو موټے شګے هغه لښکر طرفته اوویشتلے دَ الله په قدرت سره دَ هرچا سترګو ته شګے اورسیدے روستو چه فتح شوه فرمائیل شو چه مسلمانان پوهه شی کښ حیل دخل مه ګوئ ۱۲ منه رحمة الله تعالیٰ۔ ف۳ مکی سورتونو کښ ئے دَ کافرانو کلام نقل کړو چه هر وخت به ئے وئیل متی هذا الفتح یعنی کله به وی دا فیصله نو اوس ئے جواب ورکړو چه دا فیصله را اورسیده اوکۀ چرے منع شئ یعنی دَ کفر نه اوکۀ چرے بیا کوئ یعنی جنګ نو مونږ به هم بیا کوو یعنی امداد ۱۲ منه رح۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی یو موټے خاؤرے ۱۲- ف۲ اشاره ده هغه قصے ته چه کله نبی علیه السلام دَ بدر په ورځ یو موټے شګے دَ کافرانو طرف ته اوویشتلے نو هیڅوک دَ هغوئ نه داسے نۀ وو چه دَ هغے نه څۀ شے دَ هغوئ سترګو ته داخل نۀ شو او نوے استقلال دَ مؤمنانو زړونو ته ظاهر شو او داغیبی امداد وو ۱۲-
ف۳ یعنی په بدله ورکولو سره ۱۲- ف۴ اشاره ده هغے قصے ته چه ابوجهل دَ غزوۀ بدر په ورځ دعا اوکړه چه اے الله هرڅوک چه دَ دے دواړو ډلو نه صله رحمی پریکوی او باطل دین ئے اختیار کړیدے نو هغه هلاک کړه او په حقیقت کښ دا صفات ابوجهل او دَ هغۀ په قوم کښ وو ۱۲-

دویم مضمون
(دَ جهاد قوانین)

تفسیر ۱۵ـــ دے ځائے نه دَ جهاد دَ قوانینو بیان شروع شو دا اول قانونِ جهاد دے۔ زَحْفًا په معنیٰ دَ اسمِ فاعل دے دَ کَفَرُوْا ضمیر نه حال واقع دے یعنی کله چه دَ جنګ په میدان کښ دَ کافرانو دَ لښکر سره مقابله شئ او اتفاق سره او ډلے ډلے مقابلے ته راغلی بیئ نو شا کړځولو سره تښتیدل مه کوئ بلکه بهادرئ او ثابت قدمئ سره مقابله اوکړئ۔
۱۶ـــ دا میدانِ جنګ پریښودونکو او تښتیدونکو دَ پاره تخویف اخروی دَ

کوم سړے چه د سخت جنګ په وخت د شاه ګرځولو سره تېښته اُوکړی هغهٔ د الله تعالیٰ قهر واخستو او د هغهٔ ځائے جهنم دے د تېښتې نه دوه صورتونه مستثنیٰ کړے شو یعنی د جنګ د میدان نه واپس کیدل که چرے د یو جنګی مصلحت په بناء باندے وی نو دا جرم نهٔ دے مثلاً روستو شی د بل کوم طرف نه حمله کول په دشمن باندے زیات فائده مند وی یا روستو کیدل لو سره د مجاهدینو یو بل جماعت سره یو ځائے په دشمن باندے د حملے کولو اراده ئے وی نو دا او د دے پشان نور صورتونه چه په هغے کښې روستو کیدل د جنګ نه ځان بچ کولو او د تېښتې نیت سره نهٔ وی بلکه د یو جنګی تدبیر د لاندے وی نو هغه د دے وعید او سزا نه خارج دے۔

ف۱۷ دا ثمره او فائده ده چه په تیرو شوو پنځو علتونو باندے متفرع ده یعنی د دعوے ذکر شوو پنځو علتونو نه معلومه شوه چه د بدر په جنګ کښې د مشرکانو قتل او د هغوئی د رسوا کوونکی شکست اسباب الله پاک د غیب نه پیدا کړی وو د دے وجے چه تاسو خلق دا خیال اُونکړئ چه دا ستاسو کمال دے او تاسو هغوئی وژلی نهٔ دی بلکه الله تعالیٰ هغوئی وژلی دی او برباد کړی ئے دی مقصد دا دے چه د مشرکانو قتل اګرچه په ظاهر د مسلمانانو په لاس شوے دے لیکن د دے اسباب الله تعالیٰ برابر کړل هغهٔ مسلمانان دوئی باندے مسلط کړل او د دوئی زړونه ئے د مسلمانانو هیبت او یرهٔ ډکی سره او ویرول امام مجاهد فرمائی د بدر په ورځ د فتح نه روستو مجاهدینو نه چا اُوئیل چه ما فلانکے اووژلو او یو بل تن اُوئیل چه فلانکے کافر ما قتل کړو دے باندے الله تعالیٰ اُوفرمائیل ستاسو څهٔ طاقت وو دا لویه فتح خو محض زما توفیق او امداد سره حاصله شویده۔ یعنی ان هذه الکسرة الکبیرة لم تحصل منکم وانما حصلت بمعونة الله ...... ان قتل الکفار انما تیسر بمعونة الله ونصره وتائیده (کبیر ج ۴ ص ۵۲۶)

ف۱۸ میدان بدر کښې نبی علیه السلام د الله تعالیٰ په حکم یو موټے شګے د مشرکانو د لښکر طرف ته ګوزار کړے الله تعالیٰ د هر مشرک سترګو ته د یو موټی ذرے اُورسولے دے سره مشرک فوج کښې بے قراری پیدا شوه او هغوئی شکست اُوخوړو اُوتښتیدل دا یوه معجزه وه چه الله تعالیٰ د نبی علیه السلام په لاس ظاهر کړه دے ایت نه معلومه شوه چه معجزه د پیغمبر په اختیار کښې نهٔ وی بلکه د الله تعالیٰ په اختیار کښې وی چه هغه ئے د خپلو پیغمبرانو په لاس ظاهروی لکه چه د حضرت موسیٰ علیه السلام

په واقعه کښې اُوفرمائیل فَاَوْجَسَ فِیْ نَفْسِهٖ خِیْفَةً مُّوْسٰی قُلْنَا لَا تَخَفْ
اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰی (طٰهٰ ع ۳) که چرې معجزه د حضرت موسیٰ علیه السلام
په قبضه او اختیار کښې وے نو هغهٔ نه د ویرېدلو ځه ضرورت وو.
۱۹ واؤ عاطفه دے او معطوف علیه محذوف دے. ای لیمحق الکٰفرین
ولیبلی المؤمنین الخ ابلاء دلته په معنیٰ د اعطاء دے بَلَاءً حَسَنًا یعنی
عطاء جمیل چه بغیر د مشقت نه حاصل شی. ای لیعطیهم سبحانه من
عنده اعطاء جمیلا غیر مشوب بالشدائد والمکاره (روح ج ۹ ص ۱۸۷
ابوالسعود ج ۴ ص ۵۲۸) یا د بلاءً حسنًا نه انعاماتِ جلیله او احساناتِ
عظیمه مراد دی. مثلاً د غنیمت مال فتح او نصرت او اجر او ثواب ای
ینعم علیهم نعمة عظیمة بالنصرة والغنیمة والاجر والثواب (کبیر ج ۴ ص ۵۳۸
خازن ج ۳ ص ۱۵). **۲۰** ذٰلِكُمْ نه مخکښې قُلْنَا او د دے نه روستو فَذُوْقُوْهُ
مقدر دے او اَنَّ نه مخکښې اعلموا بقرینة ذالکم فذوقوه وان للکٰفرین الخ
یعنی مونږ اُوئیل اوس د عذاب اُوڅکئ او یقین اوکړئ چه الله پاک به
د کافرانو مکر او فریب بیکاره کوونکے دے.
۲۱ خطاب مشرکانو سره دے او د استفتاح معنیٰ د فیصلے طلب ده لکه
چه وے فرمائیل رَبَّنَا افْتَحْ بَیْنَنَا وَبَیْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ (اعراف ع ۱۱) د مکے
مشرکانو به د هجرت نه مخکښې نبی علیه السلام ته وئیل. مَتٰی هٰذَا الْفَتْحُ
اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ (سجده ع ۳) یعنی څمونږ او ستاسو مینځ کښې به د صادق
او کاذب او د محق او مبطل فیصله کله وی. وے فرمائیل بس مونږ فیصله
اوکړه چه تاسو خپلو سترګو سره اُولیدله چه مونږ بے سروسامان او د
یو موټی مسلمانانو په لاس په سامان جنګ سنبال لوئے لښکر ختله او وهلو
او د هغوئی په لاسونو مونږ تاسو ته د رسوایئ شکست درکړو او غرور ته
مو ستاسو د طاقت او قوت خاتمه اوکړه اُوس که چرے تاسو د پیغمبر
علیه السلام د مخالفت او کفر شرک نه واپس راشئ نو دیکښې ستاسو
دنیوی او اُخروی فائده ده لیکن که چرے تاسو واپس نهٔ شئ او د نبی
علیه السلام سره په جنګ شوئ نو مونږ به بیا هم ستاسو دا حشر او
حالت اوکړځوو او ستاسو ډله او ستاسو فوج به د ډیر شمار او ډیر سامانِ
جنګ باوجود ستاسو هیڅ په کار رانهٔ شی.
وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِیْنَ. واؤ نه روستو اِعْلَمُوْا مقدر دے او دا یقین ساتئ
چه د الله تعالیٰ امداد او نصرت خو به د ایمان والؤ سره وی ځکه چه د الله
تعالیٰ دا طریقه جاریه ده. وان سنة الله تعالیٰ جاریة فی نصر المؤمنین
وخذلان الکافرین (روح ج ۹ ص ۱۸۸)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ

اے ۲۲ ایمان والو حکم اُومنئ دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول

وَلَا تَوَلَّوْا۟ عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَا

او مه اړوئ دَ دے نه او ربئ وسره . او مهٔ

تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَهُمْ

کیږئ پشان دَ هغه چا چه وے وئیل موږ واؤریدو او هغوئ

لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾ ۞ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ

نهٔ اوری ف۲ . بیشکه ډیر خراب تولو چارپایانو کښې په نزد ۲۳ دَ الله

ٱلصُّمُّ ٱلْبُكْمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَوْ

کانړهٔ او گونګیان دی هغه کوم چه نهٔ پوهیږی ف۲ او که چرے

عَلِمَ ٱللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ ۖ وَلَوْ

معلوم وے الله ته ۲۳ په دوئ کښې څهٔ خیر نو اوروله به ئے وهغوئ ته ف۲ او که چرے

أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا۟ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

واؤروی هغوئ ته اوس نو خامخا تښتی هغوئ مخ گرځولو سره ف۳۰

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَجِيبُوا۟ لِلَّهِ

اے ۲۵ ایمان والو حکم اُومنئ دَ الله تعالیٰ

وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ

او دَ رسول کوم وخت چه را اُوبلی تاسو دَ هغه کار طرفته چه ستاسو ژوند دَ یه کوم کښې

وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ

او پوهه شئ چه بیشکه الله تعالیٰ ۲۶ ایسار وی دَ سړی نه دَ هغهٔ زړهٔ ف۳

وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱتَّقُوا۟ فِتْنَةً

او دا چه تاسو به هغهٔ سرهٔ جمع کیږئ ف۳ . او ځان بچ کړئ دَ هغه فساد نه

لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً

چه نهٔ به پریوځي ځه هغه ظالمانو باندې مګر ستاسو نه خاص

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾

او پوهه شئ چه بیشکه ذ الله سخت عذاب دے ۵ ۵

نکات: ۱- ۱ دویم قانون مؤمنانو ذ پاره ۱۲ ۲ زجر دے یعني ضد کولو سره ذ مهر جباریت ذ لا ندے مهٔ راځئ ۱۲- ۳ انابت (الله طرفته رجوع) ۱۲ ۴ ذ مهر جباریت په وجه ۱۲- ۵ دریم قانون مؤمنانو ذ پاره ۱۲- ۶ لام اجلیه دے یا لام په معنی ذ الی دے ۱۲- ۷ ای واعلموا ۱۲- ۸ زجر سره ذ تخویف اخروي نه ۱۲-

موضح قرآن ف۱ یعني څنګه چه یهودیانو ذ تورات حکم زور راوړلو سره قبول کړو او ذ زړهٔ نه ئے قبول نکړو داشان منافقان هم حکم په ژبه مني او ذ زړهٔ نه ئے نهٔ مني ۱۲ منه رح ف۲ یعني ذ ګڼاورونه هم ډیر خراب دی هغه انسانان څوک چه حق اونهٔ پیژني. ف۳ یعني الله تعالی ذ هغوئي په زړونو کښ ذ هدایت لیاقت نهٔ دے کینو دلے چا کښ چه ئے لیاقت ایښے دے هغوئي ته هدایت ورکوي او غیر لیاقت والا چه څهٔ اوري هغے نه انکار کوي ۱۲ منه رح ف۴ یعني حکم په ځائے راوړلو کښ روستو والے مهٔ کوئ کیدے شي هغه وخت زړهٔ داسے پاتے نهٔ شي زړهٔ ذ الله تعالی په لاس کښ دے او الله تعالی ذ چا زړهٔ ته منع کوي او مهر پرے نهٔ لګوي ترڅو چه بنده سستي اونکړي بیا ذ هغے په سزا کښ ئے منع کوي یا ضد اوکړي حق پرستي اونکړي نو بیا پرے مهر لګوي ۱۲ منه رحمه الله تعالی. ف۵ یعني په حکم کښ سستي کولو سره څو زړهٔ وخت په وخت پوره ته کیږي او هغه کار مشکل کرځي بل په نیکوکښ ذ نیکانو سستي کولو سره به ګناهګاران نیکي بالکل پریږدي نو بد رسم به خوریږي. ذ هغے وبال به په ټولو پریوځي لکه په جنګ کښ چه بهادر سستي اوکړي نو نامرد او بزدل به تیښته اوکړي او بیا چه شکست راشي نو بهادر هم ذ هغے ذ دفع کولو نه عاجز شي ۱۲-

فتح الرحمٰن ف۱ یعني ذ اهل کتابو پشان چه تورات ئے لوستلو او په ژبه ئے اقرار کولو او په هغے ئے عمل نهٔ کولو ۱۲- ف۲ یعني لیکن وے نهٔ پیژندو ۱۲- ف۳ یعني عزیمت او فسخ کوي ۱۲- ف۴ یعني بلکه عام به وي ذ هغے بدي والله اعلم ۱۲

ف۵ مترجم وائي هغه فتنه د بدعت ظهور دے یا نهی عن المنکر پریښودل دي والله اعلم ۱۲۔

تفسیر ۲۲ دویم قانونِ جنګ مؤمنانو ته پاره اے ایمان والو الله او د هغه د رسول اطاعت اوکړئ او د هغه د حکم نه سر مه ناوه وئ۔ وَلَا تَکُوْنُوْا کَالَّذِیْنَ الخ دا زجر دے یعنی د هغه کافرانو او منافقانو پشان مه کیږئ چاچه اوئیل مونږ واؤریدل لیکن اوریدلو بانے ئے عمل اونکړو او دا شان د الله د قهر او غضب مستحق اوګرځیدل تاسو هغوئ طریقه اختیار ولو سره څما د قهر او غضب مستحق مه جوړیږئ۔

۲۳ د پوره ته ذکر شوو عنادیانو د زړونو، غوږونو او ژبو باندے د مهر جبار یت تکید لو تمثیل دے یعنی په زمکه باندے تلونکی د الله په مخلوق کښ د ټولو نه زیات خراب مخلوق هغه دے څوک چه حق خبره ته اوري او حق خبره نه کوی او زړه سره د حق د پیژندلو کوشش ته کوی دا سے مخلوق د الله تعالیٰ په نزد د ټولو نه زیات خراب دے۔

۲۴ څه خیر او د الله طرف ته څه اندازه رجوع وے۔ لَاَسْمَعَهُمْ هغوئ ته به ئے حق خبره اوروله وے او هغوئ ته به ئے د قبلولو توفیق ورکړے وے یعنی که چرے د هغوئ په زړونو کښ د انابت (حق طرف ته رجوع) او د حق طلب کولو جذبه وے نو الله تعالیٰ به هغوئ ته د حق قبلولو توفیق ورکړے وے۔ لیکن هغوئ د انابت او د حق قبلولو د صلاحیت نه محروم دی۔ د دے وجے نه که چرے هغوئ حق خبره واؤري هم او وربانے پوهه هم شي نو بیا به هم هغوئ د دینه مخ واړوی ځکه چه د دوئ د پوهیدلو چه کوم قوتونه دی په هغے د جبار یت مهر لګیدلے دے۔

لِعِنَادِهِمْ وَجُحُوْدِهِمُ الْحَقَّ بَعْدَ ظُهُوْرِهٖ (معالم وخازن ج ۳ ص۵۱ وص۵۲)

۲۵ دریم قانونِ جنګ۔ لِمَا کښ لام په معنی د اِلیٰ دے او دا د عَاکُمْ سره متعلق دے۔ مَا یُحْیِیْکُمْ نه جهاد مراد دے ځکه چه جهاد د دُنیا او اخرت د پاکیزه ژوند او د ارام زندګئ باعث دے دنیا کښ جهاد پریښودلو سره به مسلمانان د کافرانو نه مغلوب شي او قتل به کړے شي۔ خو د جهاد په صورت کښ به الله تعالیٰ ایمان والو ته غلبه ورکړي او په دنیا کښ د خپل تهذیب او ثقافت او شان و شوکت سره ژوند ای پاتے شي۔

لانهم لو رفضوها (مجاهدة الکفار) لغلبوهم وقتلوهم کما فی قوله تعالیٰ وَلَکُمْ فِی الْقِصَاصِ حَیٰوةٌ (ابوالسعود ج ۴ ص۵۳۲)

یا لام په خپل اصل دے او استجیبوا سره متعلق دے او ما یحییکم نه د قرآن مجید ټول اوامر او نواهی مراد دی ځکه چه دے باندے

عمل کول د همیشه ژندګئ او همیشه نعمتونو سبب دے وقال مجاهد والجمهور المعنی استجیبوا للطاعة وما تضمنه القرآن من اوامر ونواهی ففیه الحیوة الابدیة والنعمة السرمدیة (قرطبی ج ۷، ص۳۸۹) یعنی د الله پاک او د هغهٔ د رسول اطاعت اوکړئ او د هغهٔ احکام په ځائے راوړئ دے سره به همیشه ژوند حاصل شی۔

ف۳۶ که چرے تاسو د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول اطاعت خپل ژوند شعار جوړ کړئ نو الله تعالیٰ به خپل توفیق او تائید سره د ایمان حفاظت اوکړی او تاسو ته به دے باندے استقامت درکړی د الله تعالیٰ د بنده او د هغهٔ د زړهٔ مینځ کښ حائیل کیدلو نه مراد هم دا دے و آئنهٔ دا په اَنَّ اللّٰهَ یَحُوْلُ باندے عطف دے او اِعْلَمُوْا د لاندے داخل دے۔

ف۳۷ زجر سره د تخویف نه او د داسے ګناه او فتنے نه ځان اوساتئ چه د هغے خراب اثرات صرف د هغے بلا واسطه کونکی پورے محدود نهٔ دی بلکه د قوم نور افراد هم د هغے نه متاثر کیږی مثلاً جهاد کښ سستی او کمزوری ښکاره کول د هغے سزا صرف مجاهدینو ته نهٔ رسیږی بلکه ټول قوم ته رسیږی او امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښ سستی او کمزوری چه د هغے نتیجه به دا وی چه بدعات او منکرات به عام شی او ټوله معاشره تباه شی۔ ؎

بے ادب تنها نه خود را داشت بد
بلکه آتش در همه آفاق زد

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِى

او یاد کړئ کوم وخت ف۳۸ چه تاسو لږ وئ مغلوب شوی وئ په

الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ

ملک کښ ویریدلئ چه په جلتئ سره به اوتښتوی تاسو لره خلق

فَاٰوٰىكُمْ وَاَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ

بیا هغهٔ تاسو ته ځائے درکړو او قوت ئے درکړو په امداد د خپل سره او روزی ئے درکړه تاسو

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ يٰٓاَيُّهَا

پاک څیزونو نه دے د پاره چه تاسو شکر اوباسئ ف

اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ

ف۳۹ ایمان والو خیانت مه کوئ د الله تعالیٰ او د رسول سره

وَتَخُوْنُوْٓا اَمٰنٰتِكُمْ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَاعْلَمُوْٓا

او خیانت مه کوئ خپلو اماناتونو کښې سره د پوهې نه . او پوهه شئ

اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ

چه بیشکه ستاسو مال او اولاد اچونکي دي خرابئ کښې . او بیشکه د الله تعالی

عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

سره ثواب لوئے دے ۲ . اے ایمان والو ۳

اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا وَّيُكَفِّرْ

که چرے ویریږئ تاسو د الله نه نو اوبه کړی تاسو کښې فیصله او هغه به لرے کړی

عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ

ستاسو نه گناهونه ستاسو او او به بښی تاسو او د الله تعالی فضل

الْعَظِيْمِ ﴿۲۹﴾ وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

لوئے دے ۳ . او کله چه فریب کولو ۳ له هغه کافرانو

لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ يَقْتُلُوْكَ اَوْ يُخْرِجُوْكَ ۭ وَيَمْكُرُوْنَ

چه تا قید کړی یا د قتل کړی یا د اوباسی او هغوئ هم تدبیر کولو

وَيَمْكُرُ اللّٰهُ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿۳۰﴾

او تدبیر هم کولو الله تعالی او د الله تعالی بهتر دے د ټولو تدبیر کوونکو نه ۵

نکات: ۱ بشارت ۱۲ ۲ څلورم قانون مؤمنانو د پاره ۱۲ - ۳ تخونوا پاتدے عطف دے ۱۲ - ۴ کوم مالونو کښې چه تاسو جھگړه کوئ هغه ستاسو د پاره فتنه ده ۱۲ - ۵ انما اموالکم پاتدے معطوف دے ۱۲ - ۶ پنځم قانون مؤمنانو د پاره ۱۲ - ۷ شپږم علت الانفال لله د پاره ۔

موضح قرآن

ف ۱ پاک څیز ونو نه یعنی مال غنیمت ۱۲

ف ۲ غلا د الله تعالی او د رسول دا هم ده چه په پټه کافرانو سره ملاؤ شی د خپل مال او اولاد د بچ کولو له مهاجرین چه په هغوئ کښې د اکثرو کورونه په مکه کښې وو او دا هم ده چه د غنیمت

مال پټ اوساتی او مشرته ئے ښکاره نهٔ کړی. ف۳ شائید چه د بدر په فتح کښ د مسلمانانو په زړونو کښ راغلی وی چه دا فتح اتفاق ده د نبی علیه السلام ته په پټه کافرانو بانډے احسان اوکړی چه ځمونږ بال بچ ته تکلیف نهٔ ورکوی نو په اول ایت کښ ئے د غلا نه منع اوکړه او دویم ایت کښ ئے تسلی ورکړه چه په راتلونکی وخت کښ به فیصله اوشی ستاسو بال بچ به په کافرانو کښ دا شان کرفتار نهٔ پاتے کیږی.
ف۴ تاسو کینوی یعنی قید موکړی دائے اوفرمائیل ځکه چه الله پاک پیغمبر بچ ساتلے دے نو ستاسو اهل وعیال به هم بچ اوساتی ۱۲ منه رح

فتح الرحمن

ف۵ اشاره ده هغے واقعے ته چه د مکے کافران جمع شول او دا مشوره ئے کوله ۱۲.

تفسیر: ۲۸ دا د نعمت تذکیر (یادګیرنه) ده دے کښ الله تعالیٰ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته خطاب اوکړو او خپل انعامات ئے ورته یادکړل. اول ئے د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اطاعت او د دوئی د نافرمانئی نه د ځان ساتلو حکم ورکړو او س دلته ئے انعامات وریادکړل د دے حکم تاکید ئے اوکړو- اعلم انه تعالیٰ لما امرهم بطاعة الله وطاعة الرسول ثم امرهم باتقاء المعصیة اکد ذلك التکلیف بهٰذه الاٰیة الخ (کبیر ج ۴ ص۵۳۵) هغه وخت یادکړئ کوم وخت چه تاسو په شمیر کښ ځوکسان وئ او د مکے په زمکه کښ د کافرانو د لاسه بے وسه او کمزوری وئ تاسو سره به هر وخت دا ویره وه چه چرته مشرکان تاسو ټکړے ټکړے نهٔ کړی نو په دے حالا تو کښ الله تعالیٰ تاسو ته مدینه طیّبه کښ پناه درکړه او د مشرکانو په مقابله کښ ئے ستاسو امداد اوکړو هغوئی ئے ستاسو په لاسو تو مغلوب مقهور اوګرځول او د مالِ غنیمت په ذریعه ئے ستاسو قوت مضبوط کړو دے د پاره چه تاسو د دے انعاماتو شکر اداکړئ.
ف۲۹ څلورم قانونِ جنګ. تَخُوْنُوْٓا اَمٰنٰتِکُمْ- تخونوا الله بانډے معطوف دے ای ولا تخونوا اماناتکم د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول (صلی الله علیه وسلم) خیانت مهٔ کوئ او نهٔ په خپلو امانتونو کښ خیانت کوئ د الله تعالیٰ خیانت دا دے چه د هغهٔ فرائض او احکام پریښود ے شی او په هغے عمل اونهٔ کړے شی او د رسول خیانت دا دے چه د هغهٔ د طریقے او سنت اتباع اونهٔ کړے شی (لا تخونوا الله) بان تعطلوا فرائضه (والرسول) بان لا تستنوا به (وتخونوا اماناتکم) فیما بینکم بان لا تحفظوها (مدارک ج۲ ص۷۷) وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ، او تاسو پوهیږئ چه خیانت ډیره لویه ګناه ده او د امانت حفاظت ډیر لوئے د نیکئ کار دے.

۳۰ یعنی دا انفال او غنیمتونه په کوم کښې چه تاسو نزاع او اختلاف کوئ هغه ستاسو دَ پاره فتنه او ازمائیش دے وَ اَنَّ اللّٰهَ الخ دا په اِنَّمَا اَمْوَالُکُمْ باندے معطوف دے۔

۳۱ پنځم قانون دَ جهاد فُرْقَانًا نه فتح او نصرت مراد دے یعنی که چرے تاسو دَ الله تعالٰی نه اوویریږئ او دَ هغهٔ دَ احکامو اطاعت کوئ نو الله تعالٰی به تاسو ته فتح او نصرت درکړی۔ تاسو ته به عزت درکړی او مشرکان به ذلیل او رسوا کړی او دَ حق او باطل ترمینځه به فیصله اوکړی او ستاسو ټول ګناهونه به معاف کړی او تاسو ته به بخشش اوکړی او رحم او فضل به درباندے اوکړی۔ نصرًا یفرق بین المحق والمبطل باعزاز المؤمنین واذلال الکٰفرین کما قال الفراء (روح ۹۷ ص ۹)۔

۳۲ دا اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ الخ دَ پاره شپږم علت دے دَ مکے دَ مشرکانو دَ منتخب سردارانو یوځل دَ نبی علیه السلام باره کښې په شریکه میټنګ اوکړو چه دَ هغے مقصد دا وو چه دَ نبی علیه السلام اثر او دین ختنګه ختم کړے شی نو په هغه مجلس کښې ډیرے رائے پیش شوے چا اُوئیل چه قید به ئے کړو۔ چا اُوئیل چه نبی علیه السلام دِ وطن نه اُوشړلے شی په آخر کښې ابوجهل دَ نبی علیه السلام دَ شهید کولو مشوره ورکړه۔ ابلیس چه دَ یو تجربه کار او هوښیار شیخ نجدی په شکل کښې دغه مجلس کښې موجود وو هغهٔ دَ دے رائے ډیر تعریف اوکړو او په آخر کښې دَ بحث او سوچ فکر نه روستو ټولو دَ ابوجهل دَ مشورے توثیق او تائید اوکړو دے آیت کښې هغه واقعے طرف ته اشاره ده یعنی مشرکانو غوښتل باره کښې دا منصوبے تیار دَ لیکن الله تعالٰی تاسو دَ هغوئ دَ بد تدبیرونو او فریبونو نه بچ ساتلئ نو هغوئ چه کومه شپه دَ نبی علیه السلام دَ وژلو دَ پاره مقرر کړے وه الله پاک نبی علیه السلام ته دَ هغے نه مخکښې اطلاع ورکړه۔ کله چه مشرکانو اسلح واخستلے او دَ نبی علیه السلام دَ کور نه ئے ګیر چاپیره ګیره واچوله هغه وخت نبی علیه السلام په خپل ځائے (بستره) باندے حضرت علی رض ته دَ اُوده کیدلو حکم ورکړو او ورته فرمائیل بے فکره شه تا ته به هیڅ تکلیف نهٔ رسیږی او پخپله ئے بهر ته تشریف یوړو او دَ الله تعالٰی دَ حکم مطابق ئے په مشرکانو باندے یو موټے خاوره ګوزار کړے الله تعالٰی دَ مشرکانو سترګے بندے کړے او هغوئ (صلی الله علیه وسلم) دَ ټولو مینځ کښې تیر شو او هیچا هم اُونهٔ لیدو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه ځائے نه او وتلو او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ئے واخستو مدینے ته روان شول دا شان الله تعالٰی دَ مشرکانو منصوبه (سازش) ناکام کړو۔ لِیُثْبِتُوْكَ

ای لیحبسوک ویبطوک بالوثوق - یعنی ثانه زنځیرونه واچوی او د ترړی

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا قَالُوا قَدْ سَمِعْنَا

اوکله چه څوک اولولی هغوئی باندے ایتونه زمونږ نو وائی ۳۱ بیشکه واوریدل مونږ

لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَا ۙ إِنْ هَٰذَا إِلَّا

که اوغواړو مونږ نو مونږ به هم اووایو پشان د دے نه دا څو هیڅ نه دے لیکن

أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ (۳۱) وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ

حالات دی د مخکنو - اوکله چه هغوئی اوئیل ۳۲ یا الله تعالی که

كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ

هم دا دین حق وی ستا د طرف نه نو را اوورَوه چرے

عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ

په مونږه کانړی د آسمان نه یا راوله په مونږ باندے عذاب

أَلِيمٍ (۳۲) وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ

دردناک ف۲۔ او هرگز نه ورکوی الله تعالی ۳۳ دوئی ته عذاب ترڅو چه ته

فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ

دوئی کښ ئے او هرگز نه ورکوی الله تعالی عذاب دوئی ته ترڅو چه دوئی

يَسْتَغْفِرُونَ (۳۳) وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ

معافی غواړی ف۲ ملـ۔ او څهٔ خبره ده دوئی کښ ف۲ چه عذاب ورنکړی دوئی ته الله

وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

او دوئی منع کوی د مسجد حرام نه

وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ ۚ إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا

او نهٔ دی هغوئی اختیار لرونکی د دهٔ اختیار لرونکی د دهٔ څو صرف هغهٔ څوک دی

الْمُتَّقُوْنَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾

چه پرهیزګار دي لیکن دوئ کښ اکثر ناخبره دي ول۳

وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَآءً

او نه وو د دوئ مونځ ۳۷ کعبې خواته لیکن شپیلي وهل

وَّتَصْدِيَةً ۚ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۵﴾

او لاس پړقول نو اوڅکئ عذاب په بدله د خپل کفر کښ۔

نکات: سل شکوی ۱۲۔ سل اووم علت او شکوی ده دے کښ د هغوئ د عذاب مستحق کیدلو وجه بیان شوې ده ۱۲۔ سل د عذاب نه ورکولو اوله وجه ۱۲۔ سل د عذاب نه ورکولو دویمه وجه وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ، دِے نه یا مشرکین مکّه مراد دي یا هغه مؤمنان چا چه تر اُوسه هجرت نه وو کړے تا ئید۔ لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۱۲۔ سل د دوئ د عذاب مستحق کیدلو اول وجه ۱۲۔ سل د دوئ د عذاب مستحق کیدلو دویمه وجه ۱۲۔ سل مُكَآءً شپیلي وهل۔ تَصْدِيَةً، لاسونه پړقول ۱۲۔

موضح قرآن ف یعني همیشه به ئے داوئیل اوس خوئے اُولیدل چه دا قصے نه وے د عذاب وعده په تا سو هم راغله نخکه چه ستاسو نه ګکښ باندے راغلے وه ۱۲ منه رح۔ ف۲ ابوجهل چه کله د مکے نه وتلو نو هم دا دُعائے اُوکړه چه د کعبے مخے ته راغے ۱۲ منه رح ف۳ یعني مکه کښ د نبي علیه السلام په وجه عذاب نه راتللو اوس په هغوئ باندے عذاب راغے داشان ترڅو پورے چه ګناهګار ان بنیپمانه وو او توبه ئے ویستله نو هغوئ نه شو نیولے کیدے اګرچه ګناه لویه وه۔ نبي علیه السلام اُوفرمائیل ګناهګار ان نه دوه څیزونو پناه ورکړے ده یو څو ما وجود او دویم استغفار ۱۲ منه رح۔ ف۴ قریشو به خپل ځانونه د ابراهیم علیه السلام اولاد ګنړلو او ځان به ئے د کعبے مختار ګنړلو او مسلمانان به ئے را تللو ته نه پریښودل نو وے فرمائیل چه د ابراهیم علیه السلام اولاد ګښ چه څوک پرهیزګار وي د هغه حق دے او د بے انصافو حق نه دے چه تاسو د چا نه رضا نه یئ هغه مومنع کړل۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعني د الله تعالیٰ قانون دا دے چه ترڅو پیغمبر په قوم کښ موجود وي عام عذاب نه راولي او هم داشان چه ترڅو دوئ استغفار کوي عذاب نه رائحي ۱۲۔ ف۲ یعني روستو

د هجرت کولو د نبی علیه السلام د دوئی نه ۱۲. ف ۳۲ یعنی په اصل کښې د عذاب
مستحق دی لیکن د پیغمبر موجود والے د دوئی په مینځ کښې مانع وو او اوس
مانع ختم شو ۱۲.

تفسیر: ۵۳۳ دا شکوی ده او دے کښې د معاندینو د عذاب مستحق کیدلو
علت بیان شوید ے کله چه هغوئی ته د الله تعالیٰ اٰیتونه لوستلے شی او
اؤرؤلے شی نو دوئی کښې بعضو خلقو وئیل لکه نضر بن حارث او ریدلی
مو دی دا اٰیتونه دِے کښې د مخکنو خلقو قصے ذکر شوی دی او دا شان قصے
مونږ هم بیانولے شو. نضر بن حارث به حیره او فارس ته تللو راتلو
او هغهٔ به د هغه ځائے خلقو نه د عجمیانو قصے اوریدلے. په قرآن
مجید کښې د انبیاؤ علیهم السلام او د نورو تیرو شوؤ قوموتو قصے د
عبرت او نصیحت په غرض ذکر شویدی دِے ظالم او کم عقل قرآن مجید
خالص د قصو کتاب اُوګڼړلو.

۵۳۴ دا اُوم علت دے نضر بن حارث، ابوجهل، او نورو سردارانو د قریشو
د الله تعالیٰ نه دُعا غوښتے وه چه اے الله که چرے دا اسلام او قرآن کوم
چه محمد ﷺ راؤړے دے ریښتونے وی او ستا د طرفه وی نو په مونږ باندے
د اسمان نه کانړی اُووروه یا په بل کوم یو دردناک عذاب سره مونږ
هلاک کړه نو مشرکانو په خپله خُله د عذاب مطالبه اُوکړه د مکے نه وتلی
وُو. د دے وجے نه الله پاک په بدر کښې د دوئی د خُلے غوښتے عذاب نازل
کړو هغوئی ئے مغلوب او تاسو ئے غالب کړئی د دے وجے نه اُوس د غنیمت
مال (انفال) د الله د حکم مطابق تقسیم کړئی. ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ﴾ الخ دا په مشرکانو
باندے د عذاب نهٔ نازلو وجه ده یعنی د الله تعالیٰ سُنت مستمرّه (همیشه
طریقه) دا ده چه ترڅو پورے پیغمبر او مؤمنان په ښار کښې موجود وی
تر هغه وخته پورے هغوئی باندے عذاب نهٔ نازلوی. د دے وجے نه ئے
اُوفرمائیل دا خو کیدے نهٔ شی چه تاسو دُئ کښې موجود یئ او هغوئی باندے
عذاب راشی ځکه چه که چرے ستاسو په موجودګئ کښې دوئی باندے عذاب
راشی نو هغه ظالمانو به دا خیال نهٔ کولے چه عذاب دوئی باندے د شرک
په وجه راغلے دے بلکه ستاسو ذات به ئے د هغے سبب ګرځولے او وئیلے به ئے
چه دا عذاب ستا په وجه راغلے دے لکه چه د موسیٰ علیه السلام قوم د
حضرت موسیٰ علیه السلام او په هغهٔ باندے ایمان راؤړونکو باره کښې
وئیلی وو. ﴿اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَّعَكَ﴾. قال ابن عباس لم یعذب اهل قریة
حتی یخرج النبی صلی الله علیه وسلم منها والمؤمنون ویلحقوا بحیث امروا.
(قرطبی ج ۷ ص ۳۹۹). **۵۳۵** دا د عذاب نه راتللو دویمه وجه ده او د دینه

یا دَ مشرکانو استغفار مراد دے. ځکه چه هغوئی به دَ طواف په وخت دَ الله نه دَ خپلو ګناهونو معافي غوښتله. دینه معلومه شوه چه دَ کافرانو استغفار سره هم عذاب لرے کیدے شي (روح ج ۹ ص۲۰۰) حضرت شیخ قدس سره فرمائي دَ دینه دَ هغهٔ مؤمنانو استغفار مراد دے کوم چه په مکه مکرّمه کښ وو دَ دے تائید دَ سورهٔ فتح دَ دے ایت نه کیږی. لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوا، اما رازی لیکی وَمَا كَانَ اللهُ معذب هؤلاء الكفار وفيهم مؤمنون يستغفرون (کبیر ج ۴ ص۵۴۴) ۳۶ مکه معظمه کښ مشرکانو باندے دَعذاب نهٔ نازلیدلو وجوه بیانولو نه روستو ئے اُوفرمائیل لیکن داخلق دَ خپل انکار او ضد او عناد دَ وجے نه دَعذاب مستحق ضرور دی ځکه چه دَ دوئ ټول اعمال او افعال دَ خدائے او رسول دَ احکامو خلاف دی او حد دا دے چه هغوئی ایمان والا او دَ الله او دَ رسول منونکی دَ بیت الله نه منع کوی (لکه چه دَ حدیبیه په کال هغوئی دا سے اُوکړل) حال دا دے چه هغوئی دَ بیت الله متولیان نهٔ وو او نهٔ هغوئی دَ دے دَ تولیت حق لری ځکه چه هغوئی مشرکان دی دَ بیت الله دَ تولیت حق صرف هغه خلقو ته رسیږی څوک چه دَ الله دا کور دَ شرک دَ پلیتئ نه پاک ساتی او هغه مسلمانان کیدے شی. ای وما كانوا مستحقين ولاية المسجد الحرام مع شركهم......(إِنْ أَوْلِيَآؤُهٗ إِلَّا الْمُتَّقُوْنَ) من الشرك الذين لا يعبدون فيه غير الله تعالى والمراد بهم المسلمون (روح ج ۹ ص۲۰۲). ۳۷ دا دَ مکے کافرانو ته دَعذاب ورکولو دویمه وجه ده مُكَآءً شپیلی وهل. تَصْدِيَةً، لاسونه پړقول یعنی څوک چه په اصلی او صحیح معنو کښ مونځ کوونکی دی نو هغوئی خو دَ خدائے دَ کور نه منع کوی او خپل حال ئے دا دے چه په پربنډه طواف کوی او دَ الله تعالیٰ دَ ذکر په ځائے شپیلی وهی او لاسونه پړقوی چونکه هغوئی دَعذاب حقدار ګرځیدلی دی او مکه معظمه کښ هغوئ باندے دَعذاب نازلولو کښ موانع وو. دَ دے وجے نه مونږ هغوئی دَ مکے نه اوویستل او دَ بدر په میدان کښ مو په دردناک او رسواکوونکی عذاب (قتل او قید) کښ مبتلا کړل. او وے فرمائیل چه دا ستاسو دَ کفر او سرکشئ، عناد سزا ده اُوس دا اُوڅکئ ای عذاب القتل والاسر يوم بدر (روح).

إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوْا

بیشکه کوم خلق چه کافران دی هغوئی خرچ کوی مال خپل دَ دے دَپاره چه منع کړی

عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنْفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ

د لار د الله تعالیٰ نه نو اوس به نور خرچ هم کوي بیا به شي هغه

عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا

په دوئ افسوس بیا به په آخر کښ مغلوب شي او کوم چه قسم کافران دي

إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ (۳۶) لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ

هغوئ به دوزخ ته شړلے شي. د دې د پاره چه جدا کړي الله تعالیٰ پلیت

مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ

د پاک نه او بیا کیږدي پلیت (لا ندے یا بدے) یو په

بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ط

بل بیا به راجمع کړي دوئ یو ځائے بیا به او غورځوي دوئ په دوزخ کښ

ع ۹ ۱۸ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ (۳۷) قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا

دا خلق هم دوئ په نقصان کښ دي ف ط. ته او وایه هغه خلقو کافرانو ته

إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ وَإِنْ

چه که چرے منع شوئ نو معاف به شي هغوئ ته کوم څه چه شوي دي او که چرے

يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ (۳۸)

بیا هم هغه کوي نو بیشکه تیره شوې ده لاره د مخکنو (خلقو)

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ

او جنګ کوئ د هغوئ سره تر دے چه پاتے نه شي فساد او شي

الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ

حکم ټول د الله تعالیٰ بیا که چرے منع شي هغوئ نو بیشکه الله

بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (۳۹) وَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا

د هغوئ کارونه وینی. او که چرے هغوئ اونه منی ف ط نو پوهه شه

أَنَّ اللَّهَ مَوْلَاكُمْ ۚ نِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿۴۰﴾

چه بیشکه الله تعالیٰ امدادی دے ستاسو ښه کارساز دے او ښه ښه امداد کوونکے دے. ۲ ع

نکات: ۱. ب تخویف اُخروی ۱۲. ۲. که چرے یُحْشَرُوْنَ سره متعلق دے نو دَ خَبِیْثَ نه مراد کافران دی او که چرے یُغْلَبُوْنَ سره متعلق دے نو دَ خَبِیْثَ نه مراد منافقان دی ۱۲. ۳. دَ سورت دعوی په طریقه دَ اجمال ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعنی په مزه مزه به الله تعالیٰ اسلام غالب کړی مینځ کښ به کافران خپل طاقت ځان او مال خرچ کوی دِ دے دَ پاره چه نیک او بد جدا شی. یعنی دَ چا په قسمت کښ چه اسلام لیکلے شوے دے هغه ټول مسلمانان شول او دَ چا مرګ چه په کفر دے هغوئ به ټول دوزخ ته لاړ شی ۱۲ منه رح. ف۲ جنګیږئ تر څو چه فساد پاتے نهٔ شی یعنی دَ کافرانو زور پاتے نهٔ شی چه دَ ایمان نه منع اوکړی.

فتح الرحمٰن ف۱ او داؤ هغه چا دَ حال نقشه ده چه غواړی چه هر څیز کل او جزء باطل اوګرځوی او دفع ئے کړی ۱۲.
ف۲ یعنی دَ اسلام مرته ۱۲.

تفسیر: ۳۸ تخویف اُخروی دے یُنْفِقُوْنَ، دَ اِنَّ خبر دے. کافران خپل مال او دولت دَ مسلمانانو خلاف په جنګ کښ خرچ کوی دَ دے دَ پاره چه هغوئ دَ الله تعالیٰ دَ دین نه منع کړی هغوئ خو اُوس خرچ کوی لکه چه په جنګ بدر کښ ئے خرچ کړو او په راتلونکی کښ به هم خرچ کوی. مثلاً په جنګ اُحد وغیره کښ لیکن هر ځل به هغوئ دَ خپل مال خرچ کولو نه روستو دَ حسرت او افسوس مخ اووینی ځکه چه په هر میدان کښ به هغوئ دَ خپلو ټولو کوششونو باوجود دَ مسلمانانو په لاس مغلوب او مقهور وی والمعنی اَنَّ الکفار یقصدون بنفقتهم الصد عن سبیل الله وغلبة المؤمنین فلا یقع الا عکس ما قصدوا و هو تندمهم و تحسرهم علی ذهاب اموالهم ثم غلبتهم والتمکن منهم اسرًا و قتلًا و غنمًا (بحر ج ۴ ص ۴۹۴)
۳۹ دُنیا کښ مال دولت هم برباد شو او دَ مسلمانانو په لاس ذلیل او رسوا هم شول او په آخرت کښ به جهنم کښ اُوغورځولے شی. لِیَمِیْزَ اللهُ الخ داخو یا دَ یُحْشَرُوْنَ سره متعلق دے او دَ خَبِیْثَ نه مراد کافران دی او طَیِّب نه مراد مؤمنان دی یعنی دَ قیامت په ورځ به کافران دوزخ کښ غورځولے شی یا دا یُغْلَبُوْنَ سره متعلق دے په دے صورت کښ به دَ خَبِیْثَ نه مراد منافقان وی. یعنی په جهاد کښ به کافران مغلوب وی او دَ مؤمنانو او منافقانو مینځ کښ به جدائی اُوشی. لیکن وَیَجْعَلَ الْخَبِیْثَ بَعْضَهٗ. دَ مخکنی

تائيد کوي يعني خبيثان به ټول سره يو ځائے کړي په جهنم کښ به ئے اوغورځوي.

۴۰ نبي عليه السلام ته حکم ورکړے شو چه تاسو ابوسفيان او د هغهٔ همخيالو ته اووايئ چه که چرے هغوئ شرک پريږدي اسلام قبول کړي او د پيغمبر د دُشمنئ نه منع شي نو د هغوئ ټول تير شوي ګناهونه به معاف شي او که چرے هغوئ منع نهٔ شي بلکه دوباره د پيغمبر عليه السلام سره په جنګ شي نو ياد ساتئ چه د الله تعالیٰ راروانه طريقه او د هغهٔ ځواني قانون دا دے چه هغه هميشه د خپلو پيغمبرانو او د هغوئ تابعدارو امداد کوي او د هغوئ دشمنانو ته شکست ورکوي او رسوا کوي ئے.

اي عادة الله تعالیٰ الجارية في الذين تحزبوا على الانبياء عليهم السلام من نصر المؤمنين عليهم وخذلانهم وتدميرهم (روح ج ۹ ص ۲۰۶).

۴۱ دلته د سورت دعوي اجمالاً ذکر کړے شوې ده د دے تفصيل به په سورۂ توبه ع ۴ کښ راځي وے فرمائيل که چرے هغوئ نهٔ منع کيږي نو تاسو د هغوئ سره جهاد اوکړئ تر هغے چه انکار ختم شي او مسلمانان د هغوئ د فتنے نه بچ شي.

فَاِنِ انْتَهَوْا الخ. که چرے هغوئ د کفر او شرک او جنګ نه منع شي او اسلام قبول کړي نو الله تعالیٰ چه د هغوئ ټول ظاهري او باطني اعمال وينې هغوئ ته به په اسلام باندے ثبات او د استقلال توفيق ورکړي. وَ يَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ. يعني د عربو مشرکانو سره تر هغه وخته پورے جهاد کوه چه شرک ختم شي او صرف د الله تعالیٰ عبادت او رابلل باقي پاتے شي او د عجم مشرکانو سره تر هغه وخته پورے جهاد کوه چه دين ته غلبه او اُوچتوالے حاصل شي او مشرکان او وژلے شي يا جزيه قبول کړي. وَاِنْ تَوَلَّوْا، ليکن که چرے هغوئ د ايمان راوړلو ته اعراض اوکړي او د جنګ جهګړے نه منع نهٔ شي نو د هغوئ پرواه مهٔ کوه تاسو په الله تعالیٰ بهروسه ساتئ او مطمئن اُوسيږئ الله تعالیٰ ستاسو ناصر او مددګار، کارساز دے.

(اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ) ناصركم ومعينكم فثقوا بولايته ونصرته (مدارک ص ۷۹ ج ۲)

تر دے ځايه د سورت اولنئ حصه ختمه شوه.

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ
او یاد ساتئ تاسو بیشکه هغه چه مال وګټئ په غنیمت کښې تاسو په څه څیز نو بیشکه الله دپاره ده
خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى
پنځمه حصه په هغې کښې او رسول دپاره او د رشته دارانو دپاره او یتیمانو دپاره
وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ
او محتاجانو او مسافر دپاره که چرې یئ تاسو یقین
بِاللّٰهِ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ
په الله او په هغه تمیز کوم چه نازل کړے مونږ په بنده خپل باندې په ورځ د فیصلې
يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ
په کومه ورځ چه مقابل شول دواړه فوجونه او الله تعالی په هر څه
قَدِيْرٌ ﴿۴۱﴾ اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ
قادر دے کوم وخت چه وئ تاسو په غاړه نزدې او هغوئ وو
بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَالرَّكْبُ اَسْفَلَ مِنْكُمْ
په غاړه لرې کښې او قافله لاندې وه ستاسو نه
وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيْعٰدِ ۙ وَلٰكِنْ
او که تاسو وعده کړې وه خپل مینځ کښې نو نه به وئ رسیدلي په وعده باندې یو تر بله او لیکن
لِّيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ڏ لِّيَهْلِكَ
پوره کولو الله تعالی یو کار هغه کار چه مقرر شوے وو دے دپاره چه هلاک شي
مَنْ هَلَكَ عَنْۢ بَيِّنَةٍ وَّيَحْيٰي مَنْ حَيَّ عَنْۢ
څوک چه هلاک شوي وروسته د حجت نه او ژوندي شي هغه څوک چه ژوندي پاتې وو روستو
بَيِّنَةٍ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۴۲﴾ اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ
د حجت نه او بیشکه الله تعالی اوریدونکے خبردار دے او کله چه وښودل دا کافران تاته الله

فِيْ مَنَامِكَ قَلِيْلًا ۭ وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا
په خوب ستا کښې لږ او که چرې ښودلے وُے تا ته الله ډېر

لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ
نو تاسو به زړهٔ بائیلے وُے او جهګړه به موکړې وُے په کار کښې لیکن الله

سَلَّمَ ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۴۳﴾
بچ کړئ بیشکه هغهٔ ته ښهٔ معلومه ده کومه خبره چه ده په زړونو کښې۔

نکات: ۱ د سورت دویمه حصه او اول مضمون یعنی دَ اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ بیان په طریقه دَ تفصیل ۱۲۔ ۲ په لفظ الله باندے معطوف دے ۱۲۔ ۳ مبدل منه ۱۲۔ ۴ بدل ۱۲۔ ۵ ای فی العلم الله یا کوم چه دَ کولو لائق وو ۱۲۔ ۶ دویم علت فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ الخ دَ پاره ۱۲ ۷ ځکه چه دوئ کښې دَ اکثرو مسلمانانو دَ الله تعالیٰ په علم کښې وو اګرچه په واقعه کښې ډیر زیات وو ۱۲

موضح قرآن

ف یعنی الله تعالیٰ په خپل رسول باندے فتح او نصرت نازل کړو چه هغے سره ئے تاسو غالب کړئ او الله تعالیٰ قادر دے چه په اَئنده کښې نورے فتح هم درکړی کوم مال چه دَ کافرانو نه په جنګ کښې واخلئ هغه غنیمت دے۔ دِدے کښې پنځمه حصه نیاز دَ الله تعالیٰ دے چه دَ الله تعالیٰ رسول به ئے خرچ کوی په خپل ذات او رشته دارانو باندے او په حاجت منو مسلمانانو باندے او دَ رسول نه روستو هم خرچ کول وی څوک چه مشروی دَ مسلمانانو او کوم مال چه صلح سره واخستلے شی هغه به ټول خرچ کولے شی په مسلمانانو باندے بیا غنیمت کښې څلور حصے دی نو په لښکر کښې به سور دَ پاره دوه حصے دی او پیاده دَ پاره به یوه حصه وی ۱۲ منه رح۔

ف ۲ یعنی قریش دَ خپلے قافلے امداد دَ پاره راغلی وو او تاسو دَ قافلے لوټ کولو دَ پاره راغلی وئ قافله بچ شوه او دواړه فوجونه دَ یو میدان په دواړو غاړو باندے پریوتل یو دَ بل نه خبر نهٔ وو دا دَ الله تعالیٰ تدبیر وو که چرے تاسو قصداً اِرادهٔ تللئ نو داشان په وخت به نهٔ وے رسیدلے او دَ دے فتح نه روستو کافرانو باندے دَ پیغمبر صداقت ښکاره شو څوک چه مړ شو نو هغه هم یقین سره مړ شو او څوک چه ژوندے پاتے شو نو هغهٔ هم حق اوپېژندو او دَ الله تعالیٰ حجت تمام شو ۱۲ منه رح۔

فتح الرحمٰن | **ف۱** یعنی ذ پیغمبر خپلوان چه بنی هاشم او بنی مطلب دی ۱۲۔ **ف۲** یعنی ایمان ئے راوړو په هغې چه ذ بدر په ورځ ئے امداد نازل کړو ۱۲۔ **ف۳** څلور څمس به په مجاهدینو تقسیم کړے شی او یو څمس به په بیت المال کښ جمع کړے شی په پنځو حصو به تقسیم کړے شی علیٰ اختلاف المذاهب ۱۲۔ **ف۴** ذ هلاک نه مراد په کفر همیشه پاتے کیدل دی او ذ ژوند نه مراد مسلمانیدل دی۔ ۱۲

دویمه حصّه

دویمه حصه وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ الخ نه ذ سورت تر آخره پورې ده دې حصّه کښ هم هغه دواړه مضامین ذکر شویدی کوم چه په اوله حصّه کښ ذکر شوی وو فرق صرف دا دے چه دې حصّه کښ ذ اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ تفصیل کړے شوے دے او ذ دے چه کوم علّتونه ذکر شویدی ذ هغې شمار پنځهٔ دی او ذ جهاد قوانین اووه دی دوه ټولو مؤمنانو ذ پاره او پنځه خاص نبی علیه السلام ذ پاره دی ۱۲۔

اوّل مضمون

(ذ غنیمتونو ذ خرچ ځایونه سره ذ علّتونو نه)

تفسیر: ۴۳ دلته اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مضمون تفصیل سره ذکر شویدے لکه چه فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ الخ کښ ذ مال غنیمت خمس یعنی ذ پنځمے حصّے ذ مصارف ذکر دے دلته ذ خمس پنځه مصارف ذکر شوی دی۔
(۱) لِلرَّسُوْلِ ذ پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم حصه وفات سره ساقط شویده (۲) وَلِذِی الْقُرْبٰی اهل قرابت دینه ذ نبی علیه السلام رشته داران مراد دی یعنی بنی هاشم او بنی عبد المطلب نه چه چا ایمان راوړے ود هغه مراد دی ځکه چه هغوئ ذ شروع نه ذ نبی علیه السلام ملګرتیا کړې وه ذ اسلام په وجے سره یا ذ رشته دارئ په وجے سره به دا حصه ذوی القربیٰ ته ورکولے شوه خوا چه غنیان وو یا فقیران۔ لیکن اوس دا حصه هم ساقط شویده۔ لیکن ذ بنو هاشم او بنو عبد المطلب نه چه څوک فقیران دی هغوئ ته به ذ فقراء (مسٰکین) ذ حصّے نه ورکولے شی او په نورو فقیرانو به هغوئ مخکښ کولے هم شی (۳) وَالْیَتٰمٰی۔ ذ یتیم جمع ده یتیم هغه چا ته وئیلے شی چه نابالغ وی او پلار ئے مړ وی۔ الیتیم انقطاع الصبی عن ابیه قبل بلوغه (مفردات ص۵۵۰) یتیم که چرے محتاج وی نو هغهٔ ته به حصّه ملاویږی او که چرے محتاج نهٔ وی غنی وی نو هغهٔ ته به نهٔ ملاویږی۔ او (۴)

وَالْمَسٰكِيْنِ، فقیران او حاجتمند مسلمانان او ⑤ وَابْنِ السَّبِيْلِ، کوم مسافر چه
د خپل کور نه لرې وی او حاجتمند وی په سفر کښ د هغهٔ خرچه ختم شوې
وی. د خُمس نه روستو به باقی څلور حصّې په مجاهدینو او غانمینو باندې
تقسیمولے شی سور د پاره دوه حصّې او پیاده د پاره یوه حصّه.
٤٣ یَوْمَ الْفُرْقَانِ (د فیصلے ورځ) نه مراد د بدر ورځ ده ځکه چه د دې
ورځے جنګ د حق او باطل مینځ کښ فیصله کوُنکے وو او یَوْمَ الْتَقَی الْجَمْعٰنِ
دا د یَوْمَ الْفُرْقَانِ نه بدل دے. اَلْجَمْعٰنِ (دوه ډلے) نه د مسلمانانو او کافرانو
فوجونه مراد دی وَمَآ اَنْزَلْنَا نه مراد په جنګ بدر کښ د مسلمانانو فتح
او نصرت ورکول او د فرشتو نازلول مراد دی. یعنی کهٔ چرې ستاسو په الله
پوخ ایمان وی او په دے خبره موهم ایمان وی چه د بدر په جنګ کښ
د فتح او نصرت اسباب الله برابر کړل او د هغهٔ په مهربانئ سره او امداد سره
مسلمانانو ته فتح او غلبه نصیب شوه او مشرکان مغلوب او مقهور شول نو
په دے جنګ کښ چه کوم مالِ غنیمت حاصل د هغے تقسیم د الله د حکم مطابق
کوئ او خپلے رائے ته دِ ے کښ دخل مهٔ ورکوئ آی الملائکه والنصر لما کانا منه
تعالی وجب ان یکون ما حصل بسببهما من الغنیمة مصروفًا الی الجهات التی
عینها الله سبحانه (روح ج ۱۰ صـ۲) ٤٤ دا د تیر شوی حکم اول علت دے
دلته د دریوارو ډلو د قیام د ځایونو ذکر کړے شوید ے. اَلْعُدْوَةِ الدُّنْیَا یعنی
د وادئ هغه غاړه کومه چه مدینے ته نزدے وه. دلته د مسلمانانو ډله وه.
اَلْعُدْوَةِ الْقُصْوٰی د وادئ دویمه غاړه چه د مدینے نه لرے وه دِ ے باندے
د مشرکانو فوجونو خیمے وهلے وے. وَالرَّكْبُ. دا د راکب اسم جمع ده مراد
د مشرکینو تجارتی قافله ده یعنی قافله د دواړو لښکرونو نه ښکته د سمندر
په غاړه وه حاصل دا چه د مشرکانو تجارتی قافله د مشرک فوج شا ته وه
د دے باوجود الله تعالی هغوئ د مسلمانانو په لاس مغلوب کړل.
٤٥ میدان بدر کښ تاسو په د دواړو فوجونو مینځ کښ مخامخ کیدل او شو
کهٔ چرے دواړو ډلو د مخکښ نه د جنګ وخت مقرر کړے وے نو ممکن
وه چه دوئ نه کوم یو د وعدے مطابق نهٔ وے رارسیدلے او په رسیدلو
کښ ئے مخکښ والے روستو والے کړے وے. لیکن الله تعالی د یو داسے کار
فیصله کول غوښتل چه د کولو لائق وه یا د هغهٔ په قدیم علم کښ مقدر
وه. کان ینبغی ان یفعل...... ای لیحکم ما قد علم انه یکون کائنا (مدارک
ج ۲ صـ۸) او دِ ے سره د دین عزت او کلمة الله اوچتوالے، د مؤمنانو امداد
او د دشمنانو شکست مراد دے (مدارک) مسلمانان قافله باندے حملے

کوُلو دَ پاره راوتلی وو او دَ مشرکانو فوج دَ قافلے دَ حفاظت دَ پاره راغلی وو دوا ړو ته دَ یو بل خبر نهٔ وو قافله بچ شوه او دا دواړه فوجونه مخامخ شول داشان الله تعالیٰ تدبیر سره دواړه فوجونه اُوجنګول.

۴۶ دَ جنګ بدر عظیم الشان فتح معجزے سره په کافرانو باندے دَ اسلام او پیغمبر اسلام صداقت واضح شو او هغوئی ته دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ صداقت یقین اُوشو دَ دے وجے نه چه کوم مشرکین په جنګ بدر کښ مړۀ شول هغوئی هم دے یقین سره مړۀ شول او څوک چه ژوندی پاتے شول هغوئی هم حق اُوپیژندو ژوندی پاتے شول داشان دَ الله حجت قائم شو. دِے صورت کښ به دَ مَنْ هَلَكَ او مَنْ حَيَّ نه مشرکین مراد وی. یا مَنْ هَلَكَ نه مشرکین او مَنْ حَيَّ نه مراد مسلمانان دی. ان الذین هلکوا انما هلکوا بعد مشاهدة هذه المعجزة والمؤمنین الذین بقوا فی الحیوٰة شاهدوا هذه المعجزة القاهرة. (کبیر ج ۴ ص ۴۳۶).

۴۷ دا دویم علت دے الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته په خوب کښ دَ مشرکانو شمیر کم اُوښودلو چه هغوئی ۳ بیدار شول صحابوٴ ته ئے دَ دے ذکر اُوکړو چه دِے سره دَ صحابوٴ په زړونو کښ دَ همت او بهادرئ جذبات موج وهونکی شول. وے فرمائیل که چرے دَ مشرکانو شمار زیات ښودلے شوے وے نو تاسو کښ به سُستی پریوتلے وے او دَ جنګ په مقابله به ستاسو مینځ کښ اختلاف پیدا شوے وے لیکن الله تعالیٰ تاسو دَ بزدلئ او اختلاف نه بچ اُوساتلئ ځکه چه هغه دَ زړونو پټ راز پیژنی. حضرت شیخ فرمائی چه دے مشرکانو کښ دَ اکثرو ایمان راوړل په علم الٰهی کښ مقدر وو دَ دے وجے نه نبی علیه السلام ته په خوب کښ دَ هغوئی تعداد کم اُوښودلے شو.

وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِىْٓ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا

او کله چه ئے اُوښودل تاسو ته هغه فوج په وخت دَ مقابلے په سترګو ستاسو کښ ۴۸ لږ

وَّيُقَلِّلُكُمْ فِىْٓ اَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِىَ اللّٰهُ اَمْرًا

او لږ ئے اُوښودلئ تاسو په سترګو دَ هغوئی کښ دَ پاره دَ چه اُوکړی الله تعالیٰ هغه کار

كَانَ مَفْعُوْلًا ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ

کوم چه مقرر شوے وو او خاص الله تعالیٰ ته رسیږی

الْأُمُورُ ﴿۴۴﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ
هر کار ف۱ . اے قومه ایمان والو کله چه مقابله کوئ

فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا
زبو فوج سره نو ثابت قدم اوسیږئ او یاد وئ الله تعالی ډیر

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿۴۵﴾ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ
ددے دپاره چه مراد بیا مومئ ف۲ . او حکم اومنئ د الله تعالی او د هغهٔ د رسول

وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ
او جګړه مهٔ کوئ خپل مینځ کښې کنې بے زړهٔ به شئ او لاړه به شي هوا ستاسو

وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿۴۶﴾ وَ
او صبر کوئ بیشکه الله تعالی ملګرے دے د صبر کوونکو ف۳ او

لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ
مهٔ کیږئ ف۴ په شان د هغه چا چه اووتل د کورونو خپلو نه

بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ
فخر کوونکی او ښودنے دپاره خلقو ته او بندول ئے د

سَبِيلِ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿۴۷﴾
لارے د الله تعالی نه او د الله تعالی کوم چه هغوئ کوی په قبضه کښې دی ف۵ ف۶

نکات: ۱ درېیم علت ۱۲. ۲ اول قانون مؤمنانو دپاره ۱۲. ۳ زجر یعني د مشرکانو پشان ریا مهٔ کوئ بلکه فی سبیل الله قتال کوئ ۱۲.

موضح قرآن ف۱ نبی علیه السلام ته خوب کښې کافران لږ په نظر راغلل او مسلمانانو ته د مقابلے په وخت د پیغمبر خوب غلط نهٔ شو دے دپاره چه په بهادرئ سره اوجنګیږی په هغوئ کښې کافران پاتے کیدل لږ وو اکثر هغه وو کوم چه روستو مسلمانان شول ۱۲ منه
ف۲ یعنی کهٔ د الله تعالی مدد غواړئ نو ظاهری اسباب سره ته دے د الله یاد او استقامت او د امیر اطاعت سره دے او بے مصلحت سره اوسیدل پکار

دی ۲ منه رحمه الله تعالی. ف۳ هوا (رُعب) په ختم شي یعنی دَ مخکښ تللو په ځائے به شا بانده تلل وی ۲ منه رحمه الله تعالی. ف۴ جهاد عبادت دے بیا چه فخر او ریاکارئ کوی نو قبول نهٔ دے.

فتح الرحمٰن | ف۱ او دا حال دَ ابوجهل اودَ هغهٔ دَ تابعدارانو دے ۱۲

تفسیر: ۴۸ دا دریم علت دے کله چه دواړه فوجونه مخامخ شول هغه وخت هم دَ الله تعالی په تصرف سره مسلمانانو ته مشرکان ډیر کم په نظر راغلل دِے دَ پاره چه هغوئ په بهادرئ سره اُوجنګیږی دا شان چه دَ پیغمبر دَ خوب تصدیق هم اُوشی او کافرانو ته مسلمانان کم په نظر راغلل او هغوئ په حقیقت کښ هم لږ وو دا خو دَ مسلمانانو دَ فتح اوکامیابئ ظاهری اسباب وو. وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ. او په حقیقت کښ ټول معاملات دَ الله تعالی په قبضه او تصرف کښ دی او هغه متصرف او مختار دے او فتح او شکست دَ هغهٔ په لاس کښ دے.

دویم مضمون ———— (دَ جهاد قوانین)

ف۴۹ اول قانون دَ جهاد مؤمنانو دَ پاره اے مؤمنانو! کله چه دَ یو فوج سره مقابله کښ شئ نو په مقابله کښ ثابت قدم اُوسیږئ او فتح او نصرت دَ پاره الله تعالی یادوئ او هغهٔ ته اواز کوئ. وَأَطِيعُوا اللَّهَ الخ. او دَ الله تعالی او دَ رسول دَ احکامو تابعدارئ کوئ او خپل مینځ کښ جنګ جګړه مه کوئ ګنی نو تاسو به کمزورئ او بے زړهٔ شئ او ستاسو قوت شان شوکت به ختم شی. ف۵۰ دا زجر دے. بَطَرًا. فخر او غرور. دَ موصول نه ابوجهل او دَ هغهٔ لښکر مراد دے چه دَ قافلے دَ حمایت دَ پاره ئے په خپل تعداد او بهادرئ او سامان جنګ بانده فخر او ناز کولو او بهادرئ، شاباسی وصولولو په غرض دَ مکے مکرمے نه وتلی وو. والمراد بهم اهل مکة ابوجهل واصحابه حین خرجوا لحمایة العیر (روح ج ۱۰ ص۱۲) وَيَصُدُّونَ دا په بَطَرًا بانده معطوف دے او په تاویل دَ اسم فاعل دَ خَرَجُوا دَ فاعل نه حال دے. سَبِيلِ اللَّهِ نه دَ الله دین مراد دے.

وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ أَعْمَالَهُمْ وَقَالَ

او کوم وخت چه ښائسته کړل شیطان دَ هغوئ په نظر و نو کښ دَ هغوئ اعمال او وے وئیل

لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَإِنِّي
نۀ به وی غالب تاسو باندے نن ورځ هیڅوک د خلقو نه او بیشکه زۀ
جَارٌ لَّكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ
حمایتی یم ستاسو بیا چه کله مخامخ شول دوه فوجونه نو هغه واپس شو
عَلَىٰ عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكُمْ
په خپلو پوندو باندے او وے وئیل بیشکه زۀ نۀ یم ستاسو سره
إِنِّي أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ ۚ وَاللَّهُ
بیشکه زۀ وینم هغه کوم چه تاسو نۀ وینئ بیشکه زۀ ویریږم د الله تعالیٰ نه او د الله
شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٤٨﴾ إِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ ع
ډیر سخت عذاب دے ف. او کله چه اُوئیل ۵۲ هغه منافقانو
وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰؤُلَاءِ
او د چا په زړونو کښې چه بیماری وه دهوکه کړیدی داخلق
دِينُهُمْ ۗ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَإِنَّ
دین خپل او څوک چه بهروسه اُوکړی په الله تعالیٰ باندے نو بیشکه
اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ يَتَوَفَّى
الله تعالیٰ قوی دے حکمت والا ف۲. او کۀ ته اُووینے ۵۳ کوم وخت چه ساه اخلی
الَّذِينَ كَفَرُوا ۙ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ
د هغه کافرانو فرشتے وهی
وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ
مخونه د هغوئ او شاگانے د هغوئ او وائی اُوڅکئ عذاب
الْحَرِيقِ ﴿٥٠﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ
سوزوونکے. دا بدله ده د هغے کوم چه اولیږلو مخکښ لاسو تخپلو سره تاسو

وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۵۱﴾ كَدَاْبِ

او بیشکه الله نه کوی ظلم په بندګانو خپلو باندے. لکه حال

اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَفَرُوْا

د فرعونیانو تشه او کوم چه مخکښ وو د دوئ نه چه منکر شول

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۭ

د خبرو د الله تعالیٰ نه نو اونیول هغوئ الله پاک په ګناهونو د هغوئ باندے

اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۵۲﴾

بیشکه الله تعالیٰ طاقتور دے سخت عذاب والا دے.

نکات: ۵۱ شپږم علت ۱۲. ۵۲ اووم علت ۱۲. ۵۳ منافقانو دا خبره په خپلو کورونو کښ کړے وه ځکه چه هغوئ بدر ته نه وو تلی ۱۲. ۵۴ تخویف اُخروی ۱۲. ۵۵ ای دأبهم کدأب اٰل فرعون. تخویف دنیوی دے ۱۲

موضح قرآن ف کله چه کافران جمع شول او جنګ د پاره راووتل
په لاره کښ یو بوډا سړے ملاؤ شو. وے ویل چه
زه د مسلمانانو دشمن یم ستاسو ملګرتیا د پاره راغلے یم او د جنګ ډیر ماهر
یم. بیا چه کله جنګ شروع شو د ابوجهل لاس ئے پریښودو اوتښتیدو.
دا سړے نه مخکښ چالیدلے وو او نه ئے روستو اولیدو هغه شیطان وو کله
چه هغهٔ جبریل او میکائیل اولیدل د مسلمانانو په طرف نو هغه وخت
اوتښتیدو. ف ۲ د مسلمانانو زړهٔ ورتیا ئے اولیدله نو مسلمانانو دا قسم
طعن لګولے وو. نو الله تعالیٰ اوفرمائیل چه دا غرور نه دے توکل دے.

تفسیر: ۵۱ دا شپږم علت دے د جنګ بدر اهمیت ابلیس هم محسوس
کړے وو د هغهٔ یقین وو چه که چرے فتح د مسلمانانو اوشوه نو د عربو نه
به د کفر او شرک خاتمه اوشی. د دے وجے نه د مشرکانو په تائید او
حمایت کښ هغه هم د یو عرب سردار سُراقه بن مالک کنانی په صورت
کښ د شیطانانو فوج راوستلو او د جنګ میدان کښ راښکاره شول او د
راتللو سره ئے اُوئیل. نن تاسو باندے هیڅوک غالب نه شی راتللے
مشرکانو چه دے اُولیدلو نو ډیر خوشحاله شول لیکن چه کله هغهٔ د
فرښتو جماعت اُولیدو او حضرت جبریل علیه السلام ئے خپل ځان
طرف ته راروان اُولیدو نو د شیطانانو سره د جنګ د میدان نه په تیښته

لاړو هغه وخت هغهٔ د حارث بن هشام په لاس کښې لاس ورکړے وو چه کله اُوتښتیدو نو حارث اُوئیل ایا دے حالت کښې مونږ پریږدے؟ نو هغهٔ اُوئیل په جواب کښې زهٔ ستاسو د امداد نه لاس اخستونکے یم ځکه چه ما ته هغهٔ څهٔ په نظر راځی کوم تاسو نهٔ وینئ د الله تعالیٰ عذاب په تاسو نازلیدونکے دے د کوم نه چه تاسو ناخبره یئ زهٔ د هغې نه ویریږم. د سراقه بن مالک په شکل کښې د ابلیس میدانِ جنگ نه تښتیدلو سره د مشرکانو همتونه کمزورې شول او هغوئ شکست اُوخوړو (خازن، روح وغیره.

۵۲ دا پنځم علت دے دا خبره منافقانو په مدینه کښې کړے وه ځکه چه په جنګ بدر کښې هیڅ یو منافق نهٔ وو شریک شوے. منافقانو په مدینه کښې د مسلمانانو باره کښې وئیلی وو چه دا خلق د خپل مذهب نه روستو لیونی کړځیدلی دی دا دومره لږ شمیر (درے سوه دیارلس) په د مشرکانو دومره لوئے لښکر سره څنګه مقابله اُوکړی. اغتروا بدینهم فخرجوا وهم ثلثمائة وبضعة عشر الی زهاء الالف (مدارک ج ۲ ص۸۲) الله تعالیٰ د دے جواب ورکړو وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ الخ کوم خلق چه د لږ شمار سره او د کمزورې سامان باوجود خپل معاملات الله تعالیٰ ته اُوسپاری نو هغوئ ته الله پاک خپل حکمت او تدبیر سره غلبه ورکړی.

۵۳ دا تخویف اُخروی دے. اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا نه هغه کافران مراد دی کوم چه په بدر کښې قتل کړے شو.

۵۴ تخویف دنیوی دے او دا د مبتداء محذوف خبر دے ای دأبهم کدأب اٰلِ فرعون یعنی د دے مقتولینِ بدر حال د فرعون او د هغهٔ نه مخکښې د سرکش قومونو په شان دے مثلاً د نوح علیه السلام قوم، قوم عاد. قوم ثمود، وغیره. كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ الخ، دا د هغوئ د حال تفسیر دے هغوئ د الله د ایتونو نه انکار اوکړو نو الله تعالیٰ هغوئ اُونیول دا شان د قریشو مشرکانو ته هم د بدر په جنګ کښې د هغوئ د کفر او عناد سزا ورکړے شوه عادة هٰؤلاء الکفار فی کفرهم کعادة کفار اٰل فرعون فی کفرهم فجوزی هٰؤلاء بالقتل والاسر یوم بدر کما جوزی اٰل فرعون بالاغراق (خازن ج ۳ ص۲۵)

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً

د دې سبب دا دے چه بیشکه الله تعالیٰ هرګز نهٔ دے بدلوونکے ۵۵ د هغه نعمت

اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ

چه ورکړے ئے وی یو قوم ته ترڅو چه هغوئ بدله نهٔ کړی د خپلو نفسونو خبرې دا

وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۵۳﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ
او دا چه بیشکه الله اوریدونکے خبردار دے ﴿۵۳﴾ . څنګه چه حال دے د فرعونیانو دو
وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ
او کوم چه مخکښ دوی نه وو دوئ نه چه دروغ اوګڼړلے هغوئ خبرے
رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَآ
د رب خپل بیا هلاک کړل مونږ هغوئ په سبب د ګناهونو د هغوئ او ډوب کړل مونږ
اٰلَ فِرْعَوْنَ وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵۴﴾
فرعونیان او دا ټول وو ظالمان .
اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ
بیشکه ډیر خراب په تلونکو کښ څه په نزد د الله تعالی باندے هغه دی
كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۵﴾ اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ
چه منکر شول بیا هغوئ نه راوړی ایمان چاسره چه تا وعده کړیده
مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ
د هغوئ نه بیا ماتوی هغوئ وعده خپله په هر
مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ
ځل او هغوئ نه ویریږی ﴿۵۶﴾ . نو که چرے بیا مومے ته دوئ ﴿۵۸﴾
فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ
په جنګ کښ نو دوئ ته داسے سزا ورکړه چه کتلو سره د دوئ روستو راتلونکي اوتښتي
لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِمَّا تَخَافَنَّ
دے دپاره چه عبرت وی د هغوئ دپاره . او که ته ویریږے ﴿۵۹﴾
مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى
د یو قوم نه د خیانت نو اوغورځوه د هغوئ وعدهٔ د هغوئ طرفته برابر طریقه

سَوَآءٍ ۚ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ﴿۵۸﴾

چه شئ دواړه برابر ۳ بیشکه الله نه خوښوی دهوکه کوونکی ف ۲.

نکات: سـ۱ ای ذلك البيان لتستيقنوا ۱۲ - سـ۲ تخويف دنيوی ۱۲ - سـ۳ زجر ۱۲ - سـ۴ دويم قانون د جهاد نبی عليه السلام د پاره ۱۲ - سـ۵ ای انتم وهم سواء فی العلم ۱۲.

موضح قرآن ف۱ د خپل زړۀ خبره بدلول یعنی اعتقاد او نیت چه ترڅو بدل نه کړی نو د الله تعالیٰ ورکړے شوے نعمت نه شی اخستلے ۱۲ - ف۲ که چرے یو قوم د کافرانو سره صلح کړے وی بیا د هغوئ د طرفه خیانت (دهوکه) اوکړے شی اُوس هغوئ په ناخبرئ کښ وژنئ او چا چه خیانت نه دے کړے لیکن ویره ده د خیانت نو هغه خبر کړئ جواب ورکړئ برابر په برابر یعنی د جنګ تیارے د صلح نه مخکښ هم کولے شئ نو اُوس هم کولے شئ دے کښ څۀ وعده خلافی نشته.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی شکر په کفرانِ نعمت او طاعت په معصیت سره ۱۲ - ف۲ یعنی تعریض (اشاره) ده د یهودیانو قبائل ته چه نبی علیه السلام هغوئ سره صلح کړے وه او هغوئ څۀ وخت روستو دهوکه (غدر) اوکړو ۱۲ - ف۳ یعنی د وعدے ماتولو ملامتیا به په تاسو را نه شی.

تفسیر: ۵۵ دا مذکوره بیان طرف ته اشاره ده او د پاسَ متعلق محذوف دے ای لتستيقنوا یعنی دا مذکوره اُمور دِ دے د پاره بیان کړے شو چه ستاسو یقین اُوشی چه الله تعالیٰ د یو قوم نه خپل نعمت تر هغه وخته پورے نه اخلی ترڅو چه خلق خپل اعمال احوال بدل نه کړی کوم سره چه هغوئ ته د الله تعالیٰ نعمتونه ملاویږی یعنی چه کله هغوئ د الله پاك نعمتونه او ورکړے شوی صلاحیتونه اوخوبیانے غلط استعمالول شروع کړی او د هغے نه صحیح او په خپل ځائے کار نه اخلی او هغه د الله پاك د احکامو په مخالفت کښ استعمالوی نو الله تعالیٰ د هغوئ نه خپل نعمتونه واخلی هغوئ په سخت عذاب کښ مبتلاء کوی.

۵۵ تخویف دنیوی دے دا مضمون د ماقبل تمثیل دے د فرعون قوم او د هغوئ نه مخکښ د سرکش قوم حال اُوګورئ مونږ هغوئ ته ټول دنیوی نعمتونه او راحتونه ورکړل لیکن چه څومونږ پیغمبر څمونږ ایتونو سره هغوئ ته راغے نو هغوئ د دوئ تکذیب اوکړو دروغ ئے اوګڼل او په کنا هونو کښ ورنتوتل او څمونږ د نعمتونو ناشکری ئے اوکړه نو مونږ

هغه ټول هلاک کړل. وَكُلٌّ كَانُوا ظَالِمِينَ. دا ټول قومونه ظالمان وو هغوئ ځمونږ دَ ورکړے شوی نعمتونو غلط او بے ځایه استعمال اوکړو ځما نافرمانئ ئے اوکړه. ځما پیغمبران اوکتابونه ئے دروغ اوګڼړل او دَ هغے په سزا کښ په عذاب کښ مبتلا شول. بالکل هم دا شانِ حال دَ مکے دَ مشرکانو وو هغوئ ته مونږ عقل فهم، دولت ورکړو دَ مال او زر نه مونږ دَ هغوئ خزانے ډکے کړے. ټول عرب باندے مونږ دَ هغوئ مشری او برتری قایم کړه. لیکن چه کله ځمونږ آخری پیغمبر آخری پیغام راوړړو هغوئ ته نو هغوئ ځمونږ دَ ورکړے شوو ټولو نعمتونو او صلاحیتونو استعمال دَ هغوئ په مخالفت او عداوت کښ اوکړو. په جنګ بدر کښ دَ قتل او قید سزا دَ دے جرم بدله کښ ورکړے شوه.

ف۵۷ دا زجر دے کوم کافران او عنادیان چه په کفر کښ کلک او په عناد همیشه روان دی هغوئ دَ خدائے په نزد دَ هغه ټول مخلوق نه ډیر خراب دی هغوئ هرګز ایمان نهٔ راوړی. دَ هغوئ دَ باطنی خباثت او شرارت دا حال دے چه کله هم تاسو هغوئ سره کومه وعده اوکړئ نو هغوئ هرځل وعده ماتوی او دَ وعدے ماتولو نه ئے منع کیږی دینه دَ بنی قریضه یهود مراد دی چه هغوئ دَ نبی علیه السلام سره وعده کړے وه چه هغوئ به دَ مسلمانانو خلاف دَ مشرکانو امداد هم نهٔ کوی او دَ مسلمانانو خلاف به ئے نهٔ پاڅوی. لیکن هغوئ په خپله وعده قائم پاتے نهٔ شول او هغوئ په جنګ بدر کښ اسلحے سره دَ مشرکانو امداد اوکړو کله چه مشرکانو شکست اُوخوړو نو یهودیانو نبی علیه السلام ته معذرت پیش کول شروع کړل چه ځمونږ نه غلطی شوے ده نو نبی علیه السلام هغوئ نه دوباره وعده واخستله لیکن دینه روستو ئے په غزوهٔ خندق کښ بیا وعده ماته کړه او دَ مشرکانو ملګرتیا ئے اوکړه. قال ابن عباس هم قريضة فانهم نقضوا عهد رسول الله عليه وسلم واعانوا عليه المشركين بالسلاح يوم بدر ثم قالوا اخطأنا فعاهدهم مرة اخرى فنقضوه ايضا يوم الخندق (کبیر ج ۴ ص ۵۵۵).

ف۵۸ دا دویم قانون جنګ دے او نبی صلی الله علیه وسلم پورے خاص دے یعنی کوم خلق چه ستاسو سره دا شان بیا بیا وعده ماتوی کهٔ چرے کله په جنګ کښ ستا سو مخے ته راشی نو تاسو هغوئ ته داسے سخته سزا ورکړئ چه کوم روستو پاتے شوی دی هغوئ هم او ویرولے شی یا دَ هغوئ راتلونکی نسلونه هم دَ هغے نه عبرت واخلی او په اینده کښ دَ وعدے ماتوَ زړهٔ ورتیا اُونهٔ کړی.

ف۵۹ لیکن کهٔ چرے کوم قوم او سه پورے ښکاره وعده نهٔ وی ماته

کړے لیکن دَ نښو او قرائن نه تا سو ته اندازه اُولګی چه هغوئ وعده ماتوکی دی نو تا سو ته اجازت دے که چرے تا سو مناسب ګنړئ نو دَ هغوئ وعده واپس کړئ او دَ وعدے نه لاس اخستلو سره هغوئ ته اطلاع ورکړئ مناسب کاروائی اوکړئ دَ دے دَ پاره چه دَ معاهدے باره کښ دواړه فریق په علم او خبر داری کښ برابر شی او یوه ډله هم په تیاری کښ پاتے نهٔ شی۔

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَبَقُوا ۚ

او دا ګمان دِ نهٔ کوی ټول هغه خلق کافر چه هغوئ به اُوتښتی

إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ ﴿٥٩﴾ وَأَعِدُّوا لَهُم

هغوئ به هرګز مغلوب نهٔ کړی مونږ لره. او تیار کړئ دَ هغوئ دَ جنګ دَ پاره ټول

مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ

څو مره چه جمع کولے شئ ستاسو دَ قوت نه او دَ پاللے شوو

الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ

اسونو نه چه ویره پرے ورکوئ دے سره په دشمنانو دَ الله او دشمنانو ستاسو باندے

وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ

او نورو باندے سیوا دَ دوئ نه ټوله کوم چه تاسو نهٔ پیژنئ الله

يَعْلَمُهُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

پیژنی هغوئ ما ته او هغه چه خرچ کوئ تاسو څهٔ څیز په لاره دَ الله کښ ټوله

يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٦٠﴾ وَإِن جَنَحُوا

هغه به پوره ملاویږی تاسو ته مته او ستاسو حق به پاتے نهٔ شی ته او که چرے هغوئ مائل شی

لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ

ټوله صلح ته نو ته هم مائل شه هغے طرفته مته او بهروسه اُوکړه په الله تعالیٰ باندے

إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦١﴾ وَإِن يُرِيدُوا

بیشکه هم هغه دے اوریدونکے خبر دار مته او که هغوئ اُوغواړی

اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ

چه تاسو ته دهوکه درکړی نو بیشکه تالره کافی دے الله تعالیٰ

هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۲﴾

هغهٔ (الله) تهٔ مضبوط کړے امداد خپل سره او مسلمانانو سره

وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا

او محبت ئے واچولو په مینځ د زړونو د هغوئ کښ کهٔ چرے تا خرچ کړے وے کوم څه چه

فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ

په زمکه کښ دی ټول نهٔ شوا چولے تا محبت په مینځ

قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ ؕ

د زړونو د هغوئ کښ لیکن الله تعالیٰ محبت واچولو په مینځ (د زړونو) د هغوئ کښ

اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۶۳﴾

بیشکه الله طاقتور دے حکمت والا دے ف۳

نکات: سل زجر ۱۲۔ سک دریم قانون د جهاد مؤمنانو د پاره ۱۲۔ سک څلوم قانون د جهاد نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پاره ۱۲۔ سک جمله تعلیلیه ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ حکم ئے اُوکړو چه د جهاد څومره چه کیدیشی تیاری اُوکړئ او په غشو ویشتلو باندے زور ورکړو او د اسلحے تیاری په دے کښ داخل دے او په اسونو پالو باندے چه کوم خرچ اُوشی د هغے خوراک بلکه د هغے حاشرهٔ اوُمتیا زئے به هم په تله د نیکئ کښ د قیامت په ورځ اچولے شی او وے فرمائیل چه داُرعب او ویرے اچولو د پاره دی او چه تاسو داخیال اُونهٔ کړئ چه فتح به په اسبابو سره وی فتح خو صرف د الله تعالیٰ په امداد سره ده۔ او کوم خلق چه تاسو ئے نهٔ پیژنئ هغه منافقان دی چه د مسلمانئ او اسلام پرده کښ پټ دی۔ ف۲ یعنی کهٔ چرے په زړهٔ کښ دهوکه لری نو الله تعالیٰ ته معلومه ده سزا به ورکړی۔ ف۳ عربو قوم کښ به همیشه دشمنی او حسد وه او د یو بل وینو ته به تږی وو بیا د نبی علیه السلام په وجه متفق شول او د یو بل دوستان شول ۱۲۔

فتح الرحمن
ف ۱ یعنی د جنګ آلات استعمالول لکه غشی ویشتل ۔
ف ۲ یعنی منافقان ۱۲۔ ف ۳ یعنی د هغې ثواب ۱۲۔
ف ۴ دا امر اباحت (جواز) د پاره دے ۱۲۔

تفسیر: ۶۰ دریم قانونِ جنګ مؤمنانو د پاره دلته مسلمانانو ته د جنګی سامان د تیارۍ حکم ورکړے شو یعنی مسلمانان دِ د هرے زمانے مطابق د دُشمن د مقابلے د پاره د جنګ سامان تیار کړی کله چه د غشو او توپک، نیزے، تورے زمانه وه هغه وخت د دے اسلحے د تیارولو او د دے د استعمالولو تربیتګ ته ضرورت وو اوس چوتکه د مشین ګن توپ، ټینک او بمبار جهازونو زمانه ده داوخت د دے څیزونو حاصلول او د دے د استعمال تربیت لازمی دے دِ دے د پاره چه د الله تعالیٰ د دین او د مسلمانانو دشمنان مرعوب شی یعنی د سامانِ جنګ ضرورت دِ دے د پاره دے چه د ظاهری اسبابو په لحاظ سره په کافرانو باندے ستاسو د طاقت رُعب کینی. باقی د فتح او شکست دارمدار د سامان په لږ والی او زیاتوالی نه دے هغه د الله تعالیٰ په اختیار کښ دے. مِنْ قُوَّةٍ، د قوت نه هر هغه جنګی تدبیر او اسلحه مراد ده کوم چه په جنګ کښ امداد او معاون ثابت شی. ای من کل ما یتقوی به فی الحرب کائنا ما کان (روح ج ۱۰ ص ۲۴)۔

۶۱ د عربو مشرکان مسلمانانو سره ښکاره په جنګ وو او د هغوئی دُشمنی څه پټ شے نه وو د دے نه علاوه منافقان او یهودیان د بنی قریضه چه په پټه د مسلمانانو دشمنان وو یا د دے نه اهل فارس او نور قومونه مراد دی چه هغوئی سره روستو د مسلمانانو مقابله کیدونکے ده. هم الیهود والمنافقون واهل فارس (مدارک ج ۲ ص ۸۲)۔

۶۲ دا په جهاد کښ د مال خرچ کولو ترغیب دے ۱۲۔

۶۳ څلورم قانون د جنګ (جهاد) چه مخصوص دے نبی علیه السلام پورے که چرے مشرکان ستاسو سره د صلح کولو اراده اوکړی نو تاسو هم که چرے دِ دے کښ مصلحت ګنړئ صلح ته لاس ورانده کړئ او په الله تعالیٰ باندے بهروسه اوساتئ هغه به ستاسو حامی او ناصروی. جَنَحُوْا ای مالوا او د سَلْمِ معنیٰ ده صلح۔ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ، جمله ماقبل د پاره علت دے۔ وَاِنْ یُّرِیْدُوْٓا الخ، د صلح په صورت کښ د مشرکینو د طرفه د دهوکے او فریب خطره کیدے شوه چه په ظاهره هغوئی د صلح اراده ظاهر کړی او د دے سره د هغوئی مقصد نبی علیه السلام د جنګی تدبیرونو نه غافل او د هغې د خطرے نه مطمئن کول وی نو د دے جواب ئے هم اُوفرمائیلو چه تاسو د دے فکرمه کوئی تاسوله الله تعالیٰ کافی دے که

چرے د هغوئ اراده د دهوکے ورکولو وی نو الله تعالیٰ به تاسو د فریب دهوکے نه بچ اوساتی کوم الله تعالیٰ چه خپل امداد او د مهاجرینو او انصارو په ذریعه ستا سو تائید او فرمائیلو کله چه ټول عرب ستا دشمنان وو هغه به اوس هم ستا امداد کوی۔ وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ الخ، د عرب قوم دُشمنی او خاندانی کینه او حسد ضرب المثل دے لیکن الله تعالیٰ د اسلام په برکت سره د هغوئ په زړونو کښې خپل مینځ کښې محبت او الفت واچولو د هغوئ زړونه ئے د دُشمنئ نه پاک صاف کړل۔ که چرے تاسو د دُنیا ټول دولت خرچ کړے وے نو هم تاسو د دوئ په زړونو کښې محبت نه شو اچولے لیکن الله تعالیٰ د هغوئ زړونه بدل کړل او د هغوئ دُشمنی ئے په محبت سره بدله کړه کوم الله تعالیٰ چه داسے قادر او حکیم دے هغه به دے موقع باندے هم یو داسے تدبیر کوی چه تاسو به د دُشمن د مکر او فریب نه محفوظ اوساتی۔

يَآاَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ

اے نبی کافی دے تا لره الله فقط او هغه خلک چه تابعداری ستا

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۴﴾ يَآاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ ع

د مؤمنانو نه وی۔ اے نبی شوق ورکړه

الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ ۚ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ

مؤمنانو ته لپاره د جنګ که چرے وی ستاسو نه

عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ

شل تنه ثابت قدم پاتے کیدونکی نو غالب به وی په دوؤ سوؤ باندے

وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفًا

او که چرے وی ستاسو نه سل تنه نو غالب به یئ په زرو

مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ

کسانو د کافرانو ځکه چه هغه خلق

لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ
نه پوهیږي هغوی. اوس سپک کړو بوج الله تعالی تاسو باندې
وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ؕ فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ
او معلوم ئې کړه چه په تاسو کښې سستي ده نو که چرې وي په تاسو کښې
مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ
سل تنه ثابت قدم پاتې کیدونکي نو غالب به یئي په دوه سوو باندې او که چرې وي
مِّنْكُمْ اَلْفٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ
تاسو کښې زر نو غالب به وي په دوو زرو باندې په حکم د الله تعالی سره
وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ
او الله ملګرے دے د ثابت قدم پاتې کیدونکو سره هغوی. نه ده بکار نبي له چه
اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِي
چه اوساتي خان سره قیدیان ترڅو چه بنه ویښې تو ئې نه کړي په
الْاَرْضِ ؕ تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ
ملک کښې تاسو غواړئ هغه اسباب د دنیا
وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٧﴾
د الله تعالی غواړي اخرت او الله طاقتور دے حکمت والا دے هغه
لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ
که چرې نه وے یو حکم چه الله لیکلے مخکښې نه هغه نو رسیدلے به وو تاسو ته
فِيْمَآ اَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٦٨﴾
سبب د هغه اخستلو کښې عذاب لوئے هغه.

نکات: ۱- دا پنځم قانون د جهاد خاص نبي علیه السلام د پاره ۱۲۰
سره داد خشبت په کاف معطوف دے. لهذا خشب اوکاف د الله تعالی د پاره

وټیلې شي او دَ تائید نسبت مؤمنانو ته هم کیدے شي او جائز دے ۱۲۔
ستے دا منسوخ نهٔ دے ځکه چه دَ ترغیب الی الجهاد حکم اُوس هم باقی دے
او اِنْ یَّکُنْ مِّنْکُمْ عِشْرُوْنَ الخ خبر دے او په خبر کښ نسخ نهٔ کیږی ۱۲۔
سے شپږم قانون نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ پاره ۱۲۔ ستے اول دَ فدیے
نهٔ اخستلو حکم نهٔ وو ورکړے شوے لهٰذا عذاب هم ورنهٔ کړے شو
ځکه چه دَ حکم بیا نولو نه مخکښ مواخذه نهٔ کیږی ۱۲۔

موضح قرآن

ف نبی علیه السلام چه کله مدینے ته راغے مسلمانانۀ اُوشمار ل دَ جنګ قابل سړی شپږ سوه وو ټول خوشحال شول چه اُوس ځمونږ دَ کوم کافر ته ویره ده دیته روستو دا آیت نازل شو ۱۲۔ ف۲ یعنی یقین نهٔ لری په الله تعالیٰ باندے او په ثواب باندے اوځوک چه یقین لری هغهٔ په مرګ زړهٔ ور دی۔ ف۳ اول مسلمانان په ایمان کښ کامل وو هغوئ ته حکم اُوشو چه تاسو به دَ لسو کافرانو برابر جهاد کوئ روستو مسلمانان یو قدم کم وو نو هغه وخت دا حکم اُوشو چه دَ دوچند برابر به جهاد کوی۔ دا حکم اُوس هم باقی دے۔ لیکن کهٔ چرے دَ دوُ نه زیات باندے حمله اُوکړی نو لوئے اجر دے۔ دَ نبی علیه السلام په زمانه کښ یو ځل مسلمانان دَ اتیا زره سره جنګیدلی دی۔ ف۴ دَ بدر په جنګ کښ اویا کافران اُونیولے شول نبی علیه السلام مشوره واخستله چه دوئ سره څهٔ اُوکړو دَ اکثرو مسلمانانو خوښه وه چه مال واخستلے شی او پریښودے شی او ځنو غوښتل چه ټول قتل کړے شی لکه چه دا مشوره دَ حضرت عمر او سعد بن معاذ ده مال واخستلے شو او پریښودے شول هغه وخت دا دَ عتاب آیت نازل شو یعنی نبیانو له جهاد سره مال جمع کول مقصود نهٔ دے بلکه دَ کافرانو ضد ماتول دی هغه خبره په دے کښ ده چه قتل اُوکړی دے دَ پاره چه دَ هغې په ویره دَ کفر ضد پریږدی۔
ف۵ هغه خبره دالیکلے شوے وه چه دے قیدی خلقو کښ دَ ډیرو په قسمت کښ مسلمانیدل وو ۱۲۔

فتح الرحمٰن

ف۱ کله چه دا آیت نازل شو نو لښ چنده کافرانو سره مقابله کښ ثابت قدم پاتے کیدل لازم شول روستو بیا منسوخ شو دَ دوؤ په مقابله کښ دَ یو ثابت قدم پاتے کیدلو سره ۱۲۔ ف۲ مترجم وائی صحابه کرامو دَ بدر دَ قیدیانو فدیه واخستله پخپل اجتهاد سره او دَ الله په نزد دَ دوئ قتل وو لیکن په بنګاه نص سره منع نهٔ وه شوے نو عفوه ئے اوکړه دا آیت نازل شو والله اعلم ۱۲
ف۳ یعنی په عقوه غیر منصوص سره ۱۲۔

تفسیر ۶۵ دا پنځم قانون دے د جهاد نبی کریم صلی الله علیه وسلم
د پاره. حاصل دا چه تالره او ستا ملګرو لره الله تعالیٰ کافی دے الله تعالیٰ
ستا امدادی او کار ساز دے تاسو مؤمنانو ته د جهاد ترغیب ورکړئ او
په الله تعالیٰ باندے بهروسه ساتئ. که چرے تاسو په تعداد کښ کم هم
یئ نو بیا به هم تاسو ته دُشمن باندے فتح او غلبه درکوم. وَمَنِ اتَّبَعَكَ
مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ دا حَسْبُكَ کښ په کاف ضمیر باندے عطف دے یا په
قول د امام زجاج دا مفعول معهٔ دے یا مبتداء ده او د دے خبر محذوف
دے ای من اتبعك من المؤمنین کذلك ای حَسْبُهُمُ اللّٰهُ تعالیٰ. حاصل
دا دے چه تالره او مؤمنانو لره الله کافی دے په ټولو مهما تو کښ (روح
بحر، کبیر، مدارك) لفظِ الله باندے د دهٔ معطوف منل غلط دی ځکه چه
کفایت کوونکے صرف الله دے بل څوک نهٔ دے علامه ابن القیم زاد المعاد
اول جلد کښ دے باندے تفصیلی خبره کړیده او د دے عطف کول ئے
په لفظ الله باندے بالکل غلط ثابت کړی دی ۱۲.

۶۶ د عامو مفسرینو دا خیال دے چه دا ایت د دهٔ نه روستو ایت یعنی
اَلْئٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ الخ سره منسوخ شویدے. حضرت شیخ فرمائی چه کهٔ
چرے حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ منسوخ او منلے شی نو دا غلطه ده ځکه
چه ترغیب الی الجهاد په اتفاق سره منسوخ نهٔ دے او کهٔ چرے اِنْ يَّكُنْ
مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ الخ منسوخ او منلے شی نو دا هم صحیح نهٔ ده ځکه چه دا خبر
دے او خبر نهٔ منسوخ کیږی بلکه نسخ په احکامو کښ کیږی. لیکن دا ویلے
شی چه اول په شلو مسلمانانو باندے د دوو سوؤ کافرانو سره جنګ کول
فرض وو او س د دے ایت سره فرضیت منسوخ شو لکه چه حضرت عبدالله
بن عباس فرمائی. شق ذٰلِكَ علی المسلمین اذ فرض علیهم ان لا یفر واحد
من عشرة فجاء التخفیف (روح ج ۱۰ ص ۳۲).

۶۷ شپږم قانون د جنګ نبی علیه السلام د پاره په جنګ بدر کښ
مسلمانانو اویا تنه د مشرکانو نه قید کړی وو د دے قیدیانو باره کښ
چونکه د الله تعالیٰ د طرفه څهٔ فیصله نهٔ وه نازله شوے د دے وجے نه
د هغوئ متعلق نبی علیه السلام د صحابؤ نه مشوره واخستله حضرت
ابوبکر صدیق رضی الله عنه عرض اوکړو یا رسول الله دا ستا د قوم د سړی
دی او ستاسو رشته دار دی تاسو دوئ نه فدیه واخلئ او دوئ پریدئ
ممکن ده چه دوئ اسلام قبول کړی د اسلام مددګار اوګرځی او د دوئ
نه چه کوم د فدیئے رقم واخستلے شی هغه په ائنده کښ جهاد کښ پکار
راشی. لیکن حضرت عمر فاروق رضی الله عنه مشوره ورکړه یا رسول الله

داهغه خلق دی چه ستا تکذیب ئے اُوکړو تا سوئے د وطن نه اوویستلئ
او ستا سو سره په جنګ شول تا سو د دوئ ختنونه او وهئ پریکړئ اکثر
صحابه د حضرت ابوبکر صدیق د رائے سره متفق وو پخپله د نبی کریم
صلی الله علیه وسلم د طبیعت میلان هم دے طرف ته وو نو فدیه ئے
واخستله تول قیدیان ئے آزاد کړل دے باندے الله تعالیٰ عتاب نازل کړو
چه یو پیغمبر له دانه ده ښکاره چه د هغه په قبضه کښ مشرک جنګ کوئے
قیدی وی او هغه قتل نه کړی او فدیه واخلی هغه پریګدی.

۶۸ خطاب صحابه کرامو سره دے دا د هغه خلقو د پاره ملامتیا ده
چاچه د زیات مالی مفاد په خاطر د فدیئے اخستلو مشوره ورکړے وه.

۶۹ چونکه اول د فدیئے اخستلو د منع حکم د الله د طرفه نه وو نازل شوے
د دے وجے نه ئے اُوفرمائیل چه کهٔ چرے په لوح محفوظ کښ دا فیصله نهٔ
وے لیکلے شوے چه د کومے معاملے د حکم بیا نولو نه مخکښ په هغے کښ
نیول نهٔ کیږی نو د دے قیدیانو نه به فدیه اخستلو باندے به تاسو ته
سخته سزا درکولے شوے ای ما کتب فی اللوح المحفوظ ان لا یواخذ قبل
البیان والاعذار (مدارک ج ۲ ص۸۵)

فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ

نو خورئ څهٔ چه په غنیمت کښ ملاؤ شی تاسو ته حلال پاکیزه شه او ویریږئ د الله نه

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٩﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ

بیشکه الله تعالیٰ دے بښونکے مهربان والا. اے نبی لکه اووایه

لِّمَنْ فِيْٓ اَيْدِيْكُمْ مِّنَ الْاَسْرٰٓى ۙ اِنْ يَّعْلَمِ

هغه چاته چه په لاس ستا کښ دی د قیدیانو نه کهٔ چرے معلومه کړی

اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا يُّؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّآ

الله تعالیٰ په زړونو ستا سو کښ څهٔ نیکی نو در به کړی تاسو ته بهتر د هغے نه کوم چه

اُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

اخستلے شویدی ستا سو نه او بښنه به اُوکړی تاسو ته او الله تعالیٰ دے بښونکے

رَّحِيمٌ ﴿٧٠﴾ وَإِن يُرِيدُوا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا

مهربان او که چیرې غواړي خیانت کول تا سره نو بیشکه خیانت کړی هغوی

اللَّهَ مِن قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ

د الله سره د دېته مخکښې بیا (الله) درکړل ستا په لاس کښې هغوی او الله په هر څه خبردار

حَكِيمٌ ﴿٧١﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا

حکمت والا دی ۷۱. بیشکه کوم خلقو چه ایمان راوړو او کورونه ئې پرېښودل

وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي

او جهاد ئې اوکړو لکه مال خپل سره او ځان خپل سره په

سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا

لاره د الله تعالی کښې او کوم خلقو چه ځائې ورکړو او امداد ئې اوکړو

أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَ

دوی د یو بل ملګری دی مع ۲ او

الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم

او چا چه ایمان راوړو او کورونه ئې نه دی پرېښودلی نو نشته تاسو له

مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ

د ملګرتیا د هغوی نه څه شی ترڅو چه

يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي

کورونه پرېنږدي هغوی او که چیرې هغوی امداد د غواړي ستاسو نه په

الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ

دین کښې نو په تاسو لازم دی امداد کول د هغوی لیکن په مقابله د هغه

قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ

خلقو کښې چه په مینځ ستاسو او په مینځ د هغوی کښې وعده وي

وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِیۡرٌ ﴿۷۲﴾

او الله تعالیٰ چه کوم څۀ کوئ تاسو هغه وینی ف۳.

نکات :- ۱ اوؤم قانون نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ پاره ۱۲. ۲ ای انابة ۱۲. ۳ ای فامکنکم علیهم یعنی الله تعالیٰ تاسو ته په هغوئ قدرت درکړو ۴ ترغیب الی الهجرة والجهاد ۱۲. ۵ انصار مراد دی ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعنی ویرېږی به اوکۀ څۀ غلطی هم اُوشی نو الله تعالیٰ به ئے اُوبښی دَ قید یا نوحکم اوریدلو سره مسلمانان دَ مال غنیمت ته هم اُو ویریدل دا ئے هغوئ ته تسلی ورکړه چه دا دَ الله تعالیٰ ورکړه ده په خوشحالئ سره ئے خورئ لیکن دَ غنیمت دَ پاره جهاد مه کوئ.

مسئله :- دَ حنفیانو په نزد کۀ چرے کافر اُو نیولے شی او قید کړے شی نو مال اخستلو سره دَ هغۀ پرېښودل روا نۀ دی او نۀ مفت پرېښودل چه دَ کافرانو سره ملاؤ شی. لیکن غلام ساتل ئے روا دی یا پرېښودل چه رعیت اوګرځی او دَ اسلام ملک کښِ پاتے شی. او دَ امام شافعیؒ په نزد پاتے هغه هم روا دے په سورۀ محمد کښِ ئے اُوفرمائیل، فَاِمَّا مَنًّا بَعۡدُ وَاِمَّا فِدَآءً.

ف۲ مخکښِ ئے دهوکه کړے ده الله تعالیٰ سره یعنی کفر او انکار سره دَ هغے حکم ئے اُوفرمائیلو چه دَ ابوطالب په ژوند کښِ بعضو هاشمیانو وعده کړے وه او متفق شوی وو دَ نبی علیه السلام په امداد کولو باندے او اوس دَ کافرانو په طرف شول او دا وعده ئے رښتونه ثابته کوم چه مسلمانان شول الله تعالیٰ هغوئ ته بے شمار دولت ورکړو او څوک چه مسلمانان نۀ شول هغوئ خراب او تباه شول ۱۲.

ف۳ دَ نبی علیه السلام اصحاب دوه ډلے وو یو مهاجرین او دوئیم انصار مهاجرین چاچه کور وته پرېښودلی وو او انصار چاچه ځائے ورکړے وو یعنی څومره مسلمانان چه دَ نبی علیه السلام سره حاضر دی دَ هغوئ ټولو صلح او جنګ یو دے یو سره موافق دَ ټولو موافق دے او دَ یو سره مخالف دَ ټولو مخالف دے او کوم مسلمانان چه په خپل ملک کښِ دی چرته چه دَ کافرانو زور دے دَ هغوئ په صلح او جنګ کښِ دَ دے ځائے اُوسېدونکی شریک نۀ دی کۀ چرے دَ هغوئ سره اُوسین ونکی صلح کوُنکی هغوئ سره جنګ کوی نو دوئ دِ مدد نۀ کوی کۀ چرے دَ هغوئ سره صلح کوُنکو باندے غلبه بیا مومی او کۀ چرے اجنبی (غیر معاهد کافر) په هغوئ

ظلم اُوکړی او هغوئ امداد اُوغواړی نو امداد دِ اُوکړی ۱۲-

فتح الرحمٰن **ف۱** تعریض دے په عباس بن عبدالمطلب ۱۲ **ف۲** یعنی مهاجرین او انصار و له پکار دہ چه ډیو بل سره امداد او وروروَلی اُوکړی ۱۲-

تفسیر: ۸۲ کله چه دا دَ عتاب (زورنے) ایتونه نازل شول نو مسلمانانو اُووېریدل چه دَ غنیمت مال ته په کوم کښ چه فدیه هم شامل وه لاس ورنهٔ وړی او په خپل استعمال کښ ئے رانهٔ ولی دِے ایت کښ الله تعالیٰ هغوئ ته تسلی ورکړه چه مالِ غنیمت او کومه فدیه چه تاسو اخستے دہ ستاسو دَ پاره حلال او پاکیزه دہ هغه استعمالوئ او ائنده دَ پاره احتیاط کوئ کوم تخه چه اُوشول هغه الله معاف کړل۔

۸۳ اُووم قانون دَ جهاد پیغمبر علیه السلام دَ پاره ځنو قیدیانو دَ اسلام اظهار کړے وو دَ هغوئ باره کښ ئے نبی علیه السلام ته حکم ورکړو چه تاسو هغوئ ته اُووایئ چه که چرے واقعی تاسو دَ خلوصِ دل نه ایمان قبول کړے وی نو هیڅ غم مهٔ کوئ کومه فدیه چه ستاسو نه اخستے شویده الله تعالیٰ به تاسو ته دَ هغے نه بهتر دولت درکړی۔ دُنیا کښ به دَ هغے ځو چنده مال درکړی یا به په اخرت کښ دَ هغے اجر درکړی۔ خَیْرًا، اول نه ایمان او تصدیق یا انابت الی الله مراد دے او خَیْرًا، دویم دَ مالاً مقدر صفت دے او که چرے هغوئ دَ خیانت اراده لری یعنی دَ فدیے ورکولو په وخت چه هغوئ تاسو سره کومه وعده کړیده چه په راتلونکی وخت کښ به ستاسو سره جنګ نهٔ کوی که چرے هغوئ دَ دے وعدے خلاف ورزی کول غواړی نو تاسو فکر مهٔ کوئ هغوئ دَ دینه مخکښ هم دَ الله سره دَ وعدے خلاف ورزی اوکړه نو الله تعالیٰ تاسو په دوئ مسلط کړئ او ستاسو په لاس ئے هغوئ قیدیان کړل اُوس که چرے هغوئ دوباره خیانت او وعده خلافی اوکړی نو الله تعالیٰ به ئے بیا ستاسو په قبضه کښ درکړی هغوئ هیچرته نهٔ شی تښتیدے۔

۸۴ دا هجرت او جهاد ته ترغیب دے۔ دلته دَ مؤمنانو دَ دریو فرقو ذکر کړے شویدے۔ اول فریق مهاجرین۔ یعنی چاچه دَ الله دَ دین په خاطر خپل وطن مکه پریښودله او جهاد ئے اوکړو۔ دویم فریق انصار یعنی دَ مدینے اصلی اُوسیدونکی چاچه دَ هجرت نه مخکښ ایمان راوړے وو او چاچه مهاجرینو ته دَ استوګنے ځائے ورکړے وو او دَ هغوئ سره ئے هر قسم مدد کړے وو۔ دَ دے دواړو فریقینو په مینځ کښ نبی علیه السلام ورورولی قائم کړے وه دَ دے دواړو باره کښ ئے اُوفرمائیل، اُولٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ اَوْلِیَآءُ

بَعْضٍ، یعني د مسلمانانو دا دواړه ډلے چه د نبي علیه السلام ملګري دوئ خپل مینځ کښ د یو بل ملګري، دوستان دي او مددګار دي د دوئ نه د یو صلح به د بل صلح او د یو جنګ به د بل جنګ تصوّر کولے شي. ولایت نه مراد د نصرت او تعاون ولایت دے دے صورت کښ دا ایت محکم دے منسوخ نه دے یا د ولایت نه عام ولایت مراد دے چه نصرت او وراثت دواړو ته شامل دے. دے صورت کښ به دا ایت د دے سورت اخري ایت وَ اُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰی بِبَعْضٍ سره منسوخ وي یعني اوس د میراث وړلو مدار په نسب وي نه چه په هجرت باندے د حضرت شیخ په نزد اول معنیٰ راجح ده. دریم ډله مستضعفین. یعني هغه مسلمانان چه د ځنو مجبوري یا نو په وجه سره ئے د نبي علیه السلام هجرت اُونه کړے شو او په مکه کښ پاتے شول او په جنګ بدر کښ د زړه نه غوښتلو با وجود مشرکانو سره راغلل. وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ لَمْ یُهَاجِرُوْا الخ سره د داسے مسلمانانو حکم بیان شو یعني کوم مسلمانان چه په دار الحرب کښ پاتے شول او دار الاسلام ته ئے هجرت اُونه کړو که چرے هغوئ د کافرانو سره د صلح او جنګ وعده اُوکړه نو د دار الاسلام مسلمانان یعني مهاجرین او انصار به د هغے پابند نه وي. لیکن که چرے د دار الحرب مسلمانان په دیني کارونو کښ د کافرانو په مقابله کښ د دار الاسلام د مسلمانانو نه امداد اُوغواړي نو په دوئ باندے د هغوئ امداد کول لازم دي په دے شرط چه د کافرانو په مقابله کښ امداد طلب کړے شوے وي چه د هغوئ او د دار الاسلام د ازاد مسلمانانو مینځ کښ څه معاهده نه وي.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ

او کوم خلق چه کافران دي هغوئ د یو بل ملګري دي،

اِلَّا تَفْعَلُوْهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْاَرْضِ

که چرے تاسو داسے نه کوئ نو خوره به شي فتنه په ملک کښ

وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ ﴿٧٣﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا

او خرابي به ډیره دي ف. او کوم خلق چه ایمان راوړے ئے او کور ونه ئے پریښودل

وَجَاهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ

او جنګ ئے اُوکړو په لار د الله کښ او کوم خلق چه

اَوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ

ځائ ورکړے ورته او مدد ئے ورکړو دغه کسان هم دوئ دی مسلمانان

حَقًّا ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۴﴾

ریښتونی دوئ ته بښنه ده او روزی د عزت ده ف ۲

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا

او چا چه ایمان راوړو د دې نه روستو او کوروته ئے پرېښودل او جنګ ئے اوکړو

مَعَكُمْ فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ

په ملګرتیا ستاسو کښ نو هغه خلق هم ستاسو نه دی او رشته دار یو تر بله خپل مینځ کښ

اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

حقدار دی زیات د یو بل په حکم د الله تعالیٰ کښ ۳ بیشکه الله تعالیٰ

۱۰ ع

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۵﴾

د هر څیز نه ښه خبردار دے ف ۳

نکات: ۱ مؤمنانو په مقابله کښ د کافرانو ذکر ۱۲. ۲ که څه هم چرے د ایمان نه روستو تاسو هجرت اُونه کړو ۱۲. ۳ بشارت ۱۲. ۴ یعنی کوم مسلمانانو چه هجرت کړے دے او د مهاجرینو رشته دار دی د مؤمنانو دوه قسمونه دی مهاجرین او غیرمهاجرین. د مهاجرینو بیا دوه قسمونه دی اولوالارحام او غیراولوالارحام. د غیرمهاجرینو هم دوه قسمونه دی. یو هغه چه دا سے کافرانو سره اُوسیږی د کوموسره چه د مهاجرینو میثاق (معاهده) ده. دویم هغه چه غیر معاهد کافرانو سره اُوسیږی.

موضح قرآن ف ۱ یعنی کافران خپل مینځ کښ یو دی ستاسو سره د دشمنئ په وجه چه چرته مسلمانان بیا موی په هغوئ باندے په ظلم کوی نو تاسو مسلمانانو ته واجب دی چه څوک څمونږ سره وی نو د هغوئ ذمه څمونږ ده او څوک چه په تیښلو کورونو کښ اُوسیږی نو هغوئ چه ترڅنګه معلومه کړی هغه شان د پوهه شی ۱۲.
ف ۲ یعنی دنیا کښ هم او په اخرت کښ هم د نبی علیه السلام سره ملګری مسلمانان اعلیٰ دی چه کور کښ ناست مسلمانانو نه په اخرت کښ هغوئ

کبس د عزت روزی ده یعنی غنیمت
د پاره بخشش دے بیر زیات او په ذهن کبس د عزت روزی ده یعنی غنیمت
ورځی د هغوی حق دے ۱۲. ف یعنی د مهاجرینو سره چه څومره مرستي
او ورشتے دی او د ر شتے و ړ اګرچه روستو مسلمان شو یا ئے هجرت
نو پټول شریک دی او د ر شتے و ړ مسلمان د مهاجر حقدار دے یعنی میراث به
ورکړو راغے او رشته دار مسلمان د مهاجر حقدار دے یعنی میراث به
هغه وړی اګرچه پخوانے رفاقت او ملګرتیا د نورو سره ده ۱۲

فتح الرحمن

ف یعنی یو بل د پاره کار جوړول ۱۲.
ف یعنی صله رحمی او یو بل ته میراث ورکول
رشته دارانو مینځ کبس چه اصحاب فروض (د حصو خاوندان) او عصبات
دی لازم ده والله اعلم ۱۲.

تفسیر ۱۲۷ څنګه چه مهاجرین او انصار د یو بل ملګری او امداد کونکی
دی داشان کافران هم خپل مینځ کبس د یو بل ملګری او امداد کونکی دی
او خپل مینځ کبس وارثان دی. اِلَّا تَفْعَلُوْهُ د ضمیر منصوب نه مذکوره
امور مراد دی یعنی کافرو ته د کافر ملګرے وی د مسلمان ملګرے او دوست
نه شی جو پیدا ئے خپل مینځ کبس د یو بل دوستان دی د دارالحرب
مسلمانانو له د دارالاسلام مسلمانانو سره ملاویدل پکار دی که چرے
هغوی داسے اونه کړی نو د دے نتیجه به د شرک د ترقئ او لوئے فساد په
شکل کبس ظاهره شی. ځکه چه په دارالحرب کبس پاتے کیدلو سره به کمزوری
مسلمانان خپل ایمان محفوظ اونه ساتی او نه به د هغوی ځان او مال خطرے
نه بچ وی او نه د هغوی عزت داشان ترڅو چه د مسلمانانو طاقت په یو
مرکز باندے جمع نه وی تر هغه وخته پورے به د کفر او شرک زور نه
ماتیږی. ای ان لا تفعلوا ما امرتکم به من تواصل المسلمین وتولی
بعضهم بعضًا ...... تحصل فتنة فی الارض ومفسدة عظیمة لان المسلمین
مالم یصیروا یدا واحدة علی الشرک کان الشرک ظاهرا والفساد زائدا
(مدارک ج ۲ ص ۸۴). **۱۲۸** دا د انصارو او مهاجرینو د پاره بشارت اخروی
دے. په دے ایت کبس الله تعالی د مهاجرینو او انصارو ډیر فضیلت بیان کړے
دے او د هغوی ډیر صفتونه ئے شمارلی دی. د مهاجرینو هجرت او د هغوی
جنګ او قتال ئے فی سبیل الله او محض د رضائے الٰهی د پاره د کیدلو
سرټیفکیټ ورکړو او د دوارو ډلو پاره کبس ئے اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا
نازل کړو اعلان ئے اوکړو چه مهاجرین او انصار ډیر زیات رښتونی او مخلص
مؤمنان وو. لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ سره ئے د هغوی د مغفور کیدلو او د
جنتی کیدلو تصدیق اوکړو.
۱۲۹ او کوم خلق چه د اول هجرت نه روستو مسلمانان شول او بیائے

هجرت اوکړو په مدینه منوره کښ د مهاجرینو اولین او انصار سره یوځائے شول هغوئ هم په صلح او جنګ ټولو احکامو کښ د هغوئ سره شریک دی د هغوئ په روستو والی سره دے احکامو کښ به هیڅ فرق نه پریوځی اګرچه په شرف او فضیلت کښ اول ځل هجرت کوونکی او انصار سابقین د دوئ نه ممتاز دی (اعلی دی). والمراد ان المراد بهم الذین هاجروا بعد الهجرة الاولی (روح ج ۱۰ ص ۳۹)

۷۷ کوم مسلمانان چه په دارالحرب کښ پاتے شول او اول ئے هجرت اونه کړو د هغوئ او د هغوئ د رشته دارو مهاجرینو مینځ کښ د اختلاف دارین په وجے سره د وراثت سلسله قطع شوے وه لیکن چه کله هغوئ هجرت اوکړو د دوئ سره یوځائے شول نو هغوئ به د صلح او جنګ په احکامو کښ د وراثت په احکامو کښ هم د هغوئ سره شریک اوګرځی او د هغوئ او د هغوئ د رشته دارانو مهاجرینو مینځ کښ توارث جاری شی۔

۷۸ بیشکه الله تعالی په هرڅهٔ خبردار دے خپلو بندګانو کښ چه څنګه احکام جاری کول غواړی هغه شان کوی۔ په اخری رکوع کښ د خلقو څلورو قسمونه بیان کړے شوی دی دے قسمونه د مؤمنانو یعنی ① مهاجرین ② انصار ③ کومو مؤمنانو چه مجبوراً هجرت اونه کړے شو او ④ کافران۔ قسم الناس اربعة اقسام قسم امنوا وهاجروا وقسم امنوا ونصروا وقسم امنوا ولم یهاجروا وقسم کفروا ولم یؤمنوا (مدارک ج ۲ ص ۸۷)۔

یا الله تعالی څنګه چه دِ د نیکانو او متقیانو دُعا قبوله کړیده او هغوئ دِ په خپل رحم کښ پټ کړی دی، نو دغسے څمونږ د ګناهګارو خلقو دُعا هم قبوله کړے په مونږ رحم اوکړے او څمونږ په مور او پلار رحم اوکړے او مونږ ته او څمونږ مور پلار ته دغه شان بښنه اوکړے یا الله تعالی تاسو ډیر غفور الرحیم یئ

امین ثم امین

دَ سورة انفال خصوصیات او په یکښې دَ توحید آیتونه

① كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْۢ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ○ (ع ۱) نفی دَ علم غیب دَ نبی علیه السلام نه.

② وَتَوَدُّوْنَ اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ لَكُمْ ــــ نه تر ــــ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ○ نفی دَ علم غیب دَ غیر الله نه.

③ اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ ○ (ع ۱) الله ناصر مددګار او کارساز دے بل هیڅوک نه دے.

④ فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمْ ۪ وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى (ع ۲) دَ ولی کرامت او دَ نبی معجزه په حقیقت کښې دَ الله فعل دے چه دَ ولی یا دَ نبی په لاس ئے ظاهره وی کرامت او معجزه دَ نبی او ولی په اختیار کښې نه وی.

⑤ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَآءً وَّتَصْدِيَةً ۚ (ع ۴) دینه دَ تنګ ټکور (سرود) دَ آلات ممانعت را اوځی.

⑥ وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِى الْمِيْعٰدِ (ع ۵) نفی دَ علم غیب صحابهٔ کرام رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین نه.

⑦ وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا اَنْ يَّخْدَعُوْكَ (ع ۸) نفی دَ علم غیب دَ نبی علیه السلام.

⑧ هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ــــ نه تر ــــ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ○ (ع ۸) متصرف او کارساز او مسبب الاسباب صرف الله دے بل هیڅوک نشته.

⑨ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ○ (ع ۸) هر دَ معامله او هر مهم کښې الله تعالیٰ کفایت کولو والا دے بل څوک نه دے او هم هغه دَ ټولو کارساز دے.

سورۂ توبه [1]

ربط سورۂ انفال کښې مشرکانو سره دَ جهاد کولو حکم اجمالاً ورکړے شو او دَ جهاد دَ قوانین تعلیم ورکړے شو دا شان حکم صادر کړے شو که چرې په جهاد کښې دَ مسلمانانو فتح اوشی نو چه کوم مال غنیمت لاس ته راشی دَ هغې تقسیم دَ الله دَ حکم مطابق اوکړئ او په هغې کښې جهګړه او اختلاف مهٔ کوئ دَ مال غنیمت دَ مصارف تفصیل اوکړے شو په سورۂ توبه کښې دَ اعلان جهاد دوباره ذکر هم اوشو او تفصیل سره اوښودل شو چه دَ کوم خلقو سره جهاد کول دی یعنی کوم خلق چه دَ غیر الله نذرونه ورکوی او دَ غیر الله تحریمات کوی انبیاء علیهم السلام او بزرګان دین متصرف او کارساز ګڼړی او دَ الله تحریمات باقی نه ساتی دَ هغوی سره دَ جهاد اعلان اوکړه سورۂ انفال کښې هم اګرچه دَ قتال حکم بالاجمال موجود دے لیکن هلته مقصود دَ جنګ قوانین دَ غنیمت دَ مصارف بیان دے او په سورۂ توبه کښې مقصود دَ اعلانِ جنګ حکم دے دَ دے وجه نه دا مضمون یعنی قتال فی سبیل الله دیکښې تفصیل سره ذکر کړے شو. دا خو دَ سورۂ توبه ما قبل سره معنوی ربط دے. اسمی ربط دا دے چه دَ مشرکانو سره دَ جنګ اعلان اوکړه او فتح نه روستو حاصلیدونکی غنیمتونه دَ الله دَ حکم مطابق تقسیم کړه لیکن فَاِنۡ تَابُوۡا وَاَقَامُوا الصَّلٰوۃَ (ع ۲) که چرے هغوئ دَ شرک نه توبه اوباسی اسلام راوړی او دَ اسلام په احکامو عمل کول شروع کړے نو بیا هغوئ ستا سو رونړه دی بیا دَ هغوئ سره جهاد مهٔ کوئ.

خلاصه دَ سورۂ توبه دوه حصے دی اوله حصّه دَ شروع نه واخله دَ رکوع ۵ آخر پورے لَا یَهۡدِی الۡقَوۡمَ الۡکٰفِرِیۡنَ پورے ده او دویمه دَ رکوع ۸ شروع دَ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مَا لَکُمۡ اِذَا قِیۡلَ لَکُمُ انۡفِرُوۡا الخ نه واخله دَ لَعَلَّهُمۡ یَحۡذَرُوۡنَ (ع ۱۵) پورے دے او یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا قَاتِلُوا الَّذِیۡنَ یَلُوۡنَکُمۡ نه دَ سورت آخر پورے دَ سورت دَ مضا مینو اعاده ده په اوله حصّه کښې دَ وعده خلافی کونکو مشرکانو نه دَ براءت اعلان دے دَ مشرکانو سره دَ جنګ اعلان مشرکانو سره دَ جنګ کولو په باره کښې دَ شبهات جواب چه دَ هغوی سره دَ قتال کولو نه مانع وو، او مشرکانو سره دَ جنګ کولو اسباب او وجوه ذکر شوی دی. او دویمه حصّه کښې په منافقانو باندے زجرونه او دَ مؤمنانو دَپاره ترغیب الی الجهاد دے دَ دویمے حصے په آخر کښې مَا کَانَ لِلنَّبِیِّ وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا الخ سره او فرمائیل مشرکانو سره جهاد جاری اوساتئ. او ستاسو چه کوم متعلقین دَ کفر په حالت کښې مړه شوی دی یا چه دَ کوم په زړونو مهر دَ جبارت لګیدلے دے دوئ دَپاره دَ مغفرت دعا هم مهٔ غواړه اګرچه هغه ډیر نزدے رشته دار وی.

اوّله حصّه دَاوله حِصّے په شروع کښ بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ الخ کښ دَ وعده خلافی کوونکو مشرکانو سره دَ براءت اعلان دے یعنی دَ مشرکانو سره ستا معاهده وه لیکن هغوی معاهده ماته کړه نو تا سو هم دَ معاهدے نه دَ براءت اعلان اوکړئ او ټول ملک دَ دے اعلان څلور میاشتو پورے پښه اشاعت اوکړئ او بیا دَ حج په موقع باندے هم دا اعلان دوباره اوکړئ اِلَّا الَّذِيْنَ عَاهَدْتُّمْ الخ سره ئے هغه مشرکان مستثنیٰ کړل چا چه خپله وعده ماته نکړه او ستا سو خلاف ئے دَ دشمن امداد اونکړو هغوئ سره خپله وعده سرته اورسوئ اودَ وعدے او میعاد دَ ختمیدلو پورے هغوئ ته تعرض مهٔ کوئ کله چه اشهر حرم تیرے شی نو دَ وعدے ماتونکی مشرکان چه چرته بیا مومئ هغوی قتل کړئ وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ سره دَ پناه غوښتو مشرکانو حکم بیان شوید ے . كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ الخ (ع ۲) دا دَ اول مانع جواب دے مانع دا وو چه دَ دے مشرکانو سره خو معاهده کړے شویده دوئ سره جهاد څنګه جائز دے جواب ورکړے شو چه کله هغوئ وعده ماته کړه نو اوس مانع باقی پاتے نهٔ شو اوس دَ هغوئ سره جهاد کوئ . مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا الخ (ع ۳) دا دویم مانع جواب دے دویم مانع دا وو چه مشرکان خو ډیر لوے نیک کارونه کوی دَ بیت الله په تعمیر کښ حصه اخلی . او دَ حاجیانو خدمت کوی . وے فرمائیل دَ کفر او شرک په حالت کښ دَ نیک اعمالو هیڅ اعتبار نشته دا اعمال ضائع دی دَ اعمال دَ قبولیت مدار په ایمان دے او هغوی دَ ایمان نه خالی دی دینه روستو اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا الخ کښ مهاجرین او مجاهدینو دَ پارهٔ بشارت اخروی دے . يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا الخ (ع ۳) دا دَ دریم مانع جواب دے یعنی دَ مشرکانو سره خو نزدے رشتے دی دَ دوئ سره جنګ کولو کښ خو په قطع رحمی وی . وے فرمائیل که چرے دَ الله او دَ هغهٔ دَ رسول او جهاد فی سبیل الله مقابله کښ تاسو ته رشتے او مالی فائدے زیات محبوب وی نو بیا تاسو هم دَ الله دَ عذاب انتظار کوئ دینه روستو لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ الخ (ع ۴) بشارت دنیوی دے . وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً الخ دا دَ څلورم مانع جواب دے یعنی که چرے دَ مشرکانو سره دَ جهاد په صورت کښ دَ کاروبار تباه کیدلو او دَ مالی پریشانو ویره وی دَ هغے پرواه مهٔ کوی الله تعالیٰ به تاسو ته فراخی سره دولت درکړی . قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ الخ دلته دَ سورة انفال دعوٰی تفصیل سره ذکر کړے شویده او ښودلے شویده چه دَ کوم خلقو سره جنګ کول دی او دَ دغه خلقو سره دَ جنګ اسباب او وجوه څهٔ دی یعنی کوم خلق چه دَ الله په توحید او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت باندے ایمان نهٔ راوړی او غیر الله متصرف او کارساز ګڼړی هغوی دَ پارهٔ تحریمات کوی او منختے ورکوی او دَ الله تحریمات باقی نهٔ ساتی هغوئ سره جهاد اوکړئ خواه هغه دَ عربو مشرکین وی یا یهود او نصارٰی .

وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ دا د قتال اوله وجه ده یعنی الله باندے او د الله په رسول باندے او په قیامت باندے د هغوئ ایمان نشته.

دویمه وجه وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ هغوئ محرمات الٰهی مثلاً د غیر الله نذرونه حرام نه گڼړی. دریمه وجه وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ (ع ۵) یهودیانو حضرت عزیر او عیسایانو حضرت مسیح علیه السلام د خدائ حوئے او نائب متصرف گڼړلو. څلورمه وجه اِتَّخَذُوْا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا الخ هغوئ خپل مُلایان او پیران او گدۍ نشین او حضرت مسیح ابن مریم الله نه سوا کارساز گرځولے دی. پنځمه وجه د قتال. يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ الخ د یهود او نصاری ډیرو عالمانو او پیرانو فقیرانو خلق د الله د لارے (د توحید لارے) نه منع کول او ناجائز طریقو سره به ئے د خلقو نه مالونه جمع کول. شپږمه وجه د جنگ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا الخ الله تعالیٰ د اول ورځے نه د میاشتو شمار دولس مقرر کړو او دیکښ ئے څلور میاشتے د احترام قابل او گرځولے لیکن مشرکانو په هغے کښ د خپل ځان نه بدلون راوستلو هغوی عزت مندو میاشتو کښ جنگ او قتال اوکړو او د هغے په ځائے باندے ئے نورے میاشتے د عزت والا اوگرځولے په هغے کښ به ئے جنگ نه کولو کوم مشرکانو چه د عزتمندو میاشتو احترام باقی او نه ساتلو هغوئ سره هم قتال اوکړئ.

دویمه حصه

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ الخ (ع ۶) د دعوی بیانولو نه روستو مؤمنانو د پاره ترغیب الی القتال، منافقانو او هغه مؤمنانو د پاره څوک چه په جهاد کښ نه وو شریک شوی د زجر او توبیخ ذکر کړے شویدے. دے ځائے نه ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ پورے ترغیب الی القتال دے دویمه حصه کښ د صحابه کرامو د درے جماعتونو او د منافقانو څلور ډلے ذکر شویدی د صحابه کرامو درے ډلے.

① هغه مهاجرین او انصار څوک چه ځان او مال سره په جنگ تبوک کښ شریک شوے وو او جهاد ئے اوکړو په لاندے ذکر شوو آیتونو کښ د هغوی فضائل او د هغوی د پاره خوشخبریانے ذکر شویدی. وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ـــ نه تر ـــ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ (ع ۹). لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ـــ نه تر ـــ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ (ع ۱۱) وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ (ع ۱۲) ـــ نه تر ـــ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ (ع ۱۳) اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ ـــ نه تر ـــ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ (ع ۱۴) لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ ـــ نه تر ـــ اِنَّهٗ بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ.

② هغه پنځه صحابه کرام کوم چه مخلص مؤمنان وو لیکن په جهاد کښ شریک نه شول

هغوئ خپل ځانونه ستنو پورې اوتړل او ډیر په زارئ عاجزئ سره ئې توبه او ویستله الله د هغوئ توبه قبوله کړه. وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ ــــ نه تر ــــ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ (ع ۱۳) کښ د دوی ذکر دے.

(۲) هغه درې صحابه څوک چه قدیم الایمان او ډیر مخلص وو او د سستیا په وجه سره جهاد کښ شریک نهٔ شول او د حضور علیه السلام واپسئ بانده ئې هیڅ عذر پیش نکړو بلکه د خپل قصور بیان ئې صفا صفا اوکړو هغوئ ته ئې د تادیب په طور پنځوس ورځې روستو والے اوکړو او د هغې نه روستو ئې د هغوی توبه قبوله کړه د هغوئ ذکر د دوو آیتونو کښ دے وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ اِمَّا یُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا یَتُوْبُ عَلَیْهِمْ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ حَکِیْمٌ (ع ۱۳) او وَعَلَی الثَّلٰثَةِ الَّذِیْنَ خُلِّفُوْا ــــ نه تر ــــ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ (ع ۱۴)

د منافقانو دا لاندې څلور ډلې ذکر شوې دی (۱) هغه منافقان څوک چه په جهاد کښ شریک نهٔ شول او د نبی علیه السلام واپسئ سره ئې د دروغو بهانې جوړول شروع کړې دے لاندې ذکر شوو مقامات کښ د هغوئ حالات او قباحتونه ذکر شوې دی. لَوْ کَانَ عَرَضًا قَرِیْبًا (ع ۶) نه تر ــــ اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ (ع ۸) فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ع ۱۱) نه تر فَهُمْ لَا یَفْقَهُوْنَ (ع ۱۱) وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ (ع ۱۲) ــــ نه تر ــــ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ حَکِیْمٌ (ع ۱۲) (۲) هغه منافقان څوک چه په جهاد کښ شریک نهٔ شول او د اسلام او مسلمانانو خلاف سازشونو کولو د پاره ئې "مسجد ضرار" جوړ کړو د هغوئ ذکر وَالَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا (ع ۱۳) نه تر وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ حَکِیْمٌ (ع ۱۳) کښ دے. (۳) هغه منافقان چه د نفاق په وجه په جهاد کښ شریک شول لیکن په لاره کښ ئې د مسلمانانو په خلاف غلطے پروپیګنډې کولے د هغوئ ذکر وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَیَقُوْلُنَّ ــــ نه تر ــــ کَانُوْا مُجْرِمِیْنَ (ع ۸) کښ دے. (۴) هغه منافقان چا چه د نبی علیه السلام غزوه تبوک نه واپسئ سره د هغوئ د هلاکولو منصوبه جوړه کړه الله تعالیٰ د وحی په ذریعه هغوئ ته د دوئ د پلیت سازشونو اطلاع ورکړه د دے ذکر یَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوْا ــــ نه تر ــــ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا نَصِیْرٍ (ع ۱۰) کښ شوے دے. د دے حصه کښ د ثعلبه منافق واقعه هم ذکر شوې ده چا چه د حضور علیه السلام په لاره کښ د خرج کولو وعده کړې وه لیکن په وعده قائم پاتې نهٔ شو د هغهٔ واقعه وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ (ع ۱۰) کښ ذکر شوې ده.

د سورت په آخری رکوع کښ د سورت ټول مضامین اجمالاً دوباره ذکر شوې دی. یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِیْنَ یَلُوْنَکُمْ الخ کښ د جنګ حکم دوباره ذکر شوې دے. لَقَدْ جَآءَکُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِکُمْ الخ کښ د ترغیب اتباع رسول ذکر دوباره شوې دے. او لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ کښ د توحید مسئله بیان شوې ده ځکه په خاطر چه د جهاد حکم ورکړے شوې دے.

اوله حصه د سورهٔ براءت اوله حصه چه د شروع نه واخله رکوع ۵ آخر یعنی وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الْکٰفِرِیْنَ پورې ده دے کښ درې امور ذکر شوې دی.

(۱) مشرکانو ته د براءت اعلان (۲) د جهاد د څلورو موانعو جواب (۳) مشرکانو سره د جهاد کولو وجوه.

سُوْرَةُ التَّوْبَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّتِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّسِتَّةَ عَشَرَ رُكُوْعًا

ك سورۀ توبه مدینه کښ نازل شوه او د دې ایتونه یو سل او یو کم دیرش او شپاړس رکوع گانې دی ف

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖۤ اِلَى الَّذِيْنَ

صفا جواب دے شه د طرفه د الله تعالی او د هغهٔ د رسول هغه چا ته چا سره چه

عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝١ فَسِيْحُوْا فِى

وعدې کړے شوے وه ستا سو د مشرکانو نه نو گرځئ په دے

الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْۤا اَنَّكُمْ

ملک کښ څلور میاشتے او پوهه شئ چه تاسو به

غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِى

نهٔ کړئ عاجز. الله تعالی او بیشکه الله تعالی رسوا کونکے دے

الْكٰفِرِيْنَ ۝٢ وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖۤ

کافرانو لره. او اوروَل دی شه د طرف د الله نه او د رسول

اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ

د هغهٔ نه خلقو ته په ورځ د حج لوئے چه بیشکه الله تعالی

بَرِىْۤءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ وَرَسُوْلُهٗ ؕ فَاِنْ

جدا دے د مشرکانو نه او د هغهٔ رسول نو که چرے

تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْۤا

تاسو توبه اُو ویستله نو بهتر ده ستاسو د پاره او که چرے نهٔ منئ نو پوهه شئ

اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه تاسو به هرگز نکړئ عاجز الله تعالی او خوشخبری واوروه کافرانو ته

بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٣ اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ

د عذاب دردناک ف۲. لیکن د کومو خلقو سره چه وعدې کړے وه تاسو

مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ شَيْئًا وَّلَمْ

دَ مشرکانو نه بیائے نقصان نهٔ دے کړے ستاسو نه څهٔ او نه ئے

يُظَاهِرُوْا عَلَيْكُمْ اَحَدًا فَاَتِمُّوْٓا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ

امداد کړیدے ستاسو مقابله کښ دَ چا تو پوره کړئ دَ هغوئ سره وعدهٔ دَ هغوئ

اِلٰى مُدَّتِهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۴﴾

تر وعدے پورے بیشکه الله تعالیٰ ته خوښ دی دَ احتیاط والا.

نکات: ۱ یعنی انفال کښ جھگړه مهٔ کوئ او جنګ دَ پاره تیار شئ کومو مشرکانو چه وعده ماته کړیده هغوئ سره تاسو هم وعده ماته کړئ یعنی بنی بکر وغیره او دا براءت نامه علاقوته اُولیږئ او دَ حج په موسم کښ هم اعلان اُوکړئ دِ دے دَ پاره چه خلقوته دَ دے براءت علم اوشی. لیکن دَ حج په موقع باندے دَ څلورو میاشتو نوم مهٔ اخلئ ځکه چه څلور و میاشتو نه به دَ حج په موسم پورے څهٔ میاشتے تیرے شوی وی دا حکم شوال ۹ھ کښ نازل شو ۱۲. ۲ مراد دَ مکے دَ اطرافو مشرکان دی ځکه چه مکه ۸ھ فتح شوے وه ۱۲. ۳ ای اُکتبوا او قولوا ځکه چه اطلاع کله خط کتابت سره او کله قول سره ورکولے شی ۱۲. ۴ دا په اِنَّكُمْ باندے عطف دے یعنی دَ حج اکبر په ورځ دَ براءت اعلان کوئ دَ څلورو میاشتو ذکر مهٔ کوئ ۱۲. ۵ یعنی بنی ضمره او بنی کنانه څوک چه په خپله وعدهٔ باندے ثابت قدم پاتے شول هغوئ ته تر وعدے تیریدلو پورے هیڅ مهٔ وایه.

موضح قرآن ف۱ دا سورت براءت دے نبی علیه السلام بیان اُونهٔ کړو چه دا جدا سورت دے او دَ سورت نشان په بسم الله نازلیدل وو دَ دے وجے نه دَ دهٔ شروع کښ بِسْمِ اللّٰهِ نشته او په بل کوم سورت کښ داخل هم نهٔ دے. ف۲ شپږم دَ هجرت باندے دَ مکے دَ خلقو سره دَ نبی علیه السلام صلح اُوشوه او دَ نورو ډیرو قبیلو سره دَ کومو بیان چه په اِنَّا فَتَحْنَا کښ شویدے او دَ عربو ډیرو قومونو سره ئے صلح وه کله چه مکه فتح شوه هغے نه یو کال روستو حکم نازل شو چه دَ هیڅ یو مشرک سره صلح مهٔ ساته او دَ حج ورځ یعنی دَ لوئے اختر په ورځ هغه ټولو ته دَ حج قافلو کښ اعلان اوکړه چه ټولو ته خبر اُورسیږی او دَ صلح جواب ورکړه څلور میاشتے مهلت ورکړه چه دیکښ دَ جنګ دَ پاره تیار شی یا وطن پریګدئ یا مسلمانان شئ ۱۲.

فتح الرحمٰن

ف۱ په نهم کال د هجرت نبي علیه السلام حضرت علي مرتضیٰ د حج په موسم کښې حج ته اولیږلو دے د پاره چه د مشرکانو وعدے هغوئ ته ور اوغوړځوی مګر څلور میاشتې فرصت ئې ورکړو دے د پاره چه په خپل کار کښې سوچ او فکر اوکړي لیکن دوه ډلې بنو ضمره او بنو کنانه چه په معاهده کښې خیانت ئې نه وو کړے نو الله تعالیٰ د هغوئ هغه وعده تر خپل مقرر وخت پورے برقرار اوساتله او دے د پاره چه اعلان اوکړي چه د دینه روستو به هیڅ یو مشرک حج ته نه راځي او هیڅوک به په بربنډه د کعبې طواف نه کوي او د سورة براءت اول ایتونه ئې هغوئ ته واورول ۱۲۔

تفسیر: ف۲ سورة براءت ته مخکښې بِسْمِ اللهِ نۀ ده لیکلے شوے د دے مختلف وجې بیان شوي دي اقرب الی الصواب دا ده چه د دے سورت نه مخکښې بِسْمِ اللهِ نۀ وه نازل شوے ځکه چه بِسْمِ اللهِ امان دے او سورة توبه د قتال حکم سره نازل شوه لکه چه د حضرت عليؓ محمد بن حنفیه او سفیان بن عیینه نه نقل شوے دے. عن علي کرم الله وجهه من ان البسملة امان وبراءة نزلت بالسیف ومثله عن محمد بن الحنفیة وسفیان بن عیینة ومرجع ذلك الی انها لم تنزل في هذه السورة کاخواتها لما ذکر (روح ج ۱۰ ص۴۱) د مسلمانانو مشرکانو سره معاهده وه لیکن مشرکان په خپله وعده باندے قائم پاتے نۀ شول او هغوئ وعده ماته کړه لیکن بني ضمره او بني کنانه په خپله وعده باندے قائم پاتے شول. قریشو او د هغوئ حلیف قبیله بني بکر د مسلمانانو په حلیف بني خزاعه باندے ظالمانه حمله اوکړه هغوئ ته ئې نقصان اورسولو نو الله تعالیٰ مسلمانانو ته حکم ورکړو چه هغوئ د وعدے ماتونکو مشرکانو سره معاهده ختم کړي او هغوئ ته د څلورو میاشتو مهلت ورکړي د پاره چه دے دوران کښې هغوئ یا خو وطن پریګدي و وځي یا اسلام قبول کړي یا بیا جنګ د پاره تیار شي دا حکم شوال ۹ھ کښې نازل شوے وو او د څلورو میاشتو نه شوال، ذوالقعده، ذوالحجة او محرم مراد دي۔ د براءت اعلان باره کښې ئې اوفرمائیل چه په ټول ملک کښې د براءت اعلان اوکړه او براءت نامے اولیکئ ټول ملک کښې ئې خورے کړئ دے د پاره چه ټولو ته د براءت علم حاصل شي وَاَنَّ اللهَ مُخْزِي الْكٰفِرِيْنَ د اَنَّكُمْ ضمیر منصوب باندے معطوف دے

ف۳ یعني د حج په ورځ هم د براءت اعلان اوکړه ځکه چه د حج په موقع باندے د لرے لرے نه خلق راځي دے د پاره چه ټولو ته د مخکښې نه علم نشته هغوئ ته به هم معلومه شي لیکن د حج په موسم کښې ئې

د براءت د اعلان سره د څلورو میاشتو ذکر او ته ګروځکه چه د څلورو میاشتو شروع په د آیت نازلیدلو ته وی او د حج موسم پورے به دوه میاشتے تیرے شوے وی ۳ دیته هغه مشرکین مراد دی څوک چه په خپله وعده باندے قائم پاتے شوی وو او د مسلمانانو خلاف ئے د دشمن امداد نه وو کړے یعنی بنی ضمره او بنو کنانه (روح) وے فرمائیل هغوئی ته د وعدے مودے پورے هیڅ مه وایئ۔

فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا

بیا چه کله تیرے شی ۵ میاشتے د پناه ۵ نو وژنئ

الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَخُذُوْهُمْ

مشرکان چرته چه ئے بیا مومئ هغوئی او اونیسئ هغوئی

وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ

او محاصره کوئ هغوئی او کینئ هغوئی ته هر ځائے د څارلو کښ

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ

بیا که هغوئی توبه کړی او قائم کړی مونځ او ورکړی زکوٰة

فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۵

نو پریګدئ لاره د هغوئی بیشکه الله تعالیٰ بښونکے مهربان دے ف

وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ

او که چرے یو کس ۵ د مشرکانو ته پناه اوغواړی ستا نه نو پناه ورکړه هغه ته

حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ ۭ

ترڅو چه هغه واوری کلام د الله تعالیٰ بیا اورسوه هغه ځائے ته د امن د هغه

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُوْنَ ۝۶ كَيْفَ

دا ځکه چه بیشکه هغه قوم نه ئے لری علم ۵ ف څنګه

يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ رَسُولِهِ

به وی مشرکانو د پاره څه وعده په نزد د الله او په نزد د رسول د هغهٔ

إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ج

لیکن کو مو خلقو سره چه وعدهٔ کړے وه تاسو په خوا د مسجد حرام کښ ف۲

فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ ط

نو ترڅو چه برابر اُوسیږی هغوئ تاسو سره نو برابر اُوسیږئ تاسو هم هغوئ سره

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ۝

بیشکه الله ته خوښ دی احتیاط کونکی ف۳

نکات: ۱۔ ۱ مراد ذی قعده، ذی الحجه او محرم دے رجب نهٔ دے

۲۔ د خلورو میاشتو موانعو نه د اول مانع جواب ۱۲۔

۳۔ مراد بنی ضمره او بنی کنانه دی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ چا سره چه وعدهٔ شوے وه او هغوئ نهٔ دهوکه اُونهٔ لیدلے شوه د هغوئ صلح قائم پاتے شوه او چا سره چه وعده نهٔ وه هغوئ ته فرصت ملاؤ شو څلور میاشتے او حضرت اُوفرمائیل د زړهٔ خبر الله ته دے په ظاهره چه کوم مسلمانان دی هغه ټول په امان کښ برابر دی او د ظاهری مسلمانئ حدّ دے ایمان اُوکړځولو او د کفر نه توبه کول او مونځ قائمول او زکوٰة ورکول۔ د دے وجے نه چه کوم سړے مونځ پریګدی یا زکوٰة نهٔ ورکوی نو د هغهٔ نه امان پوره ته شو۔ حضرت صدیق رضی الله عنه د زکوٰة منکرین د کافرانو سره په قتل کښ برابر اُوګرځول۔ ف۲ یعنی د دومره امان ورکولو کښ څهٔ تنګی نشته چه که چرے څهٔ ټپوس یا اوریدل غواړی نو هغه دِ واؤرِی بیا هم چه چرته هغوئ بے ویرے وی هلته ئے اُورسوه دینه روستو هغوئ د ټولو کافرانو سره برابر دی۔ ف۳ صلح والائے دلته قسمه بیان کړل یو هغه چا سره چه د صلح میعاد نهٔ وو هغوئ ته ئے جواب ورکړو لیکن چه کوم قبائیل د مکے په صلح کښ شامل وو ترڅو چه هغوئ وعده ماته نهٔ کړی۔ دا ادب دے د مکے۔ او دریم د کوم سړه چه میعاد مقرر شوے وو او په صلح قائم پاتے وو لیکن په اخر کښ ټولو د عربو مشرکانو ایمان راوړو ۱۲

فتح الرحمن ف۱ یعنی هغه څلور میاشتے چه هغوئ ته ئے مهلت ورکړے وو ۱۲۔ ف۲ نبی علیه السلام د قریشو

کافرانو سره صلح کړے وه او هغوئ دهوکه اُوکړه وعده ئے ماته کړی د نبي علیه السلام د حلفاء په قتل کښ په امداد کولو سره او هم دا صورت د فتح مکه سبب شو الله تعالیٰ د سورۂ فتح ایتونه د غزوه د تبلیغ د پاره نازل کړل.

وسله یعنی قریش چه په حدیبیه کښ هغوئ سره صلح شوے وه ۱۲.

تفسیر ۵ه یعنی ذی قعده، ذی الحجه او محرم تیر شی نو مشرکین چه چرته هم ملاؤ شی هغه وژنئ یا هغوئ اُونیسئ او محصور ئے کړئ او د هغوئ د نیولو د پاره هره مناسب مورچه کښ پټ کینئ فَاِنْ تَابُوْا الخ مشرکانو که چرے د نیولو یا محصور کولو نه روستو د کفر او شرک نه توبه اُوباسی او ایمان راوړی او د اسلام د احکامو په ځائے راوړلو وعده اُوکړی نو هغه پریږدئ. اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ کوم سړے چه د کفر او شرک نه توبه کړی او په رښتیا زړۂ اسلام قبول کړی الله تعالیٰ په هغه باندے د رحمت دروازے پرانزی او د هغۂ ګناه به معاف کړی یعنی لمن تاب ورجع من الشرك الی الایمان ومن المعصیة الی الطاعة (خازن ج ۳ ص۵) یغفر لهم ما قد سلف ویثیبهم بایمانهم وطاعتهم (روح ج ۱۰ ص ۵۲)

سله د اشهر حرم یا د عهد تیریدلو نه روستو که چرے مشرک ستا نه امن طلب کړی او ستا په کتاب کښ د اُوسیدلو خواهش ظاهر کړی هغۂ ته امان ورکړه او خپل ځان سره ئے اُوسوه دے د پاره چه هغۂ ته بغیر د واسطے نه ستا سو ژبے نه د الله تعالیٰ د کلام د اوریدلو موقع ملاؤ شی او ستا سو په دعوت پوهه شی دینه روستو هغه د هغۂ کور یا دا سے ځائے ته اُورسوه چرته چه هغۂ ته هیڅ قسم ویره اُو خطره نۂ وی.

که دے ځائے نه د قتال د موانع د جوابونو سلسله شروع کیږی یعنی د دے تخلو وشبهاتو ازاله شویده چه د مشرکانو سره د جهاد کولو په لاره کښ مانع کرځیدل دا د اول مانع جواب دے. مانع دا وُو چه د مشرکانو سره خو مسلمانانو وعده کړے ده بیا هغوئ سره قتال څنګه جائز کیدے شی نو وے فرمائیل چه کومو مشرکانو خپله وعده ماته کړه او د مسلمانانو خلاف د دشمن امداد اُوکړو د الله تعالیٰ او د هغۂ د رسول په نزد د هغوئ وعده څنګه باقی پاتے کیدے شی د هغوئ د وعدے ماتولو د وجے نه معاهده ختمه شوه د دے وجے نه د وعدے د ماتولو اعلان اُوکړئ او څلور میاشتے مهلت ورکړئ هغوئ سره په بهادرئ جنګ اُوکړئ. اِلَّا الَّذِیْنَ عٰهَدْتُّمْ لیکن هغه مشرکان څوک چه په خپله وعده قائم پاتے دی تر څو چه هغوئ په خپله وعده قائم وی هغوئ سره خپله وعده سرته اُورسوئ او هغوئ سره هیڅ قسم کار مۂ لرئ دینه مراد بنی کنانه او بنی ضمره دی.

كَيْفَ وَإِنْ يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا
څنګه به صلح پاتې شي او که هغوئ غلبه بیا مومي په تاسو نو نه کوي لحاظ د رشتې
فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ يُرْضُونَكُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ
ستاسو او نه د وعدې راضي کوي تاسو د خپلو خلو په خبرو
وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ (۸)
او نه ئې مني زړونه د هغوئ او اکثر دوئ کښې وعده خلاف دي
اشْتَرَوْا بِآيَاتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا
خرڅ کړي دوئ ئې حکم د الله تعالی په قيمت لږ باندې وړا
فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِهِ ۚ إِنَّهُمْ سَاءَ مَا
بيائې منع کړل د لارې د الله تعالی نه بيشکه بد کار دې هغه
كَانُوا يَعْمَلُونَ (۹) لَا يَرْقُبُونَ فِي
کوم (عمل) چه هغوئ ئې کوي نه کوي لحاظ ئې په حق کښې
مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ
د يو مسلمان د رشته دارۍ او نه د وعدې او دغه کسان هم دوئ دي
الْمُعْتَدُونَ (۱۰) فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ
زياتي کونکي . نو که چرې توبه کړي او قائم کړي مونځ
وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ ۗ
او ورکوي زکوٰة نو ورونړه ستاسو دي په حکم د شريعت کښې
وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (۱۰) وَإِنْ
او صفا صفا بيانوو مونږ حکمونه هغه خلقو ته چه پوهه لري او که چرې
نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ
مات کړي هغوئ قسمونه خپل روستو له د وعدې کولو نه

وَطَعَنُوا فِي دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ

او عیب اولګوی په دین ستا سو کښ نو جنګ اوکړئ سردارانو د کفر سره

إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ ﴿١٢﴾

بیشکه ته دی هیڅ قسمونه د دوئ دے د پاره د چه هغوئ منع شی ولا.

نکات: سلے که چرے د دینه مراد بنی ضمره وغیره وی نو ان شرطیه به په خپله معنیٰ باندے وی او که چرے مراد بنی بکر وغیره وی چا چه وعده ماته کړے وه نو ان به په معنیٰ د اذا سره وی روستنی ایت اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ الخ نه دویمه معنیٰ معلومیږی ۱۲۔ سلے مراد هغه پیشوایان مشرکین دی چا چه د نبی علیه السلام په ویستلو کښ د اهل مکه امداد کړے وو دینه د مدینے یهودیان مراد کول صحیح نه دی ۱۲۔

موضح قرآن ف یعنی دا خبره چه کومه ئے اوفرمائیله چه وروتره دی په حکم شرعی کښ دینه دا معلومه کړئ چه کوم سړے د قرائن نه معلوم چه ظاهری مسلمان دے او د زړه نه یقین نه لری هغه په ظاهری حکم کښ مسلمان شمار کړئ لیکن دوستی او اعتماد ورباندے مه کوئ ۱۲۔ ف۲ که چرے ثابته شوه چه یو کافر عیب لګوی څوک په دین کښ نو هغه ذمی پاتے نه شو ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د نفس د خواهشا تو تابع شول او ایمان ئے پریښودو ۱۲

تفسیر: ۸ کَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ د پاره علت دے دلته ئے د مشرکانو باطنی خیانت او د نیت فساد ظاهر کړو چه هغوئ په ځنګه وعده باندے پوره والے اوکړی که چرے هغوئ ته په تاسو باندے غلبه حاصل شی نو نه خو هغوئ ستا د رشته دارئ خیال ساتی او نه د خپلے وعدے او ژبے د هغوئ د چاپلوسئ خبرو باندے اعتماد مه کوئ د هغوئ باطن پلیت او ګنده دے.

۹ ثَمَنًا قَلِيْلًا نه شهوات او نفسانی خواهشات مراد دی او اشتراء د استبدال (بدلولو) نه کنایه ده یعنی هغوئ د الله تعالیٰ د ایتونو بدلولو په ځائے د خواهشا تو نفسانیو او شهوات حیوانیو تابع شوی دی یعنی انهم اعتاضوا عن اتباع ایات الله بما التهوا به من الامور الدنیا الخسیسه (ابن کثیر ج ۲ صفحه ۳۳۹) وهوا هواء هم و شهواتهم التی اتبعوها (روح ج ۱۰ ص ۵۵)

سلے د خواهشاتو او شهواتو په اتباع کښ داسے ړانده دی چه د یو مؤمن

سره دَ تعلق او رشته دارۍ او وعدے لحاظ نهٔ کوی. فَاِنۡ تَابُوۡا الخ لیکن کهٔ چرے هغوئ صِدق دل سره اسلام قبول کړی او دَ اسلام دَ احکامو پابند شي نو بیا هغوئ ستاسو ورونړه دی او دَ هغوئ حقونه ستاسو برابر دی هغوئ سره هیڅ قسم کاړ مهٔ لرئ.

سلله دَ نَكَثُوۡا دَ ضمیر نه کهٔ چرے بنو کنانه او بنو ضمره مراد وی چه په وعده باندے قائم پاتے شوی وو نو دَ اِنۡ معنٰی به خپله موضوع له وی او کهٔ چرے دَ دینه وعده ماتونکی مشرکان مراد وی نو اِنۡ به په معنٰی دَ اِذَا وی ځکه چه دِے صورت کښ وعده ماتول مشکوک نهٔ وه بلکه یقینًا واقع شوے وه. اَلَا تُقَاتِلُوۡنَ قَوۡمًا نَّكَثُوۡا الخ دَ دویمے توجیه تائید کوی.
اَئِمَّةَ الۡكُفۡرِ نه دلته مراد دَ کافرانو سرداران او پیشوایان دَ شرک مراد دی کوم چه دَ مکے په اطرافو کښ اوسیدل او هغوئ دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ویستلو کښ دَ مکے دَ مشرکانو سره امداد کړے وو یعنی دَ مکے دَ فتح نه مخکښ دَ دینه دَ مدینے یهودیان مراد کول صحیح نهٔ دی. لَاۤ اَيۡمَانَ لَهُمۡ ای لا عهد لهم یعنی دَ دوئ دَ عهد معاهدے هیڅ اعتبار نشته دَ دوئ نه دَ وعدے پورهٔ کولو امید بے فائدے دے.

اَلَا تُقَاتِلُوۡنَ قَوۡمًا نَّكَثُوۡۤا اَيۡمَانَهُمۡ
ایا نهٔ جنګیږئ تاسو ‌ د داسے خلقو سره چه مات ئے کړل قسمونه خپل

وَهَمُّوۡا بِاِخۡرَاجِ الرَّسُوۡلِ وَهُمۡ بَدَءُوۡكُمۡ
او په شوق کښ وو چه اوباسی رسول او هغوئ شروع کړیده تاسو سره

اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ اَتَخۡشَوۡنَهُمۡ ۚ فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنۡ
اول ځل ایا ویریږئ دَ دوئ نه نو الله تعالٰی نه زیاته بکارده چه

تَخۡشَوۡهُ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۳﴾ قَاتِلُوۡهُمۡ
ویره اوکړئ کهٔ چرے تاسو ایمان لرئ جنګ کوئ دَ دوئ سره ‌

يُعَذِّبۡهُمُ اللّٰهُ بِاَيۡدِيۡكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ
چه عذاب ورکړی دوئ ته الله په لاسونو ستاسو سره او رسوا کړی دوئ

وَيَنۡصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٍ

او غالب کړی تاسو لره دوئ باندے او یخ کړی زړونه د قوم

مُّؤۡمِنِينَ ۝ وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوبِهِمۡ

مسلمانانو او وباسی خفګان د زړونو د دوئ

وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ

او توبه نصیب کړی الله تعالیٰ چاته چه اوغواړی او الله تعالیٰ خبردار دے

حَكِيمٌ ۝ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ وَلَمَّا

حکمت والا دے. آیا دا ګمان کوئ تاسو ‌ف‌ چه پرېښودے به شئ حال دا چه نه دے

يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَلَمۡ

معلوم کړی الله تعالیٰ هغه خلق چا چه جهاد کړیدے ستاسو نه او نه دے

يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا

نیولے (هغوئ) سیوا د الله تعالیٰ نه او نه د رسول د هغه نه او نه

ع ۸ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ۝

د مسلمانانو نه څوک رازدار دوست او الله خبردے په هغے عمل چه کوم تاسو کوئ

نکات: ف زجر ۱۲۔

فتح الرحمٰن | ف یعنی د جهاد تکلیف به ورته نه وی رسیدلے ۱۲۔

تفسیر: ۱۲ دا ترغیب الی الجهاد دے او استفهام انکاری دے. او ورسره د درېو وجوهاتو ذکر اوشو کوم چه د دوئ سره د قتال سبب ګرځی. اول نَكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ چه هغوئ وعده ماته کړے ده. دوئیم هَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ هغوئ مکے نه د نبی علیه السلام د ویستلو کوشش اوکړو. دریم وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍ هغوئ ستاسو سره د جنګ ابتداء اوکړه. لهٰذا د دوئ سره ضرور جنګ اوکړئ آیا ستاسو سره دا ویره ده چه د جنګ په صورت کښې تاسو ته د مشرکانو د لاسه نقصان اورسیږی؟ د دے پرواه مه کوئ بلکه د الله تعالیٰ نه اوویرېږئ او د هغهٔ د حکم نه خلاف مه کوئ. د خالص

او یوځ ایمان هم دا تقاضا ده چه د الله نه سیوا څوك نفع رسونکے او نقصان رسونکے مه ګنړئ. فان مقتضی ایمان المؤمن الذی یتحقق انه لاضار و لا نافع الا الله تعالی ولا یقدر احد علی مضرة ولا نفع الا بمشیئته ان لایخاف الا من الله تعالی (روح ج ۱۰ ص ۶۱) ۱۳ د ذکر شوو دریو وجوه د قتال نه دیو موجود والے هم دوئ سره د قتال سبب جوړیدلو د پاره کافی دے پاتے دا چه دړے واړه وجوه موجود وی. لهٰذا د دے مشرکانو سره جهاد کوئ الله تعالی به ستاسو لاسونو سره دوئ رسوا کړی او د دوئ په مقابله کښ به ستاسو امداد اوکړی. دا شان د دوئ په لاسونو چه مؤمنانو ته کوم تکلیفونه رسیدلی دو نو هغوئ به خوشحال شی او د هغوئ د زړونو خفګان به لرے شی. ۱۴ دا زجر دے خطاب مؤمنانو سره دے یا منافقانو سره چا یا ته دے چه د جهاد حکم بشۀ نۀ لګیدو. وَلِيجَةً، راز دار دوست.

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَٰجِدَ

نۀ دے کار د مشرکانو ﷲ چه اباد کړی جوماتونه

اللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِالْكُفْرِ ۚ

د الله تعالی، تسلیموی په ځپلو ځانونو باندے کفر

أُو۟لَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ وَفِى النَّارِ

د هغه خلقو خراب شول عملونه او په اور کښ به اوسیږی

هُمْ خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَٰجِدَ اللَّهِ

هغوئ همیشه ﴿ بیشکه اباد وی جوماتونه د الله تعالی

مَنْ ءَامَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ وَأَقَامَ

هغه څوك چه یقین ئے اوکړو په الله تعالی او په ورځ د اخرت باندے او قائم ئے کړه

الصَّلَوٰةَ وَءَاتَى الزَّكَوٰةَ وَلَمْ يَخْشَ

مونځ او ورئے کړه زکوٰة او نۀ ویریږی د هیچا نه

إِلَّا اللَّهَ ۖ فَعَسَىٰٓ أُو۟لَٰٓئِكَ أَن يَكُونُوا۟

سیوا د الله تعالی نه نو امید وار دی هغه خلق چه وی

مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۸﴾ اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ

دَ هدایت والو نه | آیا تاسو گرځولې دی لِله اوبه ځکول حاجیانو ته

وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ

او آبادول | دَ مسجد | حرام | برابر دَ هغه چا چه یقین ئے اوکړو

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجَاهَدَ فِيْ

په الله تعالیٰ | او په ورځ | دَ اخرت باندے او جهاد ئے اوکړو | په

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ ۭ

لاره | دَ الله تعالیٰ کښ نهٔ دی برابر دا | په نزد | دَ الله تعالیٰ

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹﴾

او الله تعالیٰ نهٔ ښائی لاره | قوم | ظالمانو ته۔

نکات: ۱؎ دَ مانع ثانی جواب یعنی هغوئ سره جهاد ځکه اُوکړو هغوئ خو نیک کارونه کوی ۱۲۔ ۲؎ خطاب مشرکانو سره دے ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف۱؎ تعریض (اشاره) ده جواب ته دَ قریشو دَ مسجد حرام په آبادولو باندے فخر کول ۱۲۔

تفسیر: ۱۵؎ دا دَ جهاد دَ دویم مانع جواب دے۔ مانع دا وو چه مشرکانو به دَ بیت الله دَ تعمیر او داسان نور نیک کارونه هم کول لهٰذا هغوئ سره قتال ځکه روا دے۔ وے فرمائیل دَ مشرکانو هیڅ یو عمل قبول نهٔ دے۔ دَ کفر او شرک په حالت کښ دَ هغوئ ټول نیک اعمال ضائع او برباد دی. لهٰذا دَ هغوئ دَ نورو شر انگیز کارونو دَ وجے نه هغوئ سره جهاد لازم دے۔ اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ الخ دَ بیت الله تعمیر او نور صالح اعمال صرف هغه خلقو نه قبلولے شی څوک چه دَ شرک نه توبه کړی۔ په یو خدائے او آخرت باندے ایمان راوړی او ټول اعمال دَ شریعت مطابق په ځائے راوړی۔ وَلَمْ یَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ۔ او صرف دَ الله نه او ویریږی او دَ باطل معبودانو نه نهٔ ویریږی ځکه چه مشرکان ویریږی۔ کانوا یخشون الاصنام ویرجونها فاريد نفی تلك الخشية عنهم (مدارك ج ۲ ص۹۴) ۱۶؎ خطاب مشرکانو سره دے یعنی یو سړے هغه دے چه دَ زړهٔ نه ئے ایمان راوړے دے او هغهٔ دَ الله په لاره کښ

جهاد اوکړو او یو شانته دے چه د شرک په حالت کښ ئے حاجیانو ته اوبه ورکړے او د بیت الله تعمیرئے اوکړو دا دواړه نه شی برابر کیدے د مؤمن اعمال د الله تعالیٰ په نزد مقبول دی او د مشرک ټول عملونه مردود او ضائع دی

اَلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَهَاجَرُوۡا وَجٰهَدُوۡا فِیۡ

چا چه ئے ایمان راوړو او کورونه ئے پریښودو او جهاد ئے اوکړو په

سَبِیۡلِ اللّٰهِ بِاَمۡوَالِهِمۡ وَاَنۡفُسِهِمۡ ۙ اَعۡظَمُ

لاره د الله تعالیٰ کښ مال خپل سره او ځان خپل سره (هغوئی د پاره) لویه

دَرَجَةً عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡفَآئِزُوۡنَ ﴿۲۰﴾

درجه ده په نزد د الله تعالیٰ او دغه خلق هم دوئی دی مراد ته رسیدونکی

یُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُمۡ بِرَحۡمَةٍ مِّنۡهُ وَرِضۡوَانٍ

زیرے ورکوی هغوئی ته رب د هغوئی د مهربانئ د خپل طرف نه او رضامندئ

وَّجَنّٰتٍ لَّهُمۡ فِیۡهَا نَعِیۡمٌ مُّقِیۡمٌ ﴿۲۱﴾

او د باغونو چه هغوئی ته په هغے کښ آرام دے همیشه

خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَاۤ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنۡدَهٗۤ

همیشه اوسیدونکی به په هغے کښ شا مو دام، بیشکه الله پاک سره دے

اَجۡرٌ عَظِیۡمٌ ﴿۲۲﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

ثواب لوئے ډیر اے ایمان والو! ماله

لَا تَتَّخِذُوۡۤا اٰبَآءَكُمۡ وَاِخۡوَانَكُمۡ اَوۡلِیَآءَ

مه نیسئ پلاران خپل او وروڼه خپل دوستان

اِنِ اسۡتَحَبُّوا الۡكُفۡرَ عَلَی الۡاِیۡمَانِ ؕ

که چرے محبوب ګڼړی هغوئی کفر په ایمان باندے

وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَأُولٰٓئِكَ

او چه څوک ملګرتیا اوکړی د دوئ ستاسو نه نو دا خلق

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ

هم دوئ دی ګناهګار ف۱ . ته اووایه که چرے وی پلاران ستاسو

وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ

او ځامن ستاسو او وروڼه ستاسو او ښځے ستاسو

وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ اِقْتَرَفْتُمُوْهَا

او خپلوان ستاسو او مالونه کوم چه ګټلی دی تاسو

وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ

او سوداګری چه ویره ده ستاسو د بندیدلو د هغے او د استوګنے ځایونه

تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

چه خوښوئ تاسو کوم زیات خوښ دی تاسو ته د الله تعالیٰ او د رسول د هغهٔ نه

وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ

او جهاد کولو نه په لار د هغهٔ کښ نو انتظار کوئ تر هغے چه راولیږی الله تعالیٰ

بِاَمْرِهٖ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٤﴾ ع

حکم خپل او الله تعالیٰ نهٔ ښائی لار قوم نا فرمان ته ف۲ ف۳

نکات: ف۱ بشارت ۱۲. ف۲ د دریم مانع جواب ۱۲. ف۳ ای اٰنابة ۱۲. ف۳ تاکید وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ ۱۲.

موضح قرآن

ف دا پورتنی پنځه ایتونه دِے خبرو باندے نازل شول کومے چه د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه مینځ کښ اُوشوے حضرت عباس رضی الله عنه روستو هجرت کړے وو حضرت علی رضی الله عنه اُووئیل کهٔ چرے تاسو اول کړے وے نو په جهاد کښ به شریک شوے وے او اُوچته مرتبه به مو موندلے وے لکه چه مونږ اُوموندله حضرت عباس رضی الله عنه اُووئیل

چه موږ دَ الله دَ رضا په کار کښ مشغول وو یعني دَ حاجیانو خدمت مو کولو او مسجد حرام مو اباد کړو نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه دا کار دَ هغې برابر نهٔ دے او دَ مشرکانو خدمت قبول نهٔ دے کهٔ یو مسلمان خدمت اوکړی نو هغه قبول دے.

فائده: دے ایتونو باندے پوهیدلو سره نبي کریم صلی الله علیه وسلم کافران دَ مکے نه اوویستل همیشه دَ پاره دا حکم شو چه مکے ته به کافران نهٔ ځی. او علماؤ لیکلی دی چه کهٔ چرے کافر جوماتونه جوړول اوغواړی نو هغه منع کړئ. او دینه دا مسئله راوځی چه دَ پیغمبر دَ رشته داری نه دَ عمل درجه زیاته ده ځکه چه حضرت عباس رض په رشته کښ نزدے وو او حضرت علی رض په عمل کښ زیات وو.

ف۲ یعني ځنے سړے دَ زړهٔ نه مسلمان دے لیکن عزیزولی او خپلوان نهٔ شی پریښود ے چه په ښکاره مسلمان شی دَ هغوئی حال دَ دینه معلوم کړئ.

ف۳ اخرئے حکم راؤلیږلو چه دَ دے ملک نه دِ کافران اوویستلے شی هغه وخت اکثر مسلمانان شول.

فتح الرحمٰن

ف۱ دَ غزوه او فتح نه روستو دَ جهاد په ترغیب باندے دَ مشرکانو او اهل کتابو سره نازل شوے دے.

ف۲ په غزوه حُنین کښ یو قسم شکست مسلمانانو ته ورکړے وو هغے نه روستو الله تعالیٰ امداد ورکړو تذکیر نعمت دَ پاره دے دا ایتونه نازل کړل.

تفسیر: ۲۲ دا دَ هغه اصحاب کرامو دَ پاره بشارت اخروی دے چا چه هجرت اوکړو او دَ الله تعالیٰ په لاره کښ ئے ځان او مال سره جهاد اوکړو دَ هغوئی دا لاندے فضیلتونه بیان شوی دی.

① هغوئی دَ غیر مهاجرینو او غیر مجاهدینو نه افضل دی ② هغوئی په اخرت کښ کامیاب او بامراد دی ③ الله تعالیٰ دَ هغوئی نه راضی دے.
④ الله تعالیٰ هغوئی دَ پاره دَ جنت همیشه نعمتونه تیار کړی دی چه دَ هغے هر نعمت به همیشه او لازوال وی او هغوئی به هم همیشه همیشه په هغے کښ اُوسیږی. **۱۸** دا دَ دریم مانع جواب دے یعني دَ مشرکانو سره جهاد کولو کښ دا خیال هرګز مانع کیدل نهٔ دے پکار چه په هغوئی کښ ستاسو ډیر نزدے او خواږهٔ خپلوان موجود دی. یا دستاسو چه کهٔ چرے ستاسو پلاران او ستاسو ورونړه او نور خپلوان دَ ایمان په مقابله کښ کفر او شرک ته ترجیح ورکوی او خوښوی ئے نو تاسو هغوئی سره هرګز دوستی مهٔ ساتئ هغوئی سره دَ محبت او شفقت رشته پریکړئ او دَ الله دَ دین اُوچتولو دَ پاره هغوئی سره جهاد اُوکړئ.

۹۱ دا زجر دے یعنی که چرته ستاسو پلاره، ځامن، وروڼه، ښځے او
نور رشته دار، مال دولت، کاروبار او مکانات تاسوته د الله او د هغهٔ
د رسول ته او د الله په لار کښ د جهاد کولو نه زیات محبوب وی نو
بیا د الله عذاب ته تیار شئ. دا د اول حکم لَا تَتَّخِذُوْٓا اٰبَآءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ
اَوْلِيَآءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْاِيْمَانِ، خلاف ورزی کونکو د پاره وعیده وَل
دی. فَتَرَبَّصُوْا. وهذا امر تهدید و تخویف (خازن ج ۳ ص ۵۸)، (حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ
بِاَمْرِهٖ) الحسن بعقوبة آجلة او عاجلة (قرطبی ج ۸ ص ۹۵)

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ
بیشکه امداد کړیدے ستاسو الله تعالیٰ ته په میدانونو ډیرو کښ
وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ
او په ورځ د حُنین کله چه خوشحاله شوئ تاسو په ډیروالی خپل
فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـًٔا وَّضَاقَتْ عَلَيْكُمُ
بیا هغه بکار رانغے ستاسو هیڅ او تنګه شوه تاسو باندے
الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ
زمکه باوجود د خپلے فراخئ بیا او ګرځیدئ تاسو
مُّدْبِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ
شاکونکی. بیا نازل کړو الله تعالیٰ تسکین د خپل طرف نه
عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ
په رسول خپل باندے او په ایمان والو باندے او نازل ئے کړل
جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ
فوجونه چه نه لیدل تاسو هغه او عذاب ئے ورکړو هغه
كَفَرُوْا ۭ وَذٰلِكَ جَزَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶﴾ ثُمَّ
کافرانو ته او هم دا سزا ده د پاره د انکار کونکو بیا به

يَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ط

توبه نصيب کړي الله تعالى ئے روستو د دينه چا ته چه ئے غوښتل ف۱

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (۲۷) يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

والله تعالى ښښونکے مهربان دے ف. اے ايمان والو

اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا

بيشکه مشرکان ئے پليت دی نو نه دِ راځي نزدے

الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ج

مسجد حرام ته روستو د دے کال نه ف۲

وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ

او که چرے ويريږئ تاسو د فقر نه ف۳ نو زر دے چه غنيان به کړي تاسو

اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ ط اِنَّ اللّٰهَ

الله تعالى د فضل خپل نه که چرے اوغواړي بيشکه الله تعالى

عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ (۲۸)

خبردار او حکمت والا دے ف۲ ف۳

نکات: ۱ ت بشارت ۱۲. ۲ ت دينه ټول حرم مراد دے يعنى مسجد حرام وما يتعلق بها ځکه چه مطلب دا دے چه هغوئ حج ته مه پرېږدئ. تائيد سبحٰن الذى اسرى بعبده ليلا من المسجد الحرام.
۳ ت د خلو، مانع جواب ۱۲.

موضح قرآن ف۱ د فتح مکے نه روستو حضرت واؤريدل چه د مکے او طائف مينځ کښ کافران جمع دی جنګ د پاره نبى عليه السلام سره د لس زره لښکر نه روان شو او دوه زره ورسره نور هم ملاؤ شول د مکے نه د غرونو مينځ کښ تنګ دره ئے نه تيريدل د تنګوالى په وجه لږ لږ تيريدل هوازن قوم ګير چاپيره پټ شوى وو کله چه د مکے والا تيريدل نو په هغوئ باندے حمله کوئکى شول دوئ په شا تيښته اوکړه او د نبى عليه السلام ملګرى هم خواره شول

نبي علیه السلام سورلئ نه راکوز شو پیاده روان شو او جنګ ته تیار شو حضرت عباس رض اوچت آواز سره انصارو ته آواز اوکړو دے آواز سره انصار او مهاجرین را اورسیدل هغه وخت جنګ اوشو او الله تعالیٰ فتح ورکړه اول کښ څه مسلمانانو ویلی دی چه مونږ لږ وکسانو ته ډیر وخایونو کښ فتح ملاؤ شویده اوس خو مونږ لس زره یو الله تعالیٰ ادب ورکړو، دے دپاره چه په اسبابو باندے نظر اونهٔ ساتی بیا هغه کافرانو کښ اکثر مسلمانان شول. ف۲ مسجد الحرام ته د مشرک ورتلل منع دی بلکه په ټول حرم کښ او جومات ته تلل معاف دی او پلیتی د هغوئ په زړونو کښ ده په بدن نهٔ ده او د فقر نه ویریږئ یعنی تلل راتلل به موقوف وی د مشرکانو معاملات سوداګری به بنده وی نو الله تعالیٰ ټول ملک مسلمانان کړل ټول کاروبار روان شو ۱۲ ف۳ اول حکم اوشو چه د مشرکانو سره اوجنګیږئ او د ملک نه ئے اوشړئ اوس حکم اوشو د اهلِ کتابو سره د جنګ کولو چه دوئ هم د حق دین نه منکر دی او الله تعالیٰ او آخرت څنګه چه پکار دے هغه شان ئے نهٔ منی لیکن د دوئ نه ئے جزیه قبوله کړه په دے شرط چه ادنیٰ او اعلیٰ ټول ذلیل شی او جزیه ورکوی د باقی عرب مشرکانو نه جزیه هرګز نهٔ شی قبلولے او چرته چه د مشرک په نزد قبول ده- جزیه هره میاشت پنځه انے، یا لس انے یا پاؤ باندے یوه روپئ موافق د حال او ذلیل ژوند تیرول دا چه په سورلئ کښ او کپړو کښ لاړ باندے تللو کښ او اسلحه اچولو کښ د مسلمانانو سره برابر بے اونهٔ کړی-

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د اسلام توفیق ورکوی هر چا ته چه اوغواړی د کافرانو نه- ف۲ یعنی په سبب د انقطاع د سوداګرانو ۱۲- ف۳ الله تعالیٰ اهل کتابو سره د جهاد کولو او جزیه اخستلو باره کښ فرمائی ۱۲-

تفسیر: ۲۰ خطاب ایمان والؤ سره دے دلته الله تعالیٰ په مؤمنانو باندے د خپل انعام نصرت اظهار کړیدے یعنی الله تعالیٰ ډیرو موقعو کښ د دشمن په مقابله کښ ستاسو امداد اوکړو او تاسو ته ئے فتح درکړه د دے وجے نه تاسو د مشرکانو سره د جهاد کولو نه همت مهٔ بیلئ الله تعالیٰ به ستاسو حامی او مددګار وی خطاب للمؤمنین خاصة وامتنان علیهم بالنصرة علی الاعداء التی یترك لها الغیور احب الاشیاء الیه (روح ج ۱۰ ص۷۳)-

حنین د مکے او طائف مینځ کښ د مکے نه درے میله فاصله باندے واقع د یو وادئ نوم دے دلته د فتحِ مکے نه روستو د هوازن، ثقیف وغیره د مشرکانو قبائیل د مسلمانانو سره اوجنګیدل- مشرکین څلور زره وو

اومسلمانان دولس زره وو ځنې مسلمانان په خپل زیات شمیر باندې خوشحال شول وې وئیل چه نن به مونږ د کم شمار د وجې نه نه مغلوب کیږو الله تعالیٰ ته دا خبره نا خوښه وه چه یو مسلمان په خپل زیات شمیر باندې ناز او فخر اُوکړی اوبو سکینه د پاره هم په الله تعالیٰ باندې اعتماد او توکل ګرفت د هغه د زړه او دماغ نه سُست شي د دې وجې نه الله تعالیٰ محض د تنبیه په طور باندې د مسلمانانو فتح شکست سره بدله کړه حضرت براء بن عازب بیان کوی چه اول کافرانو شکست اُوخوړو او ډیر مال اسباب او سامان ئې پریښودو وایس شول دې کتلو سره مسلمانان سپاهیان په مال جمع کولو کښ مشغول شول. دې موقع باندې د هوازن غشي ویشتونکې جماعت چه په غرونو کښ ئې مورچې سنبال کړې وې اوناست وو ناڅاپه د هغه ځایونو نه را اُووتل او په مسلمانانو باندې ئې حمله اُوکړه اوڅلور و واړو طرفونو ته ئې داسې غشي اوورول چه د مسلمانانو خپې اُوخوځیدلې نبي علیه السلام سره د خپلو ملګرو نه د دُشمن په مقابله کښ پاتې شو. حضرت ابوبکر، عمر، علي، عباس، ابوسفیان بن حارث، عبدالله بن مسعود، جعفر بن ابي سفیان، ربیعه بن حارث، فضل بن عباس، اُسامه بن زید، ایمن بن عبید رضی الله عنهم تقریباً سل اتیا کسان ثابت قدم پاتې شول چه د غرونو نه زیات مضبوط په نظر راتلل مولانا عثمانی. "دا خاص موقع وه چه دُنیا پیغمبرانه صداقت او توکل او معجزانه بهادری او بو عقل حیرانه وُنکې نظاره په خپلو سترګو اُولیدله نبي علیه السلام په یوسپین خچر باندې سور وو حضرت عباس یو رکاب او ابوسفیان ابن الحارث دویم رکاب نیولے وو. څلور زره مسلح لښکر پوره د انتقام (بدلے اخستلو) جوش کښ ډیر شوق سره راڅې څلورو واړو طرفونو ته د غشو باران کیږی. ملګری جُدا شوی دی لیکن رفیق اعلیٰ (الله پاک) د هغوی ملګرے دے د الله پاک تائید او د آسمانی سکینه نه لیدلے شوے باران نبي علیه السلام او د هغه په یوڅو ملګرو باندې وریږی چه د هغې اثر تبستیدونکوته رسیږی. د کوم طرف نه چه د هوازن او ثقیف سیلاب راروان دے د نبي علیه السلام د سورلئ مخ هغه وخت هم په هغه طرف دے او دلته د مخکښ تللو د پاره خچر تیزوی د زړه نه د الله طرف ته محبت دے او په ژبه باندې ډیر زیات استغناء او اطمینان سره انا النبي لا کذب ✻ انا ابن عبد المطلب جاری دے بیشکه زه رښتونے نبي یم او د عبد المطلب اولاد یم. دې حالت کښ نبي علیه السلام صحابو ته آواز اُوکړو. الیّ عباد الله الی انا رسول الله، د خدائے بندګانو! دلته راشئ

دیخوا راشئ زهٔ د الله رسول یم" (تفسیر عثمانی) دیته روستو د نبي علیه السلام په هدایت باندې حضرت عباس رض صحابؤ ته آواز ورکړو چه الله پاک مغه د هر بوغونړ ته اُورسولو، بیا څهٔ وو؟ چه ټول صحابه کرام فوراً میدان طرف ته واپس راغلل او ورسره الله تعالیٰ د فرښتو امداد هم نازل کړه او د مسلمانانو د زړونو ویره هم ختمه شوه هغوئ ته ئے سکون او اطمینان ورکړو د هغوئ تقویت او همت افزائي اُوکړه او مسلمانان واپس شول د مشرکینو په لښکرے داسے مضبوطه حمله اُوکړه چه په لږ وخت کښې هغوئ مغلوب او مقهور شول څنے قتل شول څنے قید یان شول - داشان الله تعالیٰ د مؤمنانو امداد اُوکړو.

۲۱ نو چه د مشرکانو د فوج نه چه کوم سپاهیان قید شول یا قتل نه بچ شول هغوئ کښې اکثرو ته الله تعالیٰ د اسلام راوړلو توفیق ورکړو او هغوئ مسلمانان شول د دین اسلام رښتوني او مخلص خادمان جوړ شول یعني یعني فیهدیه الی الاسلام کما فعل بمن بقي من هوازن حیث اسلموا وقدموا علی رسول الله صلی الله علیه وسلم تائبین فمن علیهم واطلق سبیهم (خازن ج ۳ ص۶۳)

۲۲ کله چه د کفر قوت مات شو او ټول عرب د اسلام ما تحت شول نو مکه مکرمه ئے د اسلامي حکومت مرکز اُوګرځولو او اعلان اُوکړے شو چه په راتلونکي کال کښې به هیڅوک مشرک د حرم په حدودو کښې نهٔ داخلیږي او هغوئ ته به د حج کولو موقع هم نهٔ شي ورکولے - اَلْمَسْجِدَ الْحَرَامَ نه مسجد حرام او ما یتعلق به یعني حدود حرم مراد دے لکه چه په سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ کښې دے ځکه چه معراج د حضرت اُم هانئ د کوره نه شوے وو. فلا یحجوا ولا یعتمروا کما کانوا یعتمرون في الجاهلیة (مدارك ج ۲ ص۹۳) وقال عطاء المراد بالمسجد الحرام الحرم وان علی المسلمین ان لا یمکنوهم من دخوله (بحر ج ۵ ص۲۸) اصل مقصد د مشرکانو حج او عمرے نه منع کول دي او د حج ډیر احکام د مسجد حرام نه بهر ادا کیږي مثلاً سعي بین الصفا والمروة او وقوف عرفات وغیره. د دے وجے نه د مسجد حرام نه د حرم حدود مراد دے.

۲۳ دا د تخلو رم مانع جواب دے د وعدے ماتولو او د جنګ د امر نه روستو دا حکم هم راغے چه راتلونکي د پاره به هیڅ یو مشرك د حرم په حدود کښې نهٔ شي داخلیدلے د حج په موسم کښې به مشرکانو د تجارت مالونه راوړل چه د هغے نه به مسلمانانو ته هم نفع رسیدله غله او نور د ضرورت سامان به هغوئ ته په دے ذریعه رسیدلو او حاصلیدلو د دے ټولو اُمورو د وجے نه مسلمانانو سره فکر شو نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل د دے خبرے پرواه مه کوئ ستاسو دا ټول ضرورتونه به زهٔ په نورو ذریعو پوره کوم

هم داشان اُوشوه الله تعالیٰ په مختلفو طریقو خپله وعده پوره کړه باران ئے اُووَرَولو زمکے ئے د محکښ نه زیاتے ابادے کړلے، اهل نجد، قبالة او جرش ته ئے د اسلام توفیق ورکړو او هغوئ غله اونوره د ضرورت څیزونه د مختلفو علاقو او ملکونو نه راؤړل شروع کړل او د اموال غنیمت په صورت کښ ئے د دولت او مال دارئ دروازے پرانستلے په هغوئ باندے. وقد انجز الله تعالیٰ وعده بان ارسل السماء علیهم مدرارا ووفق اهل نجد وقبالة وجرش فاسلموا وحملوا الیهم الطعام وما یحتاجون الیه فی معاشهم ثم فتح علیهم البلاد والغنائم وتوجه الیهم الناس من کل فج عمیق (روح ج ۱۰ ص ۷۷).

قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا

جنګ کوئ هغه خلقو سره ۲۲ چه نه لري ایمان په الله تعالیٰ او نه

بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ

په ورځ د اخرت باندے او نه ګڼړي حرام هغه کوم چه حرام کړیدي الله

وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ

او رسول د هغه او نه قبلوي دین ربښتونے

مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا

د هغه خلقو نه چه اهل کتاب دي تر هغے چه ورکړي هغوئ

الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴿٢٩﴾ وَ ع

جزیه خپل لاس سره او دوئ به ذلیل وي ف او

قَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ

اُوئیل یهودیانو ۲۵ عزیر ځوئے د الله تعالیٰ دے او اُوئیل

النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ ذَٰلِكَ

نصاراؤ چه مسیح ځوئے د الله تعالیٰ دے دا

قَوْلُهُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُونَ قَوْلَ

خبرے کوي په خلو خپلو سره مٹ مشابه ئے ده د خبرے

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ؕ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ

د هغه کافرانو تیر شوی وو ف۲ هلاک دې کړي دوئ الله تعالیٰ

اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝۳۰ اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ

کوم خوا ته اړولی شي ف۳ ف۴ وې نیول ف۵ عالمان خپل او عابدان خپل

اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ

خدایان سیوا د الله تعالیٰ نه او مسیح ځوئے د مریم هم

وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ

او نه دے کړے شوے حکم ف۶ دوی ته مګر د دے شوے وو چه بندګي اوکړي د معبود یو

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝۳۱

نشته لائق د بندګئ سیوا د هغهٔ نه پاک دے هغه د هغوئ د شریک بیا نولو نه ف۳

نکات:- ف۱ د تخلویږ وموانعو پورے تعلق لري نه روستو د سورۂ انفال او سورۂ توبه دعوی په طریقه د تفصیل سره او د قتال کولو شپږ وجوه ۱۲ ف۲ د قتال اول وجه یعني د الله نه سیوا نور خلق متصرف في الامور ګڼړي یعني شرك اعتقادي کوي ۱۲. ف۳ د قتال دویمه وجه یعني د غیرالله نذرونه ورکوي او خوري ۱۲. ف۴ حق دین نهٔ قبلوي ۱۲. ف۵ د قتال دریمه وجه یعني حضرت عزیر او حضرت عیسیٰ متصرف في الامور ګڼړي ۱۲. ف۶ د قتال تخلویږمه وجه د انبیاء علیهم السلام نه علاوه د مُلایانو او ګدی نشینانو مشرکانه خبرے مني ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعني اهل کتاب شول او مشرکانو سره ئے مشابهت شروع کړو. ف۳ د دوئ عالمانو یا صوفیانو چه به د خپل ځان نه تحلیل او تحریم کولو دوئ هغوئ خدایان ګڼړل چه مونږ ته خلاصے ملاؤ شوا و هغوئ به د طمع او لالچ د پاره تحلیل او تحریم کولو نو د عالِم قول هله سند دے کله چه هغه د شرعے نه وي او چه کله معلومه شي چه د طمع یا د نورځهٔ وجے نه دے بیا هغه سند نهٔ دے ۱۲.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني اصل نهٔ لري ۱۲. ف۲ یعني مشرکان چه ملائیکو ته بنات الله وائي. ف۳ یعني د حق لارے نه ۱۲.

تفسیر: ۲۳ دَ سورة انفال او سورة توبه دعوی په طریقه دَ تفصیل دلته ئې دَ جنګ کولو حکم وکړو او تفصیل سره ئې دَ هغوی بیودل چه دَ کومو خلقو سره جنګ دَ کول دی او دوی سره دَ جنګ دَ کولو کوم وجوه دی.

وجوه قتال

اولّه وجه:- لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ هغوی دَ الله په توحید ایمان نه راوړی او غیر الله متصرّف او کار ساز ګڼړی دَ هغوی په خاطر ځان نه تحریمات کوی او دَ هغوی دَ خوشحالولو دَ پاره نذر ونه او منښتې کوی. دویمه وجه: وَلَا یُحَرِّمُوۡنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ. دَ الله تعالیٰ محرمات حرام نه ګڼړی او دَ هغهٔ دَ تحریمات په ځائے نه راوړی مثلاً دَ غیر الله نذرونه منښتې خوری.
۲۵ دَ قتال دریمه وجه ابن الله نه دلته نسبی او جسمانی ځوئے مراد نهٔ دے بلکه مراد نائب او متصرّف دے. قال ابن عطیة ویقال ان بعضهم یعتقدها بنوة حنو ورحمة (قرطبی ج ۸ ص ۱۱۷) یعنی هغه الله پاک ته دومره ډیر خوښ دے چه هغهٔ ته ئې اختیار ورکړے دے. یهودیانو حضرت عزیر علیه السلام او نصاراؤ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ خدائے نائب متصرّف او کار ساز ګڼړلو. یُضَاهِئُوۡنَ ای یشابهون. اَلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مِنۡ قَبۡلُ نه دَ دوی پلاران او نیکونه مراد دی چه دَ هغوی نه دوی ته دا کفر په عقیده په میراث کښې ملاؤ شوه.
۲۶ دَ قتال څلورمه وجه. اَحۡبَار دَ یهود علماء، رُهۡبَان دُنیا پریښودونکی صوفیان مراد روحانی پیشوایان او ګدی نشینان. یهودیانو او نصاراؤ خپل علماء او پیران فقیران متصرّف او کار ساز ګڼړل هغوی به ئې رابلل او هغوی ته به ئې سجدے کولے او هغوی به ئې دَ تحلیل او تحریم (حلال او حرام ګرځولو) مختار منل. کانوا یسجدون لهم کما یسجد لله والسجود لایکون الا لله فاطلق علیهم ذلک مجازا (بحر ج ۵ ص ۳۲) حیث اطاعوهم فی تحلیل ما حرم الله وتحریم ما احل الله کما یطاع الارباب فی اوامرهم ونواهیهم (مدارک ج ۲ ص ۲۷) ۲۷ اُمِرُوۡا کښې ضمیر نه مراد هم هغه یهود او نصاریٰ مراد دی کوم چه دَ اتَّخَذُوۡا فاعل دے یعنی هغوی خپل عالمان او پیران رب او ګرځولو دَ الله نه سیوائے دَ هغوی عبادت شروع کړو حال دا دے چه هغوی ته حکم ورکړے شوے وو چه هغوی صرف دَ یو الله پاک عبادت اوکړی او دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل څوک کار ساز متصرّف نشته او دَ هغهٔ نه سیوا بل څوک دَ آواز او رابللو لائق نشته.

يُرِيدُونَ أَن يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ
غواړي دوي ۳۸ چه مړه کړي رڼا د الله تعالیٰ په خُلو خپلو سره ۳۱

وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ
او نه خوښوي الله تعالیٰ لیکن دا چه پوره کړي رڼا خپله اګرچه بد ګڼري

الْكَافِرُونَ ﴿٣٢﴾ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ
کافران ۳۲. هم هغه ۳۹ اُولیږلو رسول خپل

بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى
په هدایت سره او دین رښتونی سره دے د پاره د چه غلبه ورکړي په

الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾
دینونو ټولو باندے اګرچه بد ګڼري مشرکان ۳۳.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ
اے ۴۰ ایمان والو بیشکه ډیر د

الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ
عالمانو نه او درویشانو نه خوري مالونه

النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ
د خلقو په ناحقه او منع کوي د لارے

اللَّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ
د الله نه او کوم خلق چه خزانه کوي سره زر او سپین زر

وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم
او نه خرج کوي هغه په لاره د الله تعالیٰ کښ نو خوشخبري واوروه هغوئ ته

بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ
په عذاب دردناک سره ۳۴. کومه ورځ چه ګرم به کړے شي ۴۱ دغه مال په اور

جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ

دَ جهنم کښې بیا به داغلې شي په هغې سره تندي دَ دوئ او اړخونه دَ دوئ

وَظُهُورُهُمْ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ

او شاګانې دَ دوئ (رویبه شي) دا هغه دے کوم چه جمع کړے وو تاسو دَ ځان خپل دَ پاره

فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿۳۵﴾

اوس اوڅکئ خوند دَ خپل جمع کولو مال.

نکات: ۱ دا تمثیل دے نور الله ای توحید الله ۱۲. ۲ دَ قتال پنځمه وجه ۱۲. ۳ یعنې دَ غیر الله منښتې خوری او دَ الله تعالی دَ توحید نه منع کوی معلومه شوه چه اکثر پیران او ملایان دا قسم مشرکان وی ۱۲.
۴ جار مجرور دَ فاعل مالم یسم فاعله قائم مقام دے ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعنې لکه چه څوک په پوکې سره ډیوه مړه کړي غوښتې غواړي چه په خپلو دروغو خبرو سره، دین اسلام خوړ نشي.
ف۲ یعنې دا دین دَ ټولو نه بره دے دَ عقل په نیز او دَ خدائے په نیز یعنې څوک چه دَ دے سره تړ دے ملاؤ شي نورو سره نه.
ف۳ دَ الله تعالی په لاره کښې خرچ کول دا چه زکوٰة او قرض او دَ حقدار حق ورکوی

فتح الرحمن ف۱ یعنې دَ دین په ابطال کښې شبهات پیدا کوی ۱۲. ف۲ یعنې زکوٰة نهٔ ورکوی ۱۲. ف۳ یعنې دمیده شود ۱۲

ف۴ دَ ابراهیم علیه السلام په دین کښې مقرر وه چه په محرم او رجب ذی القعده او ذی الحجه کښې به یو بل سره جنګ نهٔ کوئ او دَ جاهلیت خلقو دا حکم بدل کړے وو کله به ئے محرم صفر ګرځولو او کله صفر محرم وعلی هذا القیاس او دیته به ئے نسی وئیله الله تعالی اصلی حکم باقی اوساتلو دَ دے وجے نه چه ناحق جنګ په هیڅ وخت کښې هم جائز نهٔ دے او بیا دے دَ حرمت میاشتو کښې خو هغه حرمت نور هم زیات سخت ګرځي او جنګ دَ کافرانو سره په هر وخت کښې صحیح دے او دَ دوی دَ تحریف نفي ئے اوکړه ۱۲.

تفسیر: ۳۲ دا یو تمثیل دے نور الله نه دَ الله تعالی توحید یا دَ الله تعالی دین مراد دے ای دلائله و حججه علی توحیده (قرطبی ج۸ ص۱۲۱) هغوئ دَ کفر او شرک په مضبوطو پردو کښې دَ توحید نور پټول غواړي او دَ هغهٔ دَ دلائیلو تکذیب او انکار سره دَ توحید دَ شمع مړے کولو کوشش کوی لیکن دَ هغوئ

کوششونه به کامیاب نهٔ وی ځکه د الله تعالیٰ دین توحید به خپل پوره شان سره
د کمال درجې او تمام ته اورسیږی او قائم به وی. هُوَ الَّذِیٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ الخ
الله تعالیٰ خپل آخری نبی د دې د پاره لیږلے دے چه په ټولو باطلو دینونو
باندې دینِ حق غالب کړی او دلائیلو او براهینو سره په ټولو باندې د ده
اوچتوالے او غوره والے ثابت کړی ۱۲.

ف ۲۹ دا د قتال پنځمه وجه ده یعنی د یهودو او نصاراؤ عالمان او پیران
فقیران په غلطو او ناجائزو طریقو سره د خلقو مالونه خوری مثلاً د حق
پټولو باندې رشوتونه اخستل او د عوامو نه د غیر الله په نوم نذرونه
وصولول وغیره او عوامو ته ئې حق خبره نهٔ ښودله او د توحید مسئله به ئې
نهٔ بیانوله بلکه د دې په عکس به ئې خلقو ته د شرک او بدعت تعلیم ورکولو
هغوئ به ئې د الله تعالیٰ د لارې او د هغهٔ د رښتونې دینِ توحید نه منع
کول. عَلَیْهَا جار سره د مجرور نه د یُحْمٰی د پاره مفعول مالم یسم فاعله
دے. دا د دروغژنو عالمانو او مشرک پیرانو او د الله په لاره کښ د نهٔ
خرچ کونکو دولت مندو او مالدارانو د پاره تخویف اُخروی دے.

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ
بیشکه شمار د میاشتو ۳۵ په نزد د الله تعالیٰ دولس

شَهْرًا فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
میاشتې دی په حکم د الله تعالیٰ کښ کومه ورځ نه چه هغه پیدا کړی وو آسمانونه

وَالْاَرْضَ مِنْهَآ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِكَ
او زمکه دے کښ څلور میاشتې دی د ادب هم دا دے

الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ۙ فَلَا تَظْلِمُوْا فِیْهِنَّ
دین سم نو مه کوئ ظلم دے کښ

اَنْفُسَكُمْ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِیْنَ كَآفَّةً
په ځانونو خپلو باندې او جنګ کوئ د مشرکانو ټولو سره (په هرحال کښ)

كَمَا یُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً ؕ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ
څنګه چه جنګ کوی هغوئ تاسو ټولو سره (په هرحال کښ) او پوهه شئ چه بیشکه الله

مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۶﴾ اِنَّمَا النَّسِيْٓءُ زِيَادَةٌ

ملګرے دے د ویریدونکو. بیشکه روستوکول دی ۳۳ (د میاشتو) نو دا زیاتوالے دے

فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په (زمانه د) کفرکښې پرې ګمراه کولې کښې دے سره هغه کافران

يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔوْا

چه حلالوی دوئ دا میاشت یو کال او حراموی ئے بل کال دے د پاره چه پوره کړی

عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فَيُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ اللّٰهُ

چه پوره کړی شمار د هغه میاشتو چه الله د ادب لپاره ساتلے دی الله بیا حلالوی کومه میاشت چه حرام کړے الله

زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ ۚ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

ښائسته کړے شو دوئ ته خراب کارونه (په نظرکښې) د دوئ او الله تعالیٰ نه ښائی سمه لار

الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۷﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

قوم کافرانو ته ۳۵ فـ. اے ایمان والو ۳۶

مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ

څه شوی دی تاسو له چه کله اوویلے شی تاسو ته چه سفر او کړئ په لار د

اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ۭ اَرَضِيْتُمْ

د الله کښې نو مائیل کیږئ زمکے ته ایا خوشحال شوئ تاسو

بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ

په ژوند د دُنیا او پرېے مو ښودلو اخرت نو نه ده هیڅ نفع اخستل

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿۳۸﴾

د ژوند د دُنیا په مقابله د اخرت کښې لیکن ډیره لږه ۳۸ فـ.

نکات: ۱۔ د قتال شپږمه وجه یعنی د محرم حرمت په صفر باندے اچوی
د الله تعالیٰ تحریم باقی نه ساتی دا زیاتوالے په کفرکښې دے دا صرف په

محرم او صفر کښې کوی ۱۲. سلا ـ د سورت دویمه حصه د دعوے نه مخالفت کونکو بعضې منافقانو د پاره زجرونه او مؤمنانو د پاره خوشخبری او ترغیب الی القتال. سمه ـ ای بدلا من الاٰخرة ۱۲.

موضح قرآن

ف د شریعت په حکم کښې کال همیشه دولس میاشتے دے نه کم نه زیات او د ابراهیم علیه السلام په دین کښې څلور میاشتے حرام وے ذی قعده، ذی الحجه، محرم، رجب چه دے کښې جنګ کول حرام وو د عربو ملک کښې امن وو دے د پاره چه خلق لرے او نزدے حج او عمره اوکړی او س د اکثرو عالمانو په نزد دا حکم نشته. دے ایت نه دا هم را ووځی چه د کافرانو سره جنګ کول همیشه روا دے او خپل مینځ کښې ظلم همیشه ګناه ده دے میاشتو کښې زیاته ګناه ده. لیکن بهتر دا ده چه که چرے یو کافر د دے میاشتو ادب اومنی نو مونږ به هم شروع نه کوؤ په جنګ کولو کښې. ف۲ کافرانو یوه ګمراهی راویستلے وه چه په خپل مینځ کښې به ئے جنګ کولو او په هغې کښې به د محرم میاشت راغله نو هغه به ئے لرے کړه وئیل به ئے سږکال د صفر میاشت مخکښې راغله محرم به روستو راځی نو د محرم په میاشت کښې به ئے جنګ کولو دے حیلے سره. الله تعالی دے بانـدے دا اوفرمائیل ۱۲. ف۳ دے ځائے نه د جنګ تبوک ذکر دے ځکه چه اسلام غالب شو او په ټول عربو کښې خور شو د شام سرداران غسان قوم چه د شام روم تابع وو په دے فکر کښې شول چه د روم بادشاه دے طرف ته راولی او جنګ شروع کړی نبی علیه السلام ته خبر اوشو هغوی د دوئی په طرف قصداً اراده اوکړه او خط ئے اولیکلو د روم (قیصر) بادشاه ته او د دین اسلام دعوت ئے ورکړو هغهٔ ته د نبی علیه السلام نبوت ثابت شو لیکن قوم ئے ملګرتیا اونکړه او هغه هم د اسلام نه محروم پاتے شو کله چه د شام والاخبر بیا مونده و د نبی علیه السلام د ارادے اظهار ئے د روم بادشاه ته اوکړو هغهٔ د امداد ذمه وانخستله هغه خلقو اطاعت اوکړو لیکن اسلام ئے راؤنړلو. بیا نزدے وخت کښې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفات شو د نبی علیه السلام د وفات نه روستو د حضرت عمر په دور خلافت کښې ټول د شام ملک فتح شو. دے سفر کښې دُشمن په نظر کښې قوی راغے او سفر اوګد او اسباب سامان کم نو منافقانو بهانے شروع کړے نبی علیه السلام ټولو ته رخصت ورکړو کله چه د الله په فضل سره غالب او فاتح واپس راغلل نو منافقان شرمنده شول دے سورت کښې اکثر د منافقانو خبرے بیان شوی دی ۱۲.

فتح الرحمن ف۱ نبی علیه السلام د سختې ګرمئ او تنګئ په وخت کښې د تبوک غزوه ته متوجه شو ډیرو اصحابو کرامو موافقت اوکړو او دړې تنه مسلمانان بې عذره پاتې شول د هغوئ توبه پنځوس ورځې وروستو قبوله شوه منافقانو د نفاق کلمات وئیل الله تعالی د دې کسانو په صفت او د هغوئ په بد بیانولو کښې او د دې دریو تنانو د عفوې باره کښې ایتونه را اُولیږل.

تفسیر: ۳۰ دا د قتال شپږمه وجه ده یعنی دا مشرکان د الله تحریمات قائم نهٔ ساتی د محرّم حرمت به ئې په صفر باندې اچولو الله تعالی د اول پیدائش نه د اسمانونو حرکت او د نمر سپوږمئ دوره په داسې اندازه مقرر کړی دی چه د یو کال دولس میاشتې جوړیږی دې کښې څلور میاشتې د عزت او حُرمت والا دی چه په هغې کښې جنګ او قتال کول منع شوی دی یعنی رجب، ذی القعده، ذی الحجه، او محرّم. ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ، یعنی د دې څلورو میاشتو حُرمت قائم ساتل دا دین قیّم دې د حضرت ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام دین دې (روح) لیکن د مشرکانو په کال کښې د اشهر حُرم تعداد خو به ئې پوره کولو لیکن د هغې تعیین به ئې په خپل ځائې نهٔ ساتلو چه کله به د دُشمن د جنګ ورځ شوه او دلته به اشهر حُرم راغې نو اعلان به ئې کولو چه دې میاشت کښې جنګ اوکړئ او د دې په ځائې د بلې کومې یوې میاشتې تعظیم اُوکړئ نو د حج په موقع باندې د مشرکینو سردار نعیم بن ثعلبه او په یو قول جناده بن عوف به په اُوښ اُودریدو او اعلان به ئې اوکړو چه خلقو! سځکال به په محرّم کښې جهګړه وی د دې په ځائې به صفر حرام وی یعنی هغوئ به د محرّم حرمت په صفر وراچولو او په دویم کال به اعلان کیدو چه سځکال د محرّم حرمت قائم دې.

۳۱ النَّسِيْٓءُ مصدر دې په معنی د تاخیر یعنی یوه میاشت د هغې د مقرر ځائې نه روستو شمارل او د الله تعالی تحریم باطلول په کفر او ضلالت کښې زیاتوالې دې او دا شان د هغوئ کفر دوچند کیږی یو د توحید او رسالت نه د انکار کفر او دویم د الله تعالی د تحریماتو باطلول کفر لِّيُوَاطِـُٔوا الخ یو کال محرّم حلال ګرځوی او یو کال حرام دې د پاره چه په کال کښې د اشهر حرام تعداد څلور شی لیکن د میاشتو خصوصیت نظر انداز کوی. ان العرب کانوا اذا جاء شهر حرام وهم محاربون احلوه وحرموا مكانه شهرًا اخر فیستحلون المحرم ویحرمون صفرًا الخ (روح ج ۱۰ ص۹۳)

۳۲ یعنی د اشهر حُرم شمیر پوره کولو د پاره به ئې یوه حلاله میاشت حرام ګرځوله او حرامه میاشت به ئې حلالوله د میاشتې د خصوصیت پروا به ئې

ته کوله. والحاصل انه کان الواجب علیهم العداة والتخصیص فحیث ترکوا التخصیص فقد استحلوا ما حرم الله تعالی. (روح) دلته د سورت اوله حصه ختمه شوه ۱۲-

دویمه حصه

۳۳ دلته نه د سورت دویمه حصه شروع کیږي د بیان دعوے نه روستو اوس دلته منافقانو باندے زجر او مؤمنانو د پاره ترغیب الی القتال دے. اثاقلتم الی الارض یعنی کله چه تاسو ته وئیلے شي چه د الله په لاره کښې جهاد د پاره ووځئ نو تاسو زمکے ته مائیل کیږئ ایا تاسو د آخرت د ژوند مقابله کښې د دُنیا ژوند غوره کوئ. لیکن یاد لرئ د دُنیا ټول مال او متاع د آخرت د انعاماتو مقابله کښې هیڅ هم نه دے فی الاخرة ای بدل الاخرة.

اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّيَسْتَبْدِلْ

که نه ووځئ تاسو نو عذاب به درکړي الله عذاب دردناک او په بدله کښې به راولي

قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوْهُ شَيْـًٔا ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

نور خلق سیوا ستاسو نه او نقصان به ورنکړئ تاسو هغه ته هیڅ او الله تعالی په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ

شئ قادر دے. که امداد نه کوئ تاسو د رسول نو بیشکه د هغه امداد کړے دے الله

اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثَانِيَ اثْنَيْنِ

کوم چه ویستلے وو هغه کافرانو چه دویم وو په دوو کښې ۳۶

اِذْ هُمَا فِي الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ

کله چه هغوئ دواړه په غار کښې وو کله چه هغه وئیل خپل ملګری ته مه خفه کېږه غم مه کوه ۳۷

اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ

بیشکه الله مونږ سره دے بیا نازل کړو الله (د خپل طرف نه) اطمینان په هغه باندے

وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ

او امداد ئے اوکړو د هغه داسے فوجونو سره چه نه لیدل تاسو هغه او وے ګرځوله خبره

الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى ۭ وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ

د هغه کافرانو ښکته او خبره د الله تعالیٰ همیشه

الْعُلْيَا ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۴۰﴾ اِنْفِرُوْا خِفَافًا

د پاسه ده او الله تعالیٰ غالب حکمت والا دے ف۔ اُوځئ ګنه سپک

وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ

او درانه او جنګ کوئ خپل مال او ځان سره

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ

په لار د الله تعالیٰ کښ دا بهتر ده په حق کښ ستاسو

اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾

که چرے تاسو پوهیږئ۔

نکات: ۱۔ دا د محذوف جزا یعنی فَيَنْصُرُهُ اللّٰهُ د پاره علت دے ۱۲۔
۲۔ مراد کافران دی د ضمیر غائب په ځائے ضمیر خطاب استعمال کړے شوی
۳۔ لږ ے اسلحے سره یا زیاتے اسلحے سره یعنی دا ته ده که بیماریئ یا
نه یئ نو ضرور اُوځئ ځکه چه ایت راغی۔

موضح قرآن ف د غار ملګرے ابوبکر صدیق رض دے په هجرت کښ فقط هم دے وو د نبی علیه السلام سره ځنے اصحاب
ځکښ وتلی وو او ځنے روستو او وتل۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی ابوبکر صدیق رض ته ۱۲۔ ف۲ یعنی په دا سے حال کښ چه د جنګ اسلحه او تفری زیاته لری
یا د ضرورت نه کم ستاسو په لاس کښ وی او په دے توجیه کښ به ایت
محکم وی نه منسوخ ۱۲۔

تفسیر ۳۴ که چرے تاسو جهاد ته نه ځئ نو الله تعالیٰ به تاسو
هلاک کړی ستاسو په ځائے به بل قوم راولی او د خپل دین نصرت او
امداد د پاره به ئے اُودروی او تاسو به هغهٔ ته هیڅ نقصان ورنکړئ۔
۳۵ د دے جزا محذوف ده۔ ای فسینصره الله او فقد نصره الله د دے علت
دے چه د ده قائمقام دے یعنی که چرے تاسو د ده یعنی د پیغمبر محمد صلی الله
علیه وسلم سره جهاد کښ ملګرتیا نه کوئ نو الله تعالیٰ به د ده امداد کوی

ځکه چه د دینه مخکښ چه کله مشرکانو دے د مکے مکرمے نه په ویستلو مجبور
کړے وو او ټول عرب د ده دشمنان وو هغه وخت هم الله د ده امداد کړے وو
الجواب محذوف اقیم سببه مقامه وهو مستقبل ای ان لم تنصروه فسینصره
الله تعالیٰ الذی قد نصره فی وقت ضرورة اشد من هذه المرة (روح ج ۱۰ ص ۹۶)
۳۶ ثانی د ضمیر منصوب نه حال دے. اِذْ هُمَا. اِذْ اَخْرَجَهُ نه بدل البعض
دے او غار نه غار ثور مراد دے کوم کښ چه نبی علیه السلام او حضرت
ابوبکر صدیق رض د هجرت په وخت دوئ پسے د روستو تلونکو مشرکانو نه
پټ شول او درے ورځے ئے په هغے کښ تیرے کړے. اِذْ یَقُوْلُ. دا د اِذْ اَخْرَجَهُ
نه بدل ثانی دے. لِصَاحِبِهٖ د صاحب نه دلته ابوبکر رض مراد دے، دے باندے
د امت اجماع ده د دے وجے نه علماؤ لیکلی دی چه کوم سړے د حضرت ابوبکر رض
د صحابیت نه منکر دے هغه کافر دے. من انکر ان یکون ابوبکر رضی الله عنه
صاحب رسول الله صلی الله علیه وسلم فهو کافر لانه انکر نص القرآن (قرطبی
ج ۸ ص ۱۴۶). ۳۷ د حضرت انس بیان دے چه ما ته حضرت صدیق اکبر رض
ذکر اوکړو چه کله زه نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په غار ثور کښ ووم
او مشرکان یو خوا بل خوا ګرځیدل په تلاش کښ وو نو ما ته د هغوئ خپے په
نظر راتلے ما نبی علیه السلام ته عرض اوکړو چه که چرے هغوئ ښکته
اوکتل نو مونږ به اوویني نو نبی علیه السلام اوفرمائیل ابوبکر! غم
مه کوه الله ځمونږ سره دے اے ابوبکر د هغه دوؤ کسانو باره کښ د څه
خیال دے چه د هغوئ نګهبان، حامی، ناصر الله وی. یا ابا بکر ما ظنك
باثنین الله تعالیٰ ثالثهما (روح ج ۱۰ ص ۹۷) کله چه دواړه حضرات غار ته دننه
لاړل نو د الله په حکم جولاګئ د غار په خوله باندے جال خور کړو او کونتر
هلته هګئ واچولے کله چه مشرکان د هغوئ په تلاش کښ هلته اورسیدل
نو جال او هګئ ئے اولیدلے واپس شول او غار ته ئے دننه نظر هم اونکړو.
۳۸ سَکِیْنَتَهٗ کښ ضمیر مجرور صاحب طرف ته راجع دے ځکه چه نبی
علیه السلام خو د اول نه مطمئن وو لیکن حضرت ابوبکر ویره محسوس
کړه چه چرته د مشرکانو په لاس نبی علیه السلام ته تکلیف اونه رسیږی
نو د نبی علیه السلام خطاب لَا تَحْزَنْ الخ سره الله تعالیٰ د حضرت ابوبکر
زړه باندے سکون او اطمینان نازل کړو علی ابی بکر. ابن العربی. قال
علماؤنا وهو الاقوی، لانه خاف علی النبی صلی الله علیه وسلم من القوم
فانزل الله سکینته علیه بتامین النبی صلی الله علیه وسلم فسکن جأشه وذهب
روعه وحصل الامن (قرطبی ج ۸ ص ۱۴۸)
۳۹ جنود نه د فرشتو لښکر مراد دے کوم چه د مشرکانو تلاش کونکو پاندے

ښونه او نظرونه واره ول دي د پاره چه هغوئ نبی علیه السلام او ابوبکرؓ او نه وینی یا د دینه په جنګ بدر، احزاب او حُنین کښ د فرشتو نازلیدل مراد دی هم الملائکة صرفوا وجوه الکفار وایصارهم عن ان یروه او ایده بالملائکة یوم بدر والاحزاب وحنین (مدارک ج ۲ ص۹۷)۔

۴۱ خِفَافًا۔ کمے اسلحے سره او ثِقَالًا زیاتے اسلحے سره مطلب دا دے چه د اسلحے او سامان کم والی او زیاتوالی ته مه ګورئ۔ اسلحه کمه وی یا زیاته په هر حال کښ جهاد د پاره ووځئ دا مطلب نه دے چه بیمار یئ یا تئ یئ خامخا ووځئ ځکه چه لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى سره ضُعَفَاء او مرضٰی مستثنٰی دی ۱۲۔

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا

که چرے لګه مال وے نزدے او سفر سپک

لَّاتَّبَعُوكَ وَلٰكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ؕ

نو ضرور به هغوئ تا سره تلے وے لیکن اوګډ راغے په نظر مسافت

وَسَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا

او اوس به قسمونه خوری په الله که چرے څمونږ ته کیدے شوے نو مونږ به ضرور تلے

مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُونَ أَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

ستاسو سره هلاکوی دوئ ځانونه خپل ځان او الله تعالی ته معلومه ده

إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٤٢﴾ عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ لِمَ

چه بیشکه هغوئ دروغژن دی بښنه اوکړه الله تعالی تا ته ولے

أَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ

تا اجازت ورکړو هغوئ ته ترهغے چه ظاهر شوے وے تا ته هغه

صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسْتَأْذِنُكَ

رښتیا ویونکی او پیژندلے دے وے دروغژن نه غواړی اجازت ستا نه

الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

هغه خلق چاچه ایمان راوړو په الله تعالی او په ورځ د اخرت باندے

اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ

د دیته چه جنګ اوکړی په مالونو خپلو او ځانونو خپلو سره

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۴﴾ اِنَّمَا

او الله تعالی ښه پیژنی ویریدونکی بیشکه

يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

اجازت غواړی ستا نه ګله هغه څوک چه نهٔ راوړی ایمان په الله باندے

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ

او په ورځ د اخرت باندے او شک کښ پریوتلی دی زړونه د هغوئ نو هغوئ

فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ﴿۴۵﴾

په خپل شک کښ حیران دی۔

نکات: ۱ دا په یو خاص واقعه باندے تنبیه ده عام نهٔ ده په قرینه د فاذن لمن شئت (نور)۔ ۲ یعنی دے خاص واقعه کښ ۱۲۔
۳ ای فی هٰذه الواقعة ۱۲۔ ۴ اول خبره یعنی د کفر طرف ته واپس کیږی د تحیر معنیٰ په لغت کښ نهٔ ده اګرچه تحیر دے سره لازم دے تفعّل تکرار د پاره راځی۔

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی د دروغو قسمونو سره ۱۲۔

تفسیر: ۴۲ دے کښ د هغه منافقانو ذکر دے څوک چه په جهاد کښ شریک نهٔ شول۔ عَرَضًا قَرِيْبًا یعنی مال غنیمت اسانئ سره په لاس راتللے او سفر درمیانه وے نو هغوئ به ضرور ستا سو سره تللے۔ لیکن مسافت زیات او با مشقت وو د دے وجے نه هغوئ لا نهٔ ړل۔
وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ الخ جهاد نه واپسئ سره به هغوئ ستا سو په مخکښ په دروغه قسمونه خوړی چه هغوئ کښ د جهاد استطاعت نهٔ وو کهٔ چرے څمونږ استطاعت وے نو ضرور به جهاد کښ شریک شوی و

دا د جنګ تبوک واقعه ده ۱۲. ۴۲ جهاد ته د تللو نه مخکښ څینو منافقانو د دروغو بهانو سره جهاد کښې د نه شریکیدلو اجازت د نبی علیه السلام نه اُوغوښتلو نبی علیه السلام د هغوئ بهانے صحیح اُومنلے او هغوئ ته ئے اجازت ورکړو. حال دا دے چه د هغوئ ټولے بهانے دروغ وے او هغوئ دا فیصله کړے وه چه جهاد ته د نه تللو اجازت اُوغواړی که چرے اجازت درکړی خو ډیره بهتره او که چرے اجازت درنکړی نو بیا هم جهاد کښې مه شریکیږئ د نبی علیه السلام اجازت ورکولو سره د هغوئ بد نیتئ او منافقت باندے پرده پریوتله د دے وجے نه الله تعالیٰ ډیر باریک عتاب اُوفرمائیلو چه موږ ستاسو دا لغزش خو معاف کړو لیکن تاسو هغوئ ته د جهاد نه د پاتے کیدلو اجازت ولے ورکړو؟ چه تاسو هغوئ ته اجازت نهٔ ورکولے نو د تللو په وخت کښې به د هغوئ د دروغو حقیقت ښکاره شوے وے چه دوئ کښې مخلص څوك دے او منافق څوك دے. قال مجاهد هؤلاء قوم قالوا نستأذن فی الجلوس فان اذن لنا جلسنا وان لم یؤذن لنا جلسنا (قرطبی ج ۸ ص۱۵۵) دا تنبیه د یو خاص واقعه تبوك باره کښې نازل شوه عام نهٔ ده په قرینه د فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ (نور).

۴۳ دے کښې د مخلصو صحابوؤ ذکر دے او مراد خاص واقعه ده یعنی دے خاص موقع باندے مخلص مؤمنانو خپل مال او ځان سره په جهاد کښې د شریکیدلو نه رخصت نهٔ غوښتلو. لیکن که چرے هغوئ په بله کومه موقع باندے د خپل یو ذاتی کار د پاره اجازت غواړی نو تاسو چه څنګه مناسب ګڼړئ اجازت ورکړئ لکه چه په سوره نور کښې ئے اُوفرمائیل فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ الخ. ۴۴ دا هم د مذکوره واقعے پورے مخصوص دے، دے کښې د دروغو بهانو سره د اجازت غوښتونکو منافقانو ذکر دے یعنی دے موقع باندے مخلصو مؤمنانو د جهاد نه د پاتے کیدلو اجازت نهٔ غوښتلو صرف هغه خلقو اجازت غوښتلو د چا چه په الله تعالیٰ او د قیامت په ورځ باندے ایمان نشته او خپل ایمان باندے اضطراب او شك تردّد کښې مبتلاء دی یعنی منافقان نو ګویا چه دے موقع باندے اجازت غوښتل د نفاق علامه وه. یَتَرَدَّدُوْنَ یقال فی العرف ردده فتردد یعنی اول خبرے ته واپس راتلل (صراح) تحیُّر یعنی حیرانیدل د دهٔ لغوی معنیٰ نهٔ ده لغوی معنیٰ خو اولنئ ده لیکن دویمه معنیٰ هغے سره لازم ده. یتحیرون لان التردد دیدن المتحیر کما ان الثبات دیدن المستبصر (مدارك ج ۲ ص۹۵).

وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَ

او كه هغوئ غوښتلے ف۵۵ وتل نو ضرور به ئے تيار كړے وے د هغے څه سامان او

لٰكِن كَرِهَ اللّٰهُ انْبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ

ليكن خوښ نه كړل الله تعالىٰ پاڅيدل د هغوئ نو منع ئے كړل هغوئ

وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقٰعِدِينَ ﴿۴۶﴾ لَوْ

او حكم اوشو چه كيني سره د ناستو كونكو ف۵ كه چرے

خَرَجُوا فِيكُمْ مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَّلَا

وتلے وے ف۵۷ ستاسو سره نو هيڅ به ئے نه وو زيات كړى ستاسو د پاره ليكن فساد او ضرور

أَوْضَعُوا خِلٰلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيكُمْ

اسونه به ئے زغلولے وو په مينځ ستاسو كښ په تلاش د اچولو د دشمنئ ف۵۸ او تاسو كښ

سَمّٰعُونَ لَهُمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيمٌۢ بِالظّٰلِمِينَ ﴿۴۷﴾

(څنے) جاسوسان دى د دوئ ف۵۹ او الله تعالىٰ ښه پيژنى ظالمان ف۶

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِن قَبْلُ وَقَلَّبُوا

بيشكه تلاش كوى هغوئ ف۶۱ د خفه كولو د پخوانه او اړه وى را اړه وى

لَكَ الْأُمُورَ حَتّٰى جَاءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ

ستا كارو نو دے چه را اورسيد رښتونے وعده او غالب شو حكم

اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُونَ ﴿۴۸﴾ وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ

د الله او هغوئ پاتے شول ناخوښه. او څنے د دوئ نه هغه دى ف۶۲ چه وائى

ائْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّي ۚ أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا ۗ

ما ته رخصت راكړه او ما ته م اچوه په گمراهئ كښ ف۶۳ واورئ په گمراهئ كښ خو هغوئ پريوتلى دى

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِالْكٰفِرِينَ ﴿۴۹﴾ إِن تُصِبْكَ

او بيشكه دوزخ را گيره وى كافرانو لره ف۶. كه اورسيږى تا ته ف۶۵

حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ

څهٔ نیکي نو هغه په دوئ بده لګي او که چرے اُورسیږی تا ته څهٔ سختي

يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ

نو وائی دوئ سنبال کړے وو موږ خو خپل کار مخکښ د دینه نه

وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ ﴿٥٠﴾

او واپس ګرځي دوئ او دوئ خوشحالیانے کوی۔

نکات: ۱ د مهرجبّاریت وجه ده ۱۲۔ ۲ لام ابتدائیه تاکیدیه دے نافیه نهٔ دے ۱۲۔ ۳ دَاَوْضَعُوْا د فاعل نه حال دے ۱۲۔ ۴ ای لمخالفة الرسول ۱۲۔ ۵ یعني د رومیانو ښځو خائسته لیدلو سره به ځمانه زنا اُوشي ۱۲۔ ۶ یعني کله چه د خپلو مجلسونو ته واپس کیږی جنګ ته واپس کیدل مراد نهٔ دے ځکه چه هغوئ خو جنګ ته نهٔ دی تللی۔

موضح قرآن ف ۱ اسونه به ئے زغلولے او ستا سو مینځ کښ به ئے د فتنے اچولو کوشش کولے ۱۲۔ ف ۲ یو منافق جد بن قیس بهانه اوکړه چه د رومیانو ښځے ښائسته دی هغه ملک ته تللو سره به زهٔ په ګناه کښ واقع شم اجازت راکړه چه سفر ته لاړ نهٔ شم لیکن مال خرچ کولو سره امداد اُوکړم۔

فتح الرحمٰن ف ۱ او دا تصویر دے د اچولو د هغه مضبوطے ارادے د پاتے کیدلو د هغوئ په زړونو کښ ۱۲۔ ف ۲ یعني په فتنه کښ ئے کوشش کولو ۱۲۔ ف ۳ یعني د هغوئ خبر قبلوی ۱۲۔ ف ۴ یعني ما د روم ملک ته مهٔ بیایئ ځکه چه د رومیانو خائست لیدلو سره به زهٔ په فتنه کښ واچولے شم ۱۲۔ ف ۵ یعني پنهان باعداء موافقت کرده ایم یا از سفر تخلف نموده ایم مارا هیچ باک نیست

تفسیر: ۴۵ دا هم د هغوئ د منافقت دلیل دے چه هغوئ د فراخئ باوجود جهاد د پاره سامان نهٔ وو تیار کړے که چرے نیک نیتئ سره د هغوئ اراده جهاد کښ د شریکیدلو وے نو هغوئ به جهاد د پاره څهٔ سامان خو تیار کړے وے لیکن الله تعالیٰ ته خوښه او منظوره نهٔ وه چه هغوئ په جهاد کښ شریک شي کد دے وجے نه هغهٔ د دوئ په زړونو کښ سُستي، کمزوری، او بزدلي واچوله دے د پاره چه په جهاد کښ شریک نهٔ شي۔ اِنْبِعَاث، د جهاد د پاره پاڅیدل۔ فَثَبَّطَ، هغوئ ئے کینول او د مهرجبّاریت په وجے سره ئے د هغوئ د زړونو نه د جهاد شوق واخستلو۔

۴۶ خَبَالًا، یعني فساد او خرابي۔ وَلَا اَوْضَعُوْا، لا نافیه نهٔ دے بلکه لام

ابتدائیه تاکید یه دے ـ یَبْغُوْنَ. دا اَوْضَعُوْا د ضمیر نه حال دے مطلب دا دے چه کهٔ چرے دا منافقان ستاسو سره په جهاد کښ شریک وے نو تاسو نه د فائدے رسولو په ځائے به ئے ستاسو مینځ کښ د اختلاف اچولو کوشش کولے یعنی وَ لَاَ سْرَعُوْا فیکم وَسَارُوْا بَیْنَکُمْ بِاَلْقَاءِ النمیمة (خازن ج ۳ صـ...).

وَفِیْکُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ، یعنی ځنے منافقان تاسو کښ پاتے کیږی او خپلو مشرانو او سردارانو د پاره د جاسوسئ کار کوی او ستاسو پټ رازونه هغوئ ته رسوی.

۴۷ یعنی د دینه مخکښ هغوئ هر قسمه مخالفت ستا کړے دے او هغه کومه یوه حیله ده چه هغوئ ستاسو په مخالفت کښ استعمال نهٔ کړه تر دے چه الله تعالیٰ د هغوئ هر کوشش ناکام کړو او هره حیله ئے باطله کړه او حق دین ئے د هغوئ په باطل دینونو غالب کړو.

۴۸ جد بن قیس منافق د شرارت په طور نبی علیه السلام ته اُوئیل چه زهٔ یو عاشق مزاج سړے یم د دے وجے نه تاسو ما ته د جهاد نه اجازت راکړئ ځکه چه د رومیانو ښځو لیدلو سره به زهٔ صبر اُونکړے شم او په فتنه کښ به پریوځم. دا د غزوهٔ تبوک واقعه ده په کومه کښ چه رومیانو سره جنګ وو. اَلَا فِی الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا، الله تعالیٰ په جواب کښ اُوفرمائیل چه هغوئ خو د دے فتنے نه ویرېږی لیکن هغوئ دا خیال نهٔ کوی چه د منافقت او مخالفتِ رسول په وجه هغوئ د دینه په ډیره لویه فتنه کښ پریوتلی دی چه د هغې انجام کښ به هغوئ جهنم کښ غورځولے شی چه د هغې اُور به هغوئ نخلور وارو طرفونو نه په خپله ګیره کښ واخلی. قال الجد قد عرف قومی انی مغرم بالنساء وانی اخشی ان رایت بنات بنی الاصفر الا اصبر عنهن فلا تفتنی واذن لی فی القعود الخ (قرطبی ج ۸ صـ۱۵۸).

۴۹ د حَسَنَةٌ نه فتح، نصرت، غنیمت مراد دے او مُصِیْبَةٌ نه شدت او وقتی شکست مراد دے یعنی کهٔ چرے تاسو ته په دُشمن فتح حاصل شی او مالِ غنیمت لاس ته راشی نو هغوئ په زړهٔ کښ خفه کیږی او ډیر په غم کښ وی او کهٔ چرے تاسو ته څهٔ تکلیف اُورسیږی نو وائی مونږ ښهٔ پاتے شو چه د احتیاط نه مو کار واخستو او دا سے موقعے ته حاضر نهٔ شولو او د ګپو نو نه خوشحاله خوشحاله خپلو کورونو ته واپس ځی. دینه هم هغه منافقان مراد دی کوم چه په جنګ کښ نهٔ وو شریک شوے.

قُلْ لَّنْ یُّصِیْبَنَآ اِلَّا مَا کَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ هُوَ

تهٔ او وایه هرګز به نهٔ رسیږی مونږ ته څه لیکن هغه چه اُولیکل الله مونږ د پاره بس هغه

مَوْلٰىنَا ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۱﴾

کارساز زمونږ او په کار دی په الله بهروسه کول مؤمنانو لره۔

قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى

ته ووایه آیا تاسو امید کوئ په حق کښې زمونږ لیکن د یو

الْحُسْنَيَيْنِ ۖ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ

د دوو نیکونه ځنی او مونږ امید لرو ستاسو په حق کښې

اَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ

چه واچوی تاسو باندې الله څه عذاب د خپل جانبه

اَوْ بِاَيْدِيْنَا ۖ فَتَرَبَّصُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ

یا زمونږ په لاسونو۔ نو انتظار کوئ بیشکه مونږ هم ستاسو سره

مُّتَرَبِّصُوْنَ ﴿۵۲﴾ قُلْ اَنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا

انتظار کوو۔ او وایه چه (مال) خرچ کړئ ته په خوښه یا په ناخوښه

لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ۖ اِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا

هرګز به قبول نه شي ستاسو نه بیشکه تاسو خلق یئ

فٰسِقِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ

نافرمان ځنې۔ او موقوف نه شول ځنې قبلیدل د دوئ

نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ اَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ

د خرچ لیکن دې خبرې باندې چه هغوئ منکر شول د الله تعالیٰ نه او د رسول ګ هغهٔ نه

وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى

او نهٔ راځي مانځه له لیکن دوئ په مات زړه

وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿۵۴﴾ فَلَا

او نهٔ خرچ کوی لیکن دوئ په ناخوښئ (مات زړه) نو

تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ۭ اِنَّمَا

تعجب مهٔ کوه تهٔ د هغوئ په مال او اولاد باندې بیشکه

يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

صرف غواړی الله چه عذاب ورکړی هغوئ لره د دې څیزونو د وجې نه په ژوند د دنیا کښ ف۱

وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۵۵﴾

او اُوځی روحونه د هغوئ او دغه وخت هغوئ کافران باتې شی ف۲.

نکات: ف۱ یعنی چه کله تاسو د جنګ نه واپس راشئ ۱۲۔
ف۲ ستاسو د طرفه زور راؤړلو سره یا د دیته بغیر دینه د الله تعالیٰ رضا مراد نهٔ ده ځکه چه منافق به د الله تعالیٰ د رضا د پاره خرچ نهٔ کولو ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ هغوئ چه کوم مال خرچ کړې دو تو جواب ورته ملاؤ شو چه د بے اعتقاد و مال قبول نهٔ دے۔

ف۲ یعنی دا تعجب مهٔ کوه چه بے دینو ته الله تعالیٰ نعمت ولے ورکړو د بے دینو په حق کښ مال او اولاد عذاب دے ځکه چه د هغوئ زړونه دِ دے پسے همیشه پریشان دی او د هغے د فکر ته نهٔ خلاصیږی تر مرګه پورے تر څو چه توبه اُونهٔ باسی یا نیکی او تقوی غوره کړی ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی فتح یا شهادت ۱۲۔ ف۲ یعنی د مال په جمع کولو او د اولاد په حفاظت او افسوس په هغے کوم چه فوت شی ۱۲۔

تفسیر: ۵۱ تاسو او وایئ خیر او شر د الله تعالیٰ د طرفه مقدر دے او څهٔ چه هغهٔ زمونږ په قسمت کښ لیکلی دی هغهٔ به ضرور کیږی او زمونږ بهروسه په الله تعالیٰ ده او د مؤمن شان دے چه هغه په الله تعالیٰ باندے بهروسه اوکړی۔ وحق المؤمنين ان لا يتوكلوا على غير الله (مدارك ج ۲ ص ۹۹)
۵۲ یعنی کله چه تاسو واپس راشئ د جهاد نه نو دے منافقانو ته او وایئ چه زمونږ باره کښ تاسو د یو بے خیرے توقع لرئ چه الله تعالیٰ تاسو په یو آسمانی عذاب سره هلاک کړی یا تاسو زمونږ په لاسو تو هلاک کړے شئ د دے وجے نه تاسو زمونږ د انجام انتظار کوئ او مونږ به ستاسو د انجام انتظار کوو۔ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ، یعنی فتح یا شهادت ۱۲۔
۵۳ طَوْعًا بغیر د الزام نه او کَرْهًا بالالزام ځکه چه منافقانو به د الله تعالیٰ

دَ رضا دَ پاره خرچ نهٔ کولو. منافقانو کښې چونکه دَ اعمالو دَ قبلیدو لوئے شرط موجود نهٔ دے یعنی خالص ایمان نشته دَ دے وجے نه دَ هغوئی هیڅ یو عمل دَ نفاق له قسم نه یا غیر دَ دینه دَ خدائے په نزد به قبول نهٔ وی.

۵۳ دا دَ دے منافقانو دَ صدقاتو دَ نهٔ قبلیدو وجه ده یعنی اگرچه هغوئی په ظاهره مونځونه هم کوی او خرچ هم کوی لیکن دَ دوی په زړونو کښې ایمان نشته دَ دوئی زړهٔ کفر او نفاق سره ګنده دے هم داوجه ده چه مونځ خشوع خضوع (عاجزئی) او پوره تیاری سره نهٔ کوی او که خرچ هم کوی نو په مات زړهٔ او مجبوره ئے کوی او دے سره دَ دوئی مقصد دَ الله تعالی رضا حاصلول نهٔ وی. ۵۴ دَ دوئی دَ مال او اولاد ډیر والے دَ دوئ په حق کښې بهتر نهٔ دے دا دوئی ته ځکه ورکړے شوید ے چه دَ دے په ذریعه به ئے په دُنیا کښې هم عذاب کښې مبتلا کړی او دَ دوئی زړونه دَ مال او اولاد دَ محبت نه پوره په پوره ډک کړے شویدی دَ دے وجے نه دَ الله په لار کښې دَ خرچ کولو حکم سره او په جهاد وغیره کښې دَ دوئی دَ اولاد قیدیدل دَ دوئی دَ پاره یو دُنیوی عذاب دے.

وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ وَمَا هُم مِّنكُمْ

او قسمونه خوری هغه په الله تعالی چه بیشکه هغوئی ستاسو دی او نهٔ دی هغوئی ستاسو نه

وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴿٥٦﴾ لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً

لیکن (ستاسو نه) هغه خلق ویریږی که چرے هغوئی بیا موی ځائے دَ پناه

أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ

یا غار یا یل کوم ځائے دَ ننوتلو نو ګرځیدلی به وو هغے طرف ته چه

يَجْمَحُونَ ﴿٥٧﴾ وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ

رسئی به ئے شلولے. او ځنې دوئ کښې هغه دی چه عیب لګوی په تا باندے په تقسیمولو دَ غنیمت کښے

فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا

نو که چرے هغوئی ته ملاؤ شی دَ هغے نه نو راضی وی او که چرے ملاؤ نهٔ شی

مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا

دَ هغے نه نو هغه وخت هغوئی په قهریږی او ښه به وه که چرے هغوئی راضی شوے وے

مَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ

په هغې کوم چه ورکړل هغوئی ته الله او رسول د هغهٔ او وئیلی ئې وے چه کافی دے موږ لره الله

سَيُؤْتِيْنَا اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَرَسُوْلُهٗۤ اِنَّآ

را به کړی موږ ته الله د خپل فضل نه او رسول د هغهٔ بیشکه

اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوْنَ ﴿۵۹﴾ اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ

موږ له خو الله تعالیٰ پکار دے. بیشکه زکوٰة چه کوم دے نو هغه حق دے د مفلس

وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ

اوو محتاجانو او د زکوٰة کار بانده د تلونکو او د چاچه زړهٔ

قُلُوْبُهُمْ وَفِى الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِىْ

ساتل منظور دی ئے او په ازادولو د څټونو کښ او په چاچه قرض وی او په

سَبِيْلِ اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۭ فَرِيْضَةً مِّنَ

لاره د الله تعالیٰ کښ ئے او د لار مسافر مقرر شوے دے د

اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۶۰﴾

الله نه او الله تعالیٰ هر څهٔ نه خبر حکمت والا دے.

نکات: ۱ اذا رجعت الیهم ۱۲. ۲ ای من الغنائم ۱۲. ۳ دا لفظ الله تعالیٰ پورے مختص دے غیر الله بانده د دهٔ اطلاق نهٔ کیږی ۱۲. ۴ ای من الغنائم. د آتی یؤتی اطلاق به په الله تعالیٰ ما فوق الاسباب او غیر الله بانده ما تحت الاسباب وی ۱۲.

موضح قرآن ۱ مفلس هغه دے چاسره چه مال نهٔ وی اګرچه حاجت ئے پوره کیږی لکه د هرمے ورځے محنت کونکے او محتاج هغه دے چه د چا حاجت او ضرورت نهٔ پوره کیږی. او د زکوٰة عامل چه هغهٔ ته د میاشتے خرچه ملاویږی د هغهٔ د خرچ موافق او مؤلفة القلوب هغه خلق وو چه په طمع مسلمانان شول لیکن د قوم سرداران وو د دے په طفیل هغوئی رشتونی مسلمانان هم شول آوس عالمان هغوئی نهٔ شماری او په څټونو ازادولو کښ د غلام په ازادولو کښ یا مکاتب یا قیدی فدیه

در کړی د قیدِ نه ئے ازاد کړی او تاوان دار چه د قرض برابر مال نه لری او د الله تعالی په لار کښ یعنی د جهاد خرچه او مسافر چه بے خرچے وی اگرچه په کور کښ هر څهٔ لری ۱۲ منه رح۔

فتح الرحمن ف۱ یعنی ضعیف الاسلام ۱۲۔ ف۲ یعنی جهاد ۱۲۔

تفسیر: ۵۵ یعنی چه کله تاسو د جنگ نه فارغ شئ او واپس مدینے ته لاړ شئ نو دا منافقان به د دروغو قسمونه خوړی تا سو ته د یقین در کولو کوشش به کوی چه هغوئ مخلص مؤمنان او ستاسو رشتونی تابعداردی لیکن یا دلرئ د دے خلقو ستاسو جماعت سره هیڅ تعلق نشته دوئ محض د ویرے د وجے نه ستاسو خوشامد ے کوی او د اسلام اظهار کوی۔
لَوۡ یَجِدُوۡنَ الخ کهٔ چرے د قتل او قید نه د بچ کیدلو د پاره هغوئ ته د پناه ځائے ملاؤ شی یا هغوئ د غرونو په غارونو کښ او د زمکے په سُرنګونو کښ پټ شی او ځان بچ کړی نو هغوئ به دِے مورچو کښ ننوځی او پټ به شی او ستاسو د خوشامد کولو او د اسلام ظاهرولو ضرورت به محسوس نکړی.
ومعنی الآیة انهم کارهون من مصاحبتکم اشد الکراهة لو یجدون مخلصا منکم لفارقوکم (مظهری ج۴ ص۲۲۹)
۵۶ دے کښ د هغه منافقانو ذکر دے چه په نبی علیه السلام باندے ئے په تقسیم د صدقاتو کښ د انصاف نهٔ کولو الزام لګولو یو ځل هغوئ ته د هوازن نه د حاصل شوو اموالو غنیمت تقسیم کولو نو یو منافق معتب بن قشیر اوئیل او یاسیدو چه دا تقسیم په انصاف مبنی نهٔ دے نبی علیه السلام او فرمائیل "کهٔ چرے الله او د هغهٔ نبی انصاف نهٔ کوی نو بیا به څوک انصاف کوی". دا ایت دِے باره کښ نازل شو. اصل خبره دا وه چه دِے خلقو به محض د ځان او مال غنیمت د لالچ د وجے نه د اسلام اظهار کولو کهٔ چرے هغوئ ته به ډیر مقدار کښ مال ملاؤ شو نو خوشحال به وو او کهٔ چرے ملاؤ به نهٔ شو یا به کم ملاؤ شو نو خفه به شول دا قسم خبرے به ئے کولے۔ ۵۷ دا پوره ایت په مقام د شرط کښ دے او جواب شرط محذوف دے ای لکان خیرالهم یعنی کوم څهٔ چه د الله تعالی رسول د مال غنیمت نه دوئ ته ورکړے وو کهٔ چرے هغوئ په دِے صبر کړے وے او وئیلی ئے وے موږ ته د مال ضرورت نشته موږ د پاره الله تعالی کافی دے الله تعالی به موږ خپل فضل او کرم سره مالدار کړی او د الله تعالی رسول به په راتلونکی وخت کښ په بیوه موقع باندے موږ ته د صدقاتو نه یا غنیمتونو نه راکړی ځموږ دا کمے به پوره کړی او ځموږ د مال دولت

هیڅ پرواه نشته خو د الله تعالیٰ رضا پکار ده او بس نو داخبره په دوئ په حق کښ دنیا او اخرت کښ بهتره وه. مَا اٰتٰهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ کښ د رسول د ورکړے نه د مالِ غنیمت نه ورکول مراد دے (کما فی المظهری ج ۴ ص۲۳۵ والمدارک ص۱۱۵ والخازن ج ۳ ص۱۱۰ وابن جریر وابن کثیر وغیرها) دینه د نبی علیه السلام په غائبانه حاجاتو کښ ورکړه ته ده مراد لکه چه د اهلِ بدعتو خیال دے په حدیث کښ چه کوم آنَا قَاسِمٌ راغلے دے هغے نه قَاسِمٌ للعلم والغنائم مراد دے.

۵۸ اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ الخ دلته ئے د صدقاتو مصارف او د مستحقینو ذکر اوکړو. مقصد دا دے چه د خدائے پیغمبر صدقات (زکوٰة او د غنیمت خمس وغیره) د دے په مستحقینو باندے تقسیموی او په تا سو باندے د بے انصافئ الزام غلط دے. دا شان کوم خلق چه د صدقاتو مستحقین نهٔ دی د هغوئ طمع ختمه شی د صدقاتو مستحقین اتهٔ قسمونه بیان شوی دی. اَلْفُقَرَآءِ، فقیر هغه دے چا سره چه د کفایت په قدر څهٔ مال وی او مسکین هغهٔ دے چه هغهٔ سره هیڅ هم نهٔ وی. وَالْعٰمِلِیْنَ عَلَیْهَا، صدقات وصولونکی هغهٔ ته د د صدقاتو نه حق الخدمت ورکړے شی. وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ، د اسلام په شروع کښ به نبی علیه السلام ځنو با اثر او مالدارنو مسلمانانو ته د صدقاتو نه څهٔ شے ورکولو دے د پاره چه د هغوئ په زړونو کښ د اسلام مینه او محبت ځائے اونیسی اوس د مؤلفة القلوب حصه ساقط شوید ه په دے چه هغوئ غنیان وی کهٔ چرے توی مسلمانان فقیران وی نو د تالیف قلب د پاره د صدقاتو نه هغوئ ته ورکړه جائز ده. وَفِی الرِّقَابِ د مکاتب غلام امداد کول مراد دے. وَالْغٰرِمِیْنَ، چه په چا باندے قرض وی. وَفِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ، فقراء، مجاهدین او حاجیان. چه د هغوئ د لارے توښه سفر کښ ختم شوے وی او د دینی علوموطالبان مراد دی. وَابْنِ السَّبِیْلِ. هغه مسافر چه د هغهٔ سره د سفر په دوران کښ د لارے توښه ختم شوے وی ۱۲

وَمِنْهُمُ الَّذِیْنَ یُؤْذُوْنَ النَّبِیَّ وَیَقُوْلُوْنَ

او ځنے دوئ کښ هغه دی چه بدګوئی کوی د رسول ﷺ او وائی چه

هُوَ اُذُنٌ ؕ قُلْ اُذُنُ خَیْرٍ لَّکُمْ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

دا سړے خو غوږ ورنه دی مګ ته او وایه غوږ ورنه دی د نیکئ ستاسو د پاره یقین لری په الله باندے

وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ آمَنُوا
او یقین کوی په خبره د مسلمانانو او رحمت دے په حق کښې د ایمان والو
مِنكُمْ ۚ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ
ستاسو نه او کوم خلق چه بدګوئی کوی د رسول د الله تعالی
لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦١﴾ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ
هغوئ د پاره عذاب دے دردناک ف. قسمونه خوری په الله تعالی ستاسو په مخکښې
لِيُرْضُوكُمْ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ
د دې د پاره چه راضی کړی تاسو او الله او رسول د هغهٔ ته ډیر ضروری دی راضی کول
إِن كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّهُ مَن
که چرے هغوئ ایمان لری ف. آیا دوئ ته نهٔ ده معلومه چه بیشکه څوک چه
يُحَادِدِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ
مقابله او کړی د الله تعالی او د رسول د هغهٔ سره نو بیشکه هغهٔ د پاره دے اور د دوزخ
خَالِدًا فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾
او همیشه به اوسیږی په هغے کښې بس دا ده رسوائی لویه۔

نکات: سلے یعنی څوک چه هرڅهٔ وائی هغه مني ۱۲۔ سلے یعنی صرف ریښتونے خبرے مني او صرف د الله تعالی او د مؤمنانو خبرے مني ۱۲۔
سلے تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف منافقانو به حضرت باندے عیب لګولو چه دا سړے هرے خبرے ته غوږ کیږدی او مني ئے نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د خپل وقار په وجے سره او حیا او کریم النفس کیدلو په وجے سره به د دروغژن دروغ پیژندل لیکن بیا به ئے هم په هغوئ ګرفت نهٔ کولو او چشم پوشی به ئے کوله لکه چه هغوئ په دے پوهه نهٔ دی نو الله تعالی اوفرمائیل چه دا خوئی د نبی ستاسو په حق کښې بهتر دے ګنې نو اول به تاسو اونیولے شئ ۱۲ منه رح۔
ف که کوم وخت به نبی علیه السلام د دوئ خیانت دهوکه نیوله نو د

مسلمانانو په مخکښ په ئے قسمونه خوړل چه څمونږ په زړه کښ خراب
نیت نهٔ وو ډے ډیاره چه هغوئ راضی کړی اوخپل طرف دارئ ئے
اوګرځوی. پوهه نهٔ شول چه دا دهوکه بازی د الله تعالیٰ اورسول سره
پکار نهٔ راځی ۱۲.

فتح الرحمٰن ۱ یعنی هرڅه چه ورته څوک اووائی هغه
قبلوی او منی ۱۲.

تفسیر: وَمِنْهُمُ الَّذِیْنَ الخ دا د منافقانو د یو شرارت ذکر دے چه
هغوئ په بد زبانئ اوطعن تشنیع سره رسول خدا صلی الله علیه وسلم
ته ضرر رسولو هُوَ اُذُنٌ ، دا د منافقانو قول دے یعنی دا نبی خو غوږ دونه
دی څنګه چه غوږ هره خبره اوری داشان دے هم اوریدلے شوے خبره
منی. قُلْ اُذُنُ خَیْرٍ لَّکُمْ ، الله رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته حکم
ورکړو چه تاسو د دے په جواب کښ اووایئ چه د الله تعالیٰ پیغمبر خو صرف
رښتونے خبره منی یعنی صرف د الله تعالیٰ او د مؤمنانو خبره او پیغمبر د
مؤمنانو د پاره رحمت دے کوم سړے چه د ایمان اظهار کوی نو هغوئ
د دهٔ ایمان قبلوی او د رحمت او شفقت په وجه د هغهٔ پټ رازنهٔ ښکاره
کوی. یا مخلص مؤمنان مراد دی هغوئ د پاره د نبی علیه السلام د رحمت
کیدلو ته مطلب دا دے چه د نبی علیه السلام په وجه هغوئ ته د کفر نه
نجات ملاؤ شو او د هدایت لاره باندے روان شول چه هغے سره دوئ
ته د دین او دُنیا کامیابئ او سعادت نصیب شو. ای وهو رحمة للذین
امنوا منکم ای اظهروا الایمان ایها المنافقون حیث یقبل ایمانکم الظاهر
ولایکشف اسرارکم ولا یفعل بکم ما یفعل بالمشرکین او هو رحمة
للمؤمنین حیث استنقذهم من الکفر الی الایمان ویشفع لهم فی الاخرة
بایمانهم فی الدنیا (مدارک ج ۲ ص ۱۰۱). یَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ الخ لَکُمْ او
لِیُرْضُوْکُمْ کښ ضمیر خطاب مؤمنانو ته کنایه ده. منافقانو به د مؤمنانو
په مخکښ قسمونه خوړل خپله صفائی به ئے کوله او د هغوئ د خوشحالولو
کوشش به ئے کولو الله تعالیٰ اوفرمائیل که چرے هغوئ واقعی مؤمنان
وے نو د هغوئ فرض وو چه هغوئ د الله تعالیٰ او د رسول (صلی الله علیه
وسلم) خوشحالولو کوشش کولے داشان خو هغوئ نهٔ ده کړے نو صرف
د مسلمانانو خوشحالولو نه څهٔ حاصلیږی. اَلَمْ یَعْلَمُوْا الخ دا تخویف
اُخروی دے ۱۲.

يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ اَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ

ويره كوي منافقان له دې چه نازل شي په مسلمانانو باندې

سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلِ

داسې سورت چه خبر وركړي هغوئ ته كوم چه په زړونو د دوئ كښې دي ته ووايه

اسْتَهْزِءُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ ﴿۶۴﴾

تاسو مسخرې كوئ الله تعالى به راښكاره كړي هغه څيز چه د كوم نه تاسو ويره ده

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا

كه ته د دوئ نه تپوس اوكړې نو وائي به چه موږ خو

نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ؕ قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ

خبرې اترې كولې او زړه مو خوشحالولو ته ووايه آيا د الله تعالى سره او د هغه د حكمونو سره

وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۶۵﴾ لَا تَعْتَذِرُوْا

او د رسول د هغه سره تاسو توقې كوئ بهانې مه كوئ

قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ؕ اِنْ نَّعْفُ عَنْ

بيشكه كافران شوئ پخپله تاسو روستو د ايمان ظاهرولو نه كه معاف كړو موږ د

طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةًۢ بِاَنَّهُمْ

بعض ستاسو نه (توخانحا) عذاب به وركړو بعضو ته په دې وجه

كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۶۶﴾ اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ

چه هغوئ گناهګار وو منافق سړي او منافقانې ښځې

بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ

د ټولو يو چال دې ښائي بده خبره

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ

او منع كوي د ښې خبرې نه او بند ساتي

أَيْدِيَهُمْ ۚ نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۚ إِنَّ

موټي خپل هیر ئے کړو الله تعالی نو هغهٔ هیر کړل دوئ بیشکه

الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾

منافقان هم دوئ نافرمان دی ف۲ -

نکات : ۱ هغه منافقانو باندے کوم چه د نفاق په طور جهاد د پاره وتلي دو او په لاره کښ ئے د مخالفت خبرے کولے ۱۲ ۲ یعني هغوئ ته د ایمان راوړلو توفیق ورکړی ۱۲ ۳ د منافقانو د حالات بیان دے سره د تخویف أخری نه ۱۲ -

موضح قرآن | ف هر څوک چه د دین په خبرو پوهے تو ئے کوی اگر چه د زړهٔ نه منکروی هغه کافر شوکني منافق خو ضرور دے د دین په خبرو کښ ظاهر او باطن کښ با ادب او سیدل ضروری دی ۱۲ منه رحمه الله - ف۲ یعنی د بے اعتقاد، صلاحیت څهٔ معتبر دے هغه هم فاسق أوګڼړه ۱۲ منه -

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی خپل زبانی ایمان ۱۲ -

تفسیر : ۶۴ يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ الخ دے منافقانوته داخطره هم وه هسے نه چه چرته د دوئ متعلق ایتونه نازل شی او د هغوئ دلی نفاق، کفر او عناد ظاهر کړی هغوئ ذلیل او رسوا کړی.

قُلِ اسْتَهْزِءُوْا ، دا امر تهدیدی دے مخرج ای مظهر، مَا تَحْذَرُوْنَ نه د هغوئ نفاق مراد دے چه د هغے د ظاهریدلو هغوئ سره ویره وه یعني اسلام او پیغمبر اسلام پوره ئے نو ئے أوکړئ ترڅو پورے به ئے کوئ اخر به الله ستاسو د زړهٔ کفر او عناد ظاهر کړی ۱۲ -

۶۵ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ الخ ، دے کښ د هغه منافقانو ذکر دے چا چه د نفاق په وجه غزوهٔ تبوک کښ شرکت أوکړو لیکن د سفر په دوران کښ ئے هم د شرارت هیڅ یوه موقع ضائع نهٔ کړه لاره کښ ځینے منافقان د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه څکښ څکښ تلل خپل مینځ کښ ئے وئیل چه دا سړئے (نبی علیه السلام ته اشاره وه) به د ملکِ شام محلات او د روم قلعه ګانے فتح کړی دے خوب وینی. الله تعالی وحی سره د دے خبرو اطلاع ورکړه نبی علیه السلام هغوئ منع کړل ورته ئے أوفرمائیل تاسو دا خبرے کولے نو هغوئ صفا انکار أوکړو او وے وئیل تا اے د الله نبی مونږ خو

رف دَ نبوتو په خاطر بو تحوابل خوا خبرے کولے چه سفر په آسانئ سره اوکړو
دَ دوئ دا جواب ښکاره دروغ وو دَ دے وجے نه دِ ے ته هیڅ وقعت او توجه
مهٔ ورکوئ الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه دوئ نه او وایه ظالمانو تا سو دَ الله تعالیٰ دِ دے آیتونو
او دَ هغهٔ رسول پورے ټوقے کوئ.

۶۳ لَا تَعْتَذِرُوْا الخ، دا منافقانو ته ویره ورکول دی. یعنی اے منافقانو
غلط عذرونه او دروغ بهانے مهٔ کوئ تاسو دَ ایمان ظاهرولو نه روستو
استهزاء ټوقو مسخرو سره خپل کفر ظاهر کړے دے کهٔ چرے مونږ یو جماعت
ته دَ توبے په وجے سره معافی اوکړو نو بل جماعت ته به ضرور عذاب
ورکړو ځکه چه هغوئ مجرمان دی او هغوئ دَ خپل جرم نه نهٔ دی توبه کړے
دَ دے مسخره کوُنکو منافقانو نه چه چا توبه ویستلے ده او په اخلاص سره ئے
ایمان راؤړو هغه معاف کړے شو لکه چه مخشی بن حمیر په صدقِ دل
سره ایمان قبول کړو او دَ نفاق نه ئے توبه اُویستله. الله تعالیٰ هغهٔ ته
په جنګ یمامه کښ دَ شرکت توفیق ورکړو او شهادت ئے ورنصیب کړو او
چا چه توبه نهٔ کړه هغوئ په عذاب کښ مبتلا شول.

۶۴ اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ الخ، یعنی دا منافقان خپل مینځ کښ دَ یو بل سره
متفق دی دَ دئ ټول مقصد یو دے او دَ دوئ اراده هم یو دی دَ دوئ
حالات دَ ایمان والو نه بالکل مختلف دی هغوئ دَ خراب کارونو (دَ کفر
او نافرمانئ) خلقو ته ترغیب ورکوئ او دَ نیک کارونو (ایمان او اطاعت)
نه خلق منع کوئ او دَ الله تعالیٰ په لاره کښ دَ خرچ کولو نه بخل کوئ.
نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ، دَ نسیان نه ترک (پریښودل) مراد دے یعنی منافقانو
دَ الله تعالیٰ دَ احکامو تابعداری پریښودله نو الله تعالیٰ هم هغوئ دَ خپل
توفیق او رحمت نه محروم کړل - غفلوا عن ذکره و ترکوا طاعته (فنسیهم)
فترکهم الله من توفیقه و هدایته فی الدنیا و رحمته فی الاخرة و ترکهم فی
عذابه (مظهری ج ۴ ص ۲۶۲).

وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ
وعده کړیده الله تعالیٰ منافقانو سړو او منافقانو ښځو سره او ټولو کافرانو سره
نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ
دَ اور دَ دوزخ همیشه به وی په هغے کښ هغه کافی دے دوئ دَ پاره

وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾
او لعنت کړی دی په دوی الله تعالیٰ او دوی دپاره دے عذاب برقرار پاتے کیدونکے.

كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا اَشَدَّ
لکه چه ستاسو نه وړاندے خلق ؛ وو زیات

مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ؕ
ستاسو نه په زور کښې او زیات ئے لرلو مال او اولاد

فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ
بیائے فائده واخستله د خپلے حصے نه بیا فائده اوچته کړه تاسو د خپلے حصے نه

كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ
څنګه چه فائده اخستے وه هغه خلقو مخکښې ستاسو نه خپلو حصو نه

وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا ؕ اُولٰٓئِكَ
تاسو هم روان یئ د هغوئ د چال په شان هغه خلق

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ
ضائع شول عملونه د هغوئ په دنیا کښې او آخرت کښې

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٩﴾ اَلَمْ يَاْتِهِمْ
او هغه خلق هم هغوئ پوره پوره په نقصان کښې. آیا نه دے رسیدلے هغوئ ته

نَبَاُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّ
خبر د هغه خلقو لکه کوم چه مخکښې وو د هغوئ نه قوم د نوح ؑ او

عَادٍ وَّثَمُوْدَ ۙ وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ وَاَصْحٰبِ
عادیانو او ثمودیانو او قوم د ابراهیم ؑ او د مدین والو

مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ
او د هغه کلو خبر چه الټه کړے شوی وو راغلی رسیدل هغوئ ته رسولان د هغوئ

بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

په صفا حکم راوړلو سره نو دا سے نه وُو الله تعالی چه ظلم ئے کړے وے په هغوی باندې

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿٧٠﴾

لیکن هغوئ ځانونو خپلو باندے ظلم کولو۔

نکات: ۱۔ خبر د مبتداء محذوف یعنی انتم ۱۲۔ ۲۔ تاسو د مخکښ خلقو پشان شبها توکښ داخل شوئ۔ ۳۔ تخویف دنیوی او التفات د خطاب نه غیبت طرف ته مراد کافران او منافقان دی ۱۲۔

تفسیر: ۶۸ وَعَدَ اللّٰهُ الخ دا منافقانو او کافرانو د پاره تخویف اُخروی دے کالذین من قبلکم ای انتم ایها الکفار کالذین من قبلکم فاستمتعوا بخلاقهم۔ کوم دنیوی عیش او تلذذ چه هغوی د پاره مقدر وو د هغے نه هغوئ فائده واخستله او کوم چه ستاسو د پاره مقدر وو هغے نه تاسو فائده واخستله۔ وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا او څنګه چه هغوئ باطل شبهات او لهو لعب کښ مشغول شول هغه شان تاسو مشغول شوئ۔ اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ الخ دنیا او اخرت کښ د هغوئ اعمال ضائع شول او هغوئ په هغے د څه قسم اجر او ثواب مستحق اُونه ګرځیدل او دنیا او اخرت کښ ئے تاوان بیا موندو اے کافرانو! بالکل هم داشان به ستاسو اعمال هم بے نتیجے او ضائع وی او په اخرت کښ به نامراد او تاوانیان یئ۔ ۶۹ اَلَمْ يَاْتِهِمْ الخ دا تخویف دنیوی دے، دے کښ د خطاب نه غیبت طرف ته التفات دے او ضمیر غائب نه کافران او منافقان مراد دی یعنی کافرانو او منافقانو له د تیر شوو قوموتو د حالاتو نه عبرت حاصلول پکار دی چه هغوئ څنګه د نافرمانئ په وجه هلاک کړے شول۔ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ الخ یعنی الله تعالی هغوئ هلاک کړل او په هغوئ باندے ئے ظلم او نکړو هغوئ په خپل ځان ظالمان وو او د ضد او انکار د وجے نه هغوئ په خپل ځان ظلم اوکړو۔

وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ

او ایمان والا سری او ایمان والا ښځے ۷۰ د یو بل مددګاران

بَعْضٍ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ

دی ښودل کوی د نیکئ حکم ے او منع کوی

عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُونَ

د خرابې خبرې نه او قائموي مونځ او ورکوي

الزَّكٰوةَ وَيُطِيعُونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ ؕ أُولٰٓئِكَ

زکوٰة او چلیږي په حکم د الله تعالیٰ او د رسول د هغهٔ هم دا خلق دي

سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ إِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۷۱﴾

چه رحم به اوکړي په دوئ باندې الله تعالیٰ بیشکه الله تعالیٰ غالب حکمت والا دے.

وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ

وعده کړیده الله تعالیٰ ایمان والو سړو او ایمان والو ښځو سره د باغونو

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ

چه بهیږي به لاندې د هغې نه نهرونه او همیشه به وي

فِيهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ

په هغې کښې او د صفا کورونو د اوسیدو په باغونو کښې

وَرِضْوٰنٌ مِّنَ اللّٰهِ أَكْبَرُ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

او رضامندي د الله تعالیٰ د ټولو نه لویه ده هم دا ده کامیابي

الْعَظِيمُ ﴿۷۲﴾ يٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ جٰهِدِ الْكُفَّارَ ع ۱۵

لویه اے نبی ﷺ جنګ اوکړه د کافرانو سره هم

وَالْمُنٰفِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَأْوٰىهُمْ

او منافقانو سره او سختي کوه په دوئ باندې او د دوئ ځائے

جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿۷۳﴾

دوزخ دے او هغه ډیر بد ځائے دے

نکات: ۱ د منافقانو مقابله کښې د مؤمنانو حالات سره د بشارت اخروی نه ۱۲ - ۲ منافقین د مدینې

منافقانو سره په ژبه جهاد دے نۀ چه عملی دِے د پاره چه خلق اُونۀ وائی چه پیغمبر مسلمانان قتل کوی ۱۲۔

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی په تورو سره ۱۲۔

تفسیر: ۶۷ وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ الخ د منافقانو په مقابله کښ د مؤمنانو صفتونه بیان کړے شوی دی یعنی هغوئ خپل مینځ کښ د یو بل همدرد او دوستان دی د نیک کارونو ترغیب ورکوی او خرابو کارونو نه منع کوی مونځ قائموی او زکوٰة ورکوی د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول اطاعت کوی۔ اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ـــــ تا ـــــ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ، مؤمنانو د پاره بشارت اُخروی دے۔

۶۸ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ الخ دِے کښ د کافرانو او منافقانو سره د جهاد کولو حکم ورکړے شو کافرانو سره جهاد بالسیف او منافقانو سره جهاد بالحجة والدلیل مراد دے یعنی دلائیلو او براهینو سره د هغوئ د شبهات، اعتراضات او مطاعن جواب ورکړه و حضرت شیخ قدس سرهٔ اُوفرمائیل د مدینے متورے د اطرافو منافقانو سره جهاد بالسیف کوه او کوم منافقان چه په مدینه منوره کښ دی هغوئ سره جهاد باللسان یعنی دلائیلو سره جهاد کوه دِے د پاره چه خلق دا الزام اُونۀ لګوی چه پیغمبر مسلمانان وژنی۔ قال ابن عباس امر بالجهاد مع الکفار بالسیف ومع المنافقین باللسان وشدة الزجر والتغلیظ (قرطبی ج ۸ ص ۲۰۴)۔

يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوْا ؕ وَلَقَدْ قَالُوْا

قسمونه خوری په الله تعالیٰ ف۱ چه نۀ دی ویلی موتږ او بشکه ویلی دے هغوئ

كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوْا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ

لفظ د کفر او منکر شول سره د اسلام نه

وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا ۚ وَمَا نَقَمُوْٓا

او قصد ئے کړے وو د هغه څیز کوم چه ملاؤ نۀ شو هغوئ ته او دا نۀ ول هرڅهٔ د هغے

اِلَّآ اَنْ اَغْنٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ

بدله وه چه دولت مند کړل هغوئ الله تعالیٰ او رسول د هغهٔ ف۲ خپل فضل سره ئے

فَإِن يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۖ وَإِن يَتَوَلَّوْا

نو که چرې توبه کړي نو غوره ده د دوئي په حق کښ لکه او که چرې نه مني

يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا

نو عذاب به ورکړي هغوئي ته الله تعالیٰ عذاب دردناک په دُنیا

وَالْآخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ مِن

او آخرت کښ او نیشته د دوئي د پاره په مخ د زمکې څوک

وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾ وَمِنْهُم مَّنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ

حمایتي او نه مددګار۔ او ځنې دوئي کښ هغه دي چه وعدې ئې کړې وه د الله سره که چرې

آتَانَا مِن فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ

راکړې مونږ ته د فضل خپل نه نو مونږ به ضرور خیرات کوؤ او شو به مونږ د

مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا آتَاهُم مِّن فَضْلِهِ

د نیکئي والو نه بیا ئې چه ورکړو هغوئي ته د فضل خپل نه

بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾

نو بخل ئې اوکړو په هغې کښ او اوګرځیدل او دوئي څنګ کوونکي وو۔

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ

بیا اوګرځوؤ اثر د هغې نفاق په زړونو د دوئي کښ تر هغې ورځې پورې

يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا

چه یو ځائې کیږي به هغوئي د هغه سره د دې وجې نه چه هغوئي خلاف اوکړه د الله تعالیٰ سره د هغې نه چه کومه وعده ئې کړې وه د الله سره او د وجې

كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿٧٧﴾

چه هغوئي دروغ وئیل

نکات: ۱ـ دا واقعه جنګ تبوک کښ د سفر په دوران کښ مخې ته راغله۔ ۲ـ کله چه منافقانو د نبی علیه السلام د غرنه د غورځولو اراده اوکړه۔

ــــ۳ ډ پیغمبر غنی کولونه یا مال غنیمت سره غنی کول مراد دی یا ډ غناء ډپاره دعا کول. ــــ۴ ډ مدینې ثعلبه بن حطب منافق طرف ته اشاره ده.

موضح قرآن ف اکثرو منافقانو به پټې شا پیغمبر علیه السلام پسې سپکې خبرې کولې او دین پورې به ئې ټوکې کولې چه کله به اوریدلے شول نو قسمونه ئې کول چه مونږ خو هیڅ نه دی کړی سوره منافقون کښ به هم داذکر راشی او داچه ئې اوفرمائیل چه فکر ئې کړے وو چه ورته ملاؤ نه شو یا خو دا مراد دے چه په لښکرکښ جنګ واقع شوے وو په هغې کښ ئې شیطانی شروع کړه چه ډ مهاجرینو او انصارو مینځ کښ اختلاف واچوی نبی علیه السلام اصلاح اوکړه په سوره منافقون کښ به راشی یا مراد دا دے چه دولس تنان په سفرکښ نیمه شپه جمع شول او غوښتل ئې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاسونه واچوی یو صحابی رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو یعنی حضرت عمار رضی الله عنه نوحضرت حذیفه هغه ته اوئیل چه دوئی اووهه نو بیا هغوئی اوتښتیدل. حضرت حذیفه ټول پیژندل لیکن ډ ظاهر ولو حکم ورته نه وو ۱۲.

فتح الرحمٰن ف مترجم وائی دا یو قسم تحکم دے والله اعلم ۱۲.

تفسیر: ۶۹ یَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ الخ دے ایت کښ دوه قصوته اشاره ده غزوهٔ تبوک کښ نبی علیه السلام خطبه اولوستله په هغې کښ نبی علیه السلام ډ منافقانو ذکر اوکړو کوم چه په جهاد کښ نهٔ وو شریک شوی نبی علیه السلام هغوئی ته پلیت او ناپاک اوئیل دے اوریدلو سره یو منافق جلاس بن سوید اوئیل کهٔ چرے محمد (صلی الله علیه وسلم) رښتیا وائی نو مونږ خو ډ خرونه هم ډیر خراب یو دا خبره یو مخلص مؤمن عامر بن قیس واوریدله هغهٔ نبی علیه السلام ته ډ دے ذکر اوکړو نبی علیه السلام جلاس را اوغوښتو تپوس ئې تری نه اوکړو نو هغهٔ قسمونه اوکړهٔ او انکار ئې اوکړو چه هغهٔ داسے هیڅ قسم خبره نهٔ ده کړے دے باندے الله تعالی اوفرمائیل وَلَقَدْ قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ. محنو لیکلی دی چه ډ دینه ډ عبدالله بن أبیّ قول مراد دے کوم چه په سوره منافقون کښ ذکر شویدے. یعنی لئن رجعنا الی المدینة لیخرجن الاعز منها الاذل. دویمه قصه وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا کښ ذکرشویده په غزوهٔ تبوک کښ منافقانو ډ نبی علیه السلام ډ هلاکولو منصوبه جوړه کړه لارکښ په یوکنډو کښ ئې دولس تنان مقرر کړل دے ډپاره چه کله نبی علیه السلام هغه ځائے ته تیریږی نو ناڅاپه حمله به وربانديے اوکړی او هغوئی به قتل کړی لیکن الله تعالی په ذریعه ډ جبرئیل علیه السلام

هغوئ دَ دے پروګرام نه خبر کړل. ۸۲ ۞ وَمَا نَقَمُوٓا الخ اخر دَ دے منافقانو
دَ اسلام او پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم سره دشمنی او عناد ولے دے؟
او دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ولے ناراض دی آیا دوئ
دا خبره نهٔ خوښوی چه الله تعالیٰ او دَ هغهٔ رسول دوئ مالدار کړل. حاصل
دا چه دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول خو دوئ باندے احسانات او انعامات
دی چه دَ هغے په موجودګئ کښ هغوئ لره اطاعت پکار وو کله چه نبی
علیه السلام مدینے ته تشریف راوړو هغه وخت دِ دے منافقانو ډیر تنګئ
ژوند تیرولو دَ نبی علیه السلام تشریف راوړلو سره او دَ اموال غنیمت دَ ډیروالی
سره دَ هغوئ ژوند ښهٔ شو دَ جلاس بن سوید یو نزدے رشته دار قتل
شو نو نبی علیه السلام دولس زره روپئ دَ دیت په (خون بها) طور ورکړے
چه هغے سره مالدار شو. انهم کانوا حین قدم رسول الله صلی الله علیه وسلم المدینة
فی ضنك من العیش لا یرکبون الخیل ولا یحوزون الغنیمة فاستغنوا بالغنائم
وقتل للجلاس مولیٰ فامر رسول الله صلی الله علیه وسلم بدیته اثنی عشر
الفاً فاستغنی (مدارك ج ۲ ص ۱۰۸. قرطبی ج ۸ ص ۲۰۸) دَ حضرت رسول الله صلی الله
علیه وسلم منافقانو لره غنی کولو نه مراد هم دا دے یعنی دَ غنیمت مالونو
سره ئے هغوئ مالدار کړل دینه ما فوق الاسباب غائبانه طور باندے
غنی کول مراد نهٔ دے کذا فی المدارك وابن جریر وابن کثیر.

۸۳ ۞ فَاِنْ يَّتُوْبُوْا الخ کله چه دا آیت نازل شو نو جلاس اُووئیل یا رسول الله، الله تعالیٰ
ما ته دَ توبے ګنجائش راکړیدے بیشکه ما دا مذکوره بالا الفاظ وئیلی وو او
په دروغه مِ قسم کړے وو دَ دے وجے نه زهٔ دَ دے ګناه او نفاق نه توبه
کوم او بښنه غواړم او دَ زړهٔ په صدق سره ایمان راوړم نو هغوئ دَ دهٔ
توبه قبوله کړه او هغهٔ هم په اخری وخت کښ دَ اخلاص ثبوت ورکړو.
وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا الخ دا په نفاق باندے دَ قائیم پاتے کیدونکو دَ پاره دُنیوی او
اُخروی تخویف دے. ۸۴ ۞ وَمِنْهُمْ مَّنْ الخ دِ دے آیت کښ دَ ثعلبه بن
حاطب نوم منافق واقعے طرف ته اشاره ده هغه دَ نبی علیه السلام په
خدمت کښ حاضر شو او عرض ئے اُوکړو یا رسول الله دُعا اُوکړئ چه الله
تعالیٰ ما ته ډیر دولت راکړی نبی علیه السلام اُوفرمائیل لږ شان مال
چه ته دَ هغے حقوق ادا کړے دَ هغے ډیر مال نه بهتر دے دَ کوم حقوقو
ادا کولو نه چه تا سو قاصر یئ. ثعلبه اصرار اُوکړو او وے وئیل خما په هغه
الله قسم چا چه تا سو رښتونی پیغمبر رالیږلی یئ که چرے هغهٔ ما ته مال
راکړو نو زهٔ به دَ هغے نه ټول حقونه کوم چه واجب دی ادا کوم نبی علیه السلام
دَ هغهٔ په حق کښ دُعا اُوکړه ثعلبه څو چیلئ واخستلے الله تعالیٰ په هغے کښ

دومره برکت واچولو او دومره ئے زیاتے کړے چه هغهٔ ډمدینے نه بهر په ځنګل کښ شپے صبا کولے چه ډ هغے نتیجه دا شوه چه هغهٔ نهٔ خو په مسجد نبوی کښ ډ پنځه وخته مونځ اداکولو نه محروم شو بلکه ډ جمعے په مانځه کښ هم غیر حاضر شو کله چه نبی علیه السلام ته معلومه شوه نو هغوئ ډ زکوٰة ډ وصولئ ډ پاره دوه زکوٰة وصولونکی اُولیږل چه هغه دهٔ واپس کړل او وے وئیل چه دا زکوٰة خو ټیکس دے (جزیه ده) اُوس لاړشئ زهٔ به سوچ اوکړم دے سره دا ایتونه نازل شول. کله چه ثعلبه ته ډ ایتونو پته اُولګیده نو ډ صدقے مال ئے واخستو ډ نبی علیه السلام په خدمت کښ حاضر شو نبی علیه السلام ډ هغهٔ نه صدقه قبوله نهٔ کړه او وے فرمائیل الله پاک زهٔ ستا ډ صدقے قبلولو نه منع کړے یم ډ نبی علیه السلام نه روستو حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ هم صدقه قبوله نکړه. فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا ډ اعقب فاعل الله تعالیٰ دے. یا بخل چه په بخلو کښ ضمنًا مذکور دے یعنی الله تعالیٰ ډ هغهٔ په زړهٔ کښ نفاق پیدا کړو یا ډ بخل ډ وجے نه ډ هغهٔ په زړهٔ کښ ئے نفاق واچولو ځکه چه هغهٔ ډ الله سره کومه وعده کړے وه هغهٔ ئے پوره نکړه.

ای اعقبهم الله نفاقا فی قلوبهم وقیل ای اعقبهم البخل نفاقًا (قرطبی ج ۸ ص ۲۱۲) بما کذبے باء سببیه دے ای بسبب اخلافهم ما وعدوا الله من التصدق والصلاح وکونهم کاذبین (مدارک ج ۲ ص ۱۰۵)

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ

آیا نهٔ پوهیږی دوئ چه بیشکه الله تعالیٰ پیژنی ټکه رازونه ډ دوئ

وَنَجْوَىٰهُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٧٨﴾

او مشورے ډ دوئ او بیشکه الله تعالیٰ ښهٔ خبردے په پټو خبرو باندے ف

ٱلَّذِينَ يَلْمِزُونَ ٱلْمُطَّوِّعِينَ مِنَ

هغه خلق چه عیب لګوی په هغه مسلمانانو باندے چه په فراخه زړهٔ سره

ٱلْمُؤْمِنِينَ فِى ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ

خیرات کوی ټکه او په هغو کسانو

لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ

کوم چه نهٔ لری مګر ډ محنت نحپل مال بیا مسخرے کوی هغوئ پورے

سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٩﴾
مسخرے کریدی الله دوئ پورے او دوئ د پاره عذاب دردناک دے ٧٩

اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ اِنْ
که بخشش غواړے ته دوئ دپاره او که نه غواړے بخشش ته دوئ دپاره که چرے که

تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ
بخشش او غواړے ته دوئ دپاره اویا ځله نو هرګز به او نه بښی

اللّٰهُ لَهُمْ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ
الله تعالٰی دوئ دا ځکه چه دوئ منکر شول د الله تعالٰی نه

وَرَسُوْلِهٖ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٨٠﴾
او د رسول د هغهٔ نه او الله تعالٰی نهٔ ښائی لاره قوم نافرمان ته ٨٠

فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ
خوشحاله شول روستو پاتے کیدونکی په ناسته خپله باندے جدا شول د رسول

اللّٰهِ وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ
د الله تعالٰی نه او اوئ بد ګڼل د دینه چه جنګ اوکړی دوئ په مالونو خپلو

وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا
او ځانونو خپلو سره په لاره د الله تعالٰی کښی او وئے ویل چه مهٔ ځئ سفر

فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا
په ګرمئ کښی ته اووایه اور د دوزخ ډیر ګرم دے دے

لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ﴿٨١﴾
که چرے هغوئ پوهیدلے

نکات: ۸. دا تول د ذکر شوو منافقانو باره کښی دی دینه معلومه شوه

چه په الله تعالیٰ باندے مثل د پیغمبر په اختیار کښې نهٔ دی. ۷ـ ای بقیهن نه مراد هغه منافقان دی څوک چه په جنګ تبوک کښې قصداً نهٔ وو شریک شوی

موضح قرآن

ف۱ یو منافق وو ثعلبه نبی علیه السلام نه ئے دُعا اُوغوښتله چه الله تعالیٰ ما ته ډیر مال راکړی هغوئی ورته اُوفرمائیل لږ چه د هغے شکر ادا کړے شی بهتر دے د هغے ډیر مال نه چه تا غافل کړی. بیائے وعده اوکړه چه کهٔ چرے ما ډیر مال وی نو ډیر خیرات به اُوکړم او نهٔ به غافل کیږم نبی علیه السلام دُعا اُوکړه د هغهٔ په چیلو کښې برکت واچولے شو تر دے چه د مدینے په ځنګل کښې کفایت نهٔ کیده و بهر ته لاړو یو کلی (بانډے) ته د جُمعے او جماعت نه محروم شو حضرت تپوس اُوکړو چه په ثعلبه څهٔ اُوشول خلقو ئے حال بیان کړو. وے فرمائیل ثعلبه خراب شو بیا د زکوٰة ورکولو وخت راغے تولو زکوٰة ورکړو هغهٔ اُوئیل داچه کوم مال جمع کول دی ګویا داخو (ټیکس) جزیه ده او بهانه ئے جوړه کړه زکوٰة ئے وروستو کړو بیا ئے حضرت ته مال یا زکوٰة راوړو حضرت قبول نهٔ کړو. د حضرت عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کښې مړ شو ۱۲ منه رح. **ف۲** یو ځلے حضرت د خیرات (صدقے) تاکید اُوفرمائیلو عبدالرحمن بن عوف څلور زره درهم راوړل او نورو خلقوم راوړل شروع کړل عاصم څلور سیره وربشے راوړے. عبدالرحمن اُوئیل اته زره د ځما سره وے نیمے خپل رب ته قرض ورکوم او نیمے د بال بچ حق دے. عاصم اُوئیل مزدوری مِ کړیده اته سیره وربشے مِ راوړے دی نیمے خیرات کوم او نیمے د بال بچ نفقه کړځوم منافقانو خپل مینځ کښې اُوئیل عبدالرحمن ریا کوی او عاصم په زور خپل ځان خیرات کونکو کښې شاملوی ۱۲ منه رح.
ف۳ دے ځائے نه فرق راوځی د بے اعتقادو او ګناهګارو. داسے کومه یوه ګناه ده چه د پیغمبر په بښنه غوښتلو سره معاف نهٔ شی او د بے اعتقادو د پاره د پیغمبر او یا ځله استغفار هم فائده نهٔ کوی او س چه کوم بے اعتقاده خلق بهروسه اُونهٔ کړی په پیغمبر شفاعت اُونهٔ کړی دلیل سر مثلاً انسان ته ګناه اُوشوه یائے مونځ روژه اُونهٔ نیوله او هغه شرمنده دے او پښیمانه دے نو هغهٔ ګناهګار دے او څوک چه بدکار عیب اُونهٔ ګنړی او د خدائے قرض راوړل نهٔ راوړل برابر اُوګنړی او فرض په ځائے راوړونکو باندے عیب لګوی هغهٔ بے اعتقاد دے

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی په مزدورئ سره څهٔ شے پیدا کوی او صدقه ورکوی ۱۲ **ف۲** یعنی هر دواړه صورتونه برابر دی.

تفسیر: ۷۹ـ اَلَمْ یَعْلَمُوْٓا الخ تخویف اُخروی دے ۱۲

۸۰ـ اَلَّذِیْنَ یَلْمِزُوْنَ الخ دے کښې د هغه منافقانو ذکر دے څوک چه په

رضا او خوشحالئ صدقه کوُنکو مسلمانانو باندے عیب لګوی اَلَّذِيْنَ موصول سره دَ صلے نه مبتداء ده او سَخِرَ اللهُ مِنْهُمْ خبر دے کوم مسلمان چه د پیر مال به ئے صدقه کولو هغوئ باندے به ئے دَ ریاکارئ الزام لګولو او خوک چه غریبانان وو او تولوه ورځ به ئے محنت مشقت سره لږ ډیر اوګټل او په صدقا توکښ به ئے حصّه اخستله نو هغوئ پورے به ئے توقے مسخرے کولے او وئیل به ئے چه بشهٔ ده نو دیته دَ الله څهٔ ضرورت دے. سَخِرَ اللهُ مِنْهُمْ، تخویف اُخروی دے یعنی الله تعالیٰ به دَ تمسخر او استهزاء سزا ورکړی. انه سبحانه وتعالیٰ جازاهم علی سخریتهم ثم وصف ذلك وهو قوله سبحانه وتعالیٰ (وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ) یعنی فی الاخرة (خازن ج ۳ ص۱۲۸). ۷۵ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ الخ دا دَ منافقانو انجام دے چه هغوئ ته به هرګز بخشش نهٔ شی کولے اګرچه دَ الله تعالیٰ رسول او یا څوک هم دَ الله نه دَ دوئ دَ پاره معافی اُوغواړی ځکه چه دَ دوئ په زړونوکښ کفر او نفاق دے اګرچه هغوئ په ظاهره دَ ایمان دعوه کوُنکی دی. دینه معلومه شوه چه په الله تعالیٰ منل دَ پیغمبر کار نهٔ دے او دَ هغهٔ په اختیار کښ نهٔ دی.
اِسْتَغْفِرْ، امر په معنیٰ دَ خبر دے. عبدالله بن اُبَیّ رئیس المنافقین چه کله په مرض الموت کښ مبتلا شو نو دَ هغهٔ ځوئے چه مخلص ایماندار وو دَ نبی علیه السلام په خدمت کښ حاضر شو او خپل پلار دَ پاره ئے دَ دُعا درخواست اوکړو دے سره دا آیت نازل شو چه په دے کښ هغوئ (صلی الله علیه وسلم) دَ هغهٔ دَ پاره دَ استغفار نه منع کړے شو. صحیح مسلم کښ دی کله چه ابن اُبَیّ مړ شو نو نبی علیه السلام دَ هغهٔ جنازه کوله نو حضرت عمر رضی الله عنه دَ نبی علیه السلام لمن اُونیوله عرض ئے اوکړو یا رسول الله! الله تعالیٰ خو تاسو دَ دوئ دَ جنازے نه منع کړی یئ نبی علیه السلام اُوفرمائیل الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه که چرے تاسو او یا څله هم دَ دوئ دَ پاره بښنه اُوغواړئ نو هم معاف به ئے نهٔ کړم. او زهٔ به دَ دهٔ دَ پاره دَ اویا څلونه هم زیات استغفار غواړم کیدے شی چه الله تعالیٰ ئے معاف کړی (مدارک، قرطبی وغیره) امام رازی علامه خازن ابن عباس نه ناقل دے چه کله دَ منافقانو پاره کښ مذکوره بالا آیتونه نازل شول او مسلمانانو باندے دَ هغوئ نفاق ظاهر شو. هغه وخت منافقان دَ نبی علیه السلام په خدمت کښ حاضر شول او عرض ئے اُوکړو چه نبی علیه السلام دَ دوئ دَ پاره استغفار اُوغواړی. دے باندے دا آیت نازل شو. قال ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ان عند نزول الآیة الاولیٰ فی المنافقین قالوا یا رسول استغفرلنا فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم ساستغفرلکم واشتغل بالاستغفار لهم فنزلت هذه

(کبیر ج ۴ ص۱۵۸).
الآیة فترك رسول الله صلی الله علیه وسلم الاستغفار
لکه فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ الخ اَلْمُخَلَّفُوْنَ باب تفعیل دے یعنی هغوئ الله پاك
وروستو پریښودل او جهاد کښې ئے د شریکیدلو توفیق ورنکړو. ای خلفهم الله
وثبطهم (قرطبی ج ۸ ص۲۱۶). حضرت شیخ اوفرمائیل ای المخلفون بقهر الله
دینه هغه منافقان مراد دی کوم چه په غزوهٔ تبوك کښې عمداً نهٔ وو شریك
شوی مَقْعَدْ مصدر میمی دے کوم منافقان چه په غزوهٔ تبوك شریك
نهٔ شول هغوئ ډیر خوشحاله شول چه په ډیره سخته ګرمئ کښې هغوئ د
سفر د تکلیفونو ته او سختونه بچ شول او هغوئ د الله تعالیٰ په لاره کښې مال
او ځان سره جهاد کول خوښ نهٔ کړل وقالوا لا تنفروا فی الحر منافقانو په
خپل مینځ کښې یو بل ته اُوئیل یا هغوئ د مؤمنانو بې دله کولو په غرض سره
هغوئ ته اُوئیل چه په ګرمئ کښې مهٔ ځئ او په خپلو کورونو کښې آرام اوکړئ
وقال بعضهم لبعض او قالوا للمؤمنین تثبیطا (مدارك ج ۲ ص۱۲۸).
لکه قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ الخ الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته حکم ورکړو چه تاسو
د دے آرام او راحت خوښونکو ته اووایه چه د جهنم اور چه په آخرت کښې
د دوئ د استوګنے ځائے وی د دنیا د دے ګرمئ نه به زیاته سخته وی.

فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا جَزَاءً

نو اُوږ خاندی هغوئ لږ او اُوږ ژاړی ډیر لکه بدله ده

بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿۸۲﴾ فَإِنْ رَجَعَكَ اللَّهُ

د هغې کوم چه هغوئ کولو دلے نو که چرے بیا بوځی تا الله لکه

إِلَىٰ طَائِفَةٍ مِنْهُمْ فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ

یو فرقے طرف ته د دوئ نه بیا اجازت اُوغواړی ستا نه د وتلو دپاره

فَقُلْ لَنْ تَخْرُجُوا مَعِيَ أَبَدًا وَلَنْ

ته اووایه چه تاسو به هرګز نهٔ وځئ ځما سره هیڅکله او نهٔ به

تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا ۖ إِنَّكُمْ رَضِيتُمْ

او جنګیږئ ځما په ملګرتیا کښې یو دُشمن سره بیشکه تاسو خوښه کړه

بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوا مَعَ

ناسته اول ځل نو کېنئ د (روستو) پاتې

الْخَالِفِينَ ﴿۸۳﴾ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم

کېدونکو سره ئ. او مونځ مه کوه ته په هیڅ یو تن د دوئ نه چه

مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ۖ إِنَّهُمْ

مړ شي هیڅکله او مه اودریږه د هغه په قبر باندې بیشکه هغوئ

كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ

منکر شول د الله تعالی نه او د رسول د هغه نه او مړه شو هغوئ

فَاسِقُونَ ﴿۸۴﴾ وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَ

نافرمان. او تعجب مه کوه ته په مالونو د دوئ او په

أَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم

اولاد د دوئ بیشکه هم دا غواړي الله تعالی چه په عذاب کښې اوساتي دوئ لره

بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ

د دې څیزونو په وجه په دنیا کښې او اووځي روحونه د دوئ او هغوئ

كَافِرُونَ ﴿۸۵﴾ وَإِذَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ آمِنُوا

(تر هغه وخته) کافران پاتې وي. او کله چه نازلیږي یوه سورت چه ایمان راوړئ

بِاللَّهِ وَجَاهِدُوا مَعَ رَسُولِهِ اسْتَأْذَنَكَ

په الله تعالی باندې او جنګ اوکړئ په ملګرتیا د رسول د هغه کښې نو رخصت غواړي ستا نه

أُولُو الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا ذَرْنَا نَكُن

خاوندان د قدرت د دوئ نه او وائي پرېږده مونږ

مَّعَ الْقَاعِدِينَ ﴿۸۶﴾ رَضُوا بِأَن يَكُونُوا

چه پاتې شو د ناسته کونکو سره. خوشحاله شول چه پاتې شول

مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ

(روستو) پاتے شویو ښځو سره او مُهر اُولګولے شو په زړونو ددوئ باندے

فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿۸۷﴾

نو دوئ نه پوهیږی.

نکات: ۱؎ جهاد نه روستو پاتے کیدونکی ئے د ښځو په شان اوګرځول ۱۲

موضح قرآن ف دائے چه کوم اُوفرمائیل چه که چرے بیا تا بوځی الله تعالیٰ د یوے فرقے طرف ته ځکه چه دا ایت په سفر کښ نازل شو هغه فرقه منافقان وو په مدینه کښ او فرقه ئے اُوئیله ځکه چه ځنی منافقان روستو مړهٔ شول او ټول پاتے کسان منافقان نهٔ وو ځنی مسلمانان هم وو چه د هغوئ تقصیر معاف شو ۱۲ منه.

فتح الرحمٰن ف۱ مراد خبر ورکول دی په هغے چه په دنیا کښ لږه خندا ده او په اخرت کښ به ډیره ژړا کوی.

ف۲ یعنی د غنیمتونو جمع کولو د پاره ۱۲

تفسیر: ۸۲ فَلْيَضْحَكُوا الخ امر په معنی د خبر دے منافقان جهاد کښ شریک نهٔ شول ډیر خوشحاله شول او خندل به ئے لیکن د دنیا دا خوشحالی او خندا به د هغه افسوس او ژړا په مقابله کښ ډیره کمه ده کومه چه به د دوئ په حصه کښ رائځی اخبار عن عاجل امرهم واجله من الضحك القليل فى الدنيا والبكاء الكثير فى الاخرى (روح ج ۱۰ ص ۱۵۲)

ف۸۳ فَإِنْ رَجَعَكَ الخ دے کښ هم د هغه منافقانو ذکر دے څوک چه په غزوهٔ تبوک کښ شریک نهٔ شول د منافقانو د شرارتونو او د هغوئ د عداوت او دُشمنئ ظاهرولو نه روستو نبی علیه السلام ته اُوفرمائیل چه دا خلق د دے لائق نهٔ دی چه ستاسو په صحبت او ملګرتیا کښ پاتے شی لهٰذا چه کله تاسو په خیر او عافیت مدینے ته واپس اُورسیږئ او دینه روستو جنګ پیښ شی او دا منافقان په هغے کښ د شریکیدلو د پاره ستاسو نه اجازت اوغواړی نو تاسو هغوئ ته په غزوه کښ د شریکیدلو اجازت هرګز مهٔ ورکوئ او صفا اُووایئ چه اُوس هیڅکله هم تاسو ځمونږ سره جهاد کښ نهٔ شئ شریکیدلے بس اُوس په کورونو کښ کینئ ۱۲.

۸۴ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ الخ که چرے د دے منافقانو نه څوک مړ شی نو تاسو د هغوئ جنازه مهٔ کوئ او د هغوئ په قبر باندے اُودریږلو سره

هغوی د پاره د مغفرت د عامه شواړنی ځکه چه هغوی اګر چه په ظاهره
مسلمانان دی لیکن د زړه نه پاخه د قران دی نه په خدائے هغوی
ایمان لری نه په رسول او هغوی هم د دے کفر باندے مری.
٨١ وَلَا تُعْجِبْكَ الخ د دے تفسیر مخکښ تیر شویدے حاشیه (٥٣)
صفحه باندے اوګوری. ٨٢ وَاِذَآ اُنْزِلَتْ الخ دا د منافقانو د منافقت
واضحه علامه ده چه کله د جهاد حکم نازلیږی نو هغوی د مالی طاقت
او جسمانی قدرت باوجود د جهاد نه بزدل کیږی او تا سو ځنی اجازت
غواړی چه هغوی جهاد کښ د شمولیت نه مستثنی کړئ او کورونو کښ ئے
پریږدئ هغوی په جهاد کښ شریکید لو سره د بهادرئ او شجاعت جوهر
ښکاره کولو په ځائے د بزدلانو په شان مدینه منوره کښ د ښځو سره وسیدل
خوښوی. او دا د دے خبرے ښکاره دلیل دے چه د دوئ زړونه د ایمان نه
او د الله تعالیٰ د محبت نه خالی دی. د دوئ په زړونو باندے د دوئ د بدو
اعمالو په وجے سره د جباریت مُهر لګیدلے دے او هغوئ د جهاد د دینی
او دنیوی منافع پیژندلو نه قاصر دی.

لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

لیکن ٨٣ رسول او چا چه ایمان راوړے دے د هغهٔ سره هغوی

جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۗ وَاُولٰٓئِكَ

جنګیږی په مالونو خپلو او ځانونو خپلو سره او هم

لَهُمُ الْخَيْرٰتُ ۡ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٨٨﴾

دوئ د پاره فائدے دی او هم دوئ دی مراد ته رسیدونکی.

اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

تیار کړیدے الله تعالیٰ د دوئ د پاره باغ چه بهیږی د هغے نه لاندے

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۗ ذٰلِكَ الْفَوْزُ

نهرونه همیشه به وی په هغے کښ هم دا کامیابی

الْعَظِيْمُ ﴿٨٩﴾ ع وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ

لویه ده. او راغله ٨٤ بهانے کوونکی د بانډو اوسیدونکی

لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا اللّٰهَ

دے دپاره چه اجازت ملاؤشي هغوئ ته او کیناستل چا چه دروغ وئیلي وو الله تعالیٰ ته

وَرَسُوْلَهٗ ۭ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ

او رسول د هغهٔ ته اُوس به اُورسیږي هغوئ ته څوک چه کافران دی د دوئ نه

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٠﴾ لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاۗءِ وَلَا

عذاب دردناک نیشته څه په ضعیفانو باندے او نهٔ

عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ

په مریضانو باندے او نهٔ په هغه خلقو باندے چه نیشته چا سره

مَا يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَ

مال د خرچ کولو دپاره څهٔ ګناه کله چه زړهٔ ئے صفا وی د الله تعالیٰ او

رَسُوْلِهٖ ۭ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ سَبِيْلٍ ۭ

او رسول د هغهٔ سره نیشته په نیکی کونکو باندے د الزام لاره

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩١﴾ وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ

او الله تعالیٰ بښونکے مهربان دے. او نهٔ په هغه خلقو باندے لاره

اِذَا مَآ اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ اَجِدُ

چه کله راشي تا ته د دے دپاره چه سورلی ورکړے هغوئ ته تا اُووئیل نیشته څما سره

مَآ اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ ۠ تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ

څهٔ څیز چه سوارهٔ کړم تاسو په هغے باندے نو واپس اُوګرځیدل او د سترګو د هغوئ نه

تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا اَلَّا يَجِدُوْا

بهیدلے اُوښکے هغه غم کښ چه نهٔ ئے موندلو

مَا يُنْفِقُوْنَ ﴿٩٢﴾ اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ

هغهٔ څیز چه خرچ ئے کړی. بیشکه د الزام لاره څه خو په هغه چا ده

يَسْتَاْذِنُوْنَكَ وَهُمْ اَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوْا بِاَنْ

چه رخصت غواړی ستانه او هغوئ مالداران دی خوشحاله شول په دے خبره

يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ ۙ وَطَبَعَ اللّٰهُ

چه پاتے شی د (روستو) پاتے کیدونکو ښځو سره او مُهر اووهلو الله تعالیٰ

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۹۳﴾

په زړونو د دوئ باندے چه هغوئ نهٔ پوهیږی۔

نکات: ۱؎ د منافقانو په مقابله د مؤمنانو د حالاتو بیان سره د بشارت اُخروی نه ۱۲۔ ۲؎ ای باظهار الاسلام۔ ۳؎ یعنی د الله تعالیٰ توحید بیان کړئ او د پیغمبر اطاعت اوکړئ۔ ۴؎ یعنی د کرفت لاره۔

تفسیر: ۸۳ لٰكِنِ الرَّسُوْلُ الخ دے ځائے نه واخله تر ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ پورے د نبی علیه السلام سره مال او ځان سره د جهاد کوونکو صحابه کرامو او مخلصو مؤمنانو فضیلت او هغوئ د پاره اُخروی بشارت ذکر شوید ے۔

۸۴ وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ الخ دلته د هغه ذکر اوکړے شو څوک چه په حقیقت کښ معذور وو او خپل عذر ئے بیان کړو او د نبی علیه السلام نه ئے د جهاد نه د پاتے کیدلو اجازت غوښتلو او دینه د بنی غفار خلق مراد دی ثم بین تعالیٰ حال ذوی الاعذار فی ترك الجهاد الذین جاءوا رسول الله صلی الله علیه وسلم یعتذرون الیه ویبینون له ما هم فیه من الضعف وعدم القدرة علی الخروج الخ (ابن کثیر ج ۲ ص۳۸۵) وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا الخ لیکن منافقانو د پوره زړهٔ ور تیا نه کار واخستو او د څهٔ قسم عذر او بهانے پیش کولو نه بغیر جهاد کښ شریک نهٔ شول او کورونو کښ کیناستل۔ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ دا د هغوئ د پاره تخویف اُخروی دے۔

۸۵ لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ الخ دلته د هغه عذرونو بیان دے د کوموپه وجه چه په جهاد کښ نهٔ شریکیدونکی واقعی معذور دی الضعفاء یعنی بوډاګان، بچی او ښځے دا شان کوډاو روند

هم دے کښ شامل دی ولاعلی الذین لا یجدون ما ینفقون
مخکښ دَ هغه خلقو ذکر وو څوک چه دَ جسمانی طاقت نهٔ لرلو
دَ وجے نه معذور وو دلته دَ مالی طاقت نهٔ لرلو عذر بیان
شوے دے یعنی دَ کوم خلقو سره چه سامان جنګ نشته او دَ
سفر خرچ روپئ نیشته هغه هم معذور دی۔ یعنی الفقراء
العاجزین عن اهبة الغزو والجهاد فلا یجدون الزاد والراحلة
والسلاح ومؤنة السفر (خازن ج ۳ ص۱۱۰) اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ الخ یعنی
په دے شرط چه هغوئ په ښارکښ پاتے کیدلو سره فتنه او
فساد نهٔ پیدا کوی او دَ مجاهدینو باره کښ دروغ خبرے نهٔ خوروی۔
٨٦ وَلَا عَلَی الَّذِیْنَ الخ دا شان هغه خلقو باندے هم دَ تخلف
عن الجهاد په وجے سره ګناه نیشته څوک چه ستاسو په خدمت
کښ حاضر شو دے دَ پاره چه تاسو هغوئ دَ پاره دَ سورلئ انتظام
اُوکړئ لیکن دَ سورلئ نه موجود یدلو دَ وجے نه هغوئ نا اُمید
شول ډیر په زاروقطار ئے اُوژړل دَ دے وجے نه چه هغوئ
په جهاد کښ نهٔ شی شریکیدلے او دَ دے اجر نه به محروم اُوګرځی۔
٨٧ اِنَّمَا السَّبِیْلُ الخ دَ ګرفت او الزام لاره یعنی ملامتیا په هغه
منافقانو ده چه طاقتور او دولت مند کیدلو یا وجود محض دَ
ارام طلبئ لو په خاطر جهاد کښ شریکیدل نهٔ غواړی او دوسره
کم همته او بزدله دی چه دَ ښځو او بچو سره روستو پاتے کیدل
خوښوی او ستاسو په خدمت کښ حاضر شول دروغ بهانے ئے
جوړے کړے او اجازت غواړی۔ وَطَبَعَ اللّٰهُ الخ الله تعالیٰ دَ دے
ناکاره عملونو په وجے سره دَ دوئ په زړونو دَ جباریت مهر اُولګولے
شو چه هغوئ دَ جهاد دُنیوی او اُخروی فائدے نهٔ پیژنی۔
(فَهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ) ما فی الجهاد من الخیر فی الدنیا والآخرة (خازن
ج ۳ ص۱۱۰)
دویم جلد نن په تاریخ ۱۴۲۷ھ ۱۰ رمضان باندے ختم شو

مصحح قرآن قاری عبد الله پشاوری
کاتب: ارقم جان کلے خدرخیل بخشی پُل پیښور
صوبه سرحد پاکستان